# د
# خوشحال په کلام کښې مذکور شخصیات


مقاله


پي ایچ ډي


نګران
ډاکټر ایم اقبال نسیم خټک

مقاله نګار
بادشاه روم


پښتو څانګه پېښور پوهنتون - پېښور


بسم الله الرحمن الرحيم



نه به زما غونډې بل ننګیالے راشی
نه به زما غونډې بل جنګیالے راشی
خټک لا پرېږده په درست افغان کښې
عجب که هسې فرهنګیالے راشی

# تـــــړون

د شیر شاه او احمد شاه

په نومونو چې زما پرله پسې

زامن دي

# وړومبنۍ کربښې

د خوشحال بابا سپېڅلے فن هم لکه د هغوئ د جامع الکمالات اؤ بوقلمون شخصیت بې شمېره خوبۍ اؤ محاسن لرې۔ اؤ دغه فنی خوبۍ اؤ محاسن چې د هغوئ د شخصی کمال سره رابرڅېره شوي دي۔ نو د دواړو دغې ګلورین امتزاج د هغوئ شعري هنر د رنګارنګ موضوعاتو په اردل کښې د فن تر آسمانه رسولے دے۔

د خوشحال بابا شعری کلام د انواع انواع موضوعاتو د لعلونو یو داسې درنګ دے۔ چې څومره څومره ئې بنده لټوی۔ نو دومره دومره پکښې د نوؤ نوؤ موضوعاتو ناویاته غمی رامخې ته کیږی۔ په دغه موضوعاتو کښې یو موضوع د شخصیاتوهم ده۔ خوشحال بابا پخپل شعری کلام کښې ګڼ شمېر شخصیات ذکر کړی دی۔ دغه شخصیات چې د ژوند د مختلفو شعبو سره تعلق لری۔ خوشحال بابا د خپلو بیلابیلو صفاتو په اساس یاد کړی دی۔ څه چې د خوشحال بابا په ژوره مشاهده، پراخه مطالعه ، رسانظر اؤ دبیان په لړ کښې په قوی دلائیلو راوړو ګواهی کوی۔

دې مقاله کښې ما د هغه شخصیاتو د څېړلو هڅه کړې ده۔ د کومو نامې چې خوشحال بابا پخپل شعری کلام کښې په مختلفو حوالو خوندی کړی دی۔ دا څېړ نه د ډیر کړاؤ اؤ زیار متقاضی کار وو۔ اؤ په دغه ترڅ کښې زۀ د بېلا مشکلاتو سره مخ شوے هم یم۔ ولې د تحقیق اؤ څیړنې سرسیئنې جذبې پل په پل زما حوصله زیاته کړې ده۔ او دغه شان زۀ ئې د مرام ترکهاله رسولے یم۔ دا مقاله چې زما د یوازې ځان د یوې مودې د زیار او مسلسل کړاؤ نیتجه ده۔ ولې په دې لړ کښې زما د خواخوږو مرسته، لارښودنه او مشورې هم د یادؤنې جوګه دی۔ د څه په برکت چې زۀ ددې مقالې د لیکلو جوګه شوم۔ څه که هم ددغه مئینانو فهرست ډیر اوږد دے۔ چا چې ددې څېړنې اؤ مقالې د بشپړولو په سلسله کښې زما ډاډګېرنه کړې ده۔ اؤ په ما ئې د منت بار راړولے دے۔ خو په تېره تېره د سترڅېړنکار، شاعر، لیکوال، استاد اؤ خوشحال شناس ډاکټر اقبال نسیم خټک درنۀ نامه زما په روح راخوره ده۔ د چا د خصوصی توجه، لارښودنو، مشورو اؤ مرستې په اړ چې

زۀ ددې څېړنې په کامیابۍ سره په ترسره کولو کښې بریالے شوم. د هغوئ دغه لاس، اخلاص او مشفقانه رویه به زما په سترګو کښې تل عمری غرېږی.

زۀ د خپل محترم استاد ډاکټر شاه جهان (چېرمین پښتو څانګه) هم د زړه له کومې شکریه ادام کوم چې هغوئ ماته پل په پل زما د تحقیقی چارو ماتې کړمې هوارې کړې دی. او زما د څېړنې کار ئې اودریدو ته پرېښودے نه دے. دغه رنګ زۀ د خپلو نورو درنو استاذانو ډاکټر اسلام ګوهر، ډاکټر عبدالوحید او ډاکټر حکیم الله جان هم ډیر زیات مشکور یم. چې د تحقیق ګرانې مرحلې ئې ماته آسانې کړې هم دی. او زۀ ئې دغې ستومانوونکی کار ته هڅولے هم یم.

زۀ د پروفیسر محمد نواز طائرؔ، پروفیسر صابر کلوروی، حاجی پردل خان خټک، ډاکټر محمد اعظم اعظم، ډاکټر راج ولی شاه خټک، ډاکټر قبله آیاز، ډاکټر پرویز مهجور، ډاکټر هدایت الله نعیم، پروفیسر جمیل یوسفزئی، پروفیسر مقدس الله او رحیم شاه رحیمؔ مننه په ځانې راوړم. چې ددې څېړنې په آوان ئې زما قدم په قدم رهنمائی کړې ده.

زما د مننې وړ پروفیسر سلیم الرحمٰن، پروفیسر عبدالخبیر او محترم صاحبزاده کفایت الله (بادشاه ګل جان) هم دی. چې د عربۍ او فارسۍ ګران ګران عبارتونه ئې ماته په آسانه پښتو اوژباړل. او ما ترې ددې مقالې په لیکنه کښې مدد واخستو. زۀ د دوئ ټولو ددغه احسان مـلازه منم. چې په روڼ تندی ئې زما مرسته وکړه.

دغه شان د پښتو څانګې، پښتو اکیډیمی، فارسی شعبې، عربی څانګې، اردو شعبې، ارکائیوز لائیبریری، فرهنګ ایران پېښور سره سره د قائداعظم لائیبریری لاهور، ګامے شاه امام بارګاه لاهور، بی بی پاکدامن امام بارګاه لاهور، ګورنمنټ کالج بټ خیلې، ګورنمنټ کالج تانې، مرستیال اولسی کتابتون بټ خیلې او دیر میوزیم چکدرې د لائیبریرینز د زړۀ له تله شکریه ادا کوم. چې ماته ئې په خـلاص مټ کتابونه راکړل او ما ترې د خپل کار په حواله استفاده وکړه.

دغه شان زۀ د خپلو درنو مشرانو محمد آصف صمیم، ډاکټر اقبال فنا او خوږو ملګرو پروفیسر فضل نصیر، پروفیسر زبیر حسرتؔ ،پروفیسرجهان عالم اؤ پروفیسر مشتاق احمد احسان ندیم، چې ددې مقالې د لیکلو پر ترخ کښې ئې زما همت ستړتیا ته نۀ دې ورکړے اؤ زۀ ئې وخت په وخت څېړنې اؤ پلټنې ته پارولے یم.

زۀ د راشد عدنان (ګرافکس ورلډ) هم مننه کووم - چې ددې مقالې په کمپوزنګ ئې ځان کړولے دے.او دا ګران کار ئې په ډیره احسنه طریقه ترسره کړے دے. په آخر کښې یو سپیناوے کول ضروری ګنم. او هغه دا چې خوشحال بابا اکثر په یو شعر کښې د ګڼو شخصیاتو ذکر په یو ځائے کړے دے. ما دغه شخصیات په بیله بیلا ډول څېړلی دی. او په هر متعلقه باب کښې مې د حروف تهجی په ترتیب سره راوړی دی. دغه رنګ د کومو پښتو کتابونو څنی چې حوالې راخستې شوې دی. د هغې املا مې هم هغسې کټ مټ درج کړې ده. او د مقالې په متن کښې مې د نوې املا خیال ساتلے دے.

په ډیر درناوي

**بادشاه روم**

۱۰ مئی ۲۰۰۷ء

وړومبی باب

# د خوشحال په کلام کښې مذکور

# انبیاءؑ او پیغمبرانؑ

خوشحال بابا پخپل کلام کښې یو شمېر انبیاء او پېغمبران یاد کړي دي. ددغه برگزیده هستیو یادونې ته چې خوشحال بابا کوم علمي انداز وربخښلے دے. د هغې نه د خوشحال بابا د غرقې او ژورې مذهبي مطالعې او پوهې اندازه ډېره په آسانه لگیدې شي. دې باب کښې هم هغه شعری کلام څېړلې شوې دے کوم چې د انبیاء او پېغمبرانو د نامو د ذکر سره اړه لری.

څه به وایم ددے نفس له ازمیښتَ
نفس آدمؑ دے را ایستلے له بهشتَ (۱)

☆

آدمؑ که دِ پدر دے په معنیٰ کښې ستا پسر دے
تر وارو مرسلانو مقدمَ مؤخَر (۲)

☆

د خدائے منت راباندِ چه ئے هست کړم له عدمَ
بل خلقت ئے نه کړم راپیدا شوم له آدمَ (۳)

☆

د آدمؑ له نسله نه دی گوره څه دی
دواړه ورک شه یو اوزبک بل قزلباش (۴)

☆

ال اولاد چه د آدمؑ دے
ښه ئے خوئ دے ښه ئے روئ
هندکے ال اولاد د کوم دے
چه نه روئ لری نه خوئ (۵)

☆

فعل ئے چه گورے هلاکو دے یا اظلم
چا دی اوریدلی په اولاد کښې د آدم (۶)

☆

اې زما نبي سروره
اولولعزمه پيغامبره
نه دُنيا وه نه عالم ؤ
نه حواؑ وه نهٔ آدمؑ ؤ
چې ته ختم انبيا وې
آدمؑ زويه ته بابا وې
(که تهٔ) نه وې آدمؑ نه ؤ
(که تهٔ) نه وې عالم نه ؤ
هم آخر هم مقدم يې
(هم يې زويه هم آ) دمؑ يې (٧)

دے شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت آدم عليه السلام نامه په مختلفو حوالو ياده کړې ده. په وړومبی شعر کښې ئې د حضرت آدم عليه السلام د جنت نه د راويستو واقعه ذکر کړې ده. او ددغې واقعې توله ذمه واری ئې په نفس کيښودې ده. دويم شعر کښې ئې د حضور شان په ګوته کړے دے. چې حضرت آدم عليه السلام که زمونږ د خوږ نبیؐ پلار دے. نو په نورو معنو کښې زمونږ د پيغمبرﷺ پسر دے. ځکه چې حضورﷺ په ټولو مرسلانو کښې اولين هم دے او اخرين هم دے. دريم شعر کښې ئې د الله تعالیٰ شکر ادا کړے دے. چې هغه ئې د حضرت ادم عليه السلام له نسله زيږولے دے. په وروسته دوه شعرونو کښې ئې اوزبک، قزلباش او هندکيان ياد کړی دی. چې دوئ خو د حضرت آدم عليه السلام له نسله نهٔ ښکاری. پته نشته چې دوی څه دی. نهٔ ئې خويونه ښهٔ دی او نه ئې مخونه. په آخری شعر کښې ئې اورنګزيب عالمګير د ظلم اوزياتی په بنياد د هلاکو خان او اظلم سره يوشان کړے دے. او زياته کړې ده. چې چا به د حضرت آدم عليه السلام په اولاد کښې ددهٔ په څير ظلم کوونکے نه ليدلے وې او نهٔ اوريدلے وی.

دې آخرې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت آدمؑ ذکر د حضورﷺ په حواله کوی. چې که د حضورتﷺ ذات بابرکات نه وې. نو نهٔ به آدمﷺ وو. او نه حواؑ. بلکې کلهم مخلوقات به نهٔ وو.

## حضرت آدمؑ:

حضرت آدمؑ، ابوالبشر، وړومبے انسان او د الله تعالیٰ برگزیده پیغمبر وو. وړومبی استوګنه ئې په جنت کښې وه. د شجر ممنوعه خوړولو په وجه په سراندیپ نومې جزیره راکوز کړے شو. چې نن سبا ورته لنکا یا سری لنکا هم وئیلې شی.

د محقیقینو د رائ مطابق حضرت آدمؑ دوه صدی، له خپلې ښځې بی بی حواؑ نه جدا وو او پخپلو لغزشونو ئې اوښکې بهیولې. آخر الله تعالیٰ ئې قصور معاف کړو. او په زمکه ئې خپل نائب مقرر کړو او جبرائیل امینؑ په عرفات کښې پریښود. دلته ورسره بی بی حواؑ یو ځائے شوه. د اکثرو خلقوپه خیال عرفات ته دا نامه ځکه ورکړې شوه چې دلته د دواړو پیژندګلو وشوه. الله تعالیٰ دوی ته دغلته د کعبې جوړولو حکم اوکړو.

د آدمؑ عمر زر کاله وو. د جبل ابوقیس په لمن کښې واقع غار مغارة الکنوز کښې دفن کړے شو. د ځنو خلقو په خیال د حضرت آدمؑ مزار په کشمیر کښې دے. (۸)

"د بعضے تاریخ والو د اندازے مطابق ددهٔ زمانه د نن نه لس زره کاله وړاندے ده.

په قرآن کریم کښے په پنځویشت آیتونو کښے پنځه ویشت ځلے ددهٔ ذکر راغلے دے. (۹)

== ☆☆☆ ==

سر په زانو کیږده خوشحاله راشه
قدرت ئے ګوره په تماشه شه
لعل پیدا کا، له سخته کانړی
خلیلؑ پیدا کا، له بُت تراشه (۱۰)

☆

اے خوشحاله بت خانے زړے ړونده
خلیلیؑ ناره پرے وکړه په همت شے (۱۱)

☆

د خلیلؑ خلاصي له ناره
هم له تاوه اي رویداره (۱۲)

☆

د نوحؑ نجات له تاوه د طوفان له امواجونو
ګلزار په خلیلؑ اُور شو ستاله رویه اے سرور (۱۳)

☆

درته به څه وایم کار د خلیلؑ ګوره
په څو ئے وساته د اُور دلیل ګوره
سبطی ئے پورے یست قبطی ئے ډوب کړ
دا عقل پوهه د رود نیل ګوره (۱۴)

☆

څو ئے همت دے هومره قوت لری
هر مروت لری هر فتوت لری
خلیلؑ اسا دے لکه موسیٰؑ دے
ابدال په اور په اوبۀ نصرت لری (۱۵)

☆

په غه اُور چه عشق ئے نوم دے
که براهیمؑ کله کلیمؑ یم (۱٦)

☆

ابراهیمؑ چه اسماعیلؑ ته تیغ تیار کړ
اسماعیلؑ ابا ونهٔ کړه په دا چر (۱۷)

خوشحال بابا دې شعرونو کښې د حضرت ابراهیمؑ ذکر کوی. چې هغهٔ د یو بت تراش کره زیږیدلے وو. خو یو عظیم او جلیل القدر پیغمبر وو. الله تعالیٰ پرې لوئے لوئے امتحانات راویستل، او حضرت ابراهیمؑ په دغه امتحاناتو کښې کامیاب او کامران شو. چې پکښې د حضرت اسماعیلؑ د قربانۍ، د بت شکنۍ او د نمرود اُور ته د غورځولو ګران او مشکل امتحانات شامل دی.

## حضرت ابراهیم علیه السلام

" حضرت ابراهیمؑ د عراق په ښار اُور یا اُر کښې پیدا شوے دے اُر یوه مشهور اتش کده وه.... اُر یا اُور د سویلی عراق نه د بغداد په سویل قبله اړخ کښې د دوه سوه دیرشت میله فاصله باندې د "دجلې" په غاړه پروت دے. (۱۸)

"حضرت ابراهیمؑ په ۲۱٦۰ ق م کښې پیدا شو. د هغوئ د پلار نامه تارح وه. هغه د نحور بن سروج بن رعو بن فلج بن عبر زوئے وو.... د عبر مشر نیکه اسام د حضرت نوحؑ زوئے وو.... د حضرت ابراهیمؑ دوه ورونه نور هم وو. چې په تاریخ کښې د هغوئ نومونه نحور او حاران راغلی دی. حضرت لوطؑ د حاران زوئے او د حضرت ابراهیمؑ وراره وو" (۱۹)

"په کومه ورځ چې د حضرت ابراهیمؑ ولادت اُوشو. نو په هغه ورځ نجومیانو په آسمان یوه علامه اُولیده. فوراً ئې نمرود له مشوره ورکړه. چې د تارح کره کوم ماشوم پیدا شوے دے. هغه زر تر زره اُووژنه. ګنې دا به ستا د بادشاهۍ د پاره لویه خطره ثرګنده شی. څکه نو نمرود د حضرت ابراهیمؑ د وژلو اراده اوکړه. ولې

تارح د خپل غلام يو بچے د حضرت ابراهيمؑ په بدل کښې ورکړو. او هغه ئې بچ کړو. ددې واقعې نه پس ئې حضرت ابراهيمؑ د خپلې بی بی سره يو غار ته بوتلل او هلته ئې پټ کړل. چرته چې د غه دواړه تر لسو کالو پورې پاتې شول. په يولسم کال تارح، حضرت ابراهيمؑ، حضرت نوحؑ ته اُوسپارلو. او د يو کم څلويښت کالو پورې هغه د حضرت نوحؑ او د هغه د زوئے سام په تربيت کښې پاتے شو. " (۲۰)

"د حضرت ابراهيمؑ د وړومبی بی بی نوم ساره وو .... حضرت اسحاقؑ د ساره نه زيږيدلے وو. د حضرت اسحاقؑ د زيږيدنې په وخت د ساره عمر سل کاله وو." (۲۱)

"حضرت هاجره د مصر د فرعون ريان لور وه.... حضرت ابراهيمؑ د ساره په صلاح د هاجرې سره نکاح اُوکړه. حضرت اسماعيلؑ ددې بی بی نه پيدا شو. حضرت قطوره ئې دريمه بی بی وه. دغه وخت ساره وفات شوې وه. او د حضرت ابراهيمؑ عمر ۱۳۷ کاله وو. د قطوره نه د حضرت ابراهيمؑ شپږ زامن پيدا شول. زمران، يقشان، مدان، مديان، اسباق او سوخ". (۲۲)

" پلار به حضرت ابراهيمؑ ته بتان ورکړل. چې په بازار کښې ئې خرڅ کړی. حضرت ابراهيمؑ به په بازار کښې په اُوچت آواز وئيل "کوم سړے به داسې څيز واخلی چې هغه نه ګټه رسولې شی. او نه تاوان ورکولې شی. "خلقو چې به دا واوريدل. نو حيرانيدل به ... ورو ورو دا خبرې خورې شوې. پلار ئې ورته اووئيل. چې د خپلو حرکتونو نه واوړه ګنې زۀ به تا اووژنم...

ابراهيمؑ خپل پلار ته هم په ډير احترام د الله تعالیٰ پيغام اورسوؤ اوبيا ئې اعلانيه د توحيد تعليم ورکول شروع کړل." (۲۳)

ترجمه

"يوه ورځ چې خلق د يوې ميلې په لړ کښې د ښار نه بهر تلی وو.

هغه د ښار لوې بتخانې ته ننوت. او ټول بتان ئې مات کړل" (۲۴)

(بيا).... ابراهيمؑ د نمرود خلاف جهاد اُوکړو. او نمرود هغه اُورته واچوؤ. ولې اُور په هغه ګلزار شو" (۲۵)

ددې لوئے امتحان نه پس په حضرت ابراهيمؑ الله تعالیٰ يو بل ستر ازميښت راويست. چې ذکر ئې په

قرآن پاک کښې داسې راغلي دے۔

ترجمه: هغه هلک (اسماعيلؑ) چې کله د مندو تړړو عمر ته اُورسيد. نو (يوه ورځ) ابراهيمؑ هغه ته اووئيل زويه، زهٔ په خوب کښې وينم چې زهٔ تا ذبحه کووم. اُوس ته اُووايه چې ستا څه خيال دے. هغه ووئيل بابا جانه څه حکم چې تا ته کيږي. هغه اُوکړه. انشاء الله ته به ما صابره بيا مومې۔ " (٢٦)

اوُ دغه شان الله تعالیٰ حضرت ابراهيمؑ د زوئے د ذبحه کولو په دغه عظيم امتحان کښې برياليے کړو. الله تعالیٰ جنتی ګډ رااوليږو او حضرت اسماعيلؑ د قربانی کيدو نه بچ شو.

"حضرت ابراهيمؑ د ١٧٥ کالو په عمر کښې وفات شو. حضرت اسماعيلؑ او حضرت اسحاقؑ خپل پلار د حتی قوم سره تعلق لرونکے يو کس عفران په پټی کښې خاورو ته اُوسپارلو. دغه پټے حضرت ابراهيمؑ هم ددې غرض د پاره اخستے وو. حضرت ساره، حضرت اسحاقؑ، حضرت يعقوبؑ او حضرت يوسفؑ هم دغلته دفن دی. دے ځائے ته خليل يا بيت اللحم وائی. چې د بيت المقدس نه تقريباً په شپږ ميله فاصله کښې پروت دے." (٢٧)

== ☆☆☆ ==

چه خلاص شو له کشتنه اسماعیلؑ مړ ئے قربان شو
چاره ددۀ له حلقه ستا اروا کړه لره بړ (۲۸)

☆

ابراهیمؑ چه اسماعیلؑ ته تیغ تیار کړ
اسماعیلؑ اِبا ونۀ کړه په دا چر (۲۹)

☆

اسمعیلؑ غوند به دے راته تسلیم وه
که په حلق مے د نظام کیښوه گز لک (۳۰)

☆

هدایت د جبرائیل شوې
خلافت د اسماعیلؑ شوې (۳۱)

دے بره در یواړو شعرونو کښې خوشحال بابا حضرت اسماعیلؑ ته اشاره کړې ده. وړومبی شعر کښې خوشحال بابا وائی چې حضرت اسماعیلؑ د ذبح کیدو نه زمونږ د خوږ نبیؐ په برکت بچ شو. او مړ قربانی شو. دویم شعر کښې ئې د حضرت اسماعیلؑ بې کچه فرمانبرداری په گوته کړې ده. چې حضرت ابراهیمؑ چاړه تیره کړه. چې حضرت اسماعیلؑ قربانی کړی. ولې حضرت اسماعیلؑ انکار او نه کړو. بلکې غاړه پسته ئې دغې قربانۍ ته تن کیښود.

په دریم شعر کښې خوشحال بابا د خپل زوئے نظام خان په حقله وائی. چې نظام خان زما ډیر تابعدار او منونکے زوئے وو. دۀ به زما هر حکم منلو. عن که مې دے حلالولو هم. نظام خان به راته لکه د حضرت اسماعیلؑ تسلیم وو.

## حضرت اسماعیلؑ:

د حضرت اسماعیلؑ کنیت ابو العرب دے۔ د هغهٔ کرهٔ ورهٔ او تورې سترګې هر څه د خپل پلار حضرت ابراهیمؑ په شان وو۔ د ځنو مورخینو خیال دے۔ چې حضرت اسماعیلؑ وړومبے کس وو۔ چه په عربی ژبه کښې ئې خبرې کړې دي ولې د جمهور مؤرخینو رائې دا ده۔ چې په اهل یمن کښې یعرب بن قحطان وو۔ چې د تولو نه وړومبے ئې په عربی ژبه کښې خبرې کړې دی۔

د حضرت اسماعیلؑ عمر لس کاله وو۔ چې د قربانۍ د واقعې پيښه مخې ته راغله۔ اؤ چې هغهٔ د پنځلس کالو شو۔ نو مور بی بی ئې وفات شوه۔ دغه وخت د هغې عمر لس اتیا کاله وو۔ د مور بی بی د وفات نه پس حضرت اسماعیلؑ د سیده بن مضاض بن عمرو الجرهمی سره نکاح اوکړو۔ دا بی بی د حضرت اسماعیلؑ سره په مودو مودو په نکاح کښې پاتې شوه۔

د پوهانو خیال دے چې حضرت اسماعیلؑ ته الله تعالیٰ د پلار په ژوندانه نبوت ورکړے وو۔ او د یمن د خلقو د هدایت د پاره ئې استولے وو۔ خو د ځنو مؤرخینو رائې دا ده چې حضرت اسماعیلؑ ته د پلار د وفات نه پس پیغمبری ورکړې شوې وه۔ او د یو قول مطابق هغه اوه څلویښت کاله د دعوت فریضه تر سره کړه ولې دغه خلقو ایمان قبول نهٔ کړو۔ څکه نو هغه حرم ته واپس شو۔ او هم هلته وفات شو۔ هغهٔ د غشو جوړولو او غشو ویشتلو په هنر پوهیدو۔ هغهٔ تقریباً یونیم سل کاله ژوندے وو۔ قبر مبارک ئې د بی بی هاجرې د مدفن سره جُخت په "حجر" کښې دے۔ د حضرت اسماعیلؑ دولس زامن وو۔ چې قیدار، بنایوث، ثابت، مدین، مرماد، زید قطور، رزد، طمنا، قیدام، شمعی میار او قباء نومیدل۔ (۳۲)

== ☆☆☆ ==

په زحمت کے دی صابر شه
د ایوبؑ صبر چې زر شه (۳۳)

د حضرت ایوبؑ صبر مشهور دے. او الله تعالیٰ د هغه د صبر امتحان اخستے وو. په دغه امتحان کښې حضرت ایوبؑ کامیاب شوے وو. څکه چې هغه د یوې گړۍ د پاره هم د صبر لمن نه وه پرېښې .... شیطان د حضرت ایوبؑ د بې لارې کولو د پاره ډیر مېنود اُوکړو. خو شیطان بریالے نه شو. بیا شیطان الله تعالیٰ ته عرض اُوکړو چې حضرت ایوبؑ ستا عبادت څکه کوی چې هغه له تا ډیر مال و دولت ورکړے دے. که چرې غریب وے. نو ستا نامه به ئې په هیره هم نه وه اخستې. الله تعالیٰ اوفرمائیل چې ایوبؑ په هر حال کښې زما صابر، شاکر او عبادت گزار بنده دے. خواه که هغه مالدار وی او که غریب شی. الله تعالیٰ شیطان ته د حضرت ایوبؑ د صبر او شکر دغه اړخ ښودل غوښتل. او له دغې وجې نه ئې هغه په ازمیښت کښې واچوو. څاروی ئې غرق شول. درمندونه ئې اُوسوزیده، اولاد ئې ختم شو. لیکن هغه عبادت پرې نه ښودو. دې نه پس بیمار شو. څرمن ئې خرابه شوه. چنجی پکښې اُوشول. خو د هغه په تندی کښې کوت قدرې رانغلو." (۳۴)

خوشحال بابا په دغه پورته شعر کښې هم د حضرت ایوبؑ د صبر یادونه کړې ده. او د حضرت ایوبؑ نامه ئې د صبر په حواله اخستې ده.

## حضرت ایوبؑ:

حضرت ایوبؑ د حضرت عیض زوئے او د حضرت اسحقؑ نمسے وو. مور ئې د حضرت لوطؑ لور وه. او نکاح ئې د حضرت یعقوبؑ د لور سره کړے وو. چې اووه زامن او درې یا اُووه لونه ئې ترې پیدا شوې وې.

حضرت ایوبؑ د الله تعالیٰ نبی وو. ډیر عابد او زاهد وو. بې کچه مال څاروی، زمکې او نوکران ورته خدائے پاک ورکړی وو. د یو روایت تر مخه ئې سل غلامان وو. او په بعضې روایاتو کښې دی چې د حضرت

ایوبؑ درے زره اُوښان، اُووه زره بیزې، پنځه سوه غوا او پنځه سوه غـلامان وو. د دومره مالدارۍ باوجود هغهٔ د الله تعالیٰ یو شکر گزار بنده وو. ډیر زیات صابر او شاکر وو. عن تردې چې تر څو به ئې وږې نهٔ وو ماړه کړی. تر هغې به ئې پخپله ډوډۍ نهٔ خوړه. دغه شان تر کومې پورې چې به ئې بې وسو له د نوو جامو بندوبست نهٔ وو کړے. تر هغې به ئې نوې جامې نه اغوستلې ..... لیکن ددې خوبیانو باوجود د هغهٔ په مال او اولاد زوال راغے. (۳۵)

حضرت ایوبؑ په عبادت کښې مشغول وو. چې خبر ورته راغے. چې

۱. ستا زمکې او مال خاروی سیـلاب یوړل.

۲. په اولاد دې چت راپریوت. او ټول مړه شول. او

۳. مال دې ټول اوسوزید. ایره شو.

هغهٔ دا هر څه په ډیر اطمینان سره واوریدل. او په جواب کښې ئې اووئیل. چې د چا مال وو. هغه واخستو. شکر دے. چې زما دین لا تر اوسه قایم دے. او بې خلله دے. (۳٦)

"بیا خبره دې ته را اُورسیده چې د ایوبؑ بدن زخمي شو. په زخمونو کښې ئې "نؤ"اوشو. او چینجی پکښې پیدا شول. بدبو ترې روانه شوه. گاونډیان، خپل خپلوان او کلی والا ترې کرکه شروع کړه. اؤ هغویٔ مجبور شول چې کلے پریږدی.... آخر دا چې ښارې ته را اُوتل. د یو روایت تر مخه درې بیبیانو ترې طـلاق واخستل او یوه بی بی ورسره پاتې شوه. چې د ایوبؑ خدمت به ئې کوو. او ورسره ورسره به ئې مزدوری هم کوله. چې د خپل خاوند او خپلې ډوډۍ انتظام به ئې پرې کولو. دغه شان ډیره موده تیره شوه...... دے دوران کښې د بی بی د خولې نه څه داسې خبره اُووته چې په ایوبؑ ډیره بده اُولگیده. ایوبؑ ورته اووئیل. چې که زهٔ روغ شوم. نو تا به سل دُرې وهم. خو دا وخت زهٔ نهٔ شم کولے چې د الله نه اوغواړم اؤ هغه ما ددے ازمائش نه اُوباسی. د الله تعالیٰ دا خبره ډیره زیاته خوښه شوه. جبرائیلؑ راغے. هغه ورته هم د خدائے نه دُعا غوښتلو د پاره اُووے. ایوبؑ دُعا اوکړه. چې اے الله زما د شکر او ذکر توان په ځائے لرې." حکم اوشو. چې دلته پونده اُووهه. دوه چینې روانې شوې. یوه د گرمو اُبو او بله د یخو.... په گرمو اُبو غسل اوکړه. او یخې اُبه

اوځښنه. ایوبؑ هم داسې اوکړل. بیخې روغ شو. او د ورومېی نه زیات ښکلے او صحت مند شو. (۳۷)

الله تعالیٰ جنتی ځادر رااولیږو. هغه ئې واغوست. او شکر ئې ادا کړو. بی بی ئې مزدوری له تلې وه. چې راغله نو پریشانه شوه. چې زما په خاوند څه اُوشو ...... دغه کس ته ئې په حیرانۍ سره کتل. هغهؑ ورته اووے چې څوک گورې؟ "خپل خاوند گورم دلته وو، چې بیمار او کمزورے وو." ته ئې پیژنې----؟ او چې بی بی ورته په غور اُوکتل--- نو ډیره زیاته خوشحاله شوه. د الله تعالیٰ شکر ئې ادا کړو.

بیا ورته ایوبؑ اووئیل چې اُوس به زهٔ تا سل دُرې وهم. جبرائیلؑ راغے. د غنمو سل ډکی ئې یو ځائے کړل. بی بی ئې پرې اووهله. او دا رنگ شرط ئې پوره کړو. ددې نه پس کور ته لاړ. جبرائیلؑ به ئې یو یو زوی ته آواز کولو. او د الله په حکم به را ژوندے کیدو. مال څاروی ئې هم راژوندی شول. ط ـلاقې بیبیانې ئې هم بیرته په نکاح کښې راغلې. چې څومره زیان ئې شوے وو. د هغې په دوه هومره الله تعالیٰ ورته نعمتونه ورکړل. یوې سرې وریځې درې شپې او درې ورځې د ایوبؑ په سر د سرو زرو باران اووزوو. بیبیانې ئې واپس ځوانې شوې. او شپږ ویشت زامن ئې پیدا شول. د ایوبؑ دوه پټی وو په یو سره زر او په بل سپین زر را اوریدل. دا هر څه د ایوبؑ د صبر بدله وه.

حضرت ایوبؑ د صحت موندلو نه پس اتیا کاله ژوندے وو. هغهؑ زیاته استوگنه د شام په خاوره د دمشق او رمله په مینځ میانه کښې کړې ده. ......... کله چې د هغویؑ آخری وخت شو. نو خپل زوئے "حویل" ئې خپل ولی عهد او ټاکلو.

د ایوبؑ د عمر متعلق مختلف روایات دی. چې اُووه کم سل، یو سل څلور، او دوه سوه کاله یادولې شی." (۳۸)

== ☆☆☆ ==

د حيات اوبه سکندر په هيلو غوښتے
خضرؑ بيامونده عبث شوے دده هيلے (۳۹)

☆

که دِ زړه وی چه به پائے لکه حضرؑ
د نيکئ نوم ژونده دے تل مدام (۴۰)

☆

چه گلونه هميشه د چمن گوری
لکه خضرؑ هونبره عمر د خوشحال کړِ (۴۱)

☆

چه د خضرؑ تر مايه ده
چشمه سار دے ستا د شونډو (۴۲)

☆

که د حضرؑ په چشمه باند ے کور شی
د فراق اندوه به هور ته ما هلاک کا (۴۳)

☆

په دا سرو شونډو ئې نۀ ده وينځه توره
راشه خضرؑ د حيوان په چشمه کوره (۴۴)

☆

شاهدانو ته د خضرؑ عمر غواړم
حيف دا دے چه د عمر کوتاهی شوه (۴۵)

☆

په خوږه خندا د خضرؑ عمر راکا
په مانړی سره مے بیا که لکه مرے (۴۶)

☆

دریغه جاویده ځوانی بقا وے
د بنو دلبرو دیدن لقا وے
ډک ډک جامونه تږ یو ته تل نیوے
د مهتر خضرؑ د اوبو سقا وے (۴۷)

☆

که کار په ریره دے یا په غابنونه
له مانه پاتے شوے کلکونے جونه
که کار په نور څه دے خواجه خضرؑ یم
لا به د جونو گورم مخونه (۴۸)

☆

که ئے د خضرؑ پیاله خوړلے ده
دانا هستی د ژوندون ژړلے ده
هر چه کمال لری هغه زوال لری
هستی نیستئ سره تړلے ده (۴۹)

☆

په مثال خواجه خضرؑ غر څه خوشحالؔ وو
چه گذار ورباندِ وشو ناگهان (۵۰)

که ځاے د امن خوراک پوشاک لرِ
شکر وکاږه نور څه بلغاک لرِ
مته په طاعت کړه خلوت گزین اوسه
خضرؑ د وخت ئے که نفس هلاک لرِ (۵۱)

☆

مگر خضرؑ مے مدد شی دُعا راکا
چه لاهو بیړئ مے ووځی له خطره (۵۲)

☆

چه مدد ئے مهتر خضرؑ دے خوشحاله
د هغوئ بیړئ به ورسی ترشطَ (۵۳)

☆

لوئے دریاب دے توره شپه ده په کښے ځی زما بیړئ
خدایه خضرؑ راښکاره کړه چه لاس راکاند ښکاره (۵۴)

☆

ښه ئے پسند لے عقل تمیز لرِ
څو وائے هومره هنر هر څیز لرِ
موسیٰؑ د خضرؑ په پیروی ته
ددے خبرے خبر که نیز لرِ (۵۵)

☆

که هر څو پوه ئے خوشحاله راشه
خضرؑ پیدا کړه پسے موسیٰؑ شه
سخ د هغه دے چه ښه پیشوا لری
غم به دِ نه وی خبر په دا شه (۵٦)

دا شعرونه د حضرت خضر علیه السلام په حقله ګڼ معلومات لري. د خوشحال بابا ددې شعرونو نه دا خبره جوتیږی چې حضرت خضرؑ د اب حیات په څښلو تل عمری ژوند بیا موندے دے. او سکندر په دغه هڅه په ظلمات کښې ورک شوے دے.

ددې نه علاوه حضرت خضرؑ په مجمع البحرین کښې د حضرت موسیٰؑ سره ملاقات کړے دے. او د موسیٰؑ په درخواست حضرت خضرؑ هغه د ځان سره د څه زده کړې د پاره په مشروطه ملګرتیا بوتلے دے.

دا بره ذکر شوې دوارهِ واقعات خوشحال بابا پخپلو دغه شعرونو کښې په مختلفو حوالو ځاے کړی او بیان کړې دی.

## حضرت خضرؑ:

د حضرت موسیٰؑ په واقعاتو کښے د عالم تکوینیات د یو نیک سړی ملاقات کافی اهمیت لری. هغه نیک سړے څوک وو؟ قرآن کریم هغه ته عبداً من عبٰدنا وئیلو سره غیر واضحه پرېښے دے. البته د صحیحنو د روایت نه معلومیږی چه هغه نیک بنده حضرت خضرؑ دے." (۵۷)

دلته یو څو خبرې د بحث وړ دی. ۱. خضر نوم دے که لقب. ۲. خضر فقط عبد صالح (ولی) دے، نبی دے که رسول؟ ۳. هغه تل عمری ژوندے دے؟ که وفات شوے دے؟

د مفسرینو نه ددې دریو سوالونو په حقله ډیر اقوال رانقل شوی دی. د وړومبی سوال په ځواب کښې ځنې وائی چې خضر نوم دے. ولې د اکثرو قول دادے چې دا لقب دے. دغه رنګ د خضرؑ د نوم په حقله هم

کڼ اقوال دی. د مثال په توګه

۱. بليا بن ملكان

۲. ايليا بن ملكان

۳. خضرون

۴. معمر

۵. الياس

٦. السيع وغيره

د دويم سوال په جواب کښې د بعضو قول دے. چې هغه فقط "عبد صالح"وو. او بعضې وائی چې هغه رسول وو. ولې د جمهور علماء وينا ده چې هغه نه رسول وو او نه فقط "عبد صالح" وو. بلکې هغه "نبی"وو.

د دريم سوال په جواب کښې د څنو عالمانو خيال دے. چې هغه ته ابدی ژوند ورکړے شوے دے او تر اوسه پورې ژوندے دے. دے لړ کښې څه حکايات او روايات هم شته. د سترو محققينو رائ دا ده چې د هغه د ابدی ژوند ثبوت نه خو په قرآن کښې شته. او نه د احاديثو نه ثابت دے. څکه نو هغه د نورو انسانانو په څير وفات شوے دے. (۵۸)

"خضر: د ادبی روايت تر مخه د لار ښودنې فريضه ترسره کوی. د روايت تر مخه د سمندرونو او دريابونو مالک هم دے دے. آب حيات ئې څښلی دی. سکندر اعظم ئې د اب حيات چينې ته بوتللو. خو هغه تږے واپس شو. دا هر څه روايات دی.

قرآن مجيد کښې دی. چې د حضرت موسیٰؑ د خضرؑ سره (چې عالم او پوهه وو) ملاقات شوے وو. او د دواړو په مينځ کښې دا شرط ايښودے شوے وو. چې حضرت موسیٰؑ به د حضرت خضرؑ په يوه خبره هم اعتراض نه کوی. ولې درے ځله حضرت موسیٰؑ د حضرت خضرؑ په خبرو اعتراض اُوکړو.

۱. هر کله چې حضرت خضرؑ په کشتی کښې سُورے کولو.

۲. کله چې هغه ماشوم وژلو.

۳. او کوم وخت چې هغه یو دیوال نیغولو.

حضرت خضرؑ ددغه دریو واړو واقعاتو د وضاحت نه پس د حضرت موسیٰؑ نه بیل شو. (۵۹)

چشمه خضر، چشمه زندگی، چشمه حیوان"

دا د اب حیات د چینې مختلف نومونه دي. ددې چینې متعلق مشهور ده. چې لار ئې بې کچه ګرانه ده. او څوک ورته نهٔ شي رسیدے. اول خو د لار درنه لګی. او که معلومه هم شی. نو د ظلمات په ژورو تیارو پریوتل ورسره تړلی دی. وئیلې شی. چې سکندر ذوالقرنین د حضرت خضرؑ سره ددغې چینې پورې رسیدلے وو. سکندر چې هلته ورسید نو د بې وسی او نا چارۍ په ژوند ئې مرګ له ترجیح ورکړه. او اب حیات ئې اُونه څښلے. حضرت خضرؑ دغه اُوبه اوڅښلے او ابدی ژوند ئې بیاموند.

د یو بل روایت تر مخه حضرت خضرؑ او سکندر په بیلو بیلو لارو تللې وو. سکندر د ظلمات په تیارو کښې ورک شو. او حضرت خضرؑ د اب حیات چینې ته اُورسیدو. د حضرت خضرؑ په نسبت دے چینې ته چشمه خضر، او د اب حیات په نسبت ورته چشمه زندګی او چشمه حیوان وائی." (۶۰)

== ☆☆☆ ==

دهٔ په لاس د بخت نصر ظلم واخست

زهٔ ددهٔ د لاسه بند لکه دانیالؑ (۶۱)

دې شعر کښې خوشحال بابا د خپل ژوند یوې مهمې واقعې ته اشاره کړې ده. کله چې هغه د صوبه دار امیر خان خوافی، مرزا عبدالرحیم او خپلو ترونو بهادر خان او فیروز خان د سازش په نتیجه کښې مغلی بادشاه اورنګزیب عالمګیر بـلا تحقیقه بندیوان کړو. خوشحال بابا دې شعر کښې د بخت نصر ظلم او د حضرت دانیال علیه السـلام بندیوانی د تلمیح په توګه د اورنګیزب عالمګیر د زیاتی او د خپلې ګرفتارۍ سره راوړې ده.

## حضرت دانیال علیه السلام:

"بخت نصر د بنو پولاس زوئے وو. چې د هغه نه پس په تخت کیښناست. او مصرئې واخستو. په ۵۹۷ق م کښې چې "یهوداه" سر را اُوچت کړو نو دهٔ دغه بغاوت او چقوو. خو په ۵۸٦ق م کښې چې یو ځل بیا د بغاوت بیرغ هسک کړے شو. نو دهٔ یروشلم تباه و برباد کړو." (٦٢)

"بخت نصر نه یوازې سلطنت تباه و برباد کړو. بلکې زیاتره بنی اسرائیل ئې د بندیانو په جوړ بابل ته بوتلل. په تورات کښې راغلی دی.

او د بابل بادشاه بنو کدرضر د حکومت د نولسم کال د پنځمې میاشتې په لسمه ورځ سردار بنو ذرادان یروشلم ته راغے. د خدائے کور، د بادشاه محل او د یروشلم هر لوئے کور ته ئې اُور واچوۀ. او هر څه ئې اوسیزل. دې لښکر د یروشلم د قلعه څلور واړه اړخه را اوغورځول. او هغه ټول خلق ئې بندیان کړل. کومو خلقو چې خپل خپلوان پریښی وو. او د بابل د بادشاه پناه ئې اخستې وه.

په صحیفه دانی ایل کښې مذکور دی. چې کوم خلق بندیان کړې شوی وو او بابل ته بوتلې شوی وو. په دغه کسانو کښې حضرت دانیالؑ هم وو. چې ورسره درې نور ملګری حننیاه، میسا ایل او عر زیاه (حضرت عزیرؑ) هم وو.

حضرت دانیال علیه السلام ته الله تعالیٰ ډیره پوهه، علم او حکمت ورکړے وو. د عقل و دانش او حسن، صورت په لحاظ حضرت دانیالؑ او د هغوئ درې واړهٔ ملګرو ځانګړے مقام درلودو. او هم دا وجه وۀ چې د بادشاه د خصوصي پام لرنې جوګه ګرځیدلي وو. بادشاه د هغوئ د پاره شاهي خوراک مقرر کړې وو او هغوئ ته ئې ډیر په درنهٔ ستوګه کتل. عن چې پخپل خدمت کښې د حاضریدو د پاره ئې غوره کړل.

بخت نصر د سرو یو بت په ښار کښې اولګوو. او خلقو ته ئې د عبادت حکم ورکړو. ټولو خلقو د بخت نصر دغه حکم اُومنو. ولې حضرت دانیالؑ او د هغوئ ملګرو ددغه حکم منلو نه انکار اوکړو. بادشاه ته دا خبر اُورسید. او هغه حضرت دانیالؑ سره د ملګرو دربار ته را اُوبللو. بادشاه ترې پوښتنه اُوکړه چې تاسو

ولې زما د حکم منلو نه انکار اُوکړو. هله تيار شئ او کله چې د بيم او شپېلۍ د غړېدو آواز واورئ نو بُت ته په سجده پريوځئ. او که تاسو داسې اُونکړل نو سرې کرې بټۍ ته به مو واچوم.

ټولو ځواب ورکړو چې مونږ د يو خدائے عبادت کوؤ. هغهٔ طاقت لري چې مونږ ستا د سرې کرې بټۍ نه اُوساتي. او هغه مونږ ستا نه خلاصولې شي. مونږ به چرته هم ستا د بُت عبادت اُونه کړو. بادشاه چې دا واوريدل نو د غصې نه تک سُور شو او حکم ئې اوکړو چې دوئ د اُور بل کرې شوې بټۍ ته اُوغورځوئ. د خدائے کرهٔ وو اور هغوئ ته نقصان اُونه رسؤ. بلکې هغه کسان ئې اُوسېزل او مړه ئې کړل کومو چې دوئ اُور ته غور ځولي وو.

کله چې بادشاه خبر شو. چې هغوئ ته اُور څه زيان نه دې رسولې. نو ډېر حيران شو او خپله د بټۍ ليدلو له راغے. هغه اُولېدل چې په بټۍ کښې د حضرت دانيالؑ او د هغوئ د ملګرو نه علاوه يوه فرشته هم ده. بادشاه هغوئ ته د بهر راوتلو آواز اوکړو. هغوئ بهر راغلل. بادشاه اُوکتل چې د هغوئ په بدن چرته هم د اُور څه اثر نه ښکاری. بادشاه ته احساس اُوشو. چې دا ضرور د خدائے نيک بنديان دی. څکه نو حُکم ئې جاری کړو چې د يهوديانو د خدائے په حقله دی هيڅوک هم د خُلې نه ناولې خبره نه اُوباسې. او دغه شان بيا ئې هغوئ په ډيرو لويو عهدو اوټاکل.

د بخت نصر نه پس د هغه نمسے بلشفر د بابل په تخت کښيناست. د خپلې تاج پوشی په موقع ئې د رقص و سرور محفلونه ګرم کړل. او په هغه پاکو لوښو کښې ئې د شرابو دَورونه اُوچلول. کوم چې بخت نصر د يروشلم د هيکل نه راوړي وو. ددې نه هم د بلشفر ددغه سپيځلو لوښو بې حرمتي او سپکاوې کول وو. د هغه په دماغو د لويې او سرکشی نشه ختلې وه. هغهٔ د سرو سپينو پيتلو، اوسپنې، لرګي او کانو نه بتان جوړ کړل. چې خلق ئې خدايان اُومني. او حضرت دانيالؑ ئې پخپل حکومت کښې د دريمې درجې حاکم مقرر کړو. حضرت دانيالؑ هغه ته د يوې تختې د ليک مطلب ولاړ کړې وو. چې ستا د بادشاهت ورځې په ختمېدو دی. ستا سلطنت ټوټې ټوټې کړې شوې دے او ايرانيانو ته سپارلې شوې دے. او هم دغه شان اوشول د ايرانيانو لښکر په فرات راپورې ووت په بابل ئې حمله اوکړه. بادشاه مړ شو. او حکومت ايرانيانو واخستو.

شاه ایران هم د حضرت دانیالؑ د علم و حکمت او پوهې په وجه ډیر زیات قدر او مدار کولو. ځکه نو هغهؑ ئې پخپلو وزیرانو کښې شامل کړو. حضرت دانیال علیه السلام د خپل بې کچه تدبر او زیرکۍ په سوب د نورو ټولو وزیرانو نه زیات پوهه ثابت شو. له دې کبله دغه وزیرانو د حسد اُور واخستو او حضرت دانیالؑ ته ئې د نقصان رسولو هڅې پېل کړې. ولې هره هڅه ئې شنډې شوه. چې اُونه شوه. نو دغه وزیرانو "دارا"ته مشوره ورکړه. چې هغه دې یو داسې حکم جاري کړی. د کومې تر مخه چې څوک تر دیرېشو ورځو پورې ستا نه سیوا بل خدائے یا سړی ته سوال اُوکړی. نو هغه به "زمرو"ته اچولې شی. "دارا"د دوئ دا مشوره اومنله او اعلان ئې جاری کړو.

د حضرت دانیالؑ دا معمول وو. چې هغهؑ به د ورځې درې وخته پخپل کور کښې عبادت کولو او د خدائے نه به ئې دُعاګانې غوښتلې. حاسدانو بادشاه خبر کړو چې حضرت دانیالؑ ستا د حکم نافرماني کوي. او هره ورځ درې وخته د بل خدائے عبادت کوی او دُعاګانې ترې غواړي.

د حضرت دانیالؑ سره د بادشاه مینه وه. بادشاه نه غوښتل چې هغه له دې سزا ورکړې. ولې کله چې د حاسدانو د سزا ورکولو غوښتنې زور اُونیوؤ. نو بادشاه هغهؑ زمرو ته په پنجره کښې واچوؤ.

د خدائے قدرت ته ګوره چې زمرو حضرت دانیالؑ ته څه نقصان اُونه رسوؤ. او هغه بې ویرې بې ترهې په پنجرې کښې سلامت ناست وو. بادشاه ته چې پته اولګېده نو خپله راغے او حضرت دانیالؑ ته ئې د پنجرې نه د بهر راوتلو د پاره اووئیل. او دې سره ئې دا حکم جاری کړو چې هغه ټول خلق چا چې په حضرت دانیالؑ الزام لګولې وو. او هغهؑ ئې تردې پنجرې رارسؤلې دے. هغه ټول کسان دې د ښځو او بچو سره پخپله دې پنجره کښې زمرو ته واچولې شی. چې خپله سزا اوخوري.

بیا ئې حکم اُوکړو. چې د ملک ټول خلق دې حضرت دانیالؑ ته په درنهٔ سترګه ګوري. او د دوئ نه دې ویرېږی. ځکه چې د هغهٔ خدائے د همېشه نه ژوندے دے. او تل عمری به قائم وی. د هغه سلطنت له زوال نشته. د ابد پورې به دوام لري. هغه خلاصول او ژغورل کوی. په زمکه او آسمان دواړو کښې هغه خپلې نخښې څرګندوي. او هم هغه "د اني ایل" د زمرو د پنجې نه اُوساتو." (٦٣)

منهاج سراج د حضرت دانیال علیه السلام په حقله لیکی:

"بخت نصر چې کوم قیدیان د ځان سره بوتلی وو. په هغوئ کښې ارمیاء عزیز او دانیال هم وو. بخت نصر یو ویرونکې خوب اُولید. او دانیال علیه السلام ئې ددغې خوب د تعبیر د پاره را اُوغوښت. دغه وخت بخت نصر د بابل بادشاه وو. دانیالؑ هغه ته د لیدلی خوب تعبیر ور اُوښود. او هغه خط ئې ورته هم ورکړو. کوم چې دانیال اکبر هغه ته په وړوکوالی کښې ورکړے وو. بخت نصر چې دغه خط اولوستو نو د دانیالؑ سره ئې نور نیولي بنی اسرائیل آزاد کړل. او هغوئ شام ته راغلل." (۶۴)

"د حضرت دانیالؑ د وفات نه پس د هغه وخت خلقو د هغه جسد خاکی په یوه تې خانه کښې تاله کړو. او کله چې به په هغوئ څه مصیبت یا تکلیف راتلو. نو دغې تې خانې ته به تلل او دُعا به ئې غوښته. په داسې کولو به راغلے مصیبت او تکلیف د هغوئ نه فوراً لرې کیدو. کله چې د حضرت عمرؓ په زمانه کښې دغه سیمه د هغوئ په قبضه کښې راغله. نو هغوئ د حضرت دانیالؑ جنازه د سنتو مطابق اُوکړه. او دفن ئې کړو." (۶۵)

== ☆☆☆ ==

که هر څو ډیر حشم لرے بادشاه د مملکت ئے
په زره کښے فکر وکړه څه بادشاه وه سلیمانؑ (۶۶)

☆

د سلیمانؑ غونډے هم پریوتل له تخته
په فرش باندے به څو د زرو زین ږدے (۶۷)

فرش

☆

نهٔ سلیمانؑ وه نهٔ ئې تخت وه
نهٔ آصف د برخیا (۶۸)

د دُنیا د مال او ملک هغه لائق دے
چه سلیمانؑ غوند ئې خوئ شی چه بادشاه شی (۶۹)

☆

د سلیمانؑ په گوتې کښلے دا وینا وه
چه دا تخت به د سلیمانؑ نه وی په گور کښې (۷۰)

☆

خان چه کم کنړی تر بله هغه لوئے شی
د سلیمانؑ گوته په دا راغله په خچے (۷۱)

☆

د سلیمانؑ غوند ئې پاسه په سر کیږده
نهٔ قارون غوند ئې ږده د زړه دننه (۷۲)

☆

د سرپو حال که تل په یوه شان وے
د سلیمانؑ کته به نهٔ تله له سلیمانهٔ (۷۳)

☆

دا خپل خان مے چه پیشکش کړو و خپل یار ته
و سلیمانؑ ته د میږی په لاس ملخے دے (۷۴)

دا پورته رانقل شوی شعرونه د حضرت سلیمانؑ په حقله تذکره لری۔ دې شعرونو کښې خوشحال بابا

د حضرت سلیمانؑ د لوئې بادشاهۍ جاه و جـلال، مال و منال او عظیم شان و شوکت په ترڅ کښې خپل نظر بیان کړے دے. او ددې سره سره ئې ددې دُنیا د ناپائیدارۍ او بې ثباتۍ ذکر هم د حضرت سلیمانؑ په حواله تلمیحاً کړے دے.

## حضرت سلیمان علیه السلام:

"حضرت سلیمان علیه السلام د لوئے خدائے د ډیر خوږ ژبي پیغمبر حضرت داؤد علیه السلام زوئے وو. او د بطشا بنت حناء د ګیډې نه پیدا شوے وو. بطشاء د اُوریا بی بی وه. او د هغه د شهید کیدو نه پس حضرت داود علیه السلام په نکاح اخستې وه." (۷۵)

د حضرت داود علیه السلام په نکاح کښې سل او د حضرت سلیمان علیه السلام په نکاح کښې درے سوه بیبیانې وې" (۷٦)

"د مقاتلؒ د بیان ترمخه سلیمان علیه السلام د خپل پـلار حضرت داؤد علیه السلام نه په بادشاهۍ کښې سیوا وو. او په قومی فیصلو کښې ئې هم د والد صاحب نه رفعت لرلو. لیکن حضرت داؤد علیه السلام په عبادت او ریاضت کښې د حضرت سلیمان علیه السلام نه سیوا وو." (۷۷)

د روایت له رویه د حضرت داود علیه السلام نولس زامن وو. خو په دغه ټولو کښې الله پاک حضرت سلیمان علیه السلام د علم و حکمت، پوهې، نبوت او حکومت د پاره خاص کړے وو. وئیلې شی چې کله د حضرت داود علیه السلام توبه قبوله شوه. نو دغه وخت حضرت سلیمان علیه السلام لا ماشوم وو. ولې الله تعالیٰ هغه ته د قران کریم ددے ایت مطابق "ففهمنا ها سلیمان" (مونږه سلیمان ته ور اوښودل) علم و حکمت پیرزو کړے وو. هم دا وجه وه چې حضرت داؤد علیه السلام هغه د مخکښې نه خپل ولی عهد ټاکلے وو. خو د نورو زامنو د خفګان له خاطره ئې دا خیال لا ښکاره کړے نۀ وو. هر کله چې جبرائیلؑ د حکومتی ګوتې او د سوالونو د یوې صحیفې څخه راغلو. نو حضرت داؤد علیه السلام ته ئې اووئیل چې د الله تعالیٰ حکم دے چې ستا د زامنو نه کوم یو کس ددے سوالونو جوابونه ورکړل. هغه ته دا ګوتې په ګوته

کړه او خپل ولی عهد ئې اوټاکه. دے غرض د پاره حضرت داؤد علیه السلام د یو درونډ مجلس تابیا اُوکړه. چې پکښې د یهودو لوئے لوئے عالمانو او رئیسانو ته بلنه ورکړې شوه. د هغو ټولو په وړاندې حضرت داودؑ هغه صحیفه پرانسته. او د خپلو زامنو نه ئې دغه سوالونه اوپوښتل. د حضرت سلیمانؑ نه علاوه یو کس هم ځواب ور نهٔ کړے شو. حضرت سلیمانؑ د دغه ټولو سوالونو ډیر زیات معقول جوابونه ورکړل. ځکه نو حضرت داودؑ د حکومت ګوتئ حضرت سلیمانؑ ته اوسپارله او خپل ولی عهد ئې مقرر کړو." (۷۸)

"وائی چه د سلیمانؑ تخت په داسے شان وو. چه بادشاهانو کښے د هیڅ یو بادشاه تخت داسے نه وو. ددے تخت په ښی طرف به دوه لکه کرسئ د معتبرو سړو د پاره او په ګس طرف به دوه لکه کرسئ د شرفاء جناتو د پاره پرتے وے. او د سلیمانؑ ښی پله به پنځه دیرش میزونه پراته وو. او عالمان سړی به په هغے ناست وو او ګس طرف ته به ترے همدغه هومره میزونه پراته وو. په هغے به د جناتو عالمان ناست وو. او مارغانو به د حضرت سلیمانؑ د سر د پاسه پر سره پر یو ځائے کړے وو. او علماؤ به حق کلام وئیلو. او په کرسو ناستو سړو او جناتو به اوریدلو. او سلیمانؑ به په تخت ناست وو. او سړی او جنات او مارغان د سلیمانؑ لښکرے وے...... د سلیمان د لښکر د تیکاؤ کیدو میدان به سل فرسخ یعنی درے سوه میله اوږد او دغه هومره پلن وو. دے کښے پنځویشت فرسخه د جناتو د لښکر د پاره پنځویشت فرسخه د سړو د لښکر د پاره، پنځویشت فرسخه د مارغانو د پاره خاص وو. او کیر چاپیره یو فرسخ پورے به ریښمین فرش غوړیدلے وو. او د هغے په مینځ کښے به تخت پروت وو. او رئیسان او شریفان به په هغے کرسو ناست وو. چه د تخت نه به ګیر چاپیره پرتے وے. او دغه تخت به په هوا کښے د میاشتے مزل په ورځ کښے کولو." (۷۹)

"سلیمانؑ به پخپله وړه اغوړل. او ډوډئ به ئے پخولے او هر ماښام به بیت المقدس ته تلو او مسلمانان روژه دار او عاجزان فقیران به ئے د ځان سره د خپلے غلے ملګری کول. او دا سوال به ئے د خپل رب نه کولو. چه یا الله ما د درویشانو په صف کښې شامل کړے." (۸۰)

"ابو داؤد د حیثمه نه یو روایت نقل کړے دے چه حضرت سلیمانؑ د بیت المقدس تعمیر په جناتو کولو. دا کار لا اوس جاری وو چه حضرت سلیمانؑ ته د خپل مرګ د نزدے کیدو احساس اوشو.... نو جنات

ئې راوبلل او هغوئ ته ئې حکم اوکړو چه هغه د پاره يو د شيشے کور جوړ کړی چه هغے کښے څه دروازه نۀ وی نو هغوئ حکم اومنلو او سليمانؑ هغے کښے د يو لرګی ټيک واخست ودريدۀ بيا ملک الموت هغے کور ته داخل شو او هم هغے حالت کښے ئے د هغه روح قبض کړو.

د وفات نه پس هم هغه د هغے لرګی په مدد ولاړ وو. او جنات هم د بيت المقدس د جوړولو په سخت کار کښے مشغول وو. يو کال پورے دا رنګے ولاړ وو. دے دوران کښے وينو لرګے خوړل شروع کړل. چه کله هغه پړ شو او د حضرت سليمانؑ بوج ئے برداشت نه کړے شو نو حضرت سليمانؑ پريوته. هغه وخت جناتو ته معلومه شوه چه حضرت سليمانؑ مړ شوے دے خو دے دوران کښے د بيت المقدس تعمير پوره شوے وو. (۸۱)

== ☆☆☆ ==

ددہ علم پک قلزم و

درست د شيثؑ علم ترې کم ؤ (۸۲)

دې شعر کښې د حضورؐ علميت پله اشاره ده. چې ضمناً پکښې د حضرت شيث عليه السلام ذکر هم راغلے دے. ددې شعر نه د ستر خوشحال بابا د لوئې مذهبی مطالعې او علم اندازه هم لګی. په دې چې د زمکې په مخ شيثؑ وړومبے انسان وو. چا چې په شعوری توګه د علم د حاصلولو، زده کولو او خوړولو هڅه کړې وه. ځکه ورته پوهان اُوريا اول وائی. په دغه تناظر کښې ئې د حضرت شيثؑ علم د حضورؐ د علميت په مناسبت سره راوړے دے.

## حضرت شيثؑ:

"د آدمؑ په زامنو کښې د نبوت رڼا د حضرت شيثؑ په نصيب شوه. دغه رنګ د پلار د ګدی او د

انسانانو د سرداری پګړی هم د دوئ په سر کیښودې شوه. شیثؑ وړومبے کس وو. چې د علم د زده کړی او حکمت د تعلیم او تدریس اړخ ته پاملرنه اُوکړه. ځکه خو د فلسفې پوهان هغهؑ ته اوریائے اول وائی.

"اوریا" په سریانی کښې استاد ته وائی. ددې نه عـلاوه هغهؑ وړومبے کس دے چې ږیره ئې اوساتله. او د انسانی نسل د بقا او خوروني د پاره خاص شو. هم دا وجه ده چې د بنی آدمو ټول نسبونه هغهؑ ته رسی. ځکه چې د آدمؑ باقی مانده اولاد د حضرت نوحؑ په طوفان کښې غرق شوے وو.

حضرت شیثؑ به خپل زیات وخت د شام په خاوره تیر وو. د مور د وفات نه پس خدائے پاک په نبوت اونمانځلو او د قابیل د قوم د رهنمائی او هغوی ته د دعوت فریضه ئې تر سره کړه. په حضرت شیثؑ د پنځوس نه زیاتی صحیفې نازلې شوې دی. دغو صحیفو د فلسفې، طبعیات، ریاضی، الهٰیات او په نورو علومو اړتیا لرله.

دحضرت شیثؑ شریعت د حضرت آدمؑ د شریعت مطابق وو. د قابیل په اولاد کښې ډیرو کمو کسانو د هغهؑ په دعوت لبیک اُووې. زیاتره کسانو د کفر و شرک نه لاس وانهٔ خستل. او په ګمراهی کښې اخته پاتې شول. ځکه نو حضرت شیثؑ هغوی د حضرت آدمؑ د قبر د زیات نه منع کړل. او د هغوئ سره ئې د مومنانو ښځو ودونه حرام کړل. (۸۳)

کله چې د حضرت آدمؑ د وفات نه پس الله تعالیٰ بیت المعمور اسمان ته پورته کړو. نو حضرت شیثؑ د الله تعالیٰ په حکم هم په دغه ځائے د خاورو ګټو نه کعبه جوړه کړه.

حضرت شیثؑ د ۹۱۲ کالو په عمر کښې وفات شو. او د شام په خاوره د "حلب"په غیږ کښې دفن کړے شو. (۸۴)

== ☆☆☆ ==

ساقی راپاڅه په ویړی راشه
دِ تا د سترګو بلا په ما شه
یو څو لبریزے پیمانے راکړه
د اوړی مړ یم ته مے عیسیٰؑ شه (۸۵)

☆

مړه ئے پاڅول له ګوره
نابینا ئے کړل بینا
یو نادان ئے دانا نه کړ
په درست عمر مسیحاؑ (۸٦)

☆

خدائے ئے لا هم ځنے خلاص نه دے که ئے ګورے
چه ترسا بِنائے د عیسیٰؑ بولی پدر (۸۷)

☆

یا مهدی ئے یا عیسیٰؑ چه راښکاره شوے
په جهان ذِ غلغله وشوه ناګاه
د مهدی او د عیسیٰؑ د وړاندِ څه دی
هم دجال هم د دجال واړه سپاه (۸۸)

☆

ښه خوی وصف د مسیحا دی
بد خوی مرګ مفاجا دی (۸۹)

☆

چه ئې قطع عوائق کړل
په آسمان کېښناست عیسیٰ (۹۰)

☆

چه وفا ئې له چا نه مونده په زمکه
و آسمان وته روان شو عیسیٰ ځکه (۹۱)
په چارم آسمان به ناست لکه عیسیٰ وم
که آسمان ته الواته شوے په خبرو (۹۲)

☆

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته
یا عیسیٰ لره وردرومه یا قارون ته ځان سپاره (۹۳)

☆

نصیحت د دانایانو د کتاب دے
د احمق خوب هم نه خوب دے
چه عیسیٰ په غرونو ته له احمقانو
دا تعلیم ئې راته پاتې په دا باب دے (۹۴)

☆

چه عیسیٰ په معجزه سره ړانده سرې بینا کړه
دانا ئې په دُعا نۀ شو په عمر یو نادان (۹۵)

☆

یو نادان ئے دانا نه کړ
په درست عمر مسیحاً (۹۶)

☆

عیسیٰ یو نادان هوښیار نه کړ په عمر!
که ړانده ئے په یو نفس شول ډیر بصیر (۹۷)

☆

عیسیٰ یو نادان هوښیار نهٔ کړ په عمر
په اعجاز که ئے ړانده بینا کول (۹۸)

☆

د صحرا په کاڼری رخه د شیطان شوه
عیسیٰ سر په مزکه کښیښ له بالښته (۹۹)

☆

یو کاڼرے د بیدیا
تر تندی لا ند کړ عیسیٰ
چه ښه فهم ئے وکړ
هم تر بوئ ته د دُنیا (۱۰۰)

☆

د موسیٰ ید بیضا شوې
د عیسیٰ دم احیا شوې (۱۰۱)

☆

د موسیٰؑ د عیسیٰؑ کله دا صفت وه
د لولاک نعت په ده بانډِ مختص دے (۱۰۲)

☆

نه هر خرۀ د عیسیٰؑ بار وړه
نه هر سر سره دولت وی (۱۰۳)

☆

موسیٰؑ ته څرګند نه وو و عیسیٰؑ ته ښکاره نه شو
په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبرُ (۱۰۴)

ددې بره شعرونو نه جوتیږی۔ چې خوشحال بابا حضرت عیسیؑ په خپل کلام کښې په مختلفو حوالو یاد کړے دے۔ چرته د معجزاتو په بنیاد چرته د نورو پیغمبرانو سره د موازنې په بنه، چرته اسمان ته د ختلو په اساس او چرته د آسمان نه د راکوزیدو او دجال خپل انجام ته د رسولو په حواله۔ د خوشحال بابا په کلیاتو کښې د هغویٔ ذکر ځاے په ځاے بیاموندے شی۔

## حضرت عیسیٰؑ:

"حضرت عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ یو جلیل القدر پیغمبر د لویٔ حوصلې څښتن او د بنی اسرائیلو په نبیانو کښې آخری نبی وو۔ د صحیح بخاری د روایت تر مخه د حضرت عیسیؑ او زمونږ د خوږ نبیﷺ تر مینځه د بل نبی یا پیغمبر بعثت نه دے شوے۔ په قرآن پاک کښې د حضرت عیسیؑ تذکره په دیارلس سورتونو کښې راغلې ده۔ د عیسوی سنه د دویٔ د زیږیدنې څخه شروع شوې ده۔ د شام خاوره د حضرت عیسیؑ نیکنے وطن دے۔ د مور بی بی نامه ئې حضرت مریم بنت عمران ده۔ څوک چې د شام د ارض کلیل د "ناصره"نومې ځای اوسیدونکې وه۔

د حضرت عیسیٰؑ د زیږیدنې کال "۳"عیسوی دے۔ د پیداوښت ځاے ئې بیت المقدس دے۔ په دغه اوان د شام حکمران هیرودلیس وو۔ چې د رومی مملکت د اثر لاندې ئې ملک چارې شړلې۔ (۱۰۵)

"د حضرت عیسیٰ علیه السلام د محترمے مور حضرت مریم زهد او تقویٰ بنی اسرائیلو کښے منلے شوے وه۔ هم په وړوکوالی کښے د حضرت مریمؑ نه د عادت خلاف کارونه شروع شوی وو۔ د هغې په حجره کښے به موسمی او بے موسمه میوے په نظر راتلے۔ د حیرانتیا په طور به چه کله د حضرت مریمؑ نه تپوس اوکړے شو نو جواب به ئے ورکولو دا د الله تعالیٰ د طرف نه دی۔" (۱۰۶)

په قرآن پاک د الله تعالیٰ ارشاد دے۔

فارسلنا الیها روحنا فتمثل لها بشرا سویا۔ (۱۰۷)

ترجمه: پس اولیږو مونږه مریم ته (روح) په شکل د یو تندرست سړی۔

حضرت مریمؑ چې روح الامین اُولید نو د ویرې په حالت کښې ئې اوونئیل

"اعوذ بالرحمن منک ان کنت تقیاO (۱۰۸)

ترجمه: پناه غواړم په الله سره ستانه که ته ئې پرهیز گار۔

قال انما انا رسول ربک لاهب لک غلما زکیاO قالت اني یکون لي غلامO

جبرائیل ووے زهٔ رالیږلے یمه رب ستا چه درکړمه تا ته یو هلک پاک۔ مریم ووے کوم ځاے به وی ماله هلک۔ زهٔ خو چا سړی مسح کړے هم نه یم۔ او نه چرے بدکاره یم۔ بیا جبرائیلؑ ووے۔

قال کذالک قال ربک هو علي هینO (۱۰۹)

ترجمه: اووے جبرائیل دغه شان خدائے پاک پیداکوی۔ هغه چه اوغواړی۔

"حضرت مریمؑ حامله شوه۔ چه کله د پیدائش وخت نزدے راغے۔ نو مریمؑ د شرم له وجے څه بل ځائے ته یوازے والی کښے لاړه چه کله هغے ته د بچی کیدو درد شروع شو نو د یوے کهجورے د تنے دږ ته کیناسته..... دغے حالت کښے به حضرت مریم آرزو کوله چه کاش زه ددے نه وړاندے مړه شوه وے او هیره شوے وے۔

ددے بے آرامئ په حالت کښې فرښتې د لاندے نه آواز ورکړو چه مریم! مه غمژنه کیږه الله ستا د پاره ستا د لاندے یوه چینه جاری کړه خپل طرف ته د کهجورے تنه وخوځوه تا باندے به پخے کهجورے راوغورځیږی۔ نو اوس خوره او څکه او بچی سره خپلے سترگے یخے کړه۔" (۱۱۰)

"حضرت عیسیٰؑ خپلې مور مریمؑ په غیرِ کښې خپلو خپلوانو ته راوړو۔ یهودیانو ورته اووئیل چې د هارون خور دا خو عجیبه ده۔ نه خو ستا پلار خراب سړے وو۔ او نۀ ستا مور بدکاره وه۔ مریمؑ خلقو ته اووئیل چې ددے ماشوم نه تپوس اوکړئ ځکه چې زما گونگه روژه ده۔ خلقو اووئیل چې دا خو د غیږې ماشوم دے۔ دے به څرنگې خبرې اوکړی؟ حضرت عیسیٰؑ اووئیل زه د الله بنده یم۔ هغه ماته کتاب راکړو۔ او زۀ ئې نبی جوړ کړم۔ ما ته ئې برکت راکړو۔ کوم ځاے چې یم او تر څو چې یم تر هغې پورې ئې راته د مونځ او زکوٰة د ادائیگی حکم راکړے دے۔" (۱۱۱)

ترجمه: تا به زما په حکم د خټې نه د مرغی شکل جوړ کړو او پوکے به دې پکښې ورکړو د هغې نه به زما په حکم مرغی جوړه شوه۔ تا به مور زادیړوند او جذامی زما په حکم ښه کولو۔ تا به مړی زما په حُکم راویستل۔ بیا چې تا کله بنی اسرائیلو ته ښکاره نخښې راوړې او په هغوئ کښې چې څوک د حق نه منکر وو هغوئ اُووې چې دا نخښې خو د جادو نه سیوا بل هیڅ نه دی۔" (۱۱۲)

"حضرت عیسیٰؑ د اهل سنتو د عقیدې مطابق الله تعالیٰ د ۳۳ کالو په عمر کښې ژوندے آسمان ته پورته کړے دے۔ او د عیسایانو د عقیدې ترمخه د وفات نه درې ورځې پس آسمان ته اوچت کړے شوے دے۔" (۱۱۳)

== ☆☆☆ ==

چه خدائے ئے په لار نۀ کا په وئل به په لار نۀ شی
که پاخوے له کوره وُ هغۀ وته لقمانؑ (۱۱۴)

☆

که هر څو ښائسته ئے نۀ یوسفؑ ئے د کنعان
که هر څو ډیر هوښیار ئے نۀ مخے ئے د لقمانؑ (۱۱۵)

☆

جنګ د هاتی د مزری آسان دے
د خپلے ژبے آفت لاګران دے
چه خپله ژبه ئے پخپل فرمان کړه
هم ئے رستم کنړه هم لا لقمانؑ دے (۱۱۶)

☆

که دا عقل د همه خلقو یکسان وے
سکه بایده وو چه همه سړی لقمانؑ وے (۱۱۷)

☆

که لقمان که افلاطون وه واړه تیر شول
چه مے داد ورکړ د عقل قیل و قال نه (۱۱۸)

☆

که عقل ورک شی له دے جهانَ
هیڅ پاتے نه شی اے زما جانَ
هیڅوک به نۀ وائی چه زۀ نادان یم
هر یو به ښه کنړی ځان له لقمانؑ (۱۱۹)

☆

که لقمان شے په حکمت کښے
یا که بو علی سینا
نهٔ به لار د مرگی بند کړے
نهٔ به خلاص شے له قضا (۱۲۰)

☆

که مے ولوستل و دهٔ ته
کتابونه د لقمان[ع]
نهٔ اثر وربانډ وشو
نهٔ ئے ځائے شو په جنان (۱۲۱)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت لقمان[ع] نامه د عقل و دانش، حکمت او پوهې په بنیاد راوړې ده. په آخری شعر کښې ئې د خپل مشر زوئے اشرف خان هجری ذکر کړے دے. چې زما بې کچه نصیحت په هغه باندې هيڅ اثر او نه کړو. څه که ما دهٔ ته د لقمان[ع] د علم و حکمت نه ډک کتابونه ولوستل.

## حضرت لقمان[ع]:

"لقمان د یو حکیم عقلمند، هوښیار متقی او پرهیزګار سړی نوم دے. د عربو په نزد د هغه حکمت او هوښیارتیا منلے شوے وه. حضرت لقمان حکیم[رح] ته چه کوم علم ورکړے شوے وو قران کریم هغه د حکمت سره تعبیر کړے دے. قرآن کریم کښے د هغه په نوم باندے یو مستقل سورت دے چه هغے کښے د هغه مختصر حالاتو سره د هغه قیمتی حکیمانه نصیحتونه بیانکړے شوی دی....

حضرت لقمان حکیم څوک وو؟ د مفسرینو رائے دے باره کښے مختلفے دے. د بعضو حضراتو خیال دے چه هغه د حضرت الیاس وراره دے.... د هغه نسب حافظ ابن کثیر دا رنګے بیان کړے دے. لقمان بن

عنقا بن سندون یا لقمان بن سندون." (۱۲۲)

" حضرت لقمانؑ د وهب بن منبه د روایت تر مخه د حضرت ایوبؑ خورئیے وو. او مقاتلؒ ئې د ترور زوئے یادوی. په تفسیر بیضاوی کښې دی چې لقمانؑ ډیر عمر موندلے وو. تر دې چې د حضرت داؤدؑ زمانه ئې لیدلې وه." (۱۲۳)

"د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے. چې لقمان یو حبشی غلام وو. او ترکانی ئې کوله. چا د حضرت جابر بن عبدالله نه د لقمانؑ حال اُپوښتلو. هغه اووئیل چې د چیت قد او چیتې پوزې یو حبشی وو. او مجاهدؒ فرمائی چې دے یو حبشی غلام وو. چاؤ دلې پوندې او پیړې شونډې ئې لرلې. "(۱۲۴)

"د جمهور علماء په دې باندې متفق دی. چې هغه نبی نه وو. صرف حضرت عکرمهؓ هغه د نبی په حیث رانقل کوی. خو سند ئې ضعیف دے. او امام بغوی فرمائی چې هغه یو فقیه او حکیم وو خو نبی نه وو."(۱۲۵)

"حضرت قتادهؒ دده په حقله یو عجیبه روایت دا رانقل کړے دے. چې الله تعالیٰ حضرت لقمان له د نبوت او حکمت په اخستلو کښې اختیار ورکړو. نو هغه پخپله حکمت غوره کړو." (۱۲۶)

هم ددے حضرت قتادهؓ نه روایت دے چې چا د حضرت لقمان نه پوښتنه اوکړه. چې تاسو ولې حکمت له په نبوت ترجیح ورکړه. سره ددې چې الله تعالیٰ تاسو له د خوښې اختیار درکړے وو. هغه اوفرمائیل چې نبوت د لوئې ذمه وارۍ درجه ده. که چرته ما ته دا د اختیار نه بغیر راکړے شوے وے. نو خدائے پاک به زما د فرائضو په ادا کولو کښې زما مدد او کفالت کولو. او که چرې ما پخپل اختیار غوره کړې وې. نو بیا به ټوله ذمه واری په ما راتله." (۱۲۷)

"حضرت لقمانؑ به د حضرت داودؑ د بعثت نه وړاندې خلقو له د شرعی مسائلو په لړ کښې فتوې ورکولې. خو کله چې حضرت داودؑ ته نبوت ورکړے شو. نو لقمانؑ فتوې ورکول پریښودل، چې اوس زما ضرورت پاتے نۀ شو. په څنو روایاتو کښې دی. چې حضرت لقمانؑ د بنی اسرائیلو قاضی وو. د دوئ نه د حکمت په حقله ډیرې خبرې رانقل شوې دی. وهب بن منبه وائی چې ما د حضرت لقمانؑ د حکمت لس زره

بابونه لوستی دی." (۱۲۸)

په قرآن کریم کښې الله تعالیٰ فرمائي۔

ولقد اتینا لقمن الحکمته (۱۲۹)

ترجمه: او ورکړو مونږ لقمان ته حکمت (پوهه)

== ☆☆☆ ==

موسیٰؑ و کوه طور وته له قومه تلل په شپه کړل
هم لوطؑ په شپه جُدا شو له بیداد او له ستم (۱۳۰)

دې شعر کښې خوشحال بابا د حضرت موسیٰؑ سره سره د حضرت لوطؑ ذکر کوی۔ چې لوطؑ د خپل قوم د بیداد او له ستم د وجې خپله خاوره پریښوده۔ او د شپې په تیاره کښې ئې د راتلونکی عذاب نه د ځان ژغورلو په خاطر بلې علاقې ته تشریف یوړو۔

## حضرت لوطؑ:

"د حضرت لوطؑ د نسب سلسله دا ده۔ لوط بن هاران بن تارح، هاران د حضرت ابراهیمؑ ورور وو۔ حضرت لوطؑ د خپل قوم یوازے هغه کس دے۔ چا چه ابراهیمؑ باندے ایمان راوړۀ۔ بیا حضرت لوطؑ ئې د حضرت ابراهیمؑ سره د خپل وطن فدان آرام نه هجرت اُوکړه۔ ړومبے شام او بیا مصر ته لاړل۔ د مصر نه د رخصتیدو په وخت د مصر بادشاه چا چه ړومبے حضرت ساره سره گستاخی کړے وه۔ بیا ئے توبه کړے وه۔ او حضرت ابراهیمؑ ته ئے ډیر مال او دولت او څاروی او غلامان اوینزے ورکړل رخصت ئے کړو نو حضرت لوطؑ ته ابراهیمؑ ډیر مال او اسباب ورکړل۔

د مصر نه چه کله حضرت ابراهیمؑ او حضرت لوطؑ واپس شو. ملک شام ته راغلل نو حضرت ابراهیمؑ هغه د اردن علاقې ته د اسلام د تبلیغ د پاره ولیږۀ پس هغه خپل مال او اسباب سره سدوم ته لاړه.

قرآن کریم کښې د حضرت لوطؑ واقعه مختلفو مقاماتو باندې بیان کړے شوے ده ......... سدوم والا څنګه چه د قرآن د تصریحاتو نه معلومیږی ډیر بد کرداره وو. او بعضے شرمناک عادتونو کښې ګرفتار وو.

> لوټ مار او دهوکے او ظلم سره به ئے د مسافرو مال وهلو. میلمنو سره به ئے د بنه سلوک په ځائے د ظلم او بد اخلاقئ او بے حیایئی سلوک کولو بیا به ئے هغے باندے په ځائے د پښیمانه کیدو د فخر اظهار کولو او مجلسونو کښې به ئے ډیرے بے شرمئ سره د هغے ذکر کولو. د ټولو نه زیاته افسوس ناکه بلکه شرمناکه خبره دا وه چه بے ږیری هلکانو سره به ئے بدکاری کوله د خپل شهوت جذبے ته به ئے آرام ورکولو او بیبیانو سره به ئے فطری تعلق نه خوښولو (۱۳۱)

"حضرت لوطؑ د سدوم نه راووتلو یو نزدے کلی صوغر ته راغے ورسره د هغه دواړه لونړه هم وے. سوغر کښې د عذاب نه محفوظ پاتے شو هلته د هغه وفات اُوشو. (۱۳۲)

== ☆☆☆ ==

پیغامبر مے محمدؐ د عبدالله دے
مینه دار ئے په اصحاب په چار یار یم (۱۳۳)

☆

انبیاء تر محمدؐ پورے معلوم دی
لکه ستوری تر افتاب پورے معدوم دی
محمدؐ ئے د غبرا خلقه بولی
کروبی ئے ذاکران د احمدؐ نوم دی (۱۳۴)

☆

قربان دِ تر نامه شم محمدهؐ پیغمبرَ
اول ثنا د خدائ بنائی بیا ستا ثنا ده غورَ (۱۳۵)

☆

شفاعت د محمدؐ ثابت په نص دے
دا په دا چه دے د درست جهان اخص دے (۱۳۶)

☆

چه وخت د محمدؐ شو
عرب سلوم شول په مړانه (۱۳۷)

☆

د خدائے عرفان مے وشو په عرفان د محمدؐ
پاک دے محمدؐ پاک دے سبحان د محمدؐ
راشه نظر اُوکړه په طٰهٰ په یٰسین بانډ
خدائے دے صفت کړے په قرآن د محمدؐ

ډیر خلق پیدا دی انبیاء که اولیاء دی
نشته په خلقت کښې بل په شان د محمدؐ (۱۳۸)

☆

ډیر خلق که یو کړے انس و جن دواړه جهانه
لا تر واړه به دے ګوښے ځان د محمدؐ
شط د رود نیل که دموسیٰؑ په حکم وشو
شق د قمر وشو په فرمان د محمدؐ
خوان خوړ د موسیٰؑ من و سلویٰ یو لک وګړی
انس و جن مریږی تل په خوان د محمدﷺ
دور د ناقوس که یو څو وخته وه فانی شو
تل به تر قیامته وی اذان د محمدﷺ
نه دی قیس رهبان قائم پخپل دین و مذهب کښې
نه زرقسیس رهبان نه یو سلمانؓ د محمدﷺ
یو لک څلیریشت زره زیات و کم پیغبران دی
کل واړه مدام دی ثنا خوان د محمدﷺ
پیک ئے جبرئیل د رفرف جلب نیولے
پاس ئے چه معراج وه په آسمان د محمدﷺ (۱۳۹)

☆

څه دے دا آسمان ولاړ بے ستنے بے شهتیره
دے یو مختصر هلک ایوان د محمدﷺ
دا جهان هغه جهان که دواړه سره یو کړے
لا تر دا نه لوئے دے بل جهان د محمدﷺ (۱۴۰)

☆

واړه جنتونه په کښے څو رنګ نعمتونه
څه دے درته وایم یو بوستان د محمدؐ
څه دی دوزخونه په کښے هومره عذابونه
جوړ دے و دښنو ته یو زندان د محمدﷺ
ورځ چه د قیامت وی مرسلان به په هیبت وی
هور ته به جولان وی په میدان د محمدؐ
خواست به نور څوک نه کا دخسته و عاصیانو
خواست به محمدﷺ کا خاندان د محمدﷺ
سل صلوٰه تل له ما په ال تقی نقی شه
سل درووه تل په چار یاران د محمدﷺ
لاس دی لګولی ما خوشحالؔ په دواړه کونه
غم اندوه مے نشته په دامان د محمدﷺ (۱۴۱)

☆

مصطفٰی چې عقل کُل وُ
خبردار په جز (او) کُل وُ (۱۴۲)

☆

که پکار دِ ده د خدائے پیژندگلی
پیروی د محمدﷺ کړه د علیؓ
محمدﷺ چه هغه راز ئے په معراج کړ
یکایک وه و علی وته جلی
محمدﷺ علیؓ چه دوه وینی په سترګو
په دا کار کښے احولی ده احولی
که دا هومره ویل کا ورته رخصت دے
محمدﷺ دے پیغمبر علیؓ ولی (۱۴۳)

☆

په دا هسے مرنتوب ئے افرین وه
چه په کار ئے محمدﷺ شو فرحناک (۱۴۴)

☆

محمدﷺ د علم ښهر دے ئے ور وه
تر قنبر ئے شه خوشحال خټک فداک (۱۴۵)

☆

چه دوستی د محمدﷺ لری په زړه کښے
مینه دار ئے په اولاد او په اصحاب شه (۱۴۶)

☆

په ابوبکرؓ محمدؐ نمر وه
په ابوجهل تر سها سهل (۱۴۷)

☆

چه نصیب د بو لهب وه نور څه نه شو
محمدؐ که نصیحت کړ یا تدبیر (۱۴۸)

☆

محمدؐ د ابوجهل خوئے نور نۀ کړ
نه خصلت د بولهب بیاموند تغیر (۱۴۹)

☆

په اعجاز د محمدؐ خلقو اقرار کړ
د بوجهل تل نارے وے د تکذیب (۱۵۰)

☆

پند د محمدؐ د ابوجهل پکار نه شه!
څوک به ئے صیقل کا چه ئے خدائے آئینے زنګ کړ (۱۵۱)

☆

محمدؐ ته ابوجهل نصیحت کا!
راشه ګوره څوک رنځور شه څوک طبیب شه (۱۵۲)

☆

دده علم ډک قلزم وُ
درست د شیث علم تر کم وُ (۱۵۳)

☆

په یوه نسب کښے نیک و بد پیدا شی
محمدؐ او بولهب دواړه مکی دی (۱۵۴)

☆

چه ئې نن ګانده له ماسره خپل قوم کا
مګر دا جور له قومه په احمدؐ شه (۱۵۵)

☆

پیغمبرؐ چه له کافرو نه فرار کړ
و کافر ته ئې په زړه کښې تیغ رانی وه (۱۵۶)

☆

ځه خوشحالؔ چار یاری یم خوښ له ښه خدایه
چه سُنی راغلم په دین د پیغمبرؐ (۱۵۷)

☆

د یوسفؑ غونډې په خوب بنده عزیز کا
محمدؐ وته د غنړے تار پناه شی (۱۵۸)

☆

احمد مے له آسمانه په شپه کړله میاشت راکوزه
معراج وته ئې تلنه هم په شپه وه له حرمٔ (۱۵۹)

☆

دا حدیث د محمدﷺ دی
عدل ښه دی ظلم بد دی (۱۶۰)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا زمونږ خوږ پیغمبرﷺ یاد کړے دے۔ او د هغویٔ د ذات مبارک ځه صفات ئې رامخې ته کړی دی۔ چې زمونږ خوږ نبیﷺ خاتم الانبیاء دے۔ شفیع محشر دے۔ د الله تعالیٰ د معرفت ذریعه ده۔ په انس و جنس کښې د هغویﷺ مثل نشته۔ واړه انبیاء کرامؑ د حضورﷺ ثنا خوان دی۔ الله تعالیٰ ئې په طٰهٰ او یٰسین صفت کړے دے۔ د قیامت په ورځ چې نور پیغمبران به په هیبت وی۔ زمونږ د نبیﷺ

جولان به هسک وی. عرب د حضورﷺ د مړانې له وجې ښکاره شول او په علمیت کښې ئې مثال نه لرو.

دې وروستو شعرونو کښې خوشحال بابا د خوږ نبیﷺ د چار یارانو سره د خپلې مینې او عقیدت اظهار کړے دے. د ابوجهل او ابولهب د ضد او تکذیب ذکر ئې کړے دے. د هجرت، معراج او شق القمر واقعات ئې بیان کړی دی. او د خپل قوم د ظلم مثال ئې د هغه ظلم او زیاتی سره ورکوی. کوم چې په حضورﷺ باندې خپل قوم کړے وو.

## حضرت محمدﷺ:

محمدﷺ. تعریف کړے شوے، ستایلے شوے، د تحمید نه اسم مفعول. د خاتم النبین ﷺ مشهور نوم. د دوئ د نسب سلسله دا رنګے ده.

محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوئ بن غالب بن فهر بن مالک بن النضر بن کنانه بن خزیمه بن مدد که بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان بن ادد بن مقوم بن ناحور بن تیرح بن یعرف بن یشجب بن نابت بن اسحق بن ابراهیم بن تارح بن ناحور بن ساروغ بن راعو بن عیبر بن شالح بن ارفخشند بن سام بن نوح بن لمک بن متوشلح بن اخنوخ بن یرد بن مهلیل بن قینن بن یانش بن شیث بن آدم علیهم السلام" (١٦١)

"د قران کریم په ګڼړو آیتونو کښے د دوئ د مختلفو نومونو ذکر دے چه د هغې په تعداد او شمیر کښے د عالمانو رائے مختلف دی چا څلور شپیته چا یو کم سل چا درے سوه چا زرو پورے شمیر کړی دی. هغے کښے مشهور قول دا دے چه د نبي علیه السلم یو کم سل نومونه دی چه د هغے نه دوه محمدﷺ او احمدﷺ ذاتی نومونه دی او باقی ټول د دوئ صفاتی نومونه دی." (١٦٢)

د سید المرسلین صلی الله علیه وسلم پیدائش عام الفیل نه پنځوس ورځے پس په دولسم ربیع الاول ۵۷۱ء د ګل په ورځ د سحر په وخت عمل کښے راغے." (١٦٣)

ددغې شګې زمکې په مرکزی ښار مکه کښې پیغمبر اسلام حضرت محمدﷺ بن عبدالله پیدا

شو. د حضورﷺ پلار عبدالله بن عبدالمطلب د خوږ نبیﷺ د پیدائش نه څو میاشتې مخکښې وفات شو. کله چې حضورﷺ د شپږو کالو شو نو مور بی بی ئې هم وفات شوه اُوس د هغویﷺ پالنه د هغوئ نیکه عبدالمطلب بن هاشم پخپله ذمه واخسته. ولې دوه کاله پس هغه هم خدائے پاک واخستو. بیا د خوږ نبیﷺ تربیت او ساتنه د هغوئ د ترهٔ ابوطالب بن عبدالمطلب په حصه کښې راغله. خو د هجرت نه درے کاله وړاندې د مرګ فرشتو دغه کلکه سهارا د خوږ نبیﷺ نه اُوشوکوله. او دغه د خوږ نبیﷺ د ژوند ډیره مشکله او ګرانه دوره وه." (۱٦۴)

"حضرت خدیجهؓ د مکې یوه مالداره کونډه بی بی وه. کله چې هغې ته د حضورﷺ د شرافت، دیانت او امانتدارۍ حال معلوم شو. نو هغې خوږ نبیﷺ ته د خپل مال شام ته د تجارت په غرض د وړلو درخواست اوکړو. دغه درخواست خوږ نبیﷺ اُومنو. او ډیره نفع ئې اُوکړه.

د حضرت خدیجې غلام میسره هم په دغه سفر کښې د خوږ نبیﷺ سره ملګرے وو. په واپسۍ کښې چې هغه د نبیﷺ د اخلاقو، شرافت، حکمت او هو ربښتیا واقعات حضرت خدیجېؓ ته بیان کړل. نو په هغې ئې ډیر زیات اثر اوکړو. ځکه نو هغې حضورﷺ ته د واده کولو درخواست اوکړو. حضورﷺ دغه درخواست قبول کړو او د دواړو واده اوشو. دغه وخت د حضورﷺ عمر پنځویشت کاله او د حضرت خدیجېؓ عمر څلویښت کاله وو." (۱٦۵)

"کله چې د حضورﷺ عمر مبارک څلویښت کاله شو. نو په ۱۲ فروری ٦۱۰ء باندې حضرت جبرائیل راغے او حضورﷺ ته ئې اووئیل چې اُولوله. هغویؑ جواب ورکړو چې زهٔ نالوستے یم. جبرائیلؑ حضورﷺ درے ځله د خپلې سینې سره راجُخت کړو او بیا ئې ورته اووئیل چې اوس اولوله. بسم الله الرحمٰن الرحیم. حضورﷺ اولوستل. دغه وخت سورة العلق نازل شو. او دا وړومبی وحی او د نبوت اغاز وو.(۱٦٦)

"د اسلام د تبلیغ او د خدائے د وحدانیت د بیان ابتداء حضورﷺ اوکړه. هر څوک ئې دُښمنان شول. څه که هم ډیرو لږو کسانو اسلام قبول کړو. ولې حضورﷺ د مشکلاتو او تکلیفونو باوجود خپل کار ته دوام ورکړو.

چې اُونه شوه۔ نو د مکې مشرکانو سره خپل کښې جرګه اُوکړه او تيره ئې کيښوده۔ چې د بنو هاشم د خاندان سره به هيڅ څوک تعلق نه ساتي۔ د هغوئ سره ورکړه راکړه نشي کولې۔ هغوئ ته به د خوراک نۀ څه ورکوئ او نه به ترې اخلئ۔ تر هغې پورې چې بنو هاشم مونږ ته محمدﷺ د وژلو د پاره نه وې راکړے۔ دغه ډير سخت وخت وو۔ ابوطالب سره د خپل خاندان شعب ابی طالب ته لاړل۔ اؤ درے کاله ئې دغلته ډير په ګرانه تير کړل۔

دې نه پس حضورﷺ طائف ته د تبليغ د پاره لاړ۔ ولې د طائف خلقو د حضورﷺ سره ډير بدسلوک اوکړو۔ هغوىﷺ ئې دومره زخمی کړل۔ چې پښې مبارکې ئې د وينو نه ډکې شوې۔

د هجرت نه يو کال وړاندې د "معراج" واقعه مخې ته راغله۔ د سوره بنی اسرائيل په وړومبی ايت کښې الله تعالیٰ فرمائی۔ "پاک دے هغه (الله) چا چې خپل بنده په يوه شپه کښې د مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ ته اورسؤو۔ برکت ئې ورته ورکړو۔ چې خپل بنده ته خپلې نخښې اُوښائی۔"

نبیﷺ آسمانونو ته لاړل۔ هلته پرې الله تعالیٰ پنځه مونځونه فرض کړل۔ ابوجهل حضرت ابوبکرؓ ته په طنزيه انداز کښې اووئيل۔ ابوبکرؓ ته خبر شوے؟ ستا دوست څه وائی چې ما د اسمانونو سيل اوکړو او د خپل رب سره مې ملاقات اوکړو؟ ابوبکرؓ چې ددے لوئے کافر نه دا خبره واوريده نو وے وئيل چې که دا خبره حضورﷺ کړې وی۔ نو په دے زما ايمان دے۔ چې دا ريشتيا دی او صحيح دی۔" (١٦٧)

د معراج د واقعې نه يو کال پس "قريشو چې د پاک حضرتﷺ د قتل اراده اوکړه۔ نو الله تعالیٰ جبرائيلؑ را اوليږلو او ورته ئې اووې۔ "نن شپه په خپله بستره مه اوده کيږئ"۔ او د کافرانو د ارادې نه ئې هم خبر کړو۔ او د هجرت اجازت ئې ورله هم راوړو.... حضرت ابوبکر صديقؓ د څلورو مياشتو نه دوه اُوښې د کيکرو په څوکو ښې څرښې کړې ساتلې وې۔ او هم ددې غرض د پاره چې د پاک حضرتﷺ ملګرتيا به کووم۔ او دا وخت وو۔ چې پاک حضرتﷺ ته ئې عرض اوکړو۔ زما پلار درنه قربان شه۔ په دې دوو اوښو کښې يوه ځان له خوښه کړئ۔ حضورﷺ اوفرمائيل "په قيمت به ئې اخلم"۔ او هم دغه شان اوشوه۔ ځکه چې پاک حضرتﷺ په جان و مال دواړو سره هجرت کول غوښتل۔" (١٦٨)

"چې شپه پخه شوه۔ نو کافرانو د خوږ نبیﷺ د کور نه ګيره واچوله۔ چونکې خوږ نبیﷺ ته د

وحی په ذریعه د وړاندې نه اګاهي وه. څکه نو خوږ نبیﷺ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل چې ماته د هجرت حُکم راکړے شوے دے. او تهٔ زما په بستره کښې څمله. سحر ټول امانتونه خپلو خپلو کسانو ته اُوسپاره. او بیا مدینې ته راځه. تا ته کفار هیڅ قسم نقصان نهٔ شی در رسولے." (۱٦۹)

"خوږ نبیﷺ د ثور د غونډۍ پورې یوه ګنټه د حضرت ابوبکرؓ سره لاره پیاده اُووهله. د روانیدو په وخت ئې حضرت علیؓ ته دا هم وئیلې وو. چې د حالاتو نه ما برابر خبر وه. تیاره خوریدله. چې خوږ نبیﷺ د حضرت ابوبکرؓ په ملګرتیا کښې د غونډۍ سر ته اُورسیدل. دغلته هغوئ په یو غار کښې پناه واخسته.

سحر چې نمر خپلې وړانګې خورې کړې. د مکې کافر د هغوئ په لټون کښې ددغې غار پورې را اُورسیدل. د حضرت ابوبکرؓ سره فکر پیدا شو. خو خوږ نبیﷺ ډیر په اطمینان وو. حضرت ابوبکرؓ ته ئې او فرمائیل. "فکر مه کوه. الله زمونږ سره دے."

د غار په خوله کښې د بوټو یو جاخ وو. دغې جاخ کښې جولاګۍ کور جوړ کړے وو. یوه کوتره راغله اګۍ ئې پکښې واچولې. کافر چې کله د غار خولې ته را اُورسیدل. نو د غار جائزه ئې واخسته. د څنو کسانو رائې وه. چې غار ته دننه لاړ شی. او اوګوری چې څوک پکښې شته دے کنه. نورو کسانو تجویز ورکړو. چې په دې هسې وخت مه ضائع کوئ. ګورئ نه چې د غار په خوله کښې جاخ دے. د غنې جال دے. او پکښې د کوترې اګۍ دی. که چرې څوک دننه لاړ وې. نو دا هر څه به اُوس نه وو. هم په دغه تجویز عمل اوشو. او کافرو د غار تـلاشی وانهٔ خستله." (۱۷۰)

"د حضور خاتم النبینﷺ په معجزاتو کښې د شق القمر"معجزه د ټولو نه لویه او فیصله کړونې معجزه ده. په احادیث کښې راغلی دی. چې د مکې کافرانو د حضورﷺ نه غوښتنه اوکړه. چې د خپلې پیغمبرۍ د صداقت په لړ کښې مونږ ته څه معجزه اُوښایئ. په دغه آوان حضورﷺ هغوئ ته د شق القمر معجزه اُوښودله. اؤ سپوږمۍ دوه ټوټې شوه.

دا واقعه حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت انس بن مالک، حضرت جبیر بن مطعم، حضرت علی بن ابی طالب، حضرت عبدالله بن عمرو او حضرت حذیفه بن یمان او څنې

نورو رانقل کړي ده". (۱۷۱)

دې روایاتو کښې د تولو نه زیات مستند او صحیح روایت د حضرت عبدالله بن مسعودؓ روایت دے. کوم چې په بخاری، مسلم او ترمذی کښې مذکور دے. حضرت عبدالله بن مسعودؓ دغه وخت موجود وو. او هغه پخپله دغه معجزه پخپلو سترګو لیدلې وه. د هغهؓ بیان دے. چې

"د حضورﷺ په زمانه کښې سپوږمی دوه توته شوه. یوه توته ئې د غر د پاسه او دویمه توته ئې د غر نه لاندې په نظر راتله. حضورﷺ کفارو ته دغه منظر اُوښودو. او ورته ئې اوفرمائیل چې "ګواه اوسئ، ګواه اوسئ" (۱۷۲)

"محمدﷺ، احمد، ماحی، حاشر او عاقب د خوږ نبیﷺ ځانګړې نامې دی. او عبدالله، رحمة اللعالمین، خاتم النبین، امام الانبیاء، سید ولدآدم، شفیع المذنبین ئې هغه سپیځلی خطابات دی چې په قرآن پاک کښې ډیر ځلې ذکر شوی دی.

زمونږ خوږ نبیﷺ چې په کومو غزواتو کښې شریک شوے وو. د هغو شمیر اُوویشت دے." (۱۷۳)

د حضورﷺ وصال د درې شپیته کاله ځلور ورځو په عمر کښې اُوشو. د وصال تاریخ ئې ۱۲ ربیع الاول ۱۱ هـ دے. دې دُنیا کښې حضورﷺ د ولادت نه تر وفاته پورې ۲۲۳۳۰ ورځې او شپږ ګنټې قیام اوکړو. دغه ورځو کښې ۸۱۵۶ ورځې د تبلیغ رسالت وې." (۱۷۴)

"حضورﷺ ته حضرت فضل بن عباسؓ، حضرت علیؓ او حضرت اسامهؓ غسل ورکړو. په دغه وخت حضرت عباسؓ هم موجود وو. د حضرت عائشهؓ په کومه حجره کښې چې حضورﷺ وفات شوے وو. هم هلته ئې دفن کړو." (۱۷۵)

== ☆☆☆ ==

موسیٰؑ څخه هیڅ نه وو ورسره یوه عصا وه
قارون څخه دُنیا وه خود ئے ولیده افات (۱۷٦)

☆

موسیٰؑ ته ځرګند نه وو و عیسیٰؑ ته ښکاره نه شو
په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبرُ
موسیٰؑ په کوه طور د تجلے طاقت را نه وړ
تا ولیدهٔ د سر په سترګو خپل مولیٰ بهترُ (۱۷۷)

☆

په غه اور چه عشق ئے نوم دے
که براهیمؑ کله کلیمؑ یم (۱۷۸)

☆

قارون لاړ تخت الثریٰ لره لا درومی
موسیٰؑ پاس په علین کښیښ قدم (۱۷۹)

☆

د موسیٰؑ د عیسیٰؑ کله دا صفت وه
د لولاک نعمت په دهٔ بانډِ مختص دے (۱۸۰)

☆

د موسیٰؑ یدبیضا شوې
د عیسیٰ دم احیا شوې (۱۸۱)

☆

چه عاشقانو د حق دیدار لیدهٔ
موسیٰؑ په ونه منصور په دار لیدهٔ
جلوه ئے وکړه په بایزید کښې
د تیرے تورے په مخ عطار لیدهٔ (۱۸۲)

☆

که هر څو پوه ئے خوشحاله راشه
خضرؑ پیدا کړه پسے موسیؑ شه
سخ د هغه دے چه بنه پیشوا لری
غم به دِ نه وی خبر په دا شه (۱۸۳)

☆

څو ئے همت دے هومره قوت لری
هر مروت لری هر فتوت لری
خلیلؑ اسا دے لکه موسیٰؑ دے
ابدال په اُور په اُوبه نصرت لری (۱۸۴)

☆

د فرعون د جادو ماران باطل وو
د موسیؑ د معجزے د مار د وړاندِ
عاقبت به فضیحت او شرمنده شی
دروغژن چه له رښتینو حجت کاندِ (۱۸۵)

☆

د موسیٰؑ په معجزه به څه گروهیږی
د فرعون چه د هامان غونډ وزیر دے (۱۸۶)

☆

که رویت ئے نا ممکن وے په دُنیا کښے
د ارنی ویل به نۀ وو په موسیٰؑ کښے
چه موسیٰؑ وته ځواب لن ترانی وه
څه عجب جلوه لیدله شی په دا کښے (۱۸۷)

☆

شط د رود نیل که د موسیٰؑ په حُکم وشو
شق د قمر وشو په فرمان د محمدﷺ
خوان خوږ د موسیٰؑ من و سلویٰ یو لک وګړی
انس و جن مړیږی تل په خوان د محمدﷺ (۱۸۸)

☆

موسیٰؑ و کوه طور وته له قومه تلۀ په شپه کړل
هم لوطؑ په شپه جُدا شوله بیداد اوله ستمُ (۱۸۹)

☆

دم واهۀ نشی دا چه خدائی کړ
څوک فرعونی کړے څوک موسائی کړ
چه دواړه توکه د یو رنګ پیدا نۀ کړل
کبریائي کړے که دانائي کړ (۱۹۰)

☆

7508

چې ادب ؤ په موسیٰؑ کے
نام يې تل دی په دُنيا کے (۱۹۱)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت موسیٰؑ د ژوند سره تړلی واقعاتو او معجزاتو ته اشارې کړې دی. دې نه علاوه ئې د حضرت موسیٰؑ نامه د حضورﷺ، حضرت ابراهیمؑ حضرت لوطؑ، حضرت خضرؑ، حضرت عیسیٰؑ، قارون، فرعون، هامان، منصور، بایزید او عطار د نومونه سره د مختلفو پیښنو په تناظر کښې راوړی دی.

## حضرت موسیٰؑ:

موسیٰؑ بن عمران د اسرائیلي لړۍ دیو ډیر زیات مشهور او جلیل القدر پیغمبر نوم دے. د توریت ترمخه د هغوئ عمر ۱۲۰ کاله وو. (۱۹۲)

"د مؤرخینو د اندازې مطابق د هغوئ د ژوند زمانه د قبل مسیح پنځلسمه یا شپاړسمه پیړۍ وه.د ولادت کال ئې غالباً ۱۵۲۰ ق م او وفات کال ئې ۱۴۰۰ ق م یادولې شی. (۱۹۳)

د حضرت موسیٰؑ نسبی سلسله په څو واسطو حضرت یعقوبؑ ته رسی. د هغوئ د پلار نوم عمران او د مور بی بی نوم ئې یوکابد وو. د پلار د نسب سلسله ئې څه دا رنګ ده.

"عمران بن قامت بن لاوی بن یعقوب بن اسحٰق بن ابراهیمؑ"

حضرت هارونؑ د حضرت موسیٰؑ حقیقی او مشر ورور وو. (۱۹۴)

د هغه عزتمند نوم قران کریم کښې یو سل اته ویشت ځلے راغلے دے." (۱۹۵)

"د عمران په کور کښې د حضرت موسیٰؑ ولادت په داسې وخت کښې اوشو. چې فرعون د بنی اسرائیلي هلکانو د قتلولو حکم کړے وو. هم دا وجه وه چې د موسیٰؑ مور او نوره کورمه د هغه د ولادت په وخته ډیر پریشانه وو. چې هغوئ څرنګې موسیٰؑ د قاتلانو د نظر نه په ډډه کړی. په هر طور درې میاشتې هم دغه شان تیرې شوې. چې چا ته هم د هغه دپیدا کیدو په حقله څه پته اُونه لګیده. خو د جاسوسانو د لغم او نازکو

حالتو له کبله دا راز تر ډیرې مودې پورې پټ پاتې کیدے نهٔ شو. ځکه نو د هغه مور ډیره زیاته پریشان وه.

اخر دا چې په دغه کړکیچنتو حالاتو کښې خدائے پاک مدد اُوکړو. او د موسیٰؑ د مور په زړه کښې ئې واچول. چې یو سربند صندوق جوړ کړه. داسې چه اُوبه ورته نهٔ ننوځې. بیا پکښې خپل بچے کیږده او په رود نیل کښې ئې پریږده." (۱۹٦)

"د موسیٰؑ مور هم دغسې اُوکړل. صندوق د فرعون کور ته اورسید. او دا رنګ د فرعون د بی بی په غوښتنه موسیٰؑ دغلته پاتې کړے شو. تربیه شو. د خپلې مور په پیو لوئے شو. د یو قبطی د غیر ارادی قتل په وجه د مصر نه مدین ته اُورسید. د حضرت شعیبؑ زوم جوړ شو. په واپسی کښې ورته پیغمبری او معجزې ورکړې شوې. فرعون ته ئې دعوت ورکړو. د هغه د جادوګرو منصوبې ئې ناکامه کړې. او آخر چې فرعون ئې په نیل سره د هغه د حوارینو غرق کړو." (۱۹۷)

== ☆☆☆ ==

که څوک دا وینا وتاته کا معلومه
چې د نوحؑ د طوفان ماء راغے له کومه
ورته وایه نهٔ د ارض نهٔ د سما وے
هغه ماء د نوح له اوښکو وے مخدومه (۱۹۸)

☆

د نوحؑ نجات له تاوه د طوفان له امواجونو !!
ګلزار په خلیلؑ اور شو ستاله رو په اے سرورؐ (۱۹۹)

☆

وزیرې له نوحؑ د طوفان په موج فنا شي
زوئے د آذر و مومی له ناره نه نجات (۲۰۰)

☆

نوحؑ په صبر له توپانه
سلامت پاتوشه جانه (۲۰۱)
نوحؑ چې ته یې شوې له ځانه
ځکه خلاص شو له طوفانه (۲۰۲)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت نوحؑ یادونه کړې ده. په څلور وارو شعرونو کښې د طوفان نوحؑ مضمون رانغښتے شوے دے. ددغې طوفان په حواله ئې د حضرت نوحؑ د زوئے کنعان ذکر هم کړے دے. چې د پیغمبر زوئے وو. خو کافر وو. ځکه هلاک شو. او ددې سره سمه ئې جوخت د حضرت ابراهیمؑ تذکره هم کړې ده. چې هغهؑ د یو بُت تراش کره زیږیدلے وو. خو هغه د الله خلیل وو. دغه رنګ دې اخري شعر کښې خوشحال بابا د حضورﷺ شان بیانوی چې حضرت نوحؑ او حضرت ابراهیمؑ دواړو ته د اُوبو او اُور نه نجات زمونږ د خوږ نبیﷺ له رویه ورکړے شوے دے.

## حضرت نوحؑ:

نوحؑ د حضرت آدمؑ نه پس څلورم نبی دے او دویم رسول دے. د هغه نسب سلسله دا ده. نوح بن لامک بن متو شالح بن اخنوخ (ادریس) بن یارد بن مهلیل بن قینان بن انوش بن شیث بن آدم ابوالبشرؑ. (۲۰۳)

"د حضرت نوحؑ اصلی نوم شاکر وو. او په ځنو روایاتو کښې د هغه نامه سکن او عبدالغفار راغلے دے." (۲۰۴)

یو بل روایت دا دے چې:

"د حضرت نوح علیه السلام نوم شکر وو. د هغے نه بعد نوح شو. دا په دے واسطه چه دهٔ به په خپل قوم باند نوحه ډیره کوله." (۲۰۵)

نوح علیه السلام د حضرت آدم علیه السلام په اتم پشت کښې وو. د ابن عباس د روایت تر مخه د آدم علیه السلام او نوح علیه السلام په مینځ کښې لس قرن تیر شوی دی." (۲۰۶)

ابن جریر رانقل کړی دی. چې د نوح علیه السلام ولادت د حضرت آدم علیه السلام د وفات نه اته سوه شپږ ویشت کاله پس شوے دے. د قرآن له رویه د هغوئ عمر نهه نیم سوه کاله وو. په یو حدیث کښې راغلی دی. چې د حضرت آدم علیه السلام عمر څلویښت کم زر کاله وو. په دغه حساب د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش او د نوح علیه السلام تر وفات پورې ټول ټال دوه زره اته سوه او شپږ پنځوس کاله جوړیږی." (۲۰۷)

"حضرت نوح علیه السلام وړومبے نبی دے. چې الله پاک ورله د حضرت آدم علیه السلام نه پس رسالت ورکړے دے. د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. چې "اے نوحؑ ته مونږ په مخ د زمکې وړومبے رسول اوګرځولے." (۲۰۸)

د حضرت نوحؑ ذکرپه قرآن کریم کښې اجمالاً او تفصیلاً درے څلویښت ځله راغلے دے. چې پکښې نوحؑ ته د دعوت په سلسله کښې مخې ته راغلي واقعات بیان کړې شوی دی د مثال په توګه د نوحؑ وعظ و نصیحت او د قوم نه یوازې انکار بلکې د نوحؑ وهل په وینو رنګول بې هوشه کول. د نهه نیم سوه کاله تبلیغ نه پس د هغه مایوسه کیدل. د کشتۍ تیارول، دنوحؑ بښیرې کول، طوفان نوح راتلل، د نوحؑ د ښځې او زوئ کنعان غرقیدل. او نوحؑ سره د خپلو ملګرو بچ کیدل.

== ☆☆☆ ==

ځنې خبرے په تکلف کیږی
ځنې خبرے په تأسف کیږی
ځنې خبرے په بله ژبه!!
لکه یعقوبؑ ته قال د یوسف کیږی۔ (۲۰۹)

☆

صبی که هر څو مرسل نبی وی
د پلار د مینے بیا اجنبی وی
یعقوبؑ چه ړوند شو یوسفؑ هیڅ نه شو
په غم کښے ستر وی نه چه صبی وی۔ (۲۱۰)

☆

د یوسفؑ د مینے لاف واړه عالم کا
ولے بل پسے ړوند نه شو بے یعقوبؑ (۲۱۱)

☆

په بنائست باندِ ئے ختم دا وینا ده
چه په اصل د یعقوبؑ قوم و تبار دی (۲۱۲)

دغه بره دوه رباعیو او ورسره فرد شعر کښې د حضرت یعقوبؑ ذکر د حضرت یوسفؑ په واقعاتو کښې تلمیحاً راغلے دے۔ څلورم شعر کښې د حضرت یعقوبؑ تذکره د پښتنو د بنائست په حواله راغلې ده۔ چې دا د حضرت یعقوبؑ د نسله دی۔ ځکه ئې بنائست ته نور قامونه نۀ رسی۔

## حضرت یعقوبؑ:

اسحاقؑ بن ابراهیمؑ د خپلې ترلې سره نکاح اُوکړه۔ ددغې بی بی نه دوه غبرګونی زامن یعقوب او عیض

پیدا شول. د یعقوب لقب "اسرائیل" دے. او په اتفاق سره د حضرت یعقوبؑ شمار په برگزیده پیغمبرانو کښې کیږی. یعقوبؑ پوره پنځوس کاله د دعوت وظیفه تر سره کړه. کله چې د هغهؑ عمر لس اتیا کاله شو. نو د یوسفؑ د جدائی پیښنه ورته مخې ته راغله. او د څلویښت کالو د جدائی نه پس ئې د حضرت یوسفؑ په وصال سترگې یخې کړې. ددې نه پس د یو روایت تر مخه ئې دیوسفؑ سره اُوولس او بل روایت له رویه ئې څلیریشت کاله تیر کړل. چې وفات شو.نو حضرت یوسفؑ د خپل پلار جسد خاکی په تابوت کښې قدس خلیل ته راوړو. او اتفاقی هم دغه وخت د یعقوبؑ د وررور عیض جنازه هم دغلته راوړې شوه. د دواړو جنازه په شریکه ادا کړې شوه. او په یو قبر کښې کیښودې شوه. عمر ئې یو سل اووه څلویښت کالو ته رسی. (۲۱۳)

"د حضرت یعقوبؑ ذکر په قرآن کښې څوارلس ځله راغلے دے." (۲۱۴)

د حضرت یعقوبؑ زمانه اندازة د ۲۰۰۰ نه ۱۸۵۳ ق م پورے ده. (۲۱۵)

د لابان د دووولونړو نه علاوه د لیئه د وینزے زلفانه او د راحیل د وینزے یلها نه هم د هغه اولاد اوشو. د هغے تفصیل دا دے.

د لیۀ نه: (۱) رادبین (۲) شمعون (۳) لاوی (۴) یهودا (۵) یساکر (۶) زبوون

د راحیل نه: (۷) یوسف (۸) بن یامین

د یلها نه (۹) دان (۱۰) نفتال

د زلفانه (۱۱) جاد (۱۲) اشیر

دا ټول اولاد د حضرت یعقوبؑ د بن یامین نه علاوه په فدان آرام کښې پیدا شو." (۲۱٦)

== ☆☆☆ ==

که جمال ئے و یوسفؑ نه وے ورکړے
چا به غم په زلیخا باندِ کښیښ (۲۱۷)

☆

اول مینه د یوسف په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلیٰ وه (۲۱۸)

☆

په جهان کښې مینه هم وه
د یوسفؑ د زلیخا (۲۱۹)

☆

د یوسفؑ د مینے لاف واړه عالم کا
ولے بل پسے ړوند نۀ شو بے یعقوبؑ (۲۲۰)

☆

د یوسفؑ غونډِ مخ پټ کړه په برقع کښے
چیرے نۀ وی چه پر ولګی نظر (۲۲۱)

☆

که یوسفؑ ئے د کنعان د چاه وکیښو
په نیک بخت ستوری زوولے وه بشیر (۲۲۲)

☆

څوک چه نظر و کا هغه ښه ښکلی دلبر ته
ځی له ډیرے مینے د یوسفؑ سوره کا زبرَ (۲۲۳)

☆

چه جمال وته ډِ گورم حیرانیږم
خدائے په ما باندِ یوسفؑ د زمانے کړِ (۲۲۴)

☆

که هر څو ښائسته ئے نه یوسف ئے د کنعان
که هر څو ډیر هوښیار ئے نه مخے ئے د لقمان (۲۲۵)

☆

په لکونو په کروړونو ډِ بها ده
د یوسفؑ غونډِ په سهل فروخته شو (۲۲۶)

☆

زمانه په خلقو هسے ازمیښت کا
چه یوسفؑ د قبطیانو زرخرید شهٔ (۲۲۷)
مخ ئے کله د یوسفؑ غوند زیبا دے
د یوسفؑ تر مخ ئے زیاته زیبائی ده (۲۲۸)

☆

واړه هغه حُسن لطافت دے ستا په مخ کښے
چا چه د یوسفؑ قصه و ماته ولوسته (۲۲۹)

☆

خدائے په ښه جمال یوسفؑ کړے
په کروړونو هم ارزان ئے (۲۳۰)

☆

ستا خوبی خما په پوهه ډیر تیرے کا
د یوسفؑ خوبی که ډیره اوریده شی (۲۳۱)

☆

هر گز به اوریدلی د لیدلو مخی نهٔ کړم
خوبی د یوسفؑ اورم ستا جمال مے دے لیدلے (۲۳۲)

☆

په ښائست د ښائسته یوسفؑ ثانی ئے
په دوه کونه ښهٔ دیدن دے رایگان ستا (۲۳۳)

☆

خپلو ورونړو یوسفؑ واچوه کوهی ته
مشرف شو دے په جاه او په جلال (۲۳۴)

☆

څو به نیکه ستایم یحییٰ خان جنت ئے ځاے شه
روغ لکه یوسفؑ وه درست تر سره تر قدمَ (۲۳۵)

☆

زهٔ لکه یوسفؑ له بنده خلاص شوم کامرانی کړم
پاک پاکیزه زر وم اور مے نه کړه بها کمَ (۲۳۶)

☆

په یوسفؑ بانډِ دا هومره غوغا نهٔ وه
خریدار ئے په لکونو یو خلمے دے (۲۳۷)

☆

د یوسفؑ غونډِ په خوب بنده عزیز کا
محمدﷺ وته د غنړے تار پناه شی (۲۳۸)

☆

یوسفؑ که هر څو ښه بنه نومیړی
بِه به ئے چیرے له تا عالم کا (۲۳۹)

☆

د بابا زویه! د بابا پـلارَ
په زلفو لیل په مخ نهارَ
یوسفؑ که هر څو بنائسته روغ وه
ګویا سمن وه ستاله ګلزارَ (۲۴۰)

☆

تر سر ترپایه کنبلی مخونَ
دا یو یوسفؑ وه د پـلار په خونَ
هر مخ چه ووینے زړه بِ پرخوبښ شی
مخ هم هغه کنړه کړه پرِ سخونَ (۲۴۱)

☆

شرم یوسفؑ دے ارزان ئے مه پلوره
غتبه پکار ده ورو ته مه ګوره
نرئ ونه په نری باد بښوری
که لویه ونه ئے په لړِ باد مه بښوره (۲۴۲)

☆

پاکي چه راشي په هغه کور کښې
بلا ئې وسيړي نوره په اور کښې
يوسفؑ چه پاک وه ښکه بادشاه شو
څه شو که بند وه ناحق په تور کښې (۲۴۳)

☆

ځو سکندره ځو يوسفؑ به درته ياد کا
که خبر واخلې له نمره له هلال نه
که لوئي د سکندر وه خو بيا هيڅ شوه
که قصه شي د يوسفؑ له ښه جمال نه (۲۴۴)

☆

ښه يوسفؑ که ښائسته ؤ
ستا له باغه ګلدسته ؤ (۲۴۵)

دا پورتني شعرونه خوشحال بابا د حضرت يوسف عليه السلام په حقله وئيلي دي. دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت يوسفؑ د ذات مبارک او ژوند سره تړلي حالات او واقعات ذکر کړي دي. چرته د تشبهاتو، استعاراتو په ښه او چرته ئې د اشاراتو او تلميحاتو په رنګ کښې په ډير مؤثره انداز کښې بيان کړي دي.

## حضرت يوسف عليه السلام:

حضرت يوسفؑ د حضرت يعقوبؑ زوے د حضرت اسحاقؑ نمسے او حضرت ابراهيمؑ کړوسے وو. د بائبل د بيان مطابق د حضرت يعقوبؑ د څلور بيبيانو نه دولس زامن وو. حضرت يوسفؑ او بن يمين د يوې مور نه باقي لس د نورو مياندو نه زيږيدلي وو.

که مونږ د بائبل د عالمانو څېړنه درست اُومنو. نو ددغې تر مخه د حضرت یوسفؑ پیدائش د ۱۹۰۶ق م خواو شاه شوے دے. او ۱۸۹۰ ق م ته نزدې هغه واقعات مخې ته راغلی دی. لکه د حضرت یوسفؑ خوب لیدل بیا کوهی ته اچول. دغه وخت د حضرت یوسفؑ عمر اُولس کاله وو. د مور نوم ئې راحیل بنت لابان دے. د حضرت یعقوبؑ ددهٔ سره ډېره زیاته مینه وه. بلکې عشق ئې ورسره کوو. هم دا وجه وه چې دهغه جدائی ئې نهٔ شوه زغملې.

د حضرت یوسفؑ نامه په قرآن کښې شپږ ویشت ځله راغلې ده. څلیریشت ځله په سوره یوسف کښې او یو یو ځل په سوره انعام او سوره غافر کښې ذکر شوې ده. یوسفؑ ته دا ویاړ هم حاصل دے. چې په قرآن کښې ئې د خپل مشر نیکه حضرت ابراهیمؑ په شان په نوم باندې سوره نازل شوے دے. دغه سوره د حضرت یوسفؑ د واقعاتو متعلق د عبرت او نصیحت نه ډک دے. چې پکښې د یوسفؑ د خوب، د هغه ورنو سازش، په هغه راغلې ازمائشونه، د کنعان کوهے، د غلامی دور، هغه او عزیز مصر، د عزیز مصر بی بی (زلیخا) او یوسفؑ، د شاهی خاندان ښځې او یوسفؑ، قید و بند، په قید و بند کښې تبلیغ د خوب تعبیر، د مصر بادشاه او یوسفؑ، بادشاهت او د یوسفؑ د ورونو قافله، د یوسفؑ حسن سلوک، د هغوئ معافی، د یعقوبؑ مصر ته راتګ او د یوسفؑ سره ملاقات، اخری وصیت، او د یوسفؑ د وفات ټول واقعات الله تعالیٰ ذکر کړي دی." (۲۴۶)

"یوسف د ژوند یوه اوږده موده په مصر کښې تیره کړه. او هر کله چې د هغه عمر لس دپاسه سل کاله شو. نو وفات شو. د وفات نه وړاندې یوسفؑ د خپلوانو نه قول اخستے وو. چې ما به په مصر کښې نه ښخوئ. بلکې کله چې د خدائے پاک دا وعده پوره شی چې بنی اسرائیل دوباره د خپل پلار نیکه خاوره (فلسطین) کښې اباد شی. نو زما هډوکی به هلته یوسئ. او دفن به ئې کړئ. هغوئ ورسره وعده اُوکړه. او کله چې حضرت یوسفؑ وفات شو. نو هغه ئې په تابوت کښې خوندی کړو. او کله چې د موسیٰؑ په زمانه کښې بنی اسرائیل د مصر نه تلل. نو دغه تابوت ئې د ځان سره یوړو. او هلته ئې خاورو ته اُوسپارو. د حموی د بیان تر مخه د یوسفؑ قبر په بلاطمه کښې دي.

چې د فلسطين د يوې علاقې نابلس يو کلے دے. دغه قبر د يوې ونې لاندې دے. (۲۴۷)

په تورات کښې دی چې يوسفؑ خپلو ورونو ته ووئيل چې زهٔ مرمه. او خدائے پاک به تاسو يقيناً هغې زمکې ته رسوی. د کومې په حقله چې خدائے پاک ابراهام، اسحٰق او يعقوب ته قسم خوړلے دے. او يوسفؑ د بنی اسرائيلو نه قسم واخستو او ورته ئې اووئيل. چې خدائے پاک به يقيناً تاسو يادوی. تاسو به زما هډوکی د ځان سره هلته ضرور وړئ.

حضرت يوسفؑ ته الله تعالیٰ د ښهٔ خوئ سره سره بې پناه حُسن هم پېرزو کړے وو. هغه د حُسن و جمال پيکر وو. د هغهٔ مخ به د نمر سپوږمۍ پشان ړقيدلو. د مصر د عزيز ښځه زليخا خپله هم ډيره زياته ښائسته وه. خو هغه د يوسفؑ په حسن ورکه مئينه وه. ددغه مئينتوب په وجه هغې د خلقو پيغورونه اوزغمل، رسوائی او الزامونه ئې برداشت کړل. سره ددې چې د حضرت يوسفؑ له اړخه هغې ته څه توجه حاصله نهٔ شوه. ولې بيا هم هغې د خپلې ليونی مينې لمن پرې نهٔ ښوده." (۲۴۸)

دغه شان يوسفؑ د يو سل لس کال په عمر کښې په زړ بوډۍ کښې وفات شو. هغوئ د يوسفؑ مړے د خوشبو نه ډک کړو. او په مصر کښې ئې په صندوق کښې کيښودو. (۲۴۹)

توريت کښې يو ځائے داسې هم راځی چې

"او موسیؑ د يوسفؑ هډوکی د ځان سره يوړه. ځکه چې هغه بنی اسرائيلو له قسم ورکړے وو. او پاسلنه ئې پرې ايښودې وه. چې خدائے پاک به ستاسو مرسته کوی. تاسو ددې ځائے نه زما هډوکی د ځان سره يوسئ. (۲۵۰)

== ☆☆☆ ==

## حکایت شو څنګے پاتے
## نۀ ماهئ شته نۀ یونسؑ (۲۵۱)

دې شعر کښې د حضرت یونس علیه السلام سره راپیښه شوې یوې مشهورې واقعې ته اشاره کړې شوې ده. خوشحال بابا چې د ګرفتارۍ او قیدو بند نه پس د رنتهبور د کومی نه را اُووتو. نو په دغه مناسبت سره ئې په یوې قطعې کښې دغه پورته شعر د تلمیح په توګه راوړے دے. او د مغلو د قیده خپله آزادی داسې ګڼی. لکه څنګه چې حضرت یونسؑ د مهې له خیټې نه نجات بیاموندے وو.

### حضرت یونسؑ:

د حضرت یونسؑ د پلار نوم متیٰ دے. د بعضو خلقو په نزد متیٰ د حضرت یونسؑ د مور نوم دے. خو د بخاری روایت د هغې مرسته نه کوی. د بخاری په یو روایت کښے د حضرت عبدالله ابن عباسؓ نه په وضاحت سره ذکر دی چه متیٰ ئے د پلار نوم دے. اهل کتاب وائی چه د یونسؑ نوم "یونان" او د هغه د پلار نوم امتی دے. (۲۵۲)

تفسیر ابن کثیر کښې راځی. چې یونسؑ خدائے پاک د موصل علاقې نینویٰ د پاره رالیږلے وو. چې دغه خلقو ته د ایمان او عمل صالح دعوت ورکړی. خو هغوئ سر کشی اختیار کړه. یونسؑ دغه علاقه پریښوده او خلقو ته ئې اووئیل چې عذاب به درې ورځو کښې راځی. چې خلق ددې واقعې نه خبر شول. نو فکر ورسره شو. چې د عذاب راتلل یقینی دی. څکه نو توبه ګار شول. خدائے پاک د هغوئ توبه قبوله کړه. او عذاب رانغلو. دلته یونسؑ په انتظار وو. چې عذاب به راغلے وی. او خلق به برباد شوی وی. ولې کله چې هغه د عذاب نۀ راتلو نه خبر شو او د قوم د سلامتی پته ورته اولګیده.نو فکر واخستو چې اوس به قوم هغه دروغژن کړی. (د څنو روایاتو نه ثابته ده چې ددغه قوم یو رسم دا هم وو. چې څوک به دروغژن ثابت شو نو د مرګ سزا به ئې ورکوله). څکه نو یونسؑ خپل قوم ته د بیرته تللو په ځائے بل ځائے ته د هجرت کولو اراده اوکړه. په لاره کښې سین وو. په سین د پورې وتو دپاره کشتۍ ته سور شو. اتفاقی کشتی په ول کښې اُونښته.

او د غرقیدلو خطره ئې پیښه شوه. د کشتۍ ماڼکیانو فیصله اوکړه. چې د سورلو نه به یو کس سین ته اوغورځوؤ. داسې به نورې سورلۍ بچ شی. دے غرض د پاره ئې خسنړ اُوکړو. چې د یونسؑ په نوم را اُوښت. (کشتۍ والا غالباً د حضرتِ یونسؑ د بزرګۍ نه واقف وو) ځکه نو سین ته د اچولو نه ئې انکار اُوکړو بیا ئې خسنړ اُوکړو. او بیا هم د حضرت یونسؑ په نامه را اُوښت. هغوئ بیا داسې کولو ته تیار نۀ وو. دریم ځل بیا خسنړ د حضرت یونسؑ په نامه را اوښت. حضرت یونسؑ خپلې غیر ضروری جامې اُوویستې او خپله ئې سین ته اُودانګل. بل خوا خدائے پاک د بحر اخضر یو مهی ته حکم اوکړو هغه په ډیر تیزۍ سره ځان ور اُورسوؤ. او یونسؑ ئې تیر کړو خدائے پاک مهی ته هدایت اوکړو. چې د یونسؑ غوښې او هډوکی ته نقصان اُونه رسے. ځکه چې دا ستا خوراک نه دے. بلکې ستا خیټه د څور ورځو د پاره ددۀ قید خانه ده. (۲۵۳)

فَلَوْ لَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ۝ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝ فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ۝ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ۝ (۲۵۴)

ترجمه: که چرته هغه (یونسؑ) د الله پاکې نه بیانوله. نو تر قیامته به د مهی په خیټه کښې پروت وو. بیا مونږ هغه د مهی د خیټې نه را اُویستو. او په یو کړاک میدان کښې مو اوغورځوو. هغه بې حاله او بې مجاله وو. مونږه په هغه د یو خوریدونکې ونې سیورے اوکړو."

"کله چې یونسؑ د مهی د خیټې نه بهر شو. نو ډیر کمزورے شوے وو. تر جوړیدو پورې هم ددغې ونی لاندې په چوپړۍ کښې اُوسیدو. څه وخت پس د الله حکم وو. په دغه بوټی چنجے اولګیدو او وچ شو. یونسؑ ډیر زیات خفه شو. الله تعالیٰ ورته اوفرمائیل.

"یونسؑ! تا ته د بوتی په وچیدو باندې ډېر خفګان اُورسیدو. کوم چې یو ډېر معمولي څیز دے. ولې د نینویٰ د یو لک نه زیاته ابادی چې پکښې انسانان اور نور زنده سرې اُوسیږي. که چرته ما دغه هلاک کړی وو.نو آیا مونږ ته به دغه ناخوښه نه لګیده؟. ایا مونږه د هغوئ د پاره ډیر مهربانه نهٔ یو؟ څومره چې ستا ددې بوتی سره مینه ده. تا د وحیٔ د انتظار کولو نه بغیر قوم ته ښیری اوکړې او د هغوئ له مینځه اُووتې. دا د یو نبی د شان مناسب نه دی". (۲۵۵)

ددې نه پس یونسؑ خپل قوم ته راغے. او د دعوت او عمل صالح پیغمبرانه کار ئې تر وفاته پورې جاری اوساتلو. د حضرت یونسؑ وفات نینویٰ ښار کښې اوشو. او هم د نینویٰ زمکے ته د هغه د قبر عزت حاصل دے. بعضې حضرات وائی چه د فلسطین د خلیل په ښار کښې د حلول په مقام باندے د هغه قبر دے. شاه عبدالقادرؒ فرمائی چه د یونسؑ وفات هغه ښار کښې اوشو چه کوم طرف ته هغه واستولے شو. یعنی نینویٰ کښې د هغه قبر دے." (۲۵٦)

== ☆☆☆ ==

# حواله جات


۱- ختک، خوشحال خان: کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)۔ خورونکی: اداره اشاعت صوبه سرحد ۔مطبع: منظور عام پریس پېښور۔ سن اشاعت: دسمبر ۱۹٦۰ء۔ ۳۹ مخ

۲- همدغه کتاب ۔ ۹٦ مخ

۳- همدغه کتاب ۔ ۵٦٦ مخ

۴- همدغه کتاب ۔ ۱۴۳ مخ

۵- همدغه کتاب ۔ ۹۰۹ مخ

٦- همدغه کتاب ۔ ۹۴۵ مخ

۷- ختک، خوشحال خان: اخلاق نامه۔ مرتبه: حبیب الله رفیع، خپرونکی: د افغانستان د کلتوری خدمتونو اداره: د چاپ ځائي: ملت پریس لاهور، د چاپ کال ۲۰۰۱۔ ۹ مخ

۸- آیاز مقصود ۔ شخصیات کا انسائیکلو پیڈیا ۔ شعاع ادب ۔ چوک انارکلی مسلم مسجد لاهور نمبر۸ سال اشاعت ۱۹۸۷ء ۔ ۳۳ مخ

۹- سجاد میرٹھی قاضی زین العابدین۔ قصص القرآن ۔ مترجم ۔ حافظ معز الله خان کشمیری ۔ ناشر مکتبه اکرمیه محله جنگی عقب قصه خوانی بازار پشاور۔
مطبع او د چاپ کال نه لری ۔ ۱۵ مخ

۱۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)۔ ۷۰۹ مخ

۱۱- همدغه کتاب ۔ ۴۵۷ مخ

۱۲- ختک، خوشحال خان: اخلاق نامه ۔ خپرونکي افغانی کلتوری ټولنه نیدر لینډ (هالینډ) ۔ د چاپ ځائے ۔ ملت پریس لاهور ۔ د چاپ کال ۲۰۰۱ ۔ ۹ مخ۔

۱۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند)۔ ۹٦ مخ

۱۴- همدغه کتاب ۔ ۷۱۱ مخ

۱۵- همدغه کتاب ۔ ۷۵۹ مخ

۱٦- همدغه کتاب ۔ ۱۸٦ مخ

۱۷- همدغه کتاب ۔ ۵٦۹ مخ

۱۸- خان، روشن خان: تذکره ۔ روشن خان ایجوکیشنل ټرسټ کراچی چاپ ځائے نه لری۔ د چاپ کال

دسمبر ۱۹۸۷ء - ۲۳ مخ

۱۹۔ همدغه کتاب - ۳۴ مخ

۲۰۔ کتاب پیدائش - باب ۱۱ ایت ۱۹ ، باب ۱۷ ایت ۱۷

۲۱۔ تذکره، (از خان روشن خان) - ۳۴، ۳۵ مخونه

۲۲۔ همدغه کتاب - ۳۵ مخ

۲۳۔ سعدی، بشیر احمد: دس پیغمبر - ناشر محمد حنیف رامے لاهور۔ مطبع مسعود پرنٹرز لاهور - سن اشاعت ۱۹٦۸ء د ۴۹ نه تر ۵٦ مخونو لنډیز۔

۲۴۔ قرآن - سورة انبیاء - ٦۳ آیت

۲۵۔ قرآن - سورة انبیاء - ٦۹ آیت

۲٦۔ قرآن - سورة صٰفٰت - ۱۰۲ آیت

۲۷۔ تذکره (از خان روشن خان) ۳۷ ، ۳۸ مخونه

۲۸۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند)۔ ۹٦ مخ

۲۹۔ همدغه کتاب - ۵۲۹ مخ

۳۰۔ همدغه کتاب - ۵۳٦ مخ

۳۱۔ اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) - ۹ مخ

۳۲۔ گنداپور، سردار شیر محمد خان: تاریخ پشتون - مترجم سراج احمد علوی۔ ناشر شیخ شوکت علی اینډ سنز کراچی۔ مطبع شوکت علی پرنټرز کراچی۔ سن اشاعت ۱۹۷۹ء۔ ۱۲۴ مخ۔

۳۳۔ اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) - ۳۸ مخ

۳۴۔ محمود نیازی: خزانه تلمیحات - ناشر ملک بُک ډپو لاهور - مطبع ندیم یونس پریس لاهور - د چاپ کال نه لری - ۲۵۰، ۲۵۱ مخونه۔

۳۵۔ ذکاء الله، الله کے نبی - ناشر ذکاء الله لاهور۔ مطبع جاوید ریاض پرنټرز لاهور - سن اشاعت جون ۲۰۰۳ء - ۱۱۴، ۱۱۵ مخونه۔

۳٦۔ همدغه کتاب - ۱۱۵ مخ

۳۷۔ همدغه کتاب - ۱۱٦ ، ۱۱۷ مخونه

۳۸۔ همدغه کتاب - ۱۱۹ مخ

۳۹۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند)۔ ۴۴۸ مخ

۴۰۔ همدغه کتاب - ۵٦۰ مخ

۴۱- همدغه کتاب - ۱۲۲ مخ
۴۲- همدغه کتاب - ۲۴۵ مخ
۴۳- همدغه کتاب - ۹ مخ
۴۴- همدغه کتاب - ۷۲ مخ
۴۵- همدغه کتاب - ۳۰۲ مخ
۴٦- همدغه کتاب - ۳۳۸ مخ
۴۷- همدغه کتاب - ۷٦۸ مخ
۴۸- همدغه کتاب - ۷۱۸ مخ
۴۹- همدغه کتاب - ۷۰۴ مخ
۵۰- همدغه کتاب - ۲۱٦ مخ
۵۱- همدغه کتاب - ٦۵٦ مخ
۵۲- همدغه کتاب - ۸۲ مخ
۵۳- همدغه کتاب - ۱۴۷ مخ
۵۴- همدغه کتاب - ۳۱٦ مخ
۵۵- همدغه کتاب - ٦٦۹ مخ
۵٦- همدغه کتاب - ۷۲۳ مخ
۵۷- قصص القرآن - (از قاضی سجاد زین العابدین میرتهی) - ۳۸۲ مخ
۵۸- سیوهاروی، مولانا محمد حفظ الرحمٰن: قصص القرآن - ناشر مکتبه رحمانیه - غزنی سټریټ اُردو بازار لاهور - مطبع رضا پرنټرز لاهور - د چاپ کال نه لری. جلد ۱ - ۴۳۷ مخ
۵۹- عابد، سید عابد علی: تلمیحات اقبال - ناشر اظهار سنز لاهور مطبع مکتبه جدید پریس لاهور - طبع دوم دسمبر ۱۹۸۵ء - ۲۹۲، ۲۹۳ مخونه
٦۰- خزانه تلمیحات - (از محمود نیازیؔ) - ۱۳٦ مخ
٦۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) - ۵۴۸ مخ
٦۲- فیروز سنز - اُردو انسائیکلو پیډیا - ناشر فیروز سنز لمیټډ لاهور - چاپ ځائے نه لری. سن اشاعت ۱۹٦۲ء - ۱۹۸ مخ
٦۳- نیاز احمد، شیخ: انوار انبیاء - ناشر شیخ نیاز احمد لاهور - مطبع علمی پرنټنګ پریس ۱۷ هسپتال روډ لاهور. سن اشاعت ۱۹۸۱ء - د ۳۱۳ نه ۳۱۹ پورې مخونه

۶۴- مهناج السراج، ابو عمر منهاج الدين: طبقات ناصری۔ مترجم: غلام رسول مہرؔ۔ ناشر: اُردو سائنس بورڈ لاهور۔ مطبع: ظفر سنز پرنٹرز لاهور۔ سن اشاعت ۱۹۸۵ء ـ ۹۱ مخ

۶۵- اکبر آبادی، مولانا ناصر علی خان صوفی: تذکرة الانبیاء ـ ناشر مکتبه تعمیر انسانیت لاهور ـ مطبع زاهد بشیر پرنٹرز لاهور ـ د چاپ کال نه لری ـ ۳۲۸ مخ

۶۶- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۲۳۱ مخ

۶۷- همدغه کتاب ـ ۴۵۶ مخ

۶۸- همدغه کتاب ـ ۴۹۹ مخ

۶۹- همدغه کتاب ـ ۶۲۴ مخ

۷۰- همدغه کتاب ـ ۴۱۴ مخ

۷۱- همدغه کتاب ـ ۵۲ مخ

۷۲- همدغه کتاب ـ ۶۰۱ مخ

۷۳- همدغه کتاب ـ ۸۴۳ مخ

۷۴- همدغه کتاب ـ ۶۰۶ مخ

۷۵- سیوهاروی، مولانا محمد حفظ الرحمان: قصص الانبیاء ـ ناشر: صوفی فاؤنډیشن لاهور۔ مطبع: زاهد بشیر پرنټنګ پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۸۴ء۔ ج ۱ ـ ۴۱۰ مخ

۷۶- محمد شفیع، مفتی: معارف القرآن ـ ناشر: اداره المعارف کراچی۔ مطبع: امیج پرنټرز کراچی ـ سال اشاعت: فروری ۱۹۸۵ء ـ جلد ۷ ـ ۱۵۷ مخ

۷۷- قصص الانبیاء (مولانا حفظ الرحمان سیوهاروی) ـ جلد ۱ ـ ۴۱۲ مخ

۷۸- تاریخ پشتون ـ (از سردار شیر محمد خان ګنداپور) ـ ۱۵۴ مخ

۷۹- قادریه فقیر محمد عباس ـ قال و حال ـ ناشر مکتبه شاهین خان ګل چیمبرز خیبر بازار پشاور ـ د چاپ کال نه لری۔ ۱۷۱، ۱۷۲ مخونه

۸۰- قصص الانبیاء ـ (از مولانا حفظ الرحمان سیوهاروی) ج ۱ ـ ۴۱۳ مخ

۸۱- قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ـ ۲۵۱ مخ

۸۲- ختک، خوشحال خان: فضل نامه ـ ناشر: اداره اشاعت سرحد پېښور۔ مطبع: ایمپیریل پریس پېښور۔ سن اشاعت: ۱۹۵۲ء ـ ۶ مخ

۸۳- تاریخ پشتون ـ (از سردار شیر محمد خان ګنداپور) ـ ۸۴، ۸۵ مخونه

۸۴- همدغه کتاب ـ ۸۵ مخ

۸۵. کلیات خوشحال خان ختک ـ (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۷۰۷ مخ

۸۶. همدغه کتاب ـ ۵۰۵ مخ

۸۷. همدغه کتاب ـ ۸۲۱ مخ

۸۸. همدغه کتاب ـ ۲۸٦ مخ

۸۹. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ـ ٦۸ مخ

۹۰. کلیات خوشحال خان ختک ـ (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۵۰۲ مخ

۹۱. همدغه کتاب ـ ۱۵۹ مخ

۹۲. همدغه کتاب ـ ۲۵۰ مخ

۹۳. همدغه کتاب ـ ۳۱۵ مخ

۹۴. همدغه کتاب ـ ۴۷۲ مخ

۹۵. همدغه کتاب ـ ۲۲۹ مخ

۹٦. همدغه کتاب ـ ۵۰۵ مخ

۹۷. همدغه کتاب ـ ۵۳۱ مخ

۹۸. همدغه کتاب ـ ۹۰۴ مخ

۹۹. همدغه کتاب ـ ۳۹ مخ

۱۰۰. همدغه کتاب ـ ۸۸۰ مخ

۱۰۱. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ـ ۹ مخ

۱۰۲. کلیات خوشحال خان ختک ـ (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۴۲۷ مخ

۱۰۳. همدغه کتاب ـ ۴۲۱ مخ

۱۰۴. همدغه کتاب ـ ۹٦ مخ

۱۰۵. دریا آبادی، مولانا عبدالماجد: تفسیر ماجدی ـ ناشر مجلس نشریات کراچی ـ مطبع شکیل پرنتنګ پریس کراچی ـ سن اشاعت ـ ۱۹۹۸ء ـ جلد ۱ ـ ۳۷ مخ

۱۰٦. قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ـ ۵۰۷، ۵۰۸ مخونه

۱۰۷. قرآن ـ سورة مریم ـ ۱۷ آیت

۱۰۸. قرآن ـ سورة مریم ـ ۱۸ آیت

۱۰۹. قصص الانبیاء (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ـ ۴۵۱، ۴۵۲ مخونه

۱۱۰. قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ـ ۵۰۹ مخ

۱۱۱- غلام نبی، مولانا: خلاصة الانبیاء ـ ناشر: مولانا غلام نبی- مطبع: نه لری- سن اشاعت: ۱۳۷٦هـ
۲۷٦، ۲۷۷ مخونه

۱۱۲- قرآن ـ سورة مائده ـ ۱۱۰ آیت

۱۱۳- تفسیر ماجدی ـ (از مولانا عبدالماجد دریا آبادی) جلد ۱ ، ۳۷ مخ

۱۱۴- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۲۲۹ مخ

۱۱۵- همدغه کتاب ـ ۲۳۱ مخ

۱۱٦- همدغه کتاب ـ ۷۴۴ مخ

۱۱۷- همدغه کتاب ـ ۴۳۸ مخ

۱۱۸- همدغه کتاب ـ ۸۲٦ مخ

۱۱۹- همدغه کتاب ـ ٦۹۵ مخ

۱۲۰- همدغه کتاب ـ ۵۰۵ مخ

۱۲۱- همدغه کتاب ـ ۵۸٦ مخ

۱۲۲- قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی)- جلد ۱ ، ۴۲۷ مخ

۱۲۳- معارف القرآن ـ (از مفتی محمد شفیع) جلد ۷، ۳۴ مخ

۱۲۴- ابن کثیر، حافظ عماد الدین: تفسیر ابن کثیر- مترجم: مولانا محمد جونا گرهی- ناشر: حدیقی اکیدمی
اُردو بازار لاهور- مطبع: نه لری- سن اشاعت: ۱۹۹۹ء- ج ۴، ۴۰ مخ

۱۲۵- همدغه کتاب ـ همدغه جلد او مخ

۱۲٦- همدغه کتاب ـ همدغه جلد ـ ۴۱ مخ

۱۲۷- همدغه کتاب ـ همدغه جلد ـ ۴۰ مخ

۱۲۸- محمد شفیع، مفتی: معارف القرآن- ناشر: اداره المعارف کراچی- مطبع: امیج پرنترز کراچی،
سن اشاعت فروری ۱۹۸۵ء ـ ج ۵ ـ ٦۰۰ مخ

۱۲۹- قرآن ـ سوره لقمان ـ ۱۲ آیت

۱۳۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۵۷۲ مخ

۱۳۱- قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) جلد ۱ ـ ۱۵۹ ، ۱۵۸ مخونه

۱۳۲- همدغه کتاب او جلد ـ ۱٦۳ مخ

۱۳۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ـ ۵۷۵ مخ

۱۳۴- همدغه کتاب ـ ٦۱۳ مخ

۱۳۵- همدغه کتاب - ۹٦ مخ

۱۳٦- همدغه کتاب - ۴۲۷ مخ

۱۳۷- همدغه کتاب - ۸۹۱ مخ

۱۳۸- همدغه کتاب - ۵۱۴ مخ

۱۳۹- همدغه کتاب - ۵۱۵ مخ

۱۴۰- همدغه کتاب - ۵۱۵ مخ

۱۴۱- همدغه کتاب - ۵۱٦ مخ

۱۴۲- اخلاق نامه (حبیب الله رفیع) ۵ مخ

۱۴۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) - ۴۴۹ مخ

۱۴۴- همدغه کتاب - ۱٦۰ مخ

۱۴۵- همدغه کتاب - ۱٦۰ مخ

۱۴٦- همدغه کتاب - ۳۲۲ مخ

۱۴۷- همدغه کتاب - ٦۸۱ مخ

۱۴۸- همدغه کتاب - ۵۲۹ مخ

۱۴۹- همدغه کتاب - ۵۳۰ مخ

۱۵۰- همدغه کتاب - ۳۲ مخ

۱۵۱- همدغه کتاب - ۱۲۱ مخ

۱۵۲- همدغه کتاب - ۲۷۰ مخ

۱۵۳- خټک خوشحال خان - فضل نامه - ادارۀ اشاعت سرحد - پیشکش: محمد عبدالشکور - اول چاپ ۱۹۵۲ء - ٦ مخ

۱۵۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) - ۳۳۰ مخ

۱۵۵- همدغه کتاب - ۲۷۰ مخ

۱۵٦- همدغه کتاب - ۸٦۰ مخ

۱۵۷- همدغه کتاب - ۸٦۴ مخ

۱۵۸- همدغه کتاب - ٦۴۴ مخ

۱۵۹- همدغه کتاب - ۵۷۲ مخ

۱٦۰- اخلاق نامه - (مرتبه حبیب الله رفیع) - ۵۹ مخ

۱٦۱- ابن هشام، محمد عبدالمالک: سیرت ابن هشام. مترجم: مولوی قطب الدین احمد ناشر: جامعه عثمانیه حیدر آباد دکن. مطبع: نه لری. سن اشاعت: ۱۹۴۹ء - ۱ مخ

۱٦۲- قصص القرآن (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) - ۵۳۳، ۵۳۴ مخونه

۱٦۳- همدغه کتاب - ۵۳۷ مخ

۱٦۴- خان، مولانا وحید الدین: پیغمبر انقلاب - ناشر: دارلتذکیر غزنی سټریټ اردو بازار لاهور - مطبع: ګنج شکر پرنټرز لاهور - سن اشاعت - ۲۰۰۴ء - ۱۸ مخ

۱٦۵- داؤدیؔ مقبول انور - حضرت محمدؐ - ناشر: دی چلډرن قرآن سوسائټی، ۱۷ وحدت روډ لاهور. مطبع: عالمین پریس لاهور - ۱۲ واں ایډیشن. مئی ۱۹۹۸ء - ۱۹ مخ

۱٦٦- همدغه کتاب - ۲۵ مخ

۱٦۷- همدغه کتاب - ۲۴، ۴۷، ۵۲ مخونه

۱٦۸- مختیار حسین: سیرت د پاک حضرت محمد رسول اللهؐ - ناشر: حاجی ریاض حسین. مطبع: لیاقت پرنټرز لاهور. سن اشاعت: اګست ۱۹۹۸ء. ۱۱۴، ۱۱۵ مخونه.

۱٦۹- رحمانی، مولانا عبدالصمد: پیغمبر عالمﷺ. ناشر: حس الدین اشرف. ټیکنیکل پبلشر لاهور. مطبع: قلات پریس لاهور. سن اشاعت: مارچ ۱۹۹٦ء. ۱۸۷ مخ

۱۷۰- باډلے، ار، وی.سی: الرسولﷺ. مترجم: ډاکټر ایم. ایس ناز. ناشر: الطاف حسین مکتبه عالیه اُردو بازار لاهور. مطبع: ایف ډی پرنټرز لاهور. سن اشاعت: ۱۹۹۹ء. ۱۹۷، ۱۹۸ مخونه

۱۷۱- اعظمی، علامه عبدالمصطفیٰ: سیرت مصطفیٰﷺ. ناشر: خزینه علم و ادب لاهور. (چاپ خانه او د چاپ کال نه لری). ۵۵۹ مخ

۱۷۲- امام بخاری، محمد بن اسماعیل: صحیح البخاری شریف. ناشر: اداره اشاعت ناشران قرآن لمټیډ لاهور. مطبع: زاهد بشیر پرنټرز ټیپ روډ لاهور. سن اشاعت نه لری. جلد ۲ - ۷۲۱، ۷۲۲ مخونه

۱۷۳- منصور پوری، محمد سلیمان: اصحاب بدر. ناشر: البدر اکیډیمی سرکلر روډ لاهور. (د چاپ خائے او کال نه لری). ۲۲ مخ

۱۷۴- همدغه کتاب - ۲۱ مخ

۱۷۵- ندوی، سید سلیمان: رحمت عالم. ناشر: محمد اکرم. تخلیق مرکز لاهور. مطبع: تخلیق مرکز پرنټرز لاهور. (د چاپ کال نه لری). ۱۳۸ مخ

۱۷٦- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند). ۴۵ مخ

۱۷۷- همدغه کتاب. ۹٦ مخ

۱۷۸۔ همدغه کتاب۔ ۱۸٦ مخ
۱۷۹۔ همدغه کتاب۔ ۱۸۹ مخ
۱۸۰۔ همدغه کتاب۔ ۴۲۷ مخ
۱۸۱۔ اخلاق نامه۔ (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۹ مخ
۱۸۲۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند)۔ ۷۲۰ مخ
۱۸۳۔ همدغه کتاب۔ ۷۲۳ مخ
۱۸۴۔ همدغه کتاب۔ ۷۵۹ مخ
۱۸۵۔ همدغه کتاب۔ ۹۱۴ مخ
۱۸٦۔ همدغه کتاب۔ ۴۴۸ مخ
۱۸۷۔ همدغه کتاب۔ ۴۵۰ مخ
۱۸۸۔ همدغه کتاب۔ ۵۱۵ مخ
۱۸۹۔ همدغه کتاب۔ ۵۷۲ مخ
۱۹۰۔ همدغه کتاب۔ ٦۷۳ مخ
۱۹۱۔ اخلاق نامه۔ (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۴۸ مخ
۱۹۲۔ توریت ۔ استثنا ۔ ناشر: پاکستان بائیبل سوسائتی لاهور۔ مطبع: سی ټی پی ایس هانګ کانګ۔ ۱۹۸۲ء۔ باب ۳۴۔ ۷ آیت۔
۱۹۳۔ تفسیر ماجدی۔ (از مولانا عبدالماجد دریا آبادی) ۔ جلد ۱ ۔ ۲۲ مخ
۱۹۴۔ قصص القرآن۔ (از مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی)۔ ۲۹۸ مخ
۱۹۵۔ قصص القرآن۔ (از سجاد میرټهی)۔ ۲۸۵ مخ
۱۹٦۔ توریت۔ خروج ۲۔ ۲۰ آیت
۱۹۷۔ قصص القرآن۔ (از مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی) د ۳۰۷ نه تر ۳۱۲ مخونو لنډیز۔
۱۹۸۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مهمند)۔ ۸۸۴ مخ
۱۹۹۔ همدغه کتاب۔ ۹٦ مخ
۲۰۰۔ همدغه کتاب۔ ۴۷ مخ
۲۰۱۔ اخلاق نامه۔ (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۳۸ مخ
۲۰۲۔ همدغه کتاب۔ ۹ مخ
۲۰۳۔ قصص القرآن۔ (از مولانا حفظ الرحمن سیوهاروی)۔ ۵۵، ۵٦ مخونه

۲۰۴- معارف القرآن. (از مولانا مفتی محمد شفیع). جلد ۳ - ۵۹۲، ۵۹۳ مخونه
۲۰۵- قصص الانبیاء. ۷۱ مخ
۲۰۶- معارف القرآن. (از مولانا مفتی محمد شفیع). جلد ۳. ۵۹۱ مخ
۲۰۷- همدغه کتاب او جلد. ۵۹۲ مخ
۲۰۸- قصص القرآن. (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) - جلد ۱ - ۵۹ مخ
۲۰۹- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد کامل مهمند). ۷۴۶ مخ
۲۱۰- همدغه کتاب. ۷۸۵ مخ
۲۱۱- همدغه کتاب. ۳۳ مخ
۲۱۲- همدغه کتاب. ۴۴۴ مخ
۲۱۳- تاریخ پشتون. (از سردار شیر محمد خان کنداپور) - ۱۳۱، ۱۳۲ مخونه
۲۱۴- قصص القرآن. (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) - ۱٦۸ مخ
۲۱۵- همدغه کتاب. ۱۷۰ مخ
۲۱٦- همدغه کتاب. ۱٦۹، ۱۷۰ مخونه
۲۱۷- کلیات خوشحال خان ختک. (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند). ۱۴۵ مخ
۲۱۸- همدغه کتاب. ۹۵۳ مخ
۲۱۹- همدغه کتاب. ۵۰۳ مخ
۲۲۰- همدغه کتاب. ۳۳ مخ
۲۲۱- همدغه کتاب. ۷٦ مخ
۲۲۲- همدغه کتاب. ۱۰۱ مخ
۲۲۳- همدغه کتاب. ۱۰۷ مخ
۲۲۴- همدغه کتاب. ۱۱۹ مخ
۲۲۵- همدغه کتاب. ۲۳۱ مخ
۲۲٦- همدغه کتاب. ۲۴۴ مخ
۲۲۷- همدغه کتاب. ۲۹٦ مخ
۲۲۸- همدغه کتاب. ۳۰۲ مخ
۲۲۹- همدغه کتاب. ۳۲۱ مخ
۲۳۰- همدغه کتاب. ۳۳۳ مخ
۲۳۱- همدغه کتاب. ۳٦۳ مخ
۲۳۲- همدغه کتاب. ۳۸۴ مخ

۲۳۳۔ همدغه کتاب۔ ۴۹۵ مخ
۲۳۴۔ همدغه کتاب۔ ۵۴۸ مخ
۲۳۵۔ همدغه کتاب۔ ۵٦۷ مخ
۲۳٦۔ همدغه کتاب۔ ۵٦۹ مخ
۲۳۷۔ همدغه کتاب۔ ٦۰۵ مخ
۲۳۸۔ همدغه کتاب۔ ٦۲۴ مخ
۲۳۹۔ همدغه کتاب۔ ٦۳۲ مخ
۲۴۰۔ همدغه کتاب۔ ٦٦۱ مخ
۲۴۱۔ همدغه کتاب۔ ٦۹۵ مخ
۲۴۲۔ همدغه کتاب۔ ۷۱۹ مخ
۲۴۳۔ همدغه کتاب۔ ۷۳۸ مخ
۲۴۴۔ همدغه کتاب۔ ۸۲٦ مخ
۲۴۵۔ اخلاق نامه۔ (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۹ مخ
۲۴٦۔ قصص القرآن۔ (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ۔ ۲۲۴ مخ
۲۴۷۔ همدغه کتاب۔ ۲٦۸ مخ
۲۴۸۔ خزانه تلمیحات۔ (از محمود نیازی) ۔ ۱۴۴ مخ
۲۴۹۔ توریت۔ پیدائش۔ باب ۵۔ ۲۲، ۲٦ آیات
۲۵۰۔ توریت۔ خروج۔ باب ۱۳۔ ۱۹ آیت
۲۵۱۔ کلیات خوشحال ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند)۔ ۸٦۵ مخ
۲۵۲۔ قصص القرآن۔ (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ۔ ۲۵۱ مخ
۲۵۳۔ ابن کثیر۔ مترجم: مولانا محمد جوناگرهی۔ ناشر: حدیقه اکیدیمی اردو بازار لاهور۔ (چاپ ځاے نه لری)۔ سن اشاعت: ۱۹۹۹ء۔ جلد ۲۔ ۷۹، ۸۰ مخونه
۲۵۴۔ قرآن۔ سورة الصافات۔ د ایت ۱۴۳ نه ۱۴٦ پورې
۲۵۵۔ قصص القرآن۔ (از مقبول انور داؤدی) حصه ٦۔ ۱۵، ۱٦ مخونه
۲۵٦۔ قصص القرآن۔ (از مولانا محمد حفظ الرحمان سیوهاروی) ۔ ۲٦۳ مخ

دویم باب

# د خوشحال په کلام کښې مذکور

# اهل بیت اؤ صحابیان رض

د دین د شمعې پتنګان او د خوږ نبیﷺ سرتېري ملګری او اهل بیت
د چا زندګی چې د صبر و استقامت، استقلال مشکلاتو
او ازمائشونو نه عبارت دي. او د نور اُمت د پاره د
ژوند په تور تمونو کښې د رڼا منارې دي.
خوشحال بابا ددغه سپېڅلی شخصیاتو
د سېرتونو د رڼاګانو نه د خپل کلام
غیرېدکه کړې ده. او خپل فکر ئې
پرې روښانه کړے دے. دې باب
کښې هم د هغه شعرونو پلټنه شوی ده کوم چې خوشحال بابا
د اهل بېتو او اصحابو کرامؓ په حقله وئیلی دي.

د آسمان د ستوريو هم وبله فرق دے
څکه غوره په يارانو کښے صديقؓ شه (۱)

☆

چه په سب د ابوبکرؓ د عمرؓ دی
که په خوله کلمه لولی هم کافر دی (۲)

☆

ابابکرؓ څخه هيڅ نۀ وو بادشاه وه
که عمرؓ د خزانو وه په ساتنه (۳)

☆

راشه که گورے اهل نا اهل
يو ابوبکر وه بل ابوجهل
په ابوبکرؓ محمدﷺ نمر وه
په ابوجهل تر سُها سهل (۴)

☆

که په مينه د صديقؓ ولاړ صادق يم
هسے ما گنړه په مهر د عمرؓ (۵)

☆

ابابکر د دين نمر دی
يارِ غار د پيغمبر دی (۶)
صديق يار وته دې ووې
(يارِ) غار وته دې ووې (۷)

دې د دین په کار صدیق وُ
ځکه نوم دده عتیق وُ (٨)

☆

د صدیقؓ او د فاروقؓ په عشق کښے طاق یم
د عثمانؓ او د حیدرؓ بنده قلمقاق یم (٩)

حضرت ابوبکر صدیقؓ د حضور نبی کریمؐ جلیل القدر صحابی وو۔ خوشحال بابا دې شعرونو کښې د حضرت ابوبکر صدیقؓ یادونهٔ کړې ده۔ چې د هغوئ مرتبه شان او عظمت ترې جوتیږی۔

## حضرت ابوبکر صدیقؓ:

د دوئ نسب په دا ډول دے۔ عبدالله بن عثمان بن عامر بن کعب بن سعد بن تیم بن مره بن کعب بن لوی القرشی۔ د حضرت ابوبکرؓ نسب مره بن کعب ته په رسېدو د حضورﷺ د نسب سره لګي۔ د دوئ د پلار نوم عثمان وو۔ چې کنیت ئې ابو قحانه وو۔

د مور بی بی نامه ئې ام الخیر سلمیٰ بنت صخر بن عامر بن کعب بن سعد بن تیم بن مره ده۔ څوک چې د ابوبکرؓ د پلار د تره لور وه۔ او د حضرت ابوبکرؓ نه پس ئې اسلام راوړو۔

د حضرت ابوبکرؓ لقب عتیق وو۔ د حضرت عائشهؓ د روایت تر مخه حضورﷺ او فرمائیل چې ابوبکر عتیق الله من النار" دے۔ یعنی الله تعالیٰ هغه ته د جهنم د اُور نه خلاصې بخښلې دے۔

حضرت علیؓ فرمائیلي دي چې الله تعالیٰ پخپله د حضورﷺ په ژبه مبارکه د ابوبکرؓ نوم "صدیق" ایښې دے۔

حضرت ابوبکرؓ صدیق د عام الفیل نه تقریباً درې کاله پس په ۵۷۳ء کښې پیدا شوې دے۔ هغهؓ د حضورؐ د نبوت نه وړاندې هم ریښتونے دوست وو۔ عمر کښې د پیغمبرؐ نه درې کاله کشر وو۔

حضرت ابوبکرؓ د اسلام راوړو نه وړاندې د قریشو په رؤساء کښې وو۔ خپل قوم کښې د ټولو نه

مخوریز سړے وو. د خون بها تولې کشالې به دوئ هوارولې. په دې لړ کښې به قریشو د دوئ نه علاوه د بل چا فیصله نه منله. کله چې حضورﷺ د نبوت اعلان اُوکړو. نو د تولو وړومبې پرې دوئ ایمان راوړو. بیا د دوئ په دعوت د دوئ مور پلار، څامنو او نمسو ایمانونه راوړل.

حضرت ابوبکر صدیقؓ د قریشو د انسابو لوئے عالم وو. ډیر مالدار سوداګر وو. او د خوبونو په تعبیر ویستلو کښې ډیر میړنے وو. دوئ د اسلام نه مخکښې هم شرابو ته لاس نه دی وروړی.

کله چې د هجرت حکم راغے. نو رسول اللهﷺ د ابوبکرؓ کور ته تشریف یوړو. دغه وخت هغه اُوده وو. حضورﷺ هغه راویښ کړو او ورته ئې اوفرمائیل چې ماته د هجرت کولو حکم راکړې شو. حضرت عائشهؓ فرمائی چې ما دغه وخت د هغوئ په سترګو کښې د خوشحالی اوښکې اولیدلې. بیا دواړه د مکې نه غار ثور ته لاړل. او دغلته ئې درې ورځې تیرې کړې. دې دوران کښې د حضورﷺ سره د دوئ نه علاوه بل څوک ملګرے نه وو. ځکه ورته الله تعالیٰ د "ثاني اثنین"نامه ورکړه.

خوږ نبیﷺ به د دوئ ډیر احترام کولو. او مخ په مخ به ئې ورله ستائینه کوله. مونځ ته به ئې اکثر پخپل ځائے مخکښې کولو. د بدر، اُحد، خندق، خیبر، فتح مکه، حنین، طائف، تبوک د مباریزو نه علاوه د بیعت رضوان او حجة الوداع په موقعو هم دوی د خوږ نبیﷺ سره څنګ په څنګ ولاړ وو.

حضرت ابوبکرؓ د مسلمانانو وړومبے خلیفه وو. او اولنې کس وو چې په نهمه هجری کښې امیر حج او ټاکلې شو. د قرآن پاک په وړومبې ځل د جمع کولو سعادت هم دوئ ته حاصل دے. او قرآن پاک ته په اولنې ځل د مصحف نوم هم دوی ورکړې دے.

دوئ په ۲۳ اګست ۶۳۴ء کښې د دنیا نه رحلت اُوکړو. شپږ میاشتې پس ئې پلار هم وفات شو. د خوږ نبیﷺ په رنګ ابوبکر صدیقؓ هم درې شپیته کاله ژوند بیاموند. (۱۰)

"د پاخه عمر په خلقو کښې حضرت ابوبکرؓ وړومبے کس وو. چې بې له څه معجزې ښتلو نه ئې ایمان راوړے دے. د پیغمبرﷺ د وفات نه پس د خلافت په ګدی کیښناست. د خلافت موده ئې دوه کاله

او درې میاشتې ده..... د دوئ د ګُتې مبارک نقش "نعم القادر الله" وو. مزار شریف ئې د حضورﷺ سره په ښنک کښې دے." (۱۱)

== ☆☆☆ ==

تر هلالؓ اوُ تر بلالؓ ئے صدقه شم
لا رانجه مے د پله خاورے د بوذرؓ دی (۱۲)

☆

د بوذرؓ اوُ د سلمانؓ ئے درویز کړ یم
تل د دوئ په محبت دے خما ژواک (۱۳)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت هلالؓ، حضرت بلالؓ او حضرت سلمان فارسیؓ نه علاوه د حضرت ابو ذر غفاریؓ سره هم د خپلې بې انتها مینې او عقیدت اظهار کړے دے. وائی چې زهٔ د حضرت هلالؒ او حضرت بلالؓ نه صدقه شم. زهٔ د ابوذرؓ او سلمانؓ درویز کړیم. او د حضرت ابوذرؓ د پښو خاورې په سترګو کښې د رنجو په ځیر لګوم. زهٔ ورسره مینه کوم او په دغه سپیځلې مینه خپل ژوند تیروم.

## حضرت ابو ذر غفاریؓ:

ددهٔ کنیت ابو ذر او نوم ئې جندب بن جناده وو. جناده د دوئ د نیکه نوم دے. چا چې د غفار د کنانه قبیلې څخه تعلق درلود. دے د حضورﷺ د بعثت نه وړاندې هم د زیات عبادت د پاره مشهور وو. په اسلام قبولونکو کښې ددهٔ پنځم نمبر دے. د غزوه خندق نه پس دوئ مدینې ته هجرت اوکړو. دے د هغه خلقو نه وو. چا چې د حضورﷺ په لاس مبارک ددې خبرې بیعت کړې وو. چې حق به بې ترهې بیانوی او په دې لاره کښې به د هیچا پرواه نه کوی.

حضرت ابوذر غفارؓ ډېر زیات پرهیزګاره او زاهد انسان وو. د توکل خو ئې دا حال وو چې د سبا د

پاره به ئې خرچه هم د ځان څخه نه پرېښوده. د حضرت عثمانؓ په دور خلافت کښې هغوئ د خپل حد نه زيات د زهد و تقویٰ په لړ کښې د يو خاص نقطه نظر دعوت شروع کړو. د هغوئؓ دا نقطه نظر تر ډېره حده اشتراکيت ته نزدې وو. ځکه نو حضرت عثمانؓ ته د هغویؓ دا ادا خوښه نه شوه. او هغهؓ ئې "ربذے" ته جلا وطن کړو. او هم هلته په ۳۲هـ کښې وفات شو. جنازهٔ ئې حضرت عبدالله بن مسعودؓ اُوکړه. څوک چې اتفاقاً ددغه ځائے نه تېريدو.

ابو ذر غفاریؓ د حضرت عمر ابن عباس ابن عمرؓ او نورو اصحابو نه حدېثونه رانقل کړي دي. بيا د دوئ نه احنف بن قبس بن عبدالرحمٰن بن عطاء او نورو خلقو روايت کړي دي.

ابوذر غفاریؓ ته رسېدونکې د تولو نه صحيح سند هغه دے. کوم چې سعېد بن عبدالعزيز د ربېعه بن يزيد نه هغهٔ د ابی ادريس خولانی او هغه د ابو ذر غفاریؓ نه رواېت کړي دي. د دوئ نه ټول ټال دوه سوه يو اتيا حدېثونه روايت شوی دي. (۱۴)

يوه شپه حضرت عمرؓ په جماعت کښې ابو ذر غفاری اُوليدو. چې يوازې ناست دے. تپوس ئې ترې اوکړو چې "ولې يوازې ناست ئې؟" ابو ذرؓ اُووئيل نيک ملګرے د تنهائي نه غوره دے. او د بد ملګری نه تنهائی غوره ده. خير رسونکے د شر رسونکے نه بهتر دے." (۱۵)

== ☆☆☆ ==

بيا ابوعبيده نهم دے

بيا عبدالرحمٰن لسم دے (۱۶)

ابو عبيده. د خوږ نبیؐ دا ستر صحابی د عشره مبشره نه دے. په زړورتيا، خلوص او قربانی کښې ئې ځانګړے حيثيت لرلو. دوئ ته به زمونږ خوږ پيغمبر "الامين" وئيلو. دهٔ تقريباً په ټولو غزاګانو کښې برخه اخستې وه. ستر خوشحال دا جليل القدر صحابی په عشره مبشره کښې په نهم نمبر ياد کړے دے. لکه څنګه چې ددغه پورته شعر نه جوتيږی.

## حضرت ابو عبیده بن الجراحؓ:

د دوئ نامه عامر وه. کنیت ئې ابو عبیده او لقب ئې امین الامة لرلو. د پلار نوم ئې عبدالله بن جراح بن هلال بن اهیب بن ضبه بن الحارث بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان القرشی الفهری المکی وو. د دوئ د نسب سلسله په فهر بن مالک باندې رسول اللهﷺ ته رسی. مور ئې هم د فهری خاندان نه وه. او د تحقیق مطابق اسلام ئې قبول کړے وو." (۱۷)

"سیدنا ابو عبیدهؓ د وړومبنو مسلمانانو نه دے. کله چې ابوبکر صدیقؓ اسلام قبول کړو. نو د دعوت او تبلیغ کار ئې شروع کړو. حضرت ابو عبیدهؓ هم د هغه خوش نصیبو نه دے. چا چې د ابوبکر صدیقؓ په دعوت لبیک اُووې. د یزید بن رومان د روایت تر مخه عثمان بن مظعونؓ سیدنا عبیده بن حارثؓ، سیدنا عبدالرحمن بن عوفؓ، سیدنا ابو سلمه بن عبدالاسدؓ او سیدنا ابو عبیده بن جراحؓ د رسول الله په خدمت کښې په یو وخت حاضر شول او اسلام ئې قبول کړو." (۱۸)

"کومو خلقو چې حبشې ته هجرت اوکړو او د الله په لار کښې ئې خپله خاوره پرېښوده. په هغوئ کښې سیدنا ابو عبیدهؓ هم وو. دوئ دوه ځله هجرت کړے دے. مدینې ته چې ټولو اصحابو کرامؓ هجرت اُوکړو. نو دوئ هم هلته تشریف یوړو. دغلته رسول اللهؐ ۴۵ انصار د ۴۵ مهاجرو وروڼه اوګرځول. چې د دوئ ورور ئې سعد بن معاذؓ جوړ کړو." (۱۹)

ابو عبیدهؓ په بدر کښې شریک شوے وو. او هم په دغه جنګ کښې ئې خپل پلار قتل کړے وو. (۲۰)

حضرت ابو عبیدهؓ د کفر و اسلام په ټولو جنګونو کښې د حضورﷺ سره اوږه په اُوږه جنګیدلے دے. او چې کله ورته هم موقع په لاس ورغلې ده. نو د خپلې بهادرۍ او نرتوب جوهر ئې ښودلی دی." (۲۱)

د هغه قد ډیر لوړ وو. وجود ئې کمزورے وو. مخ ئې غوښن نهٔ وو. د مخې دوه غاښونه ئې د جنګ اُحد په موقع هغه وخت مات شوی وو. کله چې هغه د حضورﷺ د مخ مبارک نه په غاښونو د اُوسپنې کړی راأوخکلې. ولې دغې دوه مات شوو غاښونو د هغه د مخ په ښکلا کښې بې حده اضافه کړې وه. ډیره ئې ګڼه

نه وه. په ږیره به ئې د خضابو سره وسمه او نکریزه لګوله.

هغه دوه ودونه کړی وو. یو د هند بنت جابر سره او بل واده ئې د درجا سره کړے وو. د هند بنت جابر نه یزید زیږیدلے وو. او د درجا نه عمیر پیدا شوے وو. د څنو روایاتو ترمخه دغه دواړه بې اولاده وفات شوی وو.

ابو عبیده بن الجراح رضؓ په اتلسمه هجری کښې په حق اُورسید. په دغه اوان د هغه عمر اته پنځوس کاله وو." (۲۲)

د دوئ په وفات حضرت معاذ بن جبل رضؓ اُوفرمائیل.

"ما تر ننه پورې دده نه زیات مخلص، سپین سپیځلے او د شر او کینې نه لرې انسان نۀ دے لیدلے. نۀ ما د دوئ په څیر د اخرت سره مینه لرونکے او د مسلمانانو خیر خواه لیدلے دے. (۲۳)

== ☆☆☆ ==

د رسول انس رضؓ اصحاب وو

روایت ئے باصواب وو (۲۴)

انس رضؓ د حضور ﷺ مشهور صحابی او محدث وو. د هجرت نه پس چې د حضرت انس رضؓ عمر به ایله لس کاله وو. چې مور ئې د حضور رضؓ په خدمت کښې د خادم په حیث وړاندې کړو. او بیا تول عمر د حضور ﷺ په خدمت کښې پاتې شو. په دغه شعر کښې خوشحال بابا هم ددغه ستر صحابی ذکر کړے دے.

## حضرت انسؓ بن مالک:

حضرت انسؓ د حضورﷺ خادم خاص وو. د پلار نامه ئې مالک بن نضر الانصاری وه. او مور بی بی ئې ام سلیم نومیده. د حضرت انسؓ عمر ایله لس کاله وو. چې مور ئې د خورِ نبیﷺ په حضور کښې د خدمت د پاره پریښودو. او تر لسو کالو پورې ئې د حضورﷺ په خدمت اقدس کښې تیر کړل.

حضرت انسؓ فرمائی چې حضورﷺ زما نه چرته هم پوښتنه نۀ ده کړې چې تا دا کار ولې کړے دے؟ یا دا کار دې ولې نۀ دے کړے؟ بلکې خورِ نبیﷺ به فرمائیل چې کوم کار الله غوښتل شوے دے او کوم کار چې هغه نۀ غوښتل نۀ دے شوے.

حضرت عمرؓ به ددۀ پحقله فرمائیل چې "انسؓ یو زیرک اؤ لوستے زلمے دے. د پیغمبرؑ د صحبت سره په دۀ کښې د زهد و تقویٰ صفتونه پیدا شوی دی." او د حضرت ابوهریرهؓ فرمان دے. چې ما داسې څوک نه دے لیدلے چې د هغه مونځ دې د اُم سلیم د زوئے (انسؓ) نه زیات د حضورﷺ مونځ ته ورته وی. (۲۵)

د حضورؐ نه د احادیثو په سلسله کښې په کثیر الروایت صحابیانو کښې د حضرت انسؓ دریمه درجه ده. د هغه نه د روایت شوو احادیثو شمیر ۲۲۸۶ دے.

حضرت انسؓ د ژوند په آخری ورځو کښې بصرې ته لاړ. او هلته په ۹۰هـ یا ۹۱هـ کښې وفات شو. په بصره کښې وفات موندونکے دا آخری صحابی وو. په دغه موقع یو کس اُووئیل چې نن د دُنیا نه نیم علم رخصت شو. (۲۶)

== ☆☆☆ ==

چهارم زین العابدین دے
بل باقر ستنه د دین دے (۲۷)

## حضرت باقر (امام):

نوم ئې محمد، کنیت ئې ابو جعفر او لقب ئې باقر وو. د حضرت فاطمه بنت حسنؓ بن علیؓ له بطنه د جمعې په ورځ د صفرې په دریم تاریخ ۶۵هـ کښې پیدا شوے وو.

حضرت امام محمد باقرؓ ډیر لوئ عالم، فاضل او بزرګ وو. خوږ نبیﷺ په خپل فرزند یاد کړے وو. اۀ جابر بن عبدالله صحابی ته ئې دوئ سره د ملاقات کولو زیرے ورکړے وو. د دوئ درې زامن وو. حضرت جعفر، حضرت عبدالله او حضرت ابراهیم. (۲۸)

امام باقرؓ د خپل پلار د وفات نه پس د خدائے پاک په امر او د بزرګانو په لار ښودنه امامت ته اُورسید. د ځنو روایاتو له مخه د هشام وراره ابراهیم بن ولید بن عبدالملک هغه ته د "۵۷" کالو په عمر کښې زهر ورکړل. او شهید شو. په مدینه منوره کښې د حضرت عباسؓ په څنګ کښې دفن کړے شو." (۲۹)

د امام باقر په زمانه کې د بنی امیه ۀ د ظلم او تیري له امله په هرې سیمې کې پاڅونو نه پیل شوي وو. او هم چاړواکي په خپلو کې بې اتفاقه شو وو. نو ځکه اهل بیت تر ډیره حده دوی له زور زیاتي بچ شول. بلخوا د کربلا پېښې او د اهل بیتو مظلومیت (چې څلورم امام یې ښکارندوی و) ددې لا مل و. چې خلکو اهل بیتو ته مخه کړه. او امام باقرؓ هم له دې شرائطو نه سمه ګټه واخیسته او د اسلامی حقایقو او علومو په خوررولو کې یې ډیرې هڅې وکړې. چې دا ډول شرائطو ورومبنیو امامانو ته برابر نه وو. او پر دې مطلب شاهدان هغه بې شمیره روایتونه او احادیث دي چې له امام باقر نه روایت شوی او هم د رجالو په کتابونو کې د هغو شاګردانو نومونو کښل شوی چې له امام نه یې په بیلا بیلو اسلامی معارفو کې پوهه تر لاسه کړې ده." (۳۰)

== ☆☆☆ ==

ته پښتنه کړے له حاله چه ئے حال ښه وو تر قاله

د بلالؓ اسهد قبول شه د ديو نورو له اشهدُ (۳۱)

☆

تر هلالؓ ئے صدقه شم تر بلالؓ

په اخلاص يم زۀ د دوئ د تلی خاک (۳۲)

☆

تر هلالؓ او تر بلالؓ ئے صدقه شم!

لا رانجه مے د پله خاورے د بوذر دی (۳۳)

☆

په بلالؓ عنايت وشه

په بوجهل بانډِ نۀ شه (۳۴)

## حضرت بلال حبشیؓ:

د حضرت بلالؓ کنيت ابو عبدالله وو. د پلار نوم ئې رباح وو. او مور ئې حمامه نوميده. له اصله حبشی وو. په مکه کښې پيدا شوے وو. او د اُميه بن خلف غلام وو" . (۳۵)

د ځنو مؤرخينو خيال دے. چې حضرت بلالؓ په سراه کښې پيدا شوے دے. د زيږيدو کال ئې بعضې ليکونکی ۴۳ هجری او بعضې نور ئې ۳۳ هجری ښائی ---- وئيلې شی چې د حضرت بلالؓ يو ورور هم و. چې خالد نوميدو. او کنيت ئې ابو رويحه وو. خو دا هم وئيلي شی چې دا ئې خپل ورور نۀ وو. بلکې اسلامی ورور ئې وو. د حضرت بلالؓ يوه خور غفره وه. ځوک چې د عمر بن عبدالله وينځه وه." (۳٦)

"دوئ د هغه اُووه کسانو نه وو. چا چې د ټولو نه ورومبے اسلام قبول کړے وو. د اسلام قبولولو په وجه دوئ ته اُميه بن خلف ډير تکليفونه رسولی وو. تر دې چې په مرۍ کښې به ئې ورته رسۍ واچوله او په

راښکلو راښکلو به ئې ورله ساه بنده کړه. ولې د توحيد سپيڅلو شرابو چې هغه ته کومه نشه بخښلې وه. هغه په دغه تکليفونو چرته کميدله.

ابوجهل به په ګټکو پرمخ څملولو، لوئې لوئې کانې به ئې پرې کيښودل، او چې د نمر ګرمی به ښه زياته شوه. نو تپوس به ئې ترې اوکړو. "بلاله اوس هم د محمدﷺ د خدائې نه نۀ اوړې؟" د نبوت د شمعې دے سرتيری پتنګ به دغه وخت هم وئيل "احد" يعنی خدائے يو دے. "احد" خدائے يو دے. دغې حالت کښې يوه ورځ حضرت ابوبکرؓ اوليدو. وائې خستلو او آزاد ئې کړو." (۳۷)

د حضرت بلالؓ آواز ډير زړه راښکونکے او خوږ وو. کله چې مسجد نبویﷺ جوړ کړے شو. نو حضرت بلالﷺ ئې مؤذن اوټاکلے شو. او دا شان هغه ته د اسلام د وړومبی مؤذن اعزاز حاصل شو." (۳۸)

حضرت بلالؓ د نری وجود، دنګې ونې او تور رنګ څښتن وو. د سر ويښته ئې ډير ګڼ وو. چې لږ ګرګوتی او زيات سپين وو. (۳۹)

د حضورﷺ د وصال نه پس حضرت بلالؓ په شام کښې ميشه شو. د څنې روايتونو تر مخه ئې هلته هم يو نکاح کړے وو. د دغې ښځې "هندا الخو لانيه"نامه وه. (۴۰)

حضرت بلالؓ د شلمې هجری خوا و شاه د شپيته کالو په عمر کښې وفات شو. او د دمشق د باب العيفر سره نزدے خاورو ته اُوسپارلے شو. (۴۱)

د حضرت بلالؓ عشق رسول، د هغوئ ريښتنولی، د عزم، د څوانمردی او صبر و استقلال کارنامې په اسلامی تاريخ کښې د سرو زرو په اُوبو ليکلې شوې دی. هم دغه وجه وه چې لويو لويو صحابه کرامو به د حضرت بلالؓ ډير زيات عزت او درناوے کولو. او حضرت عمرؓ خو تر دې پورې فرمائيلی دی چې حضرت ابوبکرؓ زمونږ سردار دے. چې هغوئ زمونږ سردار حضرت بلالؓ آزاد کړے دے." (۴۲)

== ☆☆☆ ==

د امام جعفرؓ تلمیذ وه

واړه کار ددهٔ لذیذ وه (۴۳)

دې شعر کښې خوشحال بابا د حضرت امام جعفر صادقؓ ذکر د امام ابو حنیفهؒ د اُستاد په حیث کوی. چې امام اعظم، امام ابو حنیفهؒ د حضرت امام جعفرؓ شاګرد وو. هم دا وجه وه چې دده په هر کار کښې خواږه دی.

## حضرت جعفر صادقؓ (امام):

د دوئ نوم مبارک محمد دے. جعفر او ابو عبدالله ئې کنیتونه دی. او لقب ئې صادق لرلو. د حضرت امام باقر فرزند او سجاده نشین وو. د مور بی بی نوم ئې ام قرده بن قاسم بن محمد ابی بکر وو. او د نیا بی بی نامه ئې اسماء بنت عبدالرحمٰن بن ابی بکر وه. د پیدائش کال ئې ۸۰هـ دے. خو د یو روایت مطابق د ربیع الاول په میاشت ۸۳هـ کښې د اتوار په ورځ په مدینه منوره کښې پیدا شوے دے."(۴۴)

د شپږم امام د امامت په وخت کې د بني اُمیه ؤ پرضد پاخونه پیل شوی په تیره بیا د تورو جامو (مسوده) پاخون چې له خونړی جګړو وروسته اموی خلافت راوپرځید. ددې شخړو په دوران کې د امام باقر (پنځم امام) لپاره مناسب فرصت ؤ. چې اسلامی حقائق او د اهل بیتو معارف خواره کړی. خو د امام جعفر لپاره دا فرصت تر هغه هم زیات برابر ؤ. چې دینی ښوونې یې په کې خورې کړې." (۴۵)

دوئ په علوم ظاهری او باطنی کښې یو ځانګړے مقام لرلو. ډیر لوې او جلیل القدر ائمه د دوئ په مختلفو علمونو کښې شاګردان پاتی شوی دی. چې پکښې حضرت امام ابو حنیفه، حضرت امام مالک او حضرت سفیانؒ د یادولو وړ دی. د امام جعفرؓ شپږ زامن وو. چې نامې ئې داد ی. حضرت اسماعیل، عبدالله اسحاق، محمد، علی او موسیٰ. دوئ کښې د څلورو نه د نسب سلسله روانه شوې ده. او اسماعیل پکښې زیات شهرت لری. چې اسماعیله فرقه دوئ خپل امام منی. خو اثنا عشری د دوئ په ځائ امام موسیٰ کاظم خپل امام تسلیموی او دا د دوئ اُووم امام دے." (۴۶)

د عمر په وروستیو کې منصور عباسی خلیفه ورسره مخالفت پیل کړ او له مدینې ئې را اوغوښت یو

ځل مخکې سفاح عباسي خليفه هم عراق ته راغوښتی ؤ او د امام باقر په وخت يې تر ځارنې لاندې ؤ او سپکه وضعه يې ورسره کوله. بيا يې مدينې ته د ستنېدو اجازه ورکړه چې پاتې عمر يې په تقيه اوګوښه کې تيرکړ." (۴۷)

حضرت امام جعفرؓ د منصور عباسي په زمانه کښې د رجب په مياشت ۱۴۰هـ کښې اوپه بل روايت کښې په ۱۶۸ هـ کښې وفات وموندو. مزار ئې په مدينه کښې د حضرت امام حسنؓ په خوا کښې دے. (۴۸)

== ☆☆☆ ==

حسن، حسين دی دواړه شهيدان کړل
اوس به ته وارړے توره له چا نه (۴۹)

☆

يو علیؓ دويم حسن دے
بل حُسين پاکيزه تن دے (۵۰)

☆

ورک شه د يزيد په هغه ځو کاله ديدن
پاتو شه پری لعن د حسينؓ اوٗ د حسنؓ (۵۱)

دې شعرونو کښې د حضرم امام حسنؓ او حضرت امام حسينؓ قدرمنې نامې اخستې شوې دی. حضرت امام حسنؓ د حضرت علیؓ او حضرت فاطمېؓ مشر زوئے وو. او زمونږ د خوږ نبیﷺ نمسے وو. خوشحال بابا ورومبی شعر کښې آسمان ته مخاطب دے. او ورته وائی چې تا د حضرت امام حسنؓ په شهيد کولو ايله اُونکړه. نو ښکاری چې ته هډو په چا صرفه نه کوے. وروستی شعرونه د امامانو صفت او په يزيد د لعنت ليږلو په لړ کښې ليکلی شوی دی.

## حضرت حسنؓ(امام):

حضرت حسنؓ د رسول الله د اهل بيتو څخه و. د حضرت علیؓ او د حضرت فاطمےؓ مشر ځوے او پنځم د خلفا ؤ. د رسول اللهﷺ له خوا وربانده "حسن" نوم کيښودلے شو." (۵۲)

د حضرت امام حسنؓ او حضرت امام حسینؓ په حقله به حضورﷺ فرمائيل. "چې حسن او حسين زما زامن دی." او هم دغه وجه وه. چې حضرت علیؓ به نورو زامنو ته وئيل. "تاسو زما زامن يئي او حسن او حسين د پيغمبرﷺ زامن دی." (۵۳)

حضرت امام حسنؓ د هجرت په دريم کال د روژې د مياشتې په پنځلسم تاريخ په مدينه منوره کښې زيږيدلے دے. (۵۴)

"دوئ اووه کاله او څو مياشتې يې له نيکه سره تيرې کړې. د مور فاطمې بي بي له وفات وروسته (چې له پلاره درې يا شپږ مياشتې وروسته يې له نړۍ سترګې پټې کړې) يې خپل پلار علیؓ پالنه وکړه. د خپل پلار له شهادت وروسته د خدای په امر او د پلار د وصيت له مخې امامت ته ورسيد او د ظاهری خلافت چارې يې هم تر لاسه کړې. چې نژدې شپږ مياشتې وې." (۵۵)

"په دغه آوان حضرت امير معاويهؓ د خلافت اخستو د پاره خپلې لښکرې عراق طرف ته واستولې. او په داګه ئې د امام حسنؓ قوماندانان په پيسو واخستل. يا ئې ځنې نور په وعدو تريستل. او داشان ئې د هغه د لښکر حوصلې ماتې کړې. ددې نه وړاندې هم حضرت معاويهؓ د حضرت عثمانؓ د خلافت په وخت کښې هم اريک اچولے وو. خو هغه ځل خبره دومره د ښکارې نه وه. څومره چې دا ځل په داګه وه. (۵۶)

"هم دغه وجه وه. چې امام حسنؓ روغې ته غاړه کيښوه. په دې شرط چې اوس به د مسلمانانو خليفه امير معاويهؓ اوټاکلے شی. خو د هغه د مرينې نه

پس به دغه منصب حضرت حسنؓ ته سپارلے شی۔" (۵۷)

حضرت امیر معاویهؓ هم دغه رنګې د خلافت په کرسی کښیناست. بیا عراق ته راغے۔ او په یوه لویه جلسه کښې ئې د حضرت امام حسنؓ سره د خپلې روغې دغه مشروط اعلان اوکړو۔ (۵۸)

"امیر معاویهؓ د حضرت حسنؓ یوې بی بی "جعده" له لالچ ورکړو۔ او هغې حضرت حسنؓ له زهر ورکړل۔ هم دغه شان په ۵۰هـ کښې هغه شهید شو۔ دغه وخت د هغه عمر اُووه څلویښت کاله وو۔ حضرت امام حسینؓ خپل ورور په جنت البقیع کښې هلته دفن کړو۔ چرته چې د بی بی فاطمې مزار هم دے۔ نن هم په لکونو مسلمانان د هغوی زیارت له راځی۔" (۵۹)

== ☆☆☆ ==

بل امام علی نقی دے

بل حسن عسکری دے (۶۰)

## حضرت حسن عسکری (امام):

دویٔ د حضرت علی نقیؓ فرزند وو۔ نوم ئې حسن عسکری وو۔ کنیت ئې ابو محمد او لقب ئې ذکی وو۔ ډیر زاهد، عابد، او متقی وو۔ په دغه سلسله کښې د خپل آباؤ اجداد نه په هیڅ شان وروسته نه وو۔ (۶۱)

دے په ۲۳۲ هجری کې زیږیدلی۔۔۔ د پلار له وفاته وروسته د خدای په امر او د ورومبنیو د بنوونې له امله امامت ته ورسید او د امامت اوه کلنه دور، یئې په ډیره سختئ کې تیره کړه۔ چې یوازې خپلو ځانګړویو لارویانو سره به یې لیدل چې په دې توګه اکثره وخت یې په زندانی ډول تیر کړ۔ (۶۲)

معتمد عباسي خلیفه ته چې د امام د ناروغۍ خبر ورسید۔ نو طبیب یې له څو تنو اعتمادی کسانو او قاضیانو سره ولیږه۔ چې امام او د کور دننې حالت یې تر څارنې لاندې وی۔ د امام له شهادت وروسته یې د

هغه کور ولتېو او د قابلو له لارې يې مينځې هم معاينه کړې.او تر دوو کلونو پورې د خليفه جاسوسانو د امام د ځايناستې په باب پلټنه کوله. چې بيا يو مخې ناهيلي شول." (٦٣)

دوئ د څلوېښتو په عمر کښې د فاني دنيا نه دار بقا ته رحلت اوکړو. اوپه سرمن را ئې کښې دفن شو. (٦۴)

== ☆☆☆ ==

حسن حسين دی دواړه شهيدان کړ

اوس به توره واړوے توره له چانه (٦۵)

☆

يو علیؓ دويم حسن دے

بل حُسين پاکيزه تن دے (٦٦)

☆

ورک شه د يزيد په هغه څو کاله ديدن

پاتو شه پری لعن د حسينؓ اوْ د حسنؓ (٦٧)

حضرت امام حسينؓ د حضرت علیؓ دويم فرزند او د حضرت امام حسنؓ کشر ورور وو. خوشحال بابا د دواړو امامانو نومونه په دے شعر کښې راوړی دی. د آسمان نه گيله کوی. چې ستا توره ډيره بې مخه ده. د هيچا خاطر او لحاظ نه کوی. تا چې د حضرت امام حسنؓ او حضرت امام حسينؓ په څير قدرمنې هستی د مرگ په خوب اُوده کړې. نو داسې معلوميږی چې ستا د تورې گذار به هر څوک څکي. په وروسته دوه شعرونو کښې د امامانو د صفت او په يزيد د لعنت بيان دے.

## حضرت حسينؓ (امام):

حضرت حسينؓ د حضرت علیؓ او د حضرت فاطمېؓ کشر زوئے او د رسول الله نمسے وو. پلار ئې

ورباندې وروميې "حرب" نوم ايښے وو. ليکن رسول اللهﷺ دا نوم خوښ نهٔ کړو. "حسين" ئې ورباندې نوم کېښود." (٦٨)

حضرت حسينؓ د شعبان په پنځمه د هجرى په څلورم کال (مطابق د ۵ جون ٦٢٦ء) سترګې اُوغړولې. د حضورﷺ د وصال په وخت د حضرت حسينؓ عمر اووه کاله اُووه مياشتې او اووه ورځې وو. (٢٩)

امام حسين د خپل مشر ورور امام حسن مجتبى له شهادته وروسته د خداى تعالىٰ په امر او د هغه د وصيت له مخې امامت ته ورسيد. او لس کاله يې د امامت زمانه وه. چې دا عمر يې له وروستيو شپږو مياشتو پرته د حضرت معاويهؓ د خلافت په زمانه کې تيره کړه. دا وخت پرې په ډيره تنګسه او ناوړه شرائطو تير شو. په امام حسينؓ هرومرو دا تپې تيارې تيريدې او د زمانې له واکمنو يې هر ډول ربړونى او روحى ازار زغمه، تر څو چې د هجرى شپيتم کال په منځينو وختونو کې حضرت معاويهؓ سترګې پټې کړې او يزيد د پلار په ځاى کيناست. (٧٠)

يزيد (٦٠-٦۴هـ) مغوئ په بيعت کولو مجبورول غوښتل. خو حضرت امام حسينؓ چې د هغه فسق و فجور ته اُوکتل. نو انکار ئې اوکړو. بل خوا د کوفې خلقو امام حسينؓ ته استازے را اوليږو چې مونږ ستاسره مرسته کوؤ. راشه چې د يزيد خلاف جنګ اوکړو. کله چې حضرت امام حسينؓ کربلا ته اُورسيد. نو دغلته ورته د عمرو بن سعد او عبيد الله ابن زياد په مشرى کښې د يزيد لښکر هم را اُورسيد. او د يزيد په بيعت کولو ئې زور واچولو. ولې بيا هم حضرت امام حسينؓ انکار اُوکړو. جنګ اوشو. او آخر دا چې حضرت امام حسينؓ د دوه اويا ۷۲ ملګرو سره شهيد شو.

دا دلسم محرم ٦١ هجرى واقعه ده. (٧١)

== ☆☆☆ ==

وریسے   طلحه،(رض)   زبیر(رض)   دے

خپل وجود ئے دے نه غیر دے (۷۲)

د عشره مبشره په حقله دغه شعر د حضرت زبیر بن العوام یادونه لری. د روایاتو تر مخه دے د هجرت نه اته ویشت کاله وړاندې زیږیدلے وو. او د شپاړسو کاله په عمر کښې ئې اسلام قبول کړے وو. دے د حضرت ابوبکر(رض) زوم وو. د مکې فتح کولو په آوان د خوږ نبی ﷺ د ذاتی دستې علمبردار هم دے وو.

حضرت زبیر(رض) لوئې عالم، ډیر زړور، مستقل مزاج او انصاف پسند وو. ډیر دولت مند او صاحب جائیداد وو. زمکې او باغونه ئې هم لرل. خو ددې باوجود به ئې ساده لباس اغوستلو. او ډیر ساده خوراک به ئې خوړلو. ولې میدان جنگ ته به په قیمتی جامو کښې وتلو. (۷۳)

## حضرت زبیر(رض) بن العوام:

د دوئ نامه زبیر بن العوام بن خویلد بن اسد بن عبدالعزیٰ بن قصی بن کلاب وه. مور ئې صفیه بنت عبدالمطلب نومیده. چې د خوږ نبی ﷺ د پلار له اړخه ترور وه. د حضرت زبیر(رض) کنیت "ابو عبدالله" وو.

د اسلام په وړومبو ورځو کښې حضرت زبیر(رض) ایمان راوړو. او د حضور ﷺ د ریښتونولی اقرار ئې اوکړو. د حضرت ابوبکر(رض) د مسلمانیدو نه لږې ورځې پس دوئ هم اسلام قبول کړو. په دغه اوان د دوئ عمر پنځلس کاله وو. کله چې د دوئ تره ددې نه خبر شو. چې دوئ ایمان راوړې دے. نو هغه حضرت زبیر(رض) په اندیری کښې اُوتړو. او د بوسو لوګے ئې ورته اوکړو. چې د اسلام نه واوړی. خو هغوئ د اسلام نه واپس نه شول. او د مسلمانانو سره ئې حبشې ته هجرت اُوکړو.

دوئ په ټولو جنګونو کښې د کفر په خلاف جنګیدلی دی او ځوانمردی ئې ښودلې ده.

د حضور ﷺ د وصال نه پس ئې سوداګری شروع کړه. ډیر دولت ئې لاسو ته راغے. په فسطاط او سکندریه کښې ئې زمکې واخستې. دوه زره غلامان ئې لرل. چې هغوئ به ورته خراج ورکولو. ولې دوئ د دغې نه یو درهم هم کور ته کینښودلو. بلکې په بې وسو به ئې تقسمولو. (۷۴)

حضرت زبیرؓ د عشره مبشره نه وو. حضرت عمرؓ چې د شپږو اصحابو کرامو کومه شوریٰ جوړه کړې وه. چې هغوئ به د حضرت عمرؓ د وفات نه پس د خلیفه د انتخاب وظیفه تر سره کوی. په هغوئ کښې یو حضرت زبیرؓ هم وو.

د جنګ جمل په آوان حضرت علیؓ، حضرت زبیرؓ ته ورياد کړل چې یوه ورځ مونږ دوارو خندل. نو حضورؐ تا ته اوفرمائیل چې نزدې ده چې ته به د علیؓ سره جنګ ته پاسې. حالانکې ته بهٔ د هغه په حق کښې ظالم یې. حضرت زبیرؓ چې واوريدل د میدان نه لاړ. څه موده پس عمرو بن جرموز په هغه پسې لاړ. او حضرت زبیرؓ ئې په وادی البساع کښې شهید کړو. دغه وخت د هغه عمر شپږ شپیته کاله وو. دا واقعه د جمادی الاول ۳۶هـ ده. (۷۵)

حضرت زبیرؓ په مختلفو وختونو کښې اُووه ودونه کړی وو. د وفات نه پس د هغه څلور ښځې ژوندۍ وې. او په اولاد کښې نهه زامن او نهه لونه پاتې وې.

د حضرت زبیرؓ د اخلاقو چمن په رنګا رنګ ګلونو ښائسته وو. د الله په لار کښې ورکړه، زهد و تقویٰ د الله نه ویره، قربانی او امانتداری ددغې چمن رنګینه ګلونه وو. د هغه امانتداری او دیانتداری تر دې حده رسیدلی وو. چې خلقو به نهٔ صرف په ژوندونی د هغه سره امانتونه کیښودل. بلکې هغوی به ارزو لرله چې د مرګ نه پس دې د هغوئ د مال اولاد محافظ شی. هم دا وجه وه چې د حضرت عثمانؓ حضرت عبدالله بن مسعودؓ او حضرت عبدالرحمنؓ بن عوف په شان جلیل القدر صحابیانو هغه خپل وصی جوړ کړے وو. دغه رنګ د حضرت زبیرؓ نه اته دیریشت احادیث مروی دی چې اکثر پکښې د اخلاقو سره تعلق لری. (۷۶)

== ☆☆☆ ==

چهارم زین العابدین دے
بل باقر ستنه د دین دے (۷۷)

## حضرت زین العابدین (امام):

خپل نوم ئې علي بن حسین دے. د امام سجاد او زین العابدین په نامو هم یاد ولے شی. د حضرت امام حسینؓ دریم زوئے دے. چې د فارس د بادشاه یزد جرد بن کسریٰ د لور نه زیږیدلے دے. دغه بی بی چې شهربانو نومیده. د ایمان راوړولو نه پس ئې د غزاله سلافه نوم بیاموند. او په خوله مقلبه شوه.

امام زین العابدین په حسن و جمال کښې لاثانی وو. سترګو کښې ئې ډیر سپیځلے چمک لرلو. د وجود نه ډیر کمزورے او ناتوانه پیدا شوے وو. مور ئې ددۀ د پیدائش نه پس حق اُورسیده. امام زین العابدین روسته یوې آزادې شوې وینځې اُم ولد لوئے کړو. (۷۸)

"دوئ د کربلا په پیښه کښې موجود وو. خو د بیمارۍ له کبله ئې په دغه انبته کښې برخه نۀ وه اخستې. کربلا ته چې اُورسیدل. نو امام سجادؑ سخت بیمار شو. او اکثر به د بې هوشۍ په حالت کښې بے خبره پروت وو. ..... کله چې امام حسینؑ شهید شو. نو امام سجادؑ ئې د نورو قیدیانو سره په بیړو شام ته واستوو." (۷۹)

له بندیوانۍ وروسته، یزید د عمومي افکارو د راجلبولو لپاره په درناوۍ مدینې ته ولیږه او دویم ځل بیا د اُموی چارواکی عبدالمالک په امر، زولانه له مدینې نه شام ته راوستل شو او بیا یې بیرته مدینې ته واستاوه. امام سجاد مدینې ته له راستنیدو وروسته په کور کې ګوښه کیناست او په عبادت بوخت شو. (۸۰)

امام سجاد له ۳۵ کلو امامت نه وروسته د امامیه شعیه ؤ د ځینې روایاتو له مخې د اموی چارواکي هشام په لمسون د ولید بن عبدالملک په لاس مسموم شو او په ۹۵هـ کال کې وفات شو. (۸۱)

له منبره ئے آواز کړ
ساریهؓ ئے په غره ساز کړ (۸۲)

خوشحالؒ بابا په دې شعر کښې د حضرت ساریهؓ هغې واقعې پله اشاره کړې ده. کومه چې د فساء او درالجبرد د محاصرې په آوان حضرت ساریهؓ ته مخې ته راغلې ده.

## حضرت ساریه بن زنیم کنانیؓ:

ددې مشهور صحابی شجره څه په دا ډول ده. ساریه بن زینم بن عمرو بن عبدالله بن جابر بن محمیه بن عبد بن عدي بن ویل بن بکر بن عبد منات بن کنانه. د دوئ تعلق د کنانې قبیلې سره وو. هم په دغه وجه ئې د نوم سره کنانی راځی. د حضرت ساریهؓ ورور اسید شاعر وو. کله چې مکه فتح شوه. نو دواړه ورونه د خوږ نبیؐ په حضور کښې حاضر شول. اسلام ئې قبول کړو. او په هغه ډله کښې شامل شول. د چا په حقله چې د الله تعالیٰ ارشاد دے. چې زهٔ د دوئ نه راضی یم. او دوئ زما نه راضی دی.

د حضرت ساریهؓ د ژوند حالات د ایمان راوړو نه پس د حضرت عمرؓ تر دوره پورې په تیاره کښې دی. ولې کوم وخت چې حضرت عمرؓ ایران ته د فوځ لیږلو کار پخپل لاس کښې واخستو. نو اسلامی فوځ ئې مختلفو علاقو ته لیږل شروع کړل. حضرت ساریهؓ ته په فساء او دارلجبرو د حملې د پاره د لښکر بیرغ ورکړے شو. او د تیار اُوسیدو حکم ورته اوشو. څه وخت چې هغه ته د تللو وینا اُوشوه. نو هغه په بې کچه تیزۍ سره خپل فوځ روان کړو. او ددې وجه دا وه. چې د ابن اثیر په قول هغه په منډه کښې ډیر تیز وو. او دغه تیز والے د هغه لوئې صفت وو." (۸۳)

"څه وخت چې هغه د فساء او درالجبرو خوا ته اُورسید. نو دغه ښارونه ئې محاصره کړل. چې محاصره اُوږده شوه. نو ایرانیانو د کردو نه کمک اوغوښت. هغوئ ایرانیانو له په دومره ګڼ شمیر کښې راغلل. چې تعداد ئې د مسلمانانو نه زیات شو. او بیا په مسلمانانو وراغلل. هم په دغه شپه حضرت عمرؓ په خوب کښې د جنګ ټوله نظاره اُولیده. هغوئ اُولیده چې د مسلمانانو لښکر په داګه میدان کښې دے. او که دوئ

دغسې پاتې شول. نو ایرانیان به ئې لاندې باسي. خو که غره طرفته ته اوګرځې نو د دوئ شا به مضبوطه شي. او دا شان مسلمانان به ګټه بیاموي. کله چې سحر شو. او هغه وخت راغې. نو مسلمانانو ته حضرت عمرؓ د مونځ د پاره د راجمع کیدو اعلان اوکړو. کله چې مسلمانان راجمع شول. نو حضرت عمرؓ د تقریر د پاره پاڅید او وې فرمائیل چې "اے خلقو! ما دغه دواړه لښکرې اُولیدې." او دې نه پس ئې خپل خوب هغوئ ته بیان کړو. په دغه دوران کښې حضرت عمرؓ په اُوچت آواز چغه کړه

"ساریه بن زنیم! غر طرفته اُوګرځه. غر طرفته!"

بیا ئې خلق مخاطب کړل. "چې د الله لښکرې شته. شاید چې په هغوئ کښې څوک زما دا خبره مسلمانانو ته اُورسوی."

هم په دغه وخت ساریهؓ خپل فوځ غره پله اوګرځوؤ. او د دښمن سره ئې یو اړخیز جنګ اُوکړو. ډیر سپایان ئې ورله قتل کړل. او دا رنګ مسلمانانو دغه جنګ اُوګټو". (۸۴)

دې جنګ کښې مسلمانانو ته بې حسابه مال، سره او جواهرو په غنیمت کښې لاسو ته راغلل. په دغه غنیمت کښې د جواهرو یوه ډکه ټوکرۍ هم مسلمانانو ته په ګوتو راغله. حضرت ساریهؓ دغه ټوکرۍ د مجاهدینو نه هبه کړه. او د فتح د زیرې سره ئې حضرت عمرؓ ته را اُولیږله." (۸۵) ولې هغه قبوله نۀ کړه.

== ☆☆☆ ==

پنځم سعد دے اے یاره

بیا شپږم سعید و شماره (۸٦)

حضرت سعد بن ابی وقاص زمونږ د خوږ نبیؐ نزدې رشته دار او جان نثار صحابی وو. په ډیرو اسلامی جنګونو کښې ئې برخه اخستې وه. دے د هغه لسو اصحابو کرامو نه یو دے. چاته چې په دُنیا کښې د جنت زیرے ورکړے شوے وو.

خوشحال بابا د حضرت سعدؓ نامه په دغه ضمن کښې په پنځم نمبر راویستې ده. لکه څنګه چې د پورته ورکړے شوی شعر نه ښکاره ده.

## حضرت سعد بن ابی وقاصؓ:

د حضرت سعد بن ابی وقاصؓ کنیت ابو اسحاق وو. د پلار نوم ئې مالک او کنیت ئې ابو وقاص وو. دوئ د سعد بن مالک په ځائے د سعد بن ابی وقاصؓ په نوم شهرت درلودو.

حضرت سعد بن ابی وقاصؓ د ۵۹۳ء په آخر کښې د رنګ و بو دُنیا ته تشریف راوړو. دوئ په رشته کښې د حضورؐ ماما کیدۀ. حضرت سعدؓ فرمائی چې ما د اسلام راوړلو نه وړاندې یوه شپه خوب اُولیدو. خوب کښې وینم چې یوه روښانه سپوږمی را اُوخته. زۀ ددغې سپوږمی د رانیولو په هڅه کښې روان شوم. او سوچ کووم چې داسې به څوک وی چې هغوئ زما نه ددغې سپوږمی په رانیولو کښې وړاندې شی. دغې فکر او سوچ کښې روان یم. څه ګورم چې حضرت زید بن حارثؓ حضرت علیؓ او حضرت ابوبکرؓ مې اُولیدل. ما ترې تپوس اُوکړو چې تاسو دلته کله را رسیدلی یئی. هغوئ ځواب راکړو. چې مونږ دا دې اوس اوس را اُورسیدو. (۸۷)

ددې خوب نه لږې ورځې پس حضرت سعدؓ د حضورؐ سره د اجیاد په تنګی کښې اُولیدل. او اسلام ئې قبول کړو. دغه وخت د هغه عمر اوولس کاله وو.

د حضرت سعدؓ مور حمنه د ابو سفیان بن اُمیه لور وه. کله چې هغه د خپل زوئے د اسلام نه خبر

شوه. نو خوراک څښاک ئې پريښودل. هغه د خپلې مور ډير منونکے او تابعدار وو. دا د هغه د پاره د سخت ازميښت وخت وو. يوه ورځ ورته مور اووئيل چې که ته خپل دين ته واپس نه شوے. نو زۀ به هم دغسې په لوږه تنده کښې ځان اُووژنم. (۸۸)

حضرت سعد بن ابی وقاصؓ ورته ځواب ورکړو. چې مور که ستا دغسې زر ساکانې وې. او زر ځله مړۀ کيدلې. نو هم به زۀ د خپل دين نه واپس شوے نه وے. (۸۹)

حضرت سعدؓ په ډيرو جنګونو کښې د خپلې تورې زور ښکاره کړے دے. د بدر په غزا کښې دے پلے وو. خو د سورو سره ئې تورې ماتولې. د اُحد په جنګ کښې چې کله د مسلمانانو ګته په ماتے کښې بدله شوه. نو دغه وخت هم حضرت سعدؓ لکه د غر پخپل ځائے کلک ولاړ وو. حضورﷺ ورته فرمائيل اے سعدؓ غشی ولۀ زما مور پلار دې په تا قربان وی. (۹۰)

کله چې حضرت ابوبکرؓ خليفه شو. نو سعدؓ ئې فوراً په لاس بيعت اوکړو. او هغه دے د هوازن عامل اوټاکلو. دغه رنګ کله چې حضرت عمرؓ د مسلمانانو خليفه شو. نو هغه د عراق مهم پله توجه اُوکړه. دغه وخت د سرلښکرۍ د پاره ډيرې نامې تجويز شوې. خو ټولو مسلمانانو دحضرت سعد بن ابی وقاص په نوم اتفاق اُوکړو. (۹۱)

د حضرت عثمان په دور کښې حضرت سعدؓ په دويم ځل د کوفې والی مقرر کړے شو. خو درے کاله پس چې دهغه د بيت المال د مهتمم سره اختلافات پيدا شول. نو ددغې عهدې نه لرې کړے شو. (۹۲)

د حضرت عثمانؓ د شهادت نه پس ئې د حضرت علیؓ په لاس بيعت اُوکړو. خو د ملکی معاملاتو نه ئې ځان په ډډه اوساتلو. کله چې حضرت علیؓ د حضرت طلحهؓ او حضرت زبيرؓ د مقابلې د پاره خلق ميدان ته راويستل. نه حضرت سعدؓ ته ئې هم د ملګرتيا د پاره وينا اُوکړه. هغه ورته اوفرمائيل. "ماله د جنګ د پاره داسې توره راکړه. چې هغه د مسلمان او کافر په مينځ کښې تميز کولے شی." (۹۳)

د هغه قد دنګ لوړ وو. غوښن اندامونه ئې لرل. د لوئے سر او مضبوطو ګوتو مالک وو. په ګتکو به ئې خدائے يادولو. د الله ويره، حب رسول، زهد و تقویٰ او خاکساری د هغه سپيځلی صفتونه وو. د شپې په اخری

برخه کښې به ئې په مسجد نبوی کښې عبادت کولو. د سر لښکری او امارت نه چې فارغ شو. نو اوښان او بیزې به ئې څرولې. د احادیثو په بیانولو کښې ډیر زیات محتاط وو. د مدینې نه لس میله لرې د عقیق په مقام کښې ئې شاړه زمکه واخسته. او د زمیدارۍ کار ئې پرې شروع کړو. (۹۴)

په ۵۰هـ کښې چې د هغه عمر ۷۰ کاله وو. د اجل فرشتې ته ئې هر کلے اُووې. دغه وخت د هغه سر مبارک د خپل زوئے مصعب په غیږه کښې وو. د وفات نه پس د هغه مړے ئې مدینې ته راوړو. مروان الحکم د مدینې والی ئې جنازه اُوکړه. په جماعت کښې ازواج مطهرات هم په جنازه کښې شریکې شوې. او بیا ئې په ډیر احترام په بقیع کښې خاورو ته اوسپارلو. (۹۵)

== ☆☆☆ ==

پنځم سعد دے اے یاره

بیا شپږم سعید وشماره (۹۶)

حضرت سعیدؓ د هغه کسانو څخې یو دے. چا چې د اسلام په وړومبنو ورځو کښې د ایمان قبولولو شرف حاصل کړے دے. دویٔ هم د عشره مبشره نه دی. او خوشحال بابا ئې ددغې لوئې اعزاز یادونه په دغه پورته شعر کښې کړې ده.

## حضرت سعید بن زیدؓ:

"کنیت ئې ابوالاعور وو. د پلار نامه ئې زید او مور ئې فاطمه نومیده. د نسب سلسله ئې دا رنګې ده. سعید بن زید بن عمرو بن نفیل بن عبدالعزیٰ بن ریاح بن قرظ بن زراح بن عدی بن کعب بن لوی بن غالب القرسی." (۹۷)

"څنګه چې خوږ نبیؐ د نبوت دعویٰ وکړه. نو حضرت سعیدؓ فوراً په دغه

دعوت لبیک اُووې او د خپلې کور ودانې فاطمهؓ بنت خطاب سره ئې ایمان راوړو. دغه وخت لا "دار ارقم" هم د اسلام د دعوت مرکز نه وو ګرځیدلے چې دوئ مسلمانان شول." (۹۸)

"د حضرت سعیدؓ کورودانې ددۀ ترله وه. او د حضرت عمرؓ بن خطاب سکه خور وه. کله چې حضرت عمرؓ د دوئ دواړو د ایمان راوړلو نه خبر شو. نو ډیر زیات غصه شو. او هغوئ ئې دومره اُووهل چې په وینو ئې رنګ ښنګ کړل. بخاری د حضرت سعید بن زیدؓ د خولې وینا رانقل کوی. فرمائی چې کله حضرت عمرؓ لا مسلمان شوے نۀ وو. نو هغوئ به زۀ اُوتړلم. او په زمکه به ئې هم دغسې اُوغورځولم." (۹۹)

"حضرت سعید بن زیدؓ په هغه مهاجرینو کښې شماریږی. چا چې د مکې نه مدینې ته حضورؐ د هجرت کولو نه پس سمدستی هجرت کړے وو. دوئ په مدینه کښې د نارفاعه بن عبدالمنذرؓ انصاری میلمانه شول. او ابی بن کعب ئې اسلامی ورور جوړ کړے شو." (۱۰۰)

"د جنګ بدر نه علاوه ئې نورو ټولو غزاګانو کښې برخه اخستې ده. خو په کتابونو کښې د دوئ په حقله څۀ مهمه واقعه نه دۀ رانقل شوې. دغه رنګ په عهد صدیقی کښې هم د دوئ په بابله څه خاص واقعه په نظر نه راځی. البته په عهد فاروقی کښې چې په شام باندې د حملې تابیا کیدله. نو دوئ ئې د پیدل فوځ په نګرانی باندې اوټاکل. دغه شان د دمشق او یرموک په جنګونو کښې ئې لویه بهادری او قربانی ښکاره کړه. په کتابونو کښې دی. چې ابو عبیدهؓ دوئ ته د دمشق ګورنری سپارلې وه. خو د دوئ د جهاد سره دومره مینه وه. چې دغه عهده ئې قبوله نه کړه. او ابو عبیدهؓ ته ئې خط ولیکلو

چې زۀ دومره قرباني چرته ورکولې شم. چې تاسو دې جهاد کوئ، برکتونه او ثوابونه دې گټئ او زۀ دې ددغه اجر و ثواب نه محروم پاتے شم. ځکه نو چې څنګه دا خط در اُورسی نو زما په ځائې بل څوک گورنر مقرر کړئ. او ماته اجازت وکړئ چې زۀ ستاسو خواته زر تر زره در اُورسم. کله چې دغه خط ابو عبیدهؓ اولوستلو. نو مجبوراً ئې یزید بن ابی سفیانؓ د هغه په ځائې د دمشق گورنر اوټاکلو. او سعید بن زیدؓ میدان جهاد ته راغلو."(۱۰۱)

"د شام د فتح نه پس چې سعید بن زیدؓ مدینې ته واپس تشریف راوړو. نو د عقیق په مقام ئې ځانله کور جوړ کړو. او پاتې شوې ژوند ئې په آرام تیرولو. یوه ورځ ناڅاپې هغوئ ته د معدې تکلیف شروع شو. او دغې تکلیف هغوئ د مرګ غیږ ته یوړل. دا ۵۱هـ یا ۵۲هـ کال وو. چې هغوئ ددې فانی دُنیا نه رحلت وکړو." (۱۰۲)

"حضرت سعید بن زیدؓ په مختلفو وختونو کښې نهه ودونه کړی وو. ددغه بیبیانو او وینځو نه د هغوئ دولس زامن او شپاړس لونه کتابونو رانقل کړی دی." (۱۰۳)

== ☆☆☆ ==

د بوذرؓ او د سلمانؓ ئے درویز کر یم
تل د دوئ په محبت دے زما ژواک (۱۰۴)

☆

نه دے قسیس رهبان قائم په خپل دین ومذهب کښے
نه زر قیسس رهبان نه یو سلمانؓ د محمدؐ (۱۰۵)

وړومبی شعر کښې خوشحال بابا د ابو ذر غفاریؓ سره د حضرت سلیمانؓ فارسی نامه راوړې ده. وائی چې زۀ د دغو دواړو اصحابو د در گدا یم. زۀ پرې میئن یم. او په مینه ئې پایم. دویم شعر کښې د حضرت سلمان فارسیؓ شان بیانوی. چې زۀ د قیسس زر رهبان په یو سلمان فارسیؓ نه بدلوم. ځکه چې هغوئ متلّون مزاجه دی. په خپل دین و مذهب قائم پاتې کیدونکی نه دی. او د هغوئ په مقابله کښې حضرت سلمان فارسیؓ دے. چې د بې انتها مشکلاتو باوجود ئې د حضرت محمدؐ د دین رسی پرینښوده.

## حضرت سلمان فارسیؓ:

د دوی کنیت ابو عبدالله دے. او د حضورؐ آزاد کړې شوې غلام دے. د فارس د ښار "را مهرمز"اوسیدونکے وو. آتش پرست وو. پلار ئې د اُور پرستو د عبادت خانې منتظم وو. حضرت سلمان فارسیؓ د ډیرو راهبانو په مجلسونو کښې پاتې شوې وو. خو د آتش پرستی نه بیزاره شوې وو. ځکه ئې دغه دین پریښود او د دین حق په لټون کښې د کوره اُووت. او د عیسایانو سره ئې مېشته اختیار کړه. اثر پرې اوشو او عیسائی شو. بیا ډاکوانو اونیؤ او دا رنګ د غلام په توګه ئې خرڅ کړو. پرله پسې لسو کسانو خپل غلام جوړ کړو. کله چې حضورؐ مدینې ته تشریف راوړو. نو دے دغه وخت دیو یهودی غلام وو. هر کله چې مسلمان شو نو حضورﷺ دے واخستو او آزاد ئې کړو.

په جنګ خندق کښې د مدینې منورې د ښار نه چاپیره د خندق کستنولو مشوره هم دوئ ورکړې وه. دے یو ډیر متور انسان وو. انصارو او مهاجرینو ټولو د دوئ سره بې کچه مینه درلودله. انصارو به وئیل چې

سلمانؓ زمونږ نه دے او مهاجرو به وئیل چې سلمانؓ زمونږ نه دے. حضورؐ په دوئ ډېر زیات مهربانه وو. هغویؓ چې دا واوریدل نو وې فرمائیل "چې سلمانؓ زمونږ نه دے" او دا شان ئې سلمانؓ په اهل بیتو کښې شمار کړو. حضورؐ سلمانؓ د عقد مواخات په موقع د حضرت ابوالدرداؓ ورور جوړ کړې وو. د دوئ شمار په اکابرو صحاباؓ کښې کېږي. ډیر زیات عبادت گزار، زاهد او متقی انسان وو حضرت علیؓ به فرمائیل چې سلمان فارسیؓ په علم اول هم پوهېدو او علم آخر هم پوهېدو. او هغه د اهل بیتو نه وو. په احادیثو کښې د هغهٔ ډېر زیات فضائل او مناقب ذکر دی.

ابونعیم فرمائی چې هغه ډېر زیات عمر موندلې وو. د ځنو قول دے. چې هغه درې نیم سوه کاله ژوندې وو او په دوه نیم سوه کاله خو ټول مؤرخین یوه خُله دي.

کله چې مرگ ته نزدې شو نو حضرت سعدؓ او حضرت عبدالله بن مسعودؓ ئې تپوس له لاړل. حضرت سلمان فارسیؓ په ژړا شو. هغوئ د ژړا وجه اُوپوښتله. نو حضرت سلمان فارسیؓ اووئېل چې حضورﷺ مونږ ته وصیت کړې وو. چې تاسو په دُنیا کښې د ځان سره دومره قدرې سامان ساتئ ځومره چې یو مسافر د سفر په دوران کښې د ځان سره ساتی. ولې افسوس دے چې ما په وصیت عمل اُونکړې شو. ځکه چې زما ځخه ددې نه لږ زیات سامان دے.

ځنې مؤرخین د دوی د وفات کال ۱۰ رجب ۳۳هـ یا ۳۴هـ یادوي. مزار مبارک ئې په مدائن کښې دے. (۱۰۶)

== ☆☆☆ ==

ورپسے طلحہؓ زبیرؓ دے
خپل وجود ئے دے نه غیر دے (۱۰۷)

خوشحال بابا دے شعر کښې د حضرت زبیرؓ سره د حضرت طلحہؓ نامه راوړې ده. حضرت طلحہؓ په هغه اته کسانو کښې دے. چې وړومبنی مسلمانان دی. دهٔ د حضرت ابوبکرؓ د تبر سره هجرت کړے وو. او په مدینه کښې مشهور صحابی زبیر بن العوام ددهٔ اسلامی وررور جوړ کړے شوے وو. هم په دغه تناظر کښې خوشحال بابا وائی چې طلحہؓ او زبیرؓ خپلو کښې د یو وجود په شان دی. څه که هم ددې دواړو اصحابو ذکر خوشحال بابا د عشره مبشره په ترڅ کښې کړے دے. خو داد خوشحال بابا د ژورې دینی مطالعې غمازی کوی چې دوئ دواړه ئې د عشره مبشره په هار کښې د اسلامی وررولۍ په مزی هم تړلی دی.

## حضرت طلحہؓ:

حضرت طلحہؓ قریشی تیمی دے. سلسله نسب ئې څه دا رنګ دے. طلحه بن عبید الله بن عثمان بن سعد بن تیمم بن کعب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر بن مالک بن نغر. د مور نامه ئې صحبه بنت عبدالله بن مالک بن خضر ده.

د حضرت طلحہؓ کنیت ابو محمد وو او طلحه الخیر، طلحه الجواد او طلحه الفیاض ئې القابات وو.

دوئ په وړومبنو مسلمانانو کښې دی. د حضرت ابوبکرؓ په تلقین ئې اسلام قبول کړو. په عشره مبشره کښې دے. او په هغه شپږ اصحابو کرام کښې دے. څوک چې عمر فاروقؓ د خلافت اهل ګڼل. (۱۰۸)

حضرت طلحہؓ د جنګ بدر نه وړاندې حضورﷺ د شام سرحد ته لیږلے وو. چې د هغه ځائے حالات معلوم کړی. هم له دې وجې هغه په جنګ بدر کښې نهٔ وو شریک شوے. خو حضورﷺ ورله برابر برخه ورکړې وه. په جنګ اُحد کښې ئې ډیره بهادری ښودلې وه. د حضورﷺ د حفاظت د پاره سینه ډهال کړے ولاړ وو. یوه نیزه ئې په خپل لاس واخسته. چې لاس ئې شل شو. (۱۰۹)

د غزوه اُحد نه پس په غزوه احزاب او نورو تولو غزواتو کښې هغوئ د يو پرُجوش مجاهد په حيث گډون کړے دے. په غزوه خيبر کښې خو د هغه اُوښ د حضورﷺ د اُوښ سره څنګ په څنګ روان جنګيدو. او د مکې د فتحې په موقعه هم د حضورﷺ سره همرکاب وو. (۱۱۰)

د حضرت طلحهؓ شمار په جليل القدر صحابه کرامو کښې کيږي. د دوئ د علم و فضل او کمال يو جهان معترف وو. هم دا وجه ده چې محدثينو دوئ په فضلاء اصحابو کښې شامل کړی دی. اګر چې هغوئ د خوږ نبیﷺ په صحبت کښې په کلونو کلونو پاتې شوی دی. ولې د احاديث د روايت کولو په ترڅ کښې ئې د ډير احتياط نه کار اخستو. او صرف دوه نوی احاديث د دوئ نه مروی دی. (۱۱۱)

"په جنګ جمل کښې د حضرت عائشهؓ کلک مرستيال وو. هم ددغه جنګ په دوران کښې يو نامعلوم غشی ويشتونکی حضرت طلحهؓ بن عبيدالله شهيد کړو. حضرت علیؓ ته د دوئ په شهادت ډيره لويه صدمه اُورسيده. هغوئ د حضرت طلحهؓ د مړی خوا له تشريف راوړو. د هغه د مخ اؤ ږيرې نه ئې دوړې پاکې کړې. د هغه د پاره ئې د مغفرت دُعا وغوښته. او بيا ئې اوفرمائيل. "چې کاش زۀ د نن نه شل کاله وړاندې د دُنيا نه تلے وے."
(۱۱۲)

== ☆☆☆ ==

بيا ابو عبيده نهم دے
بيا عبدالرحمٰن لسم دے (۱۱۳)

حضرت عبدالرحمٰن بن عوف د هغه نيکمرغه صحابيانو څخې يو دے. په چا چې په دُنيا کښې د جنت زيرے شوے وو. خوشحال بابا هم د عشره مبشره په لړ کښې ياد کړے دے. او د حضرت عبدالرحمٰن بن عوف نامه ئې ددغې لړۍ په آخری سر کښې راويستې ده.

## حضرت عبدالرحمٰن بن عوفؓ:

ددے جنتی صحابه نامه عبدالرحمن او کنیت ئې ابو محمد وو. د پلار نوم ئې عوف وو. د نسب سلسله ئې دا رنګ ده. عبدالرحمٰن بن عوف بن عبد عوف بن عبد بن حارث بن زهره بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی القرشي الزهری.

د مور نامه ئې شفا بنت عوف بن عبد بن حارث بن زهره وه. ددهٔ د مور پلار دواړو تعلق د بنو زهره قبیلې سره وو. (۱۱۴)

حضرت عبدالرحمٰن بن عوف فرمائی چې د اسلام نه وړاندې زما نوم عبد عمرو وو. خو کله چې مسلمان شوم نو حضورﷺ زما نامه عبدالرحمن کېښوده. (۱۱۵)

> "حضرت عبدالرحمٰن بن عوفؓ د حضرت ابوبکرؓ نه دوه ورځې پس ایمان راوړو. او د اسلام راوړو نه پس ئې ډیر تکلیفونه او سختې برداشت کړے. حبشې ته ئې د نورو مهاجرینو اصحابانو سره هجرت وکړو. او د حبشې نه چې واپس مکې ته راغے. نو خوږ نبیؐ ورته مدینې پله د هجرت کولو حُکم وکړو. په مدینه کښې ئې سعد بن ربیعؓ ددهٔ اسلامی ورور جوړ کړو. (۱۱۶)

حضرت عبدالرحمٰن بن عوف په بدر کښې اوجنګیدو. او د عمیر بن عثمان بن کعب سر ئې په توره قلم کړو. په جنګ اُحد کښې زخمی شو یوویشت زخمونه ئې په بدن اُوخوړل. یوه پښه ئې ژوره زخمی شوه ددغې زخم نه ټول عمر ګډ ګډ ګرځیدو. د غزوه تبوک په موقع ئې د خپل کور ټول سامان د الله په لار کښې ورکړو. (۱۱۷)

د حضرت عبدالرحمٰن بن عوفؓ حلیه په کتابونو کښې داسې رانقل شوې ده. دنګه ونه، سور سپین کتابی مخ، اوږده ګرګوتی ویښته چې تر غوږونو به ځانګیده، مضبوطې منګلې غوښنې ګوتې، د مخې دوه غابښونه ئې نه وو. او په جنګ اُحد کښې ئې په پښه زخم خوړلے وو. ځکه نو ګډ وو. (۱۱۸)

هغه په درویشتمه هجری کښې د پنځه اوویا کاله په عمر کښې ددې فانی دُنیا نه لاړ. حضرت عثمان بن عفانؓ ئې جنازه ادا کړه. او په جنت البقیع کښې ئې دفن کړو. (۱۱۹)

== ☆☆☆ ==

د عثمانؓ تونګری، غنا ځای وه
د علیؓ په خرڅیدو واړه کتنه (۱۲۰)

☆

د هغو په مرګ ثواب ګټلے بویه !
چه بدګو ئے د ذی النورین و د حیدر دی (۱۲۱)

☆

عثمانؓ دِ ووژهٔ خونی اسمانُ
علیؓ دِ هم کړ په تیغ بے ځانُ (۱۲۲)

☆

په عثمانؓ باندِ به ښه وایم چه ښو یم
په هزار رنګه مئین یم په حیدرؓ (۱۲۳)

☆

یا ثنا کړئ له سبحانه
یا ثنا کړئ له عثمانهؓ (۱۲۴)

☆

په شامت د شامتیانو

عثمانؓ ووژئ خویښانو (۱۲۵)

حضرت عثمان غنی ذی النورینؓ د حضورﷺ لوئے صحابی او د مسلمانانو دریم خلیفه وو. د دوئ سپیڅلې نامه د اسلام د مهمو واقعاتو سره په څه نه څه شکل کښې ضرور تړلې شوې ده. د صلح حدیبي په آوان د مسلمانانو له خوا هم دوئ کفارو ته د سفیر په حیث لیږلی شوی وو. کاتب وحی وو. د حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ د خلافت په دوران کښې د مشیر خاص په عهده ټاکلے شوے وو. مسجد نبوي دوئ پراخه کړو. او د ګټې او چونې نه ئې جوړ کړو. دوئ ته د قرآن د راجمع کولو اعزاز هم حاصل دے. او د ټولو نه وړاندې د قران حفظ کولو شرف هم د دوئ په برخه رسیدلے دے.

خوشحال بابا پخپل کلام کښې د دوئ ذکر لکه د نورو اصحابو کرام هم کړے دے. ددغه شعرونو نه د حضرت عثمانؓ د تونګرۍ، عظمت، شهادت او ورسره د خوشحال بابا د بې شانه مینې بحثونه مخې ته راځی.

## حضرت عثمانؓ:

حضرت عثمان بن عفانؓ د خلفائے راشدین دریم خلیفه وو. د خوږ نبیﷺ پرله پسې دوه لونه دوی ته نکاح شوې وې. څکه ورته "ذوالنورین" وئیلې شی. د دوئ کنیتونه ابو عبدالله او ابو عمرو وو. د مالدارۍ په سوب به ئې دوئ ته غنی وئیلو. د صحیح قول مطابق د حضرت عثمانؓ ولادت د واقعه فیل نه شپږ کاله پس په ۵۷۶ هجری کښې د طائف په مقام اُوشو. د دوئ د مور نوم ارویٰ بنت کریز وو. څوک چې نسباً د شمس بن مناف د خاندان نه وه. د ارویٰ مور بیضاء بنت عبدالمطلب د حضورﷺ ترور وه." (۱۲۶)

سلسله نسب د حضرت عثمانؓ څه په دا ډول دے.

حضرت عثمان بن عفان بن ابی العاص بن اُمیه به عبدشمس بن عبد مناف قریشی اُموی." د حضورﷺ سره ئې نسب د عبد مناب په واسطه تړلے شی. (۱۲۷)

حضرت عثمانؓ د اسلام په ابتدائی ورځو کښې اسلام قبول کړو. دغه وخت لا حضورﷺ په دار

ارقم کښې پناه نۀ وه اخستې. د حضرت عثمانؓ عمر د دیرېشت کالو نه زیات نۀ وو. حضرت ابوبکرؓ ورته د اسلام دعوت ورکړو او هغه په ډیره خوشحالی قبول کړو. (۱۲۸)

"د حضرت عمرؓ د شهادت نه پس حضرت عثمانؓ مسلمانانو په مشوره سره خلیفه اوټاکلو، دوئ دولس ورځې کم دولس کاله خلافت اُوکړو او په دغه دوره کښې ئې په څلور څلویښت لکه مربع میل رقبه باندې اسلامی خلافت ته دوام ورکړو. د دوئ په دور خلافت کښې اسکندریه آذر بائیجان، د افریقې څنې ملکونه، د قبرص جزیره او نور ډیر لوئې لوې سلطنتونه د مسلمانانو په ولقه کښې راغلل. دغه رنګ د خراسان، نیشاپور، هرات، شیراز او د ایران نورې علاقې هم د حضرت عثمانؓ په دور کښې فتح شوې. (۱۲۹)

د جهاد بالمال په لړ کښې حضرت عثمانؓ ډیره نامه لرله. د تبوک په جنګ کښې ئې نهه نیم سوه اوښان د پوره سامان سره او نقد یو زر دینار ئې په چنده کښې ورکړل. هره جمعه به ئې یو غلام آزاد ولو. کوم وخت چې د باغیانو محاصره کښې وو. دغه دوران کښې ئې هم شل غلامان آزاد کړل. (۱۳۰)

د خپل خلافت په دولسم کال باغیانو د هغوئ د کور محاصره اوکړه. اُوبه ئې پرې بندې کړې او د کور لوئې دروازې ته ئې اُور واچوؤ. په کور ورننوتل، یو کس په حضرت عثمانؓ د تورې ګزار اُوکړو. بی بی ئې د بچ کولو د پاره رامخکښې شوه. دغه دوران کښې د هغې درې ګوتې پریک شوې. یو بل کس حضرت عثمانؓ په تندی اُووهلو او د وینې دارې ئې د قرآن په پاڼو پریوتلې. لاش مبارک ئې تر درې ورځو پورې بې کفنه پروت وو. بیا څو کسانو په غلام کفن دفن کړو. (۱۳۱)

د دوئ د شهادت نیټه ۱۸ ذی الحجه ۳۵ هجری ده. (۱۳۲)

د حضرت عثمانؓ جنازه جبیر بن مطعمؓ اُوکړه. عبدالله بن زبیرؓ د شپې په تیاره کښې په جنت البقیع کښې خاورو ته اُوسپارو. (۱۳۳)

== ☆☆☆ ==

د عثمانؓ تونګری غنا څائي وه
د علیؓ به خرڅیدو واړه ګتنه (۱۳۴)

☆

چه په جنګ کښې د علیؓ له لوریه ومړل
په هغو بانډ ګواهي وُله چه مرحوم دی (۱۳۵)

☆

که نور په نورو چارو جلی ستایم
زۀ به د تورو په کار علیؓ ستایم
وروړ د رسولﷺ دے ورباندِ ښائي
که ئے له فرقه بیا تر تلی ستایم (۱۳۶)

☆

عثمانؓ دِ وژۀ خونی اسمانَ
علیؓ دِ هم کړ په تیغ بے ځانَ (۱۳۷)

☆

چه ئے له چا ګڼے لا تۀ ولی نۀ ئے
کامل د خدائے په پیژاندګلی نۀ ئے
احوال ئې وګوره په تواریخ کښې
خوشحاله صبر کړه بِه تر علیؓ نه ئے (۱۳۸)

☆

چې یې نوم علي حیدرؓ دی
وروړ و زوم د پیغمبرؑ دی (۱۳۹)

☆

فاطمهؓ باندې اختر ؤ
چې علیؓ ددې شوهر ؤ
چې لیدلی یې چا مخ ؤ
د علي په هغو سخ ؤ
شیر د خدای علي حیدرؓ دی
په هر ځای ددۀ ظفر دی (۱۴۰)

☆

مرتضیٰ په خپل نوبت کښې
په خپل عهد خلافت کښې
یوه ورځ ورته چا ووې
شپه او ورځ په قرار نه وې
چې خوب د مرتضیٰ دی
هغه کس ته خواب دا دی
که د ورځې زۀ آرام کړم
سکه د خلکو کار به خام کړم
که په شپه خپل فراغت کړم
سکه ضائع به آخرت کړم (۱۴۱)

☆

که پکار دِ ده د خدائے پیژندګلی
پیروی د محمدﷺ کړه د علیؓ
هر ایت چه به راته پاسه له عرشه
لا په عرش به ئې علیؓ وه متلی
محمدؐ چه هغه راز ئې په معراج کړ
یکایک وه و علیؓ وته جلی
محمدؐ، علیؓ چه دوه وینی په سترګو
په دا کار کښې احولی ده احولی
د زړه زنګ په بل صیقل نه لرے کیږی
په دوستئ ئے د علیؓ ده مصقلی
که دا هومره ویل کا ورته رخصت دے
محمدؐ دے پیغمبر علیؓ ولی
چه په بغض د علیؓ یا عمرؓ دی
رافضی دی خارجی دی خللی
د علیؓ د ال دوستی د ایمان زړه دے
څوک دِ شک په دا په زړه نه راولی
د علیؓ د آل په مدح کښې جنت دے
د خوشحال خټک په دا ده تسلی (۱۴۲)

☆

د هغه په مرګ ثواب ګټلے بویه!
چه بد ګوئے د ذی النورینؓ و د حیدرؓ دی (۱۴۳)

☆

پہ ولا کہ د علیؓ رافضی کیږی

سکه خوشحالؔ ئے پہ ولا کښے مشخص (۱۴۴)

دغه زیر نظر شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت علیؓ درانهٔ نامه راوړي ده. چې پکښې د هغوئ سره د مینې د اظهار نه علاوه د حضرت علیؓ شان او رتبه هم بیان کړې شوې ده. ددې نه پرته ددې شعرونو نه دا خبره هم را ډاګې ته کیږی چې خوشحال بابا د اهل تشیع د عقائدو نه په ډیره ښه توګه خبر وو. او په دغه لړ کښې ئې ژوره مطالعه هم لرله.

## حضرت علی مرتضیؓ:

خپل نوم ئې "علی"کنیت ئې ابو الحسن او ابو تراب لقب ئې حیدر او خطاب ئې امیر المومنین وو. دوئ د مسلمانانو څلورم خلیفه او خوږ نبیﷺ د تره زوی نه علاوه زوم هم وو. په ظاهری او باطنی علومو کښې کامل وو. د صوفیانو اکثر سلسلې هم د دوئ نه شروع کیږی. (۱۴۵)

حضرت علیؓ د عیسوی کال مطابق په ۵۹۸ کښې په مکه کښې پیدا شو. دوئ د حضرت محمدؐ د تره ابو طالب زوے وو. او دا شان د نسب سلسله ئې یوه ده. (۱۴۶)

د دوئ د پلار ګڼ اولاد وو. څکه نو د حضرت علیؓ پالنه د حضور نبی کریمؐ په کهاله کښې اُوشوه. په ډیره کم عمرۍ کښې ئې ایمان راوړو. د هجرت په شپه د حضورﷺ په بستر څملاست. چې کافران د حضورﷺ د هجرت د منصوبې نه بې خبره پاتې شی. په کاتبین وحی کښې یو نوم د حضرت علیؓ هم دے. دوئ د تبوک نه علاوه په نورو ټولو غزاګانو کښې برخه اخستې وه. د خیبر قلعه هم د دوئ په لاس فتح شوې وه. اللہ تعالیٰ په ډیر لوئے زور او طاقت نمانځلے وو. چې چا سره ئې مقابله کړې ده. نو مخالف ئې راپرځولے دے... په علم کښې ئې ثانی نه لرلو. د حضرت ابوبکرؓ، حضرت عمرؓ او حضرت عثمانؓ سره ئې د هغوئ د خلافتونو په

دوران کښې مرسته کړې ده. او په اهمو مذهبي او سیاسي کارونو کښې ئې غوره مشورې ورکړې دي.

د حضرت عثمانؓ د شهادت نه پس د باغیانو اؤ د مدینې د خلقو په بیا بیا وینا خلیفه شو. خو د حضرت عثمانؓ د قصاص غوښتونکوا و د امیر معاویهؓ په وجه فساد راپورته شو. چې په نتیجه کښې ئې امیر معاویهؓ په شام کښې د خپل خلافت اعلان اوکړو. معامله ګنجلکه شوه او خبره د جنګ جمل او جنګ صفین پېښو ته اُورسیده. دې دواړو جنګونو کښې د ډیرو مسلمانانو وینې توې شوې. هم دې زمانه کښې د خوارجو ډله مینځ ته راغله. او د ثالثۍ په مسئله د حضرت علیؓ نه باغیان شول. خلافت دوه ټوټې شو. عراق، نجد اوحجاز کښې د حضرت علیؓ خلافت قائم شو. او په شام کښې سره د خواء شا علاقو امیر معاویهؓ خپل خلافت ته دوام ورکړو. حضرت علیؓ دغه وخت دارالحکومت د مدینې نه کوفې ته راوړو. او هم هلته د سحر په مونځ کښې عبدالرحمٰن بن ملجم په زهر لړلې چاړه شهید کړو. مزار ئې په نجف کښې دے. د خلافت زمانه ئې څلور کاله نهه میاشتې او څو ورځې ده. (۱۴۷)

رسول اللهؐ به اکثر فرمانونه او خطونه په حضرت علیؓ لیکل. هغه قرآن یاد کړے وو. د هغه خطبې د فصاحت او بلاغت سمندرونه دي. د مقدمو په فیصله کولو کښې ئې لوئے قدرت لرلو. د بهادرۍ ئې عجیبه شان وو. بدر کښې لا ډیر وړوکے وو. چې د ولید غوندې لوئے کافر ئې د مرګه تیر کړو. په خیبر کښې ئې د مرحب قصه غوځه کړې وه. ژوند ئې په زهد او په تنګۍ کښې تیر وو. خو چرته هم بې صبره شوے نه وو. د خپلې مزدورۍ پیسې به ئې عموماً په بې وسو او غریبو ویشلې. خپله به وږے وو. خو په نورو وږو به ئې ډوډۍ خوړله. د اوچتو اخلاقو څښتن وو. د دښمنانو سره ئې هم ښۀ سلوک کولو. عبادت ګزار وو. ټوله شپه به ئې عبادت کولو. او الله ته به ئې ژړل." (۱۴۸)

== ☆☆☆ ==

بل امام علی رضا دے
محمد تقی بل بیا دے (۱۴۹)

## حضرت علی رضا (امام):

"دوئ د حضرت موسیٰ کاظمؓ صاحبزاده او جانشین وو. په یولسم ربیع الاول د زیارت په ورځ ۱۵۳هـ کښې زیږیدلے وو. د مور نامه ئې تحمینه ده. دوئ په علم و فضل او زهد و تقویٰ کښې خپل ثانی نۀ لرلو. او په شریعت و طریقت کښې بې مثاله وو. لوئې لوئې عالمان او فاضلان د دوئ له مجلسه د علم و ادب خوشه چین وو. حضرت معروف کرخی د دوئ په لاس مسلمان شوے اؤ په اعلیٰ رتبه سرفراز شوے وو. خلیفه مامون الرشید د خپل جلالت او سطوت باوجود دوئ سره دومره عقیدت لرلو چې پښې ابله پښې به ئې خدمت ته حاضریدو." (۱۵۰)

ښکاره ده چې مامون ددې هدف په تر لاسه کولو کې په دې برلاسی کیده چې په اسانی سره امام له مینځه یوسی. نو ځکه یې امام له "مدینې" نه "مرو" ته حاضر کړ او په لومړی ځل کتنه کې یې ورته خلافت او بیا وروسته ولیهدی وړاندیز وکړ. خو امام معذرت وغوښته بیا بالاخره په هر ترتیب چې وه ویې منله او د امام شرط دا ؤ چې په حکومتی کارونو او د مامورینو په تقرر او لرې کونه کې به لاس نه وهی او په دې توګه "ولیهدی"یې و منله. (۱۵۱)

"دا پیښه په (۲۰۰) هجری کال کې وشوه. خو له څه مودې وروسته عام وګړی او دولتی کار کونکی او لښکریان امام ته رامات شول. نو د مامون خپلو تیروتنو ته پام شو. نو امام یې مسموم او شهید کړ." (۱۵۲)

"د دوئ وفات په نهم رمضان المبارک ۲۰۸هـ کښې اُوشو. او په طاؤس ښهر کښې د هارون الرشید د قبر سره دفن کړے شو. د دوئ د نسب سلسله د پنځه زامنو نه روانه شوې ده. چې حضرت امام تقیؓ پکښې زیات شهرت حاصل کړے دے." (۱۵۳)

== ☆☆☆ ==

بل امام علی نقی دے

بل حسن عسکری دے (۱۵۴)

## حضرت علی نقی (امام):

حضرت امام علی نقیؓ د حضرت امام علی تقیؓ صاحبزاده او جانشین وو. خپل نوم ئې علی نقی وو. د دوئ کنیت ابو الحسن او لقب ئې هادی وو. د دوئ مور بی بی شماثه اُم فضل بنت مامون رشید وه.

حضرت امام علی نقیؓ په ۱۳ رجب ۲۱۴هـ کښې په مدینه منوره کښې زیږیدلے وو. د انتهائی علم و فضل او زهد و تقویٰ له کبله د خپل عهد مرجع خلائق وو. خلیفه وقت متوکل باالله د دوئ ډیر لوئې عقیدت مند وو. او اکثر به ئې په خدمت کښې حاضر وو. او د دوئ له صحبته ئې ډیر فیض حاصل کړے وو. (۱۵۵)

متوکل د راتول شویو اطلاعاتو له مخې په ۲۴۳ هجری کال خپل یو دولتی مامور ته لیک وسپاره چې امام دې د خلافت مرکز "سامرا"ته راشی. لیک په درناوی کښل شوی ؤ او له امام سره د لیدو کتنو بلنه هم پکې وه. خو بیا وروسته یې د امام د سپکاوی لپاره له هر ډول وسیلې کار اخیسته او کور یې تر څارنې لاندې ؤ. د متوکل په زمانه کې په حجاز کې پرعلوی ساداتو ډیره تنگسه وه. او حالات تردې حده رسیدلی وو چې ښځو یې د اغوستو او ستر جامې نه درلودې او هغوی چې زوړ پړونی درلود، په نوبت به یې نمانځه ته اغوسته. (۱۵٦)

دغسې په مصر کې د علوی ساداتو حال هم ؤ. امام د متوکل د ربړونو په وړاندې زغم کاوه. تر دې چې متوکل مړ شو. (۱۵۷)

حضرت امام علی نقیؓ د مستنصر باالله (خلیفه بغداد) په عهد کښې په سامره نومې ځای کښې د کل په ورځ د جمادی الثانی په میاشت ۲۵۴هـ کښې وفات شو. د وفات په وخت د دوئ عمر یو څلویښت کاله وو. (۱۵۸)

"د امام نقی په اولاد کښې څلور زامن او یوه لور شامل دی. چې نامې ئې څه په دا ډول دی. امام حسن عسکری، حُسین، محمد، جعفر او بی بی علیه.

دا تول د یوې مور بی بی سلیل د نوسه زیږیدلی دی۔ په امام باندې د هغه زمانې خلفاء په مدینه او سامراه کښې ډیر ظلمونه کړی وو۔ ولې بیا هم هغه ددغه ظلمونو باوجود خپل یو سل پنځه اتیا شاګردانو ته د الله تعالیٰ او د هغه د رسول حقیقی پیغام ښودلے هم وو او هغوی ئې پرې پوهه کړی هم وو۔" (۱۵۹)

== ☆☆☆ ==

د فرقان په هدایت فاروق پوهیږی
نه بوجهل بولهب ته هدایت کا (۱۶۰)

☆

چه په سب د ابوبکرؓ د عمرؓ دی
که په خوله کلمه لولی هم کافر دی (۱۶۱)

☆

چه په بغض د علیؓ یا د عمرؓ دی
رافضی دی خارجی دی خللی (۱۶۲)

☆

ابابکرؓ سره هیڅ نه وُ بادشاه وه
که عمرؓ د خزانو وه په ساتنه (۱۶۳)

☆

که په مینه د صدیقؓ ولاړ صادق یم
هسے ماګنړه په مهر د عمرؓ (۱۶۴)

☆

چې بانی د احتساب ؤ
عمرؓ زویه د خطاب ؤ
په اسلام چې ارجمند (شه)
د دین کار (وته) څرګند شه (۱٦۵)
په بوبکر دین (روښان ؤ
په عمر بدر کمان ؤ
چې عمر خلافت بیاموند
دین له دهٔ نه قوت بیا موند (۱٦٦)

☆

(بادار، غلام یو برابر) دی
(خلیفه یې) چې عمر دی (۱٦۷)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د اسلام خلیفه ثانی لاثانی حضرت عمرؓ یاد کړے دے. چې پکښې د هغوئ د شان و شوکت او جاه و جلال د بیان سره سره د خوشحال بابا د حضرت عمرؓ سره د مینې او محبت اظهار هم بیاموندې شی.

## حضرت عمرؓ فاروق:

د هجرت نبویؐ نه اُووه دیریشت کاله اګاهو د قریشو د بنی عدی قبیلې دیو سردار خطاب بن نفیل کره یو ماشوم پیدا شو. ددے ماشوم په زیږیدو خطاب ډیره زیاته خوشحالی څرګنده کړه. خپلو بُتانو ته ئې ډیرې نذرانې وړاندې کړے. جشنونه ئې اونمانځل او د خپلې قبیلې په بې وسه خلقو ئې د زړه د اخلاصه خوراکونه اُوکړل. (۱٦۸)

دا ماشوم عمرؓ بن خطاب وو ... دوئ ته څه خامی اؤ څه خوبی د پلار نه په حصه کښې رسیدلې

وي. د پلار په څير هغه هم د ډير سخت مزاج څښتن وو. بلکې د مذهبی تعصب په معامله کښې هغه د پلار نه هم سيوا وو. ولې ددې سره سره په معامله فهمی، حُسن تدبر او د تقرير په فن کښې د قريشو ډير لږ ځوانان د هغه په وړاندې ټينګيدې شول.

د حضرت عمر رض په تربيت کښې د عکاز کليزې ميلی ډير اهم کردار ادا کړو. دې ميله کښې به د عربو نوموړو شهسوارانو، شاعرانو، خطيبانو او نور هنرمندو خپل فنی جوهر ښودل. حضرت عمر رض به د نورو قريشی ځوانانو سره ددې ميلې رنګ اؤ خوند زياتولو. هم دغلته د هغه خطيبانه صلاحيتونه او تنقيدی شعور وده اوکړله. او د اوچتې درجې خطيب او سخن شناس ترې جوړ شو. (١٦٩)

"اُوس حضرت عمر رض ليکل، لوستل زده کړی وو. او د هغوئ شمار د قريشو په هغه اُوولس کسانو کښې کيدو چا چې ليکل لوستل کولې شول. د ځوانی هنګامې چې ختمې شوې نو د هغوئ سره د روزګار فکر پيدا شو. او د نورو قريشو شريفاؤ په رنګ ئې د تجارت پيشه خپله کړه. دې سلسله کښې ئې د عراق او شام سفرونه اُوکړل.او د ډيرو لويو لويو خلقو سره ئې ملاقاتونه اُوشول. (١٧٠)

"کله چې د عمر رض ځوانی د خپلو ټولو رنګينو سره د هغوی لمن پريښوده.نو د حضرت عمر رض په زړه کښې د نکاح کولو خواهش غزونې اوکړې. دلته دا خبره د يادونې وړ ده. چې حضرت عمر رض ته د اولاد د ډير والی شوق د خپلو مشرانو نه په ميراث کښې پاتی شوے وو. ځکه نو هغه په خپل ژوند کښې د نهه ښځو سره نکاح اوکړه چې دولس بچی ترې پيدا شول. دغو کښې اته هلکان او څلور جينکی وې. د زينب بنت مظعون نه عبدالرحمٰن او حفصه رض د ام کلثوم بنت علی رض ابن ابی طالب نه زيد اکبر رض او رقيه رض، د ام کلثوم بنت جرول بن مالک نه زيد اصغر او عبيدالله اُوزيږيدل. خو کله چې حضرت عمر رض اسلام راوړو. نو ام کلثوم بنت جرول بن مالک ترې جدا شوه. د جميله بنت ثابت بن ابی الافلح نه عاصمه... د ام حکيم بنت حارث بن هشام بن المغيره نه فاطمه، عاتکه، د بنت زيد بن عمرو نه عياض، د لهتيه نه عبدالرحمٰن الاوسط او د فکيهه نه زيد اصغر پيدا شول.

په دې بره ذکر شوو ښځو کښې حضرت عمر رض د څلورو سره په مکه کښې نکاح کړې وه. او د نورو

پينځو سره ئې د هجرت نه پس په مدينه کښې ودونه کړي وو. خو دغه تولې په يو ځل د هغه په نکاح کښې نه دی راغلې."

دغه زمانه وه. چې الله تعالىٰ محمد رسول ﷺ د نبوت د پيغام سره رااوليږه خلق مسلمانيدل. چې د اسلام دعوت په خوريدو شو. نو د مکې بت پرستو په مسلمانانو ظلمونه شروع کړل. حضرت عمرؓ ابن خطاب په دغه اسلام دُښمنه کسانو کښې ډير سرګرم وو. يوه ورځ توره په لاس د حضور ﷺ درګاه پله روان وو. لار کښې ترې چا تپوس اوکړو. چې چرته ځئ. وې وئيل چې "محمد ﷺ فيصله کووم هلته ځم". هغه ورته اووئيل چې اول د خپلې خور او اوخے خبر واخله. هغوئ هم اسلام قبول کړے دے. چې دا ئې واوريدل. ډير زيات غصه شو. نيغ د خور کور ته لاړ. هغوئ د قرآن تلاوت کولو. خور چې حضرت عمرؓ اوليدو. نو د قران پانې ئې ډډې ته کړې. حضرت عمرؓ ورته اووئيل چې زهٔ خبر شوے يم. چې تاسو اسلام قبول کړے دے. او بيا ئې هغوئ دومره اووهل چې په وينو کښې رنګ بنګ شول. خو هغوئ ئې د اسلام نه اُونه ګرزول. بيا ئې خپلې خور ته اووئيل. چې تاسو څه وئيل هغه ما ته هم اُوښايئ. خور ئې د قرآن پانې د هغه په وړاندې کيښودې. چې څومره څومره ئې اولوستې. زړه ئې نرم شو. هغه وخت دربار نبوی ﷺ ته حاضر شو. او اسلام ئې قبول کړو." (١٧١)

د حضرت ابوبکرؓ د وفات نه پس هغه مسجد نبویؐ ته تشريف يوړو. او خلقو د هغه په لاس بيعت اوکړو. د ماسپخين د مونځ نه روسته ئې خطبه ورکړه. او وې فرمائيل. "خلقو زهٔ ستاسو په شان يو انسان يم. که ماچرته د پيغمبر د خليفه د حکم خلاف ورزی کولې. نو ما به چرې هم دا منصب نه قبولولو." بيا ئې آسمان ته لاسونه پورته کړل. او دُعا ئې اوکړه. چې "اے الله زهٔ سخت يم. ما نرم کړے، يا الله زهٔ کمزورے يم ماته طاقت راکړے. يا الله زهٔ شوم يم. ما سخی جوړ کړے. (١٧٢)

بيا ئې د لږې وقفې نه پس اوفرمائيل. دا زما او ستاسو د پاره د ډير سخت ازميښت وخت دے. په الله مې دې قسم وی. ستاسو که هر رنګه معامله راپيښيږی. هغه به زهٔ پخپله فيصله کووم. او خيانت به چرته هم اُونه کړم. که څوک ما سره ښيګړه کوی. نو زهٔ به ورسره هم ښيګړه کووم. اوکه څوک راسره بد کوی. نو زهٔ به

ورله داسې سزا ورکوم. چې نور خلق ترې عبرت واخلي. (۱۷۳)

د حضرت عمرؓ په دور کښې ډېر زيات فتوحات اُوشول. د اسلامی سلطنت سرحدونه تر لرې لرې پورې اُوغزيدل. ايران، عراق، مصر او شام نه علاوه ديريش ښارونه فتح شول. هغوئ ډېر زيات اصلاحات اوکړل. چې په نتيجه کښې ئې د عدل و انصاف لازواله مثالونه قائم شول. (۱۷۴)

د اسلام په دے لاثانی خليفه د حضرت مغيره بن شعبهؓ يو پارسی غلام ابو لولو فيروز په ۲۶ ذی الحج ۲۳ هـ حمله اُوکړه. او د مونځ په حالت کښې ئې په حضرت عمرؓ مسلسل د چړې ګزارونه اُوکړل. هغوئ شپږ ګزاره اولګيدل. خو د نامه نه لاندې ئې يو ګزار ډېر ژور اوخوړو. زخمی شواو راوغورځيدو. ابو لولو فيروز اُونيولے شو. خو هغه خودکشی اُوکړه. او نيغ جهنم ته اُورسيد. حضرت عمرؓ چې خبر شو. نو شکر ئې ادا کړو. چې قاتل مسلمان نه وؤ. بلکې ايرانے وو. د بيمارۍ په حالت کښې ئې د خليفه ټاکلو د پاره جرګه مقرر کړه. مختلف وصيتونه ئې اُوفرمائيل. او بيا د محرم د مياشتې په وړومبی کال ۲۴هـ د خالی په ورځ دا عظيم رهنما، بے مثل منتظم، فقيه اعظم، لوئے عادل او بهادر د خپل خالق حقيقی سره يو ځائ شو. (۱۷۵)

== ☆☆☆ ==

دده زړه له مکره خلاص ؤ  
که مکار ؤ عمر و عاص ؤ  
عمرو عاص په مکارۍ  
په ملک ګډې کړې خوارۍ (۱۷۶)

دا شعرونه د حضرت عثمان غنیؓ د منقبت نه اخستې شوې دی. چې پکښې د حضرت عثمان غنیؓ د شهادت د جنګ صفين او د حضرت علیؓ او حضرت امير معاويهؓ د خلافت د معاملې په حقله د حضرت عمرو بن عاص نامه د راوړې شوې ده.

## حضرت عمرو بن عاص رض:

عمرو عاص يو مشهور صحابی ؤ. چې ډیر ذکی او دانا ؤ. په فاروقی عهد کې ئې مصر فتح کړ. او هم د هغه ځای والی کړای شو. بیا د امیر معاویه رض پلوی شو. او په "صفین" کې ئې له حضرت علی رض سره مقابله شوی وه. په مصر کي په ۴۳هـ کې وفات شو. (۱۷۷)

"دهٔ د مکې د فتحې نه پس د خوږ نبی ﷺ یو دعوتی خط د عُمان حُکمران له یوړو. او هغه ددغې خط په برکت ایمان راوړو. دهٔ د حضرت ابوبکر رض په عهد کښې د مرتدانو په غلی کولو کښې ډیر اهم کردار ادا کړو. او د عمان گورنری ورته اوسپارلې شوه. لږه موده پس د فلسطین د مهم سر لښکر جوړ کړے شو. او رومیانو له ئې ماتې ورکړو. ددغې نه پس ئې په ټول شام او روم قبضه وکړه. او د فاتح شام و روم نامه ئې وګټله. بیا ئې مصر پله مخه وکړه. او مصر، سوډان، طرابلس او بصره ئې فتح کړل. د حضرت عثمان رض په دور کښې د څه وجوهاتو په بنیاد دے د مصر د گورنری نه معزول کړے شو. او دهٔ د آرام په غرض په فلسطین کښې استوګنه اختیار کړه. خو کله چې د امیر معاویه رض او د حضرت علی رض تر مینځه تریخوالے راپیدا شو. نو امیر معاویه رض دے د شام د فوځونو امیر مقرر کړو. او په جنګ صفین کښې د حضرت علی رض خلاف د امیر معاویه رض له اړخه اوجنګیدو." (۱۷۸)

جنګ صفین چې حضرت علی رض د ثالثانو په وینا ختم کړو. نو د نوی خلیفه د مقررولو د پاره خبرې اترې شروع شوې. د حضرت علی رض له اړخه ابو موسیٰ اشعری رض او د حضرت امیر معاویه رض له طرفه عمرو بن العاص د فیصلې د پاره سره کښیناستل. د بحث نه پس "دواړه نمائندګان د اعلان د پاره "دومه الجندل" ته راغلل. چونکې دا اعلان ډیر اهم وو. ځکه نو اکثر لوئے لوئے اصحابان مثلاً حضرت عبدالله بن عمر رض، مغیره

بن شعبهؓ او حضرت سعد بن ابی وقاصؓ وغیره (څوک چې په دغه جنګ غیر جانب دار وو) د فیصلې اوریدو د پاره راغلي وو. عبدالله بن عباسؓ د عمرو بن العاص د عیارۍ نه خبر وو. ځکه نو هغه ابو موسیٰ اشعریؓ ته ئې اووئیل چې ته د فیصلې په اعلان کښې وړاندې والے مه کوه. په دې چې عمرو یو چالاک او هوښیار سړے دے. هسې نه چې په تا وړومبے اعلان اوکړی او بیا د خپلې خبرې نه اُوتښتي. او تاله دهوکه درکړی. ولې ابو موسیٰ اشعریؓ ډیر ساده زړے او نیک انسان وؤ. هغه په هر چا ښه ګمان کولو. وئیل ئې چې د دا قسم خطرو هیڅ ګنجائش نشته.

خو د عبدالله بن عباسؓ دغه اندیښنه بیخي ټیک ثابت شوه. کله چې د فیصلې اورولو وخت راغے. نو ابو موسیٰ اشعریؓ عمرو ته اووئیل چې اول ته د متفقه فیصلې اعلان اُوکړه. هغه ورته په ځواب کښې اووئیل چې ته زمانه په علم و فضل او بزرګۍ کښې ډیر ښه ئې. زهٔ به هیڅ کله هم داسې جرأت اُونه کړې شم. او دا رنګ ابو موسیٰ اشعریؓ د هغه په خبرو کښې راغلو. منبر ته اُووختو. او د متفقه فیصلې اعلان ئې اُوکړو. ددهٔ نه پس عمرو پاڅیدو او وے وئیل چې خلقو! تاسو د ابو موسیٰ فیصله واوریده. هغه خپل کس د خلافت نه معزول کړو. او زهٔ ئې هم معزول کووم. ولې امیر معاویهؓ په ځائے ساتم. ځکه چې هغه د حضرت عثمانؓ د جانشنۍ زیات حق لری. په دې باندې ابو موسیٰ اشعریؓ ډیر زیات غصه شو. او په چغه ئې اووئیل چې دا غداری او بې ایمانی ده. ولې اُوس څه کیدې شوه.(۱۷۹)

== ☆☆☆ ==

له اوله تر اخره که ګروهيږی
د بتولؓ اولاد ے واړه نور بصر دی (۱۸۰)

☆

فتح کړونی د خيبر دی
د زهریٰ بي بي شوهر دی (۱۸۱)

☆

(فاطمه باندې) اختر و
چې علیؓ ددې شوهر و (۱۸۲)

دا پورته رانقل شوی اشعار د حضرت فاطمه الزهریؓ تذکره لری. خوشحال بابا په وړومبی شعر کښې د هغېؓ د اولاد سره د بې کچه عقیدت اظهار کړے دے. په وروستو دوو شعرونو کښې ئې د حضرت علیؓ په حواله د حضرت فاطمهؓ ذکر کړے دے.

## حضرت فاطمه بتولؓ:

"نوم ئې فاطمه وو. او په دې لاندینو القاباتو ئې شهرت لرلو. زهراء، بتول، سیده النساء العالمین، زاکیه، سیده النساء اهل الجنۃ، راضیه، بصعۃ الرسولؐ، البضعه النبویۃ، اُم ابیها، کریمه الطرفین، طاهره مطهره، مرضیه او عذرا.

د حضور نبی کریمﷺ د ټولو نه کشره لور وه. د مور او پلار دواړو سلسله نسب ئې د یو بل سره په قصی باندې یو ځائے کیدل. (۱۸۳)

فاطمهؓ د حضورؐ د بعثت نه پنځه کاله وړاندې اوزیږیده. دغه وخت قریش د خانه کعبې په سر دوباره تعمیر کښې مشغول وو. او د حضورﷺ عمر مبارک پنځه دیرشت کاله او د حضرت خدیجه الکبریٰؓ عمر

پنځوس کاله وو." (۱۸۴)

د حضرت فاطمېؓ نکاح د هجرت په دویم کال په مدینه کښې د څلور سوه درهمو په مقابل کښې چې اتیا منات (دولس شلې روپۍ) کیږي. د حضرت علیؓ سره او تړلې شوه. (۱۸۵)

حضرت علیؓ د حضرت فاطمهؓ نه د حسنؓ، حسینؓ او محسنؓ په نامه درے ځامن او د زینب، اُم کلثوم په نامه ئې دوه لونه لرلې. له دوئ څخه محسنؓ په ورکوتوالی وفات شوے وه. د رسولﷺ نسل د بی بی فاطمېؓ څخه پاتې شوے دے. ځکه چې د نورو لونو اولاد ئې په ورکوتوالی کښې وفات شوے ؤ. (۱۸۶)

د حضرت فاطمیؓ پوهه، ذکاوت او تقویٰ ډیره زیاته وه. په عبادت کښې ئې ډیر اخلاص او احتیاط درلود، دا رنګه چې وائی په ټول ژوند کښې ترې یو مونځ نهٔ و قضا شوے. په کالو او غوستلو کښې بې تکلفه وه. د ډول ټکور ئې هیڅ خیال نه درلوده، بی بی صاحبه ډیره صبرناکه او متحمله وه. د کور ټول کار به ئې پخپله کوؤ. (۱۸۷)

حضرت فاطمهؓ د رسول اللهؐ څخه شپږ میاشتې وروسته ژوندی وه. نو ځکه فقط د "۸" احادیثو روایت ترې شوې دے.

حضرت فاطمېؓ د رسول اللهﷺ سره ډیره مینه او اخلاص درلود. نو له دغه کبله پس له وفات څخه ئې ډیره غمژنه شوه او د هغهٔ په بیلتون کښې ئې څو مرثیې وویلې. حضرت فاطمېؓ د خپل خوږ پلار د بیلتون نه وروستو هیڅ کله ونه خندل. (۱۸۸)

د حضرت فاطمېؓ د عمر په حقله د مؤرخینو اختلاف دے. د ځنو خیال دے چې هغې درې دیرشت کاله ژوند بیا مونډې وو. بعضې ئې عمر اُوویشت یا یو کم دیرشت کاله ښائی. دځنې نورو خیال دے چې هغه د دیریشت یا پنځه دیرشت کالو په عمر کښې وفات شوې ده. خو صحیح عمر ئې هغه دے کوم چې مونږ بیان کړے دے. یعنی اته ویشت کاله.

د مسعودی وینا ده چې د حضرت فاطمېؓ د کفن دفن نه پس حضرت علیؓ ډیر زیات پریشانه وو. او بیا بیا به ئې دا شعرونه وئیل. ترجمه: زهٔ ځان د څلور طرفه په بیمارو او مصیبتونو کښې راګیر وینم. دُنیا والا ترمرګه پورې

په بيمارو کښې وی. د يو ځائے کيدو نه پس بيلتون ضرور شته. د وصال وختونه ډير مختصر وی. د احمدﷺ نه پس د فاطمې رضـ جدائی ددې خبرې دليل دے چې دوستان هميشه پاتې کيدونکی نه دی. (۱۸۹)

حضرت فاطمه رضـ د هجرت په يوولسم کال په ۲۹ کلنۍ کښې وفات شوه. حضرت علی رضـ او د ابوبکر صديق رضـ ښځې (اسما بنت عمس) ولمبوله. حضرت عباس رضـ ئې جنازه وکړه. ښخه شوه.

د بی بی فاطمې رضـ په وفات حضرت علی رضـ زښت ډير غمژن شو. ډير د غم بيتونه او مرثيې ئې وويلې. د خپل زړه د تسلی د پاره به د ډيرې مودې پورې هره ورځ د هغې قبر ته ورتلو زيارت به ئې کاوه. (۱۹۰)

د حضرت فاطمې رضـ د قبر متعلق اختلاف دے. د ځنو خلقو خيال دے. چې هغه په بقيع کښې د حضرت امام حسن رضـ د قبر خوا ته دفن ده. مسعودی په ۳۳۲هـ کښې په بقيع کښې د يو قبر په کتبه ليکل ليدلی وو. چې دا د فاطمې رضـ قبر دے. ولې د طبقات د زياتره روايتونو تر مخه هغه د داراعقيل په يو گوټ کښې ښخه ده. (۱۹۱)

== ☆☆☆ ==

بل امام علی رضا دے

محمد تقی بل بيا دے (۱۹۲)

## حضرت محمد تقی (امام):

د دوئ خپل نوم محمد وو. کنيت ئې ابو جعفر او لقب ئې تقی وو. د مور بی بی نوم ئې ريحانه وو. د رجب په لسمه د جمعې په ورځ ۱۹۵هـ کښې په مدينه منوره کښې پيدا شو. په علم و فضل او زهد و تقویٰ کښې ئې ډير شهرت لرلو. يوه ورځ د مامون الرشيد سورلی را روانه وه. امام تقی پنځلس کلن زلمے وو. د خپلو ملگرو سره په لاره کښې ولاړ وو. د بادشاه د سورلی په ليدو ددۀ ټول ملگری اُوتښتيدل او دے په ځائے ولاړ

پاتې شو. بادشاه چې نزدې راغے نو تپوس ئې ترې اُوکړو چې ته ولې پاتے شوے؟ دوئ ځواب کبنې او فرمائيل چې زۀ غل نه يم. تۀ ظالم نۀ ئې او لاره تنګه نۀ ده. نو ولې به تښتيدم. د بادشاه دا خبره خوښه شوه. او د نامې تپوس ئې ترې اوکړو. دۀ ځواب ورکړو. محمد بن على رضا. بادشاه دے سينې ته راجوخت کړو او د خپلې لور نکاح ئې ورسره اُوتړو. (۱۹۳)

"امام محمد بن على (لقبونه يې تقي، جواد او ابن الرضا دى) د امام رضا زوى دى.... امام جواد له خپل ستر پلار نه وروسته د خداى په امر او د مخکينو په ښوونې امامت ته ورسيد. د پلار د مړينې په وخت کې مدينې منورې کې ؤ. مامون د خلافت مرکز (بغداد) ته را اوغوښته. په ظاهره يې ورسره مينه او نيک سلوک وکړ... امام تر يو وخته پورې په بغداد کې او بيا د مامون الرشيد په اجازه مدينې ته لاړ او د مامون د خلافت تر پايه پورې هملته ؤ. بيا چې معتصم چار واکى شو. نو امام يې بغداد ته راوغوښت او تر څارنې لاندې يې و. چې بالاخره د وژنې برنامه يې ورته جوړه کړه او د خپلې ښځې له لارې يې مسموم او شهيد کړ." (۱۹۴)

"کله چې د امام تقى د شهادت خبر خور شو. نو د بغداد او خواؤ شاه سيمو نه ډير زيات خلق را اُوچليده. هغوئ د امام جنازه په ډير درناوې "کاظمين" ته راوړه. او هلته د امام موسىٰ کاظم د قبر خوا ته ئې دفن کړو. ددغه وخت نه په زرګونو خلق د امام زيارت له راځى.

د امام د وړومبى بى بى د خليفه مامون لور وه. دغه بى بى اُم الفضل نوميده. د امام ددې بى بى نه اولاد نه وو البته د نورو بيبيانو نه ئې دوه زامن او دوه لونه زيږيدلې دى. چې امام على نقى، موسىٰ، فاطمه او حکيمه نوميدل." (۱۹۵)

== ☆☆☆ ==

بل جعفر وروسته هم دے

بل امام موسیٰ کاظم دے (۱۹٦)

## حضرت موسیٰ کاظم (امام):

دوئ د حضرت امام جعفر صادقؓ صاحبزاده او جانشین وو. خپل نوم ئې موسیٰ، کنیت ئې ابو الحسن او لقب ئې کاظم وو. ولادت ئې د صفرې په اُوومه د اتوار په ورځ ۱۲۸هـ کښې د مکې او مدینې تر مینځه یو مقام باندې شوے دے. دوئ د ډیرو ظاهری او باطنی کمالاتو خاوند وو. زهد و تقویٰ ئې د ورۀ دوه دربانان وو او سخا ئې د کهاله وینځه وه. دومره حلیم اطبع وو چې پخپله غصه ئې ډیر ضبط وو. او هم په دې نسبت ئې کاظم (غصه ځبنونکے) لقب شو. د دوئ دوه دیریشت زامن وو چې صرف د څوارلسو نه ئې د نسب سلسله روانه شوه او په ټول اولاد کښې ئې حضرت امام علی رضاؓ ته خاص کمال حاصل شو. (۱۹۷)

امام موسیٰ کاظم له منصور، هادی، مهدی او هارون عباسی خلفا وو سره په ډیرو تنګو او سختو شرائطو کې په "تقیه" ژوند کاوه. په وروستیو کې هارون حج ته راغی نو امام یې د پیغمبرﷺ له جوماته چې په نمانځه ولاړ ؤ زولانه بصری او بیا بغداد ته ولیږه او په کلونو کلونو یې له یو زندانه بل زندان ته لیږه او په پای کې د "سندی ابن شاهک" په زندان کې په زهرو شهید کړ. (۱۹۸)

د دوئ د وفات کال ۱۸٦هـ ده. او په بغداد کښې دفن دے. (۱۹۹)

"امام موسیٰ کاظم له د هارون الرشید تره سلیمان غسل ورکړو. او ډیر قیمتی کفن ئې ورته واغوستو. بیا ئې په هر طرف سرې خواره کړل. چې څوک هم د امام جنازه کښې شرکت کول غواړی نو راتلې شی.

کله چې جنازه واخستې شوه. نو هارون الرشید د خپلو وزیرانو او زرګونو سپاپانو سره په تورو جامو کښې د جنازې سره روان شو. د بغداد او خواوشا ځایونو نه راغلی په زرګونو خلق په چغو چغو ژړیدل.

د امام جنازه د بغداد نه شپږ کلومیتره لرې د قریش قبرستان ته راوړې شوه. هلته امام په ډیر احترام سره خاورو ته اوسپارلے شو. هم هلته چرته چې د نهم امام محمد تقی مدفن هم دے. د دواړو امامانو او بزرګو

هستیو د مزارونو په برکت دغلته یو ښار آباد شو۔ چې ورته کاظمین وئیلې شي۔ اوس دغلته په زرګونو خلق د زیارت دپاره راځی۔" (۲۰۰)

== ☆☆☆ ==

د مهدی اوٌ د عیسیٰؑ د وړاندې څه دی
هم دجال هم د دجال واړه سپاه (۲۰۱)

☆

په دوران ئې درست جهان سره ګډوډ شو
ته به وائې زمانه شوه د دجال (۲۰۲)

☆

دغه یو خو کالعدم دے په معنیٰ کښې
دغه بل د دجال خر دے یا دجال (۲۰۳)

☆

د یزید د شمر نه نه د حجاج دی
دور دور د دجال دے په دا مینځ کښې (۲۰۴)

☆

چه دا هسے احوال چشمه بد خصال ئیے
د یزید د در دربان یا د دجال ئې (۲۰۵)

## حضرت مهدی (امام):

امام مهدی (چې امام زمان او صاحب الزمان هم ورته وایي) د یولسم امام حسن عسکری زوی دی۔

چې نوم يې د پيغمبر اکرمﷺ نوم دی. او په ۲۵٦ يا ۲۵۵هـ کښې زيږيدلی او تر ۲٦۰هـ پورې د پلار تر روزنې لاندې ؤ. خو له خلکو پټ ؤ او يو شمير ځانګړيو لارويانو ورسره ليدل.

تر يولسم امام وروسته چې امامت ته ورسيد. نو د خدای په امر غائب شو اوله خپل ځانګړی نواب پرته بل چاته نه ښکاره کيده خو په ځينو استشنايي مواردو کې. (۲۰٦)

دۀ ته امام غائب هم وائی د يو روايت تر مخه امام محمد مهدی په يو غار کښې غائب شوے دے. او د شيعه ګانو د عقيدی مطابق هغه ژوندے دے. او کله چې په دنيا کښې زور، ظلم او زياتے انتها ته اُورسی. نو هغه به په دنيا کښې د امن و انصاف قائمولو او زور زياتی د نوغی ويستلو د پاره را اوځی. (۲۰۷)

په سنن ابی داؤد کښې دی.

**وزعموا انه قد اختفیٰ خو فامن اعدئهٔ وليسظهر" (۲۰۸)**

ترجمه: ددې (شيعه ګانو) خيال دے. چې هغه (محمد مهدی) د دښمنانو له ويرې پټ شوے دے. او نزدې ده چې را اوځی.

"امام مهدی به د خانې کعبې نه ناڅاپې راڅرګنديږی. هغه به د کعبې ديوال ته ډډه وهلی وی. چې د اسمان نه به يو آواز اوشی. دغه اواز به د دُنيا په ګُټ ګُټ کښې واوريدې شی. اواز کونکے به حضرت جبرائيلؑ وی. وائی به. "دا د الله خليفه او نائب "مهدیؑ" دے. دا هم هغه امام دے د چا چې تاسو انتظار کولو. ځکه نو اُوس ددۀ حکم اُومنئ.

دغه وخت به امام د يوسل ديارلس ملګرو سره راځی. او مونځ به ادا کوی. بيخی هم په دغه ساعت به حضرت عيسیٰؑ د اسمان نه راکوز کړے شی.

د مونځ نه پس به امام يو تقرير کوی. او خلقو ته به وائی چې زما سره راپاځئ چې د دنيا نه ظلمونه ختم کړو. خلق به ئې حکم منی. د ظالمانو بادشاهانو سره به جنګ کوی. ټولو له به شکست ورکوی. ظالمان او کافران به قتل کوی. او په ټوله دنيا کښې به يو حکومت قائموی. دغه حکومت به د امام مهدی حکومت وی." (۲۰۹)

تر هلالؓ ئے صدقه شم تر بلالؓ
په اخلاص یم زۀ د دوئ د تلی خاک (۲۱۰)

☆

تر هلالؓ او تر بلالؓ ئے صدقه شم!
لا رانجه مے د پله خاورے د بوذر دی (۲۱۱)

## حضرت هلالؓ بن اُمیه:

"حضرت هلالؓ د عربو د مشهورې قبیلې "اوس" سره تعلق لرلو. دوئ ددغې قبیلې په خاندان "واقف"کښې سترګې غړولې وې. د مور بی بی نامه ئې اُمیه وه. دۀ د بیعت عقبه دوئم نه پس ایمان راوړو. د غزوه تبوک نه علاوه ئې په نورو ټولو جنګونو کښې برخه اخستې وه. غزوه تبوک کښې د برخې نه اخستلو په وجه حضور اکرمؐ او د هغوی اصحابو ددۀ سره خبرې اترې پریښې وې. دۀ به پخپله دغې غلطۍ شپه او ورځ ژړل. آخر چې بخښنه ئې اُوشوه. دۀ د تبوک په پیښه کښې د نورو خلقو په خلاف ریشتیا ریشتیا اُووئیل. او هم ددغې ریښتونې ګواهۍ نه د دۀ د صداقت او حق ګوئي رعب د خلقو په زړونو کښې کیښناست. دغه رنګ د هلالؓ بن اُمیه تقویٰ، پرهیز ګاری او راستی هم د هغه د ذکر وړ صفات دی. دوئ د حضرت معاویهؓ په دور کښې وفات موندلے دے." (۲۱۲)

"دوئ د انصارو د قبیلې بنو واقف سره تعلق لرلو. دے په هغه دریو اصحابو کرامو کښې شامل وو. څوک چې په غزوه تبوک کښې د برخه اخستو نه پاتی شوی وو. او د قرآن پاک په ایت "وعلی الثلاثه الذین خلقوا"کښې ئې ذکر راغلے دے. ددغه دریوارو نومونه دا دی. کعب بن مالک د بنو سلمه. مراره بن ربیع د بنو عمرو بن عوف او هلال بن اُمیه د بنو واقف."(۲۱۳)

== ☆☆☆ ==

# حواله جات


۱- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۳۰۴ مخ
۲- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۳۵۵ مخ
۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ٦۰۱ مخ
۴- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ٦۸۱ مخ
۵- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۸٦۴ مخ
٦- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیعؒ)۔ ۱۲ مخ
۷- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیعؒ)۔ ۱۲ مخ
۸- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیعؒ)۔ ۱۲ مخ
۹- ختک: خوشحال خان، سوات نامه، (مرتبه همیش خلیل)۔ ناشر: مرکزی خوشحال ادبی ثقافتی جرګه اکوړه ختک۔ مطبع: شرکت پرنټنګ پریس نسبت روډ، لاهور۔ سن اشاعت: اکتوبر ۱۹۷٦ء ۔ ۷۱ مخ
۱۰- محمد رضا علامه۔ سیرت صدیق اکبرؓ۔ مترجم: مولوی محمد عادل قدوسی، ناشر: تاج کمپنی لمتیډ کراچی، مطبع او د چاپ کال نه لری۔ د مخ ۴ نه تر ۱۲ پورې۔
۱۱- دارا شکوه قادری: سفینة الاولیاء ناشر: نفیس اکیډمی کراچی۔ مطبع نه لری۔ سال اشاعت ۱۹۸٦ء۔ ۳۰ مخ
۱۲- کلیات خوشحال خان ختک۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۳۵۵ مخ
۱۳- کلیات خوشحال خان ختک۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۱٦۰ مخ
۱۴- صالح صبیحی: ډاکټر۔ علوم الحدیث۔ مترجم: غلام احمد حریری، ناشر: ملک سنز، پبلشرز کارخانه بازار فیصل آباد۔ مطبع: نه لری۔ سال اشاعت ۱۹۸۱ء۔ ۴۷۴، ۴۷۵ مخونه
۱۵- جودة السحار عبدالحمید۔ حضرت ابو ذر غفاری۔ ناشر: محمد شاهنواز، مطبع: ثاقب عمران پریس لاهور۔ سال اشاعت ۱۹۸۹ء۔ ۵۲ مخ
۱٦- ختک، خوشحال خان: فضل نامه (مرتبه محمد عبدالشکور) ناشر: اداره اشاعت صوبه سرحد۔ سن اشاعت:۱۹۵۲ء ـ ۳۰ مخ
۱۷- ظفر: حکیم محمود احمد۔ عشره مبشرهؓ۔ ناشر: تخلیقات لاهور، مطبع: ندیم یونس پرنټرز لاهور، سال اشاعت ۲۰۰۵ء۔ ۱۸۰ مخ
۱۸- بصری ابو عبدالله محمد بن سعد بن منیع زهری۔ طبقات ابن سعد مطبوعه: دارالمعارف مصر۔ سن اشاعت: ۱۹۴۹ء ـ (قسم اول) ج ۳ ـ ۲۹۸ مخ

۱۹. سیرة ابن هشام (از محمد عبدالمالک ابن هشام) ج ۱- ۵۰۴ مخ

۲۰. الحافظ الذهبی، امام شمس الدین محمد بن عثمان. سیر اعلام النبلاء، موسئسة الرسالة بیروت. شارع سوریا. الطبعة الثالثة ، ۱۹۸۵ء - ج ۱- ۸ مخ

۲۱. ظفر، حکیم محمد احمد: عشره مبشره. ناشر: تخلیقات لاهور. مطبع: ندیم یونس پرنټرز لاهور. سن اشاعت: ۲۰۰۵ء - ۱۸۷، ۱۸۸ مخونه

۲۲. همدغه کتاب - ۲۱۲ مخ

۲۳. رأفت پاشا: ډاکټر عبدالرحمٰن، زندگیاں صحابهؓ کی. مترجم: ابو جاوید اقبال احمد قاسمی. ناشر: مکتبه المصباح لاهور. مطبع: گنج شکر پرنټرز لاهور. سال اشاعت مارچ ۲۰۰۰، ۱۲۵ مخ

۲۴. فضل نامه (از خوشحال خان خټک) - ۳۰ مخ

۲۵. الحمیری: امام مالک بن انس، موطا امام محمد. مترجم: الحاج نذر احمد، ناشر: اسلامی اکادمی اُردو بازار لاهور. مطبع: ظفر سنز پرنټرز لاهور. سال اشاعت ۱۹۹۰، ۵۴۴ مخ

۲٦. همدغه کتاب - ۵۴۴ مخ.

۲۷. خټک، خوشحال خان: ارمغان خوشحال. (مرتبه سید رسول رساؔ) ناشر: یونیورستي بک ایجنسي پېښور. مطبع: منظور عام پریس پېښور. د چاپ کال نهٔ لري. ۸۰۵ مخ

۲۸. شاهي: مفتي حبیب احمد، فاطمهؓ کا لال. ناشر: ائینه ادب چوک مینار انارکلي لاهور، د چاپ ځائې نه لري. سال اشاعت ۱۹۷۸ء. ۲۵۵ مخ

۲۹. احمد بن ابی یعقوب. تاریخ یعقوبی. تحقیق: عبدالامیر مهنّآ، موسسة العالمی للمطبوعات بیروت. لبنان طبع الولی ۱۴۱۳هـ - ج ۳ - ٦۳ مخ

۳۰. اقبال: اجر الدین. خوشحال بابا او نبوی کورنی. ناشر: دانش کتابتون پېښور. د چاپ ځائې نهٔ لري. د چاپ کال ۲۰۰۱ء - ۲٦۲، ۲٦۳ مخونه

۳۱. کلیات خوشحال خان خټک. (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۴ مخ

۳۲. کلیات خوشحال خان خټک. (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۱٦۰ مخ

۳۳. کلیات خوشحال خان خټک. (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۳۵۵ مخ

۳۴. فضل نامه (مرتبه محمد عبدالشکور). ۱۲ مخ

۳۵. سید احمد مولانا. غلامان رسولؐ. ناشر: گلاب پبلشرز لاهور. مطبع او د چاپ کال نه لري. ۵ مخ

۳٦. اغا اشرف، حضرت بلالؓ، ناشر: سفینه ادب لاهور. مطبع: شاه پرنټرز لاهور، د چاپ کال ۱۹۷۵ء. ۳ مخ

۳۷. غلامان رسولﷺ. (از مولانا سید احمد) - ۵ مخ

۳۸. همدغه کتاب ( از مولانا سید احمد) ـ ۵ مخ

۳۹. طبقات ابن سعد. (از ابو عبدالله محمد بن سعد) ج ۳ ـ ۱۷ مخ

۴۰. علی: حافظ ابو القاسم. تاریخ ابن عساکر. ناشر: نه لری. مطبع: السعادة مصر. سن اشاعت ۱۳۵۸هـ ـ ج ۳ ـ ۳۰۱ مخ

۴۱. غلامان رسولؐ. (از مولانا سید احمد) ـ ۷ مخ

۴۲. تسکین قمر ، سو مسلمان مشاهیر ـ ناشر: عبدالحفیظ قریشی مطبع: نیر اسد پرنټر لاهور ، سن اشاعت ۱۹۹۵ء ـ ۱۴ مخ

۴۳. فضل نامه ـ (از خوشحال خان خټک) ۳۲ مخ

۴۴. فاطمهؓ کا لال ـ (از مفتی حبیب احمد شاهی) ـ ۲۵٦ مخ

۴۵. خوشحال بابا او نبوی کورنۍ (ازاجر الدین اقبال) ـ ۲٦۴ مخ

۴٦. فاطمهؓ کا لال ـ (از مفتی حبیب احمد شاهی) ـ ۲۵٦ مخ

۴۷. خوشحال بابا او نبوی کورنۍ (ازاجرالدین اقبال) ۲٦۵ مخ

۴۸. فاطمهؓ کا لال (از مفتی حبیب احمد شاهی) ـ ۲۵٦ مخ

۴۹. خټک: خوشحال خان ، دیوان خوشحال خان خټک، مرتبه حاجي پردل خټک، ناشر: محکمه ثقافت صوبه سرحد. سن اشاعت: نه لری ـ توک ۱ ـ ۵۱۵ مخ

۵۰. فضل نامه ـ (از خوشحال خان خټک) ـ ۷ مخ

۵۱. خټک خوشحال خان ، دیوان خوشحال خان خټک. (مرتبه حاجي پردل خان خټک) ناشر: محکمه ثقافت صوبه سرحد. مطبع: جدون پریس پېښور. سن اشاعت نه لری. توک ۲ ـ ۴۵۹ مخ

۵۲. خادم: قیام الدین ـ لوئے اصحابان ـ ناشر: یونیورستی بُک ایجنسی پېښور. مطبع: او سن اشاعت نه لری. ۱۸۴ مخ

۵۳. صحیح بخاری (محمد بن اسماعیل امام بخاری) ج ۳ ، ۱۷۰ مخ

۵۴. عبدالرحمٰن احمد بن شعیب، صحیح نسائی ، مترجم: علامه وحید الزمان، ناشر: اسلامی اکادمی اُردو بازار لاهور، مطبع: زاهد بشیر پرنټرز لاهور، سن اشاعت ربیع الاول ۱۴۰۸ء هـ ج ۱ ـ ۱۸۰ مخ

۵۵. خوشحال بابا او نبوی کورنۍ (از اجرالدین اقبال) ـ ۲۴۷ مخ

۵٦. السجستانی: سلیمان بن الاشعث، صحیح ابو داؤد. مترجم: علامه وحید الزمان. ناشر: اسلامی اکادمی ۱۷، اُردو بازار لاهور. مطبع: زاهد بشیر پرنټرز لاهور. سن اشاعت ۱۴۰۳هـ ج ۲ ـ ۱۷۳ مخ

۵۷. ابو عیسیٰ: محمد بن سوره ، صحیح ترمذی ـ مترجم: مولانا ذکریا. ناشر: مکتبه رحمانیه ـ ۱۸ اُردو

بازار لاهور۔ مطبع: زاهد بشیر پرنټرز لاهور، د چاپ کال نه لری۔ ج ۲ ۔ ۲۰٦ مخ
۵۸۔ احمد بن محمد بن حنبل (امام) ۔ مسند امام احمد حنبل۔ دارالحدیث القاهره ۔ طبع ثالث: ۱۴۱٦ هـ ۔ ج ۵ ۔ ۴۴ مخ
۵۹۔ رضا رضوانی۔ امام حسنؑ۔ ناشر: جامعه تعلیمات اسلامی پاکستان کراچی۔ مطبع: عمار پرنټرز کراچی۔ سن اشاعت ۲۰۰۲ء ۔ ۳٦ ، ۳۷ مخونه
٦۰۔ ارمغان خوشحال۔ (مرتبه سید رسول رساؔ) ۔ ۸۰۵ مخ
٦۱۔ فاطمهؓ کا لال ۔ (از مفتی حبیب احمد شاهی) ۲۵۹ مخ
٦۲۔ خوشحال بابا او نبویؐ کورنی ۔ (ازاجر الدین اقبال) ۔ ۲۷۴ مخ
٦۳۔ همدغه کتاب ۔ ۲۷۵ مخ
٦۴۔ فاطمهؓ کا لال (از مفتی حبیب احمد شاهی) ۔ ۲۵۹ مخ
٦۵۔ دیوان خوشحال خان خټک (مرتبه حاجي پردل خان خټک) ورومبی حصه ۔ ۵۱۵ مخ
٦٦۔ فضل نامه ۔ (از خوشحال خان خټک) ۔ ۷ مخ
٦۷۔ دیوان خوشحال خان خټک (مرتبه حاجي پردل خان خټک) دویمه حصه ۔ ۴۵۹ مخ
٦۸۔ لوئے اصحابان ۔ (از قیام الدین خادم) ۔ ۱۸۹ مخ
٦۹۔ عمر ابو النصر ۔ الحسینؓ۔ مترجم: شیخ محمد احمد پانی پتی۔ ناشر: بشیر احمد چودهری ډائریکټر مکتبه میری لائبریری لاهور۔ مطبع: ثاقب عمران پریس لاهور، سال اشاعت ۱۹۸۹ء ۔ ۳۸ مخ
۷۰۔ خوشحال بابا او نبویؐ کورنی ۔ (از اجر الدین اقبال) ۔ ۲۵۱ مخ
۷۱۔ تلمیحات اقبال۔ (از سید عابد علي عابدؔ) ۔ ۲۸۹ مخ
۷۲۔ فضل نامه ۔ (از خوشحال خان خټک) ۔ ۳۰ مخ
۷۳۔ فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا ۔ ۵۴۳ مخ
۷۴۔ اغا اشرف ۔ مشاهیر اسلام ، ناشر: شهناز همایون، المعارج بی ۴٦٦ / ٦ علامه اقبال ټاون لاهور ۔ مطبع: ار ۔ زیډ پیکچرز مچهلی مارکیټ لاهور۔ سال اشاعت ۱۹۹۰ء ۔ ۸۲ ، ۸۳ مخونه
۷۵۔ مشاهیر اسلام (از آغا اشرف) ۔ ۸۳ مخ
۷٦۔ اشرف: حافظ غلام مصطفی، صحابه کرامؓ الله کے راستے پر ۔ ناشر: محمد علی، آصف خالد ۔ مطبع: المطبة العربیه لاهور۔ سال اشاعت ۔ ۱۹۹۹ ۔ ۹۴ ، ۹۵ مخونه۔
۷۷۔ ارمغان خوشحال ۔ (مرتبه سید رسول رساؔ) ۔ ۸۰۵ مخ
۷۸۔ سید الاهل: عبدالعزیز، امام زین العابدین ۔ مترجم: عبدالصمد صارم الازهری۔ ناشر: مکتبه میری

لائیبریری لاهور ۲ ـ مطبع: ثاقب عمران پرنترز لاهور سال اشاعت۔ ۱۹۸۸ء ـ ۱۷ ، ۱۸ مخونه
۷۹۔ گجراتی: کاظم علی، سچے رهنما (امام زین العابدینؑ) ناشر: جامعه تعلیمات اسلامی پاکستان۔ کراچی۔ مطبع: عمار پرنترز کراچی۔ سن اشاعت: ۲۰۰۲ء ـ ۱۲ مخ
۸۰۔ خوشحال او نبویؐ کورنی (از اجر الدین اقبال) ـ ۲٦۱ مخ
۸۱۔ همدغه کتاب ـ ۲٦۲ مخ
۸۲۔ اخلاق نامه (حبیب الله رفیعؒ) ـ ٦۴ مخ
۸۳۔ نواز رومانی: جرنیل صحابهؓ۔ ناشر: ادبستان۔ ۴۳ ـ ریتگن روډ لاهور۔ مطبع: شریف پرنترز لاهور۔ سن اشاعت ۱۹۹۹ء ـ ۵۳۸ مخ
۸۴۔ هیکل: محمد حُسین۔ حضرت عمر فاروق اعظمؓ ـ مترجم: حبیب اشعر دهلوی۔ ناشر: فکشن هاؤس لاهور، مطبع: زاهد بشیر پرنترز لاهور ـ ۲۰۰۲ء ۴٦۵ مخ
۸۵۔ جرنیل صحابهؓ ـ ۵۴۰ مخ
۸٦۔ فضل نامه (مرتبه خوشحال خان خټک) ـ ۳۰ مخ
۸۷۔ جرنیل صحابهؓ۔ (از نواز رومانی) ـ ۳۷ مخ
۸۸۔ همدغه کتاب ـ ۳۸ مخ
۸۹۔ همدغه کتاب ـ ۳۹ مخ
۹۰۔ همدغه کتاب ـ ۴۰ مخ
۹۱۔ همدغه کتاب ـ ۴۱ مخ
۹۲۔ همدغه کتاب ـ ۴۴ مخ
۹۳۔ همدغه کتاب ـ ۴۴ مخ
۹۴۔ همدغه کتاب ـ ۴۵ مخ
۹۵۔ همدغه کتاب ـ ۴۵ مخ
۹٦۔ فضل نامه (از خوشحال خان خټک) ـ ۳۰ مخ
۹۷۔ سیر اعلام لنبلاء ـ (از شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان الذهبی) ـ ج ۱ ـ ۱۲۴ مخ
۹۸۔ طبقات ابن سعد ـ (از ابو عبدالله محمد بن سعد منیع بصری) ج ۳ ، ۲۷۸ مخ
۹۹۔ صحیح بخاری۔ (محمد بن اسماعیل اما بخاری) ج ۱، ۵۴۵ مخ
۱۰۰۔ عشره مبشرهؓ (از حکیم محمود احمد ظفر) ـ ۳۸۵ مخ
۱۰۱۔ همدغه کتاب ـ (از حکیم محمود احمد ظفرؒ) ـ ۳۸۵ مخ

۱۰۲۔ طبقات ابن سعد (ازابو عبدالله محمد بن سعد منیع بصری) ج ۳، ۲۷۹ مخ
۱۰۳۔ همدغه کتاب ۔ ج ۳ ۲۸۰ مخ
۱۰۴۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) ۔ ۱٦۰ مخ
۱۰۵۔ همدغه کتاب ۔ ۵۱۵ مخ
۱۰٦۔ کرامات صحابهؓ (از علامه عبدالمصطفی اعظمی) ۔ ۱٦۸، ۱٦۹ مخونه
۱۰۷۔ فضل نامه (از خوشحال خان ختک) ۔ ۳۰ مخ
۱۰۸۔ حبیب الرحمٰن قاضی۔ عشره مبشره۔ ناشر: البدر اکیډمی سرکلر روډ لاهور۔
د چاپ ځائي او کال نه لری۔ ۱۱٦ مخ
۱۰۹۔ اصحاب بدر (از محمد سلیمان منصور پوری) ۔ ۵۰ مخ
۱۱۰۔ طالب هاشمی۔ تیس پروانے شمع رسالت کے ۔ ناشر: البدر پبلی کیشنز اردو بازار لاهور، مطبع: المطبعه العربیه ۳۰ لینک روډ پرانی انارکلی لاهور تیسرا ایډیشن ۱۹۸۳ء ۔ ۴۸۸، ۴۸۹ مخونه
۱۱۱۔ همدغه کتاب ۔ ۴۹۳ مخ
۱۱۲۔ عشره مبشره (از حکیم محمود احمد ظفرؔ) ۲۳۳ مخ
۱۱۳۔ فضل نامه (از خوشحال خان ختک) ۔ ۳۰ مخ
۱۱۴۔ عشره مبشره ۔ (ازقاضی حبیب الرحمان) ۲۷۹ مخ
۱۱۵۔ حافظ ابی عبدالله محمد بن عبدالله: الحاکم النیشاپوری۔ المستدرک علی الصحیحین۔ ناشر و مطبع: دارالکتب العلمیة بیروت۔ لبنان۔ سن اشاعت: ۱۹۹۰ء ۔ ج ۳ مخ ۳۰٦۔
۱۱٦۔ عضنفر: مولانا محمود احمد، مبشر صحابه۔ ناشر: حدبیه پبلیکیشنز۔ اُردو بازار لاهور، مطبع: آصف پرنټرز لاهور، د چاپ کال نه لری۔ ۱۹۵ مخ۔
۱۱۷۔ همدغه کتاب ۔ ۱۹٦، ۱۹۷ مخونه
۱۱۸۔ ابی الفضل احمد: شهاب الدین ۔ الاصابه فی تمیز الصحابة۔ جلد ٦ ۔ ۳۱۳ مخ
۱۱۹۔ اصفهانی: حافظ ابی نعیم احمد بن عبدالله، حلیه الاولیاء لابی نعیم۔ ناشر: دارالکتاب العربی۔ بیروت لبنان۔ مطبع: موسه جواد للطباعه والتصویر بیروت لبنان، طبع ثالثه ۔ ۱۹۸۰ء ج ۱، ۱۰۰ مخ
۱۲۰۔ کلیات خوشحال خانِ ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ٦۰۱ مخ
۱۲۱۔ همدغه کتاب ۔ ۳۵۵ مخ
۱۲۲۔ همدغه کتاب ۔ ٦۹۷ مخ
۱۲۳۔ همدغه کتاب ۔ ۸٦۴ مخ

۱۲۴- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۱۵ مخ

۱۲۵- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۱٦ مخ

۱۲٦- صدیقیؒ: شجاعت الله۔ حضرت عثمانؓ ۔ ناشر: فیروز سنز لمیټډ لاهور، مطبع: عبدالسلام پرنټرز لاهور، سن اشاعت نه لری ۔ ۳ مخ

۱۲۷- همدغه کتاب ۔ ۴ مخ

۱۲۸- همدغه کتاب ۔ ۴ مخ

۱۲۹- فاروقی: ابو ریحان ضیاء الرحمٰن ۔ ستارے چاند کے ۔ ناشر: اداره اشاعت المعارف فیصل آباد ۔ د چاپ ځائې نه لری. اشاعت دوم: اکتوبر ۱۹۹۴ء ۔ ۳۲۴ مخ

۱۳۰- منصور پوری: حضرت علامه ابو سلیمان ۔ ۳۱۳ اصحاب بدر۔ ناشر: محمد طارق چودهری ۔ مطبع: ار۔ این پرنټرز لاهور سن اشاعت: فروری ۲۰۰۰ء ۔ ۷۴ مخ۔

۱۳۱- حمید الدین ډاکټر۔ تاریخ اسلام ۔ ناشر: فیروز سنز لمیټډ لاهور۔ مطبع: عبدالحمید خان پرنټرز لاهور ، سال اشاعت جولائی ۱۹۷٦ء ۔ ۱۴۴، ۱۴۵ مخ

۱۳۲- فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا ۔ ٦۸۷ مخ

۱۳۳- عشره مبشره ۔ (از قاضی حبیب الرحمٰن) ۔ ۷۱ مخ

۱۳۴- کلیات خوشحال خان خټک ۔ (مرتبه‌دوست محمد خان کامل مومند) ٦۰۲ مخ

۱۳۵- همدغه کتاب ۔ ٦۱۴ مخ

۱۳٦- همدغه کتاب ۔ ٦۸۹ مخ

۱۳۷- همدغه کتاب ۔ ٦۹۷ مخ

۱۳۸- همدغه کتاب ۔ ۷۵۱ مخ

۱۳۹- اخلاق نامه ۔ (مرتبه حبیب الله رفیع) ۔ ۱٦ مخ

۱۴۰- همدغه کتاب ۔ ۱۷ مخ

۱۴۱- همدغه کتاب ۔ ۲۹ مخ

۱۴۲- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۴۴۹ مخ

۱۴۳- همدغه کتاب ۔ ۳۵۵ مخ

۱۴۴- همدغه کتاب ۔ ۴۲۸ مخ

۱۴۵- ندوی: معین الدین۔ خلفائے راشدین ۔ ناشر: دارالمصنفین اعظم گرهـ مطبع نه لری۔ سن اشاعت ۱۹۴۳، ۲۱۷، ۳۲۸ مخونه

۱۴۶- شاهده بیگم - حضرت علی کرم الله وجه - ناشر: فیروز سنز لمیټډ لاهور- مطبع عبدالسلام پرنټرز لاهور - د چاپ کال نه لری - ۳ مخ
۱۴۷- فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا - ۷۰۳ ، ۷۰۴ مخونه
۱۴۸- رحیم آبادی: حکیم شرافت حُسین - حضرت علیؓ - ناشر: محمد اکرم- تخلیق ۳۳ - اے شاه عالم گیټ لاهور- مطبع: تخلیق مرکز پرنټرز لاهور- د چاپ کال نه لری- ۶۰ ، ۶۱ مخونه-
۱۴۹- ارمغان خوشحال - (مرتبه سید رسول رسآ) ۸۰۵ مخ
۱۵۰- فاطمهؓ کا لال- (از مفتی حبیب احمد شاهی) ۲۵۷ مخ
۱۵۱- خوشحال بابا او نبوی کورنی (از اجر الدین اقبال) ۲۶۹ مخ
۱۵۲- همدغه کتاب - ۲۶۹ مخ
۱۵۳- فاطمهؓ کا لال - (ازمفتی حبیب احمد شاهی) ۲۵۷ مخ
۱۵۴- ارمغان خوشحال (از سید رسول رسآ) ۸۰۵ مخ
۱۵۵- فاطمهؓ کا لال - (از مفتی حبیب احمد شاهی) ۲۵۸ مخ
۱۵۶- خوشحال بابا او نبوی کورنی (اجر الدین اقبال) ۲۷۲ ، ۲۷۳ مخونه
۱۵۷- همدغه کتاب - ۲۷۳ مخ
۱۵۸- فاطمهؓ کا لال (از مفتی حبیب احمد شاهی) ۲۵۹ مخ
۱۵۹- گجراتی: کاظم علی، امام علی نقیؓ- ناشر: جامعه تعلیمات اسلامی پاکستان کراچی- مطبع عمار پرنټرز کراچی- طبع چهارم ۲۰۰۲ء - ۳۰ مخ
۱۶۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) - ۲۷ مخ
۱۶۱- همدغه کتاب - ۳۵۵ مخ
۱۶۲- همدغه کتاب - ۴۴۹ مخ
۱۶۳- همدغه کتاب - ۶۰۱ مخ
۱۶۴- همدغه کتاب - ۸۶۴ مخ
۱۶۵- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیعؔ) - ۱۳ مخ
۱۶۶- همدغه کتاب - ۱۴ مخ
۱۶۷- همدغه کتاب - ۱۵ مخ
۱۶۸- سید ذاکر اعجاز - حضرت عمر فاروق - ناشر: فیروز سنز لمیټډ لاهور- مطبع: عبدالسلام پرنټرز لاهور - د چاپ کال نه لری- ۳ مخ

۱٦۹۔ همدغه کتاب ۔ ۴، ۵ مخونه

۱۷۰۔ همدغه کتاب ۔ ۵ مخونه

۱۷۱۔ همدغه کتاب ۔ ٦، ۷ مخونه

۱۷۲۔ همدغه کتاب ۔ ۱٦ مخونه

۱۷۳۔ همدغه کتاب ۔ ۱۷ مخونه

۱۷۴۔ جرنیل صحابهؓ ۔ (از نواز رومانیؔ) ۲۰۳ ، ۲۰۴ مخونه

۱۷۵۔ همدغه کتاب ۔ ۲۰۵ مخ

۱۷٦۔ اخلاق نامه (از حبیب الله رفیع) ۔ ۱٦ مخ

۱۷۷۔ اخلاق نامه (از حبیب الله رفیع) ۔ ٦۷ مخ

۱۷۸۔ فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا ۔ ۷۰۷ مخ

۱۷۹۔ تاریخ اسلام ۔ (از ډاکټر حمید الدین) ۱۵٦ ، ۱۵۷ مخونه

۱۸۰۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مهمند) ۔ ۳۵۵ مخ

۱۸۱۔ اخلاق نامه (از حبیب الله رفیع) ۔ ۱٦ مخ

۱۸۲۔ همدغه کتاب ۔ ۱۷ مخ

۱۸۳۔ طالب هاشمی: سیرت فاطمه الزهراؓ۔ ناشر: عبدالحفیظ احمد، البدر پبلی کیشنز لاهور، مطبع: قومی پریس لاهور۔ سال اشاعت: ۱۹۹٦ء ۔ ۲۲ مخ

۱۸۴۔ همدغه کتاب ۔ ٦۰ مخ

۱۸۵۔ لوئے اصحابان (از قیام الدین خادمؔ) ۔ ۱۱۹ مخ

۱۸٦۔ همدغه کتاب ۔ ۱۲۰ مخ

۱۸۷۔ همدغه کتاب ۔ ۲۰۰ مخ

۱۸۸۔ همدغه کتاب ۔ ۲۰۱، ۲۰۲، ۲۰۳ مخونه

۱۸۹۔ عُمر ابو النصر ۔ الزهراءؓ۔ مترجم: شیخ محمد احمد پانی پتی۔ ناشر: مکتبه میری لائبریری لاهور ۲۔ مطبع: ثاقب عمران پرنټرز لاهور۔ سال اشاعت: ۱۹۸۸ء ۔ ۷۹ مخ

۱۹۰۔ لوئے اصحابان (از قیام الدین خادمؔ) ۲۰۴ مخ

۱۹۱۔ انصاری مولانا سعید، سیر الصحابیات۔ ناشر: نیشنل بک فاؤنډیشن پاکستان۔ معارف اعظم گڑھ ۔ مطبع: نۀ لری۔ سن اشاعت: ۱۹۷۲ء ۱۰۳ مخ

۱۹۲۔ ارمغان خوشحال ۔ (از سید رسول رساؔ) ۸۰۵ مخ

١٩٣۔ فاطمہؓ کالال ۔ (از مفتی حبیب احمد شاہی) ۔ ۲۵۸ مخ
١٩۴۔ خوشحال بابا او نبوی کورنی (از اجر الدین اقبال) ۔ ۲۷۱ مخ
١٩۵۔ گجراتی: کاظم علی، امام محمد تقی ۔ ناشر: جامعہ تعلیمات اسلامی پاکستان، کراچی۔ مطبع: عمار پرنٹرز کراچی۔ سن اشاعت: ۲۰۰۲ ۔ ۲٦ مخ
١٩٦۔ ارمغان خوشحال (از سید رسول رساؔ) ۔ ۸۰۵ مخ
١٩٧۔ فاطمہؓ کا لال (از مفتی حبیب احمد شاہی) ۲۵٦ مخ
١٩٨۔ خوشحال بابا او نبوی کورنی (اجر الدین اقبال) ۔ ۲٦۷ مخ
١٩٩۔ فاطمہؓ کا لال (از مفتی حبیب احمد شاہی) ۲۵۷ مخ
۲۰۰۔ گجراتی کاظم علی ۔ امام موسیٰ کاظم۔ ناشر: جامعہ تعلیمات اسلامی پاکستان کراچی۔ مطبع: عمار پرنٹرز کراچی۔ سن اشاعت ۲۰۰۲ء۔ ۲۵، ۲٦ مخونہ
۲۰۱۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبہ دوست محمد خان کامل مهمند) ۔ ۲۸٦ مخ
۲۰۲۔ همدغه کتاب ۔ ۵۴۴ مخ
۲۰۳۔ همدغه کتاب ۔ ۵۴۷ مخ
۲۰۴۔ همدغه کتاب ۔ ٦۲۹ مخ
۲۰۵۔ سوات نامہ ۔ (مرتبہ همیش خلیلؔ) ۔ ۸۰ مخ
۲۰٦۔ خوشحال بابا او نبوی کورنی ۔ (اجر الدین اقبال) ۔ ۲۷۷ مخ
۲۰۷۔ فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیدیا ۔ ۹۵۹، ۹٦۰ مخونہ
۲۰۸۔ السجستانی: سلیمان بن الاشعث، سنن ابی داؤد۔ مترجم: الفاضل مولوی عبدالاول۔ ناشر: مقبول اکیدمی۔ ۱۹۹ سرکلر روڈ چوک انار کلی لاهور۔ مطبع: معظم پریس لاهور۔
د چاپ کال نه لری۔ ج۴۔ ۱۷۲ مخ
۲۰۹۔ گجراتی: کاظم علی۔ امام مهدی۔ ناشر: جامعہ تعلیمات اسلامی پاکستان کراچی۔ مطبع: عمار پرنٹرز کراچی۔ سن اشاعت ۲۰۰۲ء ۔ ۳۱، ۳۲ مخونہ
۲۱۰۔ کلیات خوشحال خان ختک۔ (مرتبہ دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۱٦۰ مخ
۲۱۱۔ همدغه کتاب ۔ ۳۵۵ مخ
۲۱۲۔ قاسم محمود: سیدؔ، اسلامی انسائیکلو پیدیا۔ ناشر: محمد فیصل۔ مطبع: تیکسیشن پرنٹنگ پریس لاهور۔ اتم ایدیشن د چاپ کال نه لری۔ ج ۲ ۔ ۱۵۷۳ مخ
۲۱۳۔ ۳۱۳ ۔ اصحاب بدر (از علامہ ابو سلیمان منصور پوری) ۱۹۹ مخ

دریم باب

## د خوشحال په کلام کښې مذکور

# اولیاء کرام، بزرګان او صوفیان

دا ښکلي او سپېن سپېڅلی خلق - چې نفسونه ئې وژلي دی- په ځانونو ئې پښې ایښې دي- او د روحاني تطهیر ګرانې مرحلې ئې سر کړي دي- دغه شخصیاتو نه یوازې خپله اصلاح کړې ده- بلکې د نور اُولس د اخلاقی روزنې او تربیې وظیفه ئې هم په ډېره ښه توګه تر سره کړې ده-

خوشحال بابا هم په دغه اساس پخپلو شعرونو کښې یاد کړي دي- او دې باب کښې د خوشحال بابا په دغه حواله د وئیلې شوو شعرونو تحقیقی جاج اخستے شوے دے-

که مريد د شيخ آدم بنوري دے
په سلوک کښے ددے کار په بے نوري دے (۱)

دے شعر کښې خوشحال بابا میاں نور المعروف په میاں جی یا میاں جیو ته اشاره کړې ده. چې هغه د شیخ آدم بنوریؒ مرید دے. او په طریقت کښې ئې د هغه نه لاس نیوې کړې ده. خو د سلوک په کار کښې د نورانیت نه خالی دے.

## آدم بنوری:

په مشوانی ساداتو کښ چه کوم جلیل القدر بزرګ تیر شویدے او د هغه فیوضات په ټول مغربی پاکستان خصوصاً د سابق صوبه سرحد قبائلی علاقے سرحدی ریاستونو او افغانستان په علاقو کښې خواره دی. هغه د حضرت سید الطائفه و سید السادات شیخنا و مولانا حضرت سیدنا آدم بنوری علیه الرحمه ذات بابرکات دی. خمونږ په دے ملک کښې ددے نامور روحانی رهنما مریدان او خلیفه ګان د دین اسلام روښانه مشعلونه دی. ځلانده ستوری دی چه دا ټول ملک پرے روښانه دے. د حضرت سیدنا آدم بنوری علیه الرحمه دځامنو او نمسو اکثر مزارونه خمونږ په دے علاقه کښې دی او ددهٔ اولاد په بنورخیل ساداتو مشهور دی. په شرارو د افغانستان کښې او په کویټه کښې چه کوم بنورخیل سادات دی. د هغوئ مورث اعلی سید داود په نهم پشت کښې د حضرت سیدنا آدم بنوری علیه الرحمه نمسے دے. (۲)

آدم بنوری د لوئے صوفی او ستر عالم مجدد الف ثانیؒ د اکابرو خلیفه ګانو نه یو خلیفه وو. د دوئ د پلار نامه اسماعیل وه. د سرهند خواته د بنور نومې ځائے اُوسیدونکے وو. سید آدم بنوری په ابتداء کښې د شاهی لښکر یو ملازم وو. خو وروسته ئې دغه ملازمت پریښودو. ملتان ته راغے او د حاجی خضر دونمائی په خدمت کښې حاضر شو. او د هغه نه ئې بیعت اُوکړو. او د ډیرو ریاضتونو او مجاهدو نه پس په خلافت اونمانځلے شو. په "خلاصه المعارف" کښې دی چې دوئ د شیخ محمد طاهرلاهوری نه هم باطنی فیوض حاصل کړی دی. کوم فیوض چې هغه ته د شیخ سکندر نه د حضرت کمال الدین کیتهلی په ذریعه رسیدلی وو.

سید آدم بنوری یو نالوسے سړے وو. بیا هغوئ د یوې جذبې لاندې قرآن مجید حفظ کړو او نور ظاهری علوم ئې هم حاصل کړل. وئیلي شي چې د سید آدم بنوری د مریدانو تعداد یو لک وو. چې سل پکښې د خلافت مرتبې ته رسیدلی وو. او دۀ نه ئې ظاهری علوم هم حاصل کړی وو.

سید آدم بنوری چې به چرته تللو نو په زرګونو پښتانه به ورسره وو. په "تذکره آدمیه" کښې راغلی دی. چې سید آدم بنوری په ۱۶۴۳ء کښې لاهور ته تشریف راوړو. نو د هغه سره لس زره مشائخ او پښتانه وو. دغه وخت شاه جهان په لاهور کښې وو. بدخواهانو د شاه جهان غوږونو ته دا خبر اُورسولو چې د سید آدم بنوری سره دومره کسان دی. چې که هغه اُوغواړی نو ستا نه حُکومت هم اخستے شی. شاه جهان د حال معلومولو په غرض خپل وزیر سعد الله خان د سید آدم بنوری آستانې ته اُولیږلو. هغه د شاه جهان وزیر ته هدو توجه ورنکړه. ډیر ساعت ئې ورسره څه خبرې هم اُونه کړلې بیا ئې هغه ته د دُنیا نه د لاس په سرې د پاره نصیحت اوکړو. کله چې سعد الله خان واپس شو. نو بادشاه ته ئې هر څه بیان کړل. او د راپیښیدونکو اندیښنو نه ئې شاه جهان اګاه کړو. بیا ئې شاه جهان له مشوره ورکړه. چې بادشاه دې آدم بنوری په څه بهانه ددې ځای نه بل چرته اُولیږی. هغه دا مشوره خوښه کړه.او سید آدم بنوری ئې د خپلو ملګرو او خاندان سره حج ته اُولیږلو. د حج نه پس هغه په مدینه کښې مستقل استوګنه اختیار کړه.

سید آدم بنوری په ۱۹ دسمبر ۱۶۴۳ء کښې په مدینه منوره کښې وفات شو او په جنت البقیع کښې د حضرت عثمان بن عفانؓ د روضې مبارکې سره خاورو ته اُوسپارلے شو. د دوئ په رسائلو کښې خلاصة المعارف او نکات الاسرار ډیرې مشهورې دی. (۳)

== ☆☆☆ ==

هسے په ظاهر صورت په مکر دے محکم
وائیے چه پیدا شو ثانی براهیم ادهمؒ (۴)

د اورنګزیب عالمګیر د کردار او شخصیت په حقله ستر خوشحال ډیر څه وئیلی دی. یوه شل بتیزه قصیده د کلیات په مخونو ۹۴۳، ۹۴۴ او ۹۴۵ درج ده. دغه قصیده کښې خوشحال بابا د اورنګزیب عالمګیر په باره کښې وائی چې دۀ د اقتدار د پاره خپل ورونه تر تیغه تیر کړل. پلار ئې په بند کړو. دوه کاله زیات و

کم اُوشول. چې په تخت ناست دے. داسې ظلمونه ئې اوکړل چې په هلاکو خان او اظلم ئې خاورې واړولې. د ظلم د دغې انتها داستانونه به چا ددې نه وړاندې د آدمؑ په اولاد کښې نه وی اوریدلې. خو ددې هر څه باوجود چې ظاهراً د اورنګزیب عالمګیر صورت ته ګورے. نو داسې معلومیږی چې ګنی ابراهیم ادهمؒ په دویم ځل راپیدا شوے دے. خو دا هر څه چې مونږ ته ظاهری ښکاری ددهٔ مکر او فریب دے. ګنی چرته دے او چرته ابراهیم ادهمؒ.

## حضرت ابراهیم ادهمؒ:

ابراهیم آدهم د بلخ ښار شهزاده او لوئې بزرګ، صوفی او عالم وو. په ۷۹۵ء کښې په مکه معظمه کښې پیدا شوے وو. په فقر او زهد کښې د سترې مرتبې څښتن وو. د حضرت جنید بغدادیؒ د وینا مطابق د تمام عالم د فقراء د تمامو علومو کنجیانې ابراهیم ادهم سره دی. د روایت مطابق ابراهیم ادهم یو ځل پخپل محل کښې اُوده وو. چې د کوټې په چت ئې د چا ښکالو تر غوږ شوه. چې وراغلو، نو سړے ئې اُولیدو. د دوئ په دې پوښتنه چې دلته، دا وخت څه کوے؟په ځواب کښې هغه سړی اُووئیل زهٔ خپل اوښ لټوم. دوئ ورته په ډیره حیرانتیا اُووې چې د کوټې په چت اُوښ څنګه ختلے شی؟ دا ناممکنه ده. سړی ځواب ورکړو چې بیا دا څنګه ممکنه ده چې د اطلس او کمخواب په جامه کښې سړے خدائې بیا مومی؟

په ابراهیم ادهم ددې واقعې دومره اثر اوشو چې هر څه ئې پریښول او د نیشاپور خواو شا یو غار کښې دیره شو. تر نهو کالو ئې دومره عبادت او ریاضت اوکړو چې فقراء او صوفیانو ورسره رشک پیدا شو. دے په ۸۹۴ء کښې وفات شو او په سوقین روم کښې دفن شو. (۵)

د یو بل روایت ترمخه د دوئ وفات په ۱٦ جمادی الاول ۱٦۲هـ کښې شوے دے. او مزار مبارک ئې په جبله شام کښې دے. دغه رنګ ځنې پوهانو ددهٔ مزار په بغداد کښې په ګوته کړې دے. ولې د دوئ د مزارپه حقله د جبله شام روایت زیات قوی دے. (٦)

ذ ابراهیم ادهم کنیت ابو اسحٰق او د پلار نامه ئې ادهم بن سلیمان بن منصور بلخی وه او شاهی

خاندان سره ئې تعلق لرلو۔ ابتداء کښې د بلخ بادشاه وو۔ دغه شان دے په مکه معظمه کښې امام اعظمؒ، سفیان ثوریؒ او ابو ایوب غولیؒ په صحبت کښې پاتې شوے دے۔ او د امام اعظم نه ئې علم حاصل کړے دے۔ امام اعظم به ورته "سیدنا" وئیل۔ (۷)

== ☆☆☆ ==

زهٔ د درویزه غوندِ اِیمان بنیٔم ودهٔ ته
دے د پیر روښان غوندِ دَ کفر کا تلقین (۸)

☆

مخزن مے د اخوند چه تمامی په نظر کښیووت
په ده کښے نه عروض شته نه ئے بحر ما موندلی (۹)

☆

مخزن د درویزه د میاں نور شیخی پیری
الثالثُ بالخیر د حمزه خانی میری (۱۰)

☆

دوئ به وائی چه دا څهٔ دی
مخزن بنه دے د اخون (۱۱)

☆

دوه کاره دی په سوات کښے که خفی دی که جلی
مخزن د درویزه دے یا دفتر د شیخ ملی (۱۲)

☆

یو کتاب دے درویزه سره جوړ کړے
چه د سوات خلق ئیے له علمه دے موړ کړے (۱۳)

☆

چا به وے چه دا اخون زمونږ امام دے
درست مخزن پرے نازل شوے په الهام دے (۱۴)

☆

نه ئیے علم نه دانش، نه فهم، پوهه
خو دوستی د درویزه بانډِ انبوهه
په وئیل د درویزه عقیده څومره
لکه عین په آیت په حدیث هومره
درویزه چه بیان کړے خپل کتاب دے
نوم ئیے مخزن الاسرار کړے جناب دے (۱۵)

☆

په حیرت به واړه ګتے وچیچلے
د اخون په مخزن چا ګتے کښیښولے (۱٦)

☆

یا ورځه اوس میاں نور وته جواب کړه
یا قبول د درویزه مخزن کتاب کړه
درویزه نه مجتهد دے نهٔ امام دے
دے هم خام تاسو هم خام مخزن هم خام دے (۱۷)

☆

مونړه کله وایو دا چه یزید ښهٔ دے
په مخزن کښې درویزه ستائیلے نهٔ دے (۱۸)

☆

درویزه چه په خندا د خپل تصنیف دے
په نا حقه د میاں نور ځنې تعریف دے (۱۹)

☆

یوسفزیه چه نیولے ملک د سوات دے
داهمه د درویزه دُعا دعوات دے (۲۰)

☆

درویزه له یوه لوریه را پیدا شهٔ
په لږ علم په دا ملک کښے لوئے مُلا شهٔ
هغه وخت په پښتنو کښے عِلم نهٔ وه
درویزه تر مجتهده ورته ښهٔ وه (۲۱)

☆

ملنګانو به یزید ته کړے ښکنځلے
درویزه به د یزید پوزے وهلے
درویزه د درویزئ وګره خوړلے
په دا مکر ئے حلوا سره لړلے (۲۲)

☆

د روښان مرید محکمه وو په دین کښې
درویزه رخنه اغازه کړه په دین کښې
درویزه د ناکسینو دین برپائے کړه
خارجی ئے یوسفزیه ځان ئے ځائے کړه (۲۳)

دا شعرونه د هغه طنز او انتقاد عکاسی کوی. کوم چې خوشحال بابا په اخوند درویزهؒ د هغه په کتاب مخزن او د هغه پیرو میاں نور باندې کړے دے. اخون درویزه بابا په لسمه پیړۍ کښې د سوات او بنیر په خاوره ژوند تیر کړے دے. میاں نور د اخون درویزه بابا نمسے او د اخون کریم داد زوے وو. د سوات خلقو مخزن الاسلام ته ډیر په درنهٔ سترګه کتل، او په زړونو کښې ئې د اخون درویزه بابا سره بې کچه عقیدت او مینه لرله. چونکې خوشحال بابا په مخزن الاسلام څه اعتراضات اوکړل. څکه نو دغې اعتراضات د میاں نور او خوشحال بابا تر مینځه یوه مناظره مخې ته راوړه. خوشحال بابا په دغه حواله د اخون درویزه بابا ذکر پخپل کلام کښې کړے دے.

## اخون درویزه:

"اخون درویزه نسلاً ترک وو. مور ئې د بلخ د سلاطینو نه وه. ددهٔ مشر نیکه جیون بن جنتی د لمغان نه ننګرهار ته کډن شوے وو. او هلته ئې په مهمندزو کښې استوګنه اختیار کړې وه." (۲۴)

"دهٔ یو ځل مهمندو له دعوت کړے وو. چې دغه دوران کښې یو زلمی په توقه یا په بدنیتی خپل ناولی لاسونه د هغه په ږیره د پاکولو په غرض اُومږل. جیون دغه شوخی اُونه زغمله. د خپلو ماماخیلو نه ئې مرسته اُوغوښته. هغوئ د جیون لاس اُوکړو راغله او دا علاقه ئې د مهمند نه واخسته." (۲۵)

"ددے جیون زوئے مته، د مته زوئے احمد او د احمد زوئے درغان نومیدو. دا درغان د پاپینو سره په ننګرهار کښې استوګن وو. کله چې یوسفزی د اُلغ بیګ نه خفه شو او ننګرهار ته راغلل. نو د درغان زوئے سعدی ورسره د دُعاګو په طور تل شو. او چې یوسفزی د خیبر په لار راکوزیدل نو دے هم ورسره وو." (۲٦)

دوئ په سوات بنیر کښې میشته شول. دوئ سعدی ته د دیرشو کسانو برابر برخه ورکړه او بیا چه څه وخت پس امیر قودانی په یوسفزو حمله اوکړه. نو په جنګ کښې په غلطئ سره سعدی هم اولګیدو او مړ شو. د هغه زوئے ګدائی ئے ګرفتار کړو. خو چه امیر د صورت حال نه خبر شو. نو هغه په دے خفه شو او ګدائی ئې په عزت سره راپریښود. اخون درویزهؒ ددغه ګدائی زوئے دے. چه په کال ۹۴۰هـ خواوشاه کښې پیدا شوے دے. ددهٔ د مور نوم بی بی قراری وو." (۲۷)

"اخوند درویزه صاحب چه د علم خوند واخستو. نو بیائے د ملا سید مصر احمد ملازنګی پاپینی او ملاسنجر پاپینی په علومو تنده سړه نه شوه. او د علم په تلاش کښې هندوستان ته هم لاړو. د هندوستان په علماؤ کښې هغه یو د ملا جمال الدین هندوستانی ذکر کوی." (۲۸)

"درویزه د وخت د سره ډیر هوښیار او زیرک وو. او بیا خدائی پاک د پیر بابا غوند ستر عالم باند پیښن کړو. په بونیر کښې ئے د پیر بابا مریدی اختیار کړه. اخوند درویزه د خپل وخت ستر عالم او لیکوال وو. او بیا د بایزید سره په څنو مذهبی مناظرو ئې نوم تر لرے خور شو. (۲۹)

"د اخوند درویزهؒ په اثارو کې د زیات شهرت لرونکی اثر دده مخزن الاسلام دی، چې د ګڼو رسالو مجموعه ده. مخزن الاسلام د اخوند درویزهؒ زوی اخوند کریم داد بابا راټول کړی دی." (۳۰)

"چې د اُستاد رشاد دلیکنې له مخه یې د ۱۰۲۴هـ کال د محرم د میاشتې په یویشتمه له ټولولو او ترتیب څخه فارغ شوی دی. کریم داد له مخزن سره خپل اثار او رسایل د اخوند درویزه د ورور ملا اصغر نظم هم ورسره ملګری کړی دی." (۳۱)

"د اخون درویزه په کتابونو کښې تذکره الابرار والاشرار، ارشاد الطالبین او مخزن الاسلام چاپ شوی دی. دے سره سره د قصیده امالی شرح او ارشاد المریدین هم د اخون درویزه تالیفات دی. داسے ښکاری چه اخون درویزه تذکره الابرار و الاشرار د بایزید د حالنامے، ارشاد الطالبین ئے د فخر الطالبین او ارشاد المریدین ئے د مقصود المومنین په مقابل کښې لیکلی دی. او مخزن ئے د خیر البیان په مخالفت کښې لیکلے دے." (۳۲)

"د خزینه الاصفیاء د بیان مطابق اخوند درویزهؒ په کال ۱۰۴۸هـ کښې په حق رسیدلے دے۔ په دے حساب سره دده عمر ۱۰۹ کاله جوړیږی۔ زیارت ئے د پیښور ښهر د گنج دروازے نه بهر د پیښور ښهر په لویه ادیره کښې د هزار خانئ نومے کلی سره نزدے واقع دے۔ (۳۳)

== ☆☆☆ ==

د میاں نور مفتیان د سوات په ملک کښې دوه دی
الله داد او دوست محمد دواړه یا وه دی (۳۴)

ستر پوهان صدیق الله رشتین د الله داد په حقله د خپل خیال څرگندونه داسې کړې ده۔

دا سړی قاسم علی د کریمداد او درویزه سره یو ځای ذکر کړی دی۔ الله داد که کریمداد که درویزه و) نو کیدی شی چه د اخون درویزه له کوله وی۔ څه رنگه چه ده د شاعرانو په ډله کښې راوړی دی۔ نو معلومیږی چه شاعر هم ؤ۔ د الپوری حافظ د کریمداد او درویزه ذکر څخه وروسته دده نوم داسی اخلی:

ای چشتی میاں الله داده
ما نیولې لمن ستا ده

عقل ته خو دا بالکل پریوځی چه دی د درویزه په اولاد کښې داخل دی۔" (۳۵)

## الله داد:

حضرت میاں الله داد چې په چشتی بابا مشهور دے۔ د چشتیه سلسلې مشهور صوفی وو۔ په اله ډنډ کښې یې مزار دے۔ د پلار نوم یې پیر آدم خان بابا افغان وو۔ الله داد دسفید بابا کریمداد خپل خوری یعنی د خور زویے وو۔ د تیرات په جنگ کښې شامل وو۔ په کومه شپه چې کیری کافرو میاں کریمداد او عبدالحلیم شهیدان کړل۔ الله داد پکښې سخت ژوبل شو۔ مگر ژوندې پاتې شو۔ دغه وخت ددهٔ د واده صرف

یوه هفته شوی وه۔ خو د غزا په شوق او د ماما په جهاد کښې د شرکت د پاره د جنګ محاذ ته تلے وو۔ مطلب دا چې اله داد د لور د طرفه د اخون درویزه بابا نمسې وو۔ د اخون درویزه یوه لور د اله ډنډ په پیر آدم خان واده وه۔" (۳٦)

د میاں اللہ داد په حقله رحیم شاه رحیمؔ تاریخی حقائق څه په دا ډول منظوم کړی دی۔ وائی:

بل مفتی د شیخ میاں نور چې اللّٰه داد ؤ
کلک ملګرے د میاں نور د هر جهاد ؤ
الله داد د کریمداد سکه خورے ؤ
په طاعت او په خدمت ئې سم مرے ؤ
د پلار نوم د اللّٰه دادپیر آدم خان ؤ
داسې وائي چې د نسل نه افغان ؤ
اللّٰه داد چشتی ماذون ؤ د ماما نه
خلقې ورته راماتې د هر خوا نه
د تیرات په ورومبی جنګ کښې دے شامل ؤ
د خپل دور په رښتیا مرد کامل ؤ
دده قبر دے موجود په اله ډنډ کښې
دغه کلے د تانې دے په کاونډ کښې (۳۷)

د تاریخ مرصع مؤلف د میاں اللّٰه داد کرامات څه دا رنګ رانقل کوی۔ لیکی

"میاں اللّٰه داد په چکدره کښې د مجلس سره ناست وه۔ په هغه مجلس کښې بعضو ووے چه میاں دریغه تورے پیښې شوے چه مونږ د تا د وړاند شوے جنګ وکړے۔ دهٔ ورته وفرمائیل چه تورے ګرانے دی۔ لاف مهٔ کانړئ۔ لافے د ځوانانو تر غاړه شی۔ دوئ بیا مبالغه وکړه۔ دهٔ ورته ووے چه ښه خدائے

توفیق درکړه. په هغه زمان د سوات له سیند عظیم اژدها را ووت برابر په هغه مجلس راغے هغه تمام مجلس بے تکلیف تار په تار دؤ کړ. هغه اژدها راغے د میاں الله داد تر څنګ تیر شه چه هغه خلمی راغلل دهٔ ورته وے چه لاڼے مه کانړئ تاسو نه پوهیدئ. واړو توبے وکښے ترپښوئے پریوتل.

نقل دے چه میاں الله داد به سرود اُوریدهٔ عالمانو په تعصب د دین یو وبله ووے چه راشئ چه اظهار د امر معروف وکړو. آخر الامر عالمان ور روان شول. چه په حُجره وراغلل نظرئے وکړ. میاں الله داد ته سرود خود په خود غږیده. عالمانو تعجب وکړ خاموش پستنه راوجار وتل." (۳۸)

== ☆☆☆ ==

زهٔ ئے له اتکه نه روان کړم په دا حال
ور ئے وړم په پره په بابا حسن ابدال (۳۹)

## بابا حسن ابدال:

د بابا حسن ابدال په حقله مشهور مستشرق الفنستن لیکی:

"د حسن لقب ابدال وو..... دے د قندهار نامتو ولی وو. هلته دے په بابا ولی مشهور دے." (۴۰)

چارلس هیوګل چې په ۱۸۳۵ء کښې حسن ابدال ته راغلے وو. هغه هم د حسن ابدال بابا ذکر په دغه الفاظو سره کړے دے. لیکی:

"د بابا حسن ابدال په قندهار کښې ډیر قدر او منزلت دے. هلته دهٔ ته بابا ولی وئیلے شی." (۴۱)

" د غره د پاسه د بابا ولی درګاه ده. څوک چې په بابا حسن ابدال شهرت لري." (۴۲)

بل ځمن د بابا حسن ابدال په حقله ليکي.

"د پنجاب په خاوره د اټک نمرخاته پله چې کوم ښار د حسن ابدال په نوم آباد دے. دغه هم ددې ولی د نوم سره تړلے دے." (۴۳)

"دا خبره پخپل ځائې بيخي سمه ده. چې بابا حسن ابدال المعروف بابا ولی قندهاری دلته اوسيدلے وو. ځکه نو دا ځائې په حسن ابدال يادشوے دے." (۴۴)

"حضرت بابا حسن ابدالؒ په نورو ځايونو ته هم د خپلو مريدانو سره د ليدو د پاره تلے وی. خو هغه دلته ډيره استوګنه کړې ده. ځکه نو دے ځائې د بابا حسن ابدال نوم بياموندے دے. او ابوالفضل په اکبر نامه کښې، جهانګير په خپل توزک کښې، عبدالله خويشګی په معارج الولايت کښې، عبدالقادر بيدل په چهار عنصر او خوشحال بابا په يو ذوالقافيتين ترکيب بند کښې هم دا ځائې د بابا حسن ابدال په نامه ياد کړے دے." (۴۵)

"د بابا حسن ابدال سفری شوق هغه د سبزوار نه حجاز ته اورسؤو. د حرمين شريفين او نورو مقدس مقاماتو زيارت ئې وکړو. او څو کاله هلته پاتې شو." (۴٦)

اخون درويزه په تذکرة الابرار والاشرار کښې بابا احسن ابدال په حقله ليکي:

"په هغه آوان چې په دې سيمه د سوات د سلاطينو حکمرانی وه. دلته د مختلفو خواؤ نه سادات راغلل. ميشته شول. او ځانله ئې يو بيل ولايت جوړ کړو. په دغه ساداتو کښې څلور کسه ورونه هم راغلل. د يو نوم خواجه "جود" وو. دے په دوابه کښې استوګن شو. او دغلته ئې د ژوند شپې ورځې تيرې کړې. آخر چې هم په دغه ځای کښې دفن کړے شو. د دويم ورور نوم ئې خواجه "وجود" وو. دے په باجوړ کښې ديره شو. او هم هلته

تر آخره پاتې شو. مزار ئې په باجوړ کښې دے. دريم سيد احمد محمود نوميدو. دے د کلپانۍ په خوا کښې په لنګر کوټ نومې کلی کښې اُوسيدو. ددۀ قبر لنګر غر ته نزدې په يو اُوچت ځائې اُوس هم موجود دے. څلورم خواجه حسن چې په بابا حسن ابدال مشهور دے. ددې سيدانو ورور دے. دے د هزارې په اطرافو کښې اُوسيدو. او مزار ئې اُوس هم شته. دا ټول وروڼه سيدان، سُنّي، عالمان او اهل کمال وو." (۴۷)

== ☆☆☆ ==

هغه وخت چه پير روښان فساد بنياد کړ
پښتنو ورسره ټينګ کار د ارشاد کړ
د روښان بخره ورکزی او افريدی شول
هغه خوښ په رهزنئ په عنيدی شول (۴۸)

☆

د روښان خيرالبيان ئے وۀ ليدلے
د هغه په مضمون نه وۀ پوهيدلے (۴۹)

☆

د روښان مريد مُحکمه وو په دين کښے
درويزه رخنه آغازه کړه په دين کښے (۵۰)

☆

زهٔ د درویزه غونډ اِیمان ښیٔم ودهٔ ته
دے د پیر روښان غونډ د کفر کا تلقین (۵۱)

د پیر روښان خپل نوم بایزید انصاری وو. خو په پښتنو کښې ئې د پیر روښان په نوم شهرت لرلو. څکه نو خوشحال بابا پخپل کلام کښې هم په دغه نامه یاد کړے دے.

"بایزید انصاری چه په مختلفو کتابونو کښ عام طور سره د میاں روښان، بایزید انصاری، بایزید مسکین، بازید انصاری او پیر روښان په نومونو مشهور دے. د خپل غیر معمولی ذهنی قابلیت او لوړو ارادو له کبله د پښتنو په تاریخ کښ د یو اهم باب او لوړ کردار په حیثیت د ښکاره مقام خاوند دے. (۵۲)

## بایزید انصاری:

"بایزید روښان په ۱۵۲۵ میلادی کال کی زیږیدلی دی. او دانو هغه ورځی شپی دی چې په هندکی د افغانی لودی کورنی سلطنت د بابر په هجوم له زواله سره مخامخ کیږی. د بایزید پلار اصلاً د کندهار او په قوم اور مړو او په لودی دربار کی د عزت خاوند ؤ خو کله چې په هندکې کورگانیان مسلط شول نه په ۱۵۲۹ میلادی کال کی د بایزید پلار شیخ عبدالله د خپل څلور کلن زوی سره د وزیر ستان کانی گرم ته راغی او د خپل قوم سره یې اُوسیدنه غوره کړه." (۵۳)

"قاضی عبدالله دا وخت بایزید او د خپلې بلې ښځې فاطمې زوی یعقوب دواړه خپل شاگرد ملا پایند محمد ته په سبق کیښنول. بایزید د خپل خداداد ذکاوت په وجه له خپل ورور نه ډیر وړاندې ؤ. درسونه یې ښه زده کیدل، او ډیر ژر ژر یې تعلیمی وده کوله، دی چې بې له هغې هم د میرې د سترګو اغزی ؤ چیرته یې لیدلای شول چې علم دې زده کړي. وده دې وکړي او ددې له زوی نه دی وړاندې شي د ډیرې رخې او حسد له آمله یې دی له درسه راوګرځاوه او د کور کارونه به یې پرې کول." (۵۴)

"څه لږ موده چه تيره شوه نو بايزيد پلار ته ووے چه زما گزران د ميرے سره گران دے۔ ماته د خپل جائيداد نه څه حصه بيله کړه چه زه خپل گذران ځان ته کړم۔ دا خبره ئے اگرچه په پلار ډيره درنه اولگيده خو د هغه وخت مجبورئ به څه داسے وے چه هغه دۀ ته خپله حصه ورکړه او دے د پلار نه جُدا شو۔ چه جُدا شو نو د يو بل تره شيخ حسن لور (بی بی شمسو) ئے په نکاح کړه او په کانی گرم کښے ئے ځان ته استوږنه شروع کړه۔ (۵۵)

بيا دۀ د سلوک و معرفت لاره اونيوله۔ او د خپل تره د يو زوئ شيخ اسماعيل مريدی ئے اختيار کړه۔ سخت رياضتونه ئے اوکړل۔ چلے ئے اوويستے او په دے طريقه ئے علمی کمې پوره کړه۔ او عرفان ئے نصيب شو۔ دپير کامل دعوىٰ ئے اوکړه۔ (۵۶)

"بايزيد خپل تبليغ د خپل کلی کانی گرم نه شروع که۔ په شروع کښې تول خلق ددۀ مخالف وو۔ د خپل خاندان سره ئے هم د خپلے عقيدے او خيالاتو په وجه روغه رانغله۔ خلقو د سختے نه کار واخست۔ بايزيد د خپلے علاقے نه په تيښته مجبور شه۔ د ننگرهار سفر ئے اختيار که او ملک سلطان مهمند کره ډيره شه۔

په دغه دوران کښ د بايزيد يو خليفه په شمالی وزيرستان دوړو کښ تبليغ اوکړه۔ مريدان او ډله ئے پيدا کړه۔ بايزيد دغے علاقے ته لاړ۔ هغلته ئے تبليغ شروع که۔ بل خليفه ورله په ورشيته کښ حالات ښه کړل۔ د دوړو نه ورشيته ته لاړ۔ ددغے ځايه بنگشو ته واوړيده۔ بيا تيراه ته راغے۔ په تيراه کښ ډير زور پيدا شه۔ په افريدو، مهمندو، خليلو، گيگيانو، هشتنغر مهمندزو، يوسفزو کښ ډير مريدان او ډله پيدا شوه۔

هشتنغر کښ د ملا دولت په وجه ددغے علاقے ډير خلق د بايزيد مريدان شو۔ او هغلته په کُلا ډهير نومے کلی کښې ډيره شو۔ ددے ځاے نه ئے خليفه گان اکبر بادشاه، سيد علی ترمذی او نورو عالمانو اميرانو بادشاهانو ته سره د خپل تصنيف صراط التوحيد اوليږل۔" (۵۷)

"د تیره غونی دور نه پس خیر البیان زمونږ د نثر ورومبے معلوم کتاب ښکاری او هم ددے اثر د لاندے پښتو کښے نثر خور او رائج شو۔ په دے لحاظ بایزید انصاری د پښتو د نثری ادب او خاص طور سره د فلسفیانه او فکری نثربانی دے۔" (۵۸)

"ددهٔ د کتاب خیرالبیان په طرز ځنے نورو بزرګانو ددهٔ نه اګاهو هم کتابونه لیکلی وو۔ ځکه د لیک دا انداز څه منفرد نه دے۔ د بزرګانو په وارداتو منلو نور خلق نه وی مجبور، ځکه چه دا د هغوئ خپل ځانی تجربات وی۔ دهٔ چه خپله بزرګی په خلقو په زور منله نو دا ددے مسلک د لارے نه ګریز وو۔ او پکښے د اسماعیلی طریقے نخښے ښکاریدے۔ دهٔ د نبوت دعویٰ نه وه کړے خو د ولایت دعویٰ ئے دے ته ورته وه۔ په دے وجه د پښتنو اکثریت چه علماء هم پکښے وو۔ ددهٔ مخالفت کوو۔" (۵۹)

"په کال ۹۷۸هـ کښے ده صراط التوحید لیکلے دے۔ او په کال ۹۸۹هـ کښے ددهٔ اولاد شیخ عمر او رونړه ئے د یوسف زو د لاسه شهیدان شوی دی۔ په دے مینځ کښے ددهٔ خلفاء ځاے په ځاے دده دعوت خور کړے دے او واپس راغلی دی۔ دهٔ خپله د مغلو سره جنګ شروع کړے دے او د دوه نیم کاله جنګ د پسه بیا وفات شوے دے۔" (۶۰)

"ددهٔ د وفات کال علی محمد مخلص داسې ذکر کوی۔ یعنی تورې راوکښلو له اغازه دوه نیم کاله پس د رسالت پناهؐ د هجرت په ۹۸۰ کاله پیر دستګیر دوست سره واصل شو۔" (۶۱)

== ☆☆☆ ==

چه عاشقانو د حق دیدار لیده
موسیٰؑ په ونه منصور په دار لیده
جلوه ئے وکړه په بایزید کښے
د تیر تورے په مخ عطار لیده (۶۲)

☆

د بنګش په زړه کښے ډیره شیطانی ده
که په خوله وتاته شیخ شی د بسطام (۶۳)

بایزید بسطامی د تصوف او طریقت په دُنیا کښې یوه لویه نامه ده. ددهٔ پوره نوم ابو زید طیفور بن عیسیٰ بن سروشان دے. ابتداء کښې ئې د ابو علی سندهی نه علوم حاصل کړل. چې پکښې د فقې نه علاوه د تصوف سبقونه هم شامل وو. دې پورته شعرونو کښې خوشحال بابا د هغه یادونه په دوه حوالو کړې ده. وړومبی دا چې بایزید بسطامی په ځنګلونو کښې د الله تعالیٰ په لټون ګرځیدو. ولی الله تعالیٰ په هغه کښې جلوه اُوکړه. او دا شان بایزید الله تعالیٰ پخپل ځان کښې بیاموندو. دویم ځائ کښې خوشحال بابا د بنګشو د درغلی ذکر کوی. چې بنګش بې اعتباره دی. په زړونو کښې ئې شیطانی ده. څه که هم په خوله ډیر نرم دی. خوږې خوږې خبرې کوی. ولې پس پرده د مغلو ملګری دی. او د هغوئ د پاره د پښتنو په وژلو وړپسې دی.

## حضرت بایزید بسطامیؒ:

حضرت بایزید د بسطام ډیر مشهور صوفی وو. د دوئ خپل نوم طیفور وو. په دې وجه دوئ ته ځنې خلق بایزید طیفور البسطامی هم وائی. د دوئ نیکه اتش پرست وو. چې وروسته مسلمان شو. د بایزید بسطامیؒ شمار د خپلې زمانې د اوچتې پائې په صوفیانو کښې کیدو. د دوئ د عبادت، زهدو تقویٰ او د حضورﷺ سره بې کچه مینه داسې خوبۍ وې چې د راتلونکو صوفیانو د پاره د لارې مشالونه اوګرځیده. (۶۴)

د حضورﷺ سره د بایزید بسطامیؒ ډیره زیاته مینه وه. او ددې خبرې اندازه ددې نه لګی. چې هغوئ

ټول عمر خټکې په دے خیال او نه خوړ چې د خټکی د پریکولو سنت طریقه ورته نهٔ وه معلومه. هغوئ د وړوکی نه وړوکے سنت هم نهٔ پریښودل. (٦٥)

خواجه بایزید بسطامیؒ د یوسل اوولس بزرګانو نه استفاده کړې ده. چې پکښې د حضرت امام جعفر صادقؒ، ابو حفصؒ، یحیٰی معاذ رازیؒ، او شفیق بلخی نامې مبارکې د ذکر وړ دی. دوئ لا د مور په ګیډه وو. چې د کراماتو ظهور ئې پیل شو. مور بی بی ئې فرمائی چې کله به هم ما څه مشکوک اُوخواړه. نو دوئ په ګیډه کښې بې قراره شوه او عن تر دې چې هغه خواړهٔ به ماقے کړل." (٦٦)

"حضرت بایزید بسطامیؒ فرمائی چې زهٔ دیریشت کاله د الله په لټون اوګرځیدم. خو چې ماغور اُوکړو نو معلومه شوه. چې الله خو پخپله زما په لټون کښې دے. او ما ګوری. دیریشت کاله اُوشو. چې زهٔ یو ځل د الله نوم اخلم نو درې ځله اودس کوم." (٦٧)

د ځنو څیړ نکارانو خیال دے. چې

"هغه په ٢٦١هـ کښې د شعبان په پنځمه وفات شو. خو مولانا جامی په "طبقات" کښې د هغوئ د وفات تاریخ ٢٣۴هـ رانقل کړے دے. د هغه مزار په بسطام کښې دے." (٦٨)

== ☆☆☆ ==

خټک واړه بوبکری، پیر منصوری وو
له بدعته له فساده په بری وو (٦٩)

## بوبکر (شیخ ابابکر):

"شیخ ابابکر قدس الله سره العزیز د پیر سباک پـلار وو. دا نوم په ځنو شجرو کښې ابوبکر هم لیکلے شوے دے. دوئ د خپل پـلار حضرت شاه اسماعیل مشرے زوئے وو. چې پـلا رئې د دُنیا نه پرده اوکړه. نو

د هغوئ په ګدی دوئ کښیناستل. د خپل پلار نه په "سهروردیه" طریقه کښې ماذون وو. دوئ به خلقو ته د حق دعوت ورکولو. شیخ بهادر خان المعروف په ابک بابا، شیخ لنک دیوانهؒ او شیخ حسن افغان د شیدو اوسیدونکے د دوئ شاګردان وو. دا دریواړه بزرګان هم د دوئ د صحبت او تربیت په برکت کمال ته رسیدلی وو. او ښهٔ اخلاق اوچتې درجې او معنوی کمالات ئې بیاموندی وو." (۷۰)

ډاکټر چراغ حُسین شاه د احوال العارفینؒ په حواله لیکی.

"حضرت سید ابوبکر بن حضرت سید اسماعیل قدس سره د خپل پلار نه په سهروردیه سلسله کښې بیعت اوکړو او د دغې طریقې مجاز شو. د پلار نه وروسته د هغه سجاده نشین شو. د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب پلار حضرت شیخ بهادر خان ابک بابا د هغه خلیفه وو. د دوئ مزار په خوست کښې دے. (۷۱)

"ابوبکر یا ابابکر ولد شاه اسمٰعیل حُسینی سید دے. دوه ښځے ئے په نکاح وے. چه یوه بی بی حلیمه نومیده. او بله نور جان پیر سباک د بی بی حلیمے له خیټې نه وه. هر کله چه سید عمر او منصور علی د نور جان له نسه زیګیدلی وو." (۷۲)

== ☆☆☆ ==

مسلمان ئے په لوئی په بزرګئ پوه دے
د جُنیدؒ له حاله څه پوښتے جهود (۷۳)

## جُنید بغدادی:

ددے لوئې صوفی او بزرګ پوره نوم ابو القاسم بن محمد بن جُنید نهاوندی وو. د تصوف د بې پایاوه سمندر لوبیدلے لامبوزن وو. ددهٔ د تصانیفو په حقله وئیلې شی. چې ددهٔ صرف یو کتاب لیکلے دے. دغه کتاب په مختلفو رسالو اړتیا لری. چې پکښې ددهٔ خطونه او د تصوف ګنجلکې مسلې شاملې دي.

"حضرت جنید بغدادی د صوفیانو د دویمې ډلې سره تعلق لری. کنیت ئې ابو القاسم دے او د قواریری، زجاج او خراز په لقبونو یاد ولے شی. زجاج ورته ځکه وائی چې پلار ئې د شیشې سوداګر وو. او په خراز ځکه یادیږی چې دوئ پخپله د ریښمو کاروبار کولو. د دوئ استوګن ځائے "نهاوند" وو. او پیدا شوے په بغداد کښې وو. دوئ د امام شافعیؒ د یو لوې شاګرد ابو ثور په مذهب وو. د ځنو په نزد دوئ د سفیان ثوری د مذهب پیروکار وو." (۷۴)

"حضرت جنید بغدادی د حضرت سقطیؒ خورئے او مرید دے. او د حضرت محاسبی د صحبت نه فیض یاب شوے دے. د بحر شریعت و طریقت لامبوزن، د انوار الٰهی مخزن و مبنع او په علوم ئے مکمل دسترس لرلو. په دے وجه اهل زمانه، شیخ الشیوخ، زاهد، کامل او د علم و عمل سر چشمه تسلیم کړے وو. او د سید الطائفه، لسان القوم، طاوس العلماء او سلطان المحققین خطابات سره ئے نوازلے وو. او اکثر صوفیائے کرام د حضرت لار اختیار کړه." (۷۵)

"د دوئ سره نسبت لرونکو ته جنیدیه وائی. په دی وجه دوئ ته سید الطائفه او امام الائمه وئیلی شی. د دوئ قول طریقت کښې حُجت او دلیل ګڼلی شی. او متقدمین یا متاخرین مشائخ کښې هیڅوک د دوئ په ظاهر او باطن د اعتراض کولو طاقت نه لری. د دوئ ذات د ټولو د پاره د مقبولیت درجه لری. د دوئ د مذهب بنیاد په صحو (د مستی نه په هوش کښې راتلو باندی) دی." (۷٦)

"د دوئ د وفات کال په کتاب الطبقات او رساله قشیریه کښې ۲۹۷هجری دے. ولې د تاریخ یافعی ترمخه دوئ په ۲۹۸هجری او ځنې نورو روایتونو له رویه په ۲۹۹هـ کښې ئې وفات موندلے دے." (۷۷)


== ☆☆☆ ==

د میاں نور مفتیان د سوات په ملک کښې دوه دي
الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دي (۷۸)

## دوست محمد:

دوست محمد چه مزارئې په سیدو کښې دے. په انګنړ بابا مشهور دے. په اصل کښې پاپینې میاں وو. او د اخوند صدیق بابا (مزار نویکلې مینګوره) په اولاد کښې وو. د پلار نوم ئې محمد صادق بن محمد شریف وو. محمد صادق په خپل ژوند کښې د سیدو کلی نه اباسین کوهستان د نیکه کلی ته د اسلام د تعلیم او تبلیغ د پاره تلے او هلته مقیم شوے وو. هلته وفات دے، مزارئې په اباسین کوهستان کښې دے. د محمد صادق دوه زامن په سوات کښې پاتې وو. د مشر زوے نوم ئې دوست محمد وو. صوفی بزرګ وو. په انګنړ بابا مشهور وو. دوست محمد پاپینې د اخوند قاسم پاپین خیل سکه د تره زوے وو. چا چه په پښتو کښې فوائد الشریعت لیکلے دے. اخوند قاسم پاپین خیل د میاں کریمداد مرید وو." (۷۹)

د دوست محمد شجره داسې ده.



د قاسم په بخره واړه غوریا خیل وو
ډنګر پیر وته د بنوں شیټک ایل وو (۸۱)

## ډنګر پیر:

دا پورته شعر د خوشحال بابا د سوات نامې د هغه فصل نه اخستے شوے دے. کوم کښې چې خوشحال بابا د خپلې زمانې د یو شمیر پیرانو یادونه کړې ده. چې د پښتنو مختلفو قبیلو ورسره عقیدت لرلو. دا شعر د پیر قاسم او ډنګر پیر تذکره لری. چې د پیر قاسم بازار په غوریا خیلو ګرم وو. او د بنوں شیټک په پیر ډنګر رامات وو. د پیر قاسم په حقله به تفصیلی بحث وړاندې اُولولئ. ولې تر کومې پورې چې د پیر ډنګر تعلق دے. نو د هغه د ژوند حالات د نوم ورکی په تیارو کښې پټ دی. ډاکټر چراغ حُسین شاه صرف دومره قدرې لیکلې دي چې

" د ډنګری پیر مزار اقدس په بانډه داؤ شاه کوهاټ کښې دے. د هغوئ اصلی نوم نعمان وو. او د روحانی بابا د اولاده وو." (۸۲)

خوشحال بابا دغه نوم "ډنګر" یاد کړے دے. ولې مقامی خلق دغه نامه "ډنګری" یادوی. لکه څنګه چې ډاکټر چراغ حُسین شاه لیکلې ده. زهٔ څه وخت وړاندې په دغه هڅه بانډه داؤد شاه ته لاړم. چې د پیر ډنګر د ژوند او کشف و کراماتو په حقله څه معلومات راغونډ کړم. د پیر ډنګر مزار د لوئې جرنیلی سړک په غاړه واقع ده. دغه مزار پوخ دے او چت پرې باندې جوړ دے. د مزار خدمت یو منجور کوی. چې چامبیل نومیږی. چامبیل ما ته د پلار نامه ګل خان اوښودله. چامبیل د اُووه شپیته کالو قوی سړے دے. د هغه د وینا مطابق د ډنګری پیر خپل نوم نعمان دے. خو د ډیر ریاضت، کم آرام او لږ خوراک له وجې د هغه وجود ډیر کمزورے شوے وو. په دغه بناء هغه په ډنګری پیر مشهور شو. او اوس ئې خلق هم په دغه نوم پیژنی. تردې چې خپل نوم ئې د خلقو نه هیر دے.

د چامبیل وینا ده. چې د ډنګری پیر پلار روحانی بابا د بغداد نه راغلے وو. هغه هم د خپل وخت

لوئې ولې تير شوے دے۔ دۀ د خپل پلار نه لاس نیوه کړې وه۔ او چلې ئې په "خړ غر" کښې ويستې دی۔ "خړ غر" د ډنګری پير مزار ته مخامخ يو لوړ غر دے۔ په دغه غر کښې اوس هم د ډنګری پير د چلې هغه غار موجود دے۔ چې ورسره مخې ته د عبادت د پاره يوه ډبه جوړه کړې شوې ده۔ چامبيل اُووئيل چې کله هم سوکړه زياته شي۔ باران نه کيږی۔ نو دا د ډنګری پير کرامات دی۔ چې څوک د هغه دغې عبادت ځای ته په اودس کښې اُوخيژی۔ مونځ اوکړی او دُعا اوغواړی۔ نو الله تعالیٰ د رحمت د باران شيبې راخکې کړې۔

د مزار دننه ما اُوليدل۔ چې په ديوالونو پورې چار چاپيره اُوږده اُوږده مزي تړلے شوی دی۔ په دغه مزو پورې د رنګا رنګ کپړو توتې زوړندې شوې دی۔ اؤ په هره توته کښې واړه واړه کانی غوټه کړے شوې دی۔ ☐

ما په تپوس چامبيل اُووئيل چې دا هم د ډنګری پير کرامات دی۔ چې که بې اولاده څوک دلته راشی او په توته کښې دغسې کانړے غوټه کړی۔ نو الله تعالیٰ ورله اولاد ورکوی۔ او بيا ئې ماته د بنوں سره د تعلق لرونکی يو سيکھ اوږده قصه بيان کړه۔ چې هغه بې اولاده وو۔ او ددې مزار په برکت اوس هغه د دريو زامنو پلار دے۔ او مسلمان شوے هم دے۔ چامبيل زياته کړه۔ چې دا زما د يادو خبره ده۔ د بنوی اُولس به په لاری کښې سواره په دې مزار نه تيريده۔ يو فرلانګ دوه به د مزار نه په فاصله د لاری نه کوز شول۔ د زيارت سلام به ئې اوکړو۔ او بيا به د مزار نه ښه لرې سواره شول تلل به۔ اوس زمانه بدله شوه۔ زما ښه ياد شي۔ د انګريزانو دور وو۔ دوه فرنګيان په اسونو سواره راروان وو۔ ماليدل چې د مزار نه په لږه فاصله ورته اسونه لټ شول۔ هغوئ ډير اُووهل۔ خو اسونه نه تلل۔ بيا ترې هغوئ کوز شول۔ اسونه روان شول۔ اُو دغسې هغوئ پياده د مزار په په خوا لاړل۔

چامبيل نه چې ما د ډنګری پير د اولاد په حقله تپوس اُوکړو۔ نو هغه اُوئيل۔ چې زما پلار ته د هغه نيکه وئيلې وو۔ چې زما پلار وئيل چې ډنګرې پير د الله تعالیٰ په مينه مست وو۔ هغه واده نه وو کړے۔ او دا رنګ د هغه څه اولاد نه دې پاتې شوے۔

==☆☆☆==

پښتانهٔ په هغه دور پیر پرست وو
څوک مرید د شاه عیسیٰ څوک د سرمست وو (۸۳)

د سرمست په حقله پوهاند حبیبی لیکی چې "په دې نامه څوک نه پیژنم. خو یو ملا مست زمند د پښتو سلوک الغزات مؤلف او شاعر د اخوند څالاک توغی مرید او شاګرد پیژنو. چې د ۹۵۰ په شاو خوا کی به ژوکړی وی. او تر خوشحال خان لږ څه د مخه ژوندی و. ښایې دلته دغه مست مراد وی." (۸۴)

خو زما د څیړنې او مطالعې تر مخه د سرمست نه دلته د خوشحال خان خټک ملامست زمند نه دے مراد بلکې هغه دا وینا د شیخ علی سرمست متعلق کړې ده. څوک چې د بیټنو یو مشهور پیر او لوئې ولی الله تیر شوے دے. د شیخ علی سرمست تذکره خواجه نعمت الله هروی څه دا رنګ کوی.

## شیخ علی سرمست:

"په شور او مستی کښې بې مثله وو. دهٔ د اسلام شاه سوری په زمانه کښې ژوند کولو. او د اولس دینی رهنمائی ئې کوله. دے په ریاضت او عبادت کښې د سختو مجاهدو سره عادت وو. هم له دغې وجې ئې صحت ډیر کمزورے شوے وو. د خیر و شر یا ګټی تاوان په حقله چې دهٔ د خولې نه څه هم اُووتل. الله تعالیٰ به هغه پوره کول. خلق د دهٔ د بې شمیره کراماتو ذکر اوس هم کوی.

وئیلې شی چې یو ځل څو مریدانو دهٔ د اُوسیدو د پاره یو کور جوړولو. هر کله چې دیوالونه تر چته اُورسیدل. نو پته اُولګیده چې د کوټې بش درې ګزه لنډ دے. کله چې سرمست ددغه حقیقته خبر کړے شو. نو خپلو مریدانو ته ئې اووئیل چې لاړ شئ او دغې بش ته اُووائیی چې په صحرا کښې خو ته د ځان د پاره لوئیدې دلته د یو فقیر د پاره لږ شان نه شې لوئیدې بس دغه وئیل څه وو. چې بش درې ګزه اُوغزید.

دهٔ سره د نذرانو او منښتو دومره مال اسباب جمع شوے وو. چې د هغې څه حد نه وو. ددغې مال زیاته حصه به په تلونکو راتلونکو خرڅ کیدله. دهٔ په زمانو کښې یو زوئے ډیر خراب اؤ بې مخه وو. ذهن ئې د فاسدو خیالاتو نه برجته وو. یوه شپه چې پیر سرمست اُوده وو. دغې زوئے ئې په توره په سر سر اُووهو. ډیر

ژور زخمونه ئې په سر راغلل. خو خپلوانو ئې دغه زوے اُونيوو. او د پير مخې ته ئې د بدلې اخستو دپاره راويستو. ولې پير هغوئ منع کړل. چې زهٔ بدله نه اخلم. بلکې ددهٔ معامله په خدائې سپارم. که هغه اوغواړی نو دهٔ له به ددهٔ د کړو سزا ورکړی. دې نه پس هغه خپل تول مال پخپلو زامنو کښې يو شان تقسيم کړو. څو ورځې پس هغه ددغې زخمونو له وجې ددې دُنيا نه لاړ. خو دغه زوئے ئې په آسمانی مصيبتونو کښې گرفتار شو. مړ شو او دُنيا ئې د شر نه په امن کښې شوه. (۸۵)

== ☆☆☆ ==

پښتانه په هغه دور پير پرست وو
څوک مريد د شاه عيسیٰ څوک د سر مست وو (۸٦)
شاه عيسیٰ ته به يې ورې د زرو بدرې
وبلوت سره ورتلې د خلقو سدرې (۸۷)

## شاه عيسیٰ:

پوهاند حبيبی د شاه عيسیٰ په حقله ليکی:

"مياں عيسیٰ د سند د بکرله ساداتو سره يو زاهد وو. چې په اټک کښے اوسيده او ددهٔ يادونه د اخون درويزه په کتابونو کښے شويده. ۹۸۰هـ حدود) وګورئ. تذکره تذکره الابرار والاشرار ۲٦۱ ـ ۲۹۷) يو بل سيد عيسیٰ هم پيژنو چې د عبدالوهاب اخوند پنجو ورور ؤ. ښائی چې دغه دواړه يو سړی دی. (۸۸)

دغه رنګ د تاريخ مرصع مؤلف هم د يو مياں عيسیٰ ذکر کړے دے. ليکی.

"نقل دے له اخون درویزهؒ چه اکبر بادشاه له هندوستانه و کشمیر ته روان شه. د یوسف زی ملاحظه ئے په خاطرکښے وه. په دا وخت کښے میاں عیسیٰ و سردارانو ته د یوسفزو وکښل چه که صراح کتاب د ملا شاه خانی سواتی له کتابخانے نه ما لره راوستوئ دا ملک به د تاسو د اکبر بادشاه نه خلاص کړم. یوسفزیو هغه کتاب په زور په ډیر اکراه له ملا فیض الله واخست ورئے ستوه."(۸۹)

اخون درویزه د شیخ عیسیٰ د ډلې په حقله لیکي.

"د ډیرې مودې راسې د شیخ قاسم د منونکو د عیسیٰ د منونکو سره ذاتی دښمنی وه. نه چې د دین. دغه ډله اُوس هم په رفض، ضلالت، کفر او بدعت کښې ډیره مشهوره ده." (۹۰)

"عیسیٰ یوه رساله لیکلې وه. چې د اهل بیتو او ساداتو فضائل ئې په کښې ذکر کړی وو. ولې ټول ضعیف روایات وو. چې د مختلفو تفاسیرو نه ئې راټول کړی وو. دهٔ به مرتضیؓ، حسنؓ، حُسینؓ او فاطمهؓ اهل بیت ګڼل. او حضرت عائشهؓ به ئې د اهل بیتو نه نهٔ شمیرله." (۹۱)

"اوریدلی مې دی. چې یو ډیر لوئې عالم او متقی د چرته نه راغے. او عیسیٰ ته ئې نصیحت اوکړو. او ډیر وعظونه ئې ورته اُوکړل. خو د عیسیٰ د سترګو نه پرده پورته نه شوه. بیا ئې ورته اُوویل چې ته به ددې خپلو منونکو او اولاد په باره کښې نیولے شے. دهٔ پسې خپل منونکی راپاڅول. هغه عالم ئې اُووژلو او بیا ئې اوسیزلو. لږه موده پس په شیخ عیسیٰ یوه سوزونکې دانه را اُوخته. او ددغې دانې له وجې مړ شو. ددهٔ نه پس ددهٔ زوئے سید جلال ددهٔ په ګدی کیښناست. او دغه رفض ئې اختیار کړه." (۹۲)

== ☆☆☆ ==

خټک واړه بوبکری پیر منصوری وو

له بدعته له فساده په بری وو (۹۳)

دې شعر کښې د منصوری نه مراد هغه خټک دی، چې د شاه منصور پیری ئې منله.

## شاه منصور:

شاه منصور د پیر سباک کشر ورور وو. پیر سید جمال شاه د دهٔ له اولاده وو. څوک چې د خوست نه کوهاټ ته راغلے وو. او دلته په خټګل خیلو کښې میشته شوے وو. دهٔ اولاد په "منصور خیلو" شهرت لری. د پیر سید جمال شاه مزار د کوهاټ د پخوانی سول هسپتال نه بهر اُوس هم شته دے. د شاه منصور قبر هم په خوست کښې دے. د پیر سید نور جمال شاه المعروف ډور بابا په مقبره کښې یو دویم قبر د هغه د خلیفه او بالکی دے. د پیر خیلو د یو بل بزرګ زیارت هم په کوهاټ کښې په یوه غونډۍ باندې شته چې د مُلا خوشحال نیکه په زیارت یادولې شی. (۹۴)

د منصور خیلو چې کومې شجرې ماته په لاس راغلې دی. هغه د پیرسباک د اولاد سره میلاویږی. او دومره ډیر فرق نه لری. ځکه نو یقیناً چې منصور خیل د پیر سباک د ورور شاه منصور له اولاده دی. د پیر خیلو متعلق په وثوق سره نه شم وئیلے. دا یو تاریخی حقیقت دے. چې کله روښانی تحریک ختم شو.نو د هندوستان واکمنو د هغه اولاد له د هندوستان په مختلفو برخو کښې جاګیرونه ورکړل. دا هم بیخی ممکن ده. چې د روښان پحقله دومره سخته پراپیګنده شوې وه چې د عام اولس په نظر کښې د هغه عقائد د برداشت قابل نه وو. ځکه نو غالباً چې د هغه اولاد به هم د هغه سره رشته ماته کړې وی. او په نورو استانه دارو پورې به ئې ځان تړلے وی. (۹۵)

== ☆☆☆ ==

په نامه به شفیق نۀ شی
که څوک نوم کیږی دی شفیق (۹٦)

☆

عشق څه هسے آسان نه دے هومره خلقه
په بلخیو کښے خو یو سړے شفیق شۀ (۹۷)

شفیق بلخی چې په نفس پښه کیښوده. د الله تعالیٰ د نزدیکت د پاره ئې هر څه لرې کړل. او دُنیا ئې په لته اووهله. نو هله ورته مقام او رتبه حاصله شوه. کنی نو په بلخیانو کښې بې شمیره خلق وو. صرف یو پکښې سړے شو. او هغه شفیق وو. دا نه ده چې څوک دې شفیق نوم کیږدی نو هغه به دغه مقام ته اُورسی. بلکې ددې د پاره ریاضت او مجاهده پکار ده. خوشحال بابا د نفس کشی، تزکیه نفس او دُنیا ته د شا کولو په اړوند په دې دوو شعرونو کښې د شفیق بلخیؒ درنه نامه راوړې ده.

## حضرت شفیق بلخیؒ:

"نوم ئے شفیق او کنیت ئے ابو علی دے. د زمانے د ممتاز مشائخ او متقیانو نه دے. جید عالم او مصنف کیدو سره تول ژوند ئے توکل کښے تیر کړلو. کنړ تصانیف ئے دی. حضرت حاتم آصم په شان بزرګ ئے شاګردانو کښے دے لیکن د طریقت منزلونه ئے د حضرت ابراهیم بن ادهم صحبت کښے قطع کړل او کثیر مشائخین نه ئے شرف نیاز حاصل که." (۹۸)

"د تجارت په سلسله کښې ترکستان ته لاړلو هلته ئې یو بت خانه کښې یو کس د بت په عبادت اُولیدلو چې په چغو چغو ژاړی هم. دۀ ترې تپوس اوکړو چې ستا ژوندے او قادر خدائے شته. تا هغه پرېښے دے او د یو بې ساه څیز عبادت کوے. تاله شرم نه درځی؟ ددې په خواب کښې ورته بت پرست اووئیل چې تاله ولې شرم نه درځی. چې د روزی ګټلو د پاره لې پلې ګرځے. آیا ستا خدائے تاله په خپل کور روزی نۀ شی درکولې. ددې خواب په اُوریدو هغه فوراً بلخ ته د واپس کیدو لار اُونیوه. په لار ورسره یو آتش پرست

ملګرے شو هغه ترې دپیشې پوښتنه اوکړه. دۀ وئیل سوداګری کووم. هغه ورته وئیل څه چې ستاپه نصیب کښې دی هغه خو تاته ستا په کور هم مې لاویدې شی. معلومیږی داسې چې ته د خدائے په ورکړه شاکرنه ئې. دې خبرو په هغه ډیر زیات اثر اُوکړو. او بیخی ئې دُنیا پریښوده. (۹۹)

"هغه د ابرارو او نیکانو خلقو متوکل او هغه د اسرارو متصرف او هغه رکن محترم و قبلۀ محتشم هغه د خپلې زمانې شیخ او مرشد او د اهل طریقت زره وره هستی جناب شفیقؒ د خپلې زمانه یګانه وو او د خپل وخت شیخ او مرشد وو. په زهد و عبادت کښې ټینګ او ثابت قدم وو. او ټول عمر ئې په توکل کښې تیر کړے او په مختلفو علمونو کښې کامل وو او ډیر تصانیف ئې لرل. په فنونو کښې هم او په علومو کښې هم. د حاتم اصم اُستاد وو او په طریقت کښې د ابراهیم ادهم مرید وو. او د ډیرو مشائخو سره سره ئې صحبت او مجلس شوے دے. وائی چې د اولس سوؤ (۱۷۰۰) استاذانو شاګردی مې کړې ده. یو څو د اوښ په بارونو کتابونه ئې لرل." (۱۰۰)

== ☆☆☆ ==

د خوشحال تکیه په خدائے ده
بیا په تا ده شیخ رحمکارَ (۱۰۱)

☆

چه حلال کسب ئے نه وی شکرانے خوری
خدایه بخن په شیخئ د شیخ رحمکار شم (۱۰۲)

☆

په شیخ رحمکار مے تازه توبه وکړه
هغے نګارے راته ښیوه وکړه (۱۰۳)

☆

دوئ او درست اولس په زیارت د شیخ رحمکار
تول شول له دے کاره په قریب شول توبه ګار (۱۰۴)

☆

شیخ رحمکار پکې پیدا دی
دما پلار پکې پیدا دی
شیخ رحمکار دې پکې ایښی
دما پلار دي پکې ایخی
خاکپای د شیخ رحمکار شم
د خپل پلار تر ترتیب ځار شم (۱۰۵)

شیخ رحمکار د پښتنو لوئے پیر او روحانی مشر تیر شوے دے۔ چې په اولس کښې د کاکا صاحب په نامه یاد او مشهور وو۔ دوئ ستره روحانی رتبه لرله۔ او ډیر کشف و کرامات ئې یاد ولې شی۔ هم دغه وجه ده چې د پښتنو ډیرو قبیلو کاکا صاحب خپل روحانی پیشوا منلو۔ او د دُعا د پاره به د هغوئ په آستانه حاضریدل۔ خوشحال بابا هم د کاکا صاحب د روحانی فیض او دُعاګانو نه مستفید شوے وو۔ او پخپل کلام کښې ئې د کاکا صاحب سره د خپل عقیدت او مینې اظهار کړے دے۔

## شیخ رحمکار:

د دوئ خپل نوم کستیر ګل وو۔ د پلار نوم ئې شیخ بهادر بابا وو۔ څوک چې د خپلې زمانې قطب وو۔ (۱۰۶) شمش الدین کاکاخیل هم د شیخ رحمکار نامه کستیر ګل ښودلې ده۔

چه ئے ایښے مور او پلار دے
په کستیر نوم نامدار دے (۱۰۷)

سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل د "مقامات قطبیه" په حواله د شیخ رحمکار نامه صرف "کستیر"

ښودلې ده. او د "ګل" لاحقه ورسره د علاقائی میني د رواج نتیجه ښائی." (۱۰۸)

"د کاکا صاحب د نسب سلسله په درویشتمه واسطه حضرت امام حُسینؓ ته رسی. چونکې دغه سلسله د حضرت امام جعفر صادق د مشری صاحبزاده امام اسماعیل سره یو ځائې کیږی. ځکه نو په سیدانو کښې د اسماعیلی سیدانو سره تعلق لری." (۱۰۹)

"حضرت سیدنا شیخ رحمکار کاکاصاحب د جمعے په ورځ وخت صبح صادق د شعبان المعظم په دیریشتم تاریخ یا د رمضان المبارک په یکم تاریخ (ورځ شکمنه ده) په ۹۸۱هـ کښ پیدا شۀ. په دغه زمانه په برصغیر پاک و هند د جلال الدین اکبر مغل حکومت وو. رحمکار د دوئ لقب دے. دغه شان کاکا صاحب هم د دوئ لقب دے." (۱۱۰)

"د کاکا صاحب مور عزیز بخته نومیده. چې هغه هم ختکه وه او مابنه یې هم یاسین خیله وه. چې ادکه بی بی به یې بلله." (۱۱۱)

"د مجمع البرکات نه دا خبره جوتیږی. چې هغوئ په سهروردیه سلسله کښې د خپل پلار نه لاس نیوه کړې وه. ولې پوهان د دوئ د پیر نوم د کوهاټ حاجی بهادر ښائی. او د دوئ خاص مرید اخوند اسماعیل د دوئ مرشد پیر سباک یاد وی. دغه شان میر احمد شاه رضوانی پخپل کتاب تحفه الاولیاء کښې د دوئ د پیر نامه اخوند پنجو بابا ښودلې ده." (۱۱۲)

خو د خوشحال خان ختک د لیک په رڼا کښې دا پورته درج کړې شوې رائی سمې نه ښکاری.

خوشحال بابا پخپل بیاض کښې د کاکا صاحب د سلسلې په حقله لیکی.

> "حضرت شیخ ډیر مرد بزرګوار او متبرک وه. او مرید د خپل پلار وه. اما طریقه ئے اویسی وه. بلکه پلار ئے هم هغه مرتبه درله له یمن اوله برکته دده وه. چه دے په صلب کښے وه." (۱۱۳)

د اویسی طریقې په ترڅ کښې عبدالحی حبیبی د میاں فقیر الله جلال آبادی وینا داسې رانقل کړې ده.

د صوفیه وو په عرف کی اویسی هغه څوک دی چی په خپله په طریقت کی داسی ځای ته

رسیدلی‌وی. چی له مرشد او لاربنود سره مستقیم صحبت او نیغه اړیکه ونه لری. لکه څنګه چې اویس قرنی په روحانی عروج کی له حضرت محمدﷺ سره روحانی رابطه درلوده. (۱۱۴)

کاکا صاحب په خپل وخت کې دوني نفوذ او وجاهت درلود. چې دده عقید تمندان په ټولو پښتنو قبیلو کې له اباسینده تر کندهاره خپاره وو. (۱۱۵)

د کاکا صاحب زوی عبدالحلیم د کاکا صاحب د وفات په حقله داسې لیکی.

"چنانچه وقت نماز پیشین روز جمعه وقت بر آمدن خطیب بر منبر برای خطبه بتاریخ ۲۴ ماه رجب سنه ۱۰۴۳ حضرت ایشان رحلت فرمود و وقت عصر دفن گردید. انا لله وانا الیه راجعو. عمر ایشان هشتاد سال بود. رحلت درسنه ۱۰۶۳ هجری کردند. بدین حساب به بیتم سال جلوس اکبر بادشاه پیدا شده و به بیت و ششم سال جلوس شاه جهان بادشاه وفات یافت." (۱۱۶)

ترجمه: دا رنګې د ماسپخین د مونځ په وخت د جمعې په ورځ په وخت د راتلو د خطیب منبر ته د پاره د خطبی د زبرګې میاشتې په څلیریشتمه کال ۱۰۶۳هـ شیخ رحمکارؒ رحلت اوکړو. او د مازیګر په وخت خاورو ته اوسپارلې شو. عمر د دوئ اتیا کاله وو. رحلت ئې په کال ۱۰۶۳هـ کښې کړے دے. په حساب د بادشاه د تخت نشینی په شلم کال دوئ پیدا شول. او د شاه جهان د تخت نشینی په شپږویشتم کال دوئ وفات بیا موند.

د خوشحال خان خټک پیر و مرشد حضرت شیخ رحمکارؒ عرف کاکا صاحب د اتیا کالو په عمر کښې د جون په میاشت کال ۱۶۵۳ء کښې وفات شو. د هیواد د غاړو پسکو نه راغلی ددهٔ د عقیدتمندو بوګڼ شمیر خلق په دغه موقع موجود وو. او خوشحال خان هم د نورو خلقو سره د جنازې کت له د اُوږې ورکولو سعادت حاصل کړو. (۱۱۷)

== ☆☆☆ ==

چه په تور ويښته مغرور په خپل پرهيز شی
د صنعان غونډ ئے خوار په سپين ويښته کړ (۱۱۸)

☆

کل ئے له مخه د خوبئی انځور غواړی
خواږه ئے شهد له شونډو پور غواړی
ډير ئے په طور د شيخ صنعان کړه
سترگے ئے ښۀ ښۀ شيخان لار نور غواړی (۱۱۹)

☆

من مگر از جان عشق اگاه نيم
شيخ صنعان راز دين بيزار کرد (۱۲۰)

دا شعرونه د شيخ صنعان تلميح لری. شيخ صنعان د خپل وخت يو رسيدلے ولی وو۔ خو خپل نفس په امتحان کښې واچولو۔ مرتبه ئې بائيله۔ ولې د خپل يو مريد په ذريعه بيا د برخې خاوند شو۔

## شيخ صنعان:

"د اصفهان يو ولی الله شيخ صنعان د سيدنا غوث الاعظم همعصر وو۔ د علم و عرفان د درياب زبردست لامبوزن وو۔ او ډير کرامات او ناشونی عادات به ترينه څرګنديدل۔ د حضرت غوث الاعظم دا فرمان "قدمی هذه علی رقبه کل ولی الله" هغوئ هم اوريدلے وو۔ ولې د حضرت د مرتبې او کمال په پوهيدو کښې ئې تکره اُخوره۔ وجه ئې دا وه چې د علم و معرفت په وجه ئې د حضرت په مخ کښې په سر ټيټولو کښې تامل اوکړو۔ سمدستې ئې ولايت او نور طاقتونه سلب شول او ځان ئې بيخی تش لمنې او بې بنې محسوس کړو۔ بيا چې په هر څه پوهـ شو نو ډير شرمنده شو۔ او د حضرت غوث الاعظم په خدمت کښې حاضر شو۔ او معافی ئې ترينه اوغوښته۔ هغوئ تر غاړې ويسته۔ ټول سلب شوې درجې او حالات ئې بيرته بياموندل۔" (۱۲۱)

"صنعان يو سړے وو. چې اُوه سوه مريدان ئې لرل. او په هغوئ کښې څلور سوه ډير کامل او د حق خاوندان وو. او خواجه شيخ فريد الدين عطار هم په هغوئ کښې يو وو. پنځوس کاله ئې په خانه کعبه کښې عبادت کړے وو. يوه شپه ئې خوب اوليدو چې زۀ په "روم" کښې يم او يو بت ته سجده کوم. بيا ئې دا خوب خپلو مريدانو ته واورولو. هغوئ ټول حيران شول. بيا شيخ اووئيل چې ځئ او د روم د سفر تيارئ اوکړئ. او څو ورځې پس به زۀ هم روانيږم. مريدانو ورته اُووې چې مـلا تړلې ولاړ يو. شيخ روان شو. او چې څه موده پس روم ته اورسيدو نو د بدو شامته ئې ناګهانه په يوې اتش پرستې جينۍ سترګې اولګيدې. او په هغې عاشق شو. او يوه مياشت د هغې په در پروت وو. يوه ورځ ورته دې اتش پرستې اُووې چې اے شيخه! چې زۀ کافره يم او تۀ مسلمان زما ستا تر مينځه هډو څه مناسبت نشته. نو که زما وصال غواړے نو د اسـلام نه لاس واخله او اتش پرستي قبوله کړه. شيخ وئيل هر چې فرمائې په سر سترګو مې قبول دى. جينۍ اُووې ښه ده نو که زما وصال غواړے څلور کارونه اوکړه. شيخ تپوس اوکړو. چې کوم کوم؟ وې يو خو د ايمان نه ويزار شه. دوئم بت ته سجده اوکړه او دريم قرآن پاک اُوسوزوه او څلورم دا چې شراب اوڅښه. شيخ دا څلور واړه شرطونه قبول کړل او بيا بُت خانې ته روان شول او شراب ئې پرې اُوڅښل. زنار ئې واچولو او دغسې ئې څلور واړه شرطونه په ځائے کړل. بيا هغې جينۍ اُووې چې زما په سر خو ډير درانۀ کارونه دى او ته فقير سړے ئې. نو زما ستا مينځ کښې به تعلق څنګه قائميږى. شيخ ورته اُووئيل چې دا خو دې وعده عجيبه پوره کړه خپله وينا دې راباندې تر سره کړه. څه چې دې اُووې هغه مې اوکړل. د دين او ايمان نه ويزاره شوم. آتش پرست دې کړم. او ټول مريدان رانه روګردانه شول. او اوس داسې وائې. زۀ اوس کوم خوا لاړ شم او کومه اوکړم؟ ما خو تا سره دوزخ قبول کړے دے او بې ستا نه جنت هم نۀ غواړم. چې شيخ ډير په عاجزئ دا بيان اوکړو. نو د هغې جينۍ په زړه کښې ورته مينه راولاړه شوه. او وې وئيل چې ښه ده چې زما د مهر قابل مال نه لرې نو کال زما سره خنزيران اوڅروه. شيخ د هغې په وينا خنزيران څړول شروع کړل. چې شيخ په دے کار کښې مشغول شو نو ټولو مريدانو په دې اتفاق اوکړو. چې يو کس شيخ له اُوليږو. چې تپوس ترينه اوکړى. چې مونږ ته څه حکم دے. څه اوکړو او کوم خوا لاړ شو؟ شيخ اُووے چې تاسو لاړ شئ او که زما د حال

درنه چا تپوس کولو نو یوه یوه خبره ورته اوکړئ. او د چا نه هیڅ مه پټوئ. چې شیخ دا خوب ورکړو نو د هغوئ لوئی ماته شوه. ټول په ژړا شول او زړونه ئې وران پاتې شول. او د شیخ نه ویزاره شول. خانه کعبې ته ئې مخه اوکړه. او شیخ ئې په روم کښې یوازې پریښودو. چې اورسیدل نو هلته ئې د خواجه شیخ فرید الدین عطار سره ملاقات اوشو. عطارؒ ددې نه نۀ وو خبر ځکه چې کله شیخ خوب لیدلے وو عطارؒ نۀ وو موجود. چرته تلے وو. خو چې کعبې ته اُورسیدو نو د پیر د ناستې ځائے ئې خالی اُولید. د ټولو مریدانو حال احوال ئې اُوپوښتو او بیا ئې د شیخ پوښتنه اوکړه. چې هغه چرته دے. هغوئ چې څه شوی وو. هغه ټوله قصه ئې ورته تیره کړه. عطار اُووې چې اے سپکو خلقو! چې شیخ زینار اچولو او خنزیران ئې څړول نو تاسو ورسره ولې نه مل کیدلئ. راځی چې شیخ له لاړ شو. ټول د شیخ عطار سره روان شول. چې روم ته اُورسیدل نو ټول نزدې وراغلل او چیله شول او خدائے پاک ته ئې زاری شروع کړې. ورځ او شپه به مراقبه وو. نه به ئې خوب وو او نه خوراک څښاک. یوه شپه عطار حضورﷺ په خوب کښې اُولیدو چې د نبیانو سردار سره د زوړندو ګیسو تشریف راوړی چې عطار اولیدو نو سمدستی ئې په پښو مبارکو پریوت. حضورﷺ اوفرمائیل چې اے عطاره څه غواړے؟ عطار اووے چې حضورﷺ خپل اجر غواړم. حضورﷺ اوفرمائیل چې د شیخ او حق تعالیٰ تر مینځه کدورت واقع شوے دے. راغلم او هغه ګرد مې اوڅنډلو. ګویا د عطار غشے عین په نخښه صحیح اولګید یعنی د زړه مدعا ئې سر شوه. نو سحر وختی لاړ او خپلو یارانو ته ئې د خوب حال اُووے ټول خوشحاله شول او شیخ صنعان ته د مخامخ کیدو په نیت روان شول. چې اُورسیدل نو څه ګوری چې شیخ زنار شلولے دے او د اتش پرستی ټوپی ئې د سر نه لرې کړې ده. او سر په سجده پروت دے. او په مناجات کښې محو دے.

شیخ عطار چې دے په دے حال کښې اُولید نو ورته ئې اُووے چې سر د سجدې نه پورته کړه. حضورﷺ دې شفاعت اوکړو اُوس د الله تعالیٰ شکر ادا کړه. شیخ سر اُوچت کړو. غسل ئې اوکړو او قباء ئې واغوسته او د حجاز د سفر په اراده روان شو. د سفر په دوران کښې هغه جینۍ هم د غفلت د خوبه بیداره شوه. او حق تعالیٰ پرې د مهربانۍ نظر اُوکړو. ا و دزړه سترګو نه ئې د کفر تیارې لرې شوې. او شیخ پسې په منډو منډو

را روانه شوه. زنانه کمزورې وه د لارې نه هم ناواقفه وه. چې شيخ په کومه لاره لاړ. زارى اوخواستونه دُعاګانې به ئې کولې. کله به پاڅيده او کله به غورځيده او تله به. اخر د شيخ په زړه کښې خدائے پاک ترس پيدا کړو او د غيبونه ورته الهام اوشو. چې کمزورې زنانه درپسې را روانه ده. يو ځل بيا ورسره اُووينه او د اسلام په شرف ئې اونمانځه. او د مسلمانۍ په شرطونو ئې پوهه کړه. چې شيخ ته داسې الهام اُوشو. نو بيا واپس شو. او د مريدانو شور غوغا او واويلا نه اُووت. چې شيخ د جينۍ واقعه مريدانو ته تيره کړه. نو د هغوئ هم تسلى اُوشوه. او ټول شيخ سره واپس شول. او چې هغې جينۍ ته اُورسيدل. نو څه ګورى چې زيړ مخ د اوښکو ډکې سترګې اُوچې شونډې ګډ وډ ويښته په خاورو ککړه، پښې ابلې پښې، شليدلې جامې او لکه د ليونو د مړى په شان په مزکه پرته ده. چې شيخ ئې اُوليدو نو بې هوشه شوه او بيا اُوده شوه. شيخ وراغے د هغې په سر ئې اُوښکې اوڅڅولې او راويښه ئې کړه. چې په خود شوه نو د شيخ په پښو پريوته. او وې وئيل چې اے شيخه زر راته اسلام او ښايه او په سمه لار مې روانه کړه. شيخ ورته اسلام بيان کړو. مسلمانه شوه او د هغې نه علاوه د رجال الله نه شوه وې اے شيخه ددې نه زيات د جدائى تاب نه لرم. دادے د فانى منزل نه مې خپله غوته په سر تړلې ده او په سفر جاودان روانه شوم. الوداع. دا ئې اُووې او حق اورسيدهٔ. (۱۲۲)

== ☆☆☆ ==

چه عاشقانو د حق دیدار لیده
موسیٰؑ په ونه منصور په دار لیده
جلوه ئے اوکړه په بایزید کښے
د تیرے تورے په مخ عطار لیده (۱۲۳)

☆

د عطار خونی عطار وته اظهار دے
که جلاد ئے د خطا د ملک تاتار دے (۱۲۴)

شیخ فرید الدین محمد عطار - د فارسی ژبې یو باعمله صوفی شاعر تیر شوے دے. د دوئ د ژوکړې زمانه شپږمه صدی هجری ده. د څوانی وختونه ئې د علومو په تحصیل کښې، د مشائخو په خدمت کښې او د تزکیه نفس په ریاضت کښې تیر کړی دی. مولانا روم هم ددهٔ نه استفاده کړې وه. او په دغه فیضان دا ده وو. دغه شان علامه اقبال هم ددهٔ د افکارو نه ډیر متاثر وو. خوشحال بابا په دې شعرونو کښې د حضرت موسیٰؑ، منصور حلاج او بایزید بسطامی سره د شیخ فرید الدین عطار نامه هم ذکر کړې ده. چې موسیٰؑ ته که د الله تعالیٰ دیدار د مدین نه په واپسی کښې په ونه باندې نصیب شوے وو. منصور ته په دار کښې میلاؤ شوے وو. او بایزید بسطامی ته پخپل ځان کښې په برخه شوے وو. نو فرید الدین عطار ته د حق تعالیٰ د دیدار اعزاز په شهادت کښې حاصل شو.

## حضرت شیخ فرید الدین عطار:

نوم ئے محمد بن ابی بکر ابراهیم، کنیت ابو حامد یا ابو طالب، لقب فرید الدین، تخلص عطار او مشهور ترین نوم ئے فرید الدین عطار دے. ابتدا کښے دیوے لوئے دواخانے مالک وو. یوه ورځ خپل کاروبار کښے مشغول وو چه یو فقیر راغے آواز ئے اوکړو. هر کله چه وے لیدل چه هیڅ اثر پرې نهٔ کیږی نو وئیلے داسے جنجال کښے لګیدلے ئے نو ساه به څنګه ورکوے. عطار ورته ہے طبعیتئ سره اووے څنګه چه ته ورکوے.

فقیر ورته اُووے بنۀ زما په شان به ساه ورکوے۔ دا ئے اووے د سر لاندے ئے کچکول کیښودو سملاست۔ ژبے سره ئے لا اله اله الله اووے او روح ئے پرواز اوکه ساه ئے ورکړه۔ د شیخ په زړه ددے واقعے داسے اثر اوشو چه په ولاړه ولاړه ئے دواخانه تالا والا کړه او هغه وخت ئے درویشی اختیار کړه۔ د شیخ رکن الدین اسکاف په خدمت کښے څو کاله پاتے شو آخر د شیخ مجدد الدین بغدادی په لاس ئے بیعت اوکړو او د سلوک و معارف هغه مراتب ته اورسید۔ چه خپله مرشد د پاره د فخر باعث شو۔ (۱۲۵)

محمد بن ابوبکر ابراهیم خواجه فرید الدین عطار د نیشاپور په خواو شا علاقه کښې په ۵۱۳ هجری کښې پیدا شوے دے۔(۱۲۶)

دۀ د تصوف نه ډکه شاعری کړې ده۔ د شاعری په ټولو اصنافو کښې د تصوف مضامین رانغښتی دی۔ دے د تصوف د وحدت الوجود د نظرئې قائل وو۔ دۀ ګڼ شمیر تصانیف پریښی دی۔ د ځنې روایتونو تر مخه د دۀ کتابونو تعداد د قرآنی سورتونو په شمیر ۱۱۴ دی۔ (۱۲۷)

دغه کتابونو کښې اسرار نامه، الهیٰ نامه، پند نامه، وصیت نامه، خسرو ګل، شرح القلب، دیوان او مصیبت نامه د ذکر وړ دی۔ خو دۀ زیات شهرت د تذکره الاولیاء او منطق الطیر په وجه بیاموندے دے۔ لکه څنګه چې د نوم ئې ښکاره ده۔ تذکره الاولیاء کښې د صوفیانو حالات راغونډ کړې شوی دی۔ او ددغې سلسلې دا یو لوئې ماخذ دے۔ منطق الطیر مثنوی ده۔ چې د اخلاقیاتو او معرفت یوه منظوم خزانه ده۔ علامه شبلی ددې مثنوی د شعرونو شمیر یو لک ښودلے دے۔ (۱۲۸)

دۀ د تاتاریانو له لاسه شهادت بیاموندے دے۔ د وفات کال ئې ۵۲۷هـ یادولې شی۔ دغه وخت د دوئ عمر یوسل څوارلس کاله وو۔ (۱۲۹)

== ☆☆☆ ==

ځنګل ته اُور راوړه حُکم ته زور راوړه
لښکر څو ډېر لرے لا هومره نور راوړه
دا د و دهش کړه غریب نواز شه
چه مفسدان دی پرشرو شور راوړه (۱۳۰)

## غریب نواز (خواجه معین الدین چشتی):

خواجه معین الدین بن خواجه غیاث الدین بن خواجه نجم الدین طاهر بن سید عبدالعزیز بن سید ابراهیم بن سید ادریس بن سید امان موسیٰ کاظم بن امام جعفر صادق بن امام محمد باقر بن امام زین العابدین بن حضرت امام حسین بن حضرت علی کرم الله وجهه. د پیدائش د ځائے متعلق اختلاف دے. د بعضو خیال دے چه سنجر کښې پیدا شوے دے. او بعضے د دوئ د پیدائش ځائے سجستان ښائی. بعضے وائی چه غریب نواز موصل ته نزدے سنجار کښې پیدا شوے دے. او د بعضو خیال دے چه اصفهان ته نزدے سنجار کښې پیدا شوے دے. د دوئ د تاریخ پیدائس متعلق هم کافی اختلاف دے. بعضوئے تاریخ پیدائش ۵۲۳هـ اور بعضوئے ۵۲۷هـ مطابق ۱۱۴۹ء لیکلے دے. د بعضو خیال دے چه دوئ ۵۳۳هـ کښې دُنیا ته تشریف راوړے دے او ځنوئے تاریخ پیدائش ۵۳۵هـ، ۵۳۶هـ او ۵۳۷هـ ښودلے دے. خو اصل واقعه دا ده چه خواجه غریب نواز ۵۳۰هـ کښې دے جهان ته مخ راځرګند کړو." (۱۳۱)

"د خواجه غریب نواز د والد بزرګوار نوم خواجه غیاث الدین وو. چه د حضرت علیؓ د اولاد نه وو. او د علم ظاهری او باطنی خاوند وو او د مور بی بی نومئے بی بی ام الورع وو. چه په ماه نور او خاص الملکه مشهور وه. دا هم دحضرت علی کرم الله وجهه د اولاد نه وه. د غریب نواز نه علاوه د دوئ نور دوه ځامن هم وو. (۱۳۲)

"خواجه صاحبؒ د نهو کالو په عمر کښې قرآن شریف یاد کۀ. بیا د سنجر په یو مکتب کښې داخل شو. هلته ئے د تفسیر حدیث او د فقهې کتابونه اولوستل. نیشاپور او سمرقند کښې د اعلیٰ تعلیم نه علاوه بخارا کښې ئے د خپلے زمانے د مشهور لوئے عالم مولانا حسام الدین بخاری نه د قرآن شریف او علم حدیث د

فضیلت سندونه حاصل کړل. او لږه موده کښې فارغ التحصیل شو." (۱۳۳)

"د یو لس کالو په عمر کښې یتیم شو. پلار او مور دواړه ئې په یو کال کښې دننه دننه وفات شول. او دا شان د مور پلار دواړو د سیورې نه محروم شو. دوئ درې خویندې ورونه وو. میراث کښې ورته د انګورو یو باغ او یوه هوائی چکی پاتې شوې وه. دغه د دوئ د ساعت تیرونې سامان وو. ولې لږه موده پس ئې دغه هم د الله په لار کښې قربان کړل." (۱۳۴)

"غریب نواز د ژوند یو نوے لار اختیار کړه. باغ او ژرنده ئې خرڅ کړل. او د هغې قیمت ئې په فقیرانو، غریبانو او مسکینانو تقسیم کۀ. او خپله د حق په تلاش کښې په سفر اُووت. هرون ته لاړل. او هلته ئې د حضرت خواجه عثمان هروني نه لاس نیوه اوکړه. بیا ۵۵۵هـ کښې بغداد ته راغې. دلته دوئ شیخ ضیاء الدین ابو نجیب عبدالقادر سُهر وردی سره ملاقات اوکه." (۱۳۵)

"د غریب نواز ړومبۍ واده ۵۹۰هـ کښې اوشو. د بی بی امة الله نه خواجه فخر الدین، خواجه حسام الدین او بی بی حافظ جمال پیدا شوه، دویم واده ئې بی بی عصمت الله سره ۶۲۰هـ کښې اوشو. ددے بی بی نه شیخ ابو سعید پیدا شو." (۱۳۶)

"د بعضو خلقو په نزد د دوئ تاریخ وصال ۶۳۳هـ دے او د بعضې په نزد ۶۳۴هـ دے. د تاریخ محمدیه قلمی نسخه کښې تاریخ وفات ۶۳۷هـ دے. د غریب نواز د پیدائش او وفات مختلف تاریخونو نه د دوئ عمر ۹۷ کاله، ۱۰۵، ۱۰۱ کاله او ۱۰۲ کاله را اوځی." (۱۳۷)

"حضرت خواجه اجمیری ستر صوفی او د اسلام لوئې مبلغ وو. د برصغیر مسلمانانو ته د دوئ خدمات په عامه توګه تر ننه پورې یاد دی. د اسلام چغه په دې سیمه هم د دوئ د کوششونو په نتیجه کښې پورته شوې ده. د دوئ د نوم سره څو رسالې او د فارسی یو مختصر دیوان تړلے شی." (۱۳۸)

== ☆☆☆ ==

د قاسم په بخره واړه غوریا خیل وو
ډنگر پیر ورته د بنوں شیتک ایل وو (۱۳۹)

## قاسم (پیر):

د شیخ قاسم په حقله پوهاند حبیبی صیب لیکی۔

"ښایې چې مراد شیخ قاسم بن شیخ قدم متي زی خلیل غوریه خیل وي۔ (۹۵۶-۱۰۱۶ق) چې د پیښور په دواوه کې د قادري طریقې مرشد و۔ او د تذکره اولیای افغان مؤلف دی۔" (۱۴۰)

شیخ قاسم په خته غوری خیل دے۔ دے په پرشور کښې دے یوې ونې لاندې په دې غرض دیره شو چې د خلقو توجه حاصله کړی۔ ولې خلقو دے اُولیدو چې یو نوے مذهب ئې اختیار کړے دے۔ دغه خبره چې حکامو ته اُورسیده۔ نو شادمان د میرزا حکیم بن همایون یو امیر وو۔ هغه ددهٔ د وژلو اراده اُوکړه۔ دے له دغې ویرې قندهار ته اُوتښتیدو۔ او هلته د حاجیانو د یوې قافلې سره مکې ته لاړ۔ دهٔ په واپسې کښې د پیرۍ دعویٰ اُوکړه۔ یو لیکلے کاغذ ئې د ځان سره راوړې خلقو ته به ئې ښودلو۔ چې زهٔ د عبدالقادر جیلانیؒ اولاد ماذون کړے یم۔ ما خلقو ته اُووې! چې اې جاهلانو۔ د پیرۍ مرتبه د نسب سره څه تعلق نه لری۔ شیخ حسن نومې ماذون د عبدالقادر جیلانیؒ په اولاد کښې نشته۔ چې د پلار نیکه په گدۍ ناست وی۔

شیخ قاسم به دغه شجره د دُنیا حاصلولو د پاره خلقو ته ښودله۔ ما چې پخپله دغه شجره اوکتله۔ نو هغه شجره نهٔ وه۔ بلکې یوه سفارش نامه وه۔ او دا مضمون ئې لرو۔ چې شیخ قاسم سلیمانی هر چرته چې ځی د لارې خلق دې دے بې ځایه نه تنکوی۔ هر کله چې زما خبره دهٔ ته خپلو مریدانو اُورسوله چې دا شجره نه ده۔ نو بیا ئې په خپلو مریدانو د عبدالقادر جیلانی شجره راپیدا کړه۔ او هغه به ئې خلقو ته ورکوله۔ دے چې تر کومې پورې په دې حدودو کښې پاتے شو۔ د اباحت په مذهب تینگ ولاړ وو۔ دهٔ دا منل چې مونځ روژه پریښودل، صدقه او زکوٰة نه ورکول، او نور د شرعی حکمونه ماتول، لکه عورت نه پټول، سر تور سرگرځیدل،

سرخرئيل، چکرې لګول، شراب څښل، موسيقي او رقص روا ګڼل، شعروته وئيل او ځنې نور مباح څيزونه جائز دی. دغه شان دۀ به د پیر خدمت کول د نورو تولو شرعی حکمونو نه غوره ګڼو. بلکې د شرعی د فرائضو نه منکر وو. دۀ علماء او صلحاؤ ته کنځل کول، د علم او علماء دښمن وو. ارواح او نفسونو ته به ئې خدائے وئیلو. دا او داسی نور علامات د کفر به ئې څرګندول. هم دغه وجه وه چې ددۀ منونکو دۀ ته "سپین خدائے" اُووايو. (نعوذ بالله)...... شيخ قاسم له خپلو منونکو په دوابه کښې کور جوړ کړو. په دغه کور ئې نوم "مکه" کيښود. دۀ پسې د "عيسیٰ" منونکو لښکر اُوکړو. دۀ هغوئ تول اُووژل. عيسیٰ، اکبر بادشاه ته شکايت اوکړو. هغه دے لاهور ته بوتلو. څه موده دے هلته وو. بيا چې کله شاه سليم بادشاه شو. نو هغه دے په زندان کښې واچولو. او دا شان شيخ قاسم د "چنار" په قلعه کښې مړ شو.

د لاهور ځنې نفس پرستو عالمانو ددۀ نه بيعت کړے وو. هغوئ ددۀ په نوم ځنې رسالې ليکلې وې. چې اُوس ئې خلق د شيخ قاسم تصنيفات ګڼي. (۱۴۱)

== ☆☆☆ ==

د منصور غوند به غل د خاص و عام شم
که ښکاره مے و عالم ته ګوئے مګوئے شی (۱۴۲)

☆

چه له خپله هوېه نه واوښت منصور
که وګړی په سولئ کړ مخ ئے سور (۱۴۳)

☆

راز ئے ولے ښکار وه ښه چه په دار شو
د منصور سزا تر دا وه لا بترا (۱۴۴)

☆

چه د بل قاضي مفتي د كتاب نه دے
د خوشحال سبق له چا دے له منصوره
په سولئ ئے كيښنوه په اُور ئے سيزه
اَنا اَلْحق وينا به نشي ځئے دوره (۱۴۵)

☆

نوره واړه پښتونخوا په خاے ميشته ده
خو يو زه دے زمانے پکښے منصور کرم (۱۴۵)

☆

چه عاشقانو د حق ديدار ليده
موسیٰؑ په ونه منصور په دار ليده (۱۴۶)

☆

د منصور په حال خبر نه ئے خوشحاله
درته چا وے چه د راز خبرے وايه (۱۴۷)

☆

زهٔ خوشحال چه د منصور په مذهب خوښ يم
اوس څه غم چه زه د دار يم دار زما دے (۱۴۸)

☆

که منصور غونډِ کافر د محبت شے
ته به هله مستقيم په شريعت شے (۱۴۹)

☆

په هیڅ رنګ ئے اوښته ورځنے نشی
لیونے منصور چه دار هورے هورے وی (۱۵۰)

☆

چه په دار ئے ابدست کړو په خپلو وینو
کوم سرے به د منصور تر ځایه ورشی (۱۵۱)

☆

خوشحاله فهم کړه مجلس د عامو دے
د منصور پیاله به په منصور نوشله شی (۱۵۲)

☆

منصور چه مست وه له هغه جام
جرعه ئے راغلے زما تر کام
منصور په دار شو زۀ به لا نور څه شم
که راز مے ورشی تر خاص و عام (۱۵۳)

منصور حلاج، خوشحال بابا پخپل کلام کښې په مختلفو ځایونو کښې یاد کړے دے. د خوشحال بابا دغه یادونه زیات تره په دغه خیال بناء لری. چې منصور خپل راز پټ اُونه ساتو. افشا ئې کړو. او دغې عمل هغه تر داره اُورسوؤ.

## منصور (حسین بن منصور حلاج):

حسین حلاج د سید سلیمان ندوی د څیړنې مطابق په ۲۴۴ھ (۵۹ ـ ۸۵۸ء) کښې د بیضا (فارس) په خوا په "طور" نومې ځاے کښې زیږیدلے دے. دے نسلاً ایرانے وو. (۱۵۴)

دۀ نیکه د پارسی مذهب منونکے وو. خو د حسین بن منصور حلاج پلار اسلام قبول کړے وو.

دے په بیضا کښې پیدا شوے وو۔ خو لوټې شوے په واسطه کښې وو۔ واسطه د بصرې او کوفې په مینځ ومیانه کښې پرته یوه خوره وره علاقه ده۔ دې نه علاوه بغداد ته هم دے تلے راغلے دے۔ (۱۵۵)

"هغه د ۲۶۰هـ نه تر ۲۸۴هـ پورې د خلقو نه ځانله په یو گټ کښې تیر کړل۔ بیا د فارس او خراسان په سفر لاړو۔ په ۲۹۶هـ کښې کلی ته راستون شو۔ دغه دوران کښې دده د مریدانو شمیر ډیر زیات شوے وو۔ د صوفیانو د وینا تر مخه هغه د وحدت الوجود قائل وو۔" (۱۵۶)

"د حضرت جنید بغدادی په شاگردانو کښې د ټولو نه زیات شهرت ابو المغیث الحسین ابن منصور الحلاج بیا موندے دے۔ څوک چې ډیر متنازعه شخصیت څښتن وو۔ ولې بیا هم د هغه په شخصیت کښې دومره زړه راښکون شته چې د هرې ژبې په ادبیاتو او شاعرۍ کښې ئې ځان ځاے کړے دے۔ په هغه د اناالحق د نعرې تور لګیدلے وو۔ ځکه د هغه وخت عالمانو د هغه د قتل فتویٰ جاری کړه۔ قتلولو نه وړاندې ئې په زندان کړو۔ خو آخر د خلیفه په حکم په ۳۰۹ هـ کښې ئې هغه قتل کړو۔ د هغه کتاب "کتاب الطواسین" ډیر زیات شهرت لری۔ دغه کتاب په کال ۱۹۱۳ء کښې پروېز لوئی ماسینون د پیرس نه چاپ کړے دے۔" (۱۵۷)

منصور به هره شپه څلور سوه رکعاته مونځ کولو۔ او دا ئې پخپل ځان فرض کړی وو۔ او چې کله ترې خلقو تپوس اوکړو۔ چې تاته خو هسې هم اوچته مرتبه درکړې شوې ده۔ نو بیا ولې دومره اذیتونه برداشت کوے۔ هغه جواب ورکړو چې د دوست معنیٰ هم دا ده۔ چې په مصیبتونو ئې صبر راوړے شی۔ او د هغه په لار کښې ځان ختم کړے۔ چې د راحت یا غم څه احساس ئې باقی پاتی نۀ شی۔ (۱۵۸)

د پهانسی په وخت هغه یو حاجب ته اووئیل۔ کله چې ما د پهانسی نه پس اُوسیزئ۔ نو دغه وخت به د دجلې اُوبه بره راخیژی۔ او غورځنګ به کوی۔ نزدې ده چې بغداد به غرق کړی۔ که چرې هم دغسې وه۔ نو بیا به زما ایره په اُوبو کښې اوغورځوئ۔ ددې سره به اُوبه په قرار شی۔ کله چې هغه پانسی کړے شو۔ او لاش ئې ورله اُوسیزلو نو په دجله کښې یو زبردست طوفان راغے۔ او نزدې وه چې بغداد ئې غرق کړے وو۔ دغه وخت خلیفه تپوس اوکړو۔ چې ایا منصور ددې په حقله څه وئیلی وو۔ حاجب ورته په خواب کښې

اووئیل چې او هغه هم دغسې وئیلې وو. چې کله بغداد ته خطره شی. نو زما ایرې به دجلې ته اُوغورځوئ. داسې به اُوبه بنکته شی. بیا هغوئ هم دغه شان اُوکړل. د ایرو غورځولو سره په اوبو کښې ایرو داسې شکل اختیار کړو. چې د "الله" لیکلے شوے په نظر راتلو. او اُوبه اُودریدې. دا د ۳۰۹هـ خبره ده. (۱۵۹)

== ☆☆☆ ==

مخزن د درویزه د میاں نور شیخی پیری
الثالث بالخیر د حمزه خانی میری (۱۶۰)

☆

چه نیکان، پاکان ئیے دادی حال ئیے دادے
شیخ میاں نور پکښے د واړو نه والا دے
اول حال د عالمانو درته وایم
بیا له پسه به میاں نور درته وستایم (۱۶۱)

☆

کوم مُلا چه د میاں نور په حُکم درومي
هم هغه د سوات په ملک کښے سیرئے مومی
دا میاں نور که د خنزیر غوښے روا کا
ملایان به باند زر جوړه فتویٰ کا (۱۶۲)

☆

د میاں نور مفتیان د سوات په ملک کښې دوه دی
الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دی

---

اوس به وایم له میاں نور له حقیقته
چه د نورو نه، دے لا دے بدخصلته (۱۶۳)

☆

هغه نیم مُلا روان شه و میاں نور ته
خس خشاک ئیې سره ونوستل تنور ته
سرے لمبې د میاں نور په کور شوے بلے
نه وو څوک چه ئے اوبه کړے باندې تلے (۱۶۴)

☆

میاں نور درلره راغے ناست په رود دے
خبرولو لره راغلو زمونږ دود دے

---

یا ورځه اوس میاں نور وته جواب کړه
یا قبول د درویزه مخزن کتاب کړه

---

وے یې دا جواب د غشی د ناوک دے
سکه ترو یا څه، میاں نور هم درته ډک دے (۱۶۵)

☆

شیخ میاں نور پخپله کښیوت په تقریر کښې
ما و دهٔ وته چوت ورکړے په تحریر کښې (۱٦٦)

☆

و مغلو وته کښل چه شیخ میاں نور کړه
ما وے نور داهسے مکړه ده منظور کړه

---

زما روغه په رښتیاء ددهٔ دروغه
د میاں نور سره مے وشوه هسے روغه (۱٦٧)

☆

شیخ میاں نور چه خجل ورغلے تر کوره
په دا خپل وئیل پشیمان شه راشه گوره

---

که په خُله د میاں نور نه کا لښکرے
سکه په سرائیے د لښکرو خاورے سرے (۱٦٨)

☆

درویزه چه په خندا د خپل تصنیف دے
په ناحقه د میاں نور خٔنے تعریف دے (۱٦٩)

☆

و میاں نور چه د مخزن صفت آغاز کړه
ملایانو به ددۀ په وئیل ناز کړه

---

خوار عبدل چه الف بے ئیے نه دی لوستی
له میاں نوره په تعریف وی سره اختی (۱۷۰)

## میاں نور:

د میاں نور پوره نامه میاں نور محمد ده. دے د اخوند درویزه بابا نمسے او میاں کریمداد (شهید بابا) زوے وو. مور ئې د سید علی المعروف پیر بابا لور وه. ددۀ د زوکړې ځائے پیښور یادولے شی. د ابتدائی زده کړې نه پس چې زلمے شو. نو د نور علم د حصول په غرض د کوره اُووت. او لاهور ته لاړ. هلته ئې د مختلفو عالمانو نه زده کړه اُوکړه. په دغه آوان ددۀ ملاقات د شیخ آدم بنوریؒ سره اُوشو. د لاهور نه دے بیا سلطان پور ته لاړ. او کله چې شیخ آدم بنوریؒ دهلی ته تشریف یوړو. نو دے هم وریسې لاړ. هلته ئې د هغه مریدی اختیار کړه. او په خدمت کښې ئې لګیا شو. بیا چې شیخ آدم بنوریؒ حج ته تللو. نو دے ورسره هم لاړ. دوه کاله د هغه په خدمت کښې حاضر وو. او عن چې دے ئې ماذون کړو. د خلافت د خرقې نه علاوه ئې ده ته یو قرآن هم په تحفه کښې ورکړو. د شیخ آدم بنوریؒ د وفات نه پس میاں نور مکې ته راغے. او دلته په عبادت او ریاضت کښې مشغول شو. مکه کښې درې کاله پاتے شو. حجونه ئې اُوکړل. او په "جبل نور" کښې ئې چلې اُوویستې. دې نه پس خپل کلی ته راستون شو. او د سوات یوسفزو دے لکه د خپل پلار او نیکونو په شان خپل روحانی مشر اُومنو. دلته ئې د درس و تدریس کار شروع کړو او د شاګردانو یوه وسیع حلقه ئې پیدا کړه. څه موده پس ئې د ډوما کفارو خلاف د جهاد بیرغ هسک کړو. د چاسره چې په جنګ کښې ددۀ پلار کریمداد بابا شهید شوے وو. دغه سلسله کښې دۀ په تیرات، مدین، پکلی، کالاکوټ، شاګرام، سمبټ، بڼانیال، ګبرال او تور وال ښه جنګونه اُوکړل. او د دین رڼا ئې خوره کړه. دغه شان بونیر، کوهستان،

او ډیر کښې ئې هم د دین د تبلیغ کار ښه طریقه تر سره کړو.

د جهاد او تبلیغ په دے مهم کښې ورسره د پیر بابا یو بل نمسے میاں قاسم هم کلک ملګرے وو. د دوئ د کوششونو په نتیجه کښې د کوهستان ډیر قومونو اسلام قبول کړو. او کبری سردار خو د میاں نور نه دومره متاثره شو. چې هغه ته ئې خپله لور په نکاح ورکړه. په سوات کښې دغه بی بی په کوهستان ابی یادیدله.

د میاں نور یو ورور وو. چې میاں دولت نومیدو. د دوئ استوګن ځائے اسلام پور وو. اسلام پور د مینګورې نه جنوب طرف ته په شپږ میله فاصله پروت دے. دغلته میاں نور محمد په ۱۵۸۸هـ کښې وفات شو. او هم دغلته خاورو ته اُوسپارلے شو. ددهٔ دوه ښځې وې. او درې زامن وو. د مشر زوئے نوم ئې غلام محمد وو. دهٔ ته د تانې د حمزه خان نمسی واده شوې وه. (۱۷۱)

== ☆☆☆ ==

# حواله جات


۱- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۹۰ مخ

۲- افغانی: عبدالحلیم اثرؔ - روحانی رابطه او روحانی ترون- ناشر: دارالاشاعت باجوړ- مطبع: منظور عام پریس پېښور- اشاعت دوم: فروری ۱۹٦۷ء- ۴۰٦، ۴۰۷ مخونه

۳- اسلامی انسائیکلو پیدیا- (از سید محمود قاسم)- ج ۱ - ۳۴، ۳۵ مخونه

۴- کلیات خوشحال خان خټک- (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۹۴۵ مخ

۵- شخصیات کا انسائیکلوپیدیا (از مقصود ایاز) - ۴۵ مخ

٦- همدغه کتاب - ۴۵ مخ

۷- سفینه الاولیاء- (از شهزاده داراشکوه قادری) - ۱۲۱، ۱۲۲، ۱۲۳ مخونه

۸- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)- ۲۳۳ مخ

۹- همدغه کتاب - ٦۲۳ مخ

۱۰- همدغه کتاب - ۸۴۰ مخ

۱۱- همدغه کتاب - ۸۷۹ مخ

۱۲- همدغه کتاب - ۹۲۵ مخ

۱۳- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۷۲ مخ

۱۴- همدغه کتاب - ۷۳ مخ

۱۵- همدغه کتاب - ۷۴ مخ

۱٦- همدغه کتاب - ۷٦ مخ

۱۷- همدغه کتاب - ۷۷ مخ

۱۸- همدغه کتاب - ۸۱ مخ

۱۹- همدغه کتاب - ۸۷ مخ

۲۰- همدغه کتاب - ۸۸ مخ

۲۱- همدغه کتاب - ۹۷ مخ

۲۲- همدغه کتاب - ۹۸ مخ

۲۳- همدغه کتاب - ۹۹ مخ

۲۴- درویزه: اخون، تذکرہ الابرار والاشرار- ناشر: اداره اشاعت سرحد پېښور مطبع: نیو ایګل ستار پریس

پېښور۔ د چاپ کال نه لري۔ ۱۰۵ مخ

۲۵۔ همدغه کتاب ۔۱۰٦ مخ

۲٦۔ همدغه کتاب ۔ ۱۴۰ مخ

۲۷۔ بی بی مریم ۔ د پښتو د نثر تاریخی او تنقیدی جائزه ۔ ناشر بی بی مریم۔ مطبع: جدون پریس پېښور۔ سن اشاعت ۱۹۸٦ء ۱۱۱، ۱۱۲ مخونه

۲۸۔ درویزه، اخون: مخزن۔ ناشر: پښتو اکیډمی پېښور یونیورسټی پېښور۔ مطبع: حمیدیه پریس پېښور۔ سن اشاعت: فروری ۱۹٦۹ء ۔ ح مخ

۲۹۔ رضا: محمد افضل۔ د پښتو د نثر تاریخ۔ ناشر: یونیورسټی بک ایجنسی پېښور۔ مطبع: ماسټر پرنټرز پېښور۔ دوئم ځل چاپ اکتوبر ۱۹۹۵ء ۔ ۱۵۸، ۱۵۹ مخونه

۳۰۔ هیواد مل: زلمی، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه ناشر: د افغانستان د علومو اکیډیمی۔ مطبع: شرکت پرنټنګ پریس لاهور۔ دوهم ځل: ۱۳۷۲هـ ۔ ۱۸۷ مخ۔

۳۱۔ راورټی: میجر هانری جارج ۔ ګلشن روه۔ ( د پوهاند عبدالشکور رشاد سریزه)۔ ناشر: د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا اداره۔ مطبع: دولتی مطبعه کابل۔ د چاپ کال ۱۳۵٦هـ ۴۷ مخ

۳۲۔ د پښتو د نثر تاریخی او تنقیدی جائزه ۔ (از بی بی مریم)۔ ۱۱۴ ، ۱۱۵ مخونه

۳۳۔ روحانی رابطه او روحانی ترون۔ (از عبدالحلیم اثر افغانی) ۔ ۵۱۴ مخ

۳۴۔ سوات نامه ۔ (مرتبه همیش خلیلؔ) ۔ ۷۱ مخ

۳۵۔ رشتین: صدیق الله ۔ د کابل کالنی ۔ (مقاله: د پښتو ادب دری مشهوری کورنی) ناشر: پښتو ټولنه کابل۔ مطبع: عمومی مطبعه کابل۔ (د ۱۹۴۳ ۔ ۱۹۴۴ ګڼه) ۔۲۸٦ مخ

۳٦۔ اخون خیل: میاں عبدالرشید۔ تذکره علمائے کبار و مشائخ عظام صوبه سرحد (قلمی نسخه)

۳۷۔ رحیم: شاه رحیم، سوات نامه جواب نامه ۔ ناشر: شعیب سنز پبلیشرز مینګوره مطبع نه لري۔ د چاپ کال ۲۰۰٦ء ۔ ۱۰۴، ۱۰۵ مخونه

۳۸۔ خټک: افضل خان، تاریخ مرصع۔ مرتبه: دوست محمد خان کامل مومند۔ ناشر: یونیورسټی بُک ایجنسی پېښور۔ مطبع: جدون پریس پېښور۔ سن اشاعت نه لري ۔ ٦۰۴ مخ

۳۹۔ دیوان خوشحال خان خټک۔ دوئمه برخه (مرتبه حاجی پردل خان خټک) ۔ ۴۵۲ مخ

۴۰۔ Elphinston: Account of the kingdm of caubult I, London 1815, Page - 99

۴۱۔ Hugel, Baron Charlse; Travels in Kashmir and the Punjab, London, 1845, Page 225

۴۲۔ صدیقی: منظور الحق، تاریخ حسن ابدال۔ ناشر: اداره تحقیق پاکستان دانشگاه پنجاب لاهور۔ مطبع:

عالیه، 120تمپل روډ لاهور۔ سن اشاعت ۱۹۷۷ء ۔ ۱۹ مخ

۴۳۔ ابوالفضل ۔ اتین اکبری ۔ مترجم ډ لاخمن، کلکته ۔ ۱۹۷۳ء ۔ ۵۸۰ مخ

۴۴۔ Willsm H.H, Travels in the Himalyan Provinces etc, London, 1841, Vol II, Page 318

۴۵۔ تاریخ حسن ابدال ۔ (منظور الحق صدیقی) ۔ ۲۵ مخ

۴۶۔ محمد معصوم: میر ، تاریخ سندھ (معروف به تاریخ معصومی)۔ مرتبه: عمر بن داؤد پوته، مترجم: اختر رضوی۔ بمبئ۔ د اشاعت کال ۱۹۳۸ء ۔ ۱۷۹ مخ

۴۷۔ تذکره الابرار والاشرار ۔ (از اخون درویزه) ۔ ۱۵۹ مخ

۴۸۔ سوات نامه ۔ (مرتبه همیش خلیلؔ) ۔ ۹۶ مخ

۴۹۔ سوات نامه ۔ (مرتبه همیش خلیلؔ) ۔ ۹۷ مخ

۵۰۔ سوات نامه ۔ (مرتبه همیش خلیلؔ) ۔ ۹۹ مخ

۵۱۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۲۳۳ مخ

۵۲۔ همیش خلیل ۔ ورکه خزانه ۔ ناشر: دارالتصنیف جهانګیر پوره پېښور مطبع: منصور پریس لاهور۔ د چاپ کال ۔ دسمبر ۱۹۶۰ء دوهم ټوک، ۳ مخ

۵۳۔ رفیعؔ حبیب الله ۔ د روښان یاد ۔ (مقاله د محمد ابراهیم عطائی)۔ ناشر: پښتو ټولنه کابل ۔ مطبع نه لری۔ د چاپ کال ۱۳۵۵ء ۔ ۱۲۲ ، ۱۲۳ مخونه

۵۴۔ بایزید انصاری ۔ خیر البیان (د حبیب الله رفیع مقدمه) ناشر: پښتو ادبی مرکز سرائے نورنګ بنوں۔ چاپ ځائے او د چاپ کال نه لری۔ ۷ مخ

۵۵۔ بایزید انصاری ۔ خیر البیان ۔ (د حافظ عبدالقدوس قاسمی مقدمه) ناشر: پښتو اکیډمی پېښور یونیورسټی پېښور۔ مطبع: جدون پریس پېښور، د چاپ کال دویم ځل ۱۹۸۸ء ۔ ۴۳ مخ

۵۶۔ د پښتو د نثر تاریخی او تنقیدی جائزه ۔ (بی بی مریم) ۔ ۸۲ مخ

۵۷۔ اکبر: عبدالاکبر خان، روښانیان د مغلو تاریکیان ۔ ناشر: عبدالاکبر خان اکبر۔ د چاپ ځائي او کال نه لری۔ ۲۵ ، ۲۶ مخونه۔

۵۸۔ خټک: ډاکټر راج ولی شاه ۔ د پښتو ادبی تحریکونه ۔ ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی پېښور، مطبع: جدون پرنټنګ پریس پېښور۔ د چاپ کال: ۱۹۸۹ء ۔ ۸۷ ، ۸۸ مخونه

۵۹۔ طائر: پروفېسر محمد نواز، روهی ادب، ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی پېښور، مطبع: جدون پرنټنګ پریس پېښور دوم ځل ۱۹۸۶ء ۔ ۱۹۶ ، ۱۹۷ مخونه۔

۶۰۔ خیر البیان ۔ (د محافظ عبدالقدوس مقدمه) ۔ ۶۸ مخونه

٦١. مخلص، علي محمد، حالنامه . (د پښتو اکیډمي ټاټپ شوې نسخه) ۲۹۱ مخ
٦٢. کلیات خوشحال خان خټک . (دوست محمد خان کامل مومند). ۷۲۰ مخ
٦٣. شبلي نعماني مولانا، سوانح مولانائے روم. د ناشر نوم نه لری. مطبع: الناصر پریس لکهنو.
د چاپ کال نه لری. ۹ مخ
٦٤. عطارؒ: فرید الدین، تذکرة الاولیاء. مترجم: عنایت الله. ناشر: ملک دین محمد لاهور،
چاپ ځائي او کال نه لری. ۱۲۴ ، ۱۲۵ مخونه
٦٥. اغا اشرف. عارفین اسلام. ناشر: شهناز همایون، المعارج علامه اقبال ټاون لاهور، مطبع: ار. زیډ
پیجکز مچهلی مارکیټ لاهور. سال اشاعت: ۱۹۹۰ء . ۵ مخ
٦٦. همدغه کتاب . ۸ مخ
٦٧. همدغه کتاب . ۹ مخ
٦٨. سوات نامه (مرتبه همیش خلیل). ۹٦ مخ
٦٩. همدغه کتاب . ۱۳۲ مخ
۷۰. شاه، ډاکټر چراغ حُسین. تذکره پیر سباک و سادات پیر سباک . ناشر: ډاکټر چراغ حُسین شاه.
مطبع: عکاس پرنټرز پېښور. د چاپ کال ۱۹۸۹ء . ٥٦ مخ
۷۱. همدغه کتاب . ٥٦ مخ
۷۲. کلیات خوشحال خان خټک (دوست محمد خان کامل مومند) ٦۷ مخ
۷۳. جام عبدالرحمٰن . نفحات الانس . مترجم: سید احمد علی. ناشر: ملک فضل دین لاهور.
د چاپ ځائي او کال نۀ لری. ۹۰، ۹۴ مخونه
۷۴. قادریه، فقیر محمد عباس، تذکرة الاولیاء. ناشر: زیب ارټ پبلیشرز محله جنگی پېښور.
د چاپ ځائي او کال نۀ لری. ۱٦۰ مخ
۷۵. قادریه فقیر محمد عباس. د خدائے نیازبین. ناشر: تاج محل کمپنی ډهکی منور شاه قصه خوانی بازار
پېښور. د چاپ ځائي او کال نۀ لری. ۱۷، ۱۸ مخونه.
۷٦. نفحات الانس (از عبدالرحمٰن جامیؒ). ۹۴ مخ
۷۷. سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) . ۱۷ مخ
۷۸. تذکره علمائے کبار و مشائخ عظام صوبه سرحد . (میاں عبدالرشید) قلمی نسخه
۷۹. همدغه نسخه
۸۰. سوات نامه (مرتبه همیش خیل ) . ۹٦ مخ

۸۱- تذکره پیر سباک و سادات پیر سبا (از ډاکټر چراغ حُسین شاه) - ۲۲۴ مخ
۸۲- سوات نامه - (مرتبه همیش خلیل) - ۹۶ مخ
۸۳- خټک خوشحال خان - سوات نامه - (د پوهاند عبدالحئی حبیبی په زیار) - ناشر: د افغانستان د علومو اکیډمی کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل - سن اشاعت: ۱۳۵۸ لمریز کال - ۶۰ مخ
۸۴- هروی: خواجه نعمت الله- تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی- مترجم: ډاکټر محمد بشیر حُسین مرکزی اُردو بورډ لاهور ، مطبع: زرین ارټ پریس لاهور- سن اشاعت ۱۹۷۸ء - ۶۰۲ ، ۶۰۳ مخونه
۸۵- سوات نامه - (مرتبه همیش خلیل) - ۶۰ مخ
۸۶- همدغه کتاب - ۶۶ مخ
۸۷- سوات نامه (مرتبه عبدالحئی حبیبیؒ) - ۶۰ مخ
۸۸- تاریخ مرصع - (از افضل خان خټک) - ۲۴۰ مخ
۸۹- تذکرۃ الابرار و الاشرار (از اخون درویزه) - ۱۶۵ مخ
۹۰- همدغه کتاب - ۱۸۸، ۱۸۹ مخونه
۹۱- همدغه کتاب - ۱۹۰ مخ
۹۲- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۹۶ مخ
۹۳- تذکره پیر سباک و سادات پیر سباک (از ډاکټر چراغ حُسین شاه) - ۶۶ مخ
۹۴- همدغه کتاب - ۶۸ مخ
۹۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۵۷ مخ
۹۶- همدغه کتاب - ۳۰۴ مخ
۹۷- تذکرۃ الاولیاء - (از فقیر محمد عباس قادریه) - ۹۶ مخ
۹۸- عطارؒ: فرید الدین - تذکرۃ الاولیاء - (د مترجم نوم نهٔ لری) ناشر: خواجه محمد اسلام اُردو بازار لاهور- مطبع: عمران پرنټرز لاهور - سن اشاعت: ۱۴۱۹هـ - ۱۱۵ مخ
۹۹- بیګ - فقیر جمیل - دل تذکره الاولیاء - مترجم حاجي عبدالرزاق کوثرؔ- ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی- مطبع: ملت پرنټرز لاهور- د چاپ کال: ۱۹۹۴ء - ۱۹۳ مخ
۱۰۰- کلیات خوشحال خان خټک - (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۷۹ مخ
۱۰۱- همدغه کتاب - ۱۸۵ مخ
۱۰۲- همدغه کتاب - ۷۲۸ مخ

۱۰۳۔ همدغه کتاب ۔ ۹۳۶ مخ
۱۰۴۔ ختک: خوشحال خان ۔ فراق نامه ۔ (مرتبه زلمی هیواد مل) ناشر: پښتون کور (بن) جرمنی، د افغانستان د کلتوری خدمتونو اداره پېښور۔ مطبع: ملت پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۲۰۰۱ء۔ ۷۷ مخ
۱۰۵۔ عبدالقیوم۔ مشاهیر سرحد، ناشر: عبدالسلام خان پرنټرز لاهور۔ مطبع نه لری۔ سن اشاعت: ۱۹۷۷ء ۔ ۳۰ مخ
۱۰۶۔ کاکا خیل: شمس الدین ۔ مناقب شیخ رحمکار ۔ د پښتو اکیډیمی قلمی نسخه نمبر ۱۸۳۔
۱۰۷۔ کاکاخیل، سید بهادر شاه ظفر۔ شیخ رحمکار کاکا صاحب۔ ناشر: سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل۔ مطبع: ماسټر پرنټرز پشاور۔ طبع دویم مئی ۲۰۰۰ء ۔ ۵۸ مخ
۱۰۸۔ همدغه کتاب ۔ ۶۲ مخ
۱۰۹۔ روحانی ترون او روحانی رابطه ۔ (از عبدالحلیم اثر افغانی) ۔ ۵۷۸ مخ
۱۱۰۔ فراق نامه ۔ (مرتبه زلمی هیواد مل) ۔ ۱۵۹ مخ
۱۱۱۔ مشاهیر سرحد (از عبدالقیوم) ۔ ۳۱ ، ۳۲ مخونه
۱۱۲۔ تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۔ ۵۹۰ مخ
۱۱۳۔ حبیبی: عبدالحیٔ۔ د میاں فقیر الله پیژند لیک۔ ناشر: د ژبو او د ادبیاتو پوهنځی کابل۔ دولتی مطبعه کابل۔ سن اشاعت: ۱۳۵۹هـ ۔ ۷۸ مخ
۱۱۴۔ جبیبی: عبدالحیٔ۔ کابل مجله۔ پینځمه گڼه۔ کال ۱۳۴۱ ش ۔ ۲۱ ، ۲۲ مخونه
۱۱۵۔ عبدالحلیم ۔ مقامات قطبیه و مقامات قدسیه ۔ د ناشر نوم نه لری۔ د دهلی چاپ ۔ د چاپ کال ۱۳۱۸هـ ۔ ۱۷۵ مخ
۱۱۶۔ پریشان ختک پروفیسر ۔ پشتون کون ۔ ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی پېښور۔ مطبع: جدون پرنټنګ پریس پېښور۔ ۱۹۸۴ء ۔ ۳۸۲ ، ۳۸۳ مخونه
۱۱۷۔ کلیات خوشحال خان ختک ۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۱۲۰ مخ
۱۱۸۔ همدغه کتاب ۔ ۸۰۰ مخ
۱۱۹۔ دیوان خوشحال خان ختک ۔ دویمه حصه ۔ (مرتبه حاجي پردل خان ختک) ۔ ۴۶۴ مخ
۱۲۰۔ ختک شیر علی۔ پښتو ګڼه ۔ (قصه د شیخ صنعان) پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی پېښور۔ مطبع پبلک ارټ پریس پېښور۔ (د جولائی ۱۹۶۴ء نه تر دسمبر ۱۹۶۵ء پورې)۔ ۸ ، ۹ مخونه۔
۱۲۱۔ عطار فرید الدین ۔ منطق الطیر ۔ په اهتمام ډاکټر سید صادق ګوهرین۔ ناشر: مؤسسهٔ انتشارات امیر کبیر

ایران۔ مطبع: شرکت سهامی افست تهران۔ سن اشاعت ۱۳۴۹هـ ۔ د ۱۳ مخ نه د ۳٦ مخ پورې شعرونو لنډیز

۱۲۲۔ کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۷۲۰ مخ

۱۲۳۔ همدغه کتاب ۔ ۳۸۹ مخ

۱۲۴۔ تذکرة الاولیاء ۔ (از فقیر محمد عباس قادریه) ۱۰، ۱۱ مخونه

۱۲۵۔ خان۔ مولانا قاری محمد عادل۔ تذکرة الاولیاء ۔ ناشر: کتب خانه خورشیدیه لاهور۔ مطبع: نهٔ لری۔ سن اشاعت: نه لری ۔ ۲ مخ

۱۲٦۔ دریا آبادی: مولانا عبدالماجد۔ تصوف اسلام ۔ ناشر: المعارف لاهور۔ مطبع: نه لری۔ سن اشاعت ۱۳۹۳هـ ۔ ۱۲۵ مخ

۱۲۷۔ شبلی نعمانی: شعر العجم (اُردو) ناشر: نه لری۔ مطبع: ناصر پرنټرز لاهور۔ سال اشاعت ۱۹۸۸ء حصه پنجم۔ ۱۲۵ مخ

۱۲۸۔ عبدالرحمٰن: شیخ، مراة الاسرار۔ ناشر: صوفی فاونډیشن لاهور۔ مطبع: کمال پرنټنګ پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۸۲ء ۔ ۱۱۳ مخ

۱۲۹۔ کلیات خوشحال خان ختک۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۷۰٦ مخ

۱۳۰۔ قادریه: فقیر محمد عباس۔ اُووه بزرګان ۔ ناشر: اداره فروغ تعلیم پېښور۔ مطبع: منظور عام پریس پېښور۔ سن اشاعت ۱۹۷۱ء ۔ ۹٦، ۹۷ مخونه

۱۳۱۔ همدغه کتاب ۔ ۹۸ مخ

۱۳۲۔ همدغه کتاب ۔ ۹۸ مخ

۱۳۳۔ احمد رئیس ۔ خواجه خواجګان۔ مقاله: خواجه خواجګان بزرګ چشتی اجمیری، از مولانا سید محمد ذوقی شاه۔ ناشر: معینی دارالاشاعت کراچی ۲۵۔ مطبع: احتشام پروسیس کراچی۔ سن اشاعت: ۱۹۷۲ء ۔ ۷۱ مخ

۱۳۴۔ اووه بزرګان (از فقیر محمد عباس قادریه) ۔ ۱۰۰، ۱۰۲ مخونه

۱۳۵۔ همدغه کتاب ۔ ۱۴٦ مخ

۱۳٦۔ همدغه کتاب ۔ ۱۵۰، ۱۵۱ مخونه

۱۳۷۔ محمد ریاض ډاکټر: اقبال اور فارسی شعراء۔ ناشر: اقبال اکادمی پاکستان لاهور۔ مطبع: ابراهیم سنز پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۷۷ء ۔ ۹۰ مخ

۱۳۸۔ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۔ ۹٦ مخ
۱۳۹۔ سوات نامه (مرتبه عبدالحئی حبیبی) ۔ ٦۱ مخ
۱۴۰۔ تذکرة الابرار والاشرار (از اخون درویزه) ۔ ۱۸۳ ، ۱۸۴ مخونه
۱۴۱۔ کلیات خوشحال خان خټک ۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۴۸۱ مخ
۱۴۲۔ همدغه کتاب ۔ ۸۱ مخ
۱۴۳۔ همدغه کتاب ۔ ۹۰ مخ
۱۴۴۔ همدغه کتاب ۔ ۸۷۵ مخ
۱۴۵۔ همدغه کتاب ۔ ۵٦۲ مخ
۱۴٦۔ همدغه کتاب ۔ ۷۲۰ مخ
۱۴۷۔ همدغه کتاب ۔ ۴۷۹ مخ
۱۴۸۔ همدغه کتاب ۔ ۳۷۹ مخ
۱۴۹۔ همدغه کتاب ۔ ۴۵۷ مخ
۱۵۰۔ همدغه کتاب ۔ ۳۸٦ مخ
۱۵۱۔ همدغه کتاب ۔ ۳۹۰ مخ
۱۵۲۔ همدغه کتاب ۔ ۳۹۲ مخ
۱۵۳۔ همدغه کتاب ۔ ٦۸۷ مخ
۱۵۴۔ قدوسی، اعجاز الحق: اقبال کے محبوب صوفیاء۔ ناشر: اقبال اکیدمی لاهور۔ مطبع: زرین ارټ پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۷٦ء ۔ ۳٦ مخ
۱۵۵۔ خورشید نعیم۔ حُسین بن منصور حـلاج (شخصیت و افکار) ناشر: سنگ میل پبلی کیشنز لاهور۔ مطبع: نه لری۔ سن اشاعت: اول ۱۹۸۱ء ۔ ۷۹ مخ
۱۵٦۔ ای۔ جے۔ برل۔ انسائیکلو پیډیا آف اسـلام۔ لیدن۔ سن اشاعت: ۱۹۱۳ء ۔ ج ۲ ۔ ۲۳۹ ، ۲۴۰ مخونه
۱۵۷۔ روبینه ترین ډاکټر: تصوف (تعریف،تاریخ، اصطلاحات) ناشر: بیکن بکس گلگشت ملتان۔ مطبع: شرجیل پرنټنګ پریس ملتان۔ سن اشاعت اول: ۲۰۰۱ء۔ ۳۹ ، ۴۰ مخونه
۱۵۸۔ راهیؔ، سرفراز احمد: الله اور رسول الله کے سفیر۔ ناشر: وصی شاه دُعا پبلی کیشنز لاهور۔ مطبع: عظیم علیم پرنټرز لاهور۔ سال اشاعت ۲۰۰۲ء۔ ۴۹۳ مخ
۱۵۹۔ ملک خورشید نعیم۔ حُسین بن منصور حـلاج۔ ناشر: سنگ میل پبلیکیشنز لاهور۔ مطبع: بشیر پرنټرز

لاهور۔ سال اشاعت ۱۹۹۰ء ۔ ۶۴ مخ

۱۶۰۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۸۴۰ مخ

۱۶۱۔ سوات نامه ۔ (مرتبه همیش خلیل) ۔ ۶۸ مخ

۱۶۲۔ همدغه کتاب ۔ ۷۰ مخ

۱۶۳۔ همدغه کتاب ۔ ۷۱ مخ

۱۶۴۔ همدغه کتاب ۔ ۷۳ مخ

۱۶۵۔ همدغه کتاب ۔ ۷۷ مخ

۱۶۶۔ همدغه کتاب ۔ ۷۹ مخ

۱۶۷۔ همدغه کتاب ۔ ۸۴ مخ

۱۶۸۔ همدغه کتاب ۔ ۸۶ مخ

۱۶۹۔ همدغه کتاب ۔ ۸۷ مخ

۱۷۰۔ همدغه کتاب ۔ ۸۸ مخ

۱۷۱۔ سوات نامه جواب نامه (از رحیم شاه رحیمؒ) ۔ د ۸۷ مخ نه تر ۱۰۶ مخ پورې د شعرونو نثری لنډیز

خلورم باب

# د خوشحال په کلام کښې مذکور

# بادشاهان اؤ اميران

خوشحال بابا پخپل کلام کښې ګڼ شمېر سياسی شخصيات ياد کړي دي. چې پکښې د هندوستان د بادشاهانو، اميرانو او درباری کسانو نه علاوه د نړيوال تاريخ سره تعلق لرونکي لوئې لوئې سلاطين او امراء هم شامل دی.

ددې سياسی شخصياتو تذکره چې خوشحال بابا د کومو کارنامو، اوصافو او جاه و جلال په بنياد کړې ده.

دې باب کښې په دغه حواله ناقدانه تحقيقی خېړنه شوې ده.

دا بنا د آصف خان له لاسه شوے

او په حکم د خورم په کښے دا کار شی (۱)

آصف خان خانان میرزا ابو الحسن یمین الدوله د شاه جهان سخر وو. دده د ودانو، باغونو او محلونو جوړولو سره ډیره مینه وه. هم دا وجه وه چې دهٔ په دهلی، اگره اؤ کشمیر کښې یو شمیر باغونه لګولی اؤ عمارتونه ئې آباد کړی وو. دهٔ په لاهور کښې هم یوه حویلی جوړه کړې وه. خوشحال بابا په دې بره ذکر شوی شعر کښې هم ددغې حویلی د باغ ذکر کوی. دغه حویلی د شل لکه روپو په لګښت تیاره کړې شوې وه. دا حویلی د آصف خان د وفات نه پس شاه جهان خپل زوی داراشکوه ته ورکړه.

## آصف خان:

آصف خان د اعتماد الدوله غیاث الدین (۱۰۳۱هـ) زوئے وو. د نیکه نامه ئې خواجه محمد شریف طهرانی (۹۱۴-۹۸۴هـ) وه. او مشر نیکه ئې خواجه علی طهرانی نومیدو." (۲)

"آصف خان د نور جهان مشر ورور وو. جهانګیر چې کله د نور جهان سره واده اوکړو. نو دهٔ ته ئې د اعتقاد خانی او خانه سامانی خطابونه ورکړل...... وروسته آصف خان خپله لور ارجمند بانو (ممتاز محل) شاهزاده خرم (شاهجهان) ته ورکړه." (۳)

د شاه جهان په دور کښې د اُوچتې مرتبې سپه سالار وو. دهٔ ته بادشاه د نهه زریز ذات او نهه زریز سورو منصب ورکړے وو. دے د ممتاز محل پلار او شاه جهان بادشاه زوم وو. هم ددې زوم په برکت شاه جهان د خپلو ورونو په مقابله کښې د تخت نشینی جنګ ګټلے وو.

آصف خان په اخری عمر کښې فالج اُووهو. دغه وخت دے د شاه جهان سره د کشمیر په سیل وتلے وو. د لاهور په مقام ئې طبیعت ډیر خراب شو. او د شاه جهان د قافلې نه وروستو پاتې شو. (۴)

آصف خان ډیر قابل او ذهین انسان وو. د شعر و شاعرۍ سره ئې ډیر شوق لرلو. هغه د خسرو شرین قصه منظوم کړې وه. او زما د نوم په مناسبت سره ئې ورله "نور نامه" نوم ایښودے وو.

سره ددې چې زما د شهزاد توب په وخت کښې ترې ډيرې خطاکانې شوې وې. خو چې زهٔ تخت نشين شوم. نو ما ورله "پنيځه زريز"منصب ورکړو. او اُوس ئې په زامنو هم ډير مهربانه يم. ډير څه ورله ورکوم او په ښهٔ ښهٔ منصوبونو مې نمانځلي دی." (۵)

ددهٔ اصلي نوم ابوالحسن وو. شائسته خان مرزا مسيح، مرزا حسين او نوشه نواز خان ددهٔ زامن وو. لاهور ښار ته مخامخ د راوی درياب په غاړه ئې مدفن دے. (۶)

== ☆☆☆ ==

بيا له پسه ابابکر په تخت کښيناست

چه دے هم د فيروز شاه له ذريت ؤ (۷)

## ابابکر:

د فيروز شاه تغلق د اولاده وو. دے په نولسمه فروری کال ۱۳۸۹ء کښې په تخت کيښناست. او رکن الدين ئې خپل وزير اوټاکلو. خو لږې ورځې ابابکر ته معلومه شوه. چې رکن الدين زما د تخت د پاسترولو په سازش کښې ککړ دے. ځکه نو هغه ئې مړ کړو. هم دغه وخت ابابکر ته ناصر الدين محمود را اُوچت شو. او د حُکومت اخستو د پاره ئې پټښې لاس وهل شروع کړل. ددغې غرض د پاره ناصر الدين محمود د کانګړې نه "ساماني" ته لاړ.

چرته چې هغه په څلريشتم اپريل کال ۱۳۸۹ء کښې د خپلې تخت نشيني اعلان اوکړو. او بيا ئې دهلی طرف ته پيش قدمی اُوکړه. خو ابابکر ناصر الدين ته ماتې ورکړه. او ناصر الدين دواب ته پورې ووتو. او مستقل استوګنه ئې په جليسر کښې اختيار کړه. څه موده پس ئې يو ځل بيا قسمت اُوکتلو ولې بيا ئې شکست اُوخوړ. په کال ۱۳۹۰ء کښې ابوبکر پخپله جليسر ته په ناصر الدين پسې راغے. خو هغه ابابکر ته

دهوکه ورکړه. او ځان ئې دهلی ته اُورسؤو. دغه شان په تخت کیښناست. او چې ابابکر راستون شو. نو گرفتار ئې کړو. او میرت ته ئې اُولیږو. چرته چې هغه وفات بیاموند." (۸)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه ابراهیم وۀ دده خویه
چه بابر سره ئے جنگ په پانی پت ؤ (۹)

د ابراهیم نه مراد دلته د لودهی خاندان نوموړے بادشاه ابراهیم لودهی دے. څوک چې د بهلول لودهی نمسے او د سکندر لودهی زوئے وو. دے ددغې خاندان آخری بادشاه وو. تاریخ فرشته لیکی. "چې (ابراهیم لودی) ډیر هوښیار، قابل او بهادر باچا ؤ. د پلار د قاعدې پر خلاف یې له عزیزانو او پښتنو سره ناوړه سلوک شروع کړ. له خپلو حقونو یې محروم کړل. د پلار او نیکه د وخت مشران او امیران به له ناکامه دده د تخت په مخکې لاس په نامه ولاړ وو. او په زړه کې به یې دده پر خلاف تجویزونه جوړول او غوښتل یې چې باچا یې تقسیم شی." (۱۰)

## ابراهیم لودهی:

"سلطان ابراهیم بن سکندر بن بهلول. د پلار د مرگ نه پس د بادشاهی تاج په سر کیښودو. د ځان د پاره ئې په غمو او جواهراتو ښائسته کړے شوے یو تخت جوړ کړے وو. چې د لعل و یاقوتو زړه راښکونکې گل کاری پرې کړې شوې وه. په دغه بیش بها تخت باندې په ۹۲۵ هـ کښې کیښناستو او د خپل نوم خطبه او سکه ئې جاری کړه." (۱۱)

"ابراهیم لودهی د پلار نیکه د روایاتو برعکس تند خویه، خود پسند سخت مزاجه او غصه ناک وو. هم دا وجه وه چې اکثر امیران ترې خفه وو. او بغاوتونو ورته سر راپورته کړو. ابراهیم لودهی ددغه بغاوتونو د

ختمولو په لړ کښې دومره سختي راواخستې چې امیران ئې نور مشتعل کړل. خپل ورور جلال خان ئې د بغاوت په الزام قتل کړو. د تره زوئے اعظم همایون او د هغه زوئے ئې محض د شک په بنیاد زنداني کړل. (۱۲)

"دا حکم ئے ورکړو چه دلبار کښے به ټول امیران د بادشاه په موجودګۍ کښے د هغه په وړاندې لاس په نامه ولاړ وی. هغه مشران چه د بهلول او سکندر وخت ئے لاهیر نه وو هغوئ ورته چه کوم عزت ورکړے وو هر وخت به د هغے تذکرے کیدے هغوئ ته دا نوی خبره وه. چه د بادشاه په موجودګۍ کښے به لاس په نامه ولاړ وی. دا د پښتنو خاصه نه وه. نتیجه ئے ډیر زر اُوخته. په ټول وطن کښے د ابراهیم خلاف بغاوتونه شروع شول. اودهـ، جونپور، بهار او پنجاب د دهلی نه بغاوت اوکړو. نور خولا پریږده خپل تره عـلاؤ الدین د کابل بادشاه بابر مغل ته بلنه ورکړه چه راشه او مونږ د ابراهیم نه خلاص کړه." (۱۳)

بابر خو دداسې موقعې په څارکښې ناست وو. او د تیمور سره د نسلی تړون په وجه ئې د دهلی سلطنت خپل میراث ګڼلو. څکه نو د مخه سره ئې یو لوئې فوځ راروان کړو. او د پنجاب د وهلو نه پس ئې دهلی ته مخه اُوکړه. هلته ابراهیم لودهی هم د یو کڼ شمیر فوځ سره د دهلی نه راروان شو. د پاني پت په میدان کښې دغه دواړه فوځونه یو بل ته مخامخ شول. څه که هم دغه جنګ ډیر مختصر وو. خو بې کچه بوږنونکے ضرور وو. په دې چې د یوئې ورځې په جنګ کښې د هندوستان د قسمت فیصله د بابر په حق کښې اُوشوه. دې جنګ کښې د ابراهیم لودهی پنځلس زره فوځیان مړه شول. بابر په دهلی وراغے. او بغیر د څه مزاحمته ئې په تخت قبضه اُوکړه. او د هندوستان د شهنشاه اعـلان ئې اوکړو. دا پیښه په ۱۵۲۶ء کښې مخې ته راغله." (۱۴)

بابر فتح اُومونده. او ابراهیم لودهی شکت اُوخوړو. او مړ شو. دې جنګ نه یوازې د لودهیانو د حکومت خاتمه اوکړه. بلکې ددې سره سره ئې د دهلی سلطنت هم ختم کړو. زمانې پاڼه واړوله. او مسلمانانو د حکومت یو دور ختم شو او بل شروع شو. (۱۵)

دۀ د فقیرانو او مسکینانو سره ډیر ښه سلوک کولو. او د هغوئ د پاره ئې په وظیفو، لاس امداد، او ادرارکښې اضافې کړې وې. کومو درویشانو چې دُنیا ترکه کړې وه او ګوشه نشین وو. هغوئ ته به ئې هم نذرانې لیږلې." (۱۶)

بیا له پسه اسلام شاه د شاه عالم وۀ
چه له پلاره نه هم زیات ددۀ جرأت وُ (۱۷)

(جلال خان) اسلام شاه د شیر شاه سوری (شاه عالم) زوئے وو۔ چې د هغه د وفات نه پس ئې د حکومت واګې تر لاسه کړې۔ "اسلام شاه د غیر معمولی جسمانی طاقت او زړورتیا خاوند وو۔ نو تر څو چه هغه ژوندے وو حالات تر هغے د هغه په قابو کښې وو۔ ځکه چه د هغه مخالفت او مقابلے ته په وس چا مخ نه شو نیوے۔ دغه وجه وه چه همایون د هغهٔ په وخت کښې په هند باندے د حملے برید نه شو کولے۔ حالانکه یو خل تر اټکه راغلے هم وو۔ (۱۸)

د اسلام شاه دغه جرأت او زړورتیا خوشحال بابا ستائیلې ده۔ چې هغه د شیر شاه سوری نه هم په دغه حقله زیات جراتمند او بهادر وو۔

## اسلام شاه:

"شیر شاه پخپل ژوندانه خپل مشر زوئے عادل خان جانشین ټاکلے وو۔ خو د شیر شاه د وفات نه پس پښتنو سردارانو د عادل خان په ځاے د هغه کشر ورور سلیم را اوبللو اُو په ۲۸ مئی ۱۵۴۵ء کښې ئې ورته د اسلام شاه خطاب ورکړو او په تخت ئې کیښنوۀ۔

خواص خان چې د عادل خان کلک ملګرے وو۔ د هغه په اُمیدونو خاورې واوریدې۔ ځکه چې د دهلی د سروسپینو مالک اُوس اسلام شاه جوړ شوے وو۔ په مات زړه ئې د نورو سردارانو سره د اسلام شاه د وفادارۍ سوګند پورته کړو۔ ولې اسلام شاه هم د خواص خان او د عادل خان د نورو قریبی ملګرو نه سخت بدظنه وو۔ دغه وجه وه چې خواص خان سره د خپلو ملګرو بغاوت اوکړو۔ ولې ماتې ئې اوخوړو او د سلطنت نه بهر کړے شو۔" (۱۹)

اسلام شاه پخپل دور کښې ډیر عسکری اصلاحات کړی وو۔ د کومې له کبله چې په فوځی سطح د هغه ډیر زیات درناوې کولې شو۔ د فوج افسران د هغه نه ډیر خوشحاله وو۔او له دے آمله باغی پښتانۀ

سرداران د فوځ د ویرې له وجې ایغ نیغ وو. چې په نتیجه کښې ئې ملک د توټې کیدو نه په امن وو. وئیلے شی چې کله همایون په ۱۵۵۲ء کښې کشمیر ته رامخکښې شو. نو اسلام شاه ورله شکست ورکړو." (۲۰)

اسلام شاه یو سپین سپیځلے سړے وو او د ډیرو خوبو مالک وو. د ملکی دستور او عدالتی قاعدو پابندی به ئې لکه د پلار په څیر کوله. دده په دورکښې چرته هم زورور په کمزوری ظلم نهٔ شو کولے. شیر شاه چې د اباسین نه تر بنګاله پورې څومره سرائې جوړ کړی وو. اسلام شاه د هغو سره یو یو سرائے بل جوړکړو. او د پلار پشان ئې مسافرو له د ډوډۍ ورکولو عمل ته دوام ورکړو. دغه شان د قانون ګو په کاغذونو کښې د پرګنود ورې نه وړه خبره درج کول، د رعایت کیفیت لیکل، د آبادۍ او کر کروندې منصوبو له ترقی ورکول، د لګان د اخستلو قواعد او د هر رنګه تفصیلاتو لیکل هم دده ایجاد دے. د ملک نیونې، ملک چلونې، عدل و انصاف او ملکی انتظام چارې چې څه رنګې دے پلار زامنو کړې دی. د دوئ نه وړاندې نه ښکاری چې بل بادشاه کړې وی. مړ شو خو د نیکۍ، فیاضی او د خلقو د خیر ښیګړې یادګارونه ئې پریښودل. مرګ حق دے. خو د مړینو مرګ او ژوند دواړه قابل رشک وی. اسلام شاه اته کاله دوه میاشتې او اتهٔ ورځې حکومت اُوکړو. (۲۱)

"دے په ۳۰ اکتوبر ۱۵۵۳ء کښې وفات شو. او دده مرګ د سوری خاندان د زوال باعث شو." (۲۲)

==☆☆☆==

په نامه دی افراسیاب ؤ
همه عمر يې د اداب ؤ (۲۳)

## افراسیاب:

ډیره موده پس د تور په خاندان کښې افراسیاب بن یسنګ د ترکستان بادشاه شو. او هغه اراده اوکړه چې د تور د وینې بدله به اخلی. ...... ځکه نو هغه په طبرستان حمله اُوکړه. چرته چې نوذر بادشاهی کوله. د افراسیاب سپاپانو د ایران ډیر پهلوانان د تېغه تېر کړل. آخر نوذر په واپسی کښې خبر اُولید. او فارس پله ئې مخه اُوکړه. ولې افراسیاب د هغه نه مخکښې شو. جنګ اُوشو. د نوذر لښکر ماتې اوخوړ او د افراسیاب له لاسه نوذر مړ شو. دغه شان د نوذر د مرینې نه پس ایران هم د افراسیاب په ولقه کښې راغلو. خو څه موده پس د زال په کوششونو ایرانیانو د زو بن طهماسپ په مشرۍ کښې افراسیاب د ایران نه اُوویستو. او هغه ترکستان ته واپس راغے." (۲۴)

"افراسیاب د ترکسان بادشاه وو. چې د زمکې لویه حصه ئې د حُکم نه لاندې وه. هر کال به ئې د خلقو میلمستیا کوله. او ډیر مال دولت به ئې په دغه میلمستیا خرڅ کولو. دغه رنګ محتاجو له به ئې دومره غله دانه او نقدې روپۍ ورکړې. چې هغوئ به ماړه شول. خېل امیرانو او خانانو له به ئې هم ډیر اکرام او مدار کولو. هغوئ ته به ئې د بهادرۍ، سخاوت، عدل تقدیر، بخښنې او صبر درس ورکولو." (۲۵)

"افراسیاب د توران یو لرغونے بادشاه وو. دده د پلار نوم پاسنګ وو. دهٔ نوذر له ماتے ورکړو. او بیا ئې قتل کړو. نوذر د پیش وادی خاندان سره تعلق لرلو. او دغه وخت د فارس بادشاه وو. افراسیاب ترې د فارس واک ترلاسه کړو او تر شپږ شلی کاله ئې حُکومت اُوکړو. اخر د کیانی خاندان کیخسرو راپورته شو او دهٔ له ئې شکست ورکړو. (۲٦)

افراسیاب ته په اوستائی ژبه کښې افراسیاک او فرنګ رسین وائی. دے د توران یو هیبت ناک او زړور سپه سالار وو. چې د ایران د کیانی بادشاهانو سره ئې په مودو مودو جنګونه کړی وو. آخر د کیخسرو

بن سیاوش په عهد کښې اُو وژلے شو. (۲۷)

افراسیاب د موسیقی او رباب ډیر شوقین وو. او دے د کمند جوړولو ښه ماهر وو." (۲۸)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه د همایون ځویه اکبر شو
چه و هر لوری ته مل ددهٔ نصرت ؤ
بیاله پسه جهانګیر د اکبر ځویه
چه ددهٔ په دور هند لکه جنت ؤ (۲۹)

☆

د اکبر بادشاه په دور
شو د خپل اولس تور خان (۳۰)

☆

په هغه آوان اکبر بادشاه بادشاه وو
واړه خلق د بادشاه سره ګمراه وو (۳۱)

جـلال الدین محمد اکبر د همایون زوئے او د مغلی خاندان ډیر مشهور بادشاه وو چې پخپل وخت کښې ئې بې شمیره فتوحات حاصل کړی وو. دریم شعر کښې خوشحال بابا د خپل مشر نیکه یحییٰ خان ذکر کوی. چې د جـلال الدین اکبر په دور کښې دے د خپل اولس مشر شو. او د توری او مرانې کارنامې ئې تر سره کړې. په څلورم شعر کښې خوشحال بابا د اکبر او د هغه د رعایه ذکر کړے دے. چې واړه سره په ګمراهی سر وو.

## اکبر (جلال الدین محمد اکبر اعظم):

"جلال الدین محمد اکبر په ۲۵ اکتوبر کال ۱۵۴۲ء کښې پیدا شو. او په کال ۱۵۵٦ء کښې د دهلی په تخت کښیناست. دغه وخت د اکبر سرپرستی بهرام خان کوله. خو هغه هم څلور کاله پس ۱۵٦۰ء کښې حق اُورسید. اکبر د ۱۵٦۴ء نه تر ۱٦۰۵ء پورې حکومت کړے دے. ولې د انتهائی خرابو حالاتو باوجود هم د هغه دښمنانو په هغه برے نه دے بیاموندے. او اکبر ځان یو مستحکم حکمران ثابت کړے دے. چې په تاریخ کښې د اکبر اعظم په نامه یادولې شی. اکبر یوه ډیره زبردسته انتظامی څاندره جوړه کړې وه. او ډیر مؤثر سیاسی اصلاحات ئې نافذ کړی وو. هندوان او راجپوتان ئې په اعلیٰ عهدو ټاکلی وو. هغه د عوامو د اجتماعی حالت د بهتری په غرض میدان ته راوتے وو. او دغه وجه وه چې د عامو خلقو سماجی حالت ښهٔ شوے وو. ابوالفضل د اکبر د دور یو ځلنده ستورے وو. اکبر نامه او ائین اکبری د هغه لوئې کارنامې دی. د ډاکټر سمتهـ مطابق اکبر مسلمان نهٔ وو. خو پروفیسر شرما، یوسف علی او ایم. اے چودهری د ډاکټر سمتهـ دغه خیال غلط گنی. په تزک جهانگیری کښې جهانگیر اکبر یو مکمل مسلمان ثابت کړے دے. (۳۲)

"اکبر به څنو علماء سُو قبلهٔ حاجات گڼلو. هم دغه وجه وه. چې د هغه تخت ته د تعظیمی سجدې رواج شروع شو. دے عمل کښې او د مخکښې دهلی بادشاهانو په وختونو کښې چې به د زمکې ښکلولو کوم عمل کولے شو. دے دواړو کښې توپیر وو. څکه نو عالمانو احتجاج اُوکړو. او اخر د مجدد الف ثانی په کوششونو د جهانگیر په زمانه کښې دغه تعظیمی رسم و رواج بند کړے شو." (۳۳)

"د اکبر د ژوند آخری ورځې شپې په ډیرو سختو سوختو کښې تیرې شوې. هغه فرقه ایزې کشالې د کومو چې هغه جرړې ویستل غوښتل هم هغه شان پاتې شوې. د مختلفو اړخونو نه بغاوتونه راپورته شول. د هغه صحت دغه وخت ډیر غورځیدلے وو. او د هغه په زامنو او نمسو کښې داسې څوک په نظر نهٔ راتلل چې د هغه په ځاے ناست وے. دغه وخت د هغه سترگې شهزاده سلیم ته وې. ولې هغه ترې هم بغاوت کړے وو. اگر چې د اکبر د مرگ نه څور ورځې وړاندې ئې د پلار سره روغه کړې وه. ولې اکبر زړه ماتې شوے وو. او آخر په ١٦ اکتوبر ١٦۰۵ء کښې د هندوستان دے عظیم بادشاه د مرگ فرشتې ته هر کلے اُووې. (۳۴)

==☆☆☆==

سید میر او میر بابا دواړه حاضر دی
که ددے خبرے غوارے استدلال (۳۵)

☆

امراکان ہے په دربار کښے ډیر نیکخواه دی
په خاطر د سید میر دی واړه لال (۳٦)

☆

مونږ په دا فکرت وو چه په میاشتے د شوال
راغے عرضداشت د سید میر په دا مقال (۳۷)

☆

بیا د میر جمله څویه بادشاه نه په خلوت
عرض ئے څما وکړ د میر خان په کفالت

---

حکم ئے دا وکړ امیر خان ته وشول کښل
زۀ په بند بندی څما کورونه رواستل (۳۸)

## امیر خان خوافی:

دده خپل نوم سید میر وو. مشر ورور ئې شیخ میر نومیدو. کله چې عالمګیر په تخت قبضه اُوکړه. نو د دارا شکوه سره د جنګ د پاره د اکبر آباد نه شاهجهان پله روان شو. دغه وخت مراد بخش سرکشی اُوکړه. سید میر، مراد بخش ګرفتار کړو. او د شاهجهان آباد قلعه ته ئې اولیږو. دغه کارنامه وه چې د عالمګیر په امیر خان ډیر زیات اعتماد پیدا شو. او ده له ئې د قلعه سنبالښت، د اسونو خلافت، د امیر خان خطاب، اُووه زره روپی انعام، دوه زریز ذات، او پنځسویز سورو منصب هم ورکړو.

د ورومبی کال په جلوس کښې دهٔ د بادشاه د حکم مطابق مراد بخش د ګوالیار قلعې ته اُورسولو. او بیا د بادشاه په خدمت کښې حاضر شو. کله چې ددهٔ وروړ شیخ میر د اجمیر خوا ته په یو جنګ کښې د شاهی خدمت په کار راغے او مړ شو. نو دهٔ له ئې د څلورزریز ذات او درې زریز سورو منصب ورکړو.

په دریم کال جلوس عالمګیری کښې دے د یو لوئے فوځ سره د راؤ کرن د خبر اخستو د پاره اُولیږلے شو. راؤ کرن د بیکانیر زمیندار وو. چې د شاهجهان په وخت کښې په دکن کښې په سرکاری وظیفه تاکلے شوے وو. خو کله چې د عالمګیر او دارا شکوه تر مینځه جنګ اُونښتو. نو دے د شاهی حکم نه بغیر د دکن نه لاړ. او په خپل وطن کښې ئې استوګنه اختیار کړه. امیر خان چې د بیکانیر حدودو ته اُورسید. نو راؤ کرن راغے او معافی ئې اوغوښته. دهٔ هغه اُونیوو. او د بادشاه حضور ته ئې راویست.

د څلورم کال عالمګیری جلوس په موقع دے د مهابت خان په ځاے د کابل صوبیدار اُوتاکلے شو. د شپږم عالمګیری جلوس په آوان چې بادشاه د کشمیر نه لاهور ته واپس راغے. نو دے ئې حضور ته حاضر شو. د اتم جلوس په موقعه بیا د بادشاه په خدمت کښې حاضر شو. او په شاهانه بخښنو اونمانځلے شو. اجازت ئې واخستو او کابل ته واپس شو. په یولسم جلوس کښې چې دے معزول کړے شو. نو شاهی حضور ته راغے. استعفیٰ ئې ورکړه او په دهلی کښې ئې استوګه اختیار کړه.

د دیارلسم عالمګیری جلوس په موقعه په ۱۰۸۰هـ کښې وفات شو. چونکې دے بې اولاده وو. ځکه نو ددهٔ وریرونو له ماتمی خلعتونه ورکړے شول او ماتم اوکړے شو. (۳۹)

== ☆☆☆ ==

اورنګزیب چه آرائش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به ئے مرګے تاخت و تاراج کا (۴۰)

☆

په دوران د عالمګیر بادشاه خوشحال
خانه زاد ئے واړه بخرے لری خوارِ (۴۱)

☆

را معلوم شو د اورنګ عدل و انصاف
د دۀ بنه مسلمانی بنۀ اعتکاف (۴۲)

☆

چه سرے شلو میے ئے څبنم په وخت د اُوړی
بادشاهی د اورنګزیب څما غرګَ (۴۳)

☆

اورنګ زیب یے دلیلَ!
په ظاهر باطن علیلَ! (۴۴)

☆

بل بادشاه نشته اورنګ مے عدل نه کا
که صبا بیګا ئے تل په دربار ناړم (۴۵)

☆

د اورنګ بادشاه په دور عدل نشته
تر طناب لاندِ په بنهر کښیے لوته شم (۴۶)

☆

د اورنګ په ظلم مات شول
د بابر د وخت بندونَ (۴۷)

☆

خدايه زر يو بل اورنګ لره پيدا کړه
په جهان کښې ښادی نشته چه اورنګ شته (۴۸)

☆

که لور د اورنګزيب وی معشوقه په اصل لويه
دا کار ئې منظور نه دے پارسائی ورلره بويه (۴۹)

☆

بنديوان ئې اورنګزيب لره روان کړم
ننداره مې په هر ښهر په هر سرائې ده (۵۰)

☆

دا يوه وينا د زړه په غوږو واورے
چه بهتره د اورنګ تر سلطنت ده (۵۱)

☆

حق ناحق ئې وچ لواندهٔ وبله کښيښول
ظالمی د اورنګ زيب پره د لَوْ ده (۵۲)

☆

دور د اورنګ دے د ريا زاهدان ډير دی
پټه په لستونړی د شرابو ډک مينا وره (۵۳)

☆

اورنګ شاه وته نظر کړه

چه یو څه خوني خونخوار دے (۵۴)

☆

د اورنګ بادشاه په دور رسم دا شو .. !

چه هر ځویه د خپل پلار د سر مشتاق دے (۵۵)

☆

په خوب په بیدارئ کښے همیشه په فکر ستا دے

اورنګ وته خیبر دے و خوشحاڵ وته کوهستان دے (۵۶)

☆

د دنیا په لوئي څه باور خوشحاله!

پرون دور د خرم نن د اورنګ دے (۵۷)

☆

زهٔ خوشحال چه د اورنګ بادشاه نوکر یم

که وځویه ورکول کرم زړه مے نهٔ وی (۵۸)

☆

اورنګ زیب به د کابل د خلل غم کا

ساقي وخت د نوبهار دے راوړه مے (۵۹)

☆

په ناحق مے آزادئ ته تلاش کړ

په زندان د اورنګ زیب بنه وُم ترلے (۶۰)

☆

شاهجهان غوند بادشاه په بند بندی کړے
په اورنګ باند خطاب د محی الدین ږدے (٦١)

☆

اُوس څه غم د عالمګیر دے
چه عالم ئے کړ رسوا (٦٢)

☆

اورنګزیب بادشاه هم څوے د شاهجهان دے
خبردار به ئیے د دهٔ په کاروبار (٦٣)

☆

اورنګ زیب راته یو کال وشو چه پروت دے
په صورت حیران پریشان په زړه افکار (٦٤)

☆

عشقه ته تر اورنګزیب بادشاه بهتر ئے
چه خوشحال د په عالم کښے سربلند کړ (٦٥)

☆

فردوسی لری څو بیته له محموده
زهٔ لرم د اورنګزیب د ذم جوال
ما هم هیڅ تقصیر په ذم د چا ونه کړ
د اورنګ بادشاه په غاړه دا وبال (٦٦)

☆

قدر دان څما د کار شاه جهان وه
د اورنګ بادشاه ښکاره دے خود احوال (٦٧)

☆

څه یوازے په ما نه ده که ژوندے وی
اورنګ شاه بادشاه به ډیر کانډِ پائمال (٦٨)

☆

چه په نام پښتون غوځیږی پرِ خوښیږی
اورنګ زیب هسے بادشاه دے د اسلام (٦٩)

☆

پرورده که د مغلو په نمک یم
د اورنګ له جوره هم له غریوه ډک یم (٧٠)

☆

زۀ د شاهجهان بادشاه دننه د زړه سر وُم
چارے اورنګزیب په نادانئ کړه برهمَ (٧١)

☆

په ناحق د اورنګزیب په بند بندی یم
خدائے خبر دے په تهمت او په بهتان (٧٢)

☆

اورنګ شاه بادشاه که تل کا هسے چارے
لکه اوس ئے په لاس ونیوے امان (٧٣)

☆

تر اورنګ بادشاه مي ویوست
تاؤ د بند او د زندان (۷۴)

☆

ما چه ستا د مرئی والی لافه وکړه
د اورنګ غونډ بادشاه ځما مریے دے (۷۵)

☆

اورنګ زیب بادشاه زړه ډک په لاهور راغے
ګوره ګانده به څوک وران څوک به ودان شی (۷٦)

☆

وخت د اورنګ دے عمل هیڅ نشته
خو کتابونه ئے په عالم ګران کړه (۷۷)

☆

دور د چا دے د عالمګیر دے
لاس به په غوړ لری چه څوک عاقل دی (۷۸)

☆

خوبی په دور د عالمګیر نشته
د چا به ولے له چا حس شی (۷۹)

☆

عالمګیر چه په تخت کښیناست
له قرانه په قران شوم (۸۰)

☆

وخت د اورنګ شاه دے
د هر چا تسبې په لاس دی (۸۱)

☆

تفاوت د خپل پردی ورباندِ نشته .. !
که ئے ګورے اورنګزیب بادشاه ګمراه دے
د اورنګ بادشاه په دور آرام نشته
چا وئیل چه جهان ځائے د آرام ګاه دے (۸۲)

☆

اورنګ چه عدل نه کا
ظالمی ئے کړه ښکاره (۸۳)

☆

د اورنګ په تفرقه کښې چه غوغا وه
په ارمان ومړ له پلاره نه جدا وه (۸۴)

☆

افرین دے په انصاف د عالمګیر
چه په دا هنر کښې نه لری نظیر (۸۵)

☆

یو ستم د اورنګزیب بله پیری شوه
په دا دوه توکه داهسے خوار و زار شوم (۸۶)

☆

چیرے هم دده په مخکښے روښنائي ځي؟
اورنګ زیب چه په دروغ بلند کړ توغ (۸۷)

☆

ددے دور شیخان ډیر دی لور په لور
اورنګزیب بادشاه د واړو دے انځور (۸۸)

☆

هسے چارے وشوے چه د چا نه وے په خیال
نشته د اورنګ بادشاه په عدل اعتدال (۸۹)

☆

هیڅ د اورنګزیب بادشاه په دا نشته پروا
خلق که دده له ظلمه کاندِ تل ژړا (۹۰)

☆

چیرے اورنګزیب څه ئے پایه څه دکن
څه دده سامان څه ئے لښکر خچن مچن
تل به اورنګ نه وی دا کروفر و فن
پاتو به په دهٔ شی تل نفرین د مرد و زن (۹۱)

☆

عادل بادشاه پیدا شو
اورنګ شاه د دین غم خود (۹۲)

☆

په آوان د اورنګزیب بادشاه په بند شوم
بې تقصیره، بې ګناهه درد مند شوم
درې څلور کاله په بند د اورنګزیب شوم
خدائے چه خلاص کړم انتقام ته ناشکیب شوم (۹۳)

☆

چه آسمان، چرخ و فلک وو دا به شوله
اورنګزیب بادشاه ویرانه کړه پخپله (۹۴)

☆

اورنګزیب بادشاه پخپله رایت راوړه
که ئیے زر وو که ئیے زور وو دوئ پچاوړه؟ (۹۵)

## اورنګزیب عالمګیر:

"اورنګ زیب عالمګیر د شاه جهان دریم زوئے او شپږم اولاد وو. هغه د دکن د سرحد سره نزدے د دهد په مقام په ۲۴ اکتوبر ۱۶۱۸ء کښې پیدا شو. د وړوکوالی نه په هغه کښې د ذهنی کمالاتو د مذهب د پابندۍ د لوړې حوصلې، د بهادرۍ او زړورتیا نخښې په نظر راتلې. په ۲۸ مئی ۱۶۳۳ء کښې چې د هغه عمر ایله څوارلس کاله وو. د یو هاتی سره په ډیر نرتوب اُوجنګیدو. کوم چې په دۀ هیه کړې وه. شاه جهان د خپل زوئے په دے نرتوب ډیر خوشحاله شو او دۀ ته ئې د "بهادر"خطاب ورکړو. چې ورسره ښه ډیرې ډالۍ هم وې. اورنګ زیب عام تعلیم حاصل کړو. او قرآن مجید ئې زده کړو. د عربۍ په ګرائمر ئې لاس برے اوموندو. ده به د فارسۍ ډیر ښه نظم او نثر لیکلو. دغه رنګ دۀ ته د فوځی او انتظامی معاملاتو اعلیٰ تربیت ورکړے شو." (۹۶)

"د اورنګزیب عمر ایله دوه کاله وو. چې پلا رئې د جهانګیر خلاف بغاوت اوکړو. او د بچو سره

بنګال ته لاړ. چرته چې هغه څلور کاله په تیندکونو وو. اخر تنګ شو او د جهانګیر په وینا ئې د هغه دربار ته خپل زامن دراشکوه او اورنګزیب د معافی په غرض اولیږل. معافی ئې اُوغوښته او بادشاه خپل دواړه نمسی نورجهان له د پالنې د پاره ورکړل. دلته اورنګزیب ته د لویو لویو عالمانو لکه سید محمد، میر هاشم او ملا صالح نه د علم حاصلولو موقعه په لاس ورغله.

په مغلی بادشاهانو کښې اورنګزیب عالمګیر وړومبے بادشاه دے. چې قرآن پاک ئې حفظ کړو او په فارسی مضمون لیکنه کښې ئې نوم پیدا کړو. دې نه علاوه هغه یو ښه شهسوار، تیر انداز او تور زن هم وو. د اوولس کالو په عمر کښې (۱۶۳۶ء) کښې د دکن صوبیدار اوټاکلے شو. دغه دوران کښې هغه ډیر بغاوتونه اوچقول او څه نوی علاقې ئې واخستې. د بلخ اؤزوبکو د سر ټیټی د پاره هغه داسې په دوه لاسی توره اووهله چې په تاریخ کښې ئې مثال په مشکله مونډې شی.

د شاه جهان د بیماری په دوران کښې داراشکوه په ډیره تادی د ملک د واک واګې په لاس کښې واخستے. دې تادی که یو اړخ ته د شاه جهان د مرګ افواګانې خورې کړې چې په ملک کښې د اری ګری سوب اوګرځید نو بل پله ئې د اورنګزیب زړه هم د ځانه بد کړو. هم دا وجه وه چې شاه شجاع په بنګال کښې د خپل حکومت اعلان اوکړو او په اګره د حملې په غرض را روان شو. د بنارس سره نزدې د داراشکوه او شاه شجاع د فوځونو تر مینځه مقابله اوشوه. چې پکښې شاه شجاع ماتے اوخوړ. دغه رنګ اورنګزیب او مراد بخش د داراشکوه مقابله اُوکړه. او دوه ځله ئې هغه له شکست ورکړو. اورنګزیب د ابو المظفر محی الدین اورنګزیب په لقب د ملک د واک په تخت کښیناست. (۹۷)

د ملکی واک تر لاسه کولو نه پس "اورنګزیب د پلار په نوم یو درخواست اولیږو. چې په کښې د ابتداء نه واخله تر اخره پورې د ګړدو واقعاتو تفصیلاً ذکر، د دارا د بدسلوکی او د هغه سره د جنګیدو پوره بیان وو په آخر کښې د معافی خواست شوے وو. شاه جهان د هغه ددې جذبې ستائینه اوکړه، د فتح د مبارکی سره سره ئې ورته په انعام کښې یوه توره هم رااولیږله او خپل ځان ته ئې اوبللو. اورنګزیب ته خپل مشیرانو مشوره ورکړه چې د بادشاه سره یو په یو محل ته د ملاقات د پاره ستاسو تلل د خطرې نه خالی نه

دی۔ ولې اورنګزیب ته چې ښنګه پیغام اورسید۔ نو هغه د پلار سره د میلاویدو تیارے شروع کړو۔ او پلار ته ئې استازے اولیږو چې بله ورځ به سره ملاقات کوؤ۔ مخې شپې ته د اورنګزیب کسانو یو نوکر د شاه جهان د خط سره اُونیولو۔ دغه خط کښې "دارا" ته لیکلی شوی وو۔ چې ته په دهلی کښې ایسار شه۔ خیال ئې دا وو چې اورنګزیب به د ملاقات په بهانه محل ته راولی او قصه به ئې تمامه کړی۔ دے خط د شاهجهان او اورنګزیب تر مینځه د صلحې ټول اُمیدونه په اوبو لاهو کړل۔ اورنګزیب خپل زوئے د نیکه نیونې د پاره اُولیږو۔ چې د اګرې په قلعه کښې ئې بندی کړی۔ زوئے ته ئې یو خط هم د شاه جهان د پاره ورکړو۔ دغه خط کښې لیکلې شوې وو۔ چې تا زما قدر اُونکړو۔ د "دارا"د ملګرتیا په لړ کښې دې زما په ځان هم ایله اُونکړه۔ حالانکې ما غوښتل چې د عزت په طریقه ماته شاهی اختیارات اوبخښې۔ ولې تا بله لار اختیار کړه۔ ځکه نو اُوس تاله پکار دی چې پاتې شونې ژوند د الله تعالیٰ په یاد کښې تیر کړے په ملکی لانجو کښې نورې ګوتې اُونه وهې او خدائے چې زمونږ په وروبو کښې څوک غواړی نو هم هغه به د بادشاهی د پاره اُوټاکی۔ او دا شان د مغلو دا ستر شهنشاه خپل زوی نظر بند کړو۔ (۹۸)

"د پلار د نظر بندی تر وخته پورې اورنګزیب د خپل کشر ورور مراد بخش سره پخپلې کړې وعدې تینګ ولاړ وو۔ خو کله چې هغه پلار نظر بند کړو او د "دارا شکوه"د مقابلې د پاره اُووت۔ نو دغه وخت مراد بخش سترګې بدلې کړې ا وپه تخت د کیښناستو یوه ناکامه هڅه ئې اُوکړه۔ اورنګزیب د هغه دغه هڅه شنډې کړه۔ مراد بخش ئې اُونیوه۔ د ګوالیار په قلعه کښې ئې بند کړو۔ او وروسته ئې په کال ۱٦٦۰ء کښې د دیوان علی نقی د وژلو په تور پهانسی کړو۔ (۹۹)

د شهزاد مراد د ګرفتارۍ او قتل په لړ کښې "ملا محمد صالح کمبوه"څه دا رنګ لیکی۔

اسی اثنا میں علی نقی جیسے سلطان مراد نے چند سال پہلے قتل کروادیا تھا۔ اس کے بیٹے خواجہ بہلول کے ہمراہ پہنچے اور قاضی کے سامنے باپ کے خون کا دعویٰ کیا۔ شاہزادہ نے بے تامل اقرار کرلیا۔ البتہ بڑی بے نیازی سے اتنا کہا۔ اگر حضرت خلافت پناہ اپنے قول واقرار کا لحاظ کر کے مجھ نامراد کے خون سے ہاتھ اٹھالیتے تو ان کی بادشاہت کو کوئی نقصان نہ پہنچتا۔ تاہم اگر میرے وجود بے سود کو مٹانے کا ہی فیصلہ کرلیا ہے۔ تو اس قسم کے آدمیوں سے میرا

مقابلہ کرواکر کیوں ذلیل کرتے ہیں۔ جو جی میں ہے کر گزریں۔ مختصر یہ کہ بتاریخ ۲۱ ربیع الثانی ۱۰۷۰ھ (۵ جون ۱۶۲۰ء بدھ کے روز سورج ڈوبنے سے چند لمحے قبل قاضی کے حکم سے دو جلاد آگے بڑھے اور اس ذیجاہ شاہزادے کو قیدِ زندان اور قیدِ حیات دونوں سے نجات دی۔ لاش کو قلعہ گوالیار میں امانت دفن کر دیا۔ (۱۰۰)

"دارا چې په پنجاب کښې د اورنګزیب د راتګ نه خبر شو. نو ګجرات پله اُوتښتید. د ګجرات صوبه دار ددهٔ د مرستې په غرض دهٔ له لس لکه روپۍ ورکړې. "دارا"په دغه روپو لښکر راجمع کړو. او د "دیوراڼې"په مقام ئې د اورنګزیب مقابله اُوکړه. خو په ۱۴ مارچ ۱۶۵۹ء ئې په دویم ځل ماتې اُوخوړ. او د یو سندهي رئیس جیون سره ئې پناه واخسته. دے رئیس یو ځل وړاندې هم "دارا"له پناه ورکړې وه. او د بادشاه نه ئې بچ کړے وو. ولې دا ځل "دارا" د جیون د دهوکې په لومه کښې اُونښتو. او لاس تړلے ئې اورنګزیب ته حواله کړو." (۱۰۱)

"دارا ئې د مرګ نه مخکښې د ښار په کوڅو کښې اوګرځولو. او بیا ئې ورله په هغه بازارونو کښې داسې حالت کښې چکرې ورکړې چې دلاسو پښو نه ئې تړلے وو. چرته چې هغه په ډیر شان و شوکت او دبدبه کښې ګرځیدلے وو. دغه بازارونو چې هغه ئې په عزت کښې لیدلے وو. اُوس ئې د یو خسته هاله فقیر نه زیات د بې عزتۍ په حالت کښې اُولیدلو. خلقو ورته په چغو چغو ژړل. دې نه پس ئې هغه اُووژلو. په سبا ئې د هغه سر د تنې نه بیل کړو. تنه ئې ورله په یو هاتی اوتړله. او په هغه بازارونو کښې ئې بیا ورګرځوله. دې نه روسته ئې دغه تنه د غسل نه بغیر د همایون په مقبره کښې ښخه کړه. بیا ئې د "دارا"سر په یو تالی کښې کیښود. کپړه ئې ترې تاؤ راتاؤ کړه. او شاه جهان له ئې د اعتبار خان امیر په لاس اُولیږو. څه وخت چې دغه تالے شاه جهان ته اُورسید. نو ورته اووئیلې شوه چې زوئ درته ډالی رالیږلې ده. پلار ئې ډیر خوشحاله شو. او په دُعاګانو سر شو چې زهٔ اورنګزیب په جیل کښې هم یاد کړم. هغه په ډیره خوشحالۍ د تالی نه کپړه لرې کړه. د کپړې لرې کولو سره ئې د "دارا" سر په نظر راغے. یوه لویه چغه ئې اُوویسته. د اُوسپنې په لوښو پرمخ راپریوت. چې د مخې غاښ ئې مات شول. ددې چغې سره بیګم جهان آرا د نورو ښځو سره راغله. او چې هغوئ دا محشر اُولید نو په ژړا ګانو سر شوې. شاه جهان خپله ږیره په موټو موټو اوویسته او مخ ئې په

وینو رنګ بنګ کړو." (۱۰۲)

"شاه جهان د قیدی په حیث د اګرې په قلعهٔ کښې د څلور اتیا کالو په عمر کښې په کال ۱٦٦٦ء کښې حق اُورسید. د هغه د مرینې اخری رسومات په ډیره بے خوندۍ ادا کړے شول. عن تر دې چې اورنګزیب د خپل پلار اخری لیدنې له هم رانغلو. او د ګور کفن خدمت ئې نوکرانو تر سره کړو." (۱۰۳)

اورنګزیب عالمګیر د نهه کم سل کالو په عمر کښې د احمد نګر په مقام د پنځوس کاله او دوه میاشتو د حکومت کولو نه پس وفات شو. دا د ذی قعدې دریمه او د هجری ۱۱۱۸ کال د جمعې مبارکې ورځ وه. اورنګ زیب ئې د اورنګ آباد نه د اته کوسه په فاصله د خلد آبادی په مقام د زین الدین خواو شاه خاورو ته اُوسپارو. (۱۰۴)

د اورنګزیب د مرګ نه پس یو کاغذ د هغه د بالښت نه لاندې بیامونډې شو. چې دا لیکل ئې پرې کړې وو.

"ما چې به کومې توپۍ ګنډلې د هغې پنځه روپۍ اؤ دوه انې د علی بیګ محله دار سره پرتې دی. په دغه رقم زما د کفن بندوبست اُوکړئ. دغه رنګ د قرآن پاک د نسخو لیکنو نه چې کومې درې سوه پینځه روپۍ ما حاصلې کړې دی. هغه زما د مرګ نه پس په بې وسو تقسیم کړئ. ددې نه علاوه که د نور څه ضرورت پېښیږی نو هغه تاسو د شهزاده علی جاه د کارندؤ نه تر لاسه کولې شئ. په دا وخت زما په اولاد کښې هغه موجود دے. څکه نو هغه زما د ګور کفن ذمه وار دے. زما په جنازه چتر مه جوړوئ. بس سپین ډبل څادر پرې واچوئ. په جنازه پسې مې باجې ماجې مه وهئ. اؤ نه چې په لوړ آواز د مولود وئیلو بدعت اوکړئ." (۱۰۵)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه د دهلی بادشاه بابر شو
چه ئې کار د پښتانه په برکت ؤ (۱۰٦)

☆

د اورنګ په ظلم مات شول
د بابر د وخت بندون (۱۰۷)

په وړومبی شعر کښې خوشحالؔ بابا د پښتنو د تاریخ د هغه تریخ حقیقت نه پرده پورته کړې ده. د څه له وجې چې مغولو د هندوستان د حکومت نه لاسونه وینځلی وو. او د حاکمیت په ځائې ئې محکومیت له غاړې ورکړې وه. خپل پښتون بادشاه ابراهیم لودهی ته ئې لت چل کړو. بابر ته ئې بلنه ورکړه. چې راځه مونږ ترې ویزاره یو. بابر راغے. او په پانی پت کښې ئې ابراهیم لودهی په وینو لت پت کړو. او دا شان د دهلی د تخت ترلاسه کولو کار د پښتنو په برکت بابر ته اسان شو.

دویم شعر کښې خوشحال بابا د اورنګزیب د ظلم یادونه کوی. چې هغه په دغه معامله کښې د بابر نه هم مخکښې لاړلو.

## بابر (ظهیر الدین محمد):

"ددهٔ پوره نوم ظهیر الدین محمد وو. بابر ئې لقب وو. چې هم په دغه لقب ئې عالمګیر شهرت بیاموند. د بابر شجره نسب د پلار له اړخه د امیر تیمور سره په پنځم پشت کښې او د مور له خوا د چنګیز خان سره په څوارلسم پشت کښې یو ځائے کیده. دغه شان د بابر په رګونو کښې د دوه سترو فاتحینو وینه زغلیده. د دده د پلار نوم عمر شیخ مرزا وو. څوک چې د مینځنی ایشیا او خراسان د بادشاه ابو سعد صاحبقران څلورم زوئے وو. مور ئې قتلق نګار خانم نومیده. چې د چنګیز د دولسم میراث خور یونس خان لور وه.

بابر په ۱۴ فروری ۱۴۸۳ء کښې د جمعې په ورځ د فرغانې په دارالخلافه اندیجان کښې پیدا شو. ددهٔ عمر ایله یو لس کاله وو. چې پلار ئې په ۸ جون ۱۴۹۴ء کښې د محل نه راغورځید او حق اُورسید. بابر

د یولس کالو او څلور میاشتو په عمر کښې د خپل پلار په ځای د فرغانې په تخت کېښناست. او حکومتي واګې ئې تر لاسه کړې." (۱۰۸)

"دده د ابتدائي ژوند په حقله ډیر کم معلومات په لاس راځي. او د هغې وجه دادهٔ چې بابر دغه وختونه عموماً د خپلو استاذانو سره تیر کړي دی او د هغوئ نه ئې ډیر څه زده کړي دی. د هغه تعلیم او تربیت ډیر په اعلیٰ توګه شوے دے. خط ئې ډیر خوشخط وو. وروسته ئې ډیره ښه شاعري هم کړې ده. هغه یو ښه شهسوار نشانه باز، ماهر تورزن او زبردست ښکاري وو. او د خپل عمر نه زیات د غیر معمولي اوصافو څښتن وو. (۱۰۹)

د وصیت نه پس په ۲٦ دسمبر ۱۵۳۰ء کښې بابر د اګرې سره نزدې د چار باغ په محل کښې حق اُورسید. دغه وخت د بابر عمر دوه کم پنځوس کاله خواشا وو.

د وصیت مطابق د هغه لاش ئې د کابل په یو غر کښې په یو ډیر زړه راښکونکي او ښکلي ځای کښې خاورو ته اُوسپارو. د بابر د قبر خوا ته د هغه د اولاد او کور ودانو قبرونه هم دی. دغلته چار چاپیره شینکے دے. او درې غریزې چینې تاندې دی. چې د بابر د مزار ګلونه او خواوشا زمکه پرې خړوب کیږي. (۱۱۰)

"بابر یو کم څلویښت کاله بادشاهي اوکړه. د میراث یو وړوکے ریاست ئې دومره پراخه کړو. چې د ټول هندوستان نه ئې پښې راتاؤ کړې. لس کاله د خپلو خپلوانو او دښمنانو سره نوکې په شوکې وو. په دغه لړه موده کښې ئې دومره سختې اُولیدې چې یو بادشاه به په پیړو پیړو کښې هم نه وي لیدلې. کله به ئې په سر تاج وو او کله به ئې د پښې کېښودلو ځای نه موندلو. څنګه چې سخت زړے او مصیبت خوښے وو. هم دغه شان رنګین مزاجه وو. په تکلیفونو کښې به هم په خندا وو. د عربي، فارسي، ترکي او هندي په ژبو ښه پوهیدو. شعرونه ئې هم وئیل. د دښمنانو سره هم مهربانه او فیاض وو. (۱۱۱)

"د هغه د ژوند زیاته برخه په جنګونو کښې تیره شوه. خو د هغه د تدبر او انتظامي صلاحیتونو نه انکار نهٔ شي کیدې. د هغه سره د خپل اولس د سوکالي او خیر ښیګړې ډیر فکر وو. فوځ ئې په بشپړه توګه په قابو کښې وو. د هغه د حکم نه بغیر یو فوځي هم رپ نه شو وهلے. شخصیت ئې ډیر زړه راښکونکے وو. د

شرافت نمونه وه. د دښمن سره ئې هم ډېر د نرمۍ سلوک کولو. بابر نه يوازې يو سپه سالار او حکمران وو. بلکې هغه د اوچتې پائې شاعر او ليکوال هم وو. هغه په ترکی او فارسی دواړو ژبو شعرونه وئيل. د هغه کتاب ترک بابری يا بابرنامه چې هغه پکښې خپل حالات ليکلی دی. د ترکی ادب يو شاهکار ګڼلے شی. په ترکی کښې ئې يو ديوان هم موجود دی. او څنې نور مختصر کتابونه هم ددۀ د نوم سره تړلې شی. بابر د اعلیٰ پائې خطاط هم وو. دۀ يو خاص خط هم ايجاد کړے وو. چې ورته خط بابری وئيلے شی." (۱۱۲)

== ☆☆☆ ==

نه بهرام وه نه ئے ګور وه
نه سکندر وه نه دارا (۱۱۳)

دا شعر د سکندر اعظم او دارا نه علاوه د بهرام ګور تذکره هم لری.

## بهرام ګور:

د بهرام ګور د پلار نامه يزدګرد اول وه. څوک چې د ايران يو لوئې بادشاه تير شوے دے. ددۀ تعلق د ساسانيانو سره وو. د بهرام ګور په حقله وئيلې شی. چې دے ډېر نر، زړور او متور بادشاه وو. کله چې يزدګرد اول مړ شو. نو د هغه د دريو زامنو تر مينځه د تاج و تخت د پاره لانجه شروع شوه. چې څه حل ئې نه راوتو. نو د دربار امراؤ او وزيرانو فيصله اُوکړه. چې شاهی تاج به د دوو وږو کړې شوؤ زمرو په مينځ کښې کيږدو. بيا چې په درې واړو ورونو کښې کوم کس دغه تاج د زمرو له مينځه راوړو. هم هغه ته به د ملک واک سپارلے شی. کله چې هغوئ دغه فيصله واوريده. نو د بهرام نه علاوه نورو دواړو ورونو همت بائيلو. هغه چې د خپلې زړورتيا د پاره مشهور دے. د وږو کړې شوؤ زمرو مينځ ته ورغے. او شاهی تاج ئې ترې راوړو.

"سفيد هن"چې د بهرام ګور سره ئې مېرخې وه. او د هغه سره به هر وخت نوکې په مخوکی وو.

بهرام گور هغوئ له شکست ورکړو. او د اکسس په سیند ئې پورې باسل. دغه خلقو داسې ماتې خوړلے وو. چې توبه ئې ویستلې وه. او هم دغه وجه وه. چې هغوئ بیا ایران پله په خبر نه سترګه اُونه کتل.

د ځنو مؤرخینو دا خیال دے. چې بهرام ګور په هندوستان هم حمله کړې وه. او د سندھ او مکران علاقې ئې پخپله قبضه کښې راویستې وې.

ددې بادشاه د ښکار سره ډیره مینه وه. او په خصوصي توګه دهٔ به د ګور (ځنګلی خر) ښکار کولو. یو ځل د ښکار په دوران کښې په ختهٔ کښې اُونښتو او مړ شو." (۱۱۴)

بهرام ګور یوه ورځ د لقمان سره په ښکار وتے وو. چونکې دے د ګور د ښکار شوقی وو. ځکه نو دهٔ یو ګور اُولیدو. چې په لار کښې ورته زمرے پروت دے. او په دې هڅه کښې دے. چې ګور مات کړی. بهرام لینده راښکله او چې په زمری ئې ګذار اُوکړو. نو غشے د زمری نه پورې اُووت. او بیا د ګور د سینې نه هم تېر شو. او په زمکه کښې ښخ شو. لقمان چې دا اُولیدل نو په دهٔ ئې افرین اُووې.

بهرام ګور درویشت کاله بادشاهی کړې وه. (۱۱۵)

== ☆☆☆ ==

د بهلول او د شیر شاه خبرے اورم
چه په هند کښے پښتانهٔ وو بادشاهان (۱۱٦)

☆

بیا بهلول لودین بادشاه شو د دهلی
چه په تخت ئے نه ویشت کاله سکونت ؤ (۱۱۷)

بهلول لودی. د پښتون قام ستر قهرمان او پیاوړے بادشاه چې د خپلو صلاحیتونو په وجه ئې خواره واره پښتانهٔ په یو مرکز راجمع کړی وو. خوشحال بابا دهٔ د بادشاهی موده نه ویست (۲۹) کاله یادوی. خو د تاریخی

شواهدو تر مخه هغه د اته دیرشت کالو حکومت کولو نه پس د اتیا کالو په عمر کښې ددې دُنیا نه تلے وو.

## بهلول لودهی:

"د بهلول لودی نیکه بهرام نومیده. چه د سلطان فیروز شاه په زمانه کښے د نورو پښتنو په شان ملتان ته راغے. او د ملک مردان شاه سره نوکر شو. د بهلول پلار (ملک کالا) د نیازی پښتنو سره په یو جنګ کښے مړ شو. مور ئے د وړاندے نه مړه شوی وه. یتیم یسیر بهلول چه په وړوکوالی کښے په "بلو"مشهور وو. د خپل تره اسلام خان په تربیت کښے لوئے شو." (۱۱۸)

"دلته ددهٔ ډیره ښه پالنه او روزنه اُوشوه. د علم د زده کړې سره سره ئې د جنګی هنرونو مهارت هم حاصل کړو. او بیا په یو جنګ کښې بهلول دومره بهادری او جرأت ښکاره کړو. چې اسلام خان ورته خپله لور په نکاح ورکړه. او دا رنګ بهلول ورځ په ورځ د اسلام خان په زړه کښې ځائے کولو. او عن چې هغه ته د خپلو زامنو نه هم سکه شو." (۱۱۹)

"اسلام خان د بهلول د لیاقت او شخصیت نه دومره متاثره وو. چه د خپل وفات په وخت ئے سره ددے چه زامن ئے لرل. د بهلول د مشرئ وصیت اوکړو. بهلول د وروميئ خور په اوولسم تاریخ د هجری کال په ۸۵۵ کښے د دهلی په تخت کیښناست. خطبه او سکه ئے پخپل نوم جاری کړه. او سلطان بهلول ئے لقب اختیار کړو. هغه یو انصاف پسند متواضع او بار وړونکے انسان وو. د شریعت د احکامو او د دیانت د قاعدو او اُصولو پابند وو. چرے به ئے سوالګرے تش لاس نه پریښودلو. دے یو دروند پښتون او منصف حاکم وو." (۱۲۰)

سلطان بهلول لودهی اتهٔ دیریشت کاله حکُومت اوکړو. او د اتیا کالو په عمر کښې په ۱۴۸۸ء/۸۹۴هـ کښې وفات شو. دده نه پس سکندر لودهی ددهٔ زوئے په تخت کښیناست. (۱۲۱)

== ☆☆☆ ==

نیستی واړه په نصیب د بیګ محمد شوه
بې ننګي واړه په بخره د جلال (۱۲۲)

**بیګ محمد:**

اروابناد سرفراز عقاب ختک د بیګ محمد خویشکي په حقله د عالمګیر نامې په حواله لیکي.

" بیګ محمد خویشګی دیندار خان د دوونیمو زرو ذات او دولس سوو اسونو منصبدار وه." (۱۲۳)

د خوشحال بابا د دغه شعر نه معلومیږي. چې بیګ محمد او جلال دواړو د خوشحال بابا د بند نه خلاصي په آوان د بې ننګي مظاهره کړې ده. او د ۀ هم دغسې خکه چې محمد امین خان او میر میران دواړه چې ایرانیان او شیعه ګان وو. هغوئ خو سره د کوتوال خان د خوشحال بابا د خلاصي کوششونه کول. ولې دوئ دواړو په دغه سلسله کښې ننګ او پښتو اُونه پالله. او دا رنګ خوشحال بابا د اورنګ په بند بندی شو.

== ☆☆☆ ==

چه دهلے ئے رانیوۀ له پتورایه
په دا کار کښے ئے ډیر کړے مشقت ؤ
چه ئے سر د پتورا پریکړ له تنه
شپږ سو دولس کاله کم سن د هجرت ؤ (۱۲۴)

دغه شعرونو کښې د معز الدین اول په حواله د پرتهوی راج یادونه شوې ده. چې معزالدین اول محمد غوری په ۵۸۸هـ کښې پرتهوی راج له شکست ورکړو. او د هغه سر ئې له تنې نه جُدا کړو.

## پتورا (پرتهوی راج چوهان):

"پرتهوی راج چوهان د دهلي او اجمير آخري هندو راجه وو. دے د رائې پتهورا په نوم هم شهرت لرې. په شمالي هندوستان کښې دۀ د بهادرۍ ډيرې کارنامې تر سره کړې دي. په دغه لړ کښې دۀ د خپلو گاونډو راجپوتانو حُکمرانانو سره ډير جنگونه کړي وو.

پرتهوی راج ډير زړور او متور انسان وو. دۀ د قنوج د والي "جے چند" لور "سنجو گتا" په زبردستی د سوئمبر نه را اُوچته کړې وه. هم له دې آمله ئې د جے چند سره سخته دُښمني وه.

پرتهوی راج په کال ۱۱۹۱ء کښې محمد غوري له د ترائن (تراوړی) په ميدان ماتې ورکړې وو. خو يو کال پس محمد غوري دغه بدل را اوگرځوو. پرتهوی راج له ئې شکست ورکړو. او قتل ئې کړو. د پرتهوی راج په ژوند د هغه يو درباري شاعر چاند بروائي يو کتاب په "چاند رهسه"کښې ليکلے دے." (۱۲۵)

== ☆☆☆ ==

بيا له پسه چه تيمور په هند راکښيووت
خضر خان ته ئے ورکړے حکومت ؤ (۱۲٦)

☆

يو بادشاه د هندوستان ؤ
د تيمر د دود مان ؤ
نه چې بل، شاه جهان ؤ
چې ثاني صاحب ِقرآن ؤ (۱۲۷)

امير تيمور چې په تيمور لنگ باندې هم شهرت لرې. د مشهور فاتح چنگيز خان له نسله وو. دۀ ته به

ئې صاحب قرآن هم وئیلو. خوشحال بابا ئې په دغه بره څو بیتونو کښې یادونه کړې ده.

## تیمور شاه (امیر تیمور صاحب قِران):

دے د کینی ستان مغل خان ترکی له نسله دے. دهٔ ته تمرلنګ هم وئیلے شی. د پخوانی سګډانې په مقام کش کښې ئې په ۹ اپریل ۱۳۲٦ء مطابق ۲۷ شعبان ۷۳٦هـ سترګې اوغړولې. ددهٔ د پلار نوم امیر طرافائی وو. او مور ئې نګینه خاتون نومیده. څنو مؤرخینو دے د شپونکی زوئے یاد کړے دے. امیر تیمور د لوړو او کلکو ارادو څښتن وو. هغه غوښتل چې توله دُنیا د غری لاندې کړی. هم دا وجه وه چې د هغه د وچوبی قوت انتها ته رسیدلے وو. ولې سمندری قوت ئې بیخی نه لرلو. شپږ دریشت کاله ئې حکومت اوکړو. وروبیے ئې د خراسان دارالحکومت بلخ قبضه کړو. بیا ئې د قندهار فارس او بغداد نه پښې راتاؤ کړې. ددې نه پس ئې په ۱۳۹۸ء کښې په دهلی یرغل اُوکړو. قابض شو. او د بې کچه سرو سپینو او خزانو حاصلولو نه پس بغداد ته واپس لاړ. دغسې ئې ترکسان قبچاق، روس، شام، طولیه، ارمینا او جارجیه هم واخستل. او د ډیر دولت تر لاسه کولو نه وروسته بغداد ته بیرته راغے. هغه چې به کوم ملکونه فتح کول. د هغوئ د آئنده حکومتی انتظام تابیا به ئې نه کوله. صرف ایران او ماورالنهر هغه خپل سلطنت ګنل او هم ددغې خپل حکومت د امن او خوشحالی د پاره ئې پښې لاس وهل." (۱۲۸)

تیمور د ډیر لوړ قد مالک وو. د پراخه تندی او لوئے سر لرلو نه علاوه هغه په جسمانی لحاظ هم ښه مضبوط او طاقتور وو. د هغه رنګ سپین وو. هډ ئې کلک او اُوږې ئې پلنې وې. هغه متور وو. او په مخ ئې ږیره وه. آواز ئې ډیر رعب دار وو. او په ښی پښه ګډ وو.

هغه د دُنیا فاتح وو. څه که هم د هغه د ظلم قصې په توله دُنیا کښې شهرت لری. او د انسانانو د سرونو نه ئې مینارې جوړې کړې وې. ولې ددې باوجود هغه د درویشانو، بزرګانو او عالمانو ډیر قدردان وو. هغه به همیشه مونځونه کول. روژې به ئې نیولې او د قرآن تلاوت به ئې په پابندی سره کولو. وئیلې شی چې هغه یو ګرځنده جمات جوړ کړے وو. چې په میدان جنګ کښې به ئې هم په هغې کښې مونځ ادا کولو.

هغه ډیر زړور او بهادر وو. څو څو ځله د مرگ د کومی نه راوتے وو. او څو څو ځله د هغه د قتل سازشونه شوی وو. حملې پرې شوې دی. خو هر ځل هغه بچ شوے وو. (۱۲۹)

"په کال ۱۴۰۴ء کښې یو ځل بیا تیمور د چین اخستلو په غرض د یو لوئې فوځ سره روان شو. په لاره کښې چې دوئ د سیحون په سین پورې وتل. نو تیمور تبې اُونیوۀ. او بیا هغه ورو ورو ډیریدو. چې آخر پریوتو. د قدرت فیصله نه بدلیدونکې وه. مرگ راغے." (۱۳۰)

"هم په دغه آوان ناروغه شو. دا ښار د سمرقند نه د شپږ اویا کوسو په فاصله پروت دے. دغلته په ۸۰۷هـ کښې وفات شو. او د سمرقند په سمسوره سیمه کښې خاورو ته اُوسپارلے شو. (۱۳۱)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه جسونت سنگهـ شجاعت خان وو
چه ایمل ئے په گندهاپ ویوست دمار (۱۳۲)

## جسونت سنگهـ:

"مهاراجه جسونت سنگهـ راټهور د جودهپور (اجمیر مارواړ) والی"وو. (۱۳۳)

جی سامسنگ چې اصلی نوم یې جسونت د جادپور راجه او د راجپوتانی په فیوډ لانو (جاگیر دارانو) کی تر ټولو لوی او بانفوذه فیو ډال ؤ، د جسونت سنگهـ ملک د هندوستان په شمال غربی سیمه کی پروت دی. چې گرد چاپیره یی د مغولی امپراتوری سیمې واقع دی. د راجپوتانی فیو ډالانو او جسونت سنگ له مغولو سره نوکری کوله. او لوی او مهم منصوبه ورکول کیدل. چې د خپلو خپلو سیمو اداره یی هم په لاس کی وه." (۱۳۴)

جسونت سنگهـ د مغولو لوی قوماندان د جودپوړ مهاراجه وو.

دے د شجاعت خان رعد انداز بیګ په ملګرتیا کښې ګنداب ته نزدې د مومندو په غرنی سیمه کښې چې دیکه غونډ سره خوا ته ده د ایمل خان د لښکر سره اُوجنګیدو. ولې ایمل خان لښکر ئې تار اومار کړو." (۱۳۵)

==☆☆☆==

څه خدایار خلیل څه ئے حیا څه ئے حرمت
څه جګرام هندو څه د هندوانو برکت

-----------------------------------------------------------

وه ئے کښل بادشاه ته د جګرام مجرا عزت
بوت ئے و کابل ته اشرف خان په شرارت (۱۳۶)

## جګرام هندو:

د اشرف خان هجری غونډې پوهه او کوتلے سړے د لمسون په لومه کښې کیسباسل، په هغه د پلار د مصلحت نه بغېر لاره ورانول او بیا په دهوکه کابل ته بوتلل او هلته بندی کول. دا واقعات دا خبره راڅرګنېږي ته کوی. چې جګرام هندو په دغه آوان یو ډیر مهم سړے وو. او د سیاست په لانجو ښه پوهیدو. ځکه خو ئې اشرف خان هجری په دغه لاره بوولے دے. او هغه څه ئې پرې کړی دی. کوم چې د هغه وخت او حالاتو د غوښتنو مناسب نه وو. هم دغه وجه وه چې د خوشحال بابا د ضمانت او خلاصي کار بیخي تیار وو. او هغه ډیر زر وطن ته را رخصتیېدو. خو چې ددغه واقعاتو لیکل د صوبه دار له خوا اورنګزیب ته اُورسیدل. نو د خوشحال بابا د راپرېښودلو کار په قید و بند کښې بدل شو.

د جګرام هندو په حقله معلومات هم د مار ښه ده. ځکه چې دا شخصیت هم د مقامی خلقو نه وو. څه که هم د بیان شوو واقعاتو په لړ کښې هغه څه نه څه اهمیت ضرور لرلو. ولې نور داسې څه مهم کارونه

هغه په سیاسی ډګر نه دي کړي. چې تاریخی کتابونو ئې تذکره کړې ده. په دغه ترڅ کښې چې کوم لږ شان معلومات د تاریخ مرصع مؤلف او میجر راورتي موندلي ته راکوی هغه څه په دا ډول دی.

"په دا مینځ کښې خان جنت نښان خلاف له مصلحته د خان علیین مکان

د خدایار خلیل د جګرام هندو په قول راغے. لا رئے ورانه کړه." (۱۳۷)

"اشرف خان د خدایار خان خلیل او جګرام په لمسه کابل ته ولاړ. چې هلته د کابل له ګورګانی صوبه دار (والی) سید امیر خان خوافی سره د پلار په بابله ورغیږی. (۱۳۸)

دغه معلومات چې د نشت برابر دی. ځکه نو د جګرام هندو شخصیت تحقیق طلب دے. چې پوره پوره معلومات ئې مخې ته راشی.

==☆☆☆==

بیا سلطان جلال الدین په سریر کښیناست

چه په اصل کښې غلجے د ولایت ؤ (۱۳۹)

## جلال الدین فیروز شاه خلجی:

"جلال الدین په ۳ جمادی الثانی ۶۸۹هـ د بادشاهۍ په تخت کیښناست." (۱۴۰)

"او د سلطان جلال الدین فیروز شاه خلجی لقب ئې اختیار کړو." (۱۴۱)

دغه وخت د هغه عمر اویا کاله وو. په دے بنا د هغه د پیدائش کال د ۶۱۷هـ خواوشاه کښې تاکلے شو." (۱۴۲)

"هغه خپل ګدی ځاے کیلوګهړی اوګرځوله. په دهلی هغه ورخته نۀ شوه کولې. په دې چې د هغه سره د دهلی د عوامو او خصوصاً د ترک امیرانو د دښمنۍ ویره وه. دلته ئې د معزالدین محل مکمل کړو. او په

ښکلو ښکلو نقشونو او اعلیٰ کتبو ئې سینګار کړو. د اضافې ښائست د پاره ئې ورته د جمنا په غاړو یو بې مثاله باغ اولګولو. او د ښار مخوریزو او لویو خلقو ته ئې دغلته د فراخه او ښائسته محلونو جوړولو اجازت ورکړو. بازارونه ئې جوړ کړل او بیا دغه ځائے د یو شهرنو په رنګ لیدلې شو. (۱۴۳)

"د جلال الدین د پلار د اصلی نوم په حقله مؤرخین یوه خوله نه دی. ځکه نو د هغه اصلی نوم معلومول ګران دی. البته د ډیرو مؤرخینو دا رائ یو شان ده چې د جلال الدین د پلار لقب یقوش خان وو. "(۱۴۴)

"ملک چهجو دده ګورنر وو. بغاوت ئې اوکړو او په دهلی ئې د خپل لښکر سره حمله اوکړه ولې د بدایون سره نزدې فیروز شاه هغه له شکست ورکړو. فیروز شاه نه یوازې هغه معاف کړو. بلکې خلعت ئې ورته هم پیرزو کړو. دغه رنګ سیدی مولا یو صوفی وو. د هغه په حقله دا ګمان کیدو شو. چې هغه څه سیاسی مقاصد لری او مریدان ئې د سلطان د وژلوهڅه کوی. چې دغه شان سیدی مولا د خلافت په ګدی کیښنوی. فیروز شاه سیدی مولا دربار ته راوبللو. او هغه ئې اووژلو. منګولیانو چې دده په دور کښې د سردار الغوخان په قیادت کښې په هندوستان یرغل اوکړو. نو سلطان ورله شکست ورکړو. او سره د الغو خان درے زره مغل مسلمانان شول." (۱۴۵)

"سره ددې چې هغه یو ناکامه بادشاه وو. خو بیا هم هغه ډیر شریف النفس انسان وو. او د خپل وخت یو سپیځلے مسلمان وو. هغه خپل قسمت تخت ته رسولے وو. د غرور نه پاک وو. د خدائے نه ویریدلو. د خپل خاندان سره ئې د محبت او شفقت سلوک کولو. او په عامو خلقو هم ډیر مهربانه وو. د خپلو امیرانو سره ئې د دوستانو په څیر تعلق ساتلو. نه چې د یو بادشاه په رنګ. هغه پخپله رعایا داسې حکومت کولو لکه څنګه چې یو پلار پخپل کهاله مشری کوی." (۱۴۶)

"جلال الدین د خپل زوم او وراره علاو الدین سره ډیره مینه لرله. ولے علاو الدین یو بے رحم او جاه طلب انسان وو. او هم دغه شان خپل تره ئے په مکر فریب او وژلو. او پخپله د هغه په ځائے بادشاه شو. (۱۴۷)

== ☆☆☆ ==

تل خاموشي کړه چه تل بې غم وې

طمع له چا مه کړه چه به تر جم وې (۱۴۸)

سلطان محمد فاتح یا سلطان محمد ثاني ته به ئې "جم"هم وئیلو. مشهوره ده. چې دے ډیر زیات خلوت پسند بادشاه وو. ډیر کم گو او خاموش طبع انسان وو. هم دغه وجه وه. چې تنهائی به ئې خوښوله. خوشحال بابا په دې شعر کښې د سلطان محمد ثاني هم دغه د خاموشي صفت ستائیلے دے. چې په خاموشي کښې بې غمي او په استغنا کښې بهتري ده.

## (جم) سلطان محمد ثاني:

د سلطنت عثمانیه یو ارزښتناک غمے، په خپل کهول کښې د تولو نه ځانګړے او د دُنیا ډیر ستر شخصیت وو. دے د رجب په شپږ ویشتمه کال ۸۳۳هـ مطابق د اپریل په شلمه کال ۱۴۲۹ء کښې اوزیږیدو. ددهٔ پلار سلطان مراد ثاني ددهٔ د تعلیم و تربیت په خصوصي توګه بندوبست کړے وو. او ددې غرض د پاره ئې د ملک لوئے لوئے عالمان او فاضلان په ډیره لویه تنخواه مقرر کړي وو. (۱۴۹)

"د محمد ثاني جم پلار د آل عثمان ستر فرمانروا وو. ددهٔ مور د مؤرخینو د روایاتو ترمخه عیسائیه وه. هم دغه وجه ده. چې په سلطان محمد ثاني کښې د شرق او غرب دواړو غاړو سپیځلي صفات موجود وو. دے د خپل پلار په رنګ بهادر، مستقیل مزاج، حوصله مند او صبر ناک انسان وو. دغه شان سیاسي تدبر، د قیادت عملي ډول او د جنګي پالیسو تجربه ورته هم د پلار نه په میراث کښې پاتې شوې وو. (۱۵۰)

سلطان محمد فاتح په ۸۵۵هـ کښې په تخت کیښناست. د ملک د واک اخستلو سره سم ئې د جنګ تیاری شروع کړې. او په کال ۸۵۷ء کښې ئې قسطنطنیه قبضه کړه. ددې نه وړاندې د دوئ پایه تخت ادرنه وو. اوس ئې د خپل سلطنت دارالحکومت قسطنطینه اُوټاکو. دغه وخت ددهٔ عمر د شلو کالو نه لږ زیات وو. (۱۵۱)

"سلطان محمد ثاني د غنم رنګې جوسې، میانه قد، کوټلي وجود او بصیرت خاوند وو. دهٔ کلکې ارادې لرلې. د تکلیفونو نه نهٔ ویریدو. تکړه شهسوار، د جنګي هنرونو ماهر، بیدار مغز او د سلطنت د ګردو

اُمورو نه واقف انسان وو." (۱۵۲)

"ژوند ئې ډیر ساده وو. د ژوند زیاته برخه ئې په لیک لوست، ښکار او د جنګی هنرونو په زده کړه کښې تیروله. عیش او آرام ئې نه خوښوؤ. د ډیر مختصر دسترخوان خاوند وو. او ډیر ساده خوراک به ئې کولو. دوستان ئې نه جوړول او تنهائي ئې خوښوله." (۱۵۳)

په ۳ مئی ۱۴۸۱ء، ۴ ربیع الثانی ۸۸۶هـ د یوپنځوس کالو په عمر کښې د لکبوزه په مقام وفات شو. او د قسطنطینیه په هغه جماعت کښې دفن کړے شو کوم چې هغه پخپله جوړ کړے وو. سلطان په پسماندګانو کښې دوه زامن بایزید او جمشید پریښودل. په حکمرانۍ د دواړو تر مینځه اختلاف پیدا شو. خو اخر بایزید د تخت په حاصلولو کښې بریالے شو. (۱۵۴)

== ☆☆☆ ==

د جمشید او د سکندر فلک پرے نه ښوے
پرے به نه ږدی همیشه کلاه د چا (۱۵۵)

☆

د درویش تر زړه به نه رسی دا دواړه
آئینه د سکندر که جام د جم (۱۵۶)

☆

نه جمشید وه نه ئے جام وه
نه قباد وه نه کسرا (۱۵۷)

☆

که جمشید وه که کسرا وه که خسرو وه

واړو وکړله وداع له ملک و مال نه (۱۵۸)

جمشید د ایران په نومورو بادشاهانو کښې یو ښکاره او جوت نوم دے. دلته ئې د سکندر، قباد، کسرا او خسرو سره یو ځائے نامه راوړې شوې ده. او د دُنیا د نیمګړی نیمې خوا ژوند حقیقت ئې رابرخیره کړې دے. چې ددغه سترو سترو بادشاهانو نه دُنیا او په دُنیا کښې چې څه دی هر څه پاتې شول. نو عام سړے به څرنګ پاتې شی. یا به د ابې وفا دُنیا د هغه سره څنګه وفا اُوکړی.

"جمشید د حضرت عیسیٰ علیه السلام د پیدائش نه اتۀ سوه کاله وړاندې تیر شوے دے. ددۀ تعلق د پیش وادیان خاندان سره وو. او په فارس ئې ډیره موده بادشاهی کړې ده. دے د جام جمشید او تخت جمشید په حواله ډیر شهرت لری. جام جمشید شاعرانو د جام جم په نامه هم یاد کړے دے. او په فارسی ادیبانو کښې د جام جم په حقله ډیرې قصې مشهورې دی. جام جم د هغې زمانې په عجائباتو کښې شمیرلې کیږی." (۱۵۹)

"جام جم، جام جهانِ نما او ساغر جم درے واړه اشارے دی. د جمشید پیالئی ته. د شاعرئ او د ادب په ژبه دا اصطلاح ده. وائی چه د جمشید باچا د پاره د یونان حکیمانو یوه پیاله جوړه کړے وه. د نجوم د قاعدے او ضابطو تر لاندے جوړے دغه پیاله کښے به هغه ته د دُنیا حالات لیدے شول. جمشید د ایران مشهور بادشاه تیر شوے دے." (۱۶۰)

"د فارس حُکماؤ دده د پاره د شرابو یوه پیالی جوړه کړې وه. دغه پیالی کښې دننه خطونه راښکودې شوی وو. چې پوره اُووه خطونه وو. دغه خطونه سره د نومونو د ترتیب سره څه دا رنګ وو.

خط جور، خط بغداد، خط بصره، خط ارزق، خط شکریه، خط اشک او خط کاساګر.

چې پیالی به تر مورګو پورې د شرابو نه ډکه کړې شوه. نو د بادشاه نه علاوه به بل چا نۀ شوه څښلے. د دویم خط نه به د شاهی خاندان وګړو د شرابو څښلو حق لرلو. او دې نه پس به د سلطنت ارکانو د شرابو څښلو خپل وار تیرولو. دغه رنګ د هرې طبقې د پاره درجه په درجه ځان ځانله خطونه ټاکلې شوی وو. دغې

پيالې ته به ئې جام جم يا جام جمشيد وئيلو." (١٦١)

"وئيلې شی چې شراب هم دۀ ايجاد کړی دی. دغه شان ځنې مختلف علمونه او فنونه هم دۀ ايجاد ګڼلے شی. دے د ضحاک د لاسه مړ وو." (١٦٢)

==☆☆☆==

بيا له پسه جهانګير د اکبر ځويه
چه دۀ په دور هند لکه جنت ؤ (١٦٣)

هند د جهانګير په دور يقيناً چې لکه د جنت په شان وو. د هند ددغې ښکلا، امن او سوکالۍ په شا هغه اصلاحات وو. کوم چې جهانګير د تخت نشينۍ نه پس په عمل کښې راويستی وو. هغه غير ضروری محصولونه ختم کړل. او د سوداګرو ځنې ټيکسونه ئې منسوخ کړل. په لويو لارو ئې جماعتونه او سرائ جوړ کړل. او کوهان ئې پرې ويستل. هغه سوداګرو ته د نورو آسانو نه علاوه يوه آسانی دا هم ورکړه. چې سرکاری عمله به د هغوئ د اجازې نه بغير د هغوئ سامان نه پرانيزی. دغه رنګ وړاندې به د مړی جائيداد سرکاری کيدو. ولې جهانګير د مړی وراثت د هغه حقيقی پسماندانو ته د ورکولو اعلان اوکړو. په نشيزو څيزونو ئې بيخی پابندی اولګوله. کرونده ګر ئې د سرکاری افسرانو د ظلم نه خلاص کړل. په لويو لويو ښارونو کښې ئې لوئے لوئے هسپتالونه جوړ کړل. او پوهه ډاکټران ئې پکښې مقرر کړل. د سپاهيانو نه ئې ذاتی کورونه واخستل. دې نه وړاندې به چې په څنو جرمونو د پوزې او غوږونو د پريکولو سزاګانې ورکولې شوې. په هغې ئې قدغن اولګولو. هم دا رنګې ئې د کال په څنو ورځو کښې د بعضو ځناورو په حلالولو پابندی اولګوله. افسران ئې هم منع کړل چې هغوئ به پخپلې ماتحتې پرګنې کښې واده نه کوی. او دې سره سره ئې د هيجړاګانو په خرڅولو او اخستلو بنديز اولګولو. دغه اصلاحات وو. چې د جهانګير په وخت کښې ئې د هند نه جنت جوړ کړے وو. هر خوا امن و امان او قلاره قلارې وه.

## جهانګیر:

"شهنشاه جلال الدین محمد اکبر به اکثر د خپل خاندان او سلطنت د بقا د پاره دُعاګانې کولې. هغه د الله تعالیٰ نه یو داسې فرزند غوښتلو. چې هغه ددهٔ د تخت و تاج جوګه وی. او د علم و فضل په کالو ښائسته وی. ددې مقصد د پاره هغه د بزرګانو او اولیاؤ آستانې لټولې. چې په ډیر عقیدت او احترام د (حضرت شیخ سلیم) استانې ته اُورسید. شیخ ورته اوفرمائیل چې الله تعالیٰ به زوئے درکړی په دغه ماشوم به زهٔ خپل نوم اېږدم. لږه موده پس د اکبر بی بی حامله شوه. او چې وخت ئې نزدے شو. نو د شیخ سلیم کره لاړه. هم هلته د چهار شنبې په ورځ په اوولسم ربیع الاول کال ۹۷۷هـ کښې د شیخ سلیم کره جهانګیر پیدا شو." (۱۶۴)

"کله چې د جهانګیر عمر څلور کاله او څلور ورځې شو. د عالمانو او نجومیانو د اُصولو مطابق د شروع په ورځ په دویشتم رجب کال ۹۸۱هـ کښې هغه سبق ته کیښنولے شو. مولانا میر کلال هروی چې د خپل وخت لوئے عالم او دانشمند وو د جهانګیر اُستاد اوټاکلے شو. او ددهٔ د اتالیق خدمات ئې په قطب الدین محمد خان اُوسپارل. روسته دغه کار مرزا خان خانان ته حواله کړے شو." (۱۶۵)

"سلیم په ۲۴ اکتوبر ۱۶۰۵ء په قانونی توګه په تخت کیښناست. او د جهانګیر لقب ئې اختیار کړو. د تاج پوشۍ جشن ئې ډیر په درز دروز اونمانځلو. په دغه موقع ئې د ډیرو بندیانو د پریښودلو حُکم اوکړو. نوې سکې ئې په نوؤ نامو سره جاری کړې. او د یو فرمان په ذریعه ئې هغه ټول معاف کړل. چا چې د جهانګیر د تخت نشنۍ مخالفت کړے وو. اکثر ملازمین ئې پخپلو ځایونو مستقل کړل او نوی قوانین ئې نافذ کړل." (۱۶۶)

"په اپریل ۱۶۰۶ء کښې خسرو د خپل نیکه د قبر د زیارت په بهانه د محل نه را اُووتو. اوپه متهرا کښې ورسره حسین بیګ د خپلو درې زره کسانو یو ځائے شو. په ترن تارن کښې ورله د سیکانو پیشوا ګروارجن پنځه زره روپۍ د امداد په توګه ورکړې. بیا خسرو د لاهور محاصره اوکړه. خو دلاور خان د خسرو

ډيره سخته مقابله اوکړه. او هغه په لاهور قبضه اُونکړې شوه. هم دغه وخت جهانګير د يو لوئے لښکر سره را اُورسيد. باغيانو له ئې شکست ورکړو. هغوئ په تيښته شول. خو د چناب پورې وتلو کښې کامياب نۀ شول. جهانګير دغه اُووه سوه کسان د هاتيانو د پښو لاندې اُوچقول. خسرو ئې قيد کړو. سترګې ئې ترې اُوويستې. او د قيد په دوران کښې په ۱۶۲۲ء کښې مړ شو. (۱۶۷)

"په ۱۶۰۷ء کښې د څنو مؤرخينو د خيال مطابق جهانګير ګرو ارجن ديو له پهانسي ورکړه. څوک چې د سيکانو نامتو ګرو او د ګرنتهـ مصنف وو." (۱۶۸)

"په ۱۶۱۱ء کښې جهانګير د نور جهان سره واده اوکړو. څوک چې د مرزا غياث لور وه. ددې سره سم د جهانګير د يو بادشاه په حيث د نوے ژوند ابتداء اوشوه." (۱۶۹)

"جهانګير د خپلې تخت نشنۍ نه فوراً پس د پنجاب ګورنر مرتضیٰ خان د کانګړې د تسخير د پاره ليږلے وو. خو د راجپوتانو د حسد او مخالفت له کبله ناکامه شوے وو. آخر جهانګير په دغه مهم شهزاده خرم مامور کړو. او د څوارلس مياشتو د محاصرې نه پس په ۱۶۲۰ء کښې دغه قلعه فتح شوه. دا کاميابی د جهانګير د عهد يوه مهمه کاميابی ګڼلې شی." (۱۷۰)

دا بادشاه د ښکار ډير شوقی وو. دۀ د دولس کليز عمر نه د خپل ښکار احوال تر پنځوس کليز عمر پورې پخپل تاريخ کښې ليکلی دی. په دغه حساب هغه پخپل لاس اويا زره يوسل اُووه شپيته ښکارونه کړی دی. چې پکښې شپږ اتيا زمری وو. د پنځوس کالو د عمر نه پس ئې د ښکار نه توبه کړه. د شاعرۍ شوق ئې هم کولو په مصورۍ هم پوهيدو. شراب ئې بې توله څښل. چې ذکر ئې پخپل ژوند ليک کښې صفا صفا ليکلے دے. شراب ئې په آخری عمر کښې کم کړی وو. تر څلويښت کالو ئې افيم خوړل. ولې دا ئې هم بيا پريښودل.

د کشمير د سفر په دوران کښې پرې د دمې مرض خپلې پنجې ښخې کړې. او په دغه حالت کښې لاهور ته روان شو. په لاره کښې د صفرې په اته ويشتمه نيته د ۱۰۳۷هـ کال مطابق د ۲۸ اکتوبر ۱۶۲۷ء کښې ئې ساه ورکړه. دے شپيته کاله ژوندے وو. او تقريباً درويشت کاله سلطنت ئې اوکړو. د جهانګير مقبره په لاهور کښې د نورجهان په باغ کښې ده." (۱۷۱)

== ☆☆☆ ==

د چنګیز لښکر کافر وه
څو پېړی ستګمر وه (۱۷۲)

## چنګیز خان:

د چنګیز خان خپل نوم تموچین (فولاد) وو. دے د اونان دریاب په غاړه په کال ۱۱۵۵ء کښې په "ویلم بولک" نومې ځائې کښې اوزیږید. ددهٔ پلار د لیسوګای قبیلې بورچین یو ډیر مخور سرے وو. مور ئې د منګول قبیلې مرقت سره تعلق لرلو. چنګیز خان لا د دیارلسو کالو وو. چې تا تاریانو ئې پلار په زهر اُووژلو. چنګیز خان ئې اُوتړلو. ولې هغه په څه طریقه ځان پرانست. اوتښتید او ډیره موده در په در اُوګر ځید. بیا هغه په یوې مخوریزې قبیلې القونت کښې واده اوکړو. او په لږه موده کښې ئې خپل ځان مضبوط کړو.

په ۱۲۰۶ء کښې د منګول قبیلې سردارانو دهٔ ته د چنګیز (سپیڅلی روح) خطاب ورکړو. او دے ئې خپل مشر اوټاکلو. چنګیز خان اول چین واخستو. او بیا ئې په اسلامی نړۍ د خپل غضب لینده ښخه کړه. د هغه لس لکه سپایان چې چرته هم اُورسیدل. هر څه ئې په بله واړول. خجند، بخارا، سمرقند، بلخ، نیشاپور، هرات، رے، خوارزم، ترمذ، قزوین، قندهار، غزنی غرض هغوئ هر ځائې تباهی ګډه کړه. افغانستان ته راننوت. او بیا په خوارزم شاه پسې تر اټکه راغے. او هغه ته ئې ماتې ورکړه.

چنګیز خان په ۱۲۲۷ء کښې د دوه اویا کالو په عمر کښې مړ شو. هغه پخپلو قبیلو باندې د یو پیر په څېر مشری کوله. څه که هم هغه نالوستے وو. ولې بیا هم د "یاسا" راغونډول. او هغه پخپلو مشیرانو لیکل د هغه یوه لویه کارنامه ګڼلې کیږی. "یاسا" د هغه فرمانونو مجموعه ده. په څه کښې چې د منګولیانو د ژوند طور طریقې په تفصیل سره بیان کړې شوی دی.

چنګیز خان په نړیوال تاریخ کښې د یو پُراسراره شخصیت مالک دے. د چنګیز خان په رنګ د انسانانو د وینې تږے، خودسره، جنګیالے، جابر، ظالم، سفاک او خپلواکه حکمران په انسانی تاریخ کښې نه دے تیر شوے." (۱۷۳)

خوشحال بابا د چنګیز خان د شخصیت او د هغه د لښکر ذکر د ظلم و ستم په حواله کړے دے.

== ☆☆☆ ==

په خوشحالؔ بانډِ خو وار دے دادے راغے
خدائے دِ درست جهان ساتی له دے جیپال (۱۷۴)

خوشحال بابا په دغه شعر کښې اورنګ زیب عالمګیر ته د جیپال په نوم سره اشاره کړې ده.

## جیپال:

"راجه جیپال مشهور هندو راجه وو. ددهٔ د پلار نوم راجه استیپال وو. راجه جیپال پخپل دور کښې د لوئې ملک نه پښې راتاؤ کړې وې. ددهٔ سلطنت د سرهند نه تر لمغانه (لغمان) پورې او د کشمیر نه واخله تر ملتانه پورې غزیدلے وو." (۱۷۵)

"خو د جیپال په دغه لوئې سلطنت د بدمرغۍ ورځې هغه وخت راغلې. کله چې د غزنی تخت د الپګتین زوئے سبکتګین ته په لاسو وراغے. په دغه ترځ کښې هدایت الله چودهری لیکی چې سبکتګین چې څرنګې په تخت کیښناست. نو خپل ریاست ئې پراخه کړو. هغه د هندوستانی سرحدونو څو قلعه ګانې قبضه کړې. او دغلته ئې څوکۍ او جماعتونه جوړ کړل. په دغه زمانه کښې چې جیپال د لمغان نه واخله د چناب تر غاړو پورې حکمرانی کوله. د یو زبردست لښکر سره د غزنی په لور را روان شو. خو هغه د سبکتګین د فوځ نه ماتې اوخوړ. او د لس لکه درهمو او پنځوس هاتیانو په بدله کښې ئې د سر آمان اوغوښتو. ولې بیا ئې وعده خلافی اُوکړه. او دا شان سبکتګین په هغه یو ځل بیا حمله اوکړه. جیپال هم لښکر تیار کړے وو. خو سبکتګین ورله شکست ورکړو. او جیپال ئې تر دریائې سیند پورې اوزغلوؤ." (۱۷۶)

"د سبکتګین د وفات نه پس راجه جیپال کوشش کوؤ. چې هغه د لمغان او پیښور علاقې یو ځل بیا پخپله ولقه کښې راولی. او ددغې مقصد د پاره ئې پښې لاس وهل. محمود غزنوی د هغه ددې کوششونو د ناکامه کولو د پاره په هغه حمله اوکړه. د پیښور او هند په خواوشا کښې جنګونه اُوشول. جیپال شکست اوخوړ. پنځلس زره مړی او بې اندازې مال او اسباب ئې پریښود. او جیپال د میدان جنګ نه اُوتښتید. ولې هغه ګرفتار کړے شو. خو وروسته د ډیر لوئې دولت په بدله کښې آزاد کړے شو." (۱۷۷)

"د هندوانو دا عقیده وه۔ چې کوم هندو راجه دوه ځله د مسلمانانو نه شکست اُوخوری۔ یا دوهٔ ځله ئې مسلمانان گرفتار کړی نو هغه د حکمرانۍ جوګه نه پاتې کیږی۔ او دغه خبره یوه داسې ګناه ګڼلې شی۔ چې هغه د اُور نه سیوا بل هیڅ څیز هم نشی پاکولې۔ جیپال چونکې دوه ځله شکست خوړلے وو۔ ځکه نو ددغې عقیدې تر مخه ئې خپل زوئے انندپال ولی عهد اوټاکلو۔ او ځان ئې په اُور اُوسیزلو۔" (۱۷۸)

== ☆☆☆ ==

په جهان کښې به ئے پاتې بنه بد نام شی
دهٔ زده چارے د کسریٰ که د حجاج کا (۱۷۹)

☆

په جهان کښې که حجاج که نوشیروان وو
هم دا داد او دا بیداد شو څنې پاتې (۱۸۰)

☆

که نوم د حجاج اورے اورے نوم د نوشیروان
په عدل کافر بنه شوء ظلم بد کړه مسلمان (۱۸۱)

☆

یو په ظلم یو په مکر نور څوک نشته
که حجاج وی که یزید وی دده سیال (۱۸۲)

☆

د یزید د شمر نهٔ د حجاج دی
دور دور د دجال دے په دا مینځ کښې (۱۸۳)

☆

چې حجاج ظالم بې داد ؤ
د هر چا څنې فریاد ؤ (۱۸۴)

حجاج یو داسې نامه ده. چې د اوریدو سره ئې د بنده ذهن ته د یو ظالم او سفاک بادشاه تصور راځي. خوشحال بابا پخپل کلام کښې د ظلم او زیاتي په مناسبت سره ځائے په ځائے د حجاج نامه راوړې ده.

## حجاج بن یوسف ثقفی:

"دے د بنو اُمیه یو جرنیل او لائق گورنر وو. د اُموی دور یو ستر سیاستدان وو. چې د قبیله بنو ثقیب د احلاف څانگې سره ئې تعلق لرلو. دے په طائف کښې زیږیدلے وو.

حجاج په یوه غریبه کورنۍ کښې پید اشوے وو. ددوئ د کورنۍ د گتې وټې ذریعه گیلکاری وه. مور ئې د بنو ثقیف خاندان نه وه. چې د مغیره بن شعبه طلاقه شوې ښځه وه څوک چې د امیر معاویه رض په دور کښې د کوفې گورنر وو.

دده د ژوند ابتدائي حالت ډیر کم په لاس راغلي دی. د ځوانۍ په زمانه کښې دے په طائف کښې مدرس وو. او د الحره او لزبده په جنگونو کښې ئې برخه اخستې وه. دغه جنگونه په ۶۵هـ کښې شوی وو." (۱۸۵)

"د خلیفه عبدالمالک بن مروان په وخت کښې د هغه یو درباری امیر روح بن زنباع الجدامی دے په لښکر کښې د یو سپاهي په حیث واخستو. روسته سپه سالار شو.

دده وړومبۍ حمله د حضرت عبدالله بن زبیر رض خلاف وه. څوک چې د حجاز د خلافت دعویدار وو. دهٔ هغه شهید کړو. او بیا ئې په خانه کعبه د منجنیقو په ذریعه کاڼي اُوورول.ددې سره د خانه کعبې په دیوالونو کښې درزونه راغلل. روسته ئې خانه کعبه اوسیزله او حجر اسود ئې درې توټې کړو. د مالک بن دینار وینا ده چې دے ظالم په عراق کښې د یو لک کسانو نه زیات وژلي دی. او چې کله مړ شو. نو په جیلونو کښې ئې پنځوس زره سړی او دیریشت زره ښځې بندیان وو." (۱۸۶)

"دهٔ هم په دغه کال ۹۵هـ کښې د شوال په میاشت د مرگ فرشتې ته لبیک اُووے۔ شل کاله ئې په عراق حکومت اُوکړو او چې مړ کیدو نو خپل زوئے عبدالله بن حجاج ئې د عراق گورنر اوټاکلو۔ (۱۸۷)

"دے سنگدل، جابر او قاهر انسان د جنگونو نه علاوه د امن په حالت کښې هم یو لک پینځه زره کسان وژلی دی۔ د بې شمیره صحابیانو په لاسونو ئې د سیکې مهرونه وهلی دی۔ او د حضرت عبدالله بن زبیرؓ او حضرت عبدالله بن عمرؓ په رنگ د جلیل القدر صحابیانو خون ئې هم اخستے دے۔

په عراق باندې د شل کالو حکومت کولو نه پس د څلور پنځوس کالو په عمر کښې بیمار شو۔ په معده کښې ئې بې شمیره چنجي پیدا شول۔ او بې کچه یخني پرې راغله۔ دومره یخني ئې اُوشوه۔ چې ډیرې انگیټی ئې ورله په بدن کیښودې۔ ولې یخني ئې نه تودیده۔" (۱۸۸)

== ☆☆☆ ==

قیس وه که وامق وه که فرهاد وه که خسرو وه
هر چه عاشقی کاسل رحمت په وارو بانډِ (۱۸۹)

☆

چه په لاز د رخیل راغے روا رو
څه کسریٰ او څه پرویز او څه خسرو (۱۹۰)

☆

لا یزاله بادشاهی که چا موندله
کیخسرو به وخسرو ته نه سپارله (۱۹۱)

☆

له دنیا نه هیچا کام موندلے نه دے
که شرین وه که خسرو وو که فرهاد وو (۱۹۲)

☆

د معشوقۍ نوم عاشق په جهان خور کا
د شرینے بازار تود دے له پرویز (۱۹۳)

☆

که جمشید وه که کسریٰ وه که خسرو وه
واړو وکړله وداع له ملک و مال نه (۱۹۴)

دے شعرونو کښې خوشحال بابا د نورو څو کسانو نه علاوه خسرو پرویز هم یاد کړے دے. اؤ د هغه ذکر ئې د هغه د شان و شوکت او جاه و جلال په اساس په مختلفو حوالو سره کړے دے. چې پکښې د دُنیا بې ثباتی، د مال و منال پاتې کیدل، د مجازی مینې لباسیت وغیره شامل دی. خو یو شعر کښې خوشحال بابا وائی چې لازواله بادشاهی که چاته نصیب کیدې شوه. نو کیخسرو ته به په برخه شوې وه. او هغه به لازواله بادشاهی بیا موندې وې. خو داسې ناشونې ده او هم دا وجه ده. چې کیخسرو خپله بادشاهی خسرو ته اُوسپارله. ولې تاریخی شواهد د خوشحال بابا دغه خیال ټیک نه ثابتوی. په دې چې کیخسرو د بادشاهۍ نه کله لاس اخستل نو ملک ئې دوه برخې کړو. یوه برخه چې درې صوبې ئې لرلې. او د کابل، زابلستان او نیمروز په علاقو مشتمله وه. هغه ئې خپل سپه سالار رستم ته ورکړه. او د ایران ملک ئې د کیکاوس زوم لهراسپ ته ورکړو.

## خسرو پرویز:

خسرو پرویز د ایران یو مشهور بادشاه وو. څوک چې په ۵۹۰ء کښې د خپل پلار هرمز څلورم بن خسرو (اول) نوشیروان د مرگ نه پس په تخت کیښناست. اول به ئې دهٔ ته خسرو (دوم) وایو. خو روسته د

ابهرویز (پرویز) په لقب مشهور شو. پرویز د مظفر معنیٰ لري.

خسرو پرویز کښې د ملک نیونې هوس او د زرپرستی عادت کوروَنه کړی وو. دهٔ په ډیره لړه موده کښې د ایشیا ئے کوچک نه پښې راتاؤ کړې. او اترها، انطاکیه، دمشق او یروشلم ئې فتح کړل. دغه رنګ د اسکندر او مصر ځنې علاقې ئې هم واخستې او پخپل سلطنت کښې ئې شاملې کړې. دهٔ دوه کم څلویښت کاله حکومت اُوکړو. دے دوران کښې دهٔ بې اندازې دولت جمع کړو. او خپلې خزانې ئې ډکې کړې. وئیلې شی چې د حکومت په اتلسم کال چې کله دهٔ خپله خزانه د طیسفون نوی عمارت ته واړوله نو دغه وخت په خزانه کښې تقریباً شپږ څلویښت کروړه او اتیا لکه مثقاله سره زر موجود وو. چې روسته بیا اتیا کروړه مثقاله ته رسیدلی وو.

د خسرو په حرم کښې درې زره ښځې وې. او د وینځو شمیر ئې د زرګونو نه زیات وو. چې هغوئ به ځاے په ځاے د هغه زړه خوشحالولو. ددې نه علاوه د خسرو درې زره نوکران، اته زره پنځه سوه اسونه او دولس زره قچرې وې.

خسرو په جنس لطیف باندې ورک مئن وو. د دُنیا یو لذت داسې نه وو. چې خسرو به د هغې نه مخ اړوو. د خوشبوګانو ډیر شوقی وو. د ښو خوراکونو به ئې قدر کوؤ. جامې به ئې ډیرې اعلیٰ او قیمتی اغوستلې. د شرابو ګوډے وو. د موسیقی سره ئې ډیره زیاته لګیده. په آخره زمانه کښې چې خسرو په عیش و عشرت کښې سم ډوب شو. نو ظلمونه ئې راواخسته. اوکله چې دغه ظلمونه انتها ته اُورسیده. نو د هغه زوئ شیرویه په ۶۲۸ء کښې ددهٔ قصه تمامه کړه. او پخپله په تخت کیښناست. د خسرو زمانه د ساسانیانو د عروج زمانه وه. او دده نه پس ئې د زوال ورځې شروع شوې." (۱۹۵)

==☆☆☆==

## بیا له پسه چه تیمور په هند راکښیووت
## خضر خان ته ئے ورکړے حکومت ؤ (۱۹۶)

د خضر خان په حقله د خوشحال بابا ددغه شعر نه جوتیږی۔ چې امیر تیمور کله په ۱۳۹۹ء کښې د فیروز شاه تغلق زوی محمود شاه تغلق له ماتې ورکړه۔ او سمرقند ته ستنیدو۔ نو د هندوستان حکومت ئې خضر خان ته ورکړو۔ ولې تاریخی حقائق د خوشحال بابا د بیان نه لږ شان په بل رنګ دی۔ د مؤرخینو د لیکنو تر مخه امیر تیمور، د واپسۍ په وخت خضر خان د لاهور او ملتان صوبه دار اوټاکلو۔ د څنو نورو د بیان له رویه د لاهور او ملتان سره سره ئې د دیپال پور صوبه داری هم دۀ ته سپارلې وه۔ نه چې دۀ ته ئې د هند حکومت ورکړے وو۔ وروسته دۀ پخپل تدبر او زیار د هند د واک واګې په لاسو کښې واخستې۔ لکه چې هدایت الله خان چودهری لیکی۔

"د تیمور د حملے په وخت کښے د ملتان او لاهور په علاقو کښے ډیر پښتانه بالخصوص نیازی او لودی قبائیل آباد وو۔ دے خلقو د تیمور د نمسی سره شدید جنګونه کړی وو۔ لیکن د ملتان حاکم سید خضر خان د پیر محمد (د تیمور نمسی) مرسته کړی وه۔ او د هغه اطاعت ئے منلے وو۔ دغه وجه وه چه تیمو رپه خپلے واپسۍ کښے سید خضر خان د خپل طرف نه د ملتان او لاهور حاکم مقرر کړو۔" (۱۹۷)

"د تغلق خاندان د کمزورو او د امیر تیمور د حملې له وجې په ټول شمالی هندوستان کښې باچا ګردی جوړه شوې وه۔ چونکې مرکزی حکومت نه وو۔ څکه نو په هره سیمه مقامی امیران خپل واکه وو۔ چې څه ئې په زړه راتلل هغه ئې کول۔ د محمود تغلق د وفات نه پس په ۱۴۱۲ء کښې پښتنو مشرانو دولت خان لودهی خپل سردار اوټاکلو۔ خو ډیر زر د امیر تیمور مقرر کړی حاکم خضر خان په دهلی قبضه اُوکړه۔ او د ساداتو دکورنی بنیاد ئې کیښودو۔ (۱۹۸)

## خضر خان:

د طبقات محمود شاهی او څنې نورو مورخینو مطابق دے د ساداتو د کورنی سرے وو۔ دده پلار

ملک سلیمان د ملتان گورنر وو. کله چې ئې پـلار حق اُورسید. نو دے د پـلا رپه ځاے کیښناستو. او بیا دهٔ دولت خان لودهی له ماتې ورکړو. دهلی ئې قبضه کړو. او په ۱۵ ربیع الاول ۸۱۷هـ کښې بادشاه شو. ولې دهٔ چرته هم ځان ته د هند بادشاه نهٔ دے وئیلے. بلکې دهٔ به وئیل چې زهٔ د شاه رخ مرزا ابن امیر تیمور له خوا سلطنت کووم. دهٔ هم د هغه په نوم سکه چلوله. د اُووه کاله حُکومت کولو نه پس په ۱۷ جمادی الاول ۸۴۴هـ د ابدی دُنیا په لور اُوکوچیدو. ددهٔ نه پس ددهٔ زوئے مبارک شاه په تخت کښیناست. (۱۹۹)

"خضر خان چې د دهلی په تخت کیښناستو. نو (د نورو بادشاهانو پشان)ئې شاهانه القابات اختیار نهٔ کړل. بلکې د امیر تیمور د وفات نه پس به ئې ځان د هغه د جانشین شاه رخ نائب گڼلو. په قطبی هند کښې اړے کړے وو. او ترک، پښتانه او سیدان د یو بل خـلاف په جنگونو کښې اړم وو. ددهٔ حکومت د دهلی او نزدې عـلاقو تر غاړو پسکو پورې محدود وو. دهٔ ټول ژوند د بد امنی او لاقانونیت خـلاف په یو مسلسل جدوجهد کښې تیر کړے دے. د دهلی په خواوشا او دواب عـلاقو کښې د امن و امان د بحالی د پاره دهٔ څو څو ځله لښکر کړے دے. خو دغلته د بد امنی له وجې ددهٔ حکومت مستحکم نهٔ شو. او عن تر دې چې د سالانه محصولاتو د وصولی د پاره هم د فوځ لیږلو ته اړتیا پیدا شوه. سید خضر خان د ډیرو خوبو څښتن وو. هغه د وعدې رینښتونے او په عوامو کښې ډیر مقبول حکمران وو. دهٔ د خپل اولس د سوکالی او خوشحالی په لړ کښې هر ممکن کوشش کړے دے. څه که هم په وختی طور ئې بغاوتونه غلی کړی دی. ولې په دهلی کښې د مرکزی حکومت په بیا جوړولو کښې بریالے شوے نهٔ دے. دغه رنگ په ملک کښې د راپورته شوی انتشار ختمول د هغه د وس خبره نهٔ وه." (۲۰۰)

"دا سړے د نسب په اعتبار سید او د کردار په لحاظ د قول رینښتونے هوښیار، سپین سپیځلے، خوش اخـلاقه او لوړ همته وو. دهٔ کښې د اوچتې حوصلې، سخاوت، شجاعت او عدالت جوهر فطری وو د اولس د فـلاح و بهبود ئې خیال ساتلو. ددهٔ ښو صفتونو پخپله ددهٔ د سیدی گواهی ورکوله. د سلطنت او بادشاهت باوجود ئې په مزاج کښې دومره عاجزی وه. چې ځان ته به ئې سلطان وئیل نه خوښول. او د "رایات اعلیٰ" په خطاب ئې صبر راوړے وو. د اُووه کاله درې میاشتو حکومت کولو نه پس په ۸۲۴هـ مطابق ۱۴۲۱ء کښې ئې د آخرت لار اُونیوله. (۲۰۱)

"څو ورځې پس شاهزاده محمد شاه د پیر جاه و جـلال سره دهلی ته راننوت اؤ په کال ۷۹۲هـ مطابق ۱۳۷۹ء کښې ئې د سلطنت تخت په دوئِم وار واخستو اؤ د نوې سره ئې پخپل نوم خطبه اؤ سکه جاری کړه." (۲۰۲)

"د تتې د قیام په آوان سلطان تبې اُونیو. اؤ ددغې بیماری په حالت کښې ئې د عاشورې روژه هم اُونیوله. په روژه ماتې کښې ئې مهے اُوخورو. ددې سره ئې په ناجوړتیا کښې نوره هم اضافه اُوشوه. یو لس ورځې ئې بیماري تیره کړه. اؤ په ۲۱ محرم ۷۵۲هـ (مطباق د ۲۰ مارچ ۱۳۵۱ء) ئې د دارالسلطنت نه په سوونو کروه لرې فاصله د مرګ داعی ته لبیک اُووے." (۲۰۳)

== ☆☆☆ ==

که ناستے د ناقابل په سریر پاس دے
په معنیٰ کښے خندان خان شاه عباس دے (۲۰۴)

د خندان خان شاه عباس نه مراد د ایران د صفوي خاندان بادشاه دے. چې یو بدګمان سړے وه." (۲۰۵)

## شاه عباس اعظم:

د شاه عباس اعظم دور د صفوی خاندان زرین دور بللے شی. د محمد خدا بنده نه پس چې شاه عباس د ایران د سرو سپینو مالک شو نو دغه وخت د هغه عمر ایله اوولس کاله وو. د ایران په قطبی لویدیز عثمانی ترک قابض وو. او په ختیز کښې خراسان د ازبکو په ولقه کښې وو. یا د هغوئ د حملو ښکار وو. د ملک دننه هم اړے ګړے په درز کښې روان وو. او د صوبو امراء هم سرکشی اختیار کړې وه. شاه عباس ددغې صورت حال په ډیره هوښتیارتیا سره مقابله اُوکړه. هغه د ټولو نه مخکښې د ترکانو سره لوظنامه اوکړه. او د

آذربائیجان، گرجستان او لرستان یوه برخه ئې ترکو ته ورکړه. د شاه اسماعیل د وخت نه چې په ایران کښې په اصحابو کرام د بد وئیلو کوم قبیحه رسم را روان وو هغه دهٔ بند کړو. او دا شان ئې عثمان ترکان تر څه حده مطمئن کړل. کله چې شاه عباس د ختین سرحد د ژغورنې کار سر ته اُورسؤو. نو بیا ئې خراسان ته پاملرنه اُوکړه. په دغه آوان د اُزبکانو طاقتور حکمران عبدالله خان مړ شوے وو. ځکه نو شاه عباس په ډیره آسانی سره ازبکان د خراسان نه اُوویستل. او د صفوی سلطنت بریدو نه ئې د هرات او مرو پورې پراخه کړل. .... شاه عباس اګر چې یو کامیاب او زیرک حکمران وو. ولې د اعظم لقب د هغه سره خوند نه کوؤ. ځکه چې هغه بې کچه ظالم او شک مزاجه سړے وو. هغه محض د شک په بنیاد یو زوے ړوند کړو او بیا ئې قتل کړو. د مؤرخینو د وینا تر مخه د هغه په دور کښې به هر وخت پینځه سوه جلادان د خلقو د قتلولو د پاره تیار ولاړ وو. هغه ډیر جابر او ستمکار حکمران وو. (۲۰۶)

"ددهٔ دویم زوے طهماسپ مرزا نومیدو. چې پخپل مرګ مړ شوے وو. د دریم زوے خدا بنده نه ئې هم سترګې ویستلې وې. اؤ دغه عمل ئې د څلورم زوی سره هم کړے وو. چې د هغوئ د تاج و تخت نه د محروم کولو سوب ګرځیدلے وو. د شاه عباس ددې سخزړی به څه وجوهات ضرور وو. خو په دغه لړ کښې تاریخ خاموشه دے. په هر طور شاه عباس د اوویا کالو په عمر کښې په کال ۱۰۳۸هـ کښې ددې فانی دُنیا نه لاړ. اؤ دا شان ئې د خپل عظمت په تاریخ کښې د یو خونړی باب اضافه اُوکړه. (۲۰۷)

== ☆☆☆ ==

بے له ما که جهان ستا شی په اُوربشه
چه زهٔ ستا شم که اور بشے خورے دارا ئے (۲۰۸)

☆

نهٔ بهرام وه نه ئے گور وه
نه سکندر وه نهٔ دارا (۲۰۹)

☆

دا آسمان نه دے یو خونی پړانگ دے
راته غړنبیږی تل تل په بانگ دے
خوله ئے سرهٔ کړے د دارا په وینو ده
شفق ته گوره دا ووی په تانگ دے (۲۱۰)

دارا د ایران د هخامنشی خاندان ډېر نامتو بادشاه تیر شوے دے. چې د ډېر شان و شوکت او زور خاوند وو. خوشحال بابا هم ددغې طاقت او لويئ په بنیاد یاد کړے دے.

"په نړیوال تاریخ کښې د "دارا" په نوم درے کسان تیر شوی دی. وړومبے دارا د ایران د ستر جنگیالی شهنشاه گستاسپ زوئے او د هخامنشی کورنی بادشاه وو. چې دکمبوجیا د مړینې نه پس ئې گومتا اُووژلو او د مدائن په تخت کیښناست. ددهٔ د ژوند زمانه (۵۲۱-۴۸۶ ق م) ده. دهٔ پخپل دور حکومت کښې ایشیائې کوچک، شمالی یونان، مصر، عرب، شام، عراق، افغانستان، سندهـ او پنجاب د ایرانی سلطنت سره یوه کړی وو. په نړی وال تاریخ کښې دومره لوئے سلطنت ددهٔ نه علاوه بل چا نهٔ دې قائم کړے. ددهٔ کارنامې د استخرا او بیستون په ډبر لیکونو خوندی کړے شوے دی. دے د زرتشتی مذهب پیروکار وو." (۲۱۱)

"تاریخ کښې دویم دارا د اردشیر اول زوئے وو. چې د یوې وینځې نه پید اشوے وو. دهٔ د خپلې خور پریاستیس (Paryastis)سره واده کړے وو. ټول عمر ئې د هیجړاگانو سره تیر کړے دے. ددهٔ په وخت کښې ډېر بغاوتونه راپورته شول. او د سلطنت زوال ئې شروع شو." (۲۱۲)

دریم دارا یا داراب دریم د کیانی خاندان نهم بادشاه وو. چې د خپل پلار نه پس په تخت کیښناست. ده د اسس او اربیلا په جنګونو کښې د سکندر اعظم سره ښه په نره مقابله اوکړه. دغه جنګونه د ۳۳۱ ق م خواوشا شوی وو. سره ددې چې "دارا" یو ګڼ شمیر فوځ لرلو. خو بیا ئې هم د سکندر نه ماتې اوخوړ او قتل شو. دغه شان د "دارا"مال دولت او حکومت د سکندر اعظم په قبضه کښې راغلل. (۲۱۳)

"دا "دارا" ډیر لوړ همته او حوصله مند بادشاه وو. خو امیران ئې خلاف شول. او دا رنګې هغه د خپلو کسانو له لاسه اُووهلے شو. قتل شو. د دارا لور سکندر واخسته. او دا رنګ د ایرانی تمدن اثر په یونانی دربار نیغ په نیغه اُوشو. ددې نه سربیره د دارا د عظمت او د هغه د غم لړلی مرګ روایات د فارسی او اردو ژبو د ادیبانو یو اهم جزو اوګرځیدو." (۲۱۴)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه رضی لور د شمس الدین وه
چه راضی ځنے سپاه او رعیت ؤ (۲۱۵)

## رضیه سلطانه:

"رضیه سلطانه د سلطان شمس الدین التمش یوه تورزنه لور وه. دا د خپلو ورونو نه زیاته پوهه، هوښیاره او زیرکه وه. دې بهادرې د خپل پلار سره د هغه په ژوندانه په ځنو جنګونو کښې برخه اخستې وه. او ډیر میړانه ئې ښکاره کړې وه. هم دا وجه وه چې پلار ئې د مرګ نه وړاندې ددې د تخت نشینی وصیت کړے وو. په هغه آوان ترکیانو دا نهٔ شوه زغملې چې هغوئ دې دیوې ښځې د بادشاهی لاندې ژوند تیر کړی. ولې د فیروز شاه د ناوړو کارونو له وجې هغوئ د رضیه سلطانې بادشاهی ته غاړه کیښوده. هغه ئې

را اوغوښته. او دا شان رضیه په کال ۱۲۳۶ء کښې په تخت کښیناسته." (۲۱۶)

"خو د ابن بطوطه د بیان نه دا خبره ثابتیږی چې رضیه سلطانې د تخت و تاج حاصلولو د پاره یو زبردست تدبیر کړے وو. هغه لیکی چې بادشاه (رکن الدین) یوه ورځ د جمعې د مونځ د پاره جامع مسجد ته تلے وو. رضیې د مظلومانو جامې واغوستې او د شاهی محل چت ته اُوخته. کوم چې د جامع مسجد سره جوخت لګیدلے وو. بیا ئې خلقو ته د خپل پلار عدل و انصاف رایاد کړو. او ورسره ئې دا زیاته کړه چې رکن الدین زما ورور وژلے دے. او دے زما په مرګ هم راپسې دے. ددې سره خلق لمبه شول. رکن الدین ئې اُونیوو. او رضیه سلطانې له ئې راویستو. دا شان هغې رکن الدین د خپل ورور په قصاص کښې اُووژلو." (۲۱۷)

دې لړ کښې عصامی لیکی چې "رضیې په باقاعده ډول عوامو ته اپیل کړے وو. چې تاسو ما د ازمیښت په توګه د ملک د واک اختیار منه کړئ. که ما د سړو نه ښه کارکردګی اوښودله. نو زما اطاعت اوکړئ او که چرې زۀ په دغه معامله کښې پاتې راغلم. نو ما معزوله کړئ." (۲۱۸)

"د رضیه سلطانه په لړ کښې د تاریخ فرشته لیکوال څه دا رنګ رائې لري. لیکی چې " په رضیه سلطانه کښې د ملک چلونې ټول صفات موجود وو. په عقل پوهه، حسن تدبیر او سیاست کښې دا ښځه د خپلې زمانې د کټه کټه سیاستدانانو د مقابلې وه. پوهانو سترګه ورو ته په رضیه کښې د ښځوالی نه علاوه بل څه عیب نۀ ښکاریدو. چې هغه دې ګنې د حکمرانی د اعلی درجې ته د رسیدو په لار کښې ددې خنډ ګرځیدلے وې. رضیې به د قرآن شریف تلاوت په ډیر ادب او احترام کولو. دغه رنګ د مذهبی معلوماتو نه علاوه په نورو علومو فنونو کښې هم هغې ته ډیر کمال حاصل وو. د التمش په زمانه کښې چې څومره مهمات کیدل. په دغه ټولو کښې رضیې ډیر لوئے لاس لرلو. او بیا په تیره تیره په شمسی عهد کښې خو اکثر ګنجلک مهمات ددې په رائې او مشورې سره سر شوی وو. هم دغه وجه وه. چې د ګوالیار د فتحې د جشن په موقعه التمش د څو خاصو امیرانو په وړاندې خپله ولې عهده رضیه اوټاکله. او هر کله چې د هغه نه چا تپوس اُوکړو. نو ځواب ئې ورکړو. چې زۀ د خپلو زامنو د عادتونو او خویونو نه ښه واقف یم. دا ساعت چې هغوئ زما لاس لاندی دی. شپه ورځ په شراب نوشی او عیاشی کښې بوخت دی. زۀ هغوئ ددې جوګه نه ګنم. چې

هغوئ به د سلطنت پيتے اُوچت کړی. ددې برعکس چې رضيه ښځه ده. خو د پوهې او عقل په اعتبار سره د سړی برابر ده. او له دې کبله زۀ پخپلو زامنو دې ته ترجيح ورکوم." (۲۱۹)

"د ملک د چلولو کاروبار ئے ډير په ښه طريقه سنبال کړو. هغے به د سړو جامے واچولے او لکه د سړو به وسله بند دربار ته راتله. خپل کاروبار سلطنت ئے ډير په ښه طريقه سنبال کړو ولے ډير زر د هغے جنس د هغے د زوال سبب اوګرځيدو. هغے د خپل امير اخور ملک ياقوت (جمال الدين ياقوت) سره تعلق ډير خاص شو. تولو لويو امراؤ او درباريانو د يوه حبشی سره د هندوستان د ملکے دومره نزد والے غوره اونه ګڼړلو. ډير زر د بغاوت جنډے پورته کړے شوے. ملک التونيه د سرهند (بتهنډے) حاکم د ټولو سرخيل وو. رضيه د بغاوت ختمولو د پاره د ډهلی نه روانه شوه. د دواړو فوځونو تر مينځه يو خونړے جنګ اُوشو. ياقوت جنګ کښے اووژلے شو. رضيه بندی شوه. ولے لږه موده پس ملک التونيه پخپله نکاح کښے واخسته. دلته د مينے لوظونه کيدل او هلته په ډهلی کښے ترک امراؤ د رضيے بل ورور معز الدين بهرام شاه خپل مشر کړو. رضيه او ملک التونيه سره د خپل فوځونو د ډهلی په طرف روان شول. کيتهل نومے ځاے کښے جنګ اُوشو نتيجه ئے د رضيه او ملک التونيه په مرګ اوختله." (۲۲۰)

له ۶۳۴ ق (۱۲۳۶ء) نه يی تر ۶۳۷ ق / ۱۲۳۹ء پوری باچاهی وکړه او په کال ۱۲۳۹ء کی مړه شوه. ددې ميرمنې قبر د ډيلی د ترکمان ګيټ د سيتارام بازار په بلبلی نومی کوڅه کی تر اُوسه موجود دی. ميرمن رضيه بيګم خپله سکه هم جاری کړی ده چې په دغه عبارت پری ليکلی و.

السلطان الاعظم رضيه الدنيا والدين. (۲۲۱)

==☆☆☆==

ارسطو تر افلاطون ښه وه سکندر ته
په جهان کښے هر څوک مینه پخپل کول کا (۲۲۲)

☆

د جمشید او د سکندر فلک پرے نه ښوے
پرے به نه ږدی همیشه کلاه د چا (۲۲۳)

☆

د بیسر موتی دِ لاس د سکندر کړ
ښوریده ئے اشارت په جاروتنه (۲۲۴)

☆

د درویش تر زړه به نه رسی دا دواړه
ائینه د سکندر که جام د جم (۲۲۵)

☆

بادشاه د بحرو برئے که قانع په خشک و ترئے
د دهر سکندر شه که شته شته که نشته نشه (۲۲۶)

☆

د حیات اوبه سکندر په هیلو غوښتے
خضرؑ بیاموندے عبث شوے ددهٔ هیلے (۲۲۷)

☆

نه بهرام وه نه ئے گور وه
نه سکندر وه نه دارا (۲۲۸)

☆

که لوئی سکندر وه خو بیا هیڅ شوه
که قصه شی د یوسف له ښه جمال نه
څو سکندره څو یوسف به درته یاد کا
که خبر واخلے له نمره له هلال نه (۲۲۹)

☆

د سکندر بادشاه یو ځوان ؤ
دیر تورزن کشور ستان ؤ
لوی تقصیر ورځنی وشه
اسکندر ترې په مانه شه
ارسطو سکندر طلب کړ
مشورت یې مرتب کړ (۲۳۰)

☆

ارسطو چې ووې واړه
سکندر وکړه هغه واړه (۲۳۱)

## سکندر اعظم:

سکندر په ۳۵٦ ق م کښې د مقدونیه د بادشاه فلپ دویم کره اوزیږید. ددهٔ تعلیم او تربیت ارسطو اُوکړو. ددهٔ عمر شل کاله وو. چې پلار ئې سترګې پټې کړې. (۲۳۲)

دده مور اولمپس نومیده. څوک چې د مولوسین د بادشاه ینویتولیمس لور وه. سکندر اعظم که یو اړخ ته د پلار نه د بهادرۍ او شجاعت چل زده کړے وو. نو بل اړخ ته ئې د مور نه د شرافت، صبر و استقامت او

خود اعتمادی سبق هم حاصل کړے وو. کله چې د سکندر پلار فلپ (دویم) د کلوپټرا سره واده اوکړو. نو په دغه موقعه د کلوپټرا تره اطالوس څوک چې د ناوې وکیل هم وو. د هغې د پاره داسې دُعا اوکړه چې "دیوتا دې فلپ او د هغه ناوې له د هغوئ د شان مطابق ولی عهد هم ورکړی. ددې الفاظو په اوریدو سکندر لمبه شو. څکه چې دا د سکندر اعظم سپکاوے وو. هغه د شرابو یک جام د اطالوس مخ له را اوبغوو. او چغې ئې کړې چې بدبخته بوډا! ستا څه خیال دے. مونږ جهنم ته تلی یو څه؟ هم ددې نه د پلار او زوئ اختلافات پیدا شول. نزدې وه چې دې اختلافاتو څه نازک رُخ اختیار کړے وے. مرګ فلپ په لوئې خوب اُوده کړو. او دغه خون د یو امیر زاده په غاړه شو. د پروفیسر ایف. اے رائټ مطابق د فلپ مرګ نه یوازے سکندر ته فائده اُورسوله. بلکې د مقدونیه بخت هم رابیدار شو. چې ورته د سکندر په شان بادشاه نصیب شو. (۲۳۳)

"دهٔ اول د خواشا ریاستونه فتح کړل. بیا ئې ایرانیان اووهل، او خپل زاړه ریاستونه ئې ترې واپس واخستل. دغه رنګ په ۳۳۲ ق م کښې ئې مصر پخپله قبضه کښې راویستو. او دلته ئې د سکندریه بنار بیناد کیښود." (۲۳۴)

"په ۳۳۶ ق م کښې ئې د هندوستان مخه اُونیوه. د جهلم سره نزدې ئې د پنجاب د راجه پورس سره جنګ اوشو. په دغه جنګ کښې د راجه زوئے قتل شو او راجه ماتے اُوخوړ. ولې سکندر راجه پورس ته خپل مک واپس ورکړو..... د سکندر فتوحات دومره حد ته رسیدلی وو. چې د دُنیا زیاته برخه ئې قبضه کړې وه. او دا رنګ د هغه شمیر د دُنیا په نامتو فاتحینو کښې کیږی." (۲۳۵)

د جهلم راجه پورس ته د خپل ملک واپس کولو نه پس سکندر د بیاس غاړې ته اُورسید او غالباً د ګنګا جمنا سیمو ته د رسیدو په هڅه کښې وو. خو د هغه فوځیان بې کچه ستومانه شوی وو. او د وړاندې تلو نه ئې انکار اوکړو. سکندر خپل فوځ په دوه برخو کښې تقسیم کړو. یوه برخه فوځ ئې د سمندر په لار میسو پوټیمیا ته واستوو. او د دویمې برخې فوځ سره پخپله د مکران په سمندری غاړه غاړه بدقت بابل ته اُورسید. هم دلته تبې اونیوو او وفات شو. (۲۳۶)

==☆☆☆==

بیا له پسه سکندر شاه د محمد شاه وُه
چه په تخت ئے یوه نیمه میاشت مهلت وُ (۲۳۷)

خوشحال بابا ددې شعر نه وړاندې د ابابکر په هند د حکمرانی ذکر کړے دے. او په دې شعر کښې وائی چې د ابابکر نه پس سکندر شاه د هند د واک اختیار واگې په لاس کښې واخستې. حالانکې د ابابکر نه پس د سکندر شاه پلار محمد شاه څلور کاله بادشاهی کړې ده. ولې خوشحال بابا د هغه ذکر نه دے کړے.

## سکندر شاه:

د سکندر شاه د ژوند په حقله تاریخی کتابو نه څه نه لری. دومره معلومات ئې ضرور شته. چې د سلطان محمد شاه زوے او د سلطان فیروز شاه نمسے وو. د خپل پلار سلطان محمد شاه د مرگ نه پس په کال ۷۹۶هـ کښې په تخت کیښناست. دغه وخت چې پلار ئې مرگ حال وو. خبر رااُورسید چې "شیخاکهوکر"بغاوت اُوکړو. او په لاهور ئې قبضه اُوکړه. هم ددغې فساد غلی کولو د پاره سکندر شاه د نورو امراؤ سره روان شو. دے لا په لاره وو. چې د پلار د مرگ نه خبر شو. او دهلی ته راستون شو.

سبحان بټالوی لیکی. "چې د پلار د مرگ نه خبر شو. نو د شیخا کهوکر"مهم اُوځندؤ. دهلی ته راستون شو. او په تخت کیښناست. ولې عمر ورسره وفا اونکړه. او علاؤ الدین سکندر شاه عرف همایون خان ابن محمد شاه حق اُورسید. ده یوه میاشت او شپاړس ورځې مختصر شان حکومت اُوکړو. (۲۳۸)

خوشحال بابا هم په دغه شعر کښې د هغه د یوې نیمې میاشتې د لنډ شان حکومت ذکر کړے دے.

بیا له پسه د بهلول ځوے سکندر وه
چه عمل ئے موافق په شریعت وُ (۲۳۹)

دے شعر کښې خوشحال بابا د ستر پښتون نومیالی بادشاه سکندر لودی ذکر کړے دے. چې هغه د بهلول لودی زوئے وو. او عمل ئې د شریعت موافق وو. دغه حقیقت نورو تاریخی کتابونو هم راخستے دے. لکه محمد کبیر چې لیکی.

"هغه پینځهٔ وخته مونځ د جماعت سره ادا کوؤ. ډیر زیات نفلونه به ئې کول.

د تهجد او اشراق مونځونه چرته هم د هغه نه فوت شوی نه وو." (۲۴۰)

سکندر لودی به د سحر کیدو نه درې گنټې مخکښې پاڅیدو. د غسل کولو نه پس به ئې تهجد ادا کړل. چې درې سیپارې به ئې په قیام کښې وئیلې. (۲۴۱)

د ماښام د مونځ نه پس تر ماسخوتنه به هغه د علماء په صحبت کښې ناست وو. اود قرآن تلاوت به ئې کوو. او د لږ آرام کولو نه پس به ئې شپه شوکیر کوله. (۲۴۲)

هغه د سلطنت په ټولو جماعتونو کښې امامان، خطیبان، جاروکښ او اذان کوونکی مقرر کړی وو. او د هغوئ د وظیفو او خواک ئې باقاعده بندوبست کړے وو. (۲۴۳)

په مبارکو ورځو یعنی روژه او عاشوره کښې به ئې په فقیرانو او درویشانو خیراتونه ویشل. (۲۴۴) او قیدیان به ئې آزادول. (۲۴۵)

هغه به هره ورځ د اغوستو جامې او د ملاستې پالنګ بدلوؤ. او دغه جامې او پالنګ به ئې د یتیمانو جینکو جهیز ته بخښلو. (۲۴۶)

## سکندر لودهی:

دده اصلی نوم نظام خان وو. دے د سلطان بهلول لودهی زوئے وو. په کال ۱۴۸۹ء کښې د پلار په ځائے کیښناست. دده په زمانه کښې په ٦ جولائی ۱۵۰۵ء کښې ډیره سخته زلزله راغلې وه. (۲۴۷)

دے د لودهی خاندان ستر فرمانروا وو. دهٔ د ټولو نه اول کورنی کړمې حل کړې او سرکشه وررونه ئې رانده کړل. دده یو وړور باریک شاه څوک چې د جونپور حاکم وو. هغه د خپلواکی اعلان کړے وو. سلطان هغه له شکست ورکړو. او ددغه ځائے حاکم ئې دوباره اُوټاکلو. خو هغه خپلې پښې ټینګې نهٔ کړې. او دا شان سلطان دغه سیمه پخپل مملکت کښې شامل کړه. (۲۴۸)

دهٔ ملکی انصرام سم کړو او د دهلی وقار ئې په ځائے کړو. د تګ راتګ د سهولتونو بندوبست ئې اوکړو. پولیس ئې یو ځل بیا منظم کړل. او په مختلفو ځایونو ئې څوکۍ جوړې کړې. په غله ئې محصول

معاف کړو. چې ددې سره غلې ډیرې ارزانې شوې. ددهٔ سره د عدل و انصاف په حقله ډیر فکر وو. ځکه نو پخپله به ئې د اُولس شکایتونه اُوریدل او د انصاف فیصلې به ئې کولې. سلطان د جاسوسی یوه اعلیٰ محکمه جوړه کړې وه. د څه نه به چې هغه ته هر رنګه خبرونه میلاویدل. دهٔ په ۱۵۰۴ء کښې د "اګرې" بنیاد کیښود. دا یو داسې مرکزی ځائے وو. د چرته نه چې د ټولو سرکشه علاقو نګرانی کیدې شوه. (۲۴۹) سلطان سکندر به د مسلمانانو سره رعایت کولو. په عاشوره او اخترونو به ئې مسکینانو ته ډیر خیراتونه ورکول. د امامانو، خطیبانو، مؤذنانو او مدرسینو د پاره به ئې د سرکاری خزانې نه تنخوا ګانې ورکولې. د شپې به په بدله جامه کښې ګرځیدو او د خلقو حالات به ئې معلومول. غرض دا چې سکندر ډیر ویښ او بیدار مغز بادشاه وو. (۲۵۰)

"دغه دوران کښې بادشاه ډیر سخت ناروغه شو. او بیا د هغه تکلیف دے حد ته اُورسید. چې د حلق نه ئې نمړی نه تیریده. د ساه لاره ئې بند شوه. اُووه میاشتې پس په ۹۲۳هـ کښې ددې فانی دُنیا نه رخصت شو. (۲۵۱)

== ☆☆☆ ==

چارے د دهر په هغه دستور دی
لکه په تورو په سپین مسطور دی
لاهم هغه دی چه په کښے ورکے
هومره لښکرے د سلم تور دی (۲۵۲)

☆

سلم، تور غونډ فلک هسے پرے نه ښول
ډیر نا اهل د کردار له لاسه خوار وو (۲۵۳)

سلم، تور د ایرانی تاریخ دوه نه هیریدونکو کردارونه دی. دا دواړه د لوئے ایرانی بادشاه فریدون زامن وو. چې هغه پرې پخپل ژوندانه خپله بادشاهی ویشلې وه. خو دوئ دواړو خپل کشر ورور ایرج د بادشاهی د پاره قتل کړو. او د خپل ناوړی کردار او نا اهلی څرګندونه ئې اُوکړه. خوشحال بابا په دغه شعرونو کښې د هغوئ د قوت سره سره کردار ته هم اشاره کړې ده.

## سلم، تور:

"د لوئے ایرانی بادشاه فریدون درے زامن وو. چې سلم، تور او ایرج نومیدل. ایرج د ټولو نه کشر وه. ډیر پوهه، زیرک او د بادشاهت لائق وو.

فریدون د درے واړو زامنو ودونه د یمن د حاکم "سرو"د لونو سره اُوکړل. چې زامن ئې د مته د تینګولو شول نو خپل مملکت ئې تقسیم کړو. د روم او خاور علاقه د سلم په برخه اُورسیده. د توران سیمه ئې "تور"ته اوسپارله. او د ایران د واک واګې ئې ایرج ته ورکړې. پخپله فریدون دُنیا پریښوده. ګوشه نشینی ئې اختیار کړه او په عبادت کښې مشغول شو. ورځې تیریدې "ایرج" ته د "سلم" په زړه کښې خیرے پیدا شو. دهٔ خپل ورور "تور" ته اُولیکل چې "ایرج"په مزو کښې دے. د ایران خاوره په امن ده. مونږ خو هر وخت د شر فساد او جنګونو سره مخ یو. پلار د تقسیم په وخت مونږ سره زیاتے کړے دے. که ستا خوښه وی. نو چې

ددے شوی زیاتی څه حل لار را اُوباسو. ددے لیک په ځواب کښې "تور" هغه ته اُولیکل چې تهٔ اول پلار ته دا بې انصافی په گوته کړه. او ورته اُووایه چې که هغه د ایران زمکه مونږ ته راکړی. نو سمه ده گنی نو بیا به مونږ په توره راخستلو مجبوره شو. په دې خبره امنا اُوشوه. او "سلم" پلار ته الیچی اولیږو.

فریدون ته چې د "سلم" "تور" لیک را اُورسید. نو هغه ډیر زیات خفه شو. "ایرج"ئې را اُوبللو. او د ورونو د ناوړو ارادو نه ئې خبر کړو. صلاح په دې اُوشوه. چې تهٔ کشر ئې اُوره بنکته کړه. او د سرې سینې نه کار واخله. بیا ئې "ایرج" له یوه لیکنه ورکړه. چې دا واخله او د ورونو څنگ له لاړ شه. ددغې لیکنې لندیز څه داسې وو.

"دا ستاسو کشر ورور دے. او تاسو دواړه د پلار په ځائے گنی. دے نهٔ د تاج هیله مند دے او نهٔ تخت غواړی. بلکې صرف او صرف ستاسو د رضا مندی پامته داره دے. تاسو له پکار دی چې د خپلو زړونو نه زنگ لرې کړئ. که چرته ددهٔ نه په هیره څه خطا شوې وی. نو د مشری په اړ دهٔ ته معافی اُوکړئ. او د خپل پلار دردیدلے زړه خوشحاله کړئ. هسې نه چې ستاسو په وجه ملک وران ویجاړ شی."

کله چې "ایرج" ددې لیکنې سره سلم، تور ته اُورسید. نو هغوئ د پلار ددې لیکنې هیڅ خیال اُونهٔ ساتلو. او ایرج ئې قتل کړو. ولې څه موده پس د ایرج نمسی منوچهر د سلم، تور نه د خپل نیکه بدل واخستو. او دواړه ئې قتل کړل." (۲۵۴)

== ☆☆☆ ==

په دولت کښې په حشمت کښې که سنجر شې یا طغرل شې
یوه نخښه رابښکاره کړه له سنجره له طغرلً (۲۵۵)

☆

د لکونو پیدا غول کړه د جهان ګنجونه تول کړه
نه به ته نه به ستا پُشت وی بیا سنجر شو یو څو پشتً (۲۵٦)

☆

سنجر بنه دینی بادشاه ؤ
بې خبر نه ؤ آګاه ؤ
په سنجر یې سلام ووے
سنجر هیڅ ورته ونه وے (۲۵۷)

☆

چې سنجر په حال آګاه شه
و درویش ته عذر خواه شه
سنجر شاه ووې درویشه
چې څه چار شی راته پیښه (۲۵۸)

☆

سنجر محو په حیرت شه
د درویش نه په منت شه
درویش دا ووې سنجره
شاهی چار ده ډیره غوره (۲۵۹)

☆

سنجر خوښ شه تر حد بېشه
اندیښنه شوه ورته پېښنه (۲۶۰)

## سنجر (سلطان):

"سلطان سنجر د ملک شاه سلجوقي دریم اولاد وو. په کال ۱۰۹۲ء کښې ئې خراسان فتح کړو. او وروسته د ټول خراسان بادشاه اومنلې شو. دے بادشاه د غزنوی خاندان بهرام له شکست ورکړے وو. او د غزنی اخستو نه پس ئې هغه ددغه ځاے په ګدی د خراج ګذاری په شرط پاتے کړے وو. علاؤ الدین هم ددهٔ خراج ګذار وو. دے په کال ۱۱۵۷ء کښې مړ شو او په مرو کښې ښخ کړے شو. ددهٔ نه پس په خراسان کښې د سلجوقي کورنی مونډ اووت." (۲۶۱)

"حقه خبره خو داده چې سلطان سنجر د خپل خاندان د عظمت او ناموس ساتندویه وو. ټول خاندان به هغه ته د یو دروند مشر او لاربنود په سترګه کتل. حکومت ئې د غزنه، خوارزم او ماورالنهر پورې خور شوے وو. او حکومتی خطبه ئې د اران، ارمینیه، آذربائیجان، موصل د یار ربیعه، دیار بکر او حرمینو پورې لوستې شوه. دے د سلطان اعظم په لقب مشهور وو." (۲۶۲)

ټول مؤرخین په دې خبره اتفاق لری. چې سنجر د ایران په سپیځلو بادشاهانو کښې شمیرلے کیږی. هغه ډیر بهادر زړه سواندے، اولس خوښه او هنر پرور بادشاه وو. د هغه د دربار سره ډیر شاعران، فاضلان او عالمان تړلی شوی وو. د عباس اقبال د لیکنې تر مخهٔ څومره قصدیې چې د سنجر په ستائینه کښې وئیلې شوې دی. د بل هیچا په شان کښې دومره قصېدې نه دي وئیلې شوی. د مؤرخینو د وینا تر مخه ددهٔ په دربار کښې یوهٔ شاعره هم یادولې شی. چې د هغې نوم یا تخلص مهستی وو. د سنجر د دربار سره په زرګونو شاعرانو تعلق لرلو. چې پکښې نامتو او مقبول شاعران امیر معزی، ادیب صابر او انوری یادیږی. د چا دا شعر چې د سنجر په باره کښې یو ضرب المثل ګرځیدلے دے.

در جهانی و از جهان بیشی
هم چون معنی که دربیان باشد

"خاقانی هم دده دربار ته د رسیدو ډیر ارزومند وو. خو د "غز" د فتنې له کبله د هغه دا ارزو نیمګړې نیمه خوا پاتې شوه. (۲۶۳)

== ☆☆☆ ==

د خوشحال ختک طالع تر خرم بنه دے
چه بندی شو خاوند بیا وروسته تر تخت (۲۶۴)

☆

اے خوشحاله که په تن شاه جهان شے
هم به دروہے په ارمان د مرګ له لاس (۲۶۵)

☆

که په تن شاه جهان د زمانے شے
هم د نه وینم خلاصے د مرګ له تیغ (۲۶۶)

☆

که واړه خزانے د شاهجهان بادشاه څما شی
همه واړه به زه په یوه خال د خوبا ورکړم (۲۶۷)

☆

د اګرے په کوټ کنیے بند شاه جهان دے
د دارا به هغه کوم فانی جناب کبنم (۲۶۸)

☆

نن هغه شاه جهان د زمانې دے
چه دسته ئې د ګلونو په دستار شته (۲٦۹)

☆

شاه جهان بادشاه د چا په بند بندی دے
راشه ګوره ازمائش د زمانې (۲۷۰)

☆

ما د شاه د خولې سودا کړه په کروړونو ئې بها کړه
خوله ئې لنډه د هر چا کړه مګر دا په شاه جهان شی (۲۷۱)

☆

د دُنیا په لوئي څه باور خوشحاله!
پرون دور د خرم نن د اورنګ دے (۲۷۲)

☆

اورنګ زیب بادشاه هم ځوے د شاه جهان دے
خبردار به ئیے ددۀ په کاروبار ! (۲۷۳)

☆

شاه جهان غوندِ بادشاه په بند بندی کړے
په اورنګ باندِ خطاب د محی الدین ردے (۲۷۴)

☆

یا د خپل اولاد دلاسه شاه جهان زده
یا خوشحال دے په فریاد په ناره سر (۲۷۵)

☆

قدر دان ځما د کار شاه جهان وه

د اورنگ بادشاه ښکاره دے خود احوال (۲۷٦)

☆

زۀ د شاه جهان بادشاه دننه د زړه سر وم

چار مے اورنگ زیب په نادانئ کړه برهمَ (۲۷۷)

☆

شاهجهان لا په اندوه د ترکستان وه

تا ناګاهه بله چار کړه ورعیانَ (۲۷۸)

☆

چه دا هسے شوم قدم دِ په ملک کډ کړ

چه دِ کورم څه ناپوه ئے شاه جهانَ (۲۷۹)

☆

د هغه دور بادشاه وه

قدر دان شاه جهان (۲۸۰)

☆

دا زینت چه شاه جهان و دهلی ورکړ

بل بادشآه کله ورکړے دا زینت وُ (۲۸۱)

☆

چه به جوړ د شاه جهان بادشاه دربار شو

په دربار کښے به ئے دوه اویا ملت وُ (۲۸۲)

☆

اوس بادشاه شاه جهان د جهانګیر دے
چه په بلخ په بدخشان دده نوبت دے (۲۸۳)

☆

دا بِنا د آصف خان له لاسه شوے
او په حُکم د خورم په کښے دا کار شی (۲۸۴)

☆

څه بنه بادشاه وے شاه جهانَ
هم غور رسه .هم قدر دانَ
چه ته ئے بند کړے څویه دِنه دے
یوه بلا دے پیدا له تانَ (۲۸۵)

☆

نه به په بیارته څما څوانی راشی
نه به بیا دور شاه جهانی راشی (۲۸۶)

☆

کله ما وته ویل کړے چه خدمت کره
په خدمت کښے دلنشین د شاه جهان شه (۲۸۷)

☆

د دهلی تخت که تل په یوه کس وے
تل به نه وه بانډِ یے دَ شاه جهانه (۲۸۸)

☆

کلیله دمنه چه لولی
دانایان گنړي خپل ځان
که په دا کښې څه فائده وے
بند به نه وه شاه جهان (۲۸۹)

☆

بیا ئې مراد بخش د شاه جهان سره کړ سم
یوړئے تر ملتانه په دارا پسے پرچم
بیا په اګره راغے په دارا ئے کړ تورتم !
بند ئیے شاه جهان کړ تر ئے بیل کړ درست حشم (۲۹۰)

☆

شاه جهان بادشاه څه لږ نه وو نمنځلي
چه په بند شو همګی وو ځنے تللي (۲۹۱)

☆

نه چې بل شاه جهان ؤ
چې ثاني صاحب قران ؤ (۲۹۲)

☆

په دوران د شاه جهان بادشاه ځواني وه
میسره د زړه هره کامراني وه (۲۹۳)

لوئے مغلي بادشاه، شاه جهان، خوشحال بابا پخپل کلام کښې ډیر ځله یاد کړے دے. دغه یادونه چرته د شاه جهان سره د خپل زوئے اورنګزیب عالمګیر د ناروا سلوک، ظلم او په بند کښې د اچولو سره تعلق لري. او چرته هم په دغه مناسبت سره خوشحال بابا خپل ځان یادوي. چې پکښې د خپلو زامنو د بدسلوکي

نه سرټکوي. دغه رنګ د شاهجهان ستائينه کوي. چې هغه زما د کار قدردان وو. زۀ ئې د زړه سر ووم. ولې اورنګزيب د خپلې ناپوهئ له وجې زما هر چاره برهم کړه. ددې سره سره هغه په شاه جهان بادشاه هم ټکونه کړي دي چې د زامنو تر مينځه د خانه جنګئ او په ملک کښې د اړې ګړې ذمه وار هم هغه دے. ددې نه علاوه ئې شاه جهان په نورو مختلفو حوالو ياد کړے دے. چې پکښې د هغه د خزانو، د شان و شوکت، د دهلې د ابادولو، د دهلې د زيب وزينت او د اصف خان په لاس د باغ جوړونې وغيره ذکر شامل دے.

شاه جهان (خرم):

"شهزاده خرم چې په تاريخ کښې په عمومي توګه د شاه جهان او شهنشاه والا شان په لقبونو ياد ولے شي. د جنورئ په پنځمه نيټه کال ۱۵۹۲ء کښې د زيارت په شپه په لاهور کښې پيدا شو. دا ددۀ د نيکه د دور حکومت شپږ دريشتم کال وو. ددۀ مور د راجپوت خاندان شهزادګۍ وه. چې مان متي يا جګت ګسا نوبيده. ددې سره جهانګير په ۱۵۵٦ء کښې واده کړے وو. ددې شهزادګۍ د پلار نوم موټا راجه اودے سنګهـ وو." (۲۹۴)

"کله چې شاه جهان د څلور کالو شو. نو دده د مکتب رسم ادا کړے شو. ددۀ وړومبے اُستاد ملا قاسم بيګ تبريزي وو. څوک چې د مشهور عالم مرزا جان تبريزي شاګرد وو. ددۀ نه پس د شهزاده اتاليق حکيم علي ګيلاني اوټاکلے شو. څوک چې يو مشهور طبيب وو او د نورو ډيرو اعلیٰ خوبو مالک وو. د دوئ نه علاوه چې د شهزاده د ذهني روزنې، لارښودنې او کرداري تشکيل د پاره کوم عالمان مقرر کړے شوي وو. په هغوئ کښې د شيخ صوفي تذکره ډيره ضروري ده. دے د مياں وجيه الدين ګجراتي شاګرد، خوش مذاق شاعر او آزاد طبيعته سړے وو. ددۀ بل اتاليق شيخ ابو الخير برادر شيخ ابو الفضل ياديږي. وئيلې شي چې ددې عالمانو صحبت به دده ذهن ته خـلا ضرور بخښلې وي. ولې د پلار په خلاف ددۀ ذهن زيات عملي وو. او کم مفکرانه وو." (۲۹۵)

"د جهانګير د مړينې په وخت د هغه دوه زامن شهريار او خرم ژوندي وو. شهريار د نور جهان زوم وو. او په خرم د آصف خان لور واده وه. کله چې جهانګير وفات شو. نو آصف خان دکن ته پخپل زوم پسې د تخت قبضه کولو د پاره استازے اوليږلو. او خپله ئې په شهريار پسې لښکر اوکړو. هغه له ئې ماتے ورکړو. او

بیا ئې ترې سترګې اوووېستې. دغه دوران کښې خرم اګرې ته را اُورسید. او هغه ټول خلق ئې قتل کړل چا چې د تخت دعویٰ لرله خرم د شاه جهان په نوم د ملک اختیار په لاس کښې واخستو. هغه د اقتدار سنبالولو سره سم د جنګونو سره مخ شو. اول ئې د سر لښکر خان جهان لودهی پاڅون غلے کړو. بیا ئې په ۱٦۳۲ء کښې احمد نګر د خپل سلطنت سره یو ځائے کړو. دغه رنګ د بیجاپور او ګولکنډې د ریاستونو سره ئې د محصول ورکولو په ترڅ کښې پنجه واچوله. په ۱٦۳۸ء کښې ئې قندهار واخستو. او پرتګیزیان ئې اووهل او کلی ئې ورله اُوسیزل." (۲۹٦)

"د شاه جهان دور د مغلو د فن تعمیر یوه شانداره دوره وه. شاه جهان پخپل ځانی د ابادو، ودانو کولو ډیر زیات شوق لرلو. او د هغه ددغې شوق ښکاره نمونې د دهلی، لاهور، کشمیر او کابل عالیشانه آبادی او عمارتونه.دی. اګره کښې ئې د خپلې ښځې ممتاز محل په یاد کښې د درے کروړه روپو په لګښت تاج محل جوړ کړو. هم دغلته د موتی جمات او په دهلی کښې د لال قلعه او ورسره د جمات ودانی د یادونې وړ دی. د دهلی دا موجوده ښارهغه پخپل نوم "شهر شاه جهان"آباد کړے وو. په لاهور کښې د جهانګیر مقبره او شالیمار باغ د شاه جهانی دورې شاهکارونه دی. تخت طاوس شاه جهان د خپلې ناستې د پاره په یو کروړ روپۍ جوړ کړے وو. چې په ۱۷۳۹ء کښې نادر شاه د ځان سره ایران ته یوړو. نهر جمن هم دده په دور کښې د علی مردان خان په نګرانی کښې ویستلے شوے وو." (۲۹۷)

"شاه جهان د اګرې په قلعه کښې د اورنګزیب د تخت نشینی نه پس اته کاله ژوندے وو. دغه اته کاله د اورنګزیب سرو د هغه سخته نګرانی کوله. تر دې چې هغه ته د خط لیکلو اجازت هم نه وو. په ۲۲ جنوری۱٦٦٦ء کښې چې د شاه جهان عمر اویا کاله وو. حق اُورسید. د هغه د وصیت مطابق په تاج محل کښې خاورو ته اُوسپارلے شو. یوه میاشت پس چې اورنګزیب قلعه ته لاړ. نو جهان آرا ورته د پلار له طرفه یو خط ورکړو. دغه خط کښې پلار اورنګزیب نه یوازې معاف کړے وو. بلکې بیش بها جواهرات ئې ورته ډالی کړی هم وو. (۲۹۸)

==☆☆☆==

بیا د څه فتنې آغازې کړې اسمان
چه عباس د را روان کړ له ایران (۲۹۹)

"د ذی الحجې ۱۰۵۸ هـ کښې عباس صفوی ثانی د ایران بادشاه په قندهار حمله اوکړه. شاهجهان هم ددهٔ د مقابلې د پاره یو لوئې فوځ د خپل ځوې اورنګ زیب په ماتحتی کښې اولیږلو او په خپله هم د مهم د نګرانۍ د پاره په ربیع الاول ۱۰۵۹ هـ کښې کابل ته روان شو." (۳۰۰)

دې شعر کښې په قندهار د حملې په بنیاد د عباس صفوی ثانی نامه راغلې ده.

## شاه عباس صفوی ثانی:

د شاه صفی د وفات نه پس د هغه زوې عباس دوم د لس کالو په عمر کښې په تخت کیښناست. د هغه د وړوکوالی په وجه ملکی چارې د امیرانو په لاسو چلیدې. ددهٔ په دور کښې امیران د شریعت احکام په زبردستۍ سره نافذ کړل. او په ملک کښې جوړې شراب خانې ئې بند کړې. خو کله چې شاه عباس ثانی پخپله د مټو د تېنګولو شو. نو هغه د شریعت په احکامو کښې نرمی راواخسته. تر دې چې د شراب خانو بندې دروازې ئې بیا پرانستې. هغه پخپله هم د حد نه زیات شراب څښل. او د ډیرې شراب نوشی له وجې به هغه داسې حرکات کول کوم چې به د یو بادشاه سره نه ښائیدل. ولې د حیرانۍ خبره داده. چې هغه چرته هم د انصاف نه لاس نه دې اخستی. کومو امیرانو چې به په لاس لاندې خلقو ظلم کوؤ. هغوئ به ئې په سختۍ سره منع کول. دے یو ډیر ارت زړے بادشاه وو. د هر مذهب احترام به ئې کوؤ. دهٔ به وئیل چې ایمان د باطن سره تعلق لری. او د باطن حال صرف خدائې ته معلوم دے. زهٔ خو صرف د ظاهری دُنیا بادشاه یم. هم دغه وجه وه چې دهٔ به د هر مذهب والا سره د انصاف او ورورولۍ لانجه شړله. او د هر چا سره به ډیر په مینه میلاویدو. ددهٔ په وخت کښې اولس مطمئن او خوشحاله وو.

ددهٔ د پلار په وخت کښې چې (اُوزبکو) په قندهار قبضه اُوکړه. نو دهٔ د یو لوئې لښکر سره په اُوزبکو حمله اُوکړه. په اُوزبکو ئې فتح حاصله کړه او قندهار ئې یو ځل بیا د خپل مملکت برخه جوړه کړه.

آخر دا لوئې بادشاه په کال ۱۰۷۷ هـ کښې ددې فانی دُنیا نه لاړ." (۳۰۱)

== ☆☆☆ ==

په دا کال چه شاه عالم راغے له هنده
صلح وشوه د مغلو د افغان (۳۰۲)

دا شعر چې د شاه عالم نامه لری. د کنبت د جنگ نه پس وئيلې شوې دے. په دغه کال ۱۰۸۷هـ اورنگزیب عالمگیر خپل مشر زوی محمد معظم د پښتنو په مهم مقرر کړو. او د شاه عالم په خطاب ئې اونمانځلو. دۀ سره ئې د نورو لويو لويو امراء نه علاوه امير خان هم ملگرے کړو. د امير خان سره د خوشحال خان ډير نزدې تعلقات وو. او د خوشحال بابا د قيد نه د خلاصی په لړ کښې ئې ډير اهم کردار ادا کړے وو. هم دغه وجه وه. چې کله امير خان د شاه عالم سره دې پله راغلو. نو خوشحال خان د امير خان په بلنه پيښور ته وراغے. او ورسره ئې اُوليدل. چې په نتيجه کښې ئې د مغلو او پښتنو روغه ستاله مينځ ته راغله. خوشحال بابا په دغه تناظر کښې د شاه عالم نامه راوړې ده.

"شاه عالم بهادر شاه د عالمگير اورنګزيب دوئيم زوی ؤ. چې د پلار د مرگ پر وخت په کابل کښې ؤ. له کابل نه لاهور ته لاړ او په دهولپور کښې د خپل ورور محمد اعظم تر وژلو وروسته په ۱۱۱۹ق/۱۷۰۵ء د محرم د سلخ په لومړ يو شپو کښې پاچا شو." (۳۰۳)

د شاه عالم د مور پحقله خافی خان نظام الملک څه دا رنگ ليکی. چې سيد شامير د سيد عبدالقادر جيلانیؒ د اولاده وو. کله چې سيد شاه مير کشمير ته راغے. نو ددغه ځائې راجه ئې په عقيدت مندو کښې ځان شامل کړو. او خپله لور ئې هغه ته د خدمت د پاره ورکړه. سيد شامير دغه جينی مسلمانه کړه. او پخپله نکاح کښې ئې واخسته. وروسته ددغې بی بی نه يو هلک او يوه جينی اوزيږده. دغه جينی خوئې په رنگ ښائسته وه. خپل نيکه چې دغه وخت د کشمير راجه وو. هغه د نورو تحفو سره د شاه جهان دربار ته واستوله. شاه جهان د هغې د تعليم د پاره اُستاذان مقرر کړل. د علم نه علاوه دغې جينی ډيرې ژبې هم زده کړې. او بيا شاه جهان د خپل زوی محمد اورنگ زيب سره ددغې جينی نکاح اُوکړه. ددغې سيدې نه شاه عالم بهادر شاه پيدا شو." (۳۰۴)

## شاه عالم بهادر شاه (محمد معظم):

د رجب په درویشتمه کال ۱۰۵۰هـ د نواب بائی ملکې له نوسه اُوزیږیدو. د پلار د اعلیٰ تربیت او د خپل فطری قابلیت له وجې شهزاده د وړوکوالی راسې علم و فضل پله راغب وو. دے لا کم عمره وو چې قرآن ئې حفظ کړو. او د قرأت او تجوید مهارت ئې حاصل کړو. دۀ به دومره په خوږ آواز د قرآن تلاوت کولو. چې اوریدونکی به پرې نه مړیدل. دۀ د ځوانئ تول وختونه د علم په حصول کښې تیر کړل. او د علم سره سره ورته د عمل توفیق هم نصیب شو. بادشاه سلامت د احادیثو د فن سره هم بې کچه مینه لرله. او په علم الحدیث کښې ئې دومره پوهه تر لاسه کړې وه چې د احادیثو عالمانو هغه ته د "سردار محدثین" لقب ورکړے وو.

دۀ ته د فقهې په علم هم لاس برے حاصل وو. او د شرعی مسائلو استنباط به ئې د قرآن او حدیث نه ډیر په زړورتیا کولو. ددې نه علاوه هغه ته په عربی، فارسی او ترکی ژبو هم ښه عبور حاصل وو.

بادشاه سلامت د خوشخطی په فن کښې خپل ثانی نه لری. او په خط لیکنه کښې د استاذی مرتبه لری. د شپې زیاته حصه په نفلونو او تلاوت کښې تیروی. د حدیث، فقهې، تفسیر او سلوک کتابونه لولی. د سحر مونځ په وړومبی وخت کښې ادا کوی. او مصلې نه د اشراق مونځ کولو نه پس راپورته کیږی. بیا د مظلومانو او زېلو خلقو فریادونه اوری او د عدل و انصاف حکم کوی." (۳۰۵)

"د تخت نشینیپه وخت د شاه عالم بهادر شاه عمر شپږ شپیته کاله وو. په داسې عمر کښې د هغه نه د څه لوئې کار توقع هم نه شوه کیدې. د "ارون" په نزد هغه یو صبرناک، عالم، فاضل، باوقار او د کمزورۍ ترحده سخی بادشاه وو. هغه چرته هم څوک سرکاری نوکر خفه کول نه غوښتل. هم دا وجه وه چې په چا ئې هم سختی نه کوله. هغه کښې د سیاسی او انتظامی خوبو ډیر کمے وو.

سره ددې چې د هغه په کردار کښې څه نقص نه وو. خو هغه په ملکی معاملاتو کښې د دومره ډیرې نرمۍ او لاپرواهۍ مظاهره کوله. چې پوهانو به طنزاً د هغه د تخت نشینئ تاریخ د "شاه بے خبر" د الفاظو نه

راویستلو." (۳۰٦)

"تر پنځو کالو پاچایی وروسته په ډیلی کښې د ۱۱۲۴ ق/ ۱۷۱۲م د محرم پر ۱٦ ناروغه او درې ورځې وروسته مړ شو. (۳۰۷)

==☆☆☆==

بیا له پسه جسونت سنګهـ شجاعت خان وه

چه ایمل ئې په ګنداب ویوست دمار (۳۰۸)

## شجاعت خان رعد انداز بیګ:

"د عالمګیر د دورې سردار دے. په شروع کښې دهٔ ته مناسب منصب او د "خان"خطاب ورکړے شوے وو. د عالمګیر د جلوس په وړومبی کال چې هغه د سلطان شجاع د مقابلې د پاره تیارے کوؤ. نو دے ئې د ذوالفقار خان په ځائے د اکبر آباد قلعه دار مقرر کړو." (۳۰۹)

"لږې ورځې پس ددغې ځائې نه لرې کړې شو. او د داراشکوه په دویم جنګ کښې د قرا ولی فوځ کښې شامل کړے شو. د عالمګیری جلوس په دریم کال د رام سنګهـ سره د سری نګر د زمیدار د قلعه ورانولو په غرض اُولیږلے شو. جلوس عالمګیری په څلورم کال عاقل خان بدل کړے شو. او دهٔ ته د دوابې فوځداری اُوسپارلې شوه." (۳۱۰)

"د عالمګیری جلوس په شپږم کال دے د همت خان په ځائے د اکبر آباد د خواو شاه عـلاقې فوځدار اوټاکلے شو. دغه رنګ یو کال پس د اعتبار خان په مړینه دهٔ ته د اګرې قلعه داری حواله کړې شوه. د اصل او اضافې نه وروسته شجاعت خان په دوه زریز ذات او یونیم زریز سورو په منصب سرفراز کړے شو." (۳۱۱)

"د عالمګیري جلوس په نهم کال چې ملتفت خان بدل کړے شو نو دے "میرتوزکی" شو. یو کال پس د توپ خانې داروغه شو. په دولسم کال د جلوس عالمګیری دے د هغه باغیانو د ختمولو د پاره مقرر کړے شو کوم چې د دهلی خواوشا په شرفساد کښې بوخت وو. دغه وخت دهٔ ته د سرو سازو سامان او یو آس ورکړے شو. د عالمګیری جلوس په پنځلسم کال چې ست نامیانو د میوات خوا ته بغاوت اوکړو. نو دهٔ دغه بغاوت په ډیر کامیابۍ سره اُوچقوو. کله چې د بادشاه په خدمت کښې حاضر شو. نو ډیر شاباسے ئې اُوګټو. او د "شجاعت خان" په خطاب اونمانځلے شو. هم په دغه موقع دے د درې زره پنځسویز ذات او دوه زریز سورو په منصب سرفراز کړے شو." (۳۱۲)

"د جلوس په شپاړلسم کال ورته د څلور زریز ذات او دوه زره پنځسویز سورو منصب ورکړے شو. او د نارامه پښتنو د مقابلې د پاره کابل پله واستولے شو. د عالمګیری جلوس په اوولسم کال چې کله هغه په اباسین پورې ووت او د کړپې درې د سر کولو د پاره ئې خپل لښکر سمولو. نو پښتنو د دوئ ددغه غر په تنګو لارو کښې تلل ګران کړل. سره ددې چې سخت جنګ اُوشو. او دوئ ډیر کوشش اوکړو. چې لار اُوباسي. ولې د جنګ په دوران کښې شجاعت خان په ۱۰۸۴هـ کښې مړ شو." (۳۱۳)

== ☆☆☆ ==

په دُنیا کښے که شداد شے بیا به ته په بلا یاد شے  
که بهشت په دُنیا روغ کړے څه د سود دے له بهشت (۳۱۴)

☆

په شداد ئے فساد کړے  
په قارون ئے وکړ لا (۳۱۵)

## شداد:

"شداد بن عاد بن ملطاط بن جشم بن عبدالشمس بن وائل بن حمیر بن قحطان د قدیمی یمن بادشاه وو. دۀ د حمیری قبیلې سره تعلق لرلو. دے یوازینے بادشاه وو. چې د دۀ بادشاهی حمیریانو اؤ قحطانو دواړو منله.

شداد د لغمان ابن یعفر نه پس د یمن په تخت کیښناستو. ددۀ د تاج پوشی رسم په صنعاء کښې ادا کړے شو. ددې بادشاه عجیبه طبیعت وو. چې څه به ئې زړه منل. هغه به ئې کول. دے یو ړنګونکے بادشاه وو. هر څه به ئې ورانول. د فتوحاتو په سلسله کښې تر ارمینیا رسیدلے وو. بیا شام ته واپس شو. او مخه ئې مغرب ته اُوکړه. ځائې په ځائې ئې د ښارونو ورانولو او آبادولو سلسله جاری اُوساتله. (۳۱٦)

خدائے پاک هود علیه السلام دۀ ته د هدایت د پاره رااولیږو. خو هغه اُونه منو. وئیل ئې چه که زۀ ستا دین قبول کړم نو ماته به څه فائده وی. هود علیه السلام ورته ووے چه خدائے پاک به د هغے په بدله کښے تا ته جنت درکړی. شداد اووئیل چه ته ماله د جنت طمع راکوے. زۀ به ځانله هم دلته جوړ کړم.

وئیلے شی چه د شداد د حکم لاندے زر ملکونه او زر ښارونه وو. د ټولو ملکونو خزانے ئے راجمع کړے او حکم ئے اوکړو. چه د ټولو نه مخکښے څلویښت ګزه لاندے زمکه اُوکنئ. او د سنګ مرمرو نه د جنت بنیاد کیږدئ. دیوالونه د سرو او دسپینو زرو په خښتو سره اوچت کړے شو. چت او ستنے ئے د شنو زمردو نه جوړے شوے. ونے ئے د سرو سپینو زرو وے، پاڼرے ئے د شنو زمردو وے. او ډنډرے ئے د سرو یاقوتو وے. میوے ئے هر قسمه په کښے لګولے وے. د خاورو په ځاے پکښے مښک، عنبر او زعفران وو. د ګټو په ځاے په کښے لعلونه او ملغلرے وے. نهرونه په کښے د شرابو او شهدو جاری وو. د جنت په دروازے باند څلور میدانونه جوړ کړے شوے وو. او وُنے د میوے پرے لګولے شوے وے. په هر میدان کښے یو لک د سرو سپینو کرسئ جوړے کړے شوے وے. د هرے کرسئ مخے ته هر قسمه نعمتونه کیښنوے شوی وو.

په ټول ملک کښے چه ځومره حسین و جمیل هلکان جینکئ وے، هغه ئے ورته راجمع کړی وو. چه د حورو غلمانو په ځاے په جنت کښے د هغه خدمت اوکړی. (۳۱۷)

"دا مصنوعي جنت په پنځه سوه کاله کښې تياره کړے شوے وو. هر کله چې مکمل شو. نو شداد په ډير شان و شوکت سره د د دوه لکه غلامانو په اردل کښې ددے جنت د ننداري د پاره روان شو. ولې مخکښې ددې نه چې "شداد" پخپل جوړ کړے شوی جنت (باغ ارم) کښې پښه کيږدی. د مرګ فرشتې ترې ساه واخسته. او د سترګو په رپ کښې آسمانی تندر د شداد ټول قوم سره د باغ ارم لګړه او ايرې ايرې کړو." (۳۱۸)

==☆☆☆==

بيا له پسه شمس الدين دده پالک ؤ

چه په خلقو ئے آواز د عدالت ؤ (۳۱۹)

شمس الدين د قطب الدين ايبک غلام وو. چې هغه ئې لکه د خپلو زامنو تربيت کړے وو. وروسته ئې د زوم په صورت کښې زوئے هم جوړ شو. او کله چې د قطب الدين ايبک د مرګ نه پس د هغه خپل زوئے آرام شاه په تخت کيښنولے شو. نو لږه موده پس ثابته شوه چې هغه د تخت و تاج جوګه نه دے. ځکه نو شمس الدين ته د ملک اختيار ورکړے شو. دغه وخت دهٔ ته ځنو ګورنرانو ډير مشکلات پيدا کړل. ولې ده پسې توره روانه خستله. بلکې د رشتو کولو په جوړ ئې ددغه ګورنرانو سرکشی ختمه کړه. په فوځی مد کښې ئې راجپوتان يو ځل بيا رامخې ته کړل. او د هندوانو د بغاوتونو خبر ئې واخستو. دغه رنګ ئې د راجپوتانه او ګنګا دواب په اخستلو خپل ملک په اندرونی توګه مستحکم کړو. د عالمانو او مشائخو سره ئې ډير ښه تعلقات قائم کړل. چې په نتيجه کښې ئې ددهٔ حکومت ته ډير تقويت اُورسيد. ددې نه علاوه ئې د يو ماهر سياستدان په توګه جلال الدين خوارزم شاه له په دهلی کښې پناه ور نه کړه. او دا شان ئې خپل سلطنت د منګولو د حملې نه اوژغورلو. ددې هر څه نه سر بيره هغه د عباسی خليفه المستنصر بالله نه د هلی د ازادی او خپلواکی په حقله سند او خلعت واخستلو. او خپل سلطنت ئې بې حده فراخه کړو. لنډه دا چې شمس

الدین په خپل دور اقتدار کښې ډیرې ارزښتناکې ګټې اُوکړې. او اسلامی سلطنت کښې ئې د همالیې نه تر نربدا پورې او د سنده نه تر بنګال پورې علاقې شاملې کړې. د دومره ستر او مستحکم سلطنت د بنیاد کیښودو په ثبوت مونږ وئیلې شو. چې دے د هلی سلطنت د بنیاد کرو ځنې یو وو.

د هندوستان په تاریخ کښې د شمس الدین د دور تاریخ اهمیت هم دغه وو. کوم چې پورته بیان کړے شو. ولې خوشحال بابا ئې په عوامو کښې د شهرت او ناموری وجه عدالت ښودلې ده. د څه په حقله چې د تاریخ پانې څه نه وائی.

## شمس الدین التمش:

شمس الدنیا والدین، ابولمظفر، په هندوستان د خاندان غلامان دوئم حکمران وو. دے د قطب الدین ایبک زوم وو. او د هغه نه پس د تاج و تخت واکدار اوګرځید. د ترکستان د البری قبیلې سره ئې تعلق لرلو. او ددغې قبیلې د رئیس ایل خان کره ئې سترګې غړولې وې. دے په وړوکوالی کښې د مریو سوداګرو اُوینو. او په بخارا کښې ئې د صدر جهان په نزدې خپلوانو خرڅ کړو. هم دغلته ددهٔ ابتدائی پالنه اُوشوه. بیا دے یو سړی جمال الدین چشت قبا واخستو. او په سلطان قطب الدین ایبک ئې په یو لک روپو خرڅ کړو. سلطان د خپلو زامنو پشان ددهٔ تربیت اوکړو. او لورئې ورته په نکاح کړه. د ګوالیار د اخستو نه پس ئې ددغې ځائے حاکم اُوټاکلو. او وروسته ئې بدایون هم په دهٔ اُوسپارلو.

التتمش په اکثرو جنګونو کښې د شجاعت، نرتوب او هوښیارتیا ثبوتونه ورکړی دی. د قطب الدین ایبک په اردل کښې ئې ډیرې د بهادری کارنامې ښودلې دی. سلطان دے په آخر کښې "امیر الامیر" اوټاکلو. او کله چې قطب الدین ایبک په ۱۲۰٦ء کښې د هندوستان بادشاه شو نو دے ئې هم هغه شان د بدایون حاکم اوساتلو. بیا چې په کال ۱۲۱۰ء کښې قطب الدین ایبک وفات شو او د هغه زوئے آرام شاه په تخت کیښناست. نو هغه یو نا اهله حکمران څرګند شو. ځکه نو د سپه سالار امیر اسماعیل او نورو څو حکومتی غړو په وینا

"التمش" د بدایون نه دهلی ته راغلو. او په ۱۲۱۲ء کښې ئې د ملک واک اختیار سنبال کړو. (۳۲۰)

"د بادشاه کیدو سره سم التتمش د هغه صوبیدارانو حال اُویوښتو کوم چې د خپل سر شوی وو. په پنجاب او غزنی کښې تاج الدین یلدوز په سندهـ کښې ناصر الدین قباچه او په بنګال کښې خلجیانو ملک په هند اخستے وو. دۀ دغه ټول ځائے له راویستل. د ۱۲۲٦ء او ۱۲۳۴ء په مینځ ومیانه کښې ئې د راجپوتانو سره جنګونه اُوکړل او رنتهبور، مندو، ګوالیار او اُجین ئې فتح کړل. د قطب الدین ایبک نه چې قطب مینار او قطبی مسجد نیمګړی پاتې شوی وو. هغه دۀ مکمل کړل." (۳۲۱)

د قطب الدین ایبک په عهد کښې د هندوستان اسلامی حکومت په اصل کښې دنیمګړی خپلواکه صوبو مجموعه وه. التتمش مرکزی حکومت مضبوط کړو او دغه صوبې ئې د وحدت په مزی داسې اوتړلې چې په نتیجه کښې ئې یو طاقتور سلطنت په وجود کښې راغے. ددې کارنامو په وجه هغه ډیر لوئې شهرت تر لاسه کړو. او هر ځائے به د هغه نامه په درناوی سره اخستلې شوه. ددۀ په کارنامو د غور کولو نه پس بنده په دې نتیجه رسی چې په اصل کښې د دهلی د اسلامی سلطنت بانی هم دے وو." (۳۲۲)

"دا بادشاه د ډیرو ظاهری او باطنی اوصافو مالک وو. د شپږ ویشت کالو د کامیاب حکومت کولو نه پس په ۱۲۳٦ء کښې ئې ددې فانی دنیا نه کوچ اُوکړو. قبر ئې په مهرولې (زوړ دهلی) کښې موجود دے. (۳۲۳)

== ☆☆☆ ==

شپږم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښې تار په تار (۳۲۴)

## شمشیر خان:

د شمشیر خان خپل نوم میر محمد یعقوب وو. او شمشیر خان ئې خطاب لرو. دے د مکرم خان میر محمد اسحاق ورور او د شیخ میر زوے وو. په کال ۱۰۸٦هـ کښې شمشیر خان د خپل ورور مکرم خان سره په پښتنو باندې د حملې کولو د پاره راغے. دوئ سره د بادشاهی فوځ یو لوئې لښکر وو. چې په ډیر زیات جنګی سازو سامان پُرمامور وو. خو ایمل خان او دریا خان په خاپش کښې هغوئ ته ماتې ورکړه. دوست محمد خان کامل مومندؔ په دغه جنګ کښې د شمشیر خان په حقله لیکی.

> "شمشیر خان میر محمد یعقوب د مکرم خان ورور وو. دوئ دواړو په خاپش کښې د مغلی فوځ مشری کوله. دریا خان اور ایمل خان ورته په دغه جنګ کښې شکست ورکړو. شمشیر خان (او د هغه اُوښے میر عزیز الله) د دریا خان له لاسه مړ شو. او مکرم خان هم درې ځایه زخمونه اُوخوړل. دے ډیر په سخته باجوړ ته اُوتښتید." (۳۲۵)

"کله چې اورنګزیب عالمګیر د شمشیر خان د مرګ او د شاهی فوځ د بربادئ نه خبر شو. نو ډیر زیات خفه شو. خو کله چې هغه د عزت خان د بروقت کمک او ځوانمردئ نه خبر شو. نو څه لږه ډیره تسلی ئې د زړه وشوه. اورنګزیب بیا د مکرم خان د حاضریدو حُکم وکړو. چې هغه دې د بل ورور محتشم خان میر ابراهیم سره حاضر کړے شی. او په دغه شوی زیان دی ورسره غم رازی څرګنده کړې شی. او د هغوئ دې پوره پوره دلاسه او ډاډګېرنه اوکړې شی." (۳۲٦)

== ☆☆☆ ==

د بهلول او د شیر شاه خبرے اورم

چه په هند کښے پښتانه وو بادشاهان (۳۲۷)

☆

که رشتیا وایم شیر شاه دا هسے نۀ وه

لکه مونږ یو نۀ پیدا له کوهستان (۳۲۸)

☆

و مغل وته به هسے کار ښکاره کړم

چه راضی راځخه روح د فرید خان شی (۳۲۹)

☆

بیا له پسه شاه عالم د حسن سور وه

چه همایون ددۀ له لاسه هزیمت ؤ (۳۳۰)

دا بیتونه د نومورې پښتون تاریخ ساز بادشاه شیر شاه سوری په حقله وئیلې شوی دی. خوشحال بابا د خپل وخت د پښتنو په حالاتو افسوس کوی. چې پښتانۀ اتفاق نه لری. کنی په هندوستان باندې پښتون قام شپږ اُووه پیړی حکومت کړے دے. او د بهلول او شیر شاه د بهادری او نومورتیا خبرې اُوس هم کیږی. داسې ښکاری لکه چې هغوئ ددې خاورې نه پیدا وو. او مونږ ځنې نه یو زیږیدلی. که چرته اتفاق په پښتانۀ کښې پیدا شی.نو د دوئ هره چاره د مغل نه ښه ده. زۀ به داسې کارنامې سر انجام کړم. چې په قبر کښې به زمانه د فرید خان روح راضی او خوشحاله شی.

## شیر شاه سوری:

"د شیر شاه سوری خپل نوم فرید خان وو. ددۀ پلار حسن خان دسوری کورنۍ یو کلک پښتون وو. شیر شاه سوری د خپل قابلیت په وجه ډیر وړاندې لاړ. او ل ئې د دولت خان لودهی نوکری اختیار کړه.

څوک چې د ابراهيم لودهی په وخت کښې د بهار حاکم وو۔ او بيا وروسته ئې د محمد شاه خوا اونيوله۔ هم دغلته ئې يو شير په توره ښکار کړو او محمد شاه دے د شير شاه په خطاب اونمانځلو۔" (۳۳۱)

شير شاه په ۱۴۷۲ء کښې اوزيږيد او په ۱۵۴۵ء کښې وفات شو۔ هغه په هندوستان ټول ټال پنځه کاله حکومت اوکړو۔ او ډير زيات قابل او کامياب حکمران څرګند شو۔ د شير شاه د حکومت زمانه اګر چه ډيره لږه وه۔ ولې بيا هم په دغه لږ وخت کښې هغه ډيرڅه اوکړل۔ ددهٔ نه پس اکبر هم دغه لار اُونيوله۔ او د شير شاه کړی اصلاحات ئې د لږ بدلون او د زمانې د ضرورت مطابق د خپل سلطنت برخه اوګرځوله۔" (۳۳۲)

شير شاه د يو بارعبه او شاندار شخصيت خاوند وو۔ مغل اګر چې د هغه ناقابل تسخير حريفان وو۔ ولې د هغوئ په مقابله کښې شير شاه د خپل قام په راغونډولو او د خپلو قابليتونو په يو مرکز جمع کولو کښې د ډيرو لويو صفتونو خاوند وو۔ او هم ددې صفاتو په برکت هغه مغل د هند نه په وتلو مجبور کړل۔ (۳۳۳)

د شير شاه سوری شمار د برصغير په عادلانو حکمرانانو کښې کيږی۔ ځنې مؤرخينو خو هغه د برصغير د نوشيروان عادل په نامه ياد کړے دے۔ ددهٔ رائج کړے عدالتی نظام مثالی وو۔ او په حق او انصاف اډانه وو۔ شاه او ګدايو برابر وو۔ د مذهب، ملت او ذات پات هيڅ قسم توپير نهٔ وو۔ هغه به هر چاته په يوه سترګه کتل۔ په دې حقله د شير شاه وينا وه چې

"انصاف د ټولو نه لويه مذهبی فريضه ده۔" (۳۳۴)

د هغه فوځی کارنامې يقيناً حيران کن وې۔ او مالياتی اصلاحات ئې د تدبر ښکارندويه ثبوت وو۔ د کرنسی اصلاح ئې اُوکړه۔ او ډيرې معياری او زړه راښکونکی سکې ئې جاری کړې۔ د علم و ادب سرپرستی ئې اوکړه۔ عالمانو او طالب علمانو له ئې وظيفی مقرر کړې۔ جماعتونو او مدرسو له ئې مالی امداد اوټاکلو۔ لنګرې ئې جوړې کړې۔ د سړکونو جال ئې خور کړو۔ د جاسوسی نظام ئې منظم کړو۔ ملکی لارې ئې د سفر د پاره محفوظې کړې۔ د جرمونو خاتمه ئې اوکړه۔ د غلا ډاکې نوغے ئې ويستو۔ ملک ئې په امن کړو۔ زراعت له ئې وده ورکړه او عوام ئې خوشحاله کړل۔ (۳۳۵)

== ☆☆☆ ==

شاهي بيګ ساغرے په تن ملک ميرے دے
تر شيرا اول ددۀ کړی کار تمام (۳۳۶)

☆

چه په توره ئے شير خان پريوست له آسه
په ميدان د عابد خان پهلوانی ده (۳۳۷)

په وړومبی شعر کښې شيرا او په دويم شعر کښې د شير خان نامې يادې کړې شوې دی. دغه دواړه اشارې شير محمد خان پله دی.

## شير مخمد خان:

شير محمد خان نسلاً بنګش وو. پخپله قبيله کښې د لوئې نامې جامې خاوند وو. ددۀ مور بی بی دور نوميده. (۳۳۸) په تاريخ مرصع کښې ددۀ د دوو ترونو نامې راغلې دی. يو بهادر خان (۳۳۹) او دويم لعل بيګ (۳۴۰). د مهابت خان د صوبه دارۍ په آوان شير محمد خان ګرفتار کړے شو. (۳۴۱) او ددۀ مور د بنګشو سرداری سنبال کړه. اورنګ زيب عالمګير دے اوولس اتلس کاله په هندوستان کښې خوار وزار اُوساتلو. او کله چې جسونت سنګهـ او شجاعت خان د يو لوئې فوځ سره د پښتنو د مقابلې د پاره راتلل. نو دے هم ورسره راغے. (۳۴۲)

د خوشحاڵ بابا د وينا تر مخه شير محمد خان د هندوستان نه زما سره د ښکر وهلو پخه اراده کړې وه. هم دا وجه وه. چې کله هغه په اټک راتيريدو. نو ما ته خپل اولس د هغه د وهلو خبره اُوکړه. ولې ما د پښتو نولۍ له رويه د هغوئ په خبره عمل اُونه کړو. خو کله چې هغه په ځائ شو نو د شاهی موشک په بلنه ئې په ما هغه وخت حمله اُوکړه. کله چې زۀ په مندنو کښې د لږ شان لښکر سره ووم. ولې شير محمد خان ماتې اُوخوړ. (۳۴۳)

شير محمد خان هغه وخت اوځليد. کله چې دريا خان آفريدی د مصلحت نه بغير يوازې په کوهاټ

حمله اوکړه. او د دغه جنګ شیر محمد خان اُوګټو. هغه ددغې ګټې بې پناه تشهیر اُوکړو. ځائې په ځائې ئې خطونه خواره کړل. او د افریدو سرونه ئې مغلو ته اُولیږل. په دغه ګټه مُغلی حکومت شیر محمد خان ته ډیر انعامات ورکړل. (۳۴۴) او د عالمګیری جلوس په څلیریشتم کال د اورنګ زیب عالمګیر له خوا دهٔ ته د شیر خان خطاب ورکړے شو. (۳۴۵)

ددې نه پس شیر محمد خان د ګنبت په جنګ کښې خوشحال خان خټک له شکست ورکړو. نو د هغه شمله نوره هم جګه شوه. ولې خوشحال خان د ګنبت د جنګ بدله ډیره زر د دوډې د جنګ د ګټې په صورت کښې واخسته.

== ☆☆☆ ==

په دولت کښې په حشمت کښې که سنجر شے یا طغرل شے

یوه نخښه راښکاره کړه له سنجره له طغرل (۳۴۶)

## طغرل:

طغرل د میکائیل بن سلجوقی زوئے او د سلجوق کورنۍ وړومبے بادشاه وو. دهٔ په ۱۰۳۸ء کښې ئې د سلطان محمود زوئے سلطان مسعود (اول) له ماتې ورکړه. او د نیشاپور په تخت کیښناست. د عراق او بغداد اخستونه پس ئې خلیفه قائم بالله له هم شکست ورکړو. چا چې دے د خراسان په تخت کښینولے وو. (۳۴۷)

طغرل په ۴۲۹هـ کښې جلوس اُوکړو. او سمدستی ئې د ملک نیونې ارخ ته پاملرنه اُوکړه. وړومبې ئې طبرستان او ګرګان واخستل. بیا ئې د اصفهان محاصره اوکړه. د اصفهان حاکم ابو منصور د هغه ډیره سخته مقابله اُوکړه. او طغرل ئې په دې مجبور کړو. چې د هغه د نوم خطبه دې اُولولې او څه مال دولت دې هم د خراج په توګه ادا کړی. آخر په ۴۴۳هـ کښې طغرل دغه ښار هم قبضه کړو. (۳۴۸)

طغرل یو کلک اعتقاده، دینداره، پاک لمنه او پرهیزګاره بادشاه وو. دهٔ د جماعتونو د آبادولو ډیر شوق

لرو. وئیل به ئې چې ماله دا خدائے نه حیا راځی- چې زۀ دې یو عمارت جوړ کړم او په خوا کښې دې ورسره جماعت نۀ وی." (۳۴۹)

"طغرل د بې شانه صـلاحیتونو څښن وو. هغه په ډیره کامیابه طریقه د سلجوقیانو لار ښودنه اُوکړه. د غزنویانو د حکومت خاتمه ئې اوکړه یو طاقتور حکومت ئې قائم کړو. او تر شپږ ویشت کالو پورې په کامیابۍ سره اُوساتو. دا هر څه د هغه په قائدانه صـلاحیتونو دلالت کوی. اګر چې د خپلې قبیلې د یو څو زرو کسانو سره خراسان ته راغلے وو. ولې په ډیر لږ وخت کښې ئې جرجان، طبرستان، آذربیجان، ارمینیه، جبال، اصفهان، کردستان، فارس، کرمان، خوزستان عراق او الجزیره فتح کړل. او عن تر دې چې د خلیفه بغداد د خدمت او حفاظت ذمه ئې هم واخسته." (۳۵۰)

طغرل بیګ د شپږویشت کاله حکومت کولو نه پس د اویا کالو په عمر کښې په کال ۱۰۶۳ء کښې وفات شو. د طغرل نه پس دده په ګدی الپ ارسـلان کیښناست. څوک چې دده وراره وو. (۳۵۱)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه عادل شاه دده تربور وُه
چه پښتون دده په دور فضیحت ؤ (۳۵۲)

## عادل شاه:

عادل شاه د اسـلام شاه د تره زوے او شیر شاه سوری وراره وو. کله چې په ۱۵۵۳ء کښې اسـلام شاه وفات شو. نو امیرانو د هغه دولس کلن زوے فیروز د ګوالیار په مقام په تخت کښینوۀ. ولې درې ورځې پس مبارز خان څوک چې د فیروز ماما او د شیر شاه سوری وراره وو. محل ته ننوت. او فیروز ئې قتل کړو. دغه شان په تخت کښیناست او د محمد عادل شاه لقب ئې اختیار کړو. دغه لقب عوامو اول په "عدلی" او بیا په "اندهلی" کښې بدل کړو. عادل شاه ډیر نااهله حکمران ثابت شو. هغه به شپه او ورځ په نشو تماشو کښې ډوب وو. دغه وجه ده چې د موسیقی په فن کښې ورته ډیر مهارت حاصل وو. او د تان سین او باز بهادر په رنګ نامتو موسیقاران د هغه شاګردان وو.

عادل شاه چې د ماشوم فیروز په وینو لاسونه سره کړل. نو ځان ئې د عوامو په نظرونو کښې اُغورځوو. بله دا چې دهٔ هندو هیمو بقال ته ډیر اهمیت ورکړو. او هغه ئې د ملک د سرو سپینو واکمن کړو. د عوامو سره سره امیران ترې هم یو یو ډدې ته شو. ملک کښې ځائې په ځائې بغاوتونو سر راپورته کړو.

او تردې چې کله همایون بیا راپیدا شو. نو دغه وخت د بادشاهۍ پینځه دعوې دار موجود وو.

په بهار کښې تاج خان قرانی بغاوت اوکړو. عادل شاه ددغې بغاوت د مخ نیوی د پاره د لښکر سره روان شو. دلته ابراهیم سور ته موقعه په لاس وراغله او په دهلی ئې قبضه اُوکړه. عادل شاه چې خبر شو. نو مجبوراً ئې په چنار کښې استوګنه اختیار کړه." (۳۵۳)

"بل طرفته هیموں بقال سلطان عادل شاه په ابراهیم سور د حملې دپاره د پنځه سوه هاتیانو او لوئې لښکر سره واستوؤ. او هغه ابراهیم سور له شکست ورکړو. بیا راغے او د هیموں بقال سره پخپله د بنګال د باغی صوبه دار محمد خان سره د چهپر کنډ په میدان اُوجنګید. په دغه جنګ کښې عادل شاه ګټه وکړه. او محمد خان سور د ژوند نه لاس اُووینځل. ..... عادل شاه تقریباً دوه کاله حکومت وکړو." (۳۵۴)

== ☆☆☆ ==

شیخ ستار ماشه ټوپک عبدالرحیم وه
د ټوپک کنده خدائے یار جامکے کامران (۳۵۵)

## عبدالرحیم (مرزا):

د ۱۵۷۴هـ کال په آوان چې د مغلی حُکومت صوبائی واکدارانو کومو کسانو د خوشحال بابا د ګرفتارولو کوم سازش جوړ کړے وو. ددغه کسانو نه خوشحال بابا یو خیالی ټوپک جوړ کړے دے. څه کسان په دغو کښې ښکاره کسان دی. اؤ په هغه وخت کښې ئې حکومتی عُهدې لرلې. ولې ځنې بیخی عام کسان دی. چې تاریخی کتابونه ئې څه ذکر نه لری. خو د مرزا عبدالرحیم او سید میر خان خوافی سره ئې د خوشحال بابا په نیونې کښې برابر لاس کړے دے. په دغه کسانو کښې شیخ ستار، جامکے کامران،

اسفندیار، جهان خان او خواجه صادق بدخشی شامل دی. دا داسې شخصیات دی. چې د نومونو نه علاوه ئې د ژوند په حقله مونږ څه معلومات نه لرو. ځکه چې مقامی خلق دے. خو په دغه خاص موقعه ئې د خوشحال بابا په گرفتارولو کښې مهم رول ادا کړے دے. هم دا وجه ده. چې خوشحال بابا ئې د خپلو ترونو فیروز خان، بهادر خان او د مغلی حکومت صوبائی نائب مرزا عبدالرحیم سره نومونه ذکر کړی دی.

مرزا عبدالرحیم په پیښور کښے د صوبه دار سید امیر خان خوافی نائب وه. (۳۵۶)

په ۱۶۶۱ع کال کې چې د مهابت خان لهراسپ پر ځای سید امیر خان د کابل گورنر وټاکل شو. میرزا عبدالرحیم په پیښور کې د میر یعقوب پرځای د گورنر مرستیال (نائب گورنر) مقرر شو. عبدالرحیم د خوشحال مخالف او د هغه د شدید رقیب بهاگو خان یوسفزی دوست و. میرزا عبدالرحیم، سید امیر خان ته د خوشحال خان د نیولو پشنهار وړاندی کړ. او هغه هم په دی پلمه چې تر هغی د اورنګ زیب د راهداری د معافی فرمان نه شی نافیذید لای، چې تر څو د پیښور یو څو د سر سر ځمکوال ونیولای شی. نو د عبدالرحیم تونګ د لمسون ؤ چې په ۱۰۷۴هـ کال یې د روژې په نیمایی کې د سید امیر خان په زور پیښور ته د مشورې په نامه وغوښت او تړلی یې هند ته ولیږه. (۳۵۷)

بیا چې کله په ۱۰۷۸هـ کښې د سید امیر خان خوافی په ځائې مهابت خان مرزا لهراسپ د کابل صوبې گورنر اوټاکلے شو. نو دغه وخت خوشحال خان را اُوبللے شو. او د هغه نه اورنګزیب عالمګیر تپوس اُوکړو. چې د شاه جهان په وختو کښې د یوسفزو عالم ستارعیت وو. هغه وخت دوئ دومره اړے کړے نه دې جوړ کړے. اوس ولې دوئ بغاوت کوی. خوشحال خان بادشاه ته اُووئیل.

"امیر خان ناکرده کار مغرور دے. اول که ددهٔ عقل وے. زهٔ د دریو پیړیو خانه زاده بیګناه به ئے ولے قید کولم. دے همیشه په شرابو کښے غافل وی. میرزا عبدالرحیم ددهٔ دیوان دے. تمامه ورځ لکه د هلک چرګ جنګوی. د دیو د کاره بادشاه څه اُمید لری. که دا صوبه دار څو ورځے نور هم وی. لا به فساد زیات شی." (۳۵۸)

یو بل ځای کښې خوشحال بابا میرزا عبدالرحیم ته بې نمازه او لوله بچے وئیلې دے.

== ☆☆☆ ==

مقرب ئے فدائي عبدالقوی دے
چه تل کانډِ د بدئ اشتغال (۳۵۹)

د فدائی عبدالقوی. اصل نوم مظفر حسین وو. دے د خان جهان کوکلتاش ورور او د شاهجهان بادشاه په کته کته درباریانو کښې شماریدو. په ابتداء کښې د عدالت داروغه وو. بیا چې کله بادشاه د دکن بادشاه عادل شاه ته عطیات لیږل. نو دے ئې هم په دغه غرض د سفیر سره بیجاپور ته واستوؤ. د شاهجهانی جلوس په دوه ویشتم کال دهٔ ته د "توزک" خدمت اوسپارلې شو. او یو کال پس د "احدی" سپاهیانو بخشی شو. دغه شان د جلوس په څلیریشتم کال د توپ خانې د منصب دارو د بخشی په عهدې اوټاکلے شو. دې پسې سه‌لاسی "میر توزک" شو. بیا ورته د هاتیانو او گرز بردارو د داروغه ذمه داری هم حواله کړې شوه." (۳۶۰)

د شاهجهانی جلوس په یو دیریشتم کال (جمادی الاخره ۱۰۶۷هـ) کښې دهٔ ته د "فدائی خان" خطاب ورکړے شو." (۳۶۱)

د شاهجهان په دور کښې دے د څلور زریز ذات او درې زریز سورو د منصب څښتن وو." (۳۶۲)

کله چې اورنگزیب په تخت کیښناست. نو هغه په فدائی خان ډیرې سودگیرنې اُوکړې. ځکه چې دے د اورنگزیب رضاعی ورور وو. کله چې د شاهجهان د زامنو په مینځ کښې د اقتدار جنگ اُونښتو. نو فدائی خان دغه وخت د اورنگزیب سره د دهلی خوا ته په اغر آباد باغ کښې وو. اورنگزیب دے د امیر الامراء شائسته خان سره د سلیمان شکوه خلاف په مهم واستولو. په دغه آوان سلیمان شکوه د لکهنؤ خواوشا قیام لرلو. سلیمان شکوه غوښتل چې هغه په څه طریقه ځان هر دوار ته اُورسوی ولې فدائی خان د هغه نه وړاندې هلته اُورسیدو او بادشاه ئې خبر کړو. وروسته هغه د خلیل الله خان په ملگرتیا کښې ملتان ته اُولیږلې شو. د ارادت خان په مرگ فدائی خان د گور کهپور فوځدار اوټاکلے شو. او د عالمگیری جلوس په څلورم کال دهٔ ته د "صف شکن" په ځائې د "میراتش"عهده اوسپارلې شوه. دوه کاله پس دهٔ د جالندهر په خوا کښې د فسادیانو څټونه مات کړل. ترقی ئې اُومونده. او د څلور زریز ذات او دوه زره پنځسویز سورو

منصب ورته ورکړے شو۔ بیا دے د اُودھ صوبه دار مقرر کړے شو. (۳٦۳)

"په کال ۱۰۸۰هـ کښې دهٔ ته د لاهور د صوبه دارۍ ذمه واری ورکړې شوه. دوه کاله پس ئې په ۳۰ محرم ۱۰۸۲هـ کښې پيښور ته را اوُغوښت. او دلته په ۷ رجب ۱۰۸۴هـ کښې ئې د مهابت خان په ځائې د کابل صوبه دار مقرر کړو." (۳٦۴)

"فدائی خان چې د مُغلی حکومت د پاره په کابل، حسن ابدال او پيښور کښې کومې کارنامې تر سره کړې وې. د هغې په وجه ترې اورنګزيب عالمګير ډير زيات خوشحاله وو. او بيا په تيره تيره جلال آباد کښې چې دهٔ د قبائيلو کوم فساد غلې کړې وو. او لويه ګټه ئې بيامونډې وه. اورنګزيب په هغې ډير خوښ شوے وو. هم دغه موقعه وه چې دهٔ ته د "اعظم خان" خطاب ورکړے شو." (۳٦۵)

د عالمګيری جلوس په شلم کال چې فدائی خان د بادشاه حضور ته وړاندې شو. نو بادشاه دهٔ ته د بنګالې نظامت او د بهار د صوبې نګرانی ورکړه. فدائی خان لا دغلته د تللو د پاره تيارې کولو چې په ۱۹ ربيع الاخر ۱۰۸۹هـ /۱۱ مئی ۱٦۷۸ء کښې وفات شو." (۳٦٦)

"فدائی خان د اګرې په هغه مقبره کښې خاورو ته اوسپارلے شو. کومه چې هغه ځانله پخپله جوړه کړې وه. دا د سنګ مرمر نه جوړه کړې شوې وه. او بې کچه ښکلې وه. دغلته اُوس باغ نشته. البته مقبره د يو کنډر په شکل کښې موجود ده." (۳٦۷)

== ☆☆☆ ==

## بیا نمسے د فیروز شاه علاؤ الدین وه
## چه په خلق او په کرم ددۀ شهرت ؤ (۳۶۸)

د علاؤ الدین خلجي د شهرت وجه خوشحال بابا د هغه اخلاق او لطف و کرم ښودلې ده. خو د برنی وینا ده. "چې د هغه د علم سره نۀ لګیده. او د هغه د فطرت د سختۍ او بې رحمۍ سوب هم دغه د علم سره نالګی وه. ځکه چې علم سړی ته انسانیت او مهربانی پیرزو کوی. علاؤ الدین فطری بې رحمه، مغرور او ډیر سخت مزاج وو. هغه به د فرعونانو په انداز کښې ظالمانه سزاګانې ورکولې. او ددغه سزاګانو نه هغه هیچا هم نه شو منع کولې. خواه که ډیر نزدې تعلقات به تر مینځه شوه. یا به د وینې رشته مخې ته راغله. خو د علاؤ الدین لاس چا هم نه شوه نیوے." (۳۶۹)

سوداګرو له بهیمانه سزاګانې ورکول، د دهلی په عوامو ظلمونه کول، او د خپلو نزدې رشته دارانو قتلول ددۀ کرکژن اعمال وو. دغه رنګ د جلال الدین، عمر خان او منګو خان وژل. الغ خان له زهر ورکول د بادشاه تقریباً په غیر انسانی فطرت ګواهی ورکوی. دا خبره پخپل ځائے سمه ده. چې په هغه آوان د امیرانو بار بار بغاوتونه او د سرکاری افسرانو شیطانی د بادشاه د سخت طبیعتی کافی جواز پیدا کوی. خو ددې سره ددې نه هم انکار نه شی کیدے چې د هغه سزاګانې د بربریت تر حده رسیدلې وې." (۳۷۰)

د سلطان طبیعت منتقمانه وو. هغه چې به یو ځل د چا نه بدظن شو. نو بیا به ئې د هغه په ختمولو کښې یوه ګړۍ هم نه ضائع کوله. دغه شان چې هغه به یو ځل څوک په زندان کړو. نو بیا به ئې د هغه د آزادولو هډو سوچ هم ذهن ته نۀ راویستو. او د ګڼ شمیر بې ګناه خلق هغه محض په دې وجه سزا کړی وو. چې هغوئ بادشاه مجرم ګڼلو." (۳۷۱)

"علاؤ الدین ته چې تر څو پورې د جلالی امیرانو د مدد ضرورت وو. نو تر هغې پورې علاؤ الدین هغوئ ته منصبونه، دولتونه ورکول. د هغوئ نازونه ئې وړل، هغوئ ته ئې عزتونه او اعزازونه بخښل خو هر کله چې د هغه تخت محفوظ شو. نو هم دغه امیران وو، چې زمکې او جائیدادونه ئې ترې واخستل. څوک ئې اووژل او څوک ئې په زندان کړل. دا د هغه د فطرت هغه خیرن والے او خچنوالے وو. چې د هغه ضمیر ئې بې

حسه کړے وو. او هغه ئې دغه رنګ کرکژن کارونوته لمسولو. (۳۷۲)

د امیر خسرو د لیکنې تر مخه. عـلاو الدین به د کوډ ګرو. جادوګرو سره ډیرناروا سلوک کولو. او هغوی له به ئې د سنګسارولو سخته سزا ورکوله. (۳۷۳)

## عـلاؤ الدین خلجی:

دۀ ته سکندر ثانی هم وائی. دے د سلطان جـلال الدین فیروز شاه خلجی وراره او زوم وو. (۳۷۴)

عـلاؤ الدین چې د علی یا ګر شاسپ په نوم هم پیژندے شی. دے د جـلال الدین د ورور شهاب الدین مسعود خلجی زوئے وو. د شهاب الدین څلور زامن وو. چې علی، الماس بیګ، قتلغ تغین او محمد نومیدل. د عـلاء الدین د ابتدائی ژوند او بیا د ځوانۍ د عمر حالات د نوم ورکۍ په تیارو کښې دی. (۳۷۵) د جـلال الذین د تخت نشنۍ په موقعه دے د تقریباتو افسر (امیر توزک) مقرر کړے شو. (۳۷۶)

"عـلاء الدین د څلور دیریشت کالو وو. چې هغه د رنتهمبور د فتح کولو د پاره میدان ته را اُووت. دا د ۱۳۰۰ء وه. که مونږ دا تاریخ درست اُومنو نو عـلاء الدین به د ۱۲۶۶ء خواوشاه پیدا شوے وی." (۳۷۷)

"په وړوکوالی کښې خو هغه څه باقاعده تعلیم حاصل نۀ کړے شو. ولې په ځوانۍ کښې ورته د وسلې د استعمال، د شهسوارۍ او نورو لوبو باقاعده تربیت ورکړے شوے وو. د هغه ابتدائی فتوحات په واز کومې ددې خبرې ګواهی ورکوی چې د تورې وهنې او نورو مردانه مشقونو هغه ته بهترین تربیت ورکړے شوے وو." (۳۷۸)

"دۀ خپل تره جـلال الدین په کړا مانک پور کښې چې د اله آباد ضلعې عـلاقه ده په ۱۷ رمضان ۶۹۵هـ کښې قتل کړو. او د فوځ سره دهلی ته روان شو. او رکن الدین ابراهیم له ئې څوک چې د فیروز شاه زوئے وو. شکست ورکړو او د ذی الحجه ۶۹۵هـ کښې پخپله په تخت کیښناست. دا وړومبے مسلمان وو. چا چې د دکن د فتح کولو کوشش اوکړو." (۳۷۹)

"وئیلې شی چې د دهلی سلطنت چې ددے بادشاه په وخت کښې څومره په عروج کښې وو. تاریخ

کښې د هغې مثال نشته. ددۀ په زمانه کښې قلعه ګانې حوضونه، منارې، جماعتونه، دارالعلومونه، خانقاګانې، او نور شانداره عمارتونه په ډیر کڼ تعداد کښې تعمیر شول. مشهوره ده. چې په يو وخت کښې به اوويا زره ګيلکاران اور کاريګر موجود وو. چا چې به په دوه درې ورځو کښې محل تيارولو. په دهلی کښې چې کوم عالمان، فاضلان شاعران او مشائخ زيات شهرت لرى. اکثرو ددۀ د زمانې سره تعلق لرلو. (۳۸۰)

"دے د ديرشت کالو په عمر کښې په تخت کیښناستو. او د خپلو بې مثله صلاحيتونو، تدبيرونو او قوت په وجه د پنځه ځلويښت کالو په عمر کښې د اقتدار منتها ته اُورسيد. د بيخى لاندې درجې نه ئې دومره ترقى اُوکړه چې په قرون وسطىٰ کښې د هندوستان د عظيم ترينو حکمرانانو په صف کښې اُودريدو. د يو مضبوط او ترقى يافته فوځ له برکته ئې ملکى حکمرانان د خپلې مخې لرې کړل او هر بغاوت ئې اُوچقولو. د محصول د منظمې حکمت عملى په وجه ئې هغه بازارونه په ځائے اُودرول. چې نرخونه به ئې د سترګو په رپ کښې بدليدل رابدليدل. او دغه رنګ ئې د يوې مستعدې انتظامى مشينرى په ذريعه په ډيره مؤثره طريقه شل کاله حکومت اوکړو." (۳۸۱)

"دۀ ډيره زياته ناوزګاره او د ستومانۍ ډکه زندګى تيره کړې ده. او اخر د دست په بيمارۍ چې غالباً د ملک کافور د ورکړې شوو زهرو په بناء ئې په ٦ جنورى ١٣١٦ء کښې سترګې پټې کړې. (۳۸۲)

==☆☆☆==

بيا سلطان غياث الدين د فيروز شاه وه
چه نيولے ئے له وروره مملکت ؤ (۳۸۳)

خوشحال بابا غياث الدين ثانى ته د فيروز شاه زوے وئيلے دے. خو غياث الدين ثانى د هغه زوے نه بلکې نمسے وو. لکه کے. على چې ليکى.

" د فيروز شاه د مرګ نه پس د هغه نمسے غياث الدين تغلق دويم. چې د فتح خان زوے وو. په تخت کښيناست. دے يو ډير کمزورے او نالائقه حکمران ثابت شو." (۳۸۴)

دغه رنګ خوشحال بابا وائی چې غیاث الدین د خپل ورور نه د اقتدار واګې په زور اخستې دی. خو تاریخی شواهد د خوشحال بابا ددغې وینا سره سمون نۀ خوری. لکه صاحبزاده عبدالرسول چې لکی:

"فیروز شاه تغلق د تغلق خاندان آخری باوقاره بادشاه وو. د هغه د وفات نه پس حالات ډیر په تیزۍ سره واوریدۀ. او د هغه جانشین نالائقه وو. ځکه نو حالات ئې د قابو نه بهر وو. د فیروز شاه نه پس د هغه نمسے د غیاث الدین تغلق ثانی لقب اختیار کړو او په تخت کیښناست. د خپلې ناهلۍ او عیاشۍ په وجه ترې ملکی چارې پاتې وې. ځکه نو د پینځه میاشتو مختصر حکومت کولو نه پس په کال ۱۳۸۹ء کښې خپلو امیران دے قتل کړو." (۳۸۵)

"ددۀ یو تره ناصر الدین محمود ددۀ د تخت نشنۍ مخالفت وکړو. خو هغه په خپل کوشس کښې ناکامه شو. او کانګړې پله اُوتښتید. غیاث الدین دویم عیاشۍ ته لاس واچول. او د خپل اقتدار د استحکام د پاره ئې ټول حریفان ختم کړل. خپل ورور سالار شاه ئې زندان ته واچوؤ. خو ددۀ خـلاف ډیر زر یو کوټلے سازش مخې ته راغے. چې ددۀ د تربور او رکن الدین لاسونه پکښې وو. ددغه سازش په نتیجه کښې غیاث الدین د تیښتې د پاره لار لټوله. هغه د محل په شاتنۍ دروازې کومه چې جمنا پله بیرته کیدله اُوتښتید. خو رکن الدین د شاهی محافظانو د یوې ډلې سره په هغه وریسې شو. اخر رالاندې ئې کړو. او د ګرفتارۍ نه پس ئې مړ کړو." (۳۸۶)

== ☆☆☆ ==

د موسیٰؑ په معجزه به څه ګروهیږی

د فرعون چه هامان غونډِ وزیر دے (۳۸۷)

☆

په وئیل د مرسلانو نه ګروهیږی

د فرعون او د نمرود غونډِ ګمراه شی (۳۸۸)

☆

په حشمت د زلوچو د پاسه کيښنه!
په دا کار کښې يا فرعون شه يا هامان شه (۳۸۹)

☆

د فرعون د جادو ماران باطل وو
د موسیٰؑ د معجزے د مار د وړاندې (۳۹۰)

فرغون د حضرت موسیٰ علیه السلام د دعوت حق نه مخ اړونکے بادشاه چې د خدايئی دعويدار وو۔ دې شعرونو کښې خوشحال بابا د فرعون نامه تلميحاً راوړې ده۔

## فرعون:

فرعون په عامه توګه د مصرى بادشاهانو لقب دے۔ د هغوئ د عظمت او جلال دا حال وو۔ چې د خدايي دعوې ئې کولې۔ او خلقو به ورته سجدې کولې۔ اوس فرعون د مغروره، سرکشه او د هغه انسان د پاره د علامت په توګه پکارولې شی چې هغه د حق مخالفت کوی۔

د حضرت موسیٰؑ سره چې کوم فرعون مخالفت ته متی راخکلې وې د هغه نوم رعميس ثانی وو۔ په دې کلمه کښې "رع" د يو "ديوتا" نوم دے۔ او "اثيس" د يوې "ديوى" نامه ده۔ دغه شان "رع" يا "را" د نمر ديوتا ته هم وئيلې شی۔ او د مصريانو د علم الاصنام مطابق هره شپه د تيارې ديوى دغه ديوتا خورى۔ خو سحر د رئيس ديوى له برکته هغه بيا راښکاره شی۔ (۳۹۱)

د حضرت موسیٰؑ د وخت فرعون د عربو مؤرخينو او مفسرينو د څيړينې ترمخه د عمالقه خاندان نه وو۔ بعضې پوهان ددهٔ نوم وليد بن مصعب بن ريان ښائی۔ څنې ئې مصعب بن ريان په ګوته کوی۔ خو د نورو محققينو رائ ده۔ چې ددهٔ نامه ريان يا ريان ابا وه ابن کثير ددهٔ کنيت ابو مره ښودلے دے۔ دا ټول اقوال د زړې زمانې په تحقيقی رواياتو اړتيالرى۔ اوس اوس چې کوم جديد تحقيق په مصر کښې شوے دے۔ او د ډير ليکونو نه کومه نوې رائې مخې ته راغلې ده۔ د هغې له رويه د حضرت موسیٰؑ د زمانې د فرعون نامه منفتاح

وه. څوک چې د رعمیس ثانی زوئے وو. ددهٔ دور حکومت د ۱۲۹۲ ق م نه د ۱۲۲۵ ق م پورې خور وو. (۳۹۲)

د تحقیق تر مخه ددې خبرې سپیناوے هم شوے دے. چې موسیٰؑ د رعمسیس دویم په زمانه کښې پیدا شوے دے. او هم د هغه په کفالت کښې لوئے شوے دے. رعمسیس دویم په دغه آوان ډیر کمزورے او بوډا شوے وو. ځکه نو پخپل ژوندانه ئې خپل زوئے منفتاح په حکومتی کارونو کښې شریک کړے وو. او هم دے د رعمسیس دویم نه پس د ملک د سرو سپینو مالک شو. منفتاح د رعمسیس دویم. دیارلسم اولاد وو. ددهٔ دوه نیم سوه خویندې وروڼه نور هم وو. د مصر نه د بنی اسرائیلو د خروج په وخت هم دا منفتاح فرعون وو، چې غرق شو. (۳۹۳)

ددے فرعون لاش اوس هم د مصر په عجائب خانه کښې خوندی پروت دے. دا لاش د فرعونیانو د اتلسم بادشاه امنتخب د مقبرې نه بیاموندے شوے وو. د مصر د دستور مطابق د هر فرعون مقبره جدا پکار وه. خو ددے فرعون د مرګ د واقعې پټولو په غرض مصریانو دا کوشش اُوکړو. چې د اتلسم او نولسم خاندان دواړه بادشاهان یو ځاے ښخ کړي. د هغوئ په خیال به په داسې کولو د قبطیانو آئنده نسلونه ددے فرعون د ذلت او رسوائی نه بې خبره پاتی شي. او داشان هغوئ دغه تاریخی بد دیانتی اُوکړه. د منفتاح فرعون د لاش د پوزې سرنشته. داسې ښکاري چې یا خو سمندري ځناور خوړلے دے او یا پرې مهی خیته څرلوې ده. بیا د خدائی فیصلې مطابق اوبو ددهٔ لاش د عبرت د پاره غاړې ته راګذار کړے دے. (۳۹۴)

== ☆☆☆ ==

دارم متاع در گرانمایه کی دهم
سودا اګر بملک فریدون کند کسے (۳۹۵)

☆

خو طالع راسره هسے مدد نه کا
ګنړه تیر تر فریدونه مے فرهنګ دے (۳۹۶)

## فریدون:

"فریدون په لرغوني زمانه کښې د فارس بادشاه وو. دهٔ د ایران ظالم حکمران ضحاک قتل کړے وو. او سلطنت ئې ترې تر لاسه کړے وو. ددهٔ دور په ډیره سوکالۍ او خوشحالۍ سره تیر شوے وو. سلم، تور او ایرج ددهٔ زامن وو. زامن ئې خپلو کښې سره د اقتدار د پاره اُونښتل. دے قتل شو. او نمسے منوچهر ئې په ګدۍ کښیناستو. (۳۹۷)

"فریدون بن آبتین د پیشدادی خاندان سره تعلق لرلو. دے د ایران ډیر ستر بادشاه تیر شوے دے. مؤرخین ددهٔ د سلطنت پنځه سوه کاله یادوی. په دغه موده کښې دهٔ ګڼ ملکونه د ایران په سلطنت کښې شامل کړل. او دا رنګ د خپل سلطنت په جاه و جلال کښې ئې اضافه اُوکړه. شعراء اکثر پخپلو شعرونو کښې قصر فریدون کنایتاً پکاروی. د څه نه چې په عامه توګه د بلندۍ او رفعت څرګندونه کیږی." (۳۹۸)

نومورے نقاد او محقق سید عابد علی عابد لیکی.

"فریدون د ادبی روایاتو له مخه د ایران یوپخوانے بادشاه وو. څوک چې د خپل شان و شوکت او جاه و جلال د پاره مشهور وو.

کله چې د ضحاک (اژی دهاک) ظلمونه د حد نه ورتیر شول. نو "کاوه لُهار" د بغاوت بیرغ هسک کړو. او فریدون نومې شهزاده ئې د سلطنت په تخت کیښنوؤ. د فریدون او ضحاک په ژبنی لحاظ یو ځائے کیدل. د اریایي ژبو لرغونے آویزش ښکاریږی. او داسې بریښی چې د خیرو شر د یو ځائے کیدلو یو شکل دے په سنسکرت کښې د فریدون نامه "ترائی تنه" (Trai Tana)راغلې ده. او جنګ ئې ورله د "مارسه سر"سره ښودلے دے. ښکاره خبره ده. چې "مارسه سر" نه مراد ضحاک (اژی دهاک) دے. ځکه چې ددهٔ په اُوږو دوه ماران وو. (۳۹۹)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه فیروز شاه چه ددهٔ تره وه
چه په هند ددهٔ د چارے خاتمت ؤ (۴۰۰)

فیروز شاه د هندوستان یو ډیر اولس پال او اولس یار بادشاه تیر شوے دے۔ دهٔ د اولسی خیر ښیگړې په ترځ کښې بې شمیره کارونه تر سره کړی دي۔ ځکه خو ستر خوشحال بابا د فیروز شاه ددغه کارونو په حقله وئیلی دی۔ چې ددهٔ نه پس بل چا په دغه مد کښې د ذکر وړ کار اُونه کړے شو۔ او په دهٔ ئې خاتمه اُوشوه۔ دلته دا خبره دیادونې وړ ده۔ چې د فیروز شاه نه پس نورو بادشاهانو هم د رفاه عامه او اولسی خیر ښیگړې په لړ کښې کارونه کړې دی۔ ولې خوشحال بابا ددهٔ کار ستائیلے دے۔ او دے ئې ددغې سلسلې خاتم گڼلے دے۔

## فیروز شاه تغلق:

"فیروز شاه تغلق په اتمه صدی هجری کښې د هندوستان یو نامتو بادشاه تیر شوے دے۔ دهٔ د فیروز شاه باریک په نامه هم شهرت درلودو۔ په کال ۷۱۰هـ کښې پیدا شو۔ او په ۲۱ محرم الحرام ۷۵۲هـ کښې د تهتهـ په مقام د خپل تربور سلطان محمد تغلق د وفات نه پس د هندوستان په تخت کیښناست۔

دے د سلطان غیاث الدین تغلق خپل ورور او د سالار رجب زوئے وو۔ مور ئې د راجپوت خاندان سره تعلق لرلو۔ ځوک چې د یو لوئے زمیدار انامل بهتی لور وه۔ د فیروز شاه دور د هندوستان په تاریخ کښې د امن و امان او خوشحالی زمانه وه۔ په ابتداء کښې ئې د مغل حمله کوونکو سره څو جنگونه اُوکړل۔ چې پکښې دهٔ کته اوکړه۔ او ددې نه پس ئې د وړو وړو قلعه گانو فتح کولو نه علاوه نور څه مهم کار په نظر نه راځی۔

ددهٔ په وخت کښې ملک آباد او اولس خوشحاله وو۔ بادشاه د نرم طبیعت خاوند وو۔ انصاف پسند، خوش عقیده او پیر پرست وو۔ دپیرانو او خانقاگانو سره ئې غیر معمولی عقیدت وو۔ هغه یو ښهٔ سپاهی او اعلی منتظم وو۔ د ژوند په اخری ورځو ۷۸۹هـ کښې ئې د ملک واک خپل وړور نصیر الدین محمد ته اُسپارو او خپله ئې گوشه نشینی اختیار کړه۔ خو څو میاشتې پس د بد انتظامی له کبله ئې تاج وتخت دوباره واخستلو۔ (۴۰۱)

د سلطان فیروز شاه رنګ سپین وو. هغه نه ډیر دراز قد وو او نه ډیر مندرے وو. وجود ورله الله تعالیٰ نه ډیرغوښن ورکړے وو. او نهٔ ډیر نرے بلکې مینځ کوره وجود ئې لرلو. هغه ډیر مهربانه، حلیم او بردبار بادشاه وو. د ډیر علم، عمل او تقویٰ څښتن وو." (۴۰۲)

" دهٔ اولسی خیر ښیګړې د پاره ګڼ شمیر کارونه کړی وو. په دغه سلسله کښې ئې بې شمیره جماعتونه، خانقاګانې، سرائې، شفاخانې، حوضونه، کویان، حمامونه، باغونه، مُنارې او پُلونه جوړ کړل. په ځنو تاریخونو کښې راغلی دی چې دهٔ د فیروز آباد په شان دیرشت ښارونه، څلویښت پاخه جماعتونه، دیرشت مدرسې، شل خانقاګانې، دوه سوه سرائې، سل نهرونه، سل محلونه، دوه نیم سوه کویان، لس حمامونه پنځه شفاخانې، سل مقبرې، لس لوئې منارې او بې شمیره باغونه پخپل وخت کښې په مختلفو ځایونو کښې جوړ کړی وو. درې سوه کاله تیر شو. خو ځنې څیزونه پکښې اوس هم وجود لری." (۴۰۳)

"دهٔ د لس اتیا کالو په عمر کښې دې فانې دُنیا ته په مخه ښه اُووې. او د اته دیریشت کاله حکمرانی نه پس ئې د نیک نامی د یادګارونو سره ابدی دُنیا ته کوچ اُوکړو. (۴۰۴)

ده پخپل دور کښې ډیر ښارونه ودان کړل او ډیر نهرونه ئې ویستل. د فېروز آباد قلعه په زوړ دهلی کښې جوړول هم ددهٔ کارنامه ده. د "وفات فېروز" نه ددهٔ د وفات تاریخ را اُوځی. مزار ئې په زوړ دهلی (مهرولی) کښې د خاص حوض په غاړه جوړ کړے شوے دے. غیاث الدین بن فتح خان چې دده نمسے وو. ددهٔ نه پس په تخت کښیناست." (۴۰۵)

== ☆☆☆ ==

نه جمشید وه نه ئے جام وه
نه قباد وه نه کسرا (۴۰٦)

## قباد:

"قباد د ایران یو ډیر لوئې او زیرک بادشاه تیر شوے دے. ددهٔ تعلق د ساسانیانو د کورنۍ سره وو. دے هم ددغه کورنۍ نولسم بادشاه وو. چې په تخت کښیناست. ددهٔ وزیر سوخرا نومیدو. څوک چې د

بزرجمهر پلار وو. دے وزیر د قباد سره ډیره بدنیتي لرله. هم دغه وجه وه. چې قباد ته به ئې په ملکی چارو کښې هر وخت کړکیچونه پیدا کول. خو کله چې هغه ډیره خوله اولګوله. نو قباد د خپل سپه سالار شاپور سره مشوره اُوکړه. او دواړو سوخرا خپل انجام ته اُورسؤو." (۴۰۷)

"د قباد په حقله وئیلې شي. چې د هغه د عمارتونو او ودانو سره ډیره مینه لرله. پخپل وخت کښې هغه د ودانۍ فن ته ډیره پام لرنه اُوکړه. او په طبرستان کښې ئې ګڼ شمیر عمارتونه تعمیر کړل. دغه عمارتونه د هغه د ودانۍ د فن سره د بې کچې مینې ښکارندویه ثبوت دے.

د قباد اته زامن وو. چې یو پکښې نوشیروان هم وو. څوک چې د ډیر لوئې شهرت خاوند دے. قباد پوره څلویښت کاله حکومت اوکړو. او اخر په ۵۳۱ء کښې ئې سترګې پټې کړې." (۴۰۸)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه قطب الدین د علائی وه
چه همیش ئے مخ په عیش او په عشرت ؤ (۴۰۹)

دے شعر کښې خوشحال بابا د قطب الدین د عیش و نشاط تذکره کوی. چې هغه پخپل دور حکومت کښې د عیش و عشرت نه علاوه نور څه نه دي کړی. خو دلته دا خبره د یادونې وړ ده. چې د قطب الدین نه وړاندې د علاؤ الدین ماشوم زوے شهاب الدین په تخت ناست دے. څه که هم دغه حکومت صرف درې میاشتې وو. ولې خوشحال بابا ئې تذکره نۀ ده کړې.

## سلطان.قطب الدین مبارک شاه:

"دے د سلطان علاؤ الدین خلجی زوئے وو. کله چې سلطان علاؤ الدین وفات شو. نو د هغه وزیر ملک کافور هر څه په خپل لاس کښې واخستل. او د هغه نابالغه زوئے شهاب الدین عمر خان ئې په تخت

کېښینوو." (۴۱۰)

"د شاهي کورنۍ ټول شهزادګان ئې یا خو د خپلې مخې پناه کړل او یا ئې رانده کړل په بندونو کښې ئې واچول. دغه شان کافور په جمع زړه د حکومت لانجې شړل شروع کړې." (۴۱۱)

"بیا یو وخت داسې راغے چې دے د مبارک شاه د رندولو په هڅه کښې شو. دغه وخت مبارک شاه په قید کښې وو. دهٔ پسې څلور د کرایه کسان اولیږل. خو چې هغوئ دهٔ ته اُورسیدل. نو دهٔ ورته د خپلې غاړې نه د جواهراتو یو هار را اُویستو. او دوئ ته ئې ورکړو. په دغه هار د بادشاه له اړخه یو نصیحت لیکلے شوے وو. چې نوکرانو ته پکښې د شهزادګانو د حفاظت او د خپلې نوکرۍ او نمک خوارۍ یادګیرنه کړې شوې وه. دغې نصیحت په هغوئ ډیر اثر اُوکړو. نه یوازې هغوئ مبارک شه پرېښودو. بلکې د غدار ملک کافور د ختمولو اراده ئې هم اُوکړه." (۴۱۲)

"دے کار کښې ورسره د فوځ اعلیٰ افسران هم ملګرې شو. هغه افسران چې د ملک کافور سره به ئې ټوله شپه په بندو دروازو مشورې کولې. دغه څلور کسان مبشر، بشیر، صالح او منیر یاودلې شي. دوئ یوه ورځ د کافور محل ته لاړل. او دے ئې د خپلې غاصبانه قبضې په پنځه څلویښتمه ورځ قتل کړو." (۴۱۳)

"د ملک کافور د قتل کولو نه پس ئې مبارک شاه د زندان نه رااویستو. او دے ئې د شهاب الدین اتالیق اوټاکلو. دهٔ ډیر زر امیران د خان سره کړل. او دوه میاشتې پس ئې د شهاب الدین نه سترګې اوویستې روند ئې کړو او ګوالیار ته ئې واستولو. دغه شان دے په تخت کېښناست." (۴۱۴)

"مبارک شاه د اُوولس یا اتلس کالو په کچه عمر کښې په ۱۴ اپریل ۱۳۱۶ء کښې تخت نشین شو. د دستور او روایاتو تر مخه خوشحالي اُوشولې. خطابات او انعامات ورکړے شول. (۴۱۵)

پلار چونکې د مبارک شاه په تعلیم او تربیت څه خاص توجه نهٔ وه کړې. څکه نو هغه د فکرې او نظرې وسعت او ژوروالي نه محروم وو. په داسې حالاتو کښې د مبارک شاه په شخصیت کښې د خان اسانۍ او عیش پرستۍ پیدا کیدل څه نوې خبره نه وه. علاؤ الدین خلیجي چې کوم معاشي نظام قائم کړے وو. او په کومه طریقه چې هغه د فساد خورونکو عناصرو زښت کېښولے وو. د هغې د پاره ضرورې وه. چې تکړه او

پرهیبته حکمران په تخت ناست وے." (۴۱٦)

"خو د مبارک شاه حال دا وو چې. هغه پخپل ځلور کاله او ځلور میاشتې دور حکومت کښې د شراب څښلو، سندرو اوریدلو، داد عیش ورکولو، انعام و اکرام، او هوا پرستی نه سیوا نور څه کار نه دې لرلې. (۴۱۷)

"مبارک شاه زلمے او ناتجربه کار وو. د سلطنت سرور او د شرابو نشې هغه له ځانه ورک کړو. کوم عقل چې ورسره وو هغه د بې عقلو ملګرتیا او د تالی ستو صحبت ترې اُوتروړلو. د یو للمی هلک په حُسن و جمال ئې زړه بائیلو. او دومره حد ته اُورسید. چې یوه لحظه پرې د هغه نه بغیر نه تیریدۀ. د خسرو خان په خطاب ئې اونمانځلو. او د وزارت په عهده ئې سرفراز کړو." (۴۱۸)

ملک خسرو د خپلو اختیاراتو نه په خـلاص متـه فائده پورته کړه. او په ټولو محکمو کښې ئې خپل سړی دننه کړل. او هر کله چې د سلطنت هر څه هغه د غرې نه لاندې کړل. نو آخر ئې د خپلو څو کسانو په مرسته د قطب الدین مبارک شاه سر د تنې نه بیل کړو. په ډیره بې دردۍ سره ئې قتل کړو. او د هغه سر ئې د قصر هزار ستون نه لاندې راګذار کړو." (۴۱۹)

"هغه د قطب الدین مبارک شاه سر قلم کړو. او د محل غولی ته ئې راګذار کړو. د بادشاه څه نوکران هم دغلته موجود وو. هغه هم دوئ مړه کړل. دا واقعه په ۲٦ اپریل ۱۳۳۰ء د شپې مهال مخې ته راغله." (۴۲۰)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه قطب الدین ددۀ مریے و
چه پرېښے ئے په هند په نیابت ؤ (۴۲۱)

قطب الدین ایبک د شهاب الدین محمد غوری غـلام وو. او په هندوستان کښې ئې خپل نائب ټاکلے وو. دۀ په هند د نیابت وظیفه د ۱۱۹۲ء نه تر ۱۲۰٦ء پورې تر سره کړه. په دغه آوان قطب الدین ایبک د

هانسی، بلند شهر، میرتهـ، دهلی، رنتهبور اجمیر، کول علی گرهـ بدایون، بنارس، قنوج، کالنجر، کاپی مهوبا او د مینځنی هند زیاتره علاقې قبضه کړې. او په اسلامی عملدارۍ کښې ئې شامل کړې. خوشحال بابا د قطب الدین ایبک هم ددغه مقبوضه علاقو د نیابت په حواله یادونه کړې ده.

## قطب الدین ایبک:

"قطب الدین ایبک د خاندان غلامان بانی دے. ددے خاندان وجه تسمیه داده چې قطب الدین خپله غلام وو. او ددهٔ نه پس چې کوم خلق ددهٔ جانشین شول. هغه هم زیات تره غلامان وو.

قطب الدین ایبک نسلاً ترک وو. د ایبک معنیٰ شل کیدل ده. چونکې ددهٔ یو لاس شل وو. له دې وجې په ایبک یادیدو. کله چې دے نیشاپور ته راویستلے شو نو دلته یو قاضی القضاه فخرالدین عبدالعزیز الکوفی څوک چې د امام اعظم د اولاد نه وو، دے واخستلو. او د خپل اولاد په رنګ ئې ددهٔ تعلیم او تربیت اُوکړو. دهٔ ډیر زر د قرآن مجید، د فقهې د ضروری مسئلو او ادب علمونه حاصل کړل. بیا یو سړی دے د قاضی فخر الدین نه واخستو. او غزنین ته ئې د ځان سره راویست. کله چې ئې د سلطان محمد غوری په خدمت کښې د هغه په دربار کښې وړاندې کړو. نو هغه دے فوراً واخستو. ځکه سلطان محمد غوری ډیر مردم شناس انسان وو. دغلته سلطان په ډیر اهتمام سره د هغه د فوځی او انتظامی تعلیم و تربیت بندوبست اوکړو. اګر چې قطب الدین صورتاً ښکلے نهٔ وو. خو اخلاق او عادات ئې ډیر ښائسته وو. هغه ښه شهسوار، بهادر، عقل مند، سخی، د ښه خصلتونو څښتن، ریښتونے او راست باز انسان وو. خلقو به عموماً د هغه ډیر تعریفونه کول. (۴۲۲)

"کله چې شهاب الدین غوری شهید شو. او سلطان محمود بن غیاث الدین د هغه شرعی وارث جوړ شو. نو هغه د خپل تره نه زیات د قطب الدین عزت او درناوے اُوکړو. په تخت د کیښناستو سره ئې هغه له د سلطان خطاب ورکړو. او د بادشاهی امارت ئې ورپېرزو کړو. او ددې سره ئې د آزادۍ فرمان هم ورلیږو. قطب الدین ددغې خلعت او فرمان هرکلے د دهلی نه بهر په لاهور کښې اُوکړو. او د خپلې وفادارۍ په دې لوئې قدر (چې د مالک کورنۍ) اوکړو په جامو کښې نه ځائیدو. د محمود دغه خلعت ئې واخستو او په ۱۸

ذیقعد ۶۰۲هـ (مطابق جون ۱۲۱۶ء) کښې په لاهور کښې په تخت کښیناست." (۴۲۳)

"لږه موده پس تاج الدین یلدوز څوک چې د سلطان شهاب الدین غلام وو. او د سلطان نه پس د غزنی بادشاه وو. د لاهور په ترڅ کښې ئې قطب الدین ایبک ته سترګې خرې کړې. څکه نو اُونښتل جنګ اُوشو. د دواړو ارخه فوځیانو سره توري ماتې کړې. خو د قطب الدین لښکریانو بهادری ښکاره کړه. تاج الدین اُوتښتید او په کرمان کښې استوګن شو." (۴۲۴)

"لاهور ئې ترې هم واخستو. بیا غزنین ته لاړ. څلویښت ورځې هلته وو. بیرته لاهور ته راغے. دلته یوه ورځ د پولو کولو په دوران کښې د اس نه را اوغورځید. او حق اُورسید. دا واقعه د تخت نشینی نه څلور کاله پس په ۱۲۱۰ء کښې مخې ته راغله." (۴۲۵)

==☆☆☆==

زهٔ خوشحال چه د وحدت په میومست شوم
وائم دا چه کاوس کله وه کے کے (۴۲۶)

کاوس (کیکاوس) ددهٔ لرغونے نوم هواک شترا وو. او د ژوند زمانه ئې ۵۸۴ق م ده. ددهٔ د بادشاهی وخت یونیم سل کاله یادولې شي. خو آخر چې د دُنیا نه ئې زړه موړ شو. او خپل نمسی کیخسرو ته ئې تخت و تاج پریښودو. چونکې دهٔ د حق او سکون په لټنه دُنیا پریښې وه. او بې نیازه شوے وو. څکه نو خوشحال بابا وائی چې کله زهٔ د وحدت په مېومست یم. نو بیا د کیکاوس اوکے کے غونډې سترو بې نیازه بادشاهانو نه هم زیات بې نیازه یم.

## کیکاوس:

کیکاوس د فارس د کیانی خاندان دوئم بادشاه وو. دهٔ د پلار نامه کیقباد وه. دے د پلار له اړخه د کیخسرو بادشاه نیکه وو. دے چې کله د خپل نمسی کیخسرو د بهادرۍ د کارنامو نه خبر شو. نو خپل حکومت ئې هغه ته اُوسپارو.او خپله د پیرۍ له وجې گوشه نشین شو. فردوسی پخپله شاهنامه کښې دهٔ سره تړلی ډیر روایتونه رانقل کړی دی. چې د رستم او سهراب تر مینځه جنگونه پکښې ډیر حیرانوونکي دی. (۴۲۷)

"دهٔ گدی ځائے همدان (اک بتانا) وو. دهٔ اول خپل ټؤل گاونډی ملکونه رام کړل. بیا ئې د اشوریانو په سلطنت د قبضې په نیت د دارالسطنت نیوا نه محاصره واچوله. خو دغه وخت په ایران د قطب "سیتهیا"قوم حمله اُوکړه. او کیکاوس د نینوا نه مجبوراً محاصره پورته کړه. دغې سیتهیانو کیکاوس له ماتې ورکړه. خو کیکاوس جنگی چال اُوچلولو. او د هغوئ بادشاه ماریس او نور فوځی افسران ئې د دعوت په توگه را اُوبلل. او قتل ئې کړل. د دوئ نه چې اُوزگار شو. نوکیکاوس په نینوا دوباره حمله اُوکړه. او نینوا ئې واخسته. په ٦٠٦ ق م کښې دهٔ د آرمینا کپادوسیا او اشوری سلطنت نه علاوه نورې قطبی علاقې ئې هم پخپل سلطنت کښې شاملې کړې. او د بابل حکمران بخت نصر له ئې خپله لور ورکړه. د فردوسی د بیان تر مخه کیکاؤس اووه نیمې شلې کاله حکومت کړے دے." (۴۲۸)

==☆☆☆==

لایزاله بادشاهي که چا موندله
کیخسرو به وخسرو ته نه سپارله (۴۲۹)

☆

زهٔ خوشحال چه د وحدت په مېومست شوم
وائم دا چه کاوس کله وهٔ کے کے (۴۳۰)

☆

چه په وخت ئے د بهار عشرت په مے دے
بادشاهي ئے مبارک شه لکه کے دے (۴۳۱)

"کے" د قدیم ایران د بادشاهانو لقب وه. خاص طور سره کیخسرو په دے نامه یادیږي. (۴۳۲)

د وړومبی شعر په حقله وړاندې ذکر تیر شوې دے. ددغې د تفصیل د پاره د خسرو پرویز تبصره په مخونو ۲۵۵، ۲۵۶، ۲۵۷ اُوګورئ. دویم شعر کښې خوشحال بابا د کاوس (کیکاوس) او کے کے (کیخسرو) یو مشترکه اړخ پله اشاره کړې ده. او هغه دا چې دغې دواړو بادشاهانو د پوره وخت حکومتونو کولو نه پس دُنیا پریښې وه. او د معرفت د حصول د پاره ئې ګوشه نشیني اختیار کړې وه. ولې دریم شعر کښې د "مے" په ذریعه په بهار کښې عشرت حاصلونکی له د "کے" (کیخسرو) له تشبیه ورکول د دویم شعر د مضمون په رنا کښې غور طلب ضرور ده.

## کیخسرو:

"کیخسرو د ایران د کیاني خاندان یو افسانوی بادشاه وو. دهٔ شپیته کاله حکومت کړے وو. ددهٔ د پلار نوم سیاؤش وو. مور ئې "فرنګیس"نومیده څوک چې د توران د روایتي بادشاه افراسیاب لور وه. کیخسرو د پلار د قتل نه پس پیدا شو. او دهقانانو د ځان سره په پټه اوپاللو، هر کله چې لوئے شو. نو "ګیو" دے او ددهٔ مور کیکاؤس له راویسته. هغه ددهٔ د بهادرۍ د کارنامو نه دومره خوشحاله شو. چې خپل تاج و تخت

ئې دۀ ته حواله کړو. او پخپله ئې گوشه نشینی اختیار کړه.

کیخسرو د خپل پلار د بدل اخستو اراده اُوکړه. او د افراسیاب د مقابلې د پاره ئې د خپل فوځ سر لښکرې "رستم" ته اُوسپارله. د ډیرو جنګونو نه پس رستم په توران قبضه اُوکړه. او افراسیاب قتل کړے شو. (۴۳۳)

ددې نه پس کیخسرو د بادشاهۍ نه لاس په سر شو. او دُنیا ته ئې شاکړه. د کابل، زابلستان او نیمروز صوبې ئې رستم ته ورکړې او د ایران د سرو سپینو مالک ئې دکیکاوس زوم لهراسپ مقررکړو. خپله د یو څو کسه امیرانو سره یوې چینې پله روان شو. کومه چې هغه د خپلې گوشنۍ د پاره غوره کړې وه. کله چې هلته اُورسید. نو غائب شو. او کوم کسان چې ورسره تللی وو. هغه طوفان تباه کړل. دۀ نوي کاله ژوند بیا موندو. (۴۳۴)

== ☆☆☆ ==

مامون زویه د هامون ؤ
په هر فن کې ذوفنون ؤ (۴۳۵)

☆

و مامون وته حاضر شه
مامون ده وته ناظر شه

-------------------------

مامون خوښ په دا ویل شه
توبه کار په زړه له گل شه (۴۳۶)

☆

د مامون مصاحبان وو
د نیکۍ ناصحان وو (۴۳۷)

☆

د بغداد بادشاه مامون ؤ

چې په عقل ذوفنون ؤ (۴۳۸)

مامون الرشید د عباسي خاندان یو نوموړے بادشاه تیر شوے دے۔ د مثنوۍ په دغه ورومبي شعر کښې مامون الرشید د هامون زوئے یاد کړے شوے دے۔ زما په خیال دا د کتابت غلطي ده۔ چې د هارون په ځائے هامون درج شوے دے۔

## مامون الرشید:

"خپل نوم ئې عبدالله وو۔ دے د عباسي خاندان اُووم خلیفه وو۔ او د هارون الرشید دویم زوئے وو۔

د خلیفه امین د بې دینۍ، بدچلنۍ او غفلت له وجې چې په ملک کښې اړے ګړے راپورته شو۔ نو خلقو دغه کشر ورور مامون خپل خلیفه جوړ کړو۔ دې سره د دواړو تر مینځه جنګ اوشو۔ او امین شکست اوخوړو۔ دې نه پس یوه بله انبنته د دوئ تر مینځه په ٦ اکتوبر ۸۱۴ھ کښې اوشوه۔ او امین پکښې سرکیښود۔ اؤ تول ایران مامون الرشید خپل خلیفه اُومنو۔ ده د تولو نه ورومبے د خراسان حکومت خپل سپه سالار طاهر ابن حسین ته حواله کړو۔ دده په دور کښې مسلمانانو د افریقې د تهسلی جزیرې محاصره اُوکړه۔ او په ډیرو ځایونو ئې قبضه اوکړه۔ دغه شان د کریت جزیره هم دده په وخت کښې د مسلمانانو لاس ته راغله۔ ده خپله دارالخلافه د بغداد په ځائے مرو جوړه کړه۔

دده د علم سره ډیره مینه وه۔ ده به خپل ډیر وخت د عالمانو، فاضلانو سره په بحثونو کښې تیروو۔ او د هر رنګه علومو او فنونو د حاصلولو په حق کښې وو۔ د یوناني اکثر کتابونه دده په وخت کښې په عربي کښې ژباړلې شوی دی۔ په بغداد کښې ئې یو دارالعلوم جوړ کړے وو۔ دده په دور کښې هر رنګه مذهبي آزادي وه۔ او د هر چا سره به یو شان سلوک کولے شو۔ یوه شورئ ئې قائمه کړې وه۔ چې د هر مذهب منونکي پکښې غړي جوړ کړے شوي وو۔ دده ښځه خاتون بوران دده د وزیر حسن بن سهیل لور وه چې ډیره زیاته ښائسته، قابله او تعلیم یافته وه۔ هم ددغې قابلیت له وجې هغې په امور سلطنت کښې لوئې لاس لرلو۔ هغې د

ښځو د پاره کښې شفاخانې او مدرسې جوړې کړې وې." (۴۳۹)

د هغه د ژونددوه اړخه ډیر جوت وو. یو اړخ ئې ډیر رنګین وو. ---------- د موسیقۍ ډیر شوقی وو. او خپله هم د موسیقۍ ماهر وو. دده په دربار کښې ډیر لوئې لوئې او د کمال خاوندان مسیقاران راجمع وو. او د رقص د سرود محفلونه به ئې ګرمول. د ژوند دویم اړخ ئې مذهبی وو. په دغه معامله کښې هغه معجون مرکب وو. د هغه ځنې عقائد د شیعه ګانو وو. ځنې د اهل سنتو وو. او بعضې عقائد ئې فلسفیانه وو. حافظ قرآن وو. او د خلفائې راشدین نه علاوه دده هومره دولت د بل یو خلیفه په برخه کښې نه وو راغلے. په خلفائې راشدین کښې صرف د حضرت عثمانؓ په حافظ قرآن کیدو باندې اتفاق دے. دهٔ به اکثر په رمضان کښې په یوه شپه کښې قرآن ختمولو. او تر سحره به په عبادت کښې مشغول وو." (۴۴۰)

"په ۲۱۸هـ کښې چې هغه په څلورم ځل د روم په زمکه حمله اُوکړه. نو په لاره کښې د سرطوس په مقام باندې تبې اُونیوو. او څو ورځې پس وفات شو. دهٔ خپل ورور معتصم خپل ولی عهد اوټاکلو. (۴۴۱)

== ☆☆☆ ==

بیا سلطان مبارک شاه د خضر خان وه
چه ښکاره ئے له جبینه سیادت ؤ (۴۴۲)

مبارک شاه:

مبارک شاه د خضر خان زوئے وو. کله چې خضر خان په ۱۴۲۱ء کښې وفات شو. نو مبارک شاه په تخت کیښناست. څنګه چې دهٔ د پلار په حکومت کښې وخت په وخت بغاوتونه راپورته کیدل. او هغه ته به ئې په ملکی چارو کښې خندان پیدا کول. هم دغه رنګ د مبارک شاه ټول ژوند د ملکی بغاوتونو په چقولو کښې تیر شوے دے. او بیا په تېره تېره جسرت کهوکر خو دے بیخی په آرام نه دې پریښې. هر وخت به

ئې په پنجاب حملې کولې۔ ډیر ځله ئې د جالندهر، سرهند او لاهور سیمې تباه کړی دی خو هر ځل ناکامه شوے دے۔

مبارک شاه د فولاد ترک د فسادونو نه هم پوزې له راغلے وو۔ فولاد ترک په بټنډا او راړپری باندې قبضه اُوکړه۔ او د کابل د والی امیر علی په مرسته ئې د دهلی فوځونو له شکست ورکړو۔ او په پنجاب ئې تالان کډ کړو۔ په ډیر مشکله سره سرور الملک دغه سیلاب په شا اُوتمبوؤ۔

ددې نه پس ابراهیم شرقی د دهلی اخستو په خیال د مبارک شاه سره ښکر آرام کړو۔ ولې مبارک شاه هغه ناکامه ستون کړو۔ بیا مبارک شاه ته په کټهر، کمپیله او بیا نه کښې بغاوتونو سر راپورته کړو۔ ولې دۀ دغه بغاوتونه هم وچقول۔ خو په ۱۴۳۴ء کښې سرور الملک د نورو څو اُمراء سره سازش اُوکړو۔ او مبارک شاه ئې قتل کړو۔ سره ددې چې دۀ پخپل دور کښې د راپورته کیدونکو بغاوتونو د ختمولو ډیر کوششونه کړی وو۔ خو بیا هم دغه بغاوتونه ختم نۀ شول۔ او دے ئې ختم کړو۔" (۴۴۳)

== ☆☆☆ ==

بیا سلطان محمد شاه دده وراړۀ وه
چه پښتون دده په عهد په عزت ؤ (۴۴۴)

## محمد شاه:

د محمد شاه پلار شهزاده فرید نومیدو۔ او د نیکه نامه ئې خضر خان وه۔ محمد شاه چونکې خپل تره مبارک شاه لکه د زامنو پاللے وو۔ ځکه نو کله چې مبارک شاه په کال ۱۴۲۲ء کښې قتل کړے شو۔ نو دۀ ته د مبارک آباد په مقام د بادشاهی تاج په سر کړے شو۔ او دغه شان دۀ خپله خطبه او سکه جاری کړه۔

یو کال پس یعنی په ۱۴۳۴ء کښې دے ملتان ته لاړ۔ هلته ئې د بزرګانو او مشائخو په مزارونو

حاضری اُوکړه. په جسرتهـ کهوکر پسې ئې لښکر اُولیږو. او خپله دهلی ته راستون شو. په دغه ورځو کښې د ملتان لنګاه قبیلې هم بغاوت اُوکړو. او د میواتیانو په لمسه د مالوې حاکم سلطان محمود هم خپلې لښکرې په دهلی راسمې کړې. ولې د بهلول نرتوب ددغه لښکرو مخو نه مالوې پله اُوګرځول. او ډیر مالونه ئې ترې اُولوټل. محمد شاه د بهلول په دې نرتوب ډیر خوښ شو. هغه ته ئې د فرزند لقب او خان خانان خطاب ورکړو...... خو وروسته په ملک کښې اړے ګړے پیدا شو. بدامنی خوره شوه. د محصولونو په اخستو کښې خلل راغے. امیرانو سرکشی اختیار کړه. او دا شان د یولس کاله یوې میاشتې او څو ورځو حکومت کولو نه پس محمد شاه وفات شو." (۴۴۵)

== ☆☆☆ ==

بیا سلطان محمد شاه د تغلق شاه وه

چې ددهٔ په عصر خلق فراغت ؤ (۴۴۶)

دا بادشاه متلّون مزاج وو. څه ټاکلی اهداف ئې نه لرل. خو چې زړه به ورته څه وئیل. هغه به ئې عملی کول. ولې ددې باوجود دهٔ خپل اولس ته ډیرې آسانی او سهولتونه ورکړی وو. د څه په برکت چې خلق ډیر اسوده او سوکاله وو. خوشحال بابا د سلطان محمد شاه هم دغه صفت ستائیلے دے.

## محمد شاه بن تغلق

"سلطان محمد شاه الف خان (الغ خان) د لوئے عزتمند پلار د وفات نه پس په ۷۲۵هـ مطابق د ۱۳۲۵ء د سلطنت د واک اختیار مند شو. د نغارو یو درز جوړ شو. او د تخت نشینی د مبارکی د پاره د عوامو او خواصو یوه غلغوله جوړه شوه. لارې کوڅې لکه د ناوې سینګار کړې شوې. هر اړخ ته د عیش و عشرت یوه هنګامه پورته شوه. د خزانو دروازې خلاصې کړې شوې. او په انعاماتو او خیراتونو په لکونو روپۍ خرڅ

کړې شوې." (۴۴۷)

"محمد تغلق۔ جونا خان لیکلے لوستلے او ذهین وو۔ حافظه ئې ډیره ښه وه۔ د باکماله شاعرانو او د فنون لطیفه ډیر قدردان وو۔ دۀ په فلسفې، هیت، حساب، منطق، سائنس او طب وغیره هم لاس برے لرلو۔ د اعلیٰ درجې خوش نویس وو۔ د منطق د ستر عالم کیدو په وجه څنې مؤرخینو دے د خپلې زمانې د ارسطو په نامه یاد کړے دے." (۴۴۸)

"دے بادشاه څه ډیر عجیبه غوندے خوئے خصلت لرلو۔ کله به ورته زړه اُووئیل چه راشه دارالخلافه د ډهلی په ځائے دولت آباد کړه۔ خلقو ته به ئے هلته د تللو حُکم ورکړو۔ خلق به لا د ډیرو خوارو زارو اوکړاوونو نه پس رسیدلی نه وو۔ چه بیا به ئے ورته اووئیل چه نه هم ډهلے ټیک دے۔ کله به ورته خیال راغلو چه د تانبے سکه جاری کړه۔ د هر هندو کور یوه ټکسال جوړ شو۔ د تانبے سکے بے حسابه بازار ته راووتے۔ بیا ئے حکم ورکړو چه نه تانبه د سکه سازئ د پاره ټیک نه ده۔ او هم هغه زړه سکه به جاری وی۔ یو ځل ئے زړه ته راغله چه راشه یره دا خراسان، ترکستان، خوارزم خو فتح کړه۔ څه کم څلور لکه فوځ ئے بهرتی کړو۔یو نیم کال ئے ښے زیاتے تنخواه گانے ورکړے ولے دویم کال ئے د ساتلو نه وو۔ هر څه ئے تس نس کړل۔ نور خو لاپریږده د چین د اخستو د پاره روان شو۔بے شمیره فوځونه ئے د اوسنی شاهراه قراقرم (شاهراه ریشم) په لاره پدے اراده روان کړل۔بے حسابه فوځ ئے د لارو د سختو ښکار شو۔ څه ورته خلقو اووژل۔ څه لږ غوندے واپس راتلو کښے کامیاب شول هغه ده خپله مړه کړل۔ د بادشاه د داسے کارونو د لاسه د حکومت ټول نظام گډوډ شو۔ په ټول وطن کښے بغاوتونه شروع شول." (۴۴۹)

"محمد بن تغلق یو ډیر سخاوتی انسان وو۔ د خپل سخاوت په بنیاد هغه ډیر مشهور وو۔ فیاضی د هغه یو سپیځلے صفت وو۔ د قحط په ورځو کښې چې غنم په شپږ دیناره یو من خرڅیدل نو دۀ د شپږ میاشتو غله د شاهی ذخیرو نه را اُوویسته۔ او د دهلی په خلقو ئې تقسیم کړه۔ دغه دوران کښې به هر سړی ته که هغه آزاد وو که غلام وو، وړوکے وو که لوئے وو۔ خوهره ورځ به ورته یو سیر غنم د بادشاه له طرفه مفت ورکولې شول." (۴۵۰)

سلطان د دکني اميرانو د بغاوت ختمولو په کوشش کښې لګيا وو. چې په ګجرات کښې "طغی" نومې سړی بغاوت اُوکړو. او خپلې اميران ئې د خپل قابليت په بنياد د ځان سره کړل په "انهلواړه" ئې قبضه اوکړه. سلطان د "ديوی ګړی" مهم نيمګړے پريښود ګجرات ته را اورسيد. طغی له ئې شکست ورکړو. هغه اُوتښتيد او په ټهټه (سندهـ) کښې ئې د باغيانو سره پناه واخسته. سلطان پسې اُورسيد. خو هم دغلته د هغه د ژوند اوربشه ختمه شوه اوپه ۱۳۵۰ء کښې حق اُورسيد. (۴۵۱)

خوشحال بابا ددهٔ د شخصيت يو اړخ ته اشاره کړې ده. چې ددهٔ د فياضۍ له وجې خلق خوشحاله او اسوده وو. خو دلته دا خبره د يادونې وړ ده. "چې څرنګې دے په فياضۍ کې بې مثله وو. هم دغه رنګ ئې په ظلم و ستم کښې هم ثاني نه لرو. د ظالمانو سرخيل، د سنګدلانو مشر، د جور و جفا باني او زور زياتی موجد وو. ددهٔ د ذهن په بتۍ کښې به هر وخت هر قسم عذابونه اؤ ظلمونه بيخی تيار پراته وو. د سترګې په رپ کښې به ئې مالدار، غريب ... سرمايه دار، بې نوا .... سوداګر، کنګال او کاردار به ئې بې روزګار کړو. قتلونه او ويني تويول خو ددهٔ په خته کښې اخښلي شوې وو. چې د قهر و غضت اُور به ئې واخست. نو لمبې به ئې د انساني وينې نه بغير نه مړې کيدې. چې د ستم طوفان به ئې راغے نو په سوونو زندګۍ به ئې په هوا کښې والوځولې. په عام دربار کښې به ئې د سزاګانو بازار تود کړے وو. د چا نه به لاس پښه پريکښده، څوک به بوړے شو او څوک به نيم غوړے. څوک به ميخی شول، او د چا به هډوکی مات کړې شول. که د يو به د ژوندی سوزولو حُکم کيدو، نو بل به دوه ټوټې کيدو. که د چا نه به څرمن وخکلې شوه، نو څوک به د هاتی په پښو کښې چقولے شو. او پهانسی ورکول خو د هغه د پاره يوه لوبه وه." (۴۵۲)

== ☆☆☆ ==

بیا سلطان محمد شاه د فیروز شاه وه

چه د پلار په زندګئ ئے سلطنت ؤ (۴۵۳)

سلطان محمد شاه د فیروز شاه تغلق زوئے وو. څوک چې خپل پلار پخپل ژوندانه پخپل ځائے کیښنولے وو. دے ناتجربه کاره وو. زلمے وو. د حکومتي چارو نه دومره خبر نه وو. ځکه ئې ډیر زر د حکومت سره سره خپل سر هم اوبئیللو. خوشحال بابا هم دغه د پلار په زندګی د زوی د سلطنت ذکر کړے دے.

## سلطان محمد شاه تغلق ثاني:

"محمد شاه تغلق ثاني عرف ناصر الدين بن فيروز شاه تغلق په ۳ جون ۱۳۵۳ء مطابق د ۳ جمادی الاول ۷۵۴ھ کښې پیدا شو." (۴۵۴)

کله چې فیروز شاه بوډا شو. او د ځواني پسرلی د هغه نه مرور شول. نو زور ئې کیښناست او کمزوری پرې غلبه اُوکړه. په ملا تیټ شو. د خپلو بازو پریوت او سپینو ږکو ورته د مرګ خبرونه راوړل. دغه وخت چې ۷۸۹ھجری وه. فیروز شاه خپل زوئے شاهزاده محمد خان ته د سلطان ناصر الدين والدينا محمد شاه خطاب ورکړو. د خزانو کنجیانې او د ملک واک ئې ورته اُوسپارلو. او خپله د اخرت په فکر کښې د نیکو خلقو په څیر د الله تعالیٰ په عبادت کښې مشغول شو. د جمعې په خطبه کښې به د دواړو نومونه اخستے شول.

لږې ورځې پس د ګجرات ګورنر ملک فرحت الملک خپل عهدیدار په اعتماد کښې واخستل او سکندر خان ئې قتل کړو. څوک چې د شاهي دربار نه د ګورنرۍ په حیث ګجرات ته لیږلے شوے وو. سلطان محمد شاه چې فرحت الملک له د سزا ورکولو په هڅه کښې شو. نو په ملک کښې ددې سره ډیر اړے ګړے راپیدا شو. د فیروز شاه لښکر دا اړے ګړے د محمد شاه د بې همتۍ اونالایقۍ سره تعبیر کړو. او د محمد شاه سره ئې ښکر ارام کړو. خاص په دارالسلطنت کښې خانه جنګی اُونښته. سلطان فیروز شاه هم میدان ته را اُووتو. محمد شاه ئې د مقابلې توان اُونه لرو. اُوتښتیدو او د سرمور په لمن کښې ئې پناه واخسته. فیروز شاه ترې خفه وو. دغلته ئې پرینښودو او د ملک نه ئې اُوشړلو. او دا شان خپل نمسی شاهزاده تغلق شاه بن فتح

خان ئې خپل ولی عهد اوټاکلو. (۴۵۵)

"تغلق شاه زلمے او ناتجربه کاره وو. دهٔ د ځنو امیرانو په وینا او لمسه خپل وراره ابوبکر په زندان کښې واچولو. او خپله په عیش و عشرت او نفس پرستی کښې مشغول شو. او دا رنګ د ملکی کارونو نه ئې بیخی غفلت اختیار کړو. رکن الدین او نورو امیرانو چې ددهٔ دا حال اُولیدو. نو د قیدی شهزاده ابوبکر په اشاره ئې بغاوت اُوکړو. مبارک کبیر وزیر اعظم ئې د دولتخانې په دروازه کښې قتل کړو. کله چې سلطان ددې حادثې نه خبر شو نو په دویمه دروازې ئې د تښتیدو هڅه اوکړه. دغلته امیرانو دے د خپل مصاحب خان جهان سره قتل کړو. تغلق شاه پنځه میاشتې او درې ورځې حکومت اوکړو." (۴۵٦)

"څور ورځې پس شاهزاده محمد شاه د ډیر جاه و جـلال سره دهلی ته راننوت او په کال ۷۹۲هـ مطابق ۱۳۸۹ء کښې ئې د سلطنت تخت په دویم وار واخستو او د نوې سره ئې پخپل نوم خطبه او سکه جاری کړه. (۴۵۷)

د تتې د قیام په آوان سلطان تبې اُونیو. او ددغې بیمارۍ په حالت کښې ئې د عاشورې روژه هم اُونیوله. په روژه ماتې کښې ئې مهے اُوخوړو. ددې سره ئې په ناجوړتیا کښې نوره هم اضافه اُوشوه. یو لس ورځې ئې بیماری تیره کړه. او په ۲۱ محرم ۷۵۲هـ (مطابق د ۲۰ مارچ ۱۳۵۱ء) ئې د دارالسلطنت نه په سوونو کروه لرې فاصله د مرګ داعی ته لبیک اُووے (۴۵۸)

== ☆☆☆ ==

محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا
خبر واخله له آیازه له محمودَ (۴۵۹)

☆

نه محمود شته نه آیاز دور ئې تیر شو
په جهان پاتې خبرې د محمود دی (۴۶۰)

☆

فردوسی لری څو بیته له محموده
زه لرم د اورنګ زیب د زم جوال (۴۶۱)

☆

یوه ورځ محمود په لار تهٔ
یا په سیر یا په ښکار تهٔ
د محمود په نظر کښیووت
پرې یې ډغ کړ کانی پریووت
محمود دا ووې هغه ته
هونبره کانی ورې وڅه ته؟
محمود لاړ راغی په بیار ته
کانی پروت و مینځ د لار ته
چا یو لور نه کړله لیرې
د محمود بادشاه له ویرې
د محمود په حکم کانی
پریووت څوک به یې آخانی

چې محمود وته عرض وشه
په آخست حکم ونشه
چې محمود بادشاه حيات و
کانی پروت په خپل ثبات و (۴۶۲)

سلطان محمود غزنوی د غزنی نامتو واکمن وو. چې په هند ئې اوولس کاميابې حملې کړې وې. او د سومنات په ماتولو ئې د بُت شکن لوئے اعزاز ګټلے وو. خو خوشحال بابا ئې پخپل کلام کښې د فردوسی د شاهنامې او اياز د محبت په حواله ذکر کړے دے. ددې نه علاوه په اخلاق نامه کښې ئې د محمود غزنوی د نوم سره تړلے يو حکايت هم رانقل کړے دے.

## محمود غزنوی (سلطان):

په څلورمه صدی هجری کښې امير الپتګين د ترکستان يو لوئے بادشاه تير شوے دے. ددهٔ څلورم جانشين ناصرالدين سبکتګين د سلطان محمود غزنوی پلار وو. محمود غزنوی په کال ۹۷۱ء کښې پيدا شو. ددهٔ د تعليم او تربيت د پاره يو عالم او فاضل اُستاد مقرر شوے وو. هم ددغې اُستاد نه محمود غزنوی دينی علوم حاصل کړل. قرآن ئې ياد کړو. او د فقې او حديث د باريکو نه ئې ځان خبر کړو. په جنګی هنرونو کښې ئې ښه مهارت تر لاسه کړو. او د يو سپاهی په حيث ئې د پنځلس کالو په عمر کښې د خپل پلار سره په ډيرو جنګونو کښې برخه واخسته. او د تورزنی داسې کارنامې ئې اوښودلې چې پلار ورته د "سيف الدوله" خطاب ورکړو. او د خپلو فوځونو سپه سالار ئې اوټاکلو.

په ۹۹۷ء کښې چې امير سبکتګين حق اُورسيد. نو محمود غزنوی په تخت کيښناست. او خراسان، خوارزم، غرجستان، سيستان، همدان او اصفهان ئې قبضه کړل. بيا ئې د هندوستان اخستو د پاره حملې شروع کړې. او اوولس ځله ئې په هندوستان يرغلونه اوکړل. آخر سومنات ئې فتح کړو او پخپل فولادی ګرز ئې سومنات ټوټې ټوټې کړو. څه ټوټې ئې بغداد او مکې ته اُوليږلې او څه ئې د غزنی د لوئې جمات او

شاهی محل مخې ته کیښودې." (۴٦٣)

"د آخری جنګ نه څو ورځې پس په سلطان محمود غزنوی نری رنځ سخته حمله اوکړه. اګر چې سلطان محمود غزنوی په دے مرض کښې له ډیرې مودې نه اخته وو. خو هغه د خپلې بیمارۍ حال هیچا ته هم نهٔ وئیلو. طبیبانو هغه ته د مکمل آرام کولو مشوره ورکړه. خو هغه په امروزه کارونو کښې ځان مشغول. اُوساتو. او آخر د درې شپیته کالو په عمر کښې په ۴۲۱هـ کښې حق اُورسید. او په فیروزی باغ کښې دفن کړے شو." (۴٦۴)

سلطان محمود غزنوی د وړه بګی وجود او درمیانه قد سړے وو. د لاس و پښو نه ښه مضبوط وو. مخ ئې د ننکو دانو وهلے وو. هم دا وجه وه چې ډیر بد رنګه ښکاریدو. د جنګ په هنرونو کښې بې مثله وو. په همت کښې لکه نمر وو. چرته ئې هم حوصله نهٔ بائیلله. د الله په مدد ئې یقین لرلو. استقلال، کلکه اراده او زرورتیا د هغه د طبیعت خاصه وه. (۴٦۵)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه معز الدین د شمس الدین ؤ

چه هر کوره د غلیم ځنے هیبت ؤ (۴٦٦)

معز الدین بهرام شاه د شمس الدین زوئے او د رضیه سلطانه ورور وو. کله چې ملک یاقوت په جنګ کښې اُووژلے شو. او رضیه سلطانه، ملک التونیه په نکاح واخسته. نو په دهلی کښې ترک امراء د رضیه سلطانه دا ورور خپل مشر جوړ کړو. بل طرفته ملک التونیه او رضیه سلطانه دخپلو فوځونو سره دهلی ته راروان شول. جنګ اُوشو. او معزالدین بهرام ګته اُوکړه. او دغه دواړه ښځه خاوند پکښې قتل شول. د تخت نشینی نه پس

قاضی جلال الدین کاشاني، قاضی کبیر الدین شیخ محمد شامی، تاج الدین موسیٰ ملک بدرالدین او قاضی شمس الدین ددهٔ خلاف د بغاوت سازش اوکړو. دهٔ قاضی شمس الدین د هاتی په پښتو کښې اوچقوؤ. ملک بدر الدین او تاج الدین موسیٰ ئې اووژل. قاضی جلال الدین کاشافي ئې له خپلې عهدې مات کړو. دے اقدام د غلیم او سازشیانو په ذهنونو ډیر اثر اوکړو. خوشحال بابا په دې شعر کښې هم د معزالدین دغې رُعب پله اشاره کړې ده.

## معزالدین بهرام شاه:

"د دهلی د سلطان شمس الدین التتمش دریم زوئے وو. کله چې د التتمش ولی عهد ناصرالدین محمود وفات شو. نو د رضیه سلطانه د گرفتاری نه پس ترک اُمراء فیصله اوکړه. چې د هغې ورور بهرام شاه به بادشاه کړو. خو ددې شرط سره چې "ابتګین"به د ملک نائب وی." (۴۶۷)

"او دا شان سلطان معزالدین بهرام شاه د ارکان سلطنت او امراء په اتفاق سره په ۲۸ رمضان ۶۳۷هـ د کل په ورځ په تخت کښیناست." (۴۶۸)

"او د ناستی سره ئے سازشیانو ته ډیرے سختے سزاګانے ورکړے او پدے طریقه ئے خپل رُعب او حیثیت د خلقو په زړونو کښے کښینولو." (۴۶۹)

"ددهٔ د تخت نشینئ لا یو کال پوره شوے نهٔ وو. چې عیش و عشرت پله راغب شو. او د نظام حکومت نه د لاپرواهئ نتیجه دا را اُووته. چې په لاهور منګولیانو قبضه اُوکړه. او په ملک کښې انتشار او اړے ګړے پیدا شو. بهرام شاه په دغه حالاتو کښې د مذهبی طبقې په ذریعه د خپل حکومت او اقتدار په ځائے ساتلو د پاره کوشش اُوکړو. کله چې منګولیانو په لاهور قبضه اُوکړه. نو د هغوئ د ظلمونو د قصو نه په دهلی کښې هم خلق په لړزان شول. دغه وخت سلطان د دهلی خلق په "قصر سپید"کښې راجمع کړل. او منهاج السراج ته ئې حکم اوکړو. چې دغه خلقو ته وعظ اُوکړی. د منهاج د وعظ په نتیجه کښې اُولس یو ځل بیا د سلطان په لاس بیعت اُوکړو. (۴۷۰)

"کله چې سلطان لاهور ته لښکر روان کړو. نو په لاره وزیر خواجه مهذب الدین په لښکر کښې کانې اُوتکول. څکه چې هغه د سلطان نه د څو خبرو بدله اخستله. ددې غرض د پاره ئې د لښکریانو نه د سلطان د معزول کولو بیعت واخستو. کله چې سلطان خبر شو. نو ددغې فتنې د دفعه د پاره ئې شیخ الاسلام سید قطب الدین اُولیږلو." (۴۷۱)

"خو مغوئ اُونهٔ منله. او شیخ الاسلام دهلی ته مایوسه واپس شو. ددې نه پس هغه د خپلو تولو مصلحتی امیرانو سره د سلطان معزالدین د لرې کولو د پاره دهلی ته راغے. او د دهلی محاصره ئې اُوکړه. جنګ اُوشو. او امراء په دهلی د ګل په ورځ په ۸ ذیقعده ۶۳۹هـ قبضه اُوکړه. سلطان معز الدین ئې څو ورځې په زندان کښې اُوساتو. او بیا ئې قتل کړو. دهٔ دوه کاله او دوه نیمې میاشتې حکومت اُوکړو." (۴۷۲)

== ☆☆☆ ==

د اسلام بادشاه اول معز الدین ؤ
چه یو کال ئے په دهلی کښے اقامت ؤ (۴۷۳)

ذ تاریخی شواهدو په رڼا کښې معزالدین د هندوستان رام کولو د پاره په دې سیمه پنځلس ځله یرغل کړے دے. په دغه پینځلس حملو کښې هغه دوه ځله ماتې خوړلې دے. او دیارلس ځله ئې فتح حاصله کړې ده. د هغه د سلطنت ټوله موده دوه دیریشت کاله جوړیږی. او په هندوستان ئې پنځلس کاله دوه میاشتې حکم چلولے دے. هغه چې دلته راغلے دے . نو د حملې کولو نه پس چې نتیجه هر څنګه مخې ته راغلې ده. دلته ایسار شوے نه دے. بلکې په مخه تلے دے. ولې خوشحال بابا ئې په دهلی کښې یو کال اقامت ښائی.

## معزالدين غوری:

"خپل نوم ئې محمد بن سام غوری وو. او شهاب الدين او معزالدين ددهٔ لقبونه وو. تاريخ کښې د محمد غوری په نوم شهرت لری. دے د "غور"رياست د بادشاه غياث الدين کشر ورور وو. غياث الدين په ۱۱۷۳ء کښې "غزنے" واخستو او دهٔ ته ئې اُوسپارو. محمد غوری د ټولو نه اول په غزنی کښې خپل حکومت مضبوط کړو. او بيا ئې په هندوستان کښې د اسلامی حکومت جوړولو د پاره هڅه اُوکړه. د هغه دغه هڅه کاميابه شوه. دهٔ په کال ۱۱۷۵ء کښې ملتان فتح کړو. درې کاله پس ئې په گجرات ورخته اُوکړه. او د هغه ځائے د راجپوت راجا بهيم نه ئې ماتې اوخوړه. په ۱۱۸۶ء کښې ئې د لاهور حاکم خسرو ملک له شکست ورکړو. او د پنجاب او سندهـ علاقې ئې ترې واخستې. دغه رنګ په ۱۱۹۲ء کښې ئې د تراوړی په مقام پرتهوی راج له ماتې ورکړه او په اجمير او دهلی ئې قبضه اوکړه. (۴۷۴)

"دوهٔ کاله پس معز الدين بياغزنی ته لاړ. او په قنوج ور اُوختو دغه زمانه کښې د قنوج رياست د راجپوتانو په لويو لويو رياستونو کښې شمیرلے کیدو. "جې چند" په دغه وخت کښې د قنوج حکمران وو په دغه ورخته کښې د قنوج نه علاوه معز الدين ته نورې علاقې هم په لاس راغلې. خو دا وه چې تر ۱۱۹۵ء پورې دهٔ بنه برابر حملې اوکړلې. او د هندو پاکستان ډيره ستره علاقه ئې قبضه کړه. نن ورځې دغه علاقه مغربی پاکستان يادولې شی." (۴۷۵)

"کله چې د هغه مشر ورور سلطان غياث الدين چې په حقيقت کښې هم هغه سلطان وو. وفات شو. نو شهاب الدين غوری په ډير اخلاص سره د هغه زامنو ته د ترکسان، خوارزم او نورو علاقو واک ورکړلو. او خپله ئې د غزنی په حکومت صبر راوړو. څه موده پس خبر راغے چې د لاهور په خواوشا کښې کهوکهرانو بغاوت اُوکړو. او فساد ئې خور کړو. په دغه سلسله کښې د کهوکرانو د سزا د پاره هغه په لسم ځل د غزنی نه لاهور ته راغے. د دهلی نه ملک قطب الدين هم ځان حاضر کړو. دواړو په شريکه دغې سرکشه قبيلې له سزا ورکړه. او بيا سلطان غزنی ته واپس شو. د غزنی سره نزدے سلطان د يو کهوکر د لاسه مړ شو. دغه کهوکر

ددۀ سره راغلے وو. ددۀ نه ډير زيات مال و دولت، سره سپين پاتی شول. صرف دهيرو مقدار پنځه سوه منه وو. نور څيزونه هم په دغه اندازه اخستلې شی." (۴۷۶)

"په هر طور دې کښې شک نشته. چې سلطان شهاب الدين غوری ډير زيات زړه ور او بهادر انسان وو. دے د محمود غزنوی په شان شوم نه وو. بې کچه فياض او د لوئے سينې خاوند وو." (۴۷۷)

"د عالمانو سره ئې ډير عقيدت وو اکثر به ئې د عالمانو سره نشستونو کول او په دينی مسئلو به ئې ورسره بحث کولو د امام فخر الدينؒ رازی سره ددۀ ډيره خوږه وه. امام صاحب به پخپله شاهی محل ته راتللو. او دۀ ته به ئې وعظ کولو. د سلطان نارينه اولاد نه وو. ددۀ فقط يوه لور وه. د هغې دا شوق وو. چې غلامان به ئې اخستل، او هغه به ئې تربيه کول. دغه شان د هغې څلويښت غلامان اعلیٰ تعليم يافته او د ښۀ تربيت په کالو ښائسته وو. سلطان دغه غلامان د خپل وجود نه ګڼل. هم دغه کسان د ملک په مختلفو سيمو کښې حاکمان او ګورنران ټاکلے شوی وو." (۴۷۸)

== ☆☆☆ ==

بيا سلطان معز الدين کيقباد وۀ
ورڅخه چه هم صورت او هم سيرت ؤ (۴۷۹)

د معز الدين کيقباد په حقله د خوشحال بابا د دغې خيال سره چې هغه د صورت او سيرت خاوند وو. د تاريخی واقعاتو په رڼا کښې اتفاق کول سم نه ښکاری. برنی ليکی چې:

"ښکه چې هغه په عيش و عشرت کښې ارام وو. هغه غوښتل چې ټول خلق دی د هغه په رنګ په عيشونو کښې اخته شی." (۴۸۰)

وړاندې ليکی:

"ددې طرز فکر نتيجه دا راووته چې لوئے، وړوکے، ځوان، بوډا، عالم،

جاهل، عاقل، ناپوهه، هندو، مسلمان غرض د معاشرې د هرې طبقې سره تعلق لرونکے یو کس هم د درباری رنګ د ژوند د اثر نه محفوظ پاتے نه شو.او په هره کوڅه کښې یوه پری پیکره او په هر بام یو غزل خوانړ په نظر راتلو. بلکې خبره دې ته اُورسیده. چې عالمان هم په دے مصیبت کښې اخته شول. او زاهدانو د عبادت نه لاس واخستل. (۴۸۱)

".دا بادشاه د بلبن نمسے وو. د پلار نوم ئے ناصر الدین بغرا خان وو. دے لا د اتلس کالو وو چه امیرانو په تخت کښینولو." (۴۸۲)

"سره ددې چې بلبن خپلو امیرانو ته د خپل نمسی کیخسرو د تخت نشینئ وصیت کړے وو. خو د امیر الامراء فخر الدین د هغه سره نالګی وه ځکه نو هغه ئې په څه بهانه ملتان ته اُولیږلو. او د سلطنت د نورو غړو په مشوره ئې معزالدین کیقباد ابن ناصر الدین چې د اتلس کالو هلک وو په تخت کیښنولو." (۴۸۳)

"اګر چې ددهٔ تربیت په خصوصی توګه د بلبن په نګرانئ کښې شوے وو. خو کله چې ورته پراخه سلطنت او ډکې خزانې په لاس وراغلې. نو ډیر زر په عیش و عشرت کښې اخته شو." (۴۸۴)

"دے یو نالائقه او آرام طلبه زلمے وو. په عیش و عشرت کښې داسې ورک شو. چې د هر څه نه بې خبره شو. او دغه شان د ملک ټول اختیارات د داسې سازشیانو امیرانو لاس ته وراغلل. چا چې به هر وخت د کیقباد د تخت نه لرې کولو او خپله د بادشاه کیدلو منصوبې جوړولې." (۴۸۵)

"معز الدین کیقباد تر دغه دمه د استادانو په نګرانئ کښې تربیه شوے او لوئے شوے وو. د نیکه د ویرې له وجې ئې چرته هم غلطه پښه نهٔ وه ایښې. خو کله چې ورته اختیار په ګوتو وراغے. نو د خپل سر شو. د ځوانئ په نشه کښې ئې عیاشی راواخسته. د سپوږمئ مخو پیغلو او خوږ آوازه سندر غاړو محفلونه ئې تاوده کړل. چې به پکښې ګڼ شمیر طائفو د ټنګ ټکور او نغمو غرب ترلے وو. د موسیقئ د شوق نه علاوه هغه نور لهو ولهب پله هم راغب وو. شپه ورځ به د شرابو په نشه کښې بې خوده پروت وو. او دغه بې خودی به هغه د ژوند ګټه ګڼله. کیقباد د ځوانئ په بې سرتوب او عیش و عشرت په لیونتوب کښې دولت الوځول پیل

کړل. شاهي خزانه (په څه چې د بادشاهۍ او حکمرانۍ دارومدار وي) هغه دهٔ په طائفو، سندر غاړو او بړوا گانو ویشله. ددهٔ د کم عُمرۍ او نادانۍ په سبب د حکومت ټول انتظام د امیر الامراء فخر الدین په لاسو کښې وو. دهٔ پرې خپل ترهٔ د ملتان نه را اُوغوښتو. او هغه اجل نیولے لا "دهتک" ته نزدے وو. چې بې گناه ئې قتل کړو. یوه ورځ دومره بدمسته شو. چې امیر الامراء فخر الدین ئې هم په زهرو اووژلو." (۴۸۶)

"کله چې د ډیرې شراب نوشۍ نه هغه د فالج او لقوې په مرض کښې اخته شو. نو امیرانو په اتفاق سره د هغه وړوکے زوئے "کیومرث" د شمس الدین د خطاب سره په تخت کیښنوو. څه موده خو ورته ملک جلال الدین کیښنه پاسه اُوکړل. خو بیائې هغه د امیرانو په مشوره په قید کښې واچوو. دغه رنگ یو سړے د چا پلار چې کیقباد قتل کړے وو. هغه ئې اُولمسوو چې د پلار بدل ترې واخلي، کیلوکهړۍ ته ئې را اُولیږو. کیقباد دغه وخت مرگې حال وو. هغه چې راغے نو څولتې ئې اُووهلو. او بیا ئې جمنا ته گذار کړو. (۴۸۷)

د معز الدین کیقباد نه وړاندې سلطان غیاث الدین بلبن عرف الف خان بادشاهي اخستې ده. چې پوره شل کاله او درې میاشتې حکومت ئې چلولے دے. ولې خوشحال بابا د تاریخ دغه کړۍ له مینځه وړې ده. او د سلطان غیاث الدین بلبن ذکر ئې نه دې کړې.

== ☆☆☆ ==

بیا په شاه شجاع پسے دلیر وه معظم
وه ئے یوست له بنگه گوره چرته څکوی دم (۴۸۸)

☆

مکافات د کوم گناه د کوم شامت دے
چه ډبر د میر جمله شو درست تبر (۴۸۹)

☆

افرین د میر جمله په څویه باند
چه نن دے دے میر بخشی په استقلال (۴۹۰)

☆

څوئے د میر جمله دے میر بخشی په استقلال
ډیر مهرئے وکړ دلاسا جوال جوال (۴۹۱)

☆

بیا د میر جمله څویه بادشاه ته په خلوت
عرض ئے څما وکړ د میر خان په کفالت (۴۹۲)

☆

پورے په خونه د ایمل خان شۀ
په سول د خونے د خان خانان شۀ
دا اُور که ونه مړ دا یم نارے وهم
په وار وار پورے په درست جهان شه (۴۹۳)

میر جمله:

میر جمله د اورنگ زیب د پېښور د صوبیدار محمد آمین پلار وو. (۴۹۴)

میر جمله په اصل کښې د ایران د اصفهان وو. او د جواهرو سوداګری به یې کوله. کوه نور مشهور الماس لومړی هم دۀ د هند له یوه دوکان نه پیدا کړه او د وخت باچا اورنګزیب ته ئې وړاندې کړه. دے په عالمګیری دور کښې له میړنو نه شمار شو. اصل نوم ئې میر محمد سعید او لقب ئې خان خانان او تخلص ئې میر جمله وو. (۴۹۵)

میر جمله په ۱٦۳۰ء کې د هند دکن ته لاړ. د مرغلرو په تجارت کې یې ډیره پانګه وګټله. څه موده وروسته په ګوا لکهنډه کې لوی وزیر وټاکل شو. له وزیر کیدو سره یې کوښښ وکړ چې د کرناټیک سیمې باغی برخې د ګوالکهنډې حکومت تر سیوری لاندې راولي. ددې کار له پاره یې د اروپایي ماهران راوغوښتل. پر

کرناټیک یی د برید پر وخت مالی حالت لا پسې پیا وړی شو. کرناټیک یې خپل جاګیر او تقریباً د آزاد او ځانګړی دولت درجی ته ورساوه. میر جمله د اورنګزیب د سلطنت پر وخت د بنګال ګورنر ؤ. او پر آسام باندی تر لښکر کښی وروسته د ۱۶۶۳ء د روژی پر لسمه مړ شو. (۴۹۶)

"میر جمله عظیم الشان امیر او د شهزادګانو په رنګ سردار وو. هغه د خپل قریبی دور په امیرانو او سردارانو کښې د ډول ډال، وقار، رائې، پوهې، بهادرۍ او جرأت په اعتبار بې نظیره او بې مثاله وو. په وطنی پراخی اور فتوحاتو کښې چا هم د هغه برابری نه شوه کولې. هغه په قطبی هندوستان کښې چونکې لږ وخت تیر کړے وو. ځکه دغلته د هغه دومره نخښې نښانې نشته. البته د تلنګانې په ښارونو کښې ئې ډیر یادګارونه شته. چې ددهٔ نوم ئې تر اوسه ژوندے ساتلے دے. د حیدر آباد په ښار کښې ددهٔ په نوم تالاب، باغ او حویلی نن هم مشهور دی." (۴۹۷)

== ☆☆☆ ==

دوهم جنګ میر حُسینی په دوابه کښے
چه ئے وتکیده سر لک د مار (۴۹۸)

**میر حسینی:**

میر حسینی د دوآبی په جنګ کی د مغولی لښکر مشر ؤ. چې خوشال ورته ماته ورکړه. او ښایی چې د چارسدې وی. (۴۹۹)

کامل صیب د دوآبې د جنګ په باب لیکی.

"د خوشحال خان د وینا له مخې خو داسې واړه واړه جنګونه د پښتنو او مُغلو تر مینځه هسې هم کیده. ولې د ۱۰۸۳هـ نه لږ وړاندې او د ۱۰۸۴هـ په

وروستو کښې چې کوم لوئې جنګونه شوی وو. هغه د لنډی خانې، تاترې، دوآبې، نوښار او کرپې جنګونه وو."

د دوآبې د جنګ برے په مغلو د پښتنو دویمه لویه فتحه وه. د دغې جنګ تفصیلات لا تر اوسه نه دي معلوم شوي." (۵۰۰)

== ☆☆☆ ==

بیا ئے ورور ناصر الدین په سریر کښیناست
چه په دهٔ د ښو ځوانانو ډیر قیمت ؤ (۵۰۱)

ناصر الدین، د خاندان تغلق آخری بادشاه وو. دے د خپل ورور علاؤ الدین سکندر شاه همایون د مرګ نه پس په تخت کېښناست. او د تغلق د کورنی په وروستو بادشاهانو کښې ئې د ټولو نه زیاته (شل کاله) بادشاهی اُوکړه. ولې دلته دا خبره د یادونې وړ ضرور ده. چې ددے بادشاه دور د سازشونو نه ډک وو. خو بیا ئې هم دومره اُوږده موده خپل حکومت ته دوام اُوبخښلو. آخر دا چې امیر تیمور راغے. او ددهٔ د بادشاهت خاتمه ئې اُوکړه. د ناصر الدین نه وړاندې سلطان علاؤ الدین مسعود شاه په تخت ناست دے. او څلور کاله او یوه میاشت ئې حکمرانی کړې ده. ولې خوشحال بابا دغه بادشاه نهٔ دے یاد کړے.

## سلطان ناصر الدین محمود شاه بن محمد شاه:

د فیروز شاه تغلق د وفات نه پس پوره ملک د بغاوت لمبو پخپله غیږ کښې واخستو. د نهو کالو په موده کښې پرله پسې د سلطنت دعویداران راپورته شول. په تخت ئې قبضه اُوکړه. خو حکومت ئې له مرګه تیر شو. اول ددهٔ نمسے تغلق شاه بادشاه شو. او د غیاث الدین تغلق شاه په نوم ئې د ملک واک اختیار واخستو. یو کال لا پوره شوے نه وو. چې قتل کړے شو. بیا ئې تربور ابوبکر شاه په تخت کېښناست خو هغه د دوه

نیم کالو حکومت کولو نه پس ناصر الدین محمد اُووژلو او خپله په تخت کیښناستو. دهٔ شپږ کاله اُووه میاشتې حکومت اُوکړو. ددهٔ نه پس ئې زوئے همایون خان د سلطان سکندر شاه په نوم بادشاه شو. خو هغه څو میاشتې پس په یو موذی مرض مړ شو. اوس په امیرانو کښې ډیر سخت اختلاف پیدا شو. چې څوک بادشاه کړی. دے اختلاف دومره ټال اوخوړو چې پوره پنځلس ورځې د سلطنت تخت لا وارثه پروت وو. آخر د یو مشهور امیر خواجه جهان په کوششونو د ناصر الدین محمد د ټولو نه کشر زوئے "محمود" په ۷۹۶هـ کښې په تخت کیښنولے شو. او د سلطان ناصر الدین د لقب سره ئې بادشاهی شروع کړه." (۵۰۲)

"ددهٔ دور د تغلق کورنۍ د شاهزادگانو د سازشونو نه ډک دے. ددے بادشاه دور حکومت د تغلق د کورنۍ په دے وروستو بادشاهانو کښے د ټولو نه زیات دے. د شلو کالو خوا وشا ئے حکومت کړے وو. دے د تغلق د کورنۍ آخری بادشاه وو او دده په مرګ د هند واک او اختیار د نورو په لاس راغے." (۵۰۳)

"ددهٔ د تخت نشینی نه څو ورځې پس یو امیر سعادت خان باغی شو. او د سلطان فیروز شاه تغلق د نمسی نصرت خان د بادشاه کولو په هڅه کښې شو. سعادت خان خو اُووژلے شو. ولې د فیروز آباد امیرانو نصرت خان خپل بادشاه اومنلو. او دا شان په دهلی کښې د محمود تغلق بادشاهی وه. او په فیروز آباد کښې د نصرت خان. ګویا په یو تخت دوه بادشاهان حُکمرانان وو. دے صورت حال د دهلی سلطنت ډیر کمزورے کړو. په ملک کښې هر خوا بد امنی او اړے ګړے خور شو. په جون پور، سندهـ، بنګال، ګجرات، مالوه او دکن کښې سره ددې چې د مسلمانانو حکومت وو. خو دغه صوبې بیخی خپلواکه وې. د دهلی سره ئې هډو تعلق نه وو. او په راجپوتا نه او په سهیلی هند کښې د هندوانو مضبوط حکومتونه وو. ددې نه اندازه لګولې شی. چې د دهلی به څه سلطنت وو. او که څه لږ ډیر کمے پاتی وو. نو هغه تیمور لنګ په ۸۰۰هـ کښې پخپله حمله پوره کړو." (۵۰۴)

"د تیمور د محاصرې نه یوه ورځ وړاندې محمود تغلق د دهلی نه ګجرات ته اُوتښتیدو. د ښار خلقو څه وخت د تیمور مقابله اُوکړه. خو بیا خبره په دې اُوشوه. چې د خلقو سرونو ته به امن وی. د تیمور اطاعت خلقو اُومنو. ولې د چنګیز خان میراث خور پخپله خبره ټینګ پاتی نهٔ شو. او د قتل عام حُکم ئې ورکړو.

بازارونه، کوڅې سړکونه او لارې د لاشونو نه ډکې شوې. آخر د پنځلس ورځو د خونریزۍ او بربادۍ نه پس لاړ. دغه وخت وو چې د محمود تغلق وزیر ملو اقبال موقعه بیامونده او په دهلی ئې قبضه اُوکړه. خو په ۱۴۰۵ء کښې دده خلاف د بغاوت یو طوفان راپورته شو. او دے ئې قتل کړو. یو ځل بیا خلقو محمود تغلق د ګجرات نه راویستلو او په تخت ئې کیښنولو. دغه شان دۀ د ۱۴۱۲ء پورې حکومت اُوکړو." (۵۰۵)

"یوه ورځ سلطان د کیتهل پورې ښکار اُوکړو. او واپس شو. په لاره کښې ورته څه موذی مرض اُولګید. او په څو ورځو کښې ئې ورله قصه تمامه کړه. (۱۴۱۲ء). ددۀ د حکومت دوره شل کاله دوه میاشتې وه خو تش د نوم بادشاهی وه." (۵۰۶)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه ناصر دین د شمس الدین ؤ
چه مشهور په عدالت په عبادت ؤ (۵۰۷)

"سلطان ناصر الدین د شمس الدین ایلتتمش زوئے وو. د مذهب سره مینه دۀ ته د پلار نه په میراث کښې پاتې شوې وه. د تاریخ کتابونه ددۀ د زهد و تقویٰ د قصو او واقعو نه ډک پراته دی. د مولانا منهاج السراج نه تر سبحان رائے بهنداری پورې ټولو مؤرخینو ددۀ د مذهبی جذباتو او افکارو تعریف کړے دے. د مولانا نوز الحق دهلوی په خیال په لرغونو بادشاهانو کښې یو بادشاه هم دغه صفات او خوبیانې نه لرلې کوم چې د ناصر الدین په ذات کښې راجمع شوې وې. معاصر مؤرخ منهاج السراج خو په دۀ کښې د اولیاءُ اوصاف او د انبیاء اخلاق رالټولې دی. دغه شان امیر خسرو ورته "شاه فرشته سرشت" وئیلے دے." (۵۰۸)

ددې هر څه نه علاوه سلطان ناصر الدین ډیر عبادت ګذار او عادل بادشاه وو. چې تاریخی کتابونه ئې

د عدل و انصاف او عباداتو د قصو نه برجته دی. خوشحال بابا ئې دغه دواړه اړخونه رابرڅیره کړی دی.

## ناصر الدین محمود:

شمس الدین ایلتتمش د خپل مشر زوئے ناصر الدین محمود سره ډیره زیاته مینه لرله. خو هغه ددهٔ په ژوند د زندګۍ نه لاس اووینځل. هم دا وجه وه چې کله ئې دویم زوئے پیدا شو. نو د هغه نوم ئې هم ناصر الدین محمود کیښود. او د هغه تعلیم او تربیت ئې په ډیره ښه طریقه اُوکړو." (۵۰۹)

"ناصر الدین محمود په ۱۲۴۶ء کښې بادشاه شو. دهٔ د ملکی چارو ډیرې ذمه وارۍ غیاث الدین بلبن ته اُوسپارلې. څوک چې د التتمش زوم وو. ناصر الدین محمود خپل دا وزیر د الف خان په خطاب اونمانځلو. او ورته ئې نصیحت اوکړو. چې عدل او انصاف کوه. هسې نه چې د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ په وړاندې بیا زهٔ شرمنده ولاړ یم. ناصر الدین درویشانه ژوند تیر وو. ددهٔ دور حکومت د انصاف د پاره شهرت لری. دهٔ به هر وخت خپل اولس ته د آرام رسولو هڅې کولې. ځکه خو ئې رعایه خوشحاله او سو کاله وه. دغه رنګ ملکی خزانې ئې هم د خلقو او فوځ په ښهٔ راویستلې. دهٔ به د ملنګانو او درویشانو ډیر خیال ساتو. او عالمانو له ئې وظیفې مقرر کړې وې." (۵۱۰)

سلطان ناصر الدین به هر کال دوه قرآن شریفه پخپل لاس لیکل. او ددغې د خرڅ نه راتلونکے آمدن به سلطان د خپلې خرچې پکار راویستو. یو ځل د بادشاه د لاس په لیکلې شوې قرآن یو امیر د معمول نه زیاته هدیه ورکړه. کله چې بادشاه ددې نه خبر شو. نو حکم ئې ورکړو چې بیا دې د هغه د لاس لیکلې شوې قرآن د بادشاه د نوم نه بغیر په پټه او په رائج قیمت هدیه کولې شی. د بادشاه په کور کښې د هغه د ښځې نه علاوه بل څوک نوکره یا وینځه نهٔ وه. یوه ورځ چې ښځه ئې د کور د پخولو سرولو نه تنګه شوه. نو بادشاه ته ئې دیوې نوکرې ساتلو وینا اوکړه. بادشاه ورته په ځواب کښې اووئیل. "بیت المال د خدائے د مخلوق دے. زهٔ وس نه لرم. چې د خپل ذاتی آرام د پاره ترې پیسې راواخلم. او وینځه پرې اُوساتم. د دُنیا په تکلیفونو صبر راوړهٔ. الله تعالیٰ به په آخرت کښې ددې اجر درکړی." (۵۱۱)

غرض دا چې دے سلطان نولس کاله درې میاشتې او اُووه ورځې د پوره عدل و انصاف سره حکومت اُوکړو. او پخپل مرګ وفات شو." (۵۱۲)

== ☆☆☆ ==

ته به وائے د نمرود د اُور لمبے دی
سرۀ لاله چه په چمن کښے انتشار شی (۵۱۳)

☆

په وئیل د مرسلانو نۀ ګروهیږی
د فرعون او د نمرود غوندې ګمراه شی (۵۱۴)

نمرود د نړیوال تاریخ په هغه څو کسانو کښې یو دے. چاچې د خدائئ دعویٰ کړې وه. او کله چې ورته الله تعالیٰ خپل پیغمبر حضرت ابراهیم علیه السلام د هدایت د پیغام سره اُولیږلو. نو هغه حضرت ابراهیم علیه السلام بل کړی اُور ته اُوغورځولو. او د ځان د پاره ئې ګمراهی خوښه کړه. خوشحال بابا په دغه وړومبی شعر کښې د نمرود د اُور لمبې د لاله د سرو ګلونو په مناسبت سره د تشبه په توګه استعمال کړې دی. او دویم شعر کښې ئې د نمرود او فرعون د ګمراهی ذکر کړے دے. چې دغه ګمراهی داسې ده. چې هغه بیا د مرسلانو په وینا او تبلیغ هم راه راست ته نۀ شی راتلے.

## نمرود:

"نمرود ۴۰۰۰ ق م د بابل بادشاه وو. بابل د کلدانیانو دارالحکومت وو. دا علاقه د بغداد نه چار چاپیره پرته وه. د نمرود د پلار نوم کوشن بن حام وو. ددے بادشاه ذکر په قرآن پاک کښې هم راغلے دے. دے د حضرت ابراهیمؑ هم عصر وو. د مذهبی روایاتو مطابق دۀ د خدایی دعویٰ کړې وه. حضرت ابراهیمؑ چې

ورته د نېغې لارې تبليغ اُوکړو. نو دۀ پرې ډير بد اُوګڼل. او د حضرت ابراهيمؑ اُور ته د اچولو حکم ئې اُوکړو. ځکه نو حضرت ابراهيمؑ ئې بل کړے شوی اُور ته واچولو. خو الله تعالیٰ هغه اُوساتلو. او حضرت ابراهيمؑ دغه ځائے پريښودو او په فلسطين کښې آباد شو." (۵۱۵)

د قصص الانبياء د بيان تر مخه (هر کله چه څوک اولاد د سام بن نوح بن تارخ په عرب او عجم کښے پاتے نه شو. په هغوئ کښے بعضے خلق په طوفان نوح او بعضے خلق د فرشتے په آواز مړه شو. بادشاه نمرود عليه اللعنت د عجمو د ملک نه وتے وو. هغه ځوی د کنعان بن آدم بن سام بن نوح عليه السلام وو. او ژبه ئے عربی وه. او بعضو ليکلی دی. چه د کيکاوس ځوے کيقباد وو. او هغه ځوئے د منوچهربن فريدون بن جمشيد وو. ليکن دا صحيح نه ده. بلکه صحيح دا ده چه د هغه نوم نمرود وو. او د هغه د ډير لوئے قوت په ذريعه په ملک شام کښے حکومت وو. د هغے نه رستوئے ترکستان فتح کړو او د يافث اولاد ئے خپل فرمانبردار جوړ کړو. د هغے نه بعد ئے په هندوستان کښے اولاد د حام بن نوح فرمانبردار کړو. او د روم ملک ئے قبضه کړو. او تمام جهان ئے د مشرق نه تر مغر به پورے په قبضه کښے اخستے وو. د هغے نه رستو کوفے ته لاړو او هلته په بابل نوم ځائے کښے په تخت کيښناستو.

ترکستان، هندوستان او روم او د مشرق او د مغرب نه خراج دده د پاره راتلو. يو زر سل کاله هغه پخپله بادشاهئ باند ډير مغروره وو. او چرته به ئے آسمان ته نظر نۀ کوۀ. او نۀ به ئے د خدائے نه څه حاجت غوښتو او وے به ئے چه زۀ خدائے يم." (۵۱۶)

"ضد، سر کشئ، نافرمانئ او غرور او تکبر هغه د قابو نه بهر کړے وو. د خدائے صرف منکر نه وو. بلکه پخپله د خپل قوم د خلقو دخدايئی هم دعويدار وو. دنمرود قوم د ستورو او بتانو نه علاوه د هغه عبادت هم کولو او هغه ئے کائناتو کښے د هر قسمه تصرفاتو مالک ګڼړلو. (۵۱۷)

== ☆☆☆ ==

په جهان کښې به ئې پاتې بنه بد نوم شی
ده زده چارې د کسریٰ که د حجاج کا (۵۱۸)

☆

په جهان کښې که حجاج که نوشیروان وه
هم دا داد او دا بیداد شو ځنې پاتې (۵۱۹)

☆

که نوم د حجاج اورې اورې نوم د نوشیروان
په عدل کافر بنه شو، ظلم بد کړ مسلمان (۵۲۰)

☆

نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وه
که ئې گورې تر قیامته ئې اوصاف دی (۵۲۱)

☆

نوشیروان که بنه دادگر ؤ
په بنه یاد دی که کافر ؤ (۵۲۲)

☆

هغه وخت چې زهٔ پیدا وم
په دوران کې د کسرا وم (۵۲۳)

☆

مامون خوش په دا خبر شه
د کسرا په طلب سر شه
مداین لره روان شه

سم په گور د نوشیروان شه
گور یې چاک د نوشیروان کړ
ددهٔ تن یې درست عیان کړ (۵۲۴)

☆

نوشیروان له موره پلاره
هلک پاتو شه ای یاره (۵۲۵)

☆

پیغمبرؐ که در عهد نوشیروان
برخ گشت چشم و چراغ جهان
بگفتا که از ظلم از آن ساده ام
که در عهد نوشیروان زاده ام (۵۲۶)

دے بره بیتونو کښې د حجاج ظالم بادشاه سره عادل حکمران نوشیروان یاد کړے شوے دے۔ چې دواړو بادشاهت کړے وو۔ خو یو په جهان ښه نوم پریښودو۔ او بل د بدو۔ اګر چې ظالم بادشاه مسلمان وو۔ او عادل کافر وو۔ ولې زمونږ خوږ نبیﷺ د دغه کافر بادشاه انصاف ستائیلے دے۔

## نوشیروان:

"نوشیروان عادل د فارس د کیقباد بادشاه زوئے وو۔ دے په کال ۵۳۱ء کښې په تخت کیښناست۔ لږه موده پس ئې په روم لام اوکړو۔ او روم ئې قبضه کړو۔ او بیا ئې "بغداد" خپل پایه تخت اوټاکلو۔ (۵۲۷)

په ابتداء کښې دے ډیر ظالم او جابر بادشاه وو۔ ولې وروسته ئې د خپل وزیر بزرجمهر په ښودنه د ظلم او زیاتی نه لاس واخستل۔ او داسې عدل ئې قائم کړو۔ چې "عدل نوشیروان" د یو متل رنګ اختیار کړو۔ یو ځل حضورﷺ په فخر سره او فرمائیل چې "زهٔ د یو عادل بادشاه په دور کښې پیدا شوے یم" د نوشیروان د عدل و انصاف تصدیق ددې نه زیات نور لا څه کیدې شی۔" (۵۲۸)

"دۀ د خپل اولس د خیر ښیګړې د پاره په ملکی انتظام کښې اصلاحات اوکړل۔ د اُوبه خور بندوبست ئې غوره کړو۔ د زمکې چونګے ئې معاف کړو۔ په زرعی پیداوار ئې د محصول اخستو کښې کمے راویست۔ للمې او ویرانې زمکې ئې په دې طریقه ابادی کړې۔ چې اولس ته ئې تخمونه، د زمیدارۍ آلات او څاروي ویړیا ورکړل۔ د خلقو آبادي ډیره لړه وه۔ ځکه نو حکم ئې اوکړو چې ناواده کړی سړی او ښځې دې ودونه اُوکړی۔ چې د ملک آبادی زیاته شی۔ کومو خلقو چې به کار نه کولو هغوئ ته به ئې سنګینه سزا ورکوله۔ دغه رنګ په ملک کښې ئې بې کچه سړکونه جوړ کړل۔" (۵۲۹)

"نوشیروان د علم و فضل ډیر قدردان وو۔ ددۀ په حکم د افلاطون او ارسطو د کتابونو ترجمې په پهلوی کښې اُوشوې۔ چې دۀ به اکثر دغه کتابونه لوستل۔ دۀ په "جندے شاه پور" کښې یوه یونیورسټی هم جوړه کړې وه۔ چې به پکښې د فلسفې، طب او نورو ډیرو علومو تعلیم ورکولے شو۔ ددۀ په حکم یو کتاب په پهلوی کښې لیکلے شوے وو۔ چې د "خدائی رنامک"په نامه ئې شهرت لرلو۔ دغه کتاب د نثر شاهنامه ګڼلے شی۔ دغه رنګ د هندوستان مشهور کتاب "کلیه دمنه" هم ددۀ په حُکم په پهلوی کښې ژباړلے شوے وو۔ ددۀ په زمانه کښې ایران د مشرق او مغرب د علومو لوئے مرکز ګڼلے کیدو۔ (۵۳۰)

"دے د اتۀ څلویښت کاله حکومت کولو نه پس په ۵۷۹ء کښې حق اُورسید۔ ددۀ نه روسته ددۀ زوئے هرمز په ګدی کیښناست۔ (۵۳۱)

== ☆☆☆ ==

مامون زویه د هامون ؤ

په هر فن کې ذوفنون و (۵۳۲)

هامون۔ زما په خیال د کتابت غلطی ده۔ دا نوم هارون دے۔ چې نړیوال ئې د هارون الرشید بادشاه په نامه پیژنی۔ د خوشحال بابا نه د هارون په ځائے د مامون لیکنې سهوا هډو امکان نه لری۔ په دې چې هارون

الرشید په اسلامي تاریخ کښې لکه د نمر روښانه حیثیت لري. ډیر زیات پیژندلے او نومورے بادشاه دے. ځکه نو دغې ته مونږ د کتابت د خطا نه نور هډو څه وئیلې نه شو.

## هارون الرشید:

"ابو جعفر هارون الرشید بن المهدی بن عبدالله منصور بن محمد بن علی بن عبدالله بن عباس د فارس په مشهور ښار "رے" کښې په وړومبی محرم کال ۱۴۹ هـ مطابق د ۱۵ فروری ۷۶٦ء اوزیږیدو.

ددهٔ د مور نامه خیزران وه. څوک چې د بربر اوسیدونکې وه. او په وړوکوالی کښې برده فروشو راویستې وه. ډیره زیاته ښکلې او علقمنده وه. ځکه خو عباسی خلیفه ابو عبدالله مهدی په یو لک درهمو واخسته.

د هارون الرشید پالنه په عراق کښې اُوشوه. او د خلیفه ابو العباس نه علاوه د عباسیه خاندان چې څومره نور خلفاء تیر شوی دی. هارون الرشید ددغه ټولو په تربیت کښې پاتی شوے دے. په دغه عباسی خلفاء کښې د ابو جعفر منصور، ابو عبدالله مهدی بن منصور او موسیٰ هادی بن مهدی نومونه شامل دی. هارون الرشید د وړوکوالی نه ډیر زیات بهادر، میړنے او لوړ همته وو. هم دا وجه وه چې ټولو خلقو به هغه ته په ډیره درنه سترګه کتل. (۵۳۳)

کم وخت چې مهدی خلیفه شو. دغه وخت د هارون الرشیدعمر ایله لس کاله وو. خلیفه دے د تعلیم و تربیت او د سلطنت د رموزو نه د اګاه کولو د پاره قابلو اُستادانو ته اُوسپارو. هارون الرشید د خپل فطری ذکاوت په وجه ددغه اُستادانو نه ښه فائده پورته کړه. ددهٔ په استادانو کښې د ټولو نه مشهور او نومورے شخصیت یحییٰ بن خال برمکی دے. دے اُستاد د خپل زیرک شاګرد په تربیت ځان ډیر اوکړو. او په هارون الرشید کښې ئې د وخت کتنې، د علمی وسعت او د سلطنت چلونې هغه سپیځلی صفات پیدا کړل. چې ددهٔ نه پس بل یو خلیفه کښې هم پیدا نهٔ شول." (۵۳۴)

صاحب البرا مکه لیکلی دی. "چې هارون الرشید د شنبې په شپه د په ۱٦ ربیع الاول کال ۱۷۰هـ مطابق ۲۰ ستمبر ۷۸٦ء کښې د عیسیٰ آباد په مقام په تخت کیښناست. د ستر مؤرخ صوفی د وینا ترمخه دغه

شپه هم عجیبه شپه وه. چې خلیفه موسیٰ هادی پکښې حق اُورسید، د هغه زوئې هارون الرشید پکښې په تخت کیښناست او مامون الرشید پکښې اُوزیږیدو. او چې سحر شو. نو خلقو د هارون الرشید په لاس بیعت کړے وو." (۵۳۵)

"دا یو دینداره، خدا ترسه او خدا پرسته خلیفه وو. دهٔ په زمانه کښې هر رنګه تجارت او صنعت و حرفت بې کچه ترقی اُوکړه. جماتونه، کالجونه، شفاخانې، سړکونه او نهرونه په ډیر ګڼ شمیر کښې جوړ کړې شول. دهٔ ابراهیم بن اغلب له د افریقې د سلطنت انتظام په دے شرط ورکړو. چې هغه به خلافت ته د کال څلویښت زره دیناره ورکوی او په افریقه کښې به امن و آمان ساتی. دغه حکومت نسل په نسل مخکښې لاړ. او دا رنګ هارون الرشید په افریقه کښې د یو باج ګزار سلطنت د جوړولو بانی اوګرځیدو. دهٔ د یونانیانو سره هم ډیرې ډغرې وهلی دی. او د ملک آیرین نه ئې خراج اخستے دے. بیا چې کله نق فورس بادشاه شو. نو هغه خلیفه ته اُولیکل چې هغه ټول رقم واپس کړه. کوم چې تا د ملکې نه په خراج کښې اخستے دے ګنې بیا جنګ ته تیار شه. په دې بې لوظی اوګستاخی هارون الرشید ډیر زیات غصه شو. د دواړو تر مینځه جنګ اُوشو. نق فورس ماتے اُوخوړ. او د مخکښې نه زیات خراج ورکولو ته ئې غاړه کیښوده. ولې هغه بیا بیا بې لوظی اُوکړه. بیا بیا ئې شکست اُوخوړ. او معافیانې ئې اُوغوښتې. آخر چې قبرص جزیره هارون الرشید واخسته. نو نق فورس هتیار اُوغورځول. او څومره خراج چې د هغه په ذمه پاتی وو. هغه ئې ورکړو. دغه شان د درویشت کاله کامیاب او شاندار حکومت کولو نه پس خلیفه هارون الرشید په ۳ جمادی الثانی ۱۹۳هـ مطابق ۸۰۹ء وفات شو. او په طوس کښې (چې ورته مشهد هم وئیلې شی) خاورو ته اوسپارلے شو." (۵۳۶)

هارون الرشید ډیر ښکلے وو. د دراز قد او فصیح البیان شخصیت مالک وو. ستر عالم او ادیب وو. هره ورځ به ئې سل رکعته نفل ادا کول. او هره ورځ به ئې په زرګونو درهم خیرات کول. د عالمانو سره ئې ډیره مینه وه. او صوفیانو ته به ئې ډیر په درنهٔ سترګه کتل. د بې کاره او بې دینه خلقو نه به ئې کرکه کوله. اکثر وختونه به ئې خپل ګناهونه رایادول او په چغو چغو به ئې ژړل." (۵۳۷)

== ☆☆☆ ==

## په داهسې بې عدلئ
## هلاکو سره عدیل (۵۳۸)

☆

فعل ئې چه ګورې هلاکو دې یا اظلم
چادی اوریدلی په اولاد کښې د آدمؑ (۵۳۹)

هلاکو خان د دُنیا په تاریخ کښې د ظالمانو بادشاهانو په قطـ کښې شمیرلې کیږی. دے د خپل دور یو سخت زړے او ستمګر بادشاه تیر شوے دے. په لکونو بې ګناه انسانان ئې قتل کړی دی. او هم دومره ئې تپیان کړي دی. خوشحال بابا او رنګزیب عالمګیر ته د هغه د کارونو په وجه هلاکو خان وئیلے دے. او اورنګزیب عالمګیر ئې د هلاکو سره په عدل کښې برابر کړے دے. حالانکې د خوشحال بابا دغه رائې سمه نه ده. بلکې مونږ ئې د مبالغې سره تعبیرولې شو.

### هلاکو خان:

"دۀ ته هلاکو قآن او ایلخان هم وئیلې شی. د پلار نوم ئې تولی خان وو. نیکه ئې چنګیز خان نومیدو. دے د خپلې کورنی څلورم بادشاه وو. په کال ۱۲۵۳ء کښې ئې خپل سلطنت نور هم پراخه کړو." (۵۴۰)

د خپل مشر ورور منګو (خاقان) په وینا ئې په ایران حمله اُوکړه او د د بن صباح دوه قلعه ګانې "خف" او "تون" ئې قبضه کړې دغه رنګ د هغوئ مشر رکن الدین هتیار اوغورځول او د الموطه قلعه ئې هم دۀ ته حواله کړه. په دې ماریزه کښې منګولو بنارونه تباه و برباد کړل. یو یو کس ئې کتلو او وژلو. د ایران فتح کولو نه پس هلاکو خان بغداد ته مخه اوکړه." (۵۴۱)

"هلاکو خان په ۱۲۵۸ء کښې د بغداد محاصره اوکړه. د څلویښتو ورځو د محاصرې نه پس خلیفه معتصم بالله د قلعه نه بهر راووت. ځکه چې د هغه طاقت ډیر کمزورے شوے وو. هلاکو خان هغه له د صلحې یقین ورکړے وو. او وعده ئې ورسره کړې وه. چې د هغه فوځ او اولس ته به امان ورکولې شی. په شرط

دد ے چې ټول خلق هتیار اُغورځوی. خلیفه هم دغه شان حُکم کړے وو. د هغه اکثر خلق د وسلې نه بغیر را اُوتل. څه اوتښتیدل. او ډیر کم خلق د ښار دننه پاتې شول. هلاکو خان اته لکه کسان را اُونیول او د تیغه ئې تیر کړل. ښار ئې اولوټو. د څناور توب کارونه ئې اوکړل. کتب خانې ئې اُوسیزلې. د جماعتونو بې حُرمتی ئې اُوکړله. دغه دوران کښې ددهٔ ورور منګو قاآن چې د تاتار بادشاه وو مړ شو. هلاکو خان د تاتار اخستو په غرض تلل غوښتل. خو هم په دغه آوان ددهٔ یو سپه سالار له په شام کښې فیروز الدین فیروز شکست ورکړے وو. ځکه نو هغه شام پله مخه اُوکړه. او هم هلته په مراغه (آذر بائیجان) کښې په اتمه فروری کال ۱۲۶۵ء کښې د دولس کاله حکومت کولو نه پس مړ شو." (۵۴۲)

استیفن ارفلن د هلاکو خان په مرګ باندې په ډیرو زوردارو الفاظو کښې ماتم کړے دے. هغه لیکی چې د دُنیا د بادشاهانو بادشاه او د عیسایانو اسره په کال ۱۲۶۵ء کښې اُومړ. وروسته ددهٔ ښځه دو قوز خاتون هم مړه شوه. دوئ دواړه مسلمانانو په زهرو وژلی وو. (۵۴۳)

== ☆☆☆ ==

بیا له پسه د بابر ځوے همایون وه
چه بے حده ئے لښکر ډیر ئے دولت ؤ (۵۴۴)

ناصر الدین همایون د بابر د ځوندی زوئے وو. بابر چې وفات شو. نو همایون ته یو منظم فوځی لښکر او ډیر زیات دولت پاتے شو. سره ددې چې همایون د فوځ اعلیٰ تربیت حاصل کړے وو. خو هغه تکړه سپه سالار نه وو. پلا رچې ئې ځومره جنګی صلاحیتونه لرل. دے د ددغه صلاحیتونو په خواه هم نه وو ورغلے. دغه رنګ کله چې به دهٔ میدان اُووهو. نو د دښمنانو سره به ئې ډیر د نرمۍ سلوک کولو. د دغې نرمې عسکری حکمت عملی له وجې خبره دې ته را اورسیده. چې خپلو سپایانو د هغه خلاف د بغاوت بیرغ راپورته کړو. همایون د یو لوئے لښکر باوجود ځکه ماتې اُوخوړ چې هغه په کښو محاذونو په یو وخت جنګ

شروع کړو. دغې غلطې فیصلې د هغه د فوځې قوت منتشر کړو. او هغه ئې د شکست سره مخامخ کړو.

## همایون (ناصر الدین):

"بابر درې لونه او څلور زامن پرېښې وو. دغه زامنو کښې د ټولو نه مشر همایون نومیدو. دے په ٦ مارچ ١٥٠٨ء کښې د ماهم سلطانه له نوسه اُوزیږیدو. ددهٔ مور ماهم سلطانه د هرات د حکمران حُسین بایقرا د خاندان سره تعلق لرلو." (٥٤٥)

"دے په ١٥٢٦ء کښې د خپل پلار سره د کابل نه هندوستان ته راغے. "حصار" ئې فتح کړو. او د پانی پت په وړومبی جنګ کښې ئې ډیره بهادری اُوښودله. دے هندوستان ته د راتللو نه وړاندې هم او وروسته هم د بدخشان ګورنر وو. په کال ١٥٢٩ء کښې دے د "سنهبل" ګورنر اُوټاکلے شو. (٥٤٦)

د بابر د مرګ نه پس "دے په دسمبر ١٥٣٠ء کښې د درویشت کالو په عمر کښې په تخت کښیناست. د پلار د رهنمائی په برکت دهٔ د فوځ او د حکومتی نظم و نسق ډیره تجربه لرله. کامران، هندال او عسکری ددهٔ درې وورنړه وو. کامران د همایون نه کشر وو. هغه د کابل او قندهار ګورنر وو. وروسته ورته پنجاب هم ورکړے شو. هندال او عسکری ته ئې د سنهبل او میوات علاقې ورکړې. (٥٤٧)

"همایون د پلار نه بیخی بدل سړے وو. هغه ډیر آرام طلبه او عیاش بادشاه وو. بې کچه افیم به ئې خوړل. د پلار نه ورته ډیرې خزانې او لوئے فوځ پاتې شوې وو. خو دهٔ د خپلې نااهلی په وجه دغه هر څه حبطه کړل. دغه وخت وو. چې په پښتنو کښې د یو کیدلو احساس غزونې اُوکړې. او د سوری خاندان د یو زلمی فرید خان (څوک چې د حسن خان زوئے وو) د مشری د بیرغ لاندې راجمع شول." (٥٤٨)

شیر شاه په بهار کښې خپل فوځونه راغونډ کړل. بنګال ئې فتح کړو. او د خپلواکی اعلان ئې اُوکړو. همایون دغه وخت د یو مهم په لړ کښې په ګجرات کښې بوخت وو. هغه ته چې کله خبر اُورسیدو نو سمدستی خیز پله روان شو. په کال ١٥٣٩ء کښې د بکسر په مقام دغه دواړه فوځونه یو بل ته مخامخ شول. د روغې ستالې خبرې کیدلې. خو پښتنو فوځونو د همایون په فوځ یوه ناڅاپی حمله اُوکړه. ددې سره د همایون

فوځیان تیتر بیتر شول۔ همایون هم اوتښتید او ډیر په ګرانه ئې ځان اګرې ته اُورسولو۔ دغلته دے یو ځل بیا د خپل فوځ د ترتیبولو او په شیر خان د حملې کولو په هڅه کښې مصروف شو۔ تیاری ئې شروع کړې۔ او په کال ۱۵۴۰ء کښې د "قنوج" په مقام یو ځل بیا د مغلو او پښتنو لښکرو یو بل ته د خپلو متو زور ښکاره کړو۔ دا ځل همایون داسې شکست اُوخوړ چې د خپل اهل و عیال سره ئې د ایران د شاه طهماسپ په لمن کښې پناه واخسته۔" (۵۴۹)

"د ایران بادشاه شاه طهماسپ دهٔ له فوځی کمک ورکړو۔ او دے د حملې په غرض راروان شو۔ وړومبے ئې کابل فتح کړو۔ بیا ئې پنجاب پله مخه اُوکړه۔ په دهلی او اګرې ئې قبضه اُوکړه۔ او اخر د خپلې لوړې حوصلې او ځوانمردی په برکت ئې د هندوستان حکومت دوباره واخستلو۔" (۵۵۰)

همایون په ۲۵ جنوری ۱۵۵٦ء کښې د دهلی کتب خانې د چت نه راپریوتو۔ او مړ شو۔۔۔۔۔ اکبر جانشین شو۔ اوپه هغه ځائې چې همایون راپریوتې او مړ شوې وو۔ اکبر څو کاله پس د سنګ مر مر یوه عالیشانه مقبره جوړه کړه۔ کومه چې د هندوستان په بهترینو عمارتونو کښې شمیرلې کیږی۔" (۵۵۱)

== ☆☆☆ ==

یو په ظلم یو په مکر نور څوک نشته
که حجاج وی که یزید وی دده سیال (۵۵۲)

☆

په یزید باندې لعنت شه په اعوان ئے
چه په تیغ ئے د نبیؑ نمسی مظلوم دی (۵۵۳)

☆

د یزید د شمر نه نه د حجاج دی
دور دور د دجال دے په دا مینځ کښے (۵۵۴)

که وُنیت وته ئے گورے یو یزید دے
که طاعت وته ئے گورے اهل الله دے (۵۵۵)

☆

ورک شو د یزید په هغه څو کاله دیدن
پاتو شه پرِ لعن د حسین او د حسن (۵۵٦)

☆

د یزید پلید په کار بانډِ لعنت دے
چه د آله سره ئے کړے شرارت دے (۵۵۷)

☆

نامعقول، مجهول بیان پکښے بے ځایه
پکښے بد د سید وایه یزید ستایه
چه لعنت به په یزید هغه واینه
چه په رفض کښے غره بے حده وینه
امراکان ئے د حسین په مرګ قصاص کړه
زهٔ حیران شوم د یزید په هسے خاص کړه (۵۵۸)

☆

چا به دا وے چه لعنت په یزید وائی
رافضی دے دوازده امام هم ستائی (۵۵۹)

☆

چه دا هسے احوال چشمه بدخصال ئے
د یزید د در دربان یا د دجال ئے (۵٦۰)

☆

مونږه کله وایو دا چه یزید بنه دے
په مخزن کښې درویزه ستائیلے نه دے (۵٦۱)

☆

د یزید ستائینه ګورئ په مخزن کښې
هم مخزن نه دے د شعر په هیڅ فن کښې (۵٦۲)

☆

د یزید په لعنت څه د چا ایستاد دے
خو بابا باندې ئې حکم د فساد دے
د یزید په لعن څوک رافضی کیږی
چه په ما ئیې راتولې کره څوک پرغلیږی (۵٦۳)

☆

په مذهب سُنی مذهب وه خارجی شول
د یزید په ستائش کښې مارجی شول (۵٦۴)

"ابو خالد یزید بن معاویه بن ابی سفیان په ۲۵هـ یا ۲٦هـ کښې د حضرت امیر معاویه رض کره اُوزیږید. ددهٔ د مور نامه میسون بنت بحدل وه. چا چې د بنو کلب قبیلې سره تعلق لرلو. یزید له وجوده غټ کټ او تازهٔ وو. ددهٔ په بدن لوئے لوئے ویښته وو." (۵٦۵)

"وړومبے نکاح ئې د اُم هاشم بنت عقبه بن ربیع سره کړے وو. ددغې ښځې نه ئې دوه زامن خالد او معاویه پیدا شول. یزید د خالد سره ډیره مینه لرله. ولې خپل ولی عهد ئې معاویه اوټاکلو. دویم واده ئې د اُم کلثوم بنت عبدالله بن عامر سره اُوکړو. ددې ښځې نه ئې یو زوئے عبدالله بن یزید پیدا شو. څوک چې د نخښې ویشتلو لوئے ماهر وو. او په دغه مد کښې ئې ډیر شهرت لرلو. ددې نه علاوه د یزید د وینځو نه هم

څو زامن پیدا شوی وو." (۵٦٦)

یزید په اسلامی تاریخ کښې یو قابل نفرت حکمران تیر شوے دے. چې د اهل بیتو نه ئې په زور زبردستۍ د بیعت اخستلو ناکامه هڅه کړې وه. او د اهل بیتو په انکار ئې د کربله زمکه د هغوئ په سپیځلې وینه خړوب کړه. هم ددغې ظلم له امله د مسلمانانو په نظر کښې یزید چپ راغلے دے. څه که هم ځنې مؤرخین او پوهان یزید په دغه ظلم کښې ککړ نه گڼی او په هغه د لعنت لیږلو خلاف دی. ولې د عالمانو اکثریت هغه قابل نفرت او گرم گڼي. خوشحال بابا هم په یزید لعنت لیږلے دے. د هغه دغه کار ئې غندلے دے. او هغه ئې پلید گرځولے دے. ددې نه علاوه ئې اورنگزیب عالمگیر هم د یزید سره په ظلم کښې سیال گڼلے دے. او د اخون درویزه د مخزن خبر ئې هم په دغه حواله اخستے دے.

"دے حضرت امیر معاویه رضؓ د زیاد په وینا پخپل ژوند خپل ولی عهد ټاکلے وو. او د خلقو نه ئې ددهٔ په حق کښې بیعت هم اخستے وو. د تخت نشینۍ نه پس دهٔ د حضرت علی رضؓ د خاندان په تباهۍ پسې راواخسته. چې عملی ثبوت ئې د واقعه کربله په نوم یادیږی. (۵٦۷)

د یزید پالنه په شاهانه ماحول کښې شوې وه. ځکه نو د وړوکوالې نه ورته د بادشاهۍ او جهانبانۍ قاعدې ښودلې شوې وې. دوه ځله ورته د حج د امارت فرائض سپارلې شوی وو. په څو جنگونو کښې ئې برخه هم اخستلې وه. ددهٔ تعلیم او تربیت په ډیره احسنه طریقه شوے وو. هم دا وجه وه چې په علم و ادب ډیر مئین وو. او په شعر وئیلو کښې خو ورته خاص مهارت حاصل وو. د ښکار او سیل ئې بې کچه شوق لرلو. څو قسمه ښکاری سپی ئې ساتلی وو. او ددې عادت په وجه عوامو نهٔ خوښولو. په ٦٠هـ کښې په تخت کیښناست." (۵٦۸)

"د کربله د سانحې نه پس مدینة الرسول تباه کول د یزید دوئمه ناوړې کارنامه ده. او په حرم ئې کانی ورول دریمه د کرکې کارنامه یاد ولې شی." (۵٦۹)

"ده په ۳۱ اکتوبر ٦۸۳ء مطابق د ۴ ربیع الاول ٦۴هـ کښې ددې فانی دُنیا نه مخ سر اونغښتل. او د عدم په لور ئې کوچ اُوکړو. ددهٔ په زمانه کښې مسلمانانو خراسان خوارزم او سمرقند فتح کړل." (۵۷۰)

== ☆☆☆ ==

د يعقوب ليث خبرې
په جهان دي منتشرې
يعقوب څوک ؤ درود کرد ؤ
د همت په کار بهتر ؤ (۵۷۱)

☆

په يعقوب د خواب وار شه
له خپل پلاره په ګفتار شه
يعقوب خپل کسب ته شاه کړه
سپينه توره ئې تر ملا کړه (۵۷۲)

☆

د يعقوب چې همت دا ؤ
په همت کې بې همتا ؤ (۵۷۳)

دې شعرونو کښې خوشحال بابا د يعقوب بن ليث يادونه کړې ده. د اخلاق نامې ددغې حکايت په آخر کښې بابا وائی چې:

سلطنت يې ؤ سل کاله
څو کرسی له استقلاله (۵۷۴)

يعقوب بن ليث سال کاله نه بلکې يولس کاله حکمرانی کړې ده.

## يعقوب بن ليث صفاری:

"ده ته امير ياقوت هم وئيلې شی. دے ورومبے کس وو. چې د عباسيانو خلاف ئې د بغاوت بيرغ هسک کړو. او د صفاری خاندان بانی اوګرځيدو. دهٔ به په ابتداء کښې د تانبې د لوښو کارکولو." (۵۷۵)

"یعقوب بن لیث یو بهادر او باتدبیره سړے وو. دهٔ د شرات سره جنګ اونښلوؤ. په ډیره بهادرۍ سره ئې هغه له شکست ورکړو. او د هغه د کلو او ښارونو ودانۍ ئې ورانې ویجاړې کړې. دے یو هوښیار او چالاک سړے وو. دربار خلافت ته ئې خط واستوو چې ما د خلیفه مخالفین اُووهل. او زهٔ د خلیفة المسلمین منونکے او فرمان بردار یم. بل اړخ ته ئې ورو ورو په ډیره هوښیارۍ په سجستان قبضه اُوکړه او ددغې ښار د لارو حفاظت ئې شروع کړو. اولس ته ئې د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وعظ شروع کړو. دغه رنګ ددهٔ په ظاهری شان کښې اضافه اوشوه. او د حکومتی مامورینو په نظر کښې ئې هم ځانله ځاے پیدا کړو." (۵۷۶)

"ددغې صورت حال خلاف صفاریان راپورته شول. په عباسی حکومت کښې دم نه وو. او ترک ځانله په خود غرضۍ کښې بوخت وو.

— دغه وخت د صفاریانو په طاقت کښې برابر اضافه کیدله. او هغوئ په سیستان قبضه اُوکړه. او بیا ئې د ایران د لوې حصې نه پښې راتاؤ کړې. او خپل حکومت ئې پکښې قائم کړو.

ددے حکومت بانی یعقوب بن لیث او د هغه ورور عمرو د سجستان اُوسیدونکی وو. دوئ د مسکرۍ کسب کولو. یعقوب ډیر زاهدانه ژوند تیرولو. اګر چې هغه د یو معمولی خاندان سره تعلق لرلو. ولې سړے ډیر بهادر، حوصله مند او لوړ دماغه وو." (۵۷۷)

"په ده کښې ډیر انتظامی صلاحیتونه موجود وو. هم دا وجه وه. چې دهٔ د صالح نه پس د خپل حسن عمل په ذریعه پخپل جماعت کښې ډیر لوئې اثر پیدا کړو. ا وپه لږه موده کښې ئې د سجستان نه د خارجیانو خیلې غوځې کړې. او دغلته ئې خپل حکومت قائم کړو. د ټولو نه وړاندې هغه په خراسان د حملې کولو هڅه اُوکړه. خراسان دغه وخت د طاهریانو په ولقه کښې وو. په هرات کښې ورسره حاکم محمد

بن ادریس مقابله اوکړه. خو یعقوب بن لیث هغه له شکست ورکړو او په بوشنج ئې قبضه اوکړه. ددهٔ قوت دومره زیات شو. چې د خراسان د امیر نه علاوه د خواوشا علاقو نور امیران هم د هغه نه ویرې واخستل.

په هرات د قبضې نه پس هغه په ۲۵۵هـ کښې په کرمان غرې واچوله. یعقوب بن لیث د کرمان نه نیغ شیراز ته اُورسید. او د درې نه په یو میل فاصله ئې پړاو واچوو. د پوره غور نه پس ئې په نهر خپل اسونه ورګډ کړل. او په ډیرې بهادرۍ سره پورې وتل علی او د هغه فوځ چې د دوئ دا همت اُولیدو. نو حوصله ئې بیلوده. او شیراز طرف ته په منډه شول. په دغه کشمکش کښې علی د اس نه را اوغورځیدو. گرفتار کړے شو. او ټول فوځ او دولت ئې د یعقوب لاسو ته راغلو. او شیراز ئې قبضه کړو. په ځنو روایتونو کښې دا هم دی. چې علی بن حسین ماتې اوخوړو نو په زخمی حالت کښې گرفتار کړے شو. یعقوب بن لیث په پایه تخت شیراز قبضه اوکړه. او بیا ئې ټول فارس واخستو. (۵۷۸)

"ددې فتوحاتو په وجه د بغداد خلیفه المعتد دے باغی اُوګڼلو. او وروسته دے د یولس کالو د حکومت کولو نه پس بغداد ته په لاره په ۸۷۸ء مطابق د ۲۶۵هـ حق اُورسید. ددهٔ نه پس ئې ورور عمرو بن لیث جانشین شو." (۵۷۹)

== ☆☆☆ ==

# حواله جات


۱۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۔ ٦١٦ مخ

۲۔ جهانگیر، نور الدین: تزک جهانگیری۔ مترجم: اعجاز الحق قدوسی۔ ناشر: نۂ لری۔ مطبع: نقوش پرنٹنگ پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۵٦ء۔ ج ۱ ۔ ٦۲ مخ

۳۔ شاهنواز، صمصام الدوله: ماٴثرالامراء۔ مترجم: محمد ایوب قادری۔ ناشر: مرکزی اُردو بورڈ لاهور۔ مطبع: شفیق پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۴۹ء ج ۱ ، ۱۰۱ مخ۔

۴۔ کنبوه، محمد صالح: شاه جهان نامه (عمل صالح) ۔ ناشر: مرکزی اُردو بورڈ لاهور۔ مطبع: نه لری۔ سن اشاعت: ۱۹۷۰ء۔ ج ۲ ۔ ۲۸۸ مخ

۵۔ جهانگیر: نور الدین۔ تزک جهانگیری۔ مترجم: مولوی احمد رامپوری ۔ ناشر: نیاز احمد۔ مطبع: ار۔ ار۔ پرنٹرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۹۱ء۔ ۱۳۱ مخ

٦۔ نظامی بدایونیؔ ۔ مشاهیر مشرق ۔ ناشر: تخلیقات لاهور۔ مطبع: اُجالا پرنٹرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۹۹ء۔ ۱۸ مخ

۷۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۹٦ مخ

۸۔ قدوس، ایم۔ اے: تاریخ پاک و هند (عهد سلاطین سے زمانه حال تک) ناشر: منور بک ډپو لاهور، مطبع: نقوش پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹٦٦ء ۔ ۲۹۹ ، ۳۰۰ مخونه

۹۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۹٦ مخ

۱۰۔ فرشته، محمد قاسم هندوشاه: تاریخ فرشته ۔ مترجم: عبدالحئ خواجه ناشر: شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور، مطبع: غلام علی پرنٹرز لاهور۔ سن اشاعت نه لری۔ ۳۹۷ مخ

۱۱۔ بټالوی، سبحان رائے: خلاصة التواریخ۔ ناشر: اُردو سائنس بورډ لاهور۔ مطبع: عدن پرنٹرز لاهور۔ سن اشاعت طبع دوم: ۲۰۰۲ء۔ ۲۸۲ مخ

۱۲۔ شخصیات کا انسائیکلو پیډیا۔ (از مقصود آیاز) ۔ ۴۷ مخ

۱۳۔ کاکا خیل، سید وقار علی شاه: خوشحال خان خټک او تاریخ نویسی۔ ناشر: یونیورسټی بک ایجنسی پېښور۔ مطبع: ماسټر پرنټرز پېښور۔ سن اشاعت۔ نومبر ۱۹۹۲ء۔ ۸۴ ، ۸۵ مخونه

۱۴۔ اکبر آبادی، مولانا سعید احمد: مسلمانوں کا عروج و زوال۔ ناشر: اداره اسلامیات لاهور، مطبع: المطبعة العربیه لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۸۳ء ۔ ۳۰۸ مخ

۱۵۔ تاریخ هند و پاکستان ۔ (از ایم اے قدوس) ۔ ۸۲ مخ

۱۶۔ بخشي، نظام الدين احمد: طبقات اکبری۔ ناشر: ایشیاټک سوسائیټی کلکته۔ مطبع: نه لری۔ سن اشاعت ۱۹۱۱ء۔ج ۱۔ ۳۴۳ مخ

۱۷۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)۔ ۵۹۷ مخ

۱۸۔ کاکا خیل، سید بهادر شاه ظفر۔ پښتانه د تاریخ په رڼا کښې۔ ناشر: یونیورستی بک ایجنسی پېښور۔ مطبع: ماسټر پرنټرز پېښور۔ سن اشاعت ۲۰۰۰ء۔ ۴۵۱ مخ

۱۹۔ چودهری، هدایت الله خان: اسلامی تاریخ پاکستان و هند۔ ناشر: مرکزی کتب خانه اُردو بازار لاهور۔ مطبع: منظور پرنټنګ پریس لاهور۔ سن اشاعت ۱۹۸۹ء۔ ۴۳ مخ

۲۰۔ همدغه کتاب ۔ ۴۴ مخ

۲۱۔ خلاصة التواریخ۔ (از سبحان رائے بټالوی) ۔ ۳۳۰ مخ

۲۲۔ اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از هدایت الله خان چوهدری)۔ ۴۵ مخ

۲۳۔ اخلاق نامه ۔ (مرتبه حبیب الله رفیعؔ)۔ ۳۷ مخ

۲۴۔ بدخشانی، پروفیسر مقبول بیګ: تاریخ ایران۔ ناشر: مجلس ترقی ادب لاهور۔ مطبع: شفیق پرنټنګ پریس لاهور۔ سن اشاعت ۱۹٦۷ء ۔ ج ۱ ۔ ۴۴، ۴۵، ۴٦ مخونه

۲۵۔ اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع)۔ ۳۷، ۳۸ مخونه (نثری لنډیز)

۲٦۔ مشاهیر مشرق (نظام بدایونی)۔ ۹۱ مخ

۲۷۔ تلمیحات اقبال (از سید عابد علی عابدؔ)۔ ۴۷ مخ

۲۸۔ دائرة المعارف فارسی۔ به سرپرستی غلام حسین مصاحب۔ تهران۔ سن اشاعت: ۱۳۴۵ ش۔ج ۱۔ ۱۳۷ مخ

۲۹۔ کلیات خوشحال خان خټک۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند)۔ ۵۹۷ مخ

۳۰۔ همدغه کتاب ۔ ۵۸۲ مخ

۳۱۔ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل)۔ ۹۹ مخ

۳۲۔ شعیب خان۔ تاریخ کے چند اوراق۔ ناشر: شعیب خان۔ مطبع نه لری۔ سن اشاعت: ۱۹۹۹ء ۔ ۵۱ مخ

۳۳۔ عبدالرحمٰن، سید صباح الدین: مُغل شهنشاهوں کی روز و شب۔ ناشر: آصف جاوید مطبع: المطبعته العربیه لاهور۔ سال اشاعت ۲۰۰۲ء۔ ۲۱ مخ

۳۴۔ جمیل یوسف۔ بابر سے ظفر تک۔ ناشر: محمدجمیل النبي خان۔ مطبع: استقلال پریس لاهور۔ سن اشاعت ۲۰۰۱ء۔ ۱۲۴ مخ

۳۵۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۵۴۹ مخ۔

۳٦۔ همدغه کتاب ۔ ۵۵۰ مخ۔

۳۷- همدغه کتاب - ۹۳۷ مخ-

۳۸- همدغه کتاب - ۹۳۸ مخ-

۳۹- شاهنواز خان، صمصام الدوله: ماثر الامراء، مترجم: پروفیسر محمد ایوب قادری- ناشر: مرکزی اردو بورډ لاهور- مطبع: شفیق پریس لاهور- سن اشاعت- ۱۹۶۹ء ج ۲-۴۷۹، ۴۸۰ مخونه-

۴۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۳ مخ-

۴۱- همدغه کتاب - ۱۰۸ مخ-

۴۲- همدغه کتاب - ۱۵۲ مخ-

۴۳- همدغه کتاب - ۱۵۸ مخ-

۴۴- همدغه کتاب - ۱٦٦ مخ-

۴۵- همدغه کتاب - ۲۰۴ مخ-

۴٦- همدغه کتاب - ۲۰۷ مخ-

۴۷- همدغه کتاب - ۲۱۵ مخ-

۴۸- همدغه کتاب - ۲۵۵ مخ-

۴۹- همدغه کتاب - ۲۷٦ مخ-

۵۰- همدغه کتاب - ۲۷۹ مخ-

۵۱- همدغه کتاب - ۲۸۱ مخ-

۵۲- همدغه کتاب - ۲۹۳ مخ-

۵۳- همدغه کتاب - ۳۱۳ مخ-

۵۴- همدغه کتاب - ۳۲٦ مخ-

۵۵- همدغه کتاب - ۳۷۱ مخ-

۵٦- همدغه کتاب - ۳۸۳ مخ-

۵۷- همدغه کتاب - ۳۹٦ مخ-

۵۸- همدغه کتاب - ۴۱۸ مخ-

۵۹- همدغه کتاب - ۴۲۰ مخ-

٦۰- همدغه کتاب - ۴۲۵ مخ-

٦۱- همدغه کتاب - ۴۵٦ مخ-

٦۲- جمدغه کتاب - ۵۰۷ مخ-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٣- | همدغه کتاب | - | ۵۱۸ مخ- |
| ٦۴- | همدغه کتاب | - | ۵۲۷ مخ- |
| ٦۵- | همدغه کتاب | - | ۵۳۵ مخ- |
| ٦٦- | همدغه کتاب | - | ۵۴۳ مخ- |
| ٦٧- | همدغه کتاب | - | ۵۴۴ مخ- |
| ٦٨- | همدغه کتاب | - | ۵۴۸ مخ- |
| ٦٩- | همدغه کتاب | - | ۵۵۹ مخ- |
| ٧٠- | همدغه کتاب | - | ۵٦۳ مخ- |
| ٧١- | همدغه کتاب | - | ۵٧٠ مخ- |
| ٧٢- | همدغه کتاب | - | ۵٧٩ مخ- |
| ٧٣- | همدغه کتاب | - | ۵٨٠ مخ- |
| ٧۴- | همدغه کتاب | - | ۵٨۳ مخ- |
| ٧۵- | همدغه کتاب | - | ٦٠٦ مخ- |
| ٧٦- | همدغه کتاب | - | ٦١٢ مخ- |
| ٧٧- | همدغه کتاب | - | ٧١٦ مخ- |
| ٧٨- | همدغه کتاب | - | ٧۴٢ مخ- |
| ٧٩- | همدغه کتاب | - | ٧٦٢ مخ- |
| ٨٠- | همدغه کتاب | - | ٨٢٢ مخ- |
| ٨١- | همدغه کتاب | - | ٨۴٨ مخ- |
| ٨٢- | همدغه کتاب | - | ٨۴٩ مخ- |
| ٨٣- | همدغه کتاب | - | ٨۵٢ مخ- |
| ٨۴- | همدغه کتاب | - | ٨٦۴ مخ- |
| ٨۵- | همدغه کتاب | - | ٨٦۵ مخ- |
| ٨٦- | همدغه کتاب | - | ٨٧۵ مخ- |
| ٨٧- | همدغه کتاب | - | ٨٩٧ مخ- |
| ٨٨- | همدغه کتاب | - | ٩٠٧ مخ- |
| ٨٩- | همدغه کتاب | - | ٩٣٩ مخ- |

۹۰- همدغه کتاب - ۹۴۳ مخ۔
۹۱- همدغه کتاب - ۹۴٦ مخ۔
۹۲- همدغه کتاب - ۹٦۰ مخ۔
۹۳- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۵۳ مخ۔
۹۴- همدغه کتاب - ۵۴ مخ۔
۹۵- همدغه کتاب - ۵٦ مخ۔
۹٦- اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از چوهدری هدایت الله خان) ۱۵۳ مخ۔
۹۷- فیروز سنز اردو انسائیکلو پیډیا۔ ۱۵۰ مخ۔
۹۸- اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از چوهدری هدایت الله خان) ۱۳۵ مخ۔
۹۹- همدغه کتاب - ۱۳٦ مخ۔
۱۰۰- شاه جهان نامه (از ملا محمد صالح کمبوه) ۵۴۹، ۵۵۰ مخونه۔
۱۰۱- اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از چوهدری هدایت الله خان) ۱۳۵،۱۳٦ مخونه۔
۱۰۲- Jaffar, S.M: The Mughal Empire from Baber to Aurangzeb, Sadiq Khan Publisher, Kisa Khani Bazar Peshawar, 1936, Pages: 254 , 255
۱۰۳- Ishawari Prasad, A Short History of Muslim rule in India, Indian Press Allahabad, 1963 Page 447
۱۰۴- مشاهیر مشرق (از نظامي بدایونی) ۳۳۴ مخ۔
۱۰۵- طارق ، عبدالرحمن: مشاهیر اسلام موت کے اغوش میں، ناشر:دارلبلاغ لاهور، مطبع: نقوش پریس لاهور۔ سن اشاعت۔ ۱۹٦۲ء - ۲۳۳ مخ۔
۱۰٦- کلیات خوشحال خان خټک۔ (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۵۹٦ مخ۔
۱۰۷- همدغه کتاب - ۲۱۵ مخ۔
۱۰۸- ستار طاهر۔ ظهیر الدین بابر۔ ناشر: صادق پبلی کیشنز لاهور۔ مطبع: فائن بک پرنټرز لاهور، سن اشاعت: نه لری۔ ۵، ٦، ۷ مخونه۔
د مثنوی په دې شعرونو کښې د نعمانؒ بن ثابت امام اعظم امام ابوحنیفه ستائینه شوې ده. ځکه چې د حنفی مذهب بانی وو. اوس هم د مسلمانانو زیاته برخه د امام ابو حنیفه د مذهب پیروکار دی. خوشحال بابا چې خپله هم د یاد شوی مذهب او امام منونکے دے. په دغه شعرونو کښې ئې د حنفی مذهب او امام اعظم نعمان بن ثابت ذکر کړے دے. خو دلته دا خبره د یادونې وړ ده. چې خوشحال بابا امام ابوحنیفه د هارون الرشید په خلافت کښې ښودلے دے. حالانکې هغه د خلیفه منصور همعصر وو. او د هغه د خلافت د زمانې سره ئې تعلق لرلو.

## نعمان بن ثابت (امام ابو حنیفه):

"د دوئ نامه نعمان او ابو حنیفه ئې کُنیت دے. لقب ئې امام اعظم دے. شجره ئې څه دا رنګ ده. نعمان بن ثابت بن زوطی بن ماه. لکه څنګه چې ددې نومونو د ترکیب نه جوتیږي. چې امام صیب د عجمیانو د نسل سره تعلق لرلو. ولې دا په وثوق سره نۀ شی وئیلې چې هغوئ د کوم نسل نه وو او عرب ته ولې راغلل.

ستر خطیب او مورخ بغدادی د امام صیب د نمسی له خولې دا روایت رانقل کړے دے. چې "زۀ اسماعیل بن حماد بن نعمان بن ثابت بن نعمان بن مرزبان یم. مونږ د فارس له نسله یو. او کله هم د چا په غلامی کښې نۀ یو پاتې شوی. زمونږ نیکه ابو حنیفه په ۸۰هـ کښې پیدا شو. زمونږ مشر نیکه ثابت په وړوکوالی کښې د حضرت علیؓ په خدمت کښې حاضر شوے وو. هغوئ زما دغې نیکه ته او د هغه خاندان ته د خیر دُعا کړې ده. زما هیله ده چې دغه دُعا قبوله او مؤثره ګرځیدلې ده. (۵۹)

امام ابو حنیفه صاحبؒ چې لا د شپاړسو کالو هلک وو. په اول ځل خپل پلار سره په ۹۶ هجری کښې حج ته لاړو. ددې سفر په دوران کښې ئې د رسول اللهﷺ د یو صحابی عبدالله بن الحارث سره هم ملاقات اوشو او د هغه د خولې مبارکې نه ئې دا ارشاد اوریدلے دے.

"چا چې د الله په دین کښې پوهه حاصله کړه. نو هغه ته په غم او فکر کښې الله کافی دے. هغه ته به له داسې ځایه رزق رسوی چې د هغه په ګمان کښې به هم نه راځی.

ددې نه پس امام صاحب په خپل ژوند کښې څلور پنځوس حجونه کړی دی. په دې څلور پنځوسو سفرونو کښې امام صاحب د باکماله علمی شخصیتونو نه خپله هم استفاده کړې ده او نورو ته ئې هم علمی فیض رسولے دے. (۶۰)

حضرت امام ابو حنیفه ډیر زیات محتاط وو. یو ځل خلیفه هغه ته د قاضی د عهدې قبلولو پیشکش اوکړو. لیکن هغه ددغې عهدې قبولولو نه انکار اوکړو. چې زۀ عربی النسل نه یم. په دې وجه سرداران عرب

به زما فتوې غیر مستند تصور کړی. هغه وخت جعفر دربار کښې موجود وو. هغه اووئیل چې قاضی دپاره د نسب شرط نشته. بلکې د علم ضرورت دے. امام ابو حنیفه اوئیل چې دا ټیک ده ولې زۀ ځان ددې عهدې جوګه نه ګنم. خلیفه ورته اووئیل چې ته دروغ وائې. امام صاحب ځواب ورکړو. چې که زۀ دروغژن یم. نو بیا یو دروغژن ته دومره ذمه واره عهده حواله کیدې نۀ شی. (٦١)

هغوئ به په رمضان کښې شپیته ځله قرآن ختمولو. د هغوئ د ژوند زیاته برخه د علم کلام په بحثونو کښې تیره شوې ده. د فقې د زده کړې دپاره ئې دکوفې د لوئے عالم حماد شاګردی اختیار کړه. او اتلس کاله ئې د هغه نه علم حاصل کړو. (٦٢)

د هغه د نورو اُستاذانو نامې دا دی. حضرت عطار بن رباح، زید بن علی، امام جعفر صادق، امام محمد باقر بن علی زین العابدین ابو محمد عبدالله بن حسن او جعفر بن یزید حجفی. (٦٣)

منصور چې امام اعظم په ١۴٦هـ کښې قید کړو. نو دغه وخت د هغه شهرت تر لرې لرې رسیدلے وو. او بیا په تیره تیره د بغداد په علمی حلقو کښې خو هغه ډیر زیات شهرت لرلو. ولې منصور بیا هم د هغه نه ډیر ویریدو. او هغه له ئې په غلیب کښې زهر ورکړل. کله چې امام صاحب ته پته اولګیده. نو په سجده پریوتو. او ساه ئې ورکړه.

د امام صاحب د مرګ په خبر ټول بغداد اُوجړقیدو. پنځوس زره کسان ئې په جنازه اُودریدل. بیا پینځه ځله نور د هغه جنازه اداکړې شوه. (٦۴)

== ☆☆☆ ==

په حشمت د زلوڅو د پاسه کښینه
په دا کار کښې یا فرعون یا هامان شه (٦٥)

☆

د موسیٰؑ په معجزه به څه ګروهیږی
د فرعون چه د هامان غونډ وزیر دے (٦٦)

## هامان:

د حضرت موسیٰؑ په زمانه کښې د فرعون یو وزیر وو۔ په قرآن پاک کښې ئې د حضرت موسیٰؑ په حالاتو کښې ذکر راغلے دے۔ هامان او قارون دواړه د فرعون مشیران وو۔ دا هم هامان وو۔ چې فرعون ته ئې د بنی اسرائیلو د ماشومانو د قتل عام مشوره ورکړې وه۔ کله چې حضرت موسیٰؑ فرعون ته د حق دعوت ورکړو۔ نو فرعون، هامان ته حکم ورکړو چې یوبرج جوړ کړه۔ زۀ بره خیژم چې د موسیٰؑ خدائې اُووینم۔ د یو روایت مطابق هامان دفرعون سره په نیل کښې غرق شوے دے۔ (٦٧)

== ☆☆☆ ==

څه نشان ئې مونده نشی
د برمک نه د یحییٰ (٦٨)

## یحییٰ برمکی:

"دۀ ته هم د خپل قابلیت په سوب په (عباسی) دربار کښې ستر مقام حاصل وو۔ څکه خو مهدی دے د خپل زوی هارون اتالیق مقرر کړے وو۔ او کله چې هارون الرشید په تخت کیښناست۔ نو هم دے ئې د وزارت د قلمدان جوګه اُوګڼو۔

هارون الرشید د شروع نه د خپل پلار نائب پاتے شوے دے۔ او هم د پلار سره په فارس کښې

اُوسیدلے دے۔ په ۱٦۱هـ کښې چې هارون الرشید لا شهزاده وو۔ او یحیىٰ برمکی ئې اتالیق وو۔ نو د الهادی دا خیال وو۔ چې یحیىٰ برمکی د هارون الرشید پرٰه کوی۔ او دے لمسوی چې د تخت نه لاس وانخلی۔ ځکه نو هغه یحیىٰ برمکی قید کړو۔ او د هغه د پهانسی کولو حُکم ئې اُوکړو۔ ولې په کومه شپه چې یحیىٰ برمکی پهانسی کولے شو۔ هم په هغه شپه الهادی په خپل محل کښې مړ بیاموندے شو۔ او څنګه چې هارون الرشید د ملک واګې په لاسو کښې واخستے نو د ملکی چارو د انتظار اختیار ئې یحیىٰ برمکی ته اُوسپارلو۔ او د وزیر په لقب ئې اونمانځلو۔ دغه رنګ دوه خپل زامن ئې هم د ملکی او سرکاری فرائضو تر سره کولو کښې د یحیىٰ برمکی مرستیال جوړ کړل۔

یحیىٰ برمکی په دغه عهده د ۱۷۰هـ پورې پاتے شو۔ دغه دوران کښې هغه په حقیقت کښې د حکومت د ټولو ادارو نګران وو۔ د هغه د هارون الرشید سره دومره ژور تعلق پیدا شوے وو۔ چې هغه خپل ذاتی مهر هم یحیىٰ برمکی ته حواله کړے وو۔ یحیىٰ څلور زامن لرل۔ فضل، جعفر، موسی او محمد۔" (٦٩)

== ☆☆☆ ==

# حواله جات


۱۔ ارمغان خوشحال (مرتبه سید رسول رسؔا) ۔ ۷۹۵ مخ
۲۔ اریانا پښتو (دائرة المعارف) ناشر: دیوه د اطلاعاتو کابل۔ مطبع: دولتي مطبعه کابل۔ سن اشاعت: ۱۳۲۹ھ۔ وروميې توک ۔ ۳۲۸ مخ
۳۔ اخلاق نامه (مرتبه حبيب الله رفيع) ۔ ۶۱ مخ
۴۔ همدغه کتاب ۔ ۶۲ مخ
۵۔ کليات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵ مخ
۶۔ انجم، زاهد حُسين: نامور شخصيات اور اُن کے اقوال۔ ناشر: مکتبه امتياز اُردو بازار لاهور، مطبع: گنج شکر پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۸۸ء۔ ۱۱۴ مخ
۷۔ شخيات کا انسائيکلو پيډيا (از آياز مقصود) ۷۰ مخ
۸۔ احسان احمد، مولوی: حکايت فلسفه۔ ناشر: مظفر سيد۔ مطبع: کامران سنز پرنټرز حيدر آباد دکن۔ سن اشاعت نه لري۔ ۷۴ مخ
۹۔ کليات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵ مخ
۱۰۔ همدغه کتاب ۔ ۲۰۹ مخ
۱۱۔ همدغه کتاب ۔ ۳۹۳ مخ
۱۲۔ همدغه کتاب ۔ ۸۲۶ مخ
۱۳۔ همدغه کتاب ۔ ۸۷۸ مخ
۱۴۔ بستار طاهرؔ ۔ دُنيا کی سو عظيم کتابيں۔ ناشر: کاروان ادب ملتان صدر۔ مطبع: ار۔ ار پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت۔ ۲۰۰۰ء۔ ۳۹۶ مخ
۱۵۔ همدغه کتاب ۔ ۳۹۷ مخ
۱۶۔ زبيریؔ، ظفر عمر: تاريخ، تهذيب و مذاهب۔ ناشر: ظفر عمر زبيری۔ مطبع: عاليه پبليشنگ هاؤس کراچی۔ سن اشاعت فرور ۱۹۶۱ء ۔ ۲۳۱ مخ
۱۷۔ کليات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۳۳۰ مخ
۱۸۔ قصص الانبياء (از امانت خان عارف) ۲۸۴ مخ
۱۹۔ کليات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۲۴۵ مخ
۲۰۔ همدغه کتاب ۔ ۵۰۵ مخ

۲۱- همدغه کتاب - ۵۱۰ مخ
۲۲- همدغه کتاب - ۸۰۹ مخ
۲۳- همدغه کتاب - ۹۴۷ مخ
۲۴- تلمیحات اقبال (از سید عابد علی عابدؔ) - ۹۲، ۹۳ مخونه
۲۵- زیات، استاد احمد حسن. تاریخ ادب عربی. مترجم: عبدالرحمٰن طاهر سورتی. ناشر: شیخ نیاز احمد لاهوری. مطبع: علمی پرنټنګ پریس لاهور. سن اشاعت: ۱۹۷۲ء. ۵۰۹ مخ
۲۶- آغا اشرف. حکمائے اسلام. ناشر: شهناز همایون المعارج لاهور. مطبع: آر. زیډ پیکجز لاهور. سن اشاعت: ۱۹۹۰ء - ۹۵ مخ
۲۷- فضل نامه (از خوشحال خان خټک) ۳۲ مخ
۲۸- شبلی نعمانی،مولانا: سیرت النعمان. ناشر: سنګ میل پبلیکیشنز لاهور. مطبع: پنجاب پریس لاهور. د اشاعت کال نه لری. ۳۳، ۳۴ مخونه
۲۹- اسرار د طورو، امام اعظمؒ. ناشر: یونیورسټی بک ایجنسی. مطبع: منظور عام پریس پېښور، سن اشاعت نه لری. ۳۱ مخ
۳۰- حقانیؔ، مولانا عبدالقیوم: امام اعظم ابوحنیفه. ناشر: موتمرالمصنفین اکوړه خټک. مطبع: المطبعه العربیه لاهور. سن اشاعت: ۱۹۹۱ء ۵۲، ۵۵ مخونه
۳۱- سیرت النعمان. (از شبلی نعمانی) ۳۵ مخ
۳۲- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۶۲ مخ
۳۳- تاریخ ادب عربی (از استاد احمد حسن زیات) ۲۸۷ مخ
۳۴- سلیمانی، احسان الحق: تمدن عرب. ناشر:قومی کتب خانه لاهور. مطبع: اتحاد پریس لاهور. سبن اشاعت ۱۹۵۶ء - ۲۴۵ مخ
۳۵- ارمغان خوشحال (مرتبه سید رسول رساؔ) ۸۵۲ مخ
۳۶- مشائخ اسلام (از آغا اشرف) ۸۴، ۸۵ مخونه
۳۷- تلمیحات اقبال (از سید عابد علی عابدؔ) ۶۷۳، ۶۸۴ مخونه
۳۸- همدغه کتاب - ۶۸۳ مخ
۳۹- قادریه، فقیر محمد عباس. د الله نازولی. ناشر: محمد عباس قادریه. مطبع او سن اشاعت نه لری. ۲۹ مخ
۴۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۲۵ مخ
۴۱- حبیبی عبدالحیؒ: د پښتو ادبیاتو تاریخ. ناشر: پښتو ټولنه کابل. مطبع: عمومی مطبعه کابل.

سن اشاعت: ۱۳۴۳ هـ۔ دوهم ټوک ۔ ۲۳۵ مخ
۴۲۔ یوسفی، الله بخش: یوسفزیٔ افغان۔ ناشر: الله بخش یوسفی۔ مطبع: کراچیٔ۔ سن اشاعت: ۱۹۷۳ء ۔ الف مخ۔
۴۳۔ سالارزی، محمد نعیم: شیخ ملی او د ځمکوویش ییړ۔ ناشر: د قومونو او قبائلو وزارت کابل۔
سن اشاعت: ۱۳۶۳ هـ ۳۵ مخ
۴۴۔ همدغه کتاب ۔ ۳۵ مخ
۴۵۔ معظم شاه، پیر: تواریخ حافظ رحمت خانی۔ ناشر: پښتو اکیډمی پېښور یونیورسټی۔
مطبع: جدون پریس پېښور۔ سن اشاعت: دوئم ځل۔ ۱۹۸۷ء۔ ۱۴۵، ۱۴۶ مخونه
۴۶۔ د پښتو د نثر تاریخ (از پروفیسر افضل رضا)۔ ۱۱۲ مخ
۴۷۔ شیخ ملی او د ځمکو ویش ییړ (از محمد نعیم سالار زی) ۳۶ ، ۳۷ مخونه
۴۸۔ تواریخ حافظ رحمت خانی (مرتبه پیر معظم شاه)۔ ۱۴۵ مخ
۴۹۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۸۶۶ مخ
۵۰۔ دستار نامه (مرتبه حاجی پُردل خان خټک) ۔ ۷۰ مخ
۵۱۔ قدوسی، اعجاز الحق: اقبال اور علمائے پاک و هند۔ ناشر: ډاکټر محمد معزالدین۔
مطبع: حمایت اسلام پرنټنګ پریس لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۷۷ء۔ ۱۱۱ مخ
۵۲۔ امرتسری حافظ عبدالرحمٰن۔ رود کوثر۔ ناشر: صابر شکور۔ مطبع: زیب ارټ لاهور۔
سن اشاعت۔ ۱۹۵۱ء ۲۳۸ مخ
۵۳۔ اقبال اور علمائے پاک و هند۔ (از اعجاز الحق قدوسی) د ۱۱۱ نه تر ۱۱۳ مخونه
۵۴۔ فوق، محمد دین: سوانح علامه عبدالحکیم سیالکوټی۔ ناشر: محمد سعید شیرکوټی۔
مطبع: مومن پرنټنګ پریس سیالکوټ۔ سن اشاعت: ۱۹۷۱ء۔ ۳۷ مخ
۵۵۔ رود کوثر۔ (از حافظ عبدالرحمٰن امرتسری) ۔ ۲۴۱ مخ
۵۶۔ ایس ایم، جعفر: تعلیم هندوستان کے مسلم عهد حکومت میں۔ مترجم: سعید انصاری۔ ناشر: مکتبه عالیه لاهور۔
مطبع: ایف۔ډی پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۹۵ء ۔ ۱۰۱ مخ
۵۷۔ اقبال اور علمائے هند (از اعجاز الحق قدوسی) ۱۱۴ مخ
۵۸۔ فضل نامه (از خوشحال خان خټک) ۳۱ مخ
۵۹۔ سیرت النعمان (از شبلی نعمانی) ۲۴ مخ
۶۰۔ حقانی مولانا عبدالقیوم۔ دفا امام ابو حنیفهؒ۔ مترجم: محمد سلیم سواتی۔ناشر: اداره العلم والتحقیق
دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک۔ مطبع: الکتاب پریس پېښور۔ سن اشاعت: جولائی ۱۹۹۶ء ۔ ۷۵ مخ

٦١۔ همدغه کتاب - ۱۰۲ مخ
٦٢۔ مشائخ اسلام (از آغاز اشرف) - ۷۰ مخ
٦٣۔ همدغه کتاب - ۷۵ مخ
٦٤۔ همدغه کتاب - ۷۲ مخ
٦٥۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۱۹ مخ
٦٦۔ همدغه کتاب - ۴۴۸ مخ
٦٧۔ شخصیات کا انسائیکلو پیډیا (از مقصود آیاز) - ٦۹۷ مخ
٦٨۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۰۰ مخ
٦٩۔ اسلامی انسائیکلو پیډیا (از سید محمود قاسم) ج ۱ - ٣٦٧ مخ

شپږم باب

## د خوشحال په کلام کښې مذکور

# عاشقان اؤ د دوئ تاريخي معاشقې

د خوشحال بابا د شاعرۍ ډېره برخه د عشق اؤ رومان د رنګونو نه برجته ده. چې پکښې د هغه د عشقيه وارداتو، کيفياتو او تجرباتو بـلاعکسونه او ژوندي نقشونه په نظر راځي. خو د خپلې مينې ددغه عکسونو او نقشونو سره چې ستر خوشحال د نړيوال رومانی شخصياتو کومه مقايسه او موازنه کړې. هغه د يادونې وړ ده. او دې باب کښې هم ددغه يادو شوؤ رومانی شخصياتو او د هغوئ د تاريخی معاشقو څېړنه شوې ده. کوم چې خوشحال بابا پخپلو شعرونو کښې راوړي دي.

در خو خود په آدم خان باندِ شیدا وه
تر دا مینځ د میروګی ژبه بـلا وه (۱)

☆

اُوس د دیو جونو وینځو په ځائے نه ده
دُرخانئ آدم خان کړه مشهوره (۲)

☆

که خبر د دُرخانئ له مخه نه وے .. !
آدم خان به ځنے څه غوبنتل په کور کښے (۳)

☆

درخانئ په کښے یو آدم خان خوښ کړ
یوسف زیئ ځوانان ډیر وو سواره پلی (۴)

☆

درخو هوښیاره وه ځان ئے نادان کړ
نوم ئے بد اصل د آدم خان کړ
تل ئیے د مور او پـلار پیغور تاره
په زړه مئینه کار ئے دا شان کړ (۵)

په دغه شعرونو کښې آدم خان یاد کړے شوے دے۔ څوک چې د پښتو رومانی دُنیا یو ډیر مقبول او مشهور عاشق تېر شوے دے۔

"آدم خان په قام میته خیل، اباخیل بائیزے وو۔ اباخیل د یوسفزو یوه مشهوره څانګه ده۔ او د آدم خان تبر د اباخیلو په څلورم پشت کښې راځی۔" (۶)

د یوسفزو په عـلاقه د مورے د غره په لمن کښے د آدم خان او درخانئ پلرګنو استوګنه کوله۔ د آدم

خان د پلارنوم حسن وو۔ او درخانۍ د طاؤس خان ملک لور وه۔ دوئ دواړه په بائیزو او رانړیزو کښے یاد خانان وو۔" (۷)

مولوی احمد پخپله نثری قصه آدم خان درخانی کښې د آدم خان پیژندګلو د پیراکو په ژبه څه دا رنګ کوی۔

"آدم خان میته خیل چه د حسن خان ځوئے دے۔ هم ننګیالے دے۔ هم دُنیادار دے۔ هم عالم دے۔ هم خوش طبع دے۔ هم شاعر دے۔" (۸)

صدر خان ختک د آدم خان پیژندګلو پخپل شاعرانه رنګ څه په دا ډول کړې ده۔

آدم میشت په شیر خانه وو
شب و روز په ترانه وو
دے پسر د حسن خان وو
میته خیل وو نوے ځوان وو
په بشاشت کښے بے ثانی وو
لطفات ئے روحانی وو
درست مجلس پر معطر وو
هر مفلس ئے موړ په زر وو
هم ګلزار وو هم مجلس وو
هم زردار وو هم مفلس وو
په همت پورته په دؤ تۀ
په تدبیر ورو ورو په رو تۀ
په چشمانو که آهو وو
شیر په زړه نهنګ بازو وو

موسیقی علم ئے ډیر وو
په مروند کښے ئے ډیر پیروو
د سرود په هر مقام وو
دے عالم پرے نام په نام وو (۹)

"څه وخت چه آدم خان په خپله مینه نا اُمیده شو نو د خپل وطن د خلقو اوخپلے خانۍ ملکۍ نه هم ویزاره شو۔ او د هندوستان په لوری ئے مخه اُونیوله، خو څه وخت چه د اکوړی په خوا کښے (دختکو په علاقه) د مصری بانډے کلی ته را اورسید۔ نو د خپلے مینے تاوژنو او د اشنا د فراق غمونو دومره زیلے وو۔ چه په تن کښے ئے نور د وړاندے تللو توان نه وو۔ او هم ددغه رنځ د کبله ئے په دغه ځائے کښے ساه ورکړه۔" (۱۰)

== ☆☆☆ ==

نه محمود شته نه آیاز دور ئے تیر شو
په جهان پاتے خبرے د محمود دی (۱۱)
☆
محبت غلام بادشاه، بادشاه غلام کا
خبر واخله له آیاز له محمودً (۱۲)

## آیاز:

"د سلطان محمود غزنوی د غلام نوم آیاز وو۔ ددۀ سره د سلطان محمود غزنوی ډیره زیاته مینه وه۔ تر دې چې د ملک د سرو سپینو مالک ئې جوړ کړے وو۔ د محمود آیاز مینې محبت دومره شهرت بیاموند۔ چې شاعرانو پخپلو کلامونو کښې تلمیحاً استعمال کړو۔ وئیلې شی چې د ډیرې لوئې مرتبې او منصب باوجود هم

آیاز خپل اصلیت نهٔ وو هیر کړے. او دا ئې خپل معمول جوړ کړے وو. چې هره ورځ به ئې هغه جامې کتلې، کومې چه هغه د خپلې غریبۍ په زمانه کښې اغوستلے. دې د پاره چې زړه کښې ئې څه لوئې رانه شی." (۱۳)

سره ددې چې ایاز دومره ښائسته او ښکلے نه وو. ولې غوړ مخې ضرور وو. د هغه اعضاء متناسب وو. هغه ډیر هوښیارو میانه رو او مؤدبه انسان وو. د سلطان محمود غزنوی په دربار کښې ایاز د لوئې مقام او ډیر تقرب خاوند وو. تر دې چې د هغه سورلی به د بادشاه د سورلۍ سره څنګ په څنګ تلله. کله چې په ۴۲۱هـ ق کښې محمود غزنوی وفات شو. نو دهٔ د امیر محمد خوا پرېښوده. نیشاپور ته لاړ او د سلطان مسعود د دربار سره ئې ځان اوتړلو. دهٔ ته سلطان مسعود د قضدار او مکران امارت اُوسپارو." (۱۴)

"د ایاز کنیت "ابوالنجم" وو. چې تول پرې اتفاق لری. ولی ددهٔ د ژدکړې د ابتدائی حالاتو او د غزنی دربار ته د راتګ تاریخونه لا په تیارو کښې دی. وڅیلې شی چې هغه د سلطان محمود د وفات (۴۲۱هـ/۱۰۳۰ء) په آوان ښه په جوبن کښې وو. او د هغه د دربار یو بااثره امیر وو. بیهقی لیکی چې آیاز د هغه اته غلامانو نه وو. څوک چې د "اخص خواص" په نامه یادولې شی. آیاز په ډول ډال، ذهانت او خوش طبعی کښې په زرګونو کښې یو وو." (۱۵)

"د سلطان محمود د وفات نه پس چې د هغه زوے محمد د غزنی په تخت کیښناست. نو لږې ورځې پس ترې امیران او د محل نوکران زړه ماتې شول. آیاز هم په دغه کسانو کښې وو. هغه د ځان سره حاجب برزګ علی دایه ملګرے کړو. او د شاهی نوکرانو یو ګڼ شمیر ئې تیار کړو. فیصله ئې دا اُوکړه چې د سلطان محمود دویم زوی مسعود خوا له به ځو. څوک چې د "رے" فاتح وو. او د غزنوی ایران والی وو. کله چې سلطان محمد خبر شو. نو هغه د هندوانو غلامانو په لښکر د دوئ لار اُونیوله. ولې دغې لښکر ماتې اُوخوړ. او آیاز هلته په رسیدو کښې بریالے شو. نیشاپور ته په رسیدو ورته مسعود تود هرکلے اُووئیلو. ډیر خوشحاله شو او لوئې انعام ئې ورته ورکړو." (۱٦)

وروسته آیاز د مسعود د زوی " شهزاده مجدود تقریباً شپږ کاله په لاهور کښې اتالیق پاتې شو. او د مجدود نه پنځلس کاله پس هم ژوندے وو. ددهٔ قبر د پخوانی ښار نه بهر هغه ځائې موجود دے. چرته چې

د نواب سعد الله رنگ محل او د رنجیت سنگهـ ټکسال وو. د محل نوم اُوس هم شته. او قبر د شاه عالمي دروازې په نوې بازار کښې د سرک په غاړه په یو اُوچت ځائې ډېه کړې شوې دے."

"په اسلامی دنیا کښې او خصوصاً په مینځنی او جنوبی ایشیاء کښې آیاز د عالمگیر شهرت مالک دے. د هغه د شهرت په اسبابو کښې د هغه حُسن و جمال، د سلطان محمود غلامی، مینه او آقا پرستی شامل دی. او دغه هر څه اُوس د متلونو په حیث مشهور دی. ددې نه علاوه هغه د فارسی ادب هغه قصو او حکایاتو هم د شهرت اسمان ته رسولے دے. کوم چې د فارسی ژبې نوموړو شاعرانو، ادیبانو د خپلو کتابونو بنکلا او زینت گرځولی دی." (۱۷)

== ☆☆☆ ==

درخو خود په آدم خان بانډِ شیدا وه
تر دا مینځ د میروگی ژبه بلا وه (۱۸)

☆

اوس د دیو جونو وینځو په ځائے نه ده
درخانۍ آدم خان کړه مشهوره (۱۹)

☆

که خبر د درخانۍ له مخه نه وے
آدم خان به ځنے څه غوبنتل په کور کښے (۲۰)

☆

درخانۍ په کښے یو آدم خان خوبش کړ
یوسف زئ ځوانان ډیر وو سواره پلی (۲۱)

☆

درخو هوښیاره وه ځان ئے نادان کړ
نوم ئے بد اصل د آدم خان کړ
تل ئیے د مور او پلار پیغور تارۀ
په زړه میئنه کار ئیے دا شان کړ (۲۲)

دې شعرونو کښې د دُرخانې نامه راوړې شوې ده. دُرخانې د آدم خان معشوقه وه. د دوئ د مینې داستان په پښتنو کښې ډیر زیات مقبول دے. خوشحالؔ بابا پخپلو شعرونو کښې دوئ ته ځائې په ځائې اشارې کړې دی. د دُرخانې پیژندګلو مولوی احمد څه په دا ډول کوی.

"نقل دے له میرو نه چه د آدم خان ډیر اشنا او خاص ملګرے وو. چه په کوزه باز دره کښې د یوسفزیو یو سردار ؤو. چه ډیر دولت ئے لارۀ او نوم ئے طاوس خان وو. اؤ د هغه سردار یوه لور وه چه د هغې نامه دُرخانئ یادیدله. ولے په ښائست کښے په هسے شان وه. چه بله سیاله ئے په هغه زمانه کښے چرته نه وه. ټول عمر په ستر اوپرده کښے لوئېدله."(۲۳)

راز محمد ویښ هم دُرخانې د کوزې بازدرې یادوی.

"درخانئی د باز درے کلی په ښکته خواؤ کښے د سوات د علاقے د یو شتمن او مخور سړی لور وه." (۲۴)

صدر خان خټک د دُرخانې ښائست په دا ډول ستائیلے دے.

چه ئے مخ تمامی نور وو
په شغلو تمامی پور وو
چا ئے مخ ته برادره
کتے نۀ شو بے ځادره

د خاصے اُووه حجابه
دے په سر کړل صاف تر آبه
له مشرقه تر غروبه
له شماله تر جنوبه
نه وه هیڅ سترګو لیدلے
دا رنګ جل ښائسته ښکلے (۲۵)

"د وړوکوالی نه تر د نوی پیغلتوبه پورے دُرخانئ یوه حیاداره خو شوخه او خوش ارواحه او د سیلانی طبیعت بے غمه بے پرواه جینئ وه. د هغے ډیرے ملګرے (سهیلئ) هم وے. چه په دغو ټولو کښے د باز درے بُسکئ دے ته ډیره نزدے او عزیزه وه. د ځنو روایاتو له رویه بسکئ درخانئ د ترور لور وه." (۲٦)

د دُرخانئ د مرینې په حقله پروفیسر محمد نواز طائر لیکی.

" درخانئ چه د هغه (آدم خان) د مرګ خبر واورید. نو هغه هم په خپل ژوند ستومانه شوه. او ددے دُنیا نه رخصت شوه. خوش اعتقاده خلقو د درخانئ جنازه مصری باندے ته راوړه او دغه دواړه صادقان عاشقان ئے د یو بل په خوا کښے خاورو ته اُوسپارل." (۲۷)

== ☆☆☆ ==

زاهد ورچانے انکار کاند له عشقه
نل دمن لیلیٰ مجنون لولی په کور (۲۸)

ځنګه چې لیلیٰ مجنون د عربی ادبیاتو ډیر مقبول رومانی کردارونه دی. هم دغه رنګ په هندوستانی رومانی ادب کښې نل دمن ډیر شهرت لری. دمن یا دمنتی د نل محبوبه وه. د دمن پلار څوک د بهار راجه بهیم یادوی. او ځنې نور پوهان ئې د دکن بیدرد راجه بیانوی. د خزانه تلمیحات مؤلف لیکی چې:

د منیتی د بهار د راجه بهیم ایکې یوه لور وه. هغه په رنګ ډیره ښکلې او په خوئې بې کچه ښائسته وه. کله چې هغه پیغله شوه. نو پلار ئې د هغې د ودؤلو د پاره سوئمبر راجوړ کړو. دغې سوئمبر ته ډیر راجګان راغلی وو. چې یو پکښې "نل" هم وو. ددې نه علاوه دې سوئمبر کښې څلور دیوتاګان اګنی، اندر، ورن او بم هم شامل شوی وو. هغوئ هم خپل ځانونه د "نل" په شکل کړی وو. ځکه چې هغوئ ته د دمنیتی سره د نل د مینې پته لګیدلې وه. ولې ددې هر څه باوجود د منتی په نل ګوته کیښوده. اؤ د هغه انتخاب ئې اوکړو. مختصر دا چې د دواړو واده ښه په درز دروز کښې اُوشو. او څه موده دواړو په خندا خوشحالۍ تیره کړه. دغه دوران کښې د"نل" دوه بچی پیدا شول. په هلک ئې اندرسین او په جینۍ ئې اندرسینا نومونه کیښودل. د نل یو کشر ورور چې پشکر نومیدو. ډیر بد خویه او حاسد سړے وو. هغه نل ته په زړه کښې خیرے ساتلو. یوه ورځ دواړو ورونو جواری کوله. پشکر دهوکه اوکړه. او په نل ئې ګونټه سوره کړه نل په دغه داؤ کښې د هر څه نه لاس اُووینځل. تر دې چې ښځه، بچی سلطنت، محل او عن چې اغوستې جامې ئې هم بائیللې. سلطنت د پشکر لاس ته راغلو. هغه نل ته د منیتی ورکړه. او په ملک کښې ئې اعلان اوکړو. چې هیڅوک به هم د دوئ مدد نه کوی.

نل او د منیتی ځنګل ته لاړل. څه موده ئې یو ځائې تیره کړه. ولې د لوږې او نهرې له وجې نل یوه ورځ د منیتی په خوب اُوده پریښوده. او په مخه لاړ. په دې غرض چې د منیتی د هغه سره نور تکلیفونه او سختې تیرې نه کړی. او د پلار کره لاړه شی. ولې کله چې هغه راویښه شوه. اؤ نل موجود نه وو. نو ډیره پریشانه شوه. څو ورځې په نل پسې په ځنګل کښې اوتره اوتره اوګرځیده. خو چې د نل څه پته اُونه لګیده.

نو د ځنګل نه را اُووته. او د پلار د کور په ځائې د راجه چهیدی کره لاړه. هلته ئې پناه واخسته. کله چې راجه چهیدی د حقیقت نه خبر شو. نو هغه ئې د خپل پلار کهاله ته اُولیږله.

بل خوا په ځنګل کښې "نل" مار اُوچیچلو. د مار زهر ډیر خطرناک وو. "نل" د مرګ نه بچ شو. خو دغې زهرو هغه ډیر بد رنګه او مُندرے کړو. ددغې حادثې نه پس نل ځنګل پریښودو. راغے د اجودهیا د راجه رتوپرن سره ئې د باهک په نوم نوکری شروع کړه. د دمنیتی د پلار سره د خپل زوم نل ډیر فکر وو. هغه د نل په لټون ځان ستړے کړو. خو نل ئې اونه موندو. ځکه چې د هغه شکل دومره بدل شوے وو. چې د پیژندګلو نه وتے وو. البته یو برهمن د منیتی ته دومره قدرې وئیلې وو. چې "نل" ژوندے دے. او دلته نزدې اُوسیږی. هم په دغه اسرا د د منیتی ژوند تیریدو. د برهمن د خبرې په بنیاد د دمنیتی پلار یو ځل بیا د سوئمبر اعلان اُوکړو. ځکه چې هغه ته دا پوخ یقین وو. چې که نل ژوندے وی. نو هغه به خواه مخواه راځی. او هم دغسې اُوشوه. نل په سوئمبر کښې برخه واخسته. د منیتی نل لږ لږ اُوپیژندو. خو د هغه شکل او قد دومره بدل شوے وو. چې پوره یقین ئې پرې نه راتلو. ځکه نو هغې د خپل یقین خاص کولو د پاره په نل ترکاری پخه کړه. او هر کله چې د منیتی د هغه دلاس پخ کړے اُوخوړو نو یقین ورته اوشو. چې هم دا نل دے. دواړه مئینان یو ځل بیا یو ځائې شول. د یو دیوتا په کوشش د نل شکل او قد ځائې له راغلل. دې نه پس هغه د پشکر سره یو وار بیا جواری ته کیښناست. دا وار نل هر څه راسر کړل. د پشکر بنځه ئې هم اُوګټله. ولې هغه پشکر معاف کړو. او ډیرې ډالې او تحفې ئې ورته هم ورکړې." (۲۹)

== ☆☆☆ ==

که ویسه وه که رامین وۀ

که مجنون وه که لیلا (۳۰)

دا شعر چې د ویس او رامین ذکر لری. ددې شخصیتونو په حقله د ځنو خلقو دا خیال وو. چې دا د هندی ادب د یو رومانی داستان دوه کردارونه دی. خو دغه خبره سمه نه ده. د اُردو ژبې لوئې څیړنکار حافظ محمود شیرانی لیکی.

"په دغه بنیاد "بحرالفوائد" چې په شپږمه صدی هجری کښې لیکلے شوے دے. او په فارسی ژبه کښې د ابی سعد ارسلان آبه بن آق سنقر د پاره تصنیف شوے دے. مصنف په دغه کتاب کښې د اولاد د تربیت په معامله کښې په مور پلار پاسلنه ایښې ده. چې د ویس رامین غوندې کتابونه د ماشومانو نه په ډېره ساتل پکار دي." (۳۱)

"فخر الدین اسعد گرگانی د الهیٰ نامې نه د "ویس رامین" یو زړه راښونکے حکایت تالیف کړے دے. کوم چې زمونږ د پاره ډیر نوی معلومات لری." (۳۲)

ددې پورته حوالو نه دوه خبرې مخې ته راغلې. یوه دا چې د "ویس رامین" رومان د ایران د خاورې سره تعلق لری. او ژبه ئې پهلوی یا فارسی ده. دویمه دا چې عالمانو دغه رومان مخرب الاخلاق گڼلې دے. او ددې سره سره ئې د نوو معلوماتو راکولو یوه ذریعه هم منلې ده. په هر طور د ویس رامین رومان په وړومبی ځل فرید الدین عطارؔ په پهلوی ژبه کښې لیکلے دے. دغه لیکنه چې د هغه په کتاب الهیٰ نامه مخ ۸۲۱، ۸۲۰ درج ده. مختصر منظوم حکایت دے. ولې کوم کتاب چې پرې فخر الدین اسعد گرگانی په فارسی کښې تصنیف کړے دے. دا کتاب هم منظوم دے. او په ۵٦ مخونو اړتیا لری. ما هم ددغه کتاب نه د ویس رامین د شخصیتونو په حقله لنډه شان پیژندګلو راخستې ده. کومه چې دلته وړاندې کولې شی.

## رامین:

رامین د خراسان د بادشاه "شاه موبد" ورور وو. ددهٔ بل ورور "زرد" نومیدو. "رامین" چې پیدا شو. نو د پالنې او روزنې د پاره ئې خوزان ته اولېږو. خوزان د مرو او همدان په مینځ کښې یوه ښیرازه علاقه ده. دغلته ددهٔ سره د کوهستان د ملکې شهربانو (معروف به شهرو) لور ویس هم د لویولو د پاره راوړې شوې وه. په خوزان کښې رامین او ویس سره یو ځائې لس کاله تېر کړل. او بیا خپلو خپلو ځایونو ته اُورسولې شول.

څه موده پس د شاه موبد سره د ویس واده اُوشو. چونکې په خوزان کښې د ویس او رامین د یو بل سره سترګې خوږې شوې وې. ځکه نو رامین دا نه شوه زغملې. وختونه تېریدل. رامین د ویس د حاصلولو د پاره خپل ورور "زرد" اُووژلو. او څه موده پس "شاه موبد" هم د یو ځنګلی ځناور ښکار شو. او دا رنګ رامین او ویس یو ځائې شول. رامین د خراسان بادشاه شو. په مرو کښې په تخت کښیناست. او یو سل لس کاله ژوند ئې بیاموند. ده درې اتیا کاله بادشاهی اوکړه. او د ویس نه ئې دوه زامن پیدا شول. رامین پخپل ژوندانه بادشاهی خپل زوی ته اُوسپارله. او خپله د مقدس اُور د اتش کدې منجاور جوړ شو. (۳۳)

== ☆☆☆ ==

شور و شر به د رانجا په جهان نهٔ وو
که د هیر صورت پیدا نهٔ وے په شور کښے (۳۴)

## رانجا:

هیر رانجا. د پنجاب په خاوره دوه نومیالی مئینان تیر شوی دی. د دوئ د مینې داستان په پنجابی ژبه کښې وارث شاه لیکلے دے. دغه رومانی داستان دومره مشهور دے. چې په ټول هندوستان کښې د بچې بچې په ژبه د هیر رانجا نامې دی.

"رانجا- د تخت هزارې اُوسیدونکے وو. ددهٔ پلار د خپلې علاقې لوئې امیر او یاد چودهری وو. د رانجا نه علاوه ددې چودهری نور هم ډیر زامن وو. رانجا په ټولو کښې کشر وو. ددهٔ خپل نوم "وحیدو" وو. ولې د هیر سره د بې کچه مینې واقعې دے په دُنیا کښې د رانجا په نامه مشهور کړو. هیر د مهر چوچک لور وه. او د جهنګ سیال اوسیدونکې وه. رانجا د هیر په نالیدلی حُسن مئین شوے وو. هم دغه وجه وه. چې رانجا به شپیلۍ غړوله او د هیر زړه به ئې خوشحالولو. د دوئ د مینې خبره چې خوره شوه. نو مهر چوچک فیصله اوکړ. چې خپله لور "هیر" رانجا ته ورکړی. ولې د مهر چوچک ټول قوم د هغه ددغې فیصلې سخت مخالفت اُوکړو. او د هیر واده ئې د کهیړ خاندان د "سیدا" نومې یو ځوان سره اُوکړو. هیر ددغې واده نه سکوت انکار اوکړو. خو هغه په زور د "سیدا" په کهاله کوزه کړې شوه." (۳۵)

"رانجا د هیر د سخرګنی علاقې رنګپور ته لاړ. هلته ئې څه موده د جوګیانو په جامه کښې تیره کړه. او آخر یوه ورځ د هیر په تبنتولو کښې بریالے شو. ولې د "هیر" سخرګنی کور پرې خبر شو. هغوئ پسې اُووتل. اؤ دواړه ئې لاندې کړل. وروسته د هیر ماما "کیدو" هیر له زهر ورکړل. او هغه مړه شوه. رانجا دغه صدمه برداشت نه کړې شوه. او هغه هم دې فانې دُنیا ته په مخه اُووې." (۳٦)

== ☆☆☆ ==

که جمال ئے و یوسفؑ نه وے ورکړے
چا به غم په زلیخا باندِ کښیښ (۳۷)

☆

په جهان کښے مینه هم وه
د یوسفؑ د زلیخا (۳۸)

☆

اول مینه د یوسفؑ په زلیخا وه

بیا له پسه د مجنون او د لیلا وه

له غه پسه د وامق او د عذرا وه

عاشقی لا زهٔ ته نه وو چه پیدا وه (۳۹)

## زلیخا:

ابو اسحاق ابراهیم د زلیخې په حقله لیکی:

"احتمال دا ده چې "زلیخا" لفظ د "زلیقه"نه دے. په عبرانی او عربی دواړو کښې د زلیقه معنیٰ د هغې ښځې ده. چې څه لغزش ترې شوے وی.

زلیخا. د عزیز مصر ښځه وه. په توریت کښې د عزیز مصر نوم "فوطیفا، یا فوطیفارع" راغلے دے. او په اسلامی تفسیرونو د "قطفیر یا اطغر بن رحیب" په نامه یاد کړے شوے دے.

کله چې حضرت یوسفؑ، فوطیفار د غلام په حیث واخستو. ددهٔ ښځه د حضرت یوسفؑ په حسن و جمال باندې مئینه شوه. خو کله چې حضرت یوسفؑ ددهٔ د ښځې د خواهش پوره کولو نه انکار وکړو.. نو هغې په حضرت یوسفؑ تهمت اولګوؤ. او هغه یوسفؑ په زندان کښې واچوؤ. ډیره موده پس چې یوسفؑ د زندان نه نجات بیاموند. نو دغه وخت زلیخا بوډۍ شوې او ړنده شوې وه. هغه یوسفؑ ته په لاره کښې ناسته وه. او ژړیدله. یوسفؑ هغې ته دُعا وکړه. او الله تعالیٰ هغه د یوسفؑ د دُعا په برکت د بدبختی نه را اوویسته. اسلام ئې قبول کړو. ځوانه شوه. او یوسفؑ په نکاح کړه. (۴۰)

"عین المعانی او عجائب القصص لیکلی دی. چې زلیخا د طیموس بادشاه لور وه. ددغے بادشاه ملک چرته په مغرب کښې وو. غرض دا چې طیموس ډیر د شان و شوکت او لوئے نوم خاوند وو. ددهٔ مذهب بُت پرستی وه. ددهٔ یوه لور وه. چې نوم ئې راحیل او زلیخا ئې لقب وو. چې د حسن و جمال د صفتونو نه ئې تاریخونه ډک پراته دی." (۴۱)

"زلیخا د عزیز مصر هغه بی بی وه. چې په حضرت یوسفؑ مئینه شوې وه.
او هم د هغې په ډیره وینا د مصر بادشاه چې غازن نومیدو حضرت یوسفؑ
په بیعه اخستے وو." (۴۲)

ابو الکلام آزاد د زلیخې په حقله څه دا رنګ لیکی.

"زلیخا. چې د عزیز مصر د ښځې نوم یادولې شی. دا نوم په توریت کښې نشته. البته د یهودیانو په روایاتو کښې دغه نوم بیاموندے شی. او د یهودو د روایاتو نه د مسلمانانو په ژبه راغلے دے. د زلیخې په باره کښې عام طور دا خیال ډیر مشهور دے. چې هغه وروسته د حضرت یوسفؑ په نکاح کښې راغلې وه. ولې ددې خبرې سند نه خو په قرآن کښې شته. نه په احادیثو کښې او نۀ په توریت کښې په دغه حقله څه راغلی دی." (۴۳)

== ☆☆☆ ==

زۀ فرهاد د زمانے یم
ته شیرینه ددے دور (۴۴)

☆

د معشوقے نوم عاشق په جهان خور کا
د شیرینے بازار تود دے له پرویز (۴۵)

☆

ته محبوبه که شیرینه ددے وخت ئے !
زۀ خوشحال د اُوسنی دور کوهکن یم (۴۶)

☆

د مجنون او د لیلٰے مینه رښتیا وه
د پرویز او د فرهاد او د شیرین (۴۷)

☆

لکه زۀ په تا مجنون دا هومره نۀ وه
نه فرهاد هسے مئین وه په شیرینے (۴۸)

☆

له دُنیا نه هیچا کام موندلے نه دے
که شیرین وه که خسرو وه که فرهاد دے (۴۹)

☆

که فرهاد وه که شیرینه
که وامق وه که عذرا (۵۰)

☆

په تن سیمینه ئیے په رنګ رنګینه ئیے
په لب شیرینه ئیے په مو مشکینه ئے
ځه د مجنون یم که ته لیلیٰ ئیے
زۀ د فرهاد یم که ته شیرینه ئیے (۵۱)

☆

غر فرهاد په تیشه غوڅ کړ
خسرو بیاموندہ شیرینه
یو لاشه خوری د مچیٔ
بل خواړه له انګبینه (۵۲)

☆

مجنون و ذکر لیلے فرہاد و ذکر شیرین
درپیش شان چه خوانی صدگونه داستان را (۵۳)

په دغه شعرونو کښې د شیرینې تذکره شوې ده. د چا نامه چې په ایرانی ادبیاتو کښې د عشق و محبت په حواله ډیر زیات شهرت لری.

"شیرین د فرهاد معشوقه ده. او د خسرو پرویز ښځه وه". (۵۴)

وئیلې شی چې د خسرو پرویز د محبوبې شیرینې د بیزو تازه پیٔ ډیر خوښ وو. ولې پیٔ چې تر محله به رارسیدل. نو زاړۀ شوی به وو. یوه ورځ ---- چې د فرهاد په شیرینې سترګې خوږې شوې. اوپه هغې باندې ئې زړه بائیلو. نو د فرهاد د عشق خبرې د خسرو غوږونو ته هم اُورسیدې. هغه د سزا په طور فرهاد د بې ستون د سُوری کولو د پاره اُولیږو. چې ددغې غر نه یو نهر را اُوباسی. داسې به د بیزو تازه پیٔ په دغه نهر کښې قصر شیرین ته په آسانه رارسی. خسرو د هغه سره لوظ اُوکړو. چې په داسې کولو به فرهاد ته هغه شیرین ورکړی. خسرو ته یقین وو. چې دا یو ناشونے کار دے. او فرهاد به دا چرته هم اُونه کړې شی. فرهاد د مینې په اړوند، او د وصال په اُمید د همت ملا اوتړله. په کار کښې بوخت شو. او بې ستونه ته اُونښتو. بلعمی لیکی چې --- هغه چې د بې ستون د غر نه کومې ګټې راجدا کړې دی. هغه دومره وزنی او درنې دی چې نن که سل کسان یو ځائ شی. نو هغه یوه ګټه به پورته نه کړی.

فرهاد ځائې په ځائې په دغه غر کښې د شیرینې بتان تراشلی دی.هغه په دغه بتانو د شیرینې د وصال مینه ماتوله. هغه په کلونو کلونو دغه ناشونے کار تر سره کړو. ولې کله چې د خسرو د لوظ د پوره کولو وخت را اُورسید. نو هغه د شیرینې د مرګ دروغ خبر خور کړو. فرهاد دغه صدمه اُونه زغملې شوه. او ځان ئې پخپله تیشه اُووژلو. (۵۵)

"کله چې قباد (دوم) شهرویه خپل پلار پرویز خسرو مړ کړو. او خپله په تخت کښیناست. نو نه یوازې

هغه خپل تول وروته د تيغ نه تير کړل. بلکې د خپلې مېرې مور شيرين سره ئې واده کولو ته هم اکر بدل کړل. شيرين ورته د واده کولو د پاره شرطونه کېښودل. يو دا چې هغه د شيرين او د هغې د اولاد نه کوم مال و زر اخستی دی. هغه واپس کړه. او بل د واده نه وړاندې هغې ته د پرويز قبر ته د تللو اجازت وکړه. قباد دغه دواړه شرطونه اومنل. د هغې اولاد او هغې ته ئې خپل مال و زر فوراً واپس کړل. شرين ددغې مال نه زياته برخه هغه وينزو ته ورکړه. څوک چې د مالی مدد نه محرومه پاتې شوې وې. او څه برخه ئې عبادت خانو ته وليږله. خپله ئې پاکې جامې واغوستلې. اودس ئې وکړو او د خسرو پرويز زيارت له لاړه. هلته هغې د خپلې کوتې نه غمے لرې کړو. او د غمی نه لاندې پټ کړې شوی زهر ئې وخوړل. او ځان ئې مړ کړو." (۵٦)

== ☆☆☆ ==

تهٔ دلبره که عُذرا ئے زهٔ وامق هم
ستا په مېنه کښے هر کوره موافق يم (۵۷)

☆

که تهٔ لکه ليلیٰ ئيے ما مجنون بوله په عشق کښے
که تهٔ لکه عُذرا ئيے زهٔ هم کم تر وامق نه يم (۵۸)

☆

که عُذرا په ملک کښے شته مخ د ښکاره کا
زهٔ په تن کښے زړه لرم د وامقٔ (۵۹)

☆

که فرهاد وه که شيرينه
که وامق وه که عُذرا (٦٠)

☆

اول مینه د یوسفؑ په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلیٰ وه
له غه پسه د وامق او د عذرا وه
عاشقی لا زۀ ته نه وو چه پیدا وه (٦١)

☆

زۀ په دې باندې عاشق یم
دا عُذرا ده زه وامق یم (٦٢)

## عُذرا:

عُذرا د فلقراط (Polycrates)بادشاه لور وه. فلقراط دیونانی تاریخ د یو غدار بادشاه اقوس (Eaces)زوے وو. (٦٣)

"عذرا د وامق محبوبه د فلقراط لور وه. او ددې دواړو د مینې قصه هم ددۀ د دربار سره تړلې شوې ده." (٦۴)

"د عذرا د مور نوم یانی وو. یانی خپله هم شهزادګی وه. دا فلقراط بادشاه ځانله وړۀ لویه کړې وه. او ددې تربیت ئې په آذر طوس حکیم کړے وو. کله چې لویه شوه. نو واده ئې کړه. او د وامق دغه محبوبه "عذرا" هم ددې له نوسه پیدا شوه. "عذرا" الله تعالیٰ د نورو خلقو نه په فرق پیدا کړې وه. هغه چې د اُووه میاشتو شوه. نو اُوګرځیده. په لسمه میاشت ئې خبرې شروع کړې. او پلار ئې د تعلیم او تربیت د پاره فلاطوس ته ورکړه. خو د حیرانتیا خبره دا ده. چې هغې د دوه کالو په عمر کښې لوستل زده کړل. چې د اُووه کالو شوه نو علم نجوم ئې حاصل کړو. او د لیکلو ماهره شوه. خپل اُستاد فلاطوس چې به ورته څه ښودل. هغه به ئې فوراً زده کول. چې د لسو کالو شوه. نو په نخښې ویشتو کښې استازه شوه. پلار ئې چې د هغې نه امتحان واخستو. نو هغه خپله لور په پوهه کښې بې مثله بیاموندہ ځکه نو نامه ئې پرې "عذرا" کیښوده.

عذرا به ښکاره مخ گرځیده. د ګدا او سرود په محفلونو کښې به ئې ګډون کولو. که جنګ به وو. نو دا به د فوځ سره په وړومبی صف کښې جنګیدۀ. په دغه ورځ چې "وامق" د فلقراط ملک ته تښتیدلے وو. عذرا د مور سره هیکل ته راغلې وه. دغلته د وامق د عذرا د مور سره ملاقات وشو. وامق او عذرا په یو بل مئین شول. او بیا د عذرا د پلار په اجازت وامق شاهی محل ته بوتلے شو. " (٦٥)

== ☆☆☆ ==

قیس وه که وامق وه که فرهاد وه که خسرو وه
هر چه عاشقی کا سل رحمت په وارو بانډِ (٦٦)

☆

زۀ فرهاد د زمانے یم
ته شیرینه ددے دور (٦٧)

☆

هغه باغ هغه باغوان هغه ئے گل دے
چه فرهاد بانډِ بلبل وه یا وامق (٦٨)

☆

ته محبوبه که شیرینه ددے وخت ئے
زۀ خوشحال د اوسنی دور کوهکن یم (٦٩)

☆

د مجنون او د لیلیٰ مینه ربنتیا وه
د پرویز او د فرهاد او د شیرین (۷۰)

☆

لکه زه په تا مجنون دا هومره نه وُه
نه فرهاد هسے مئین وه په شیرینے (۷۱)

☆

له دُنیا نه هیچا کام موندلے نه دے
که شیرین وه که خسرو وه که فرهاد دے (۷۲)

☆

قیس وه که وامق وه که فرهاد ورپسے نور وو
ما راورے نه دے دا د مینے دود اول دے (۷۳)

☆

گوره خو قرنه کالونه باند تیر شوه
چه فرهاد په بے ستون کښے لاصدا دے (۷۴)

☆

که فرهاد وه که شیرینه
که وامق وه که عُذرا (۷۵)

☆

څه د مجنون یم که ته لیلےٰ ئیے
زهٔ د فرهاد یم که ته شیرینه ئیے (۷۶)

☆

غر فرهاد په تیشه غوځ کړ
خسرو بیا مونده شیرینه (۷۷)

☆

مجنون و ذکر لیلیٰ فرہاد و ذکر شیرین
در پیش شان چه خوانی صد گونه داستان را (۷۸)

☆

په تقریر لکه بودۍ وي فرهاد کُشه
په تزویر بدتر تر ترورے تر پړانګ پشه (۷۹)

## فرهاد:

"فرهاد د ایران یو ډیر نامتو عاشق وو. ددۀ محبوبه شیرینې نومیده. دے د پیشې په لحاظ سنګتراش وو. او د ایران د لوئې ساساني بادشاه خسرو پرویز رقیب وو. شیرینې د خسرو پرویز عیسایئه ملکه وه. او هغه فرهاد ته ددې د ورکولو د پاره د بیستون غر دسُورے کولو شرط کیښودے وو. فرهاد دغه ژوند اخستونکے کار تقریباً ختم کړے وو. چې د شاهي محل نه ورته یوه وینځه وراغله. او هغه ته ئې د شرینې د مرګ دروغ خبر واورولو. ددغې خبر په اوریدو هغه سم لاسی خپله تیشه سر ته راواچوله. او ځان ئې اُووژلو." (۸۰)

"فرهاد په روم کښې د یو ترکاڼ زوئے وو. په شکل ښهره کښې ډیر ښکلے او خوی خصلت کښې ښاغلے وو. پلارئے ښه او ستکار وو. او د نقاشۍ په کار ډیر پوهـ وو. وائی چه فرهاد دومره پیرمخے وو. چه ددۀ د ځوانی خبرے به هر چرته کیدے." (۸۱)

"ځنو پوهانو لیکلی دی. چې فرهاد یو درویش وو. خو په عاشقی کښې ئې د بادشاهی رُتبه لرله. یوه ورځ چې شیرینې د باغ سیل ته تلله نو فرهاد اُولیده. زړه ئې پرې وراغے. او شپه ورځ ئې د شیرینې نوم د خولې نه نۀ غورځوو. بادشاه خپل وزیر را اوبللو او ورته ئې اُووئیلی چې په څه طریقه دا بلا ددې ښار نه

اُوباسه. وزیر ورله یو تدبیر جوړ کړو. هغه فرهاد ته اُووئیل چې که ته په شیرینی رېښتونے عاشق ئې. نو د بې ستون نه په یوازې ځان یو نهر تر دې ځائې را اُوباسه. هر کله چې فرهاد دغه نهر تقریباً مکمل کړو. نو د شیرینی پلار د هغې واده د یو شهزاده خسرو پرویز سره ددې ویرې نه اُوکړو. چې هسې نه فرهاد د وعدې مطابق د شیرینی د واده غوښتنه اُوکړی. یوه وینځه ئې د حلوا سره د فرهاد خوا ته اُولیږله. او ورته ئې اُووې چې شیرینی خدائې اخستې ده. دا اوریدل وو. چې فرهاد سر له داسې ګذار په تیشه راوچولو. چې خپل حقیقی محبوب ته اُورسید." (۸۲)

== ☆☆☆ ==

هغه وخت د ما اختر د ما جمعه ده
چه دیدار راته ښکاره کا د لیلا (۸۳)

☆

د لیلا نه نوریده د مجنون مینه!
چه ے زړه له یاره نیسی خلق زور کا (۸۴)

☆

مینه د مجنون به په لیلا وشوه لا ډیره
څو به چه عالم ورباند وکړه هور زور (۸۵)

☆

هر حُسن د ډیر دے د لیلا تر حُسن تیر دے
زۀ چه د مجنون کړم په چشمانو ئے ساحر (۸٦)

☆

زاهد ورچانے انکار کاند له عشقه
نل دمن لیلا مجنون لولی په کور (۸۷)

☆

که لیلیٰ و نور عالم ته کښلے نه وه
په دا څه چه و مجنون ته وه خوشرنګ (۸۸)

☆

هیڅ په ما پوهیږے نوم مے څه دے ستا په عشق کښے
قیس د لیلیٰ وه، تاویشتلے زۀ لیس نومٌ (۸۹)

☆

د مجنون مینه یوازے په لیلا ده
تر نظر پورے ئے نورے دی معدومِ (۹۰)

☆

که ته لکه لیلیٰ ئے ما مجنون بوله په عشق کښے
که ته لکه عُذرا ئے زۀ هم کم تر وامق نه یم (۹۱)

☆

چه تا شان د لیلیٰ کړ زۀ پوهیدلم
چه به ستا له لاسه ځائے کړم غاړے غرونٌ (۹۲)

☆

د مجنون او د لیلیٰ مینه ربنتیا وه
د پرویز او د فرهاد او د شیرینِ (۹۳)

☆

و مجنون ته د لیلیٰ خبرے وایه
نه له علمه، له مذهبه نه له دینه (۹۴)

☆

چه په مینځ کښے دلال نه وی وصال نه وی
په مجنون باندِ مئینه که لیلا وه (۹۵)

☆

لیلا پلار کره په سل پردو کښے ناسته
مخامخ وه و مجنون وته ولاړه (۹٦)

☆

زهٔ او ته په دا دور تر واړو نه افزون یو
څه حیران مجنون وه څه لیلا خواره خسته (۹۷)

☆

په هره زمانه تر لیلا کښلے پیدا کیږی
مجنون ورلره بویه چه په مخ ئے شیدا کیږی (۹۸)

☆

ته هغه لیلیٰ ئیے چه دِ تل په بخره ناز دے
زهٔ هغه مجنون یم چه ئیے تل درپسے نیاز دے (۹۹)

☆

د لیلیٰ د پاره سر شو
خوار مجنون په گدائي (۱۰۰)

☆

نه لیلیٰ زده نه مجنون زده په دا مینځ کښې

یو نازک لطیف رموز باریک اسرار دے (۱۰۱)

☆

خبرے د مجنون او د لیلا لاړے زړے شوے

ځما او ستا خبره تازه نوے حکایت دے (۱۰۲)

☆

د لیلےٰ او د مجنون مینه به هیڅ وه

که همه خلق لیلےٰ او مجنونان وے (۱۰۳)

☆

غاړے غړونه خبردار دی چه مجنون یم

که جهان په دا خبر دے چه لیلا ئے (۱۰۴)

☆

چه لیلےٰ کړه د مجنون کوندئ ماته

خوار مجنون ئے سرفراز کړ په هر چا کښې (۱۰۵)

☆

که تا وته حیران دی د لیلےٰ حکایت کړونی

وما وته په ځان دی د مجنون روایت کړونی (۱۰۶)

☆

ته چه په ښه حُسن جمال تیره تر لیلےٰ ئے

ځکه تر مجنون د خوشحال ژغ دے د تیری (۱۰۷)

☆

و مجنون ته د لیلا له شونډو وای
لال و دُر یاقوت و نورو وته ستای (۱۰۸)

☆

که ویسه وه که رامین وُه
که مجنون وه که لیلا (۱۰۹)

☆

د لیلیٰ او د مجنون مینه په یاد کړه
مگر نه ده دا خبره در اظهاره
چه فصاد ئے په لیلیٰ نشتر گذار کړ
د مجنون له رگه تله د وینو داره (۱۱۰)

☆

چه ئے کاسه کړه د مجنون ماتَ
مینه ئے لاشوه په لیلیٰ زیاتَ
جور د کبنلیو په معنیٰ مهر دے
بنکنځل ئے بنه دی تر بنه نباتَ (۱۱۱)

☆

په روم په شام شی د لیلیٰ خبرِ
په هند په سند شی د مجنون سندرِ
عشق مے په مثل نافه د مشک شو
چه بوئ ئے خور شی په نیزدے په لرِ (۱۱۲)

☆

ترسر تر پایه لیلیٰ ښاغلے ده
سینه ئے څکه د مجنون داغلے ده
مینه ئے څه هسے اسانه نهٔ ده
چه دا بې ځایه په چا راغلے ده (۱۱۳)

☆

د لیلیٰ سترګه یوه ګل داره وه
مجنون ته پاکه له عیب و عاره وه
چه پر مئین وی عیب ئے نه وینی
مینه له ځایه مکر مکاره وه (۱۱۴)

☆

قاضی مجنون یم عمر دِ ډیر شه
وعشق ته ګوره تر عقل تیر شه
خوله د لیلیٰ ده د عشق په شرع
په موذی کیو زهر کندیر شه (۱۱۵)

☆

ډیرو لیدلے د لیلیٰ رخت وه
شویه پر سوپ وه نادیده وخت وه
زه یار مشفق لرم ده یار بد خویٔ درله
زهٔ بختور یم مجنون بدبخت وه (۱۱۶)

☆

په تن سیمینه ئیې په رنګ رنګینه ئې

په لب شیرینه ئیې په مومشکینه ئیې

څه دِ مجنون یم که ته لیلیٰ ئیې

زه دِ فرهاد یم که ته شیرینه ئیې (۱۱۷)

☆

لیلیٰ مجنون ته وے په بیابیان تښے

ولے له خلقه ئے هسے ګُښے

وے ئے ماڅه پوښتے مګر تانه زده

تا ئم له خلقه ګُښے پریښے (۱۱۸)

☆

چا په وخت د ځنکدن وُوے مجنون ته

وخت آخر دے په زړه یاد لره خپل خدائے

دۀ وے زړه مے د لیلیٰ په یادو ډک دے

په کښے نشته دے د نورو یادو ځائے (۱۱۹)

☆

مجنون چه ومړ په ګور کښے پریوت!

فرښتو تر سوال کړ چه څوک د خدائے دے

ده وے په نور څه خبردار نه یم

د لیلیٰ خیال مے په زړه کښے ځائے دے (۱۲۰)

☆

يوه ورځ په لارے تلم له خپله کوره
ليلٰے ناسته وه ددے وڵے تر سيوره (۱۲۱)

☆

چه مجنون بانډِ مئين شو نوم ئے وُشو
کنړه څه وه ليلٰے توره خانه سياهه (۱۲۲)

☆

اول مينه د يوسفؑ په زليخا وه
بياله پسه د مجنون او د ليلا وه (۱۲۳)

☆

د مجنون او د ليلا وئيل ياديږی
څما ستا وئيل په هر لوری زباديږی (۱۲۴)

☆

مجنون و ذکر ليلٰے فرهاد و ذکر شيرين
درپيش شان چه خوانی صد گونه داستاں را (۱۲۵)

☆

دردل خيال رويت ميهمان ايم ليلٰی
در ره زعشق ليلٰی برباد خان و مان را (۱۲۶)

"ليلیٰ د يوې درنې کورنی جينۍ وه. څه که هم د قيس سره د هغې مينه وه. ولې ژبه ئې د خاندان د عزت له خاطره نه شوه پرانستې. سره ددې چې ليلیٰ کوم ځائې واده شوې وه. هلته خوشحاله نه شوه اوسيدې. د ليلیٰ په حقله دا هم وئيلې شی چې هغه د تور پوستکو له نسله وه. خو ددې باوجود "مجنون" پرې بيا هم ورک مېئن وو." (۱۲۷)

## ليلىٰ:

ليلىٰ عامريه د مهدى بن سعد عامرى لور وه۔ او د عامر بن صعصعه قبيلې سره ئې تعلق لرلو۔ او د قيس بن ملوح عامرى معشوقه وه۔ د دوئ دواړو د مينې قصې دومره شهرت بياموند۔ چې نه يوازې د دوئ نامې د هر چا په خوله وې بلکې د متلونو رنګ ئې اختيار کړو۔ د فارسى ډيرو شاعرانو د دوئ د محبت قصې ته په مختلفو ډولونو د شعر جامې واغوستې۔

مجنون په ٦٥هـ کښې ددې فانى دُنيا نه لاړ۔ او ليلىٰ د مجنون نه وړاندې دې نيمګړې نيمه خوا جهان ته په مخه ښه وئيلى وو۔" (١٢٨)

په اختر په جمعه څه غرض زما
زهٔ مجنون يم سر نيولے په صحرا (١٢٩)

☆

د ليلىٰ نهٔ نوريده د مجنون مينه .. !
چه مے زړه له ياده نيسى خلق زور کا (١٣٠)

☆

تر فرهاده تر مجنونه
په خوشحالؔ پيښه عجبٙ (١٣١)

☆

قيس وه که وامق وه که فرهاد وه که خسرو وه
هر چه عاشقى کا سل رحمت په وارو بانډ (١٣٢)

☆

مینه د مجنون به په لیلا وشوه لا ډیره
څو چه عالم ورباندې وکړۀ هور زور (۱۳۳)

☆

زۀ ژولیده تر یم که مجنون ژولیده تر
هیڅ خبره مه کړه سره دواړه سر په سر (۱۳۴)

☆

هر حُسن دِ ډیر دے د لیلا تر حُسن تیر دے
زۀ چه دِ مجنون کړم په چشمانو ئے ساحرُ (۱۳۵)

☆

زاهد ورچانے انکار کانډِ له عشقه
نل دمن لیلا مجنون لولی په کور (۱۳۶)

☆

د مجنون غونډِ په درد د عاشقئ کښے
په خپل حال مے همګی خلق خبیر کړ (۱۳۷)

☆

زړه سوخته مئنان ډیر دی په جهان کښے
څه یوازے یو مجنون نه دے عاشق (۱۳۸)

☆

هیڅ په ما پوهیږے نوم مے څه دے ستا په عشق کښے
قیس د لیلےٰ وه، تا ویشتلے زۀ لیس نومم (۱۳۹)

☆

د مجنون مینه یوازے په لیلٰے ده
تر نظر پورے ئے نورے دی معدومِ (۱۴۰)

☆

وائی ته به د مجنون غونډِ مئین وے
که وچار وته مے گورے ترِ فاضل یم (۱۴۱)

☆

که ته لکه لیلٰے ئے ما مجنون بوله په عشق کښے
که ته لکه عذرا ئے زه هم کم تر وامق نه یم (۱۴۲)

☆

په عالم د مجنون غږ دے مرد مے بوله
په محشر که څنګے وړاندِ خپل عَلم وړم (۱۴۳)

☆

د مجنون په بیړئ ناست دی مرګ ئے مه وه
چه په سپینو خولو ئے وبندل مالون (۱۴۴)

☆

باور وکړه چه د عشق په کاروبار کښے
که زیات نه یم کم هم نه یم تر مجنونَ (۱۴۵)

☆

یو د بل په ځائے کښینی د دُنیا دود دے
زهٔ خوشحال قائم مقام یم د مجنون (۱۴۶)

☆

د مجنون او د لیلیٰ مینه رښتیا وه
د پرویز او د فرهاد او د شرینِ (۱۴۷)

☆

و مجنون ته د لیلیٰ خبرے وایه
نه له علمه، له مذهبه نه له دینه (۱۴۸)

☆

چه په مینځ کښے دلال نۀ وی وصال نه وی
په مجنون بانډِ مئینه که لیلا وه (۱۴۹)

☆

عشق مجنون کا فرزانه، شک گمان نشته په دا کښے
شک گمان نشته په دا کښے عشق مجنون کا فرزانه (۱۵۰)

☆

زره ے بیا واله مجنون شۀ ښه چه شۀ
په خپل یار پسے مفتون شۀ ښه چه شۀ (۱۵۱)

☆

زۀ په عشق کښے مستثنا له مجنون یم
چه مے نشته په ډیر قرن قرینه (۱۵۲)

☆

همیشه په غاړے غرونه سرگردان یم
په دا دور مے درست ډول د مجنون شۀ (۱۵۳)

☆

لیلا پلار کره په سل پردو کښې ناسته
مخامخ وه و مجنون وته ولاړه (۱۵۴)

☆

مجنون مړ نه دے ژوندے دے
چه لا ما غونډ خراب شته (۱۵۵)

☆

زۀ او ته په دا دور تر وارو نه افزون یو
څه حیران مجنون وه څه لیلا خواره خسته (۱۵٦)

☆

اُور ئے ولګی په خونه چه عاشق شی
کور ئے خور لکه د قیس او د وامق شی
د مجنون له حاله څه وایم چه څه دے
په ژوندیو کښې به کوم تر ما فائق شی (۱۵۷)

☆

په هره زمانه تر لیلا کښلے پیدا کیږی
مجنون ورلره بویه چه د مخ ئے شیدا کیږی (۱۵۸)

☆

لکه زه په تا مجنون دا هومره نۀ وه
نه فرهاد هسے مئن وه په شیرینے (۱۵۹)

☆

ته هغه لیلٰے ئیے چه د تل په نخره ناز دے

زه هغه مجنون یم چه ئیے تل درپسے نیاز دے (۱٦۰)

☆

تا چه شان د لیلٰے واخیست

که مجنون شم راښائي

د لیلیٰ د پاره سر شو

خوار مجنون په ګدائي (۱٦۱)

☆

خوار مجنون د عشق په کار کښې

سپک په قام په قبیله دے (۱٦۲)

☆

نه لیلیٰ زده نه مجنون زده په دا مینځ کښې

یو نازک لطیف رموز باریک اسرار دے (۱٦۳)

☆

کار ځما او د مجنون سره یو رنګ دے

لکه دوه لرګی په اُور کښې سر په سر شی (۱٦۴)

☆

قیس وه که وامق وه که فرهاد وړپسے نور وو

ما راوړے نه دے دا د مینے دود اول دے (۱٦۵)

☆

خبرے د مجنون او د لیلا لاړے زړے شوے
څما او ستا خبره تازه نوے حکایت دے (۱٦٦)

☆

د لیلیٰ او د مجنون مینه به هیڅ وه
که همه خلق لیلیٰ او مجنونان وے (۱٦٧)

☆

غاړے غرونه خبردار دی چه مجنون یم
که جهان په دا خبر دے چه لیلا ئیے (۱٦٨)

☆

چه لیلیٰ کړه د مجنون کونډئ ماته ....!
خوار مجنون ئے سرفراز کړ په هر چا کښے (۱٦٩)

☆

که تا وته حیران دی د لیلیٰ حکایت کړونی
وما وته په ځان دی د مجنون روایت کړونی (۱٧۰)

☆

لکه زۀ ئے ننداره کړم ورځ و شپه په خپله خونه
خوار مجنون لیدلے نه وه په درست عمر دیدن هسے (۱٧۱)

☆

ته چه په ښه حُسن جمال تیره تر لیلیٰ ئے
څکه تر مجنون د خوشحال ژغ دے د تیری (۱٧۲)

☆

و مجنون ته د ليلا له شونډو واى
لال و دُر يا قوت و نورو وته ستائ
د مجنون له ودانئ سره څه كار دے
هر چه ورانه ويرانى هورے ئے بياى (۱۷۳)

☆

كه ويسه وه كه رامين وه
كه مجنون وه كه ليلا (۱۷۴)

☆

د مجنون څهره تصوير په كاغذ گوره
زه هم هسے هډ و پوست يم استخوان يم (۱۷۵)

☆

د ليلىٰ او د مجنون مينه په ياد كړه
مگر نه ده دا خبره در اظهاره
چه فصاد ئے په ليلىٰ نشتر گذار كړ
د مجنون له رگه تله د وينو داره (۱۷۶)

☆

مجنون غاؤ په عشق كنيے وكړ زه خاموش يم
كه انصاف وى تر مجنون مے لا تيرے دے (۱۷۷)

☆

چه ئے کاسه کړه د مجنون ماته
مینه ئے لا شوه په لیلیٰ زیاته
جوړ د کبنلو په معنیٰ مهر دے
ښکنځل ئے ښه دی تر ښه نباته (۱۷۸)

☆

په روم په شام شی د لیلے خبرِ
په هند په سیند شی د مجنون سندرِ
عشق مے په مثل نافه د مشک شو
چه بوئ ئے خور شی په نیزدے په لرِ (۱۷۹)

☆

پریشان په ځان کښے په ډیر حیرت یم
څه وم دا څه شوم په څه حالت یم
چه تل مے ځائ شول غرونه رغونه
زهٔ دا په چا پسے مجنون صفت یم (۱۸۰)

☆

تر سر تر پایه لیلےٰ ښاغلے ده
سینه ئے ځکه د مجنون داغلے ده
مینه ئے څه هسے اسانه نه ده
چه دا بیځایه په چا راغلے ده (۱۸۱)

☆

د لیلیٰ سترګه یوه ګلداره وه
مجنون ته پاکه له عیب و عاره وه
چه پر مئن وی عیب ئے نه وینی
مینه له ځایه مګر مکاره وه (۱۸۲)

☆

قاضی مجنون یم عمر دِ ډیر شه
و عشق ته ګوره تر عقل تیر شه
خوله د لیلیٰ ده د عشق په شرع
په موذی ګیو زهر ګندیر شه (۱۸۳)

☆

ډیرو لیدلے د لیلیٰ رخت وُه ... !
شویه پر سوپ وُه نادیده وخت وُه
زهٔ یار مشفق لرم دهٔ یار بدخوئ درله
زهٔ بختور یم مجنون بدبخت وُه (۱۸۴)

☆

په خپل مقصود پسے په څه مجنون ئیے
په خپل مطلب پسے یو څه مفتون ئیے
په څو خوشحال شے چه په کام کامیاب شے
د کام په نهٔ موندلو هر دم محزون ئے (۱۸۵)

☆

په تن سیمینه ئیے په رنګ رنګینه ئیے
په لب شرینه ئیے په مو مشکینه ئیے
څه دِ مجنون یم که ته لیلیٰ ئیے
زهٔ دِ فرهاد یم که ته شیرینه ئیے (۱۸۶)

☆

لیلیٰ مجنون ته وے په بیابان تښے
ولے له خلقه ئے هسے ګُښے
وے ئے ما څه پوښتے مګر تا نه زده
تا یم له خلقه ګُښے پرېښے (۱۸۷)

☆

چا په وخت د ځنکدن ووے مجنون ته ... !
وخت اخر دے په زړه یاد لره خپل خدائے
دهٔ وے زړه مے د لیلیٰ په یادو ډک دے
په کښے نشته دے د نورو یادو ځائے (۱۸۸)

☆

مجنون چه ومړ په ګور کښے پریوت .. !
فرښتو تر سوال کړ چه څوک دِ خدائے دے
دهٔ وے په نور څه خبردار نه یم
د لیلےٰ خیال مے په زړه کښے ځائے دے (۱۸۹)

☆

د مجنون په نظر کښیوته ارهنده
سر تر پایه سره درسته کنده کنده
و ارهندے وته ډنگ په سجود پریوت
په دا حال کښے د عالم په نظر کښیوت
ورته ئے ووے چه دا څه کړے لیونیه
مجنون ورکړو دا ځواب چه اے ځلمیه
دا ارهنده په ما ونه د جنت ده
که سجود کړم ورته ځائے د عبادت دے
یوه ورځ په لارے تلم له خپله کوره
لیلیٰ ناسته وه ددے وُنے تر سیوره (۱۹۰)

☆

چه مجنون بانډِ مئین شو نوم ئے وشو
کنړه څه وه لیلیٰ توره خانه سیاهه (۱۹۱)

☆

لا یعقل شی نه پوهیږی
خو مجنون شی وُدریږی (۱۹۲)

☆

اول مینه د یوسف په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلا وه (۱۹۳)

☆

د مجنون او د لیلا وئیل یادیږي
څما ستا وئیل په هر لوري زبادیږي (۱۹۴)

☆

مجنون و ذکر لیلیٰ فرہاد و ذکر شیرین
در پیش شان چه خوانی صد گونه داستاں را (۱۹۵)

☆

در کار عشق بازی مجنون وقت خویشم
بجز خون دل چه آرم بے وقت مہماں را (۱۹۶)

☆

خود رابروئے خوب چو مفتون کند کسے
دانگاه یاد محنت مجنون کند کسے (۱۹۷)

## مجنون (قیس):

د مجنون معنیٰ پاګل، لیونے یا د یو داسې سړی ده. په چا چې د پیریانو سیورے شوې وی. په عربی، فارسی، اُردو او ترکی ادب کښې دا لقب د قیس عامری د پاره خاص دے. چا چې د خپلې قبیلې د یوې جینۍ لیلیٰ بنت سعد سره مینه لرله. په اسلامی ادب کښې د دوئ عشق د شهرت آسمان ته رسیدلے دے. مجنون د عامری قبیلې د یو لوئې سردار زوے وو. ددهٔ د پلار د نوم په حقله مختلف روایتونه نقل شوی دی. څوک ئې د پلار نامه عبدالله یادوی. څوک ئې "معاد" لیکی. خو د څنو معتبرو روایتونو تر مخه د مجنون د پلار نوم ملوح بن فراخم عامری وو. د مجنون د وفات کال ۸۰هـ ښودلې کیږی. خو څنې مؤرخین دا خیال لری. چې آیا دا هم هغه مجنون دے کوم چې د ستر تاریخی حیثیت څښتن دے. کنه دوئم څوک مجنون دے.

ددغه رنګه شبهاتو اظهار ابن خلطان او ابن خلدون کړے دے. څوک چې مستند مؤرخین دی. ددغه خلقو وینا ده. چې مجنون د عربو د هغه دریو کسانو نه یو دے. څوک چې د سره هډو وجود نه لری. او دا محض د افسانوی ادب تخلیق دے. د ابن الکلبی په نزد د مجنون ټوله قصه فرضی ده. او دا د بنی اُمیه چا مصنف لیکلې ده.

یو روایت دا هم دے. چې مجنون د حضرت امام حسنؓ رضاعی ورور وو. ولې دا روایت ځکه غلط دے. چې هغه مجنون یو بل قیس بن ذریح وو. چا چې د کنانه قبیلې سره تعلق لرلو. او د بنی کعب دیوې جینی لبنیٰ بنت حباب سره ئې عشق وو." (۱۹۸)

"د مجنون خپل نوم قیس وو. خو خلقو به ورته د مینې د جنون له وجې مجنون، مجنون وئیل. ددهٔ د پلار نوم ملوح بن فراخم وو. څوک چې د خپلې قبیلې بنی عامر سردار وو. او په نجد کښې ئې استوګنه لرله. قیس په وړوکوالی کښې لیلیٰ لیدلې وه. او سترګې ئې پرې خوږې شوې وې. د قیس د لیونی مینې نه د هغه مشران خبر شوی وو. او غوښتل ئې چې لیلیٰ د هغه د ژوند ملګرې جوړه کړی. ولې مغوئ په دغه کوشش کښې کامیاب نهٔ شول. بل خوا په قیس د مینې دومره اثر اوشو. چې هغه کور کلے پریښودو. او د صحرا لار ئې اونیوه. عن چې هم دغه صحرا کښې ئې د مرګ فرښتې ته هرکلے اُووې. وئیلې شی چې مجنون صاحب دیوان شاعر وو. او د هغه د عربی دیوان نه د هغه د مینې قصه راغونډیدې شی. ددهٔ د ژوند زمانه ۷۲۴ء یادولې شی. (۱۹۹)

د فارسی ژبې نامتو لیکوال محمد علی تبریزی خیابانی د مجنون په حقله لیکی:

"مجنون د دهٔ لقب وو. دے د وړوکوالی راسې د خپل تره په لور لیلیٰ مئن وو. ځنې لیکوال د لیلیٰ مجنون قصه بیخی دروغ ګنی. اُو دې ته د عرفانی یوه جوړه کړې افسانه وائی." (۲۰۰)

== ☆☆☆ ==

ته محبوبه که شیرینه ددے وخت ئیے
زۀ خوشحالؔ د اُوسنی دور کوهکن (۲۰۱)

## محبوبه:

د لرغونی وخت د یو مشهور عاشق جـلات، معشوقه وه. په پیښور ئې د پـلار بادشاهی وه. او پـلار ئې نامسلم نومیدو. وئیلي شی چې د جـلات شپږ وروڼه د محبوبې په حاصلولو کښې ناکامه شوی وو. او سرونه ئې بائیللی وو. ولې جـلات د محبوبې په تر لاسه کولو کښې بریالے شوے وو.

"د پیښور سنټرل جیل ته مخامخ چې کوم محرابی سُور پل دے. ددغې نه لږ اخوا یوه ډیره زړه مقبره ده. چې پکښې د څو نوؤ قبرونو نه عـلاوه دوه پخوانی قبرونه هم دی. وئیلی شی چې دغه قبرونه د جـلات او محبوبې قبرونه دی. د جـلات اؤ محبوبې قصه د سرحد او قبائیلي سیمو په خلقو کښې لکه د آدم خان درخانیٔ، او موسیٔ خان گل مکی په رنګ مقبوله ده. ددغې مزارونو نه سویل ختیز پله گورنمنټ زنانه نارمل سکول ته مخامخ او د ډبګرۍ پولیس څوکی سره خوا ته یوه بله مقبره ده. چې پکښې شپږ قبرونه دی. ددغه قبرونو په حقله وئیلي شی چې دا قبرونه د جـلات د هغه وروڼو قبرونه دی. کوم چې نامسلم بادشاه وژلی وو." (۲۰۲)

"په هغه زمانه کښې چه د پښاور ښهر نوم جوده پور وو. یو نامسلم نومے بادشاه پر بادشاهی کوله. ولے ددۀ نارینه اولاد نه وو. دے مطلب د پاره ئے یوکم پنځوس ښځے کړے وے. لونه به ئے هر څومره چه کیدې مړې کولے به ئے. ځکه چه دا ورته شرم ودریده چه زما به لور وی. او څوک به ئے تپوس اوکړی. محبوباً هم ددۀ د کشرے ښځے لور وه. وائی چه دا پیدا شوه. نو میندو له بادشاه نه پته کړه. او نهه کاله ئے پته وساتله. یوه ورځ ناڅاپه بادشاه د محل په هغه ډډه لاړ چه په دغه ورځ محبوبا هلته وه. چه د بادشاه د راتلو غږ شو نو دے له هیبته دُوکړ چرته پته شوه. ولے یوه پنه تر پاتے شوه. چه د بادشاه په پنه سترګے ولګیدے. نو تپوس ئے وکړو چه دا د چا ده. ښځے ورته لاس په نامه ودریدے او مرګ ته ئے غاړه کیښوه. حال ئے ورته ووے. هغه

له ناکامه په شوی کار کښې پوزه ونۀ چونله۔ ولې هغې ته ئې ته خانه جوړه کړه۔ او د ته خانې د پاسه ئې د اُوه ؤ دیوالونو چاپیرچل پیچ په پیچ قلا جوړه کړه۔ او حُکم ئې وکړ چه دے کښې د وسیږی. چه نه ئې څوک وینی او نه ئې نوم په خوله اخلی۔ په شمار سل سهیلی هم ورسره د خدمت او مشغولا د پاره مقرر شوے او د قلا په دروازه پهره ولګیده۔" (۲۰۳)

== ☆☆☆ ==

محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا
خبر واخله له ایازه له محمود (۲۰۴)

☆

نه محمود شته نه ایاز دور ئیے تېر شه
په جهان پاتے خبرے د محمود دی (۲۰۵)

## محمود:

سلطان یمېن الدوله ابو القاسم محمود د سبکتګین زوے وو۔ دے یو نوموړے بادشاه تېر شوے دے۔ په کال ۳۸۹هـ کښې چې ناصر سبکتګین وفات شو۔ او لښکر د خراسان محمود ته حواله شو۔ نو خلیفه القادر بالله دۀ ته د یمین الدوله او امین الأمت لقب او خطاب ورکړو۔ دۀ د تخت نشینی په وړومبو ورځو کښې په سیستان باندې حمله وکړه۔ او د سفاریانو نه ئې سیستان ونیو۔ محمود غزنوی ډیر ځله د غزا او جهاد په نیت په هندوستان باندې حملې وکړې۔ او اخر په ۳۹۴هـ کښې ئې سومنات مات کړو۔ دۀ د خپلی حُکمرانی په موده کښې ترکستان خوارزم او عراق د خپل اثر لاندې راویستل۔ دۀ دوه دیریشت کاله بادشاهی وکړه۔ ددۀ وفات په ۴۲۱هـ کښې شوے دے۔ محمود غزنوی په شجاعت عدالت او دیانتداری کښې ډیر مشهور او

معروف وو۔ فرید الدین عطار دے پخپلو اثارو کښې د عادلو متدین او مردم دوست په صفتونو یاد کړے دے۔ ددۀ مزار په غزني کښې دے۔ (۲۰٦)

په دغه بره شعرونو کښې خوشحال بابا د محمود یادونه د یو عاشق په حیث کړې ده۔ چې محمود بادشاه وو۔ ولې محبت د خپل غلام آیاز د غلامۍ په لومه کښې گیر کړے وو۔ اوس هغوی دواړه نشته۔ خو د مینې قصې ئې پاتې دی۔

د نور تفصیل د پاره دې ددې مقالې ۳۲۸ مخ وکتلې شي۔

== ☆☆☆ ==

زاهد ورچانے انکار کاند له عشقه
نل دمن لیلیٰ مجنون لولي په کور (۲۰۷)

دا تلمیحاتی شعر د حجاز د مشهور رومانی داستان لیلیٰ مجنون سره سره د یو هندوستانی داستان نل دمن تذکره هم لری۔

## نل:

نل د اجین یو نامتو راجه وو۔ دے نه یوازے زړور ښکلے او لوړ همته انسان وو۔ بلکې په علم و فضل کښې ئې هم لوئې لاس لرلو۔ او په خصوصی توگه د ویدونو لوئې عالم گڼلے شو۔ دغه رنگ د جنگی هنرونو تکړه ماهر هم وو۔ د نل د ځوانۍ زمانه وه۔ د هغه په زړه کښې نااشنا خواهشونه په غورځنگ وو۔ او یو نالیدلے ښائسته مخ ئې په خیالونو کښې غزونې کولې۔ څه که هم هغه ددغې صورت حال نه ځان ویستل غوښتل۔ ولې هغه نه پوهیدو۔ چې څه اُوکړی۔ هم له دې کبله هغه ناروغه شو۔ وزیران، طبیبان او نبض شناسان ئې راوغوښتل۔ چې د راجه علاج اُوکړی۔ ولې د عشق مرض د طبیبانو په علاج چرته ښۀ کیدو۔ آخر یو پوهه طبیب د راجه نل په بیمارۍ اُورسید۔ چې دا د عشق بیماری ده۔ اؤ دغه اطلاع ئې وزیر ته ورکړو۔ وزیر هم دیر کوشش اوکړو چې د راجه نل پریشانی په څه نه څه طریقه ختمه کړی۔ خو د نل په زړه کښې چې د

نالیدلی عشق کوم طوفان را اُوچت شوے وو۔ هغه ښکته کیدو چرته۔

یوه ورځ نل خپل ټول مقربین رااوغوښتل۔ او هغوئ ته ئې اُووئیل چې هر یو دې راجه ته یو نه یو عشقیه داستان واؤروی۔ هغوئ ټولو د زړو عاشقانو داستانونه راجه ته واؤرول۔ یو مقرب چې دغه زاړه داستانو واوریدل۔ نو وې وئیل چې دا تیرې شوې قصې بیکاره دی۔ زهٔ یو ژوندے داستان اؤرول غواړم۔ او بیا ئې د بیدرد راجه قصه بیان کړه۔ څوک چې د دکن اُوسیدونکے وو۔ دغې مقرب اُووئیل چې بیدرد راجه ته یو درویش د اولاد د پاره دُعا اُوکړه۔ او د بیدرد راجه اخری او دریمه لور پیدا شوه۔ ددغې لور نامه هغه دمن کیښوده۔ دا جینۍ ډیره ښائسته وه۔ چې سپوږمۍ به ئې د حُسن نه شرمیده او هم دا وجه چې په ټول هندوستان کښې ددغې شهزادګۍ د ښائست چرچا وه۔ او اوس ئې هم په محفلونو کښې د ښکلا او حُسن تذکرې کیږی۔ کله چې "نل" د دمن د ښکلا او حُسن قصه واوریده۔ نو هغه په زړه اُوخوړه چې زما د خیالی دُنیا د خوشبویانو ښاپیری هم دغه ده۔ اوس هغه نور هم ناقراره شو۔ او د هغه د ناقرارتیا دغه قصه خوره شوه۔ چې په څه ذریعه "دمن" ته هم اُورسید۔ لنډه دا چې نل د دمن تصویر را اُوغوښت۔ او خپل ژوبل زړه به ئې ددغې تصویر په کتلو تکورولو۔ (۲۰۸)

د نل د قصې د نور تفصیل د پاره دې ددې مقالې د مخ ۴۱۸ نه تر ۴۲۰ پورې دې اُوکتې شی۔

==☆☆☆==

قیس وو که وامق وو که فرهاد وو که خسرو وو
هر چه عاشقی کا سل رحمت په وارو باندِ (۲۰۹)

☆

هغه باغ هغه باغوان هغه ئے گل دے
چه فرهاد باندِ بلبل وه یا وامق (۲۱۰)

☆

ته دلبره که عُذرا ئے زهٔ وامق یم
ستا په مینه کښے هر گوره موافق یم (۲۱۱)

☆

که ته لکه لیلیٰ ئیے ما مجنون بوله په عشق کښے
که ته لکه عُذرا ئیے زهٔ هم کم تر وامق نه یم (۲۱۲)

☆

اُور ئے ولگی په خونه چه عاشق شی
کور ئے خور لکه د قیس او د وامق شی (۱۱۳)

☆

که عُذرا په ملک کښے شته مخ د ښکاره کا
زهٔ په تن کښے زړه لرم د وامقئے (۲۱۴)

☆

قیس ده که وامق وه که فرهاد وریسے نور وو
ما راوړے نه دے دا د مینے دود اول دے (۲۱۵)

☆

که فرهاد وه که شیرینه

که وامق وه که عذرا (۲۱۶)

☆

اول مینه د یوسفؑ په زلیخا وه

بیا له پسه د مجنون او د لیلی وه

له غه پسه د وامق او د عذرا وه

عاشقي لا زۀ ته نه وو چه پیدا وه (۲۱۷)

☆

زۀ په دې باندې عاشق یم

دا عُذرا ده زۀ وامق یم (۲۱۸)

## وامق:

د وامق په حقله مختلفو لیکوالو او ویناوالو بېلا بېلې رائې قایمې کړې دي. په ترکۍ ژبه کښې چې د وامق عذرا کومه مثنوي محمود لامعي بن عثمان بروسوي منظوم کړې ده. دغه مثنوي تقریباً درې زره بېتونه لري. د محمود لامعي د وینا تر مخه وامق د طیموس خاقان زوے وو. او مور ئې د توران د خاقان لور وه. عُذرا د وامق په حقله خبرې اوریدلې وې. او پرې نالیدلې مئینه شوې وه. څکه نو وامق له ئې خپل تصویر رالیږلے وو. او هغه هم پرې زره بائیللے وو." (۲۱۹)

"د فرهنګ اسدی تر مخه وامق د کروتیس جزیرې د یو لوئې شهنشاه ملذیطس زوے وو. ده له چې خدائې پاک څومره زیات ښائست ورکړے وو. دومره زیات عقلمند هم وو. کله چې دده مور مړه شوه. نو پلار ئې د "معشقولیه" سره واده وکړو. معشقولیه به رنګ رنګ خبرې جوړولې. او د وامق نه به ئې د پلار زړه

بدولو. اخر دغې میرې مور هڅه وکړه. چې وامق په زهرو مړ کړی. ولې هغه ددغې سازش نه خبر شو. او د خپل دوست "طوفان" سره د فلقراط بادشاه ملک ته وتښتید. دغلته وامق د فلقراط بادشاه په لور "عذرا" باندې زړه بائیلود. د "عذرا" مور خپل خاوند ته د "عذرا"د عشق حال اُووایو. او دا رانګ "وامق"د بادشاه په اجازه شاهي محل ته داخل شو. د شپې د میلمستیا نه پس سحر چې بادشاه د وامق د شهسوارۍ او تیر اندازۍ امتحان په میدان کښې واخست. نو هغه د وامق په هنر مندۍ افرین اُووایو. او دا شان ئې هغه د ځان سره د یو شاهي میلمه په حیث اُوساتو." (۲۲۰)

د فارسي ژبې بل مشهور شاعر "صلحی" د وامق په حقله لیکي چې

> "د عرب په خاوره یو بادشاه وو. چې بې اولاده وو. د یو بزرګ په دُعا الله تعالیٰ هغه له زوے ورکړو. چې نامه ئې پرې وامق کیښوده. کله چې لوئې شو. نو په خوب کښې ئې یوه ښکلې محبوبه ولیده. او پرې مئین شو. ددغې محبوبې په تـلاش کښې د مقیم خواجه د قافلې سره کشمیر ته لاړ. او هلته ئې د خپلو خوبونو شهزادګۍ عذرا بیاموندہ." (۲۲۱)

ددې نه عـلاوه د فارسي نورو کومو شاعرانو چې د "وامق عذرا" مثنوی منظوم کړې ده. په هغوئ کښې "قتیلی"، "صرفی" ، "نامی" او محمد حسین شامل دی. دوئې ټولو "وامق" د یمن شهزاده یاد کړے دے. د وامق او عذرا عشقیه داستان هم په واقعاتي لحاظ په بیـلا بیلو ډولونو بیان شوے دے. او په مختلف وختونو کښې هر شاعر د خپلو خیالاتو مطابق د نوو نوو اضافو سره رامخې ته کړے دے.

د اُردو انسائیکلوپیډیا د لیک ترمخه

> "وامق د چین د بادشاه زوے وو. دے په یوې شهزادګۍ باندې مئین شوے وو. چې "عذرا" نومیده. د "عذرا" د حاصلولو د پاره دهٔ کور کلے او وطن پریښود. لار کښې ورته رنګا رنګ مشکـلات مخې ته راغلل. ولې ددهٔ سره ښاپیری ملګری وو. او هغوئ به ئې مدد کولو. آخر دا چې "وامق" د عذرا تر

ځنګ اُورسید۔ او د هغې دیدار ئې اُوکړو۔ ولې دُښمنانو هغه اُونیوو۔ او هندوستان ته ئې لاس تړلے راویست۔ دلته ئې د هغه د سیزلو تابیا اُوکړه ولې "وامق" د اُور په لمبو کښې ژوندے پاتې شو۔ خلقو چې دا اُولید۔ نو هغوئ د "وامق" عبادت شروع کړو۔ بیا "وامق" چې موقع بیا مونده۔ نو اُوتښتید۔ او لاړ د "عذرا" سره ئې واده اوکړو۔" (۲۲۲)

== ☆☆☆ ==

که ویسه وه که رامین
که مجنون وه که لیلا (۲۲۳)

## ویسه / ویس:

"ویس د رامین د معشوقې نامه ده۔ د ویس پلار د خراسان د شاه موبد بادشاه سره په جنګ کښې قتل شوے وو۔ ددې د مور نوم شهرو یا شهربانو وو۔ څوک چې د خاوند د مرګ نه پس شاه موبد د کوهستان ملکه په دې شرط مقرره کړه۔ چې هغه به خپله لور ویس شاه موبد ته ورکوی۔ ولې شهرو د ویس واده د خپل ورور "ویرو" سره اُوکړه۔ خو شاه موبد د دولت په زور ویس د خپل محل کړه۔ ولې ویس د هغه سره خوشحاله نه وه۔ ځکه چې شاه موبد د پیرۍ په عمر کښې د هغې د ځوانۍ غوښتنې نه شوې پوره کولې۔ ځکه نو "ویس" د شاه موبد نه خپله توجه د یوې دائی د جادو په ذریعه "رامین" ته اوګرځوله۔ او "رامین" د هغې د مینې او حُسن له خاطره هغه څه اُوکړل۔ کوم چې یو عاشق د خپلې معشوقې د پاره کولې شی۔" (۲۲۴)

د نور تفصیل د پاره دې ددې مقالې ۴۲۱، ۴۲۲ مخونه اوکتلې شي۔

شور و شر به د رانجآ په جهان نۀ وو
که د هیرَ صورت پیدا نۀ وے په شور کښے (۲۲۵)

هیر:

د پنجابی ادب د یو مشهور رومان یو زړه پورې کردار دے۔ هیر د بهلول لودی په زمانه کښې د جهنګ سیال اُوسیدونکی یوه ښکلې پیغله وه۔ ددې د پلار نامه مهر چوچک یادولې شی۔ مهر چوچک د خپلې قبیلې منلے شوے سردار وو۔ رانجا چې د تخت هزارې استوکن وو۔ د هیر د حُسن قصې اوریدلې وې۔ او په دغه نالیدلی حُسن مئین شوے وو۔ د نور تفصیل د پاره مخ ۴۲۳ اُوګورئ۔

== ☆☆☆ ==

که جمال ئے و یوسفؑ نه وے ورکړے
چا به غم په زلیخا بانډِ کښنیښ (۲۲۶)

☆

اول مینه د یوسف په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلیٰ وه (۲۲۷)

☆

په جهان کښې مینه هم وه
د یوسفؑ د زلیخا (۲۲۸)

☆

د یوسفؑ د مینې لاف واړه عالم کا
ولې بل پسې رونډ نهٔ شو بې یعقوبؑ (۲۲۹)

☆

د یوسفؑ غوندې مخ پټ کړه په برقع کښې
چیرې نهٔ وی چه پر ولګی نظر (۲۳۰)

☆

که یوسفؑ ئې د کنعان د چاه وکیښو
په نیک بخت ستوری زوولې وه بشیر (۲۳۱)

☆

څوک چه نظر و کا هغه ښه ښکلی دلبر ته
څی له ډیرې مینې د یوسفؑ سوره کا زبرَ (۲۳۲)

☆

چه جمال وته دې ګورم حیرانیږم
خدائې په ما باندې یوسفؑ د زمانې کړ (۲۳۳)

☆

که هر څو ښائسته ئې نه یوسف ئې د کنعان
که هر څو ډیر هوښیار ئې نه مخې ئې د لقمان (۲۳۴)

☆

په لکونو په کروړونو دې بها ده
د یوسفؑ غوندې په سهل فروخته شو (۲۳۵)

☆

زمانه په خلقو هسې ازمیښت کا
چه یوسفؑ د قبطیانو زرخرید شۀ (۲۳۶)

☆

مخ ئې کله د یوسفؑ غونډې زیبا دې
د یوسفؑ تر مخ ئې زیاته زیبائی ده (۲۳۷)

☆

واړه هغه حُسن لطافت دې ستا په مخ کښې
چا چه د یوسفؑ قصه و ماته ولوسته (۲۳۸)

☆

خدائے په ښه جمال یوسفؑ کړے
په کروړونو هم ارزان ئې (۲۳۹)

☆

ستا خوبی څما په پوهه ډیر تیرے کا
د یوسفؑ خوبی که ډیره اوریده شی (۲۴۰)

☆

هر گز به اوریدلی د لیدلو مخی نۀ کړم
خوبی د یوسفؑ اورم ستا جمال مې دې لیدلے (۲۴۱)

☆

په ښائست د ښائسته یوسفؑ ثانی ئې
په دوه کونه ښۀ دیدن دې رایگان ستا (۲۴۲)

☆

خپلو ورونړو یوسفؑ واچوه کوهی ته
مشرف شو دے په جاه او په جلال (۲۴۳)

☆

څو به نیکه ستایم یحییٰ خان جنت ئے ځائے شه
روغ لکه یوسفؑ وه درست تر سره تر قدمؑ (۲۴۴)

☆

زۀ لکه یوسفؑ له بنده خلاص شوم کامرانی کړم
پاک پاکیزه زر وم اور مے نه کړه بها کمؑ (۲۴۵)

☆

په یوسفؑ بانډِ دا هومره غوغا نۀ وه
خریدار ئے په لکونو یو ځلمے دے (۲۴۶)

☆

د یوسفؑ غونډِ په خوب بنده عزیز کا
محمدﷺ وته د غنړے تار پناه شی (۲۴۷)

☆

یوسفؑ که هر څو څه بنه نومیړی
بِه به ئے چیرے له تا عالم کا (۲۴۸)

☆

د بابا زویه! د بابا پلارَ
په زلفو لیل په مخ نهارَ
یوسفؑ که هر څو ښائسته روغ وه
ګویا سمن وه ستاله ګلزارَ (۲۴۹)

☆

تر سر تریایه کښلی مخونَ
دا یو یوسفؑ وه د پلار په خونَ
هر مخ چه ووینې زړه دِ پرِخوښ شی
مخ هم هغه ګنړه کړه پرِ سخونَ (۲۵۰)

☆

شرم یوسفؑ دے ارزان ئے مه پلوره
غټه پکار ده وړو ته مه ګوره
نرئ ونه په نری باد ښوری
که لویه ونه ئے په لږ باد مه ښوره (۲۵۱)

☆

پاکی چه راشی په هغه کور کښې
بلا ئے وسیزی نوره په اور کښې
یوسفؑ چه پاک وه ځکه بادشاه شو
څه شو که بند وه ناحق په تور کښې (۲۵۲)

☆

څو سکندره څو یوسفؑ به درته یاد کا
که خبر واخلې له نمره له هلال نه
که لوئی د سکندر وه خو بیا هیڅ شوه
که قصه شی د یوسفؑ له ښه جمال نه (۲۵۳)

☆

ښه یوسفؑ که ښائسته ؤ
ستا له باغه ګلدسته ؤ (۲۵۴)

☆

صبی که هر څو مرسل نبی وی
د پلار له مینې بیا اجنبی وی
یعقوبؑ چه ړوند شو یوسفؑ هیڅ نه شو
په غم کښې ستر وی نه چه صبی وی (۲۵۵)

☆

ځنې خبرې په تکلف کیږی
ځنې خبرې په تأسف کیږی
ځنې خبرې په بله ژبه ---- !
لکه یعقوبؑ ته قال د یوسف کیږی (۲۵۶)

☆

یوسفؑ د زمانې دے درست جهان پرے وو شیندلے
دا یو جهان لا پریږده چه په دوه جهان پیریږی (۲۵۷)

☆

که بے عقل تر یوسفؑ بنائسته روغ دی
د خوشحال خټک په پوهه یو صنم دے (۲۵۸)

دا پورتنی شعرونه خوشحال بابا د حضرت یوسف علیه السلام په حقله وئیلی دی. دې شعرونو کښې خوشحال بابا د حضرت یوسفؑ د ذات مبارک او ژوند سره تړلی حالات او واقعات ذکر کړی دی. چرته د تشبیهاتو، استعاراتو په بڼه او چرته ئې د اشاراتو او تلمیحاتو په رنګ کښې په ډیر مؤثره انداز کښې بیان کړی دی.

## یوسفؑ:

په دغه واقعاتو کښې د حضرت یوسفؑ سره د زلیخې ابی، د بې کچه محبت او مینې واقعات هم راغلی دی. چې ذکر ئې وړاندې تیر شوے دے. په دغه لړ کښې د نورو معلوماتو د پاره دې ددې مقالې د مخ ۵۹ نه تر ۵٦ پورې اوګورئ.

==☆☆☆==

# حواله جات


۱- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۸۵ مخ

۲- همدغه کتاب - ۳۱۸ مخ

۳- همدغه کتاب - ۳٦٦ مخ

۴- همدغه کتاب - ۴۰۹ مخ

۵- همدغه کتاب - ٦۷۳ مخ

٦- محمد حیات خان، سردار: حیات افغانی. ناشر: نه لری. مطبع: کوه نور پریس لاهور.
سن اشاعت: ۱۸۸۴ء - ۱۷۳ مخ.

۷- طائر، پروفیسر محمد نواز: آدم درخانی یوه څیړنه. ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی.
مطبع: غنی پرنټرز پېښور. سن اشاعت: ۱۹۸۱ء - ۱ مخ

۸- مولوی احمد. قصه آدم خان اود درخانې. ناشر: خالد کتاب خانه حیات آباد پېښور، مطبع: نه لری.
سن اشاعت ۱۹۹۱ء - ۱۱ مخ

۹- ختک، صدر خان: مثنوی آدم درخانئ. ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی. مطبع: پبلک ارټ
پریس پېښور. سن اشاعت ۱۹٦۰ء. ٦۷، ٦۸ مخونه

۱۰- آدم دُرخانی یوه څیړنه (از پروفیسر محمد نواز طائر) - ۲ مخ

۱۱- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۰۲ مخ

۱۲- همدغه کتاب - ۵۹ مخ

۱۳- خزانه تلمیحات (از محمود نیازی) ٦۴، ٦۵ مخونه

۱۴- سمر قندی، احمد بن عمر: چهار مقاله. ناشر: ډاکټر محمد معین. مطع: تهران.
سن اشاعت ۱۳۳۳ ش. ۱۷۵ مخ.

۱۵- اُردو دائرۃ معارف اسلامیه. ج ۱ - ٦۰۲ مخ

۱٦- همدغه کتاب - ٦۰۳ مخ

۱۷- همدغه کتاب - ٦۰۴ مخ

۱۸- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۸۵ مخ

۱۹- همدغه کتاب - ۳۱۸ مخ

۲۰- همدغه کتاب - ۳٦٦ مخ

۲۱- همدغه کتاب - ۴۰۹ مخ
۲۲- همدغه کتاب - ۶۷۳ مخ
۲۳- قیصه د آدم خان اور درخانئ- (از مولوی احمد د تنگی)- ۱ مخ
۲۴- ویښ، راز محمد: پښتو کتابونه- ناشر: پښتو تولنه کابل- دولتی مطبعه کابل- ۱۳۳۷هـ ش - ۳۹ مخ
۲۵- آدم درخانئ- (از صدر خان ختک)- ۵٦ مخ
۲٦- اعظم، پروفیسر ډاکټر محمد اعظم: پښتو ادب کښې کردار نګاری- ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی- مطبع: ملت پرنټرز لاهور- سن اشاعت: ۱۹۹۳ء - ۱۰۴، ۱۰۵ مخونه
۲۷- آدم درخانئ یوه څېړنه- (از پروفیسر محمد نواز طائر) ۱۴ مخ
۲۸- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۵ مخ
۲۹- خزانه تلمیحات (از محمود نیازی) ۴۰۱ نه تر ۴۰۳ مخونو پورې
۳۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۰۳ مخ
۳۱- شیرانی، حافظ محمود: مقالات حافظ شیرانی- مرتبه: مظهر محمود شیرانی- ناشر: مجلس ترقی ادب لاهور، مطبع: مطبع عالیه، ټیمپل روډ لاهور- سن اشاعت: طبع اول ۱۹۷۰ء - ج ۵ - ٦۷٦ مخ
۳۲- همدغه کتاب - ۴۸٦ مخ
۳۳- ګرګانی، فخر الدین اسعد: ویس رامین- ناشر: مؤسسه انتشارات امیر کبیر تهران- مطبع: چاپ خانه سپهر تهران- سن اشاعت ۱۳۵۳هـ د ۹ مخ نه تر ۵٦ مخ پورې د معلوماتو لنډیز)
۳۴- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۳٦٦ مخ
۳۵- خزانه تلمیحات (از محمود نیازی) - ۴۱۷ مخ
۳٦- اسلم پرویز: پنجاب، ادب اور ثقافت- ناشر: نګارشات میاں چېمبرز لاهور- مطبع: بک پرنټرز لاهور- سن اشاعت: ۱۹۹۴ء - ۹۸ مخ
۳۷- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۴۵ مخ
۳۸- همدغه کتاب - ۵۰۳ مخ
۳۹- همدغه کتاب - ۹۵۳ مخ
۴۰- ابراهیم، ابو اسحٰق: قصص الانبیاء ناشر: حبیب یغمایی- مطبع: تهران- سن اشاعت: ۱۳۴۰هـ ش - ۸۴ مخ
۴۱- دهلوی، مولوی محمد اسحق: داستان یوسف- ناشر: مدینه پبلیشنګ کمپنی بند روډ کراچی- مطبع او سن اشاعت نه لری- ۹۰ مخ
۴۲- دهلوی، مولوی سید احمد: فرهنګ آصفیه- ناشر: مرکزی اُردو بورډ لاهور- مطبع: کمبائن پرنټرز لاهور- سن اشاعت جولائی ۱۹۷۷ء- ج ۳- ۴۰۹ مخ

۴۳. آزاد۔ مولانا ابوالکلام۔ ترجمان القرآن۔ ناشر: شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور۔ مطبع: غلام علی پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت نه لری۔ ج ۲ ـ ۲٦٧ مخ
۴۴. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۹۳ مخ
۴۵. همدغه کتاب ـ ۱۲۸ مخ
۴٦. همدغه کتاب ـ ۱۹۰ مخ
۴۷. همدغه کتاب ـ ۲۲٦ مخ
۴۸. همدغه کتاب ـ ۳۳٦ مخ
۴۹. همدغه کتاب ـ ۳۹۳ مخ
۵۰. همدغه کتاب ـ ۵۰۳ مخ
۵۱. همدغه کتاب ـ ۷۴۲ مخ
۵۲. همدغه کتاب ـ ۹۰٦ مخ
۵۳. همدغه کتاب ـ ۹٦۳ مخ
۵۴. فرهنګ آصفیه ـ (از مولوی سید احمد دهلوی) ج ۳ـ ۲۰۱ مخ
۵۵. خزانه تلمیحات (از محمود نیازی ایم. اے) ۱۲۴ مخ
۵٦. محمد باقر ډاکټر: تاریخ ساسانیان۔ ناشر: پبلیشرز یونائیټډ لمیټډ انارکلی لاهور۔ مطبع: یونائیټډ پریس لاهور۔ سن اشاعت ۱۹۵۴ء ـ ۱۵۷، ۱۵۸ مخونه۔
۵۷. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۱۸۱ مخ
۵۸. همدغه کتاب ـ ۱۹۵ مخ
۵۹. همدغه کتاب ـ ۳۹۸ مخ
٦۰. همدغه کتاب ـ ۵۰۳ مخ
٦۱. همدغه کتاب ـ ۹۵۳ مخ
٦۲. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۵۴ مخ
٦۳. W. Smith, Dictionary of Greek and Roman Biography and Mythology, London, 1849, Vol: III. Page: 29
٦۴. عنصری، ابو القاسم حسن بن احمد: مثنوی وامق و عذرا۔ ناشر: دائرة المعارف اسلامی اُردو۔ دانشګاه پنجاب لاهور۔ مطبع: پنجاب یونیورستی پریس لاهور۔ سن اشاعت۔ ۱۹٦۷ء ـ ٦۰ مخ
٦۵. همدغه کتاب ـ ۴۰، ۴۱ مخونه
٦٦. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ٦۴ مخ

۶۷- همدغه کتاب - ۹۳ مخ
۶۸- همدغه کتاب - ۱۵۵ مخ
۶۹- همدغه کتاب - ۱۹۰ مخ
۷۰- همدغه کتاب - ۲۲۶ مخ
۷۱- همدغه کتاب - ۳۳۶ مخ
۷۲- همدغه کتاب - ۳۹۳ مخ
۷۳- همدغه کتاب - ۴۲۴ مخ
۷۴- همدغه کتاب - ۴۸۷ مخ
۷۵- همدغه کتاب - ۵۰۳ مخ
۷۶- همدغه کتاب - ۷۴۲ مخ
۷۷- همدغه کتاب - ۹۰۴ مخ
۷۸- همدغه کتاب - ۹۶۳ مخ
۷۹- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۹۳ مخ
۸۰- اُردو دائره معارف اسلامیه - ۳۳۳ مخ
۸۱- احمد جان، منشي: د قصه خوانۍ ګپ. ناشر او مطبع: د چاپ ځای پېښور. سن اشاعت: ۱۹۸۵ء - ۱۴۰ مخ
۸۲- فرهنگ آصفیه (از مولوی سید احمد دهلوی) ج ۳ - ۳۳۸، ۳۳۹ مخونه
۸۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵ مخ
۸۴- همدغه کتاب - ۲۲ مخ
۸۵- همدغه کتاب - ۷۵ مخ
۸۶- همدغه کتاب - ۹۲ مخ
۸۷- همدغه کتاب - ۹۵ مخ
۸۸- همدغه کتاب - ۱۶۴ مخ
۸۹- همدغه کتاب - ۱۸۲ مخ
۹۰- همدغه کتاب - ۱۸۸ مخ
۹۱- همدغه کتاب - ۱۹۵ مخ
۹۲- همدغه کتاب - ۲۱۸ مخ
۹۳- همدغه کتاب - ۲۲۶ مخ
۹۴- همدغه کتاب - ۲۸۳ مخ
۹۵- همدغه کتاب - ۲۸۵ مخ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٩٦- | همدغه کتاب | - | ٣٠٣ مخ |
| ٩٧- | همدغه کتاب | - | ٣٢١ مخ |
| ٩٨- | همدغه کتاب | - | ٣٣١ مخ |
| ٩٩- | همدغه کتاب | - | ٣٤٤ مخ |
| ١٠٠- | همدغه کتاب | - | ٣٥٩ مخ |
| ١٠١- | همدغه کتاب | - | ٣٨٩ مخ |
| ١٠٢- | همدغه کتاب | - | ٤٢٥ مخ |
| ١٠٣- | همدغه کتاب | - | ٤٣٨ مخ |
| ١٠٤- | همدغه کتاب | - | ٤٤١ مخ |
| ١٠٥- | همدغه کتاب | - | ٤٥٠ مخ |
| ١٠٦- | همدغه کتاب | - | ٤٥٥ مخ |
| ١٠٧- | همدغه کتاب | - | ٤٦٦ مخ |
| ١٠٨- | همدغه کتاب | - | ٤٧٨ مخ |
| ١٠٩- | همدغه کتاب | - | ٥٠٣ مخ |
| ١١٠- | همدغه کتاب | - | ٦٠٣ مخ |
| ١١١- | همدغه کتاب | - | ٦٤٦ مخ |
| ١١٢- | همدغه کتاب | - | ٦٦٨ مخ |
| ١١٣- | همدغه کتاب | - | ٧٠٦ مخ |
| ١١٤- | همدغه کتاب | - | ٧٠٩ مخ |
| ١١٥- | همدغه کتاب | - | ٧١٦ مخ |
| ١١٦- | همدغه کتاب | - | ٧٢٥ مخ |
| ١١٧- | همدغه کتاب | - | ٧٤٢ مخ |
| ١١٨- | همدغه کتاب | - | ٨٠١ مخ |
| ١١٩- | همدغه کتاب | - | ٨٦٧ مخ |
| ١٢٠- | همدغه کتاب | - | ٨٨١ مخ |
| ١٢١- | همدغه کتاب | - | ٨٨٤ مخ |
| ١٢٢- | همدغه کتاب | - | ٩٣١ مخ |
| ١٢٣- | همدغه کتاب | - | ٩٥٣ مخ |
| ١٢٤- | همدغه کتاب | - | ٩٥٥ مخ |

۱۲۵- همدغه کتاب - ۹۶۳ مخ
۱۲٦- دیوان خوشحال خان خټک (مرتبه حاجي پُردل خان خټک) - ۴۵۷ مخ
۱۲۷- خیاباني، محمد علي تبریزی: ریحانه الادب. ناشر: محمد علي تبریزی خیاباني- مطبع: تبریز- سن اشاعت: ۱۳۲۴ ش - ج ۴ - ۲۳۹ مخ
۱۲۸- فرهنګ آصفیه - (از سید احمد دهلوی) ج ۴- ۲۴۲ مخ
۱۲۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۵ مخ
۱۳۰- همدغه کتاب - ۲۲ مخ
۱۳۱- همدغه کتاب - ۳۳ مخ
۱۳۲- همدغه کتاب - ٦۴ مخ
۱۳۳- همدغه کتاب - ۷۵ مخ
۱۳۴- همدغه کتاب - ۹۱ مخ
۱۳۵- همدغه کتاب - ۹۲ مخ
۱۳٦- همدغه کتاب - ۹۵ مخ
۱۳۷- همدغه کتاب - ۱۲۳ مخ
۱۳۸- همدغه کتاب - ۱۵۵ مخ
۱۳۹- همدغه کتاب - ۱۸۲ مخ
۱۴۰- همدغه کتاب - ۱۸۸ مخ
۱۴۱- همدغه کتاب - ۱۹۲ مخ
۱۴۲- همدغه کتاب - ۱۹۵ مخ
۱۴۳- همدغه کتاب - ۱۹۸ مخ
۱۴۴- همدغه کتاب - ۲۱۳ مخ
۱۴۵- همدغه کتاب - ۲۱۸ مخ
۱۴٦- همدغه کتاب - ۲۲۲ مخ
۱۴۷- همدغه کتاب - ۲۲٦ مخ
۱۴۸- همدغه کتاب - ۲۸۳ مخ
۱۴۹- همدغه کتاب - ۲۸۵ مخ
۱۵۰- همدغه کتاب - ۲۹۱ مخ
۱۵۱- همدغه کتاب - ۲۹۱ مخ
۱۵۲- همدغه کتاب - ۲۹۷ مخ

١٥٣- همدغه كتاب - ٢٩٨ مخ
١٥٤- همدغه كتاب - ٣٠٣ مخ
١٥٥- همدغه كتاب - ٣٠٦ مخ
١٥٦- همدغه كتاب - ٣٢١ مخ
١٥٧- همدغه كتاب - ٣٢٦ مخ
١٥٨- همدغه كتاب - ٣٣١ مخ
١٥٩- همدغه كتاب - ٣٣٦ مخ
١٦٠- همدغه كتاب - ٣٤٤ مخ
١٦١- همدغه كتاب - ٣٥٩ مخ
١٦٢- همدغه كتاب - ٣٦٧ مخ
١٦٣- همدغه كتاب - ٣٨٩ مخ
١٦٤- همدغه كتاب - ٣٩٠ مخ
١٦٥- همدغه كتاب - ٤٢٤ مخ
١٦٦- همدغه كتاب - ٤٢٥ مخ
١٦٧- همدغه كتاب - ٤٣٨ مخ
١٦٨- همدغه كتاب - ٤٤١ مخ
١٦٩- همدغه كتاب - ٤٥٠ مخ
١٧٠- همدغه كتاب - ٤٥٥ مخ
١٧١- همدغه كتاب - ٤٦٢ مخ
١٧٢- همدغه كتاب - ٤٦٦ مخ
١٧٣- همدغه كتاب - ٤٧٨ مخ
١٧٤- همدغه كتاب - ٥٠٣ مخ
١٧٥- همدغه كتاب - ٥٧٩ مخ
١٧٦- همدغه كتاب - ٦٠٣ مخ
١٧٧- همدغه كتاب - ٦٠٥ مخ
١٧٨- همدغه كتاب - ٦٤٦ مخ
١٧٩- همدغه كتاب - ٦٦٨ مخ
١٨٠- همدغه كتاب - ٦٩١ مخ
١٨١- همدغه كتاب - ٧٠٦ مخ

۱۸۲- همدغه کتاب - ۷۰۹ مخ
۱۸۳- همدغه کتاب - ۷۱٦ مخ
۱۸۴- همدغه کتاب - ۷۲۵ مخ
۱۸۵- همدغه کتاب - ۷۳٦ مخ
۱۸٦- همدغه کتاب - ۷۴۲ مخ
۱۸۷- همدغه کتاب - ۸۰۱ مخ
۱۸۸- همدغه کتاب - ۸٦۷ مخ
۱۸۹- همدغه کتاب - ۸۸۱ مخ
۱۹۰- همدغه کتاب - ۸۸۴ مخ
۱۹۱- همدغه کتاب - ۹۳۱ مخ
۱۹۲- همدغه کتاب - ۹۵۰ مخ
۱۹۳- همدغه کتاب - ۹۵۳ مخ
۱۹۴- همدغه کتاب - ۹۵۵ مخ
۱۹۵- همدغه کتاب - ۹٦۳ مخ
۱۹٦- دیوان خوشحال خان ختک (مرتبه حاجی پُردل خان ختک) - ۴۵۷ مخ
۱۹۷- همدغه کتاب - ۴۷۵ مخ
۱۹۸- خزانه تلمیحات(از محمود نیازی) ۳۷۴ مخ
۱۹۹- E.J, Brill, Encyclopaedia of Islam. Leyden, 1913, Vol: III Page 96.
۲۰۰- ریحانه الادب. (از محمد علی تبریزی خیابانی) ج ۳ - ۴۷۱ مخ
۲۰۱- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۹۰ مخ
۲۰۲- خاطر غزنوی. سرحد کي روماني کهانیاں. ناشر: لوک ورثے کا قومی اداره اسلام آباد. مطبع: نه لری. سن اشاعت: ۱۹۷۸ء - ۱۵۹ مخ
۲۰۳- د قصه خوانۍ گپ (از منشی احمد جان) - ۵ مخ
۲۰۴- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۹ مخ
۲۰۵- همدغه کتاب - ۴۲ مخ
۲۰٦- فراز آورنده، ابو سعید عبدالحیٔ: زین الاخبار. بن تصحیح و تحشیه و تعلیق عبدالحیٔ حبیبی. تهران. سن اشاعت: ۱۳۴۷ ش. ۱۷۵ مخ

۲۰۷- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۵ مخ

۲۰۸- احمد سراوی: نل دمن- ناشر: انجمن ترقی اُردو پاکستان کراچی- مطبع: انجمن پریس نشتر روډ کراچی- سن اشاعت ۱۹۷۸ء - ۹۰ مخ

۲۰۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۶۴ مخ

۲۱۰- همدغه کتاب - ۱۵۵ مخ

۲۱۱- همدغه کتاب - ۱۸۱ مخ

۲۱۲- همدغه کتاب - ۱۹۵ مخ

۲۱۳- همدغه کتاب - ۳۲٦ مخ

۲۱۴- همدغه کتاب - ۳۹۸ مخ

۲۱۵- همدغه کتاب - ۴۲۴ مخ

۲۱٦- همدغه کتاب - ۵۰۳ مخ

۲۱۷- همدغه کتاب - ۹۵۳ مخ

۲۱۸- همدغه کتاب - ۵۴ مخ

۲۱۹- مثنوی وامق و عذرا- (از ابوالقاسم حسن بن احمد عنصری) ۴۳ مخ

۲۲۰- همدغه کتاب - ۳۷ مخ

۲۲۱- همدغه کتاب - ۵۷ مخ

۲۲۲- اُردو دائره معارف اسلامیه- ج ۲۲ - ۵۹۲ مخ

۲۲۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۵۰۳ مخ

۲۲۴- علی اکبر: لغت نامه- ناشر: دانشگاه ادبیات تهران- مطبع: شرکت چاپ افست گلشن تهران- شماره مسلسل ۹۹- سن اشاعت: ۱۳۴۳ هـ ش- ۱۲٦، ۱۲۷ مخونو لنډیز

۲۲۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۳٦٦ مخ

۲۲٦- همدغه کتاب - ۱۴۵ مخ

۲۲۷- همدغه کتاب - ۹۵۳ مخ

۲۲۸- همدغه کتاب - ۵۰۳ مخ

۲۲۹- همدغه کتاب - ۳۳ مخ

۲۳۰- همدغه کتاب - ۷٦ مخ

۲۳۱- همدغه کتاب - ۱۰۱ مخ

۲۳۲- همدغه کتاب - ۱۰۷ مخ

۲۳۳- همدغه کتاب - ۱۱۹ مخ

۲۳۴- همدغه کتاب - ۲۳۱ مخ
۲۳۵- همدغه کتاب - ۲۴۴ مخ
۲۳۶- همدغه کتاب - ۲۹۶ مخ
۲۳۷- همدغه کتاب - ۳۰۲ مخ
۲۳۸- همدغه کتاب - ۳۲۱ مخ
۲۳۹- همدغه کتاب - ۳۳۳ مخ
۲۴۰- همدغه کتاب - ۳۶۳ مخ
۲۴۱- همدغه کتاب - ۳۸۴ مخ
۲۴۲- همدغه کتاب - ۴۹۵ مخ
۲۴۳- همدغه کتاب - ۵۴۸ مخ
۲۴۴- همدغه کتاب - ۵۶۷ مخ
۲۴۵- همدغه کتاب - ۵۶۹ مخ
۲۴۶- همدغه کتاب - ۶۰۵ مخ
۲۴۷- همدغه کتاب - ۶۲۴ مخ
۲۴۸- همدغه کتاب - ۶۳۲ مخ
۲۴۹- همدغه کتاب - ۶۶۱ مخ
۲۵۰- همدغه کتاب - ۶۹۵ مخ
۲۵۱- همدغه کتاب - ۷۱۹ مخ
۲۵۲- همدغه کتاب - ۷۳۸ مخ
۲۵۳- همدغه کتاب - ۸۲۶ مخ
۲۵۴- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۹ مخ
۲۵۵- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۷۸۵ مخ
۲۵۶- همدغه کتاب - ۷۴۶ مخ
۲۵۷- همدغه کتاب - ۳۴۵ مخ
۲۵۸- همدغه کتاب - ۳۳۵ مخ

اُووم باب

# د خوشحال په کلام کښې مذکور

# پښتانۀ ننګیالي اؤ قهرمانان

خوشحال بابا چې په کوم آوان د ژوند په جنګریز کښې د هستۍ د بقا د پاره تورې وهلې. نو دغه وخت په سیاسي توګه پښتون قوم د یو ډېر دردناک دور نه تېریدو. ځکه چې پښتانۀ په ټولیزه توګه د بې اتفاقۍ، پروجنبو او ډلو ټپلو ښکار وو. او د مشرۍ لالچ په یو مرکز راغونډېدو ته نه پرېښودل. خوشحال بابا دغه هر څه په ډېر ژور نظر کتلې او سنجولي دي. اؤ د هغه ټولو شخصیاتو ذکر ئې په خپل کلام کښې کړے دے. څوک چې د دغه حالاتو ذمه وار وو. خو ددې سره سره خوشحال بابا د عبرت او سبق په غرض خپل هغه پښتانه ننګیالي او قهرمانان هم یاد کړي دي. د کومو په نامو او کارنامو چې اُوس هم د پښتون تاریخ د ویاړ شمله هسکه ده.

## هسے چارے کا ستا خویه
## چه آتش شاهی بیگ هیر شول (۱)

## آتش:

آتش مستی خیل وو۔ دے د بهرام خان دلیز وو۔ او د هغه د پاره ئې د ستر خوشحال سره جنگونه کړل۔ د کوهاټ د شکست نه پس چې دریا خان خوشحال خان ته د بنگشو خلاف د لښکر راجمع کولو د پاره اُولیکل.نو خوشحال په دغه هڅه کښې شو۔ ولې آتش په دغه آوان خوشحال ته ډیر مشکلات پیدا کړل۔ په تاریخ مرصع کښې دی۔ چې

> "اتش غل مستی خیل د شاهی موشک په فریب گمراه شوے وه۔ رشوت ئې خوړلے وه۔ څخو حرامزدگی ئے کړه۔ امن تری اتش گمراه کړل۔ په بنگښو یو قیامت ساعت وه۔ درے څلور زره روپئی ئے هم آتش لره راستولے چه ځاے په ځاے ورکړه ډیر بنکنځل م اتش وته وکړل۔ خورم درویش هم د آتش په لور شول۔" (۲)

دغه رنگ کله چې اشرف خان مغلو په بند کړو۔ او سرداری په دې شرط بهرام خان ته اوسپارلې شوه۔ چې هغه به د اشرف خان د راخلاصولو بناء کوی۔ ولې بهرام چې په دغه ترڅ کښې څه اُونه کړل۔ نو دغه وخت افضل خان، خپل نیکه را اُوبللو۔ او ورته ئې اووئیل۔

خان علیین مکان و ښادی پور ته ورغے۔ زۀ ئے هم وبللم۔ راته ئے حُکم وکړ چه بابکه د اتش مستی خیل او د تیرئ د مندهنړو داغونه د ما په زړه دی۔ و تا حکم کوم چه لاړ شے تنبیه د دوئ بواقعی وکړه۔ معرکه م د تریو راوبلله۔ آتش مستی خیل د مند هنړو سره وتښ۔ (۳)

== ☆☆☆ ==

چه په شک په کښې سړی وو
یو احمد وه بل چندنړ (۴)

احمد:

احمد په خټه آفریدے وو۔ د بیاض له بیانه جوتیږی چې احمد د خوشحال بابا په وختو کښې یو مخوریز او معزز سړے وو۔ او شیر محمد خان بنګش چې د ګنبت د جنګ نه وړاندې کومه هپه کړې وه۔ په هغې کښې ئې د خوشحال بابا مرسته کړې وه۔

"شاهی موشک شیر محمد لره خط ورستاوه چه فلانه په مندونړیو کښې د لړ عالم سره ناست دے۔ که رائیشے دستګیر به ئے کړے۔ هغه مادر به خطا ایلغار راباندے وکړ په تاپی راغے۔ زۀ هم خبر شوم۔ د مهمند یو کډے م وخیژولے۔ صبا پرے بیا راوجاروتم۔ شاباس په احمد او په چندل په واړو افریدو شه ښۀ راورسیدل۔ د الله داد په کلی ورته تول وشه۔ هغه مادر به خطا خبر شه۔ شباشب لکه په ماتے د تاپیه وجار ووت۔ احمد سلو سورو سره څو ترے لره راغے۔ واړه اولس د تری اتفاق وکړ۔ لښکر ئے تیار کړ۔ ما احمد راستاوه چه ته درومه۔" (۵)

"خصوصاً چندل، دده خیلخانه عالی خیل واړو تقصیر نه درله۔ احمد لافدوی وه۔" (۶)

== ☆☆☆ ==

الهداد لکه لمخے په جیفه ګرزی
د مردارے بوئ ئے څی له دواړه چنګه (۷)

دغه نوم الهداد چې په سوات نامه کښې راوړې شوے دے۔ په اصل کښې الله داد دے۔ دے په خټه یوسفزے وو۔ او د کاچو له اولاده وو۔ (۸)

الله داد یوسفزے د خپل دور د ملک حمزه، ملک عبدل او ملک طالی د پائې ملک او سردار وو۔ د خوشحال خان د وینا تر مخه هغه ورسره لکه د خپلو زامنو په ډیرو موقعو مهربانی کړې وه۔ (۹) هم دغه وجه وه چې کله هغه

ددې نه خبر شو. چې د خوشحال خان اولاد مُغلی حکومت یرغمال هندوستان ته بیائی. نو د اکوزو بائیزو د نورو ملکانو سره راغے او د خوشحال خان اولاد ئې سیکرئ کاټلنگ ته اورسول. (۱۰)

الله داد یوسفزے سره ددې چې د سیاسی مصلحتونو پیش نظر ئې د مغلو سره لار لرله. (۱۱) ولې د پښتو نولئ له رویه ئې په خوشحال خان هم بده ورځ نه وه پیرزو. سوات ته د رانګ په آوان چې کله خوشحال خان "کډې" ته را اورسید. نو دغلته د خپلو خټکو سره شپه نیمه ایسار شو. الله داد یوسفزی ته ددغې ځائې حالات معلوم وو. ځکه ئې خوشحال خان ته جواب را اُولیږو. چې دغلته ستا د پاره پاتې کیدل د خطرې سره سم دی. دغه ځائې میدان دے. او نزدې درته په لنګر کوټ د مغلو فوځونه پراته دی. ښائیږی چې چرته د غره درې ته لاړ شے. خوشحال خان د الله داد یوسفزی دغه مشوره اُومنله. او رستم ته لاړو. رستم کښې خوشحال ځو میاشتې تیرې کړې. خو الله داد یوسفزے ئې خواله ور نۀ راغے. څه که هم وروسته لاړ. ولې د خوشحال خان ترې زړه بد شوے وو. او هم دغه وجه وه چې په دغه بره ذکر شوې شعر کښې ئې پرې د طنز غشی ورولی دی.

== ☆☆☆ ==

ایمل خان دریا خان دواړه په ښه رنګ تیر شول په ننګ کښې
د دواړو په فراق کښې ځما تل آه و ماتم دے (۱۲)

☆

ایمل خان دریا خان دواړه خودبین لاړل
اوس خو پاتو و مغل ته یو خوشحال دے (۱۳)

☆

ایمل خان دریا خان دواړه مرګ ئے مه وے
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار (۱۴)

☆

بیا له پسه جسونت سنګهه شجاعت خان وه
چه ایمل ئے په کنداب ویوست دمار
شپږم جنګ مکرم خانٓ شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښے تار په تار (۱۵)

☆

پورے په خونه د ایمل خان شه
په سول د خونے د خانِ خانان شه
دا اُور که ونه مړ دایم نارے وهم
په وار وار پورے په درست جهان شه (۱۶)

☆

د ایمل فتور اغاز شو
د مهمندو هم عنان شوم (۱۷)

☆

افریدیو شنواریو زړه په اُلجه بنه کړ
ایمل خان مهمند په ننګ په اُلجه دواړه (۱۸)

☆

دریا خان مے د کچئ کُتے خلے دے
ایمل خان مے د پګړئ ئے شملکے دے (۱۹)

☆

که پیوند د ایمل خان د دریا خان شته
د خوشحال خټک سیلوی تر دا میان شته (۲۰)

ایمل خان۔ پښتو نوم دے۔ چې: ای+مل: لومړی سابقه (Suffex)د هو=خه=ښه، یو لهجوی تحریف دی۔ نو هومل= هېمل= ایم، د ښه مله (ښه ملګری) معنا لری۔ (۲۱)

## ایمل خان:

"ایمل خان کوکوزی، خویزی، مسیزی مومند دے۔ کورنی، کندی، کودی او پردی ئې د مومندو دی۔ ایمل خان د پښتنو یو منلے شوے، د خپلې قبیلې سردار او واکمن وو۔ ددهٔ په نامه "ایمل کوټ"په هزار ناو کښې یو مشهور ځاے دے۔ دغلته د ایمل خان کورنی په "باچاخیلو"شهرت لری۔

د ایمل خان دوه نور ورونه هم وو۔ چې بهادر خان او فتح خان نومیدل۔ بهادر خان ترې مشر او فتح خان ترې کشر وو۔ ایمل خان ته د مشرۍ پګړۍ د مومندو یو روحانی مشر میاں جان محمد وړپسر کړې وه۔

ایمل خان د خوشحال خان خټک همعصر او د آزادۍ د جنګ نامتو ملګرے وو۔ دغه وجه وه چې ستر خوشحال ئې ذکر ډیر په درناوی کړے دے۔ څکه نو اټکل کیدے شی چې ایمل خان به هم د ۱۰۲۲هـ خواو شاه زیږیدلے وی۔

دے ستر میړه ایمل خان د پښتو، پښتوالۍ اوپښتنی ننګ په خاطر ډیرې قربانۍ ورکړې دی۔ او دپښتنو د آزادۍ په لار کښې ئې کوششونه کړي دی۔ او په مُغلی زور ګیره ئې د پښتنو د تورې او غیرت رُعب منلے دے۔

ایمل خان په دغه لړ کښې ډیرې سترې مجاهدې او مبارېزې کړی دی۔ او د پښتنو د یو نر مشر په حیث ئې مهم رول لوبولے دے۔ خوشحال خان چې څه وخت په ۱۰۷۹هـ کښې د مغلو له بنده راخلاص شو۔ او د کابل د مغلی صوبه دار مهابت خان سره وطن ته راغے۔ دغه وخت لا خوشحال خان د مُغلی

حکومت سره په څرګنده مخالفت نهٔ وو پیل کړے۔ خو ایمل خان د پښتنو د آزادۍ په ترڅ کښې د مغلو خلاف تورې وهلې۔ جنګونه ئې کول۔ او بیا په تیره تیره د خیبر جنګ ته خو د ایمل خان په حواله د پښتنو په تاریخ کښې هم او د مُغلو په تاریخ کښې هم ډیر اهمیت حاصل دے۔

خوشحال خان تر ۱۰۹۵ء پورې د ایمل خان د مرینې په حقله څه نه دې وئیلی۔ ځکه نو غالب ګمان دادے چې هغه د ۱۰۹۶ھ شاوخوا وفات شوے دی۔ ددهٔ قبر او ادیره په چکنور کښې ده۔ خلق ئې زیارت ته راځی۔ د هغه نمسو د قبر منجور ته ډیره سیرۍ ورکړې ده۔ (۲۲)

"ایمل خان، مومند ؤ۔ ددی قوم مشر او د خوشحال خان ملګری چې پر غالباً (۱۰۸۳ھ) یې د خیبر په جنګونو کی د مغولو د صوبه دار محمد امین خان څلویښت زره لښکر ورتباه کړل۔ خوشحال خان ئې پګړۍ وره شملګی بولی۔ (۲۳)

== ☆☆☆ ==

که صاحب وه که ترسم وه
ختک ډیر د دوئ په څیر شول (۲۴)

## ترسم:

ترسم څوک وو؟ کله زیږیدلے وو۔ ابتدائی ژوند ئې څنګه تیر شوے وو۔ ددې په حقله څه معلومات په لاس رانغله۔ البته د افضل خان ختک له بیان نه څرګندیږی چې ترسم په خته سینی ختک وو۔ او د ختکو په قبیلوی انښتو کښې ئې ښه د زړه د اخلاصه برخه لرلې ده۔ خوشحال بابا د ترسم سره سره د صاحب تذکره هم کړې ده۔ دا دواړه کسان په سر کښې د خوشحال بابا پلویان وو۔ ولې وروسته د بهرام خان سره

ملگری شول. او د خوشحال بابا خلاف ئې د بهرام خان د پاره جنګونه اُوکړل. په دغه شعر کښې هم خوشحال بابا دوئ دواړو د وفا خرڅونې ذکر کړے دے. او زياته کړې ئې ده. چې نه يوازې دوئ خرڅ شول. بلکې د خټک نور ډير کسان هم د دوئ په رنګ زما خوا پريښوده. (۲۵)

== ☆☆☆ ==

هيڅ باور پرې نشته

ترين واړه منافق دی

د پخو سپينو تورو!

واړه تور او سپين لائق دی (۲٦)

ترين: د پښتنو يوه لويه او مشهوره قبليه ده. د زمانو نه دا خلق په لرغوني وختونو کښې د شام په قطبی سيمه (تيرا) کښې آباد وو. څه وخت چې دوئ ددغه ځاے نه شړونکی شول. نو په ايران کښې آباد شول. او بيا چې په ايران کښې ساسانيانو انقلاب راوبست. نو دوئ خيتز پله غرونو ته اوکوچيدل. او دغلته استوګن شول." (۲۷)

## تورترين:

"د ترين درے زامن پيدا شول. ورومبے چې رنګ ئې تور وو. د هغه نامه ئې "تور"کيښوده. دوئم چې سپين رنګے وو. "سپين"نوم ئې پرې کيښودو. دغه شان د دريم زوی نامه ئې "اودل"وه.

د تور څلور زامن وو. ورومبے معلونے، دويم کندرے دريم، شينکے او څلورم بابو. (۲۸)

تور ترينان. د ترينانو دغه لويه پښه د پښين په تاريخی ناوه او افتخاری سيمه کی ميشته، د کاکړو او پښتنو ساداتو سره څنګ پر څنګ ژوندی کوی. ژبه ئے پسته او کندهارئ لهجے ته ورته ده. خلک ئے خواری،

مزدوری، زمیداری او یو شعیرئے په سرکاری نوکریو بوخت دی." (۲۹)

" د ترین دریم ځوے تور وو. چه د خپل رنګ روات د کبله په تور نوم یادیدو. د هغه اولاد هم په تور ترین مشهور شو. د تور څلور ځامن وو. یو ملونړے، دویم کنده زئی دریم شیتکے، څلورم بابوه. (۳۰)

== ☆☆☆ ==

نیستی واړه په نصیب د بیګ محمد شوه
بے ننګی واړه په بخره د جـلال (۳۱)

## جـلال خان:

جـلال خان چې په ختـه داودزے پښتون وو. د بهادر خان روهیله کشر ورور وو. کله چې د شاهجهانی جلوس په یویشتم کال د اوزبکو سره یوه هفته جنګ اُوشو. په دغه جنګ کښې بهادر خان په نذر محمد پسې د تللو او د سعید خان سره په کومک کولو کښې سستی اُوکړه. سره ددې چې بهادر خان د بلخ و بدخشان په انښتو کښې ډیر ښه رول لوبولے وو. ولې په دې ترې د بادشاه زړه بد شو. او د قنوج او کالپی جاګیرونه چې تقریباً د دیریشت لکو روپو جوړیدل ددهٔ نه ضبط کړے شول. او ددغه محالاتو فوځداری جـلال خان ته اوسپارلې شوه. د یو زریز ذات او یو زریز سورو منصب، د دلیر خان خطاب او یو هاتی ورته ورکړے شول.

د شاهجهانی جلوس په یو دریشتم کال دے د سلیمان شکوه په ډله کښې د شاهزاده محمد شجاع سره د مقابلې د پاره شامل کړے شو. هغه مغلوب شو اُوتښتیدو. او د جنګ نه بغیر د ماشومانو په شان اُوویریدو. او په کشتی کښې پټنې طرف ته لاړ.

ددې ګتې په صله کښې د دلیر خان په منصب کښې د یو زریز ذات او یو زریز سورو اضافه اوکړې

اُوشوه. او دا شان هغه د درې زريز ذات او درې زريز سورو په منصب اوټاکلے شو.

د عالمګيرى جلوس په اتلسم کال د بادشاه په خدمت کښې دهلى ته حاضر شو. او د عابد خان په ځائے د ملتان صوبه دار اوټاکلے شو. يو کال پس ورته د دکن بندوبست اوسپارلے شو. د عالمګيرى جلوس په يوويشتم کال د حيدر آباد د فوځ سره ددهٔ سخته مقابله اُوشوه. د عالمګيرى جلوس په درويشتم کال د منګل سرپ قلعه ددهٔ په کوششونو د سيوا بهونسله د ولقې نه آزاده کړې شوه. درې کاله پس چې د عالمګير فوځونه اورنګ آباد ته را اُورسيدل. نو د نورو سردارانو سره دے هم د بيجاپور په مهم اوټاکلے شو. چې محمد اعظم شاه لا دربار ته نهٔ وو. رارسيدلے. دے سخت بيمار شو. او د عالمګيرى جلوس په اُوويشتم کال ۱۰۹۴هـ مطابق ۱٦٨٣ء کښې وفات شو. (۳۲)

ددهٔ د وفات د تاريخ قطعه يو شاعر داسې وئيلې ده.

غبار آلوده شد دنیاز ماتم خان والا شان
مکدر شد ہمہ عالم مخلل شد بسا دوران
نظر کردم بتار تخش برآمد از سر مصرع
دلیری از جہاں بردہ شجاعت ملک ہندوستان (۳۳)

غ+م+ن+د = ۱۰۰۰+۴۰+۵۰+۴ = ۱۰۹۴هـ

==☆☆☆==

چه په شک په کښے سړی وو
يو احمد وه بل چندنړ (۳۴)

## چندنړ:

دا نوم د تاريخ مرصع کښې چندل ذکر شوے دے. چندنړ يا چندل د تيراه اُوسيدونکے وو. او ددغه ځاے په مشرانو کښې د ډيرې نامې او جامې خاوند وو. خوشحال بابا ئې په دغه شعر کښې د سړيتوب تذکره په عجيبه طنزيه انداز کښې کړې ده. د نور تفصيل د پاره ددې مقالې مخ ۴۸۲ وکتلى شى.

بیا له پسه شاه عالم د حسن سور وه
چه همایون ددۀ له لاسه هزیمت ؤ (۳۵)

## حسن سُور:

د حسن خان د پلار نوم ابراهیم وو. څوک چې د اسونو سوداګر وو. او کله چې بهلول لودی د خپلو متو کلکولو د پاره پښتنو ته عامه بلنه ورکړه. نو ابراهیم هم د خپل زوی حسن خان سره د روه د غرونو نه هندوستان ته کوچ اُوکړو." (۳٦)

حسن په حصار فیروزه کی زوکړئ وو. حسن چه څوان سونو د رائے مل یو هندو ملازمت ئے شروع کړ، "رائے مل" د "رائے سال" نیکه وو. رائے سال د اکبر په دربار کی یو مشهور افسر وو. د رائے مل په ملازمت کی حسن د پیسو حساب و کتاب سره ایزده کئ. د رائے مل په ملازمته څه حسن وواتئ. نو د ناصر خان لوهانی ځائ "جونا" له ولاړئ. جونا د سهسرام په ضلع کی یو ځائ دئ. سهسرام بیا د بهار په صوبه کی یوه سیمه ده. ناصر خان د سکندر لودی یو نامتو امیر وو. د ناصر خان ملازمت حسن په راستئ او هوښیارئ سره وکئ. په دے سبب سره پردۀ باندی د ناصر خان زړه کښیناستئ. کوم وخت چه ناصر خان مړ شو. نو حسن ددۀ د وررور دولت خان ملازم شو. تر دے وروسته بیا د بابن خان حلوانی په ملازمت کی ولویدئ. بابن خان یو نومیالی پښتون سردار وو. بابن خان زوره ور زور ور کارونه حسن ته په لاس ورکړ او حسن ددۀ تر ګردو لوئ مشیر سو. کوم وخت چه جمال خان ته د جونپور حکومت ورکړ سو نو حسن هم ددۀ سره واستول سو. هلته حسن د جمال خان ملازم سو. تر مرګه پورې ئے د جمال خان ملازمت وکئ. جمال خان و حسن خان ته د سهسرام او د خواص پورتانده علاقے جاګیرونه ورکړے. حسن خان ددے جاګیر د انتظام په لاس کی اخستلو د پاره سره د پنځو سوو سپرو جاګیر له ورغئ." (۳۷)

" د حسن اته زامن وو. تر ګردو مشر فرید نومیدئ چه بیا د شیر شاه په نامه مشهور سو. فرید و نظام د یوے موره وو. د دوئ مور پښتنه وه. د حسن هغه نور شپږ زامون د مینځو زامون وو. په هغو کی درے وورنه د یوے موره وه چه نومونه ئے سلیمان، احمد او مدار وو." (۳۸)

==☆☆☆==

مخزن د درویزه د میاں نور شیخی پیری
الثالثُ بالخیر د حمزه خانی میری (۳۹)

☆

حمزه خان هغه چمند دے په جلگو کښے
وړاندِ ورستو پړی پریکا له غورزنګه (۴۰)

☆

حمزه د رستم باد دے
چه په ښو رنګه پیرے کا (۴۱)

## حمزه خان:

"ملک حمزه د ملک ملو خان زوی اؤ د خوشحال خان د یوسفزی ماینې ورور او د صدر خان ماما ؤ." (۴۲)

"علی، بازی، او کنده ددې ورونه وو. ولې په دوئ کښې مشری او سرداری د بازی وه. ځکه نو د بازید خیلو کورنی د مشری کور وو. او ورته د ټولې بائیزی قبیلې مشری او سرداری ور په غاړه وه. د بازید خیلو د کورنی یو نوموړې مشر خان حمزه خان نومیدو. دې د خوشحال خان خټک په معاصرینو کښې وو. او د هغه آخښې وو. حمزه خان چې په ستائینو او متلونو یاد دے. په سمه او سوات ددغه وخت د سیاست محور وو."

"حمزه خان شپږ زامن وو. جـلال خان، جمال خان، منور خان، قدلان خان او دوه تنه نور وو چې نومونه ئې لاتحقیق شوی نه دی. په دوئ کښې د جـلال خان او جمال خان اولاد د سوات په تانه کښې آباد دی."

د حمزه خان یوه لور د ملک بارا خان ابن موسیٰ ابن پوپل په نمسی واده وه. د هوتی او مردان خانان د هغې اولاد دی. دوئ ته باراخیل هم وائی. وائی چې حمزه خان د سیمې خپل یو ښو کلی چې د جمال ګړی او حمزه کوټ نه مخ په نمر خاته وو. خپلې دغه لور ته په پرونی کښې ورکړی دی." (۴۳)

== ☆☆☆ ==

نۀ کچے شته نۀ کاچو شته نۀ حمید شته
څه له نورو سره سر وهے له سنګه (۴۴)

حمید:

حمیدؔ د سوات د یوسفزو یو پیاوړے سردار وو. خوشحال بابا چې د نورو یوسفزو سردارانو او ملکانو سره ددۀ تذکره په کوم انداز کړے ده. د هغې نه د حمید د مشرئ د رعب او دبدبې اندازه ډیره په اسانه لګی. حمید هغه وخت د مشرئ په ګدئ ناست لیدې شی. کله چې شاهجهان په ربیع الاول ۱۰۵۹هـ مطابق وسط مارچ ۱٦۴۹ء کښې کابل ته د تللو په آوان د اباسین نه راپورې وتو. په دغه موقعه شاهجهان د خوشحالؔ نه پوښتنه اُوکړه. "چه څو عالم دے په دا سمه کښے. خان علیین مکان ووے چه یوولس زره کوره به وی. بادشاه ووے چه سردار ئے یو دے. خان ووے نه سرداران ئے ډیر دی. بادشاه ووے کوم کوم. خان ووے حبیب دے، بهاګو دے، ظریف دے، د سوات د یوسفزیو کچے دے. حمید دے کاچو دے." (۴۵)

د تاریخ مرصع ددې بیان نه دا خبره راډاکې ته کیږی. چې په ۱۰۵۹هـ کښې حمید د سوات د یوسفزو یو مخور اؤ نوموړے سردار وو. خو د خوشحال بابا ددغه شعر نه داسې معلومیږی. چې ددې شعر د وینا په آوان حمید لکه ددغه نورو دوو یوسفزو مشرانو وفات شوے وو. ځکه ئې خوشحال بابا ارمان کړے دے. چې دغه لوئې لوئې مشران زما د پائې او مقابلې کسان وو. هغوئ مړه شوی دی. اُوس په یوسفزو کښې زما د سیالی څوک نشته.

== ☆☆☆ ==

شپږم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپش کښے تار په تار (۴۶)

☆

څه شو شمشیر خان ترین که پوخ پنجهزاری دے
ما وته هیڅ نه دے مګر یے اومه شلغمٙ (۴۷)

☆

څو چه په څو کاله شمشیر خان ترین کار کړے
ما به په څو میاشتے واړه چار کړه مستحکمٙ
دا مکر فریب چه د حیات ترین هنر دے
کله دا د مرد دے؟ دا د ښځے دے عالمٙ (۴۸)

☆

شمشیر خان ترین چه تاسره بدی کړه
خپل نیت وجوریده دۀ ته ستا و تاته (۴۹)

## شمشیر خان: (حیات خان ترین)

ددۀ د پلار نوم علی خان وو. علی خان د شاهجهان د خاص ملازمینو نه وو. او د ګهتې په انبته کښې وژلے شوے وو. کله چې شاه جهان په تخت کیښناستو. نو په وړومبی کال ئې حیات خان ترین ته د یو زرم ذات او پنځ سویز سورو منصب سره د اووه زرو روپو د انعام ورکړو. دغه رنګ د جلوس په دریم کال چې شاهی لښکر دکن ته اُورسید. نو حیات خان ترین د شائسته خان سره د نظام الملک دکنی د تباهی په کار اوټاکلے شو. د جلوس په یو لسم کال دے د سعد خان او بهادر خان سره قندهار ته واستولے شو. او د بست د قلعه په فتح کولو کښې ئې خپل زور ښکاره کړو. په پنځلسم کال د جلوس ئې په منصب کښې د درې سوه سورو اوپه نولسم

کال د جلوس ئې په منصب کښې د دوه سوه سورو اضافه اُوشوه. دغه شان د ذات او سورو په اعتبار ئې منصب برابر شو. ددې نه پس ئې د مراد بخش په ملګرتیا کښې د بلخ و بدخشان په مهم کښې برخه واخسته. او د بلخ د حاکم نذر محمدخان سره ئې تورې ماتې کړې. د شاهجهانی جلوس په شلم کال ددهٔ په منصب کښې نوره هم اضافه اوکړې شوه. او دے د یونیم زریز ذات او یو زریز سورو په منصب اوټاکلے شو." (۵۰)

"کله چې شاهزاده ددې صوبې حکومت پرېښودو. او د بادشاه په حضور کښې حاضریدو د پاره روانیدو. نو سعد الله خان د صوبې د انتظام د پاره را اُورسید. دغه وخت حیات خان ترین ته د خان آباد ټانیداری او سپارلې شوه. او په منصب کښې ئې ورله د پنځسویز ذات او پنځه سوه سورو اضافه اوکړه. دغه شان دهٔ ته ئې د "شمشیر خان" خطاب هم ورکړو. د شاهجهانی جلوس په دوه ویشتم کال چې اورنګزیب عالمګیر د بلخ په مهم اوټاکلے شو. نو دے ورسره قندهار ته روان کړے شو. قلات ته په رسیدو. اورنګ زیب عالمګیر ددغه ځاے بندوبست دهٔ ته اوسپارلو. یو کال پس دهٔ ته د دوه زره پینځسویز ذات او دوه زره دوه سویز سورو منصب پیرزو کړے شو. او د سعادت خان په ځاے ئې د غزنی ټانیدار مقرر کړو. دوه کاله پس ددهٔ منصب دوه زره پینځسویز ذات او دوه زره پنځه سوه سورو ته اُورسولے شو. بیا چې کله عالمګیر د ملک اختیار په لاس کښې واخستو نو دے ئې د کابل په انتظام مامور کړو." (۵۱)

"د عالم ګیری جلوس په څلورم کال چې راجه روپ مړ شو. نو دے یو ځل بیا د غزنی په ټانیداری مقررکړے شو. شپږ کاله پس دے د پښتنو په بندوبست کولو مامور کړے شو. او دهٔ د هغوئ په قتلولو او ګرفتارولو کښې ډیر زیار او مېنود اُوکړو. د څه په وجه چې دهٔ ته د درے زریز ذات او دوه زره پنځه سویز سورو منصب ورکړے شو. او بیا چې دغې علاقې ته محمد امین خان را اورسید. نو د روه د پښتنو سره په جنګ کښې ئې د هغه سره هم ښکاره تورې اُووهلې. ددغه نه وروسته بادشاه دهٔ ته د هند ټانیداری اوسپارله." (۵۲)

"د ترینانو په تبرکې حُسین خان او شمشیر خان مشهور نومیالی تیر شوی دی. شمشیر خان ترین د اورنګزیب د زمانے سرے دے. د شمشیر خان د مرینې نه وروسته ددهٔ زامن محمد عمر او محمد عثمان د مغولی باچا اورنګ زیب په دربار کې د ښه نفوذ خاوندان وو." (۵۳)

نه به بیا زینو دا دین وی
نه به بیا اسونه زین وی (۵۴)

دا دین:

دا دین د خوشحال خان یو مصاحب او د مجلس یار وو. (۵۵)

دا شعر د خوشحال بابا د حبسیاتو سره تعلق لری. او لکه څنګه چې هغه د قید و بند په دوران کښې خپله خاوره، خپل خپلوان اولاد او نور ډیر څه یاد کړي دی. هغه خپل یاران او دوستان هم نه دی هیر کړی. په دغه لړ کښې هغه د عثمان، حتا زینواو دادین نامې ځاے په ځاے اخستې دی. او د هغوئ د ملګرتیا تذکره ئې کړې ده. په دغه شعر کښې هم هغه د زینو سره سره دادین هم یاد کړے دے. او دا ارمان ئې کړے دے. چې تیر وختونه به بیرته رانشی.

چې ماسره پکښې زینو او داد ین وو. او اسونه به راته زین کړی ولاړ وو. چرته به مو زړه غوښتل. هلته به تلو.

== ☆☆☆ ==

دریا خانؔ درویزه واړه په حضور دی
ګویا زۀ هم په حضور یم د درګا (۵٦)

دغه شعر د خوشحال خان خټک د یو منظوم خط نه اخستې شوې دے. کوم چې خوشحالؔ خان خټک، ایمل خان مومند ته د هغه د یو خط په جواب کښې استولے وو. دې شعر کښې خوشحال خان خټک دریا خان آفریدی او درویزه آفریدی ذکر کړے دے. چې هغوئ ستا یعنی د ایمل خان په درګاه کښې حاضر دی. که چرته ستا حُکم شوے وے. نو زۀ به هم حاضر شوے وے. د دریا خان آفریدی ذکر مخکښې تیر شوے دے. دلته د درویزؔه په حقله معلومات وړاندې کولې شی.

## درویزه:

درویزه په خته آفریدے وو. او په آفریدو کښې ئې د کوکی خیلو د تپې سره تعلق لرلو. د واقعاتو تر مخه درویزه په ابتداء کښې د مغلو خلاف د پښتنو په پره ولاړ وو. خو کله چې افضل خان په ۱۰۹۵هـ کښې د صوبیدار امیر خان خوافی سره زړه بداوے راغلو. نو هغه د مغلو خلاف خیبر ته غلجی قبائل راغونډ کړل. چې پکښې د شنوارو ملکان، فتح خان بولاق، دریا خان او د ایمل خان نمسی هم شامل وو. دغه وخت د درویزه د کورنئ سردار د هغه زوئے عالم خان وو. عالم خان د مغل په پره وو. او داسې بریښی چې د دریا خان آفریدی سره د تربور ولئ په وجه درویزه هم د مغلو خواه نیولې وه. له دې آمله په آفریدو کښې نفاق پیدا شو. او دوئ دریا خان ته بې اعتباره شول. عن تردې چې دریا خان د درویزه په کور هپه اُوکړه. چې پکښې د دریا خان جنګیالی زوی فتح خان سر کیښود. ولې درویزه پکښې هم سره د خپلو څلورو نمسو او زامنو قتل شو. وروسته عالم خان د خپل پلار بدل د دریا خان د زوم په وژلو واخستو. (۵۷)

== ☆☆☆ ==

دریا خان درویزه واړه په حضور دی
ګویا زهٔ هم په حضور یم د درګاه (۵۸)

☆

ایمل خان دریا خان دواړه په ښه رنګ تیر شول په ننګ کښے
د دواړو په فراق کښے څما تل اه و ماتم دے (۵۹)

☆

ایمل خان دریا خان دواړه خودبین لاړل
اوس خو پاتو و مغل ته یو خوشحال دے (٦٠)

☆

ایمل خان دریا خان دواړه مرګ ئے مه وے
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار (٦١)

☆

دریا خان مے د کچئ ګتے څلے دے
ایمل خان مے د پګړئ ئے شملکے دے (٦٢)

☆

که پیوند د ایمل خان د دریا خان شته
د خوشحال خټک سیلوي تر دا میان شته (٦٣)

## دریا خان:

دریا خان په افریدیو کښے آدم خیل وه۔ د تیراه په "میدان" نوم ئے علاقه کښے هم کور وه۔ او د آدام خیلو یا د کوهاټ په دره کښے ئے له پیښوره ۲٦-۲۷ میله سهیل رویه په سنده بسته نوم ئے کلی کښے هم ځائے وه۔ (٦۴)

"دریا خان د تیرا اپریدیو له مشهورو جنګیالیو څخه تیر شوی۔ د خوشحال خان او ایمل خان همعصر و۔ له مغولو په تیره اورنګزیب سره یې سخت جنګونه کړی دی۔ په خپله دریا خان پکی زخمی اور ورور تاتر خان (تاتار خان) او څینی نور د اپریدو د غرو زروور ځلمیان شهیدان شوی دی۔" (٦۵)

دریا خان اپریدے او ایمل خان مومند د خوشحال خان خټک د دوو نامتو همکارانو نومونه دی۔ په کال ۱۰۸۴ هـ کښے د مومندو ګنداؤ په کړپه د مغلو او پښتنو تر مینځه چه کوم جنګ شوے وو۔ هغه کښے د پښتنو له خوا کمان د ایمل خان په لاس وو۔ هر که چه د مغلی فوځ سرداران شجاعت خان رعد انداز بیګ او

مهاراجه جسونت راټور وو. دغه جنګ کښې مغلو ماتې کړېوه. شجاعت خان هلاک شوے وو. او جسونت سنګ په تيښته ځان خلاص کړ. په کړپه د مغلو د شکست او ايمل د فتحې غږ چه د دريا خان تر غوږه شو. نو هم په دغه کال په کوهاټ حملې دپاره بې تابه شو. اګر که په کوهاټ د يوے شريکې حملې د پاره د خوشحال خان او دريا خان تر مينځه د وړاندے نه خط و کتابت روان وه. ولې پخپل سر د کوهاټ د قلا د فتحې شوق د مقرره وخت او شريکې حملې نه وړاندې د دريا خان په کوهاټ د حملې نتيجه د بده مرغه د شکست په شکل را دوځاره شوه. ددغه جلد بازئ په نتيجه کښې صرف د هغه ورور تاتار خان ومړ. بلکه څه کم و زيات سل تنه آزادی خواه هم مړه شول." (٦٦)

په دغه ورځو کښې خوشحال په ځوتره کښې وو چې د دريا خان استازے ورته راغے. او د صورت حال نه ئې خبر کړو. خوشحال د دوئ د دلجوئی د پاره د بنګشو ځنې کلی اوسوزول.

د تاريخ مرصع مؤلف د دريا خان د مړينې په حقله ليکی:

"په دريا خان باندے د درويزه کور راغے. هسے تورے ئے ووهلے چه د بل چا کار نه وه. درے ځلور کسه ئے په هغه ځاے ځويه نمسی ښه ښه ځوانان ئے له لاسه ومړل. دے زخمی ځاے پاتو شۀ نور زخمونه ئے سهل وو. د زانو په سر زخم ئې درد کاوه. مال حال د درويزه تالاشه. عالم خان چه د درويزه ځوے مشر په جمرود مغل څخه وۀ. مغل ته ئے ووئيل چه دما په قبيله دا هنګامه وشوه. او فوځ مدد راکړه. چه زه خپل انتقام واخلم مغل هم دا وخت غوښت چه دوئ هم سره استخوان شکن شی. فوځونه ئے ورسره کړه نور چه د دريا خان زوم وه په چوره کښے هغه ئے مړ کړ. نور ئے په تيراه په دريا خان پسے مهم واخست د دريا خان چه قابل ځوے وه هغه مړ وه دے په ځان زخمی افريدے ئے چه مل ګوند وه ځنے ويزار شۀ. تاب ئے د استقامت نه وۀ په کته ئے واخست قبيلې ورسره خوست ته ئے يوړو.

امیر خان ډیر تالاش په زرو دده وکړ د خوست عالمو سره. آما هغو نه قبلول.
پس له ځور ورځو هم په خوست له هغه زخم مړ شه". (٦٧)

== ☆☆☆ ==

تعین په شاه شجاع پسے دلیر وۀ معظم
وئے یوست له بنګه ګوره چرته ځکوی دم (٦٨)

## دلیر خان:

دده خپل نوم جلال خان وو. او د پښتنو د یوې مشهورې قبیلې داوزی سره ئې تعلق لرلو. دے د بهادر خان روهیله کشر ورور وو. په شاهجهانی دور کښې د بهادر خان روهیله نه د بادشاه زړه بد شو. نو دۀ ته ئې د قنوج او کالپی جاګیرونه ورکړل. او د دغه ځایونو د محالاتو فوځدارئې اوتاکو. دغه رنګ د یو زریز ذات او زریز سورو په منصب ئې سره د "دلیر خان" په خطاب هم اونمانځلو.

دې پورته شعر کښې خوشحال بابَا د دلیر خان ذکر د اورنګزیب عالمګیر د دور په حوالې سره کوی. چې اورنګزیب عالمګیر دلیر خان د معظم خان میر جمله په ملګرتیا کښې د شاه شجاع په تعاقب کښې بنګال ته په مهم اُولیږلو. او هغویٔ شاه شجاع له بنګاله په تیښته مجبور کړو. د دلیر خان په حقله د نور تفصیل د پاره دې ددې مقالې مخ ۴۸۸ اوکتلے شی.

== ☆☆☆ ==

گران ساعت هغه وه چه مے ولیده عثمان
بیا راغے زینو د خیلخانے یو څو خوانان (٦٩)

☆

نه به بیا زینو دادین وی
نه به بیا اسونه زین وی (٧٠)

## زینو:

زینو هم لکه د عثمان او دادین د خوشحال خان خټک یو نزدے مصاحب وو. څکه خو ئې ددغه شعرونو نه علاوه په بیاض کښې هم د خپلو یارانو څخه یادوی. لیکی

"زینو وغیره یاران راغله". (٧١)

دوست محمد کامل هم "زینو د خوشحال بابا یو وفادار دوست لیکلے دے." (٧٢)

==☆☆☆==

هیڅ باور پری نشته
ترین واړه منافق دی
د پښو سپینو تورو
واړه تور او سپین لائق دی (٧٣)

د شرف الدین ولد سړبن د څوی ترین درے ځامن وو. د یو نوم سپین چه د رنګ د سپین والی د کبله ئے سپین نوم شو. او دهغه اولاد هم په سپین ترین یاد شو. او د سپین څلور ځامن وو. یو دوړ وو. دویم سلیمان دریم جام او څلورم پچی. (٧٤)

## سپین ترین:

د سپین ولد ترین څلور زامن وو. د تولو نه مشر ودیر وو. وریسې سلیمان لغ وو. دریم جام نومیدو. او د

ځلورم نوم اوپنځے وو. هم په دغه نومونو ځلور قبيلې اوس هم مشهورې دی. (۷۵)

سپين ترينان ــ د ترينانو دغه ښنه ــ په دوو برخو کی ويشلے. چه بيا وروسته ځينی ذيلی خيلو نه تشکيلوی. لکه په لاندی ډول.

سپين ترينان

ونړيځی — مخيانړی

ونړيځی. يو لړ خيلو نه تشکيلوی چه په دے ډول دی. زيرک زئ. جنگ زئ خرم زئ مخوم زئ، ملانړی، يوسف زئ، عبدل زئ، اسمايل زئ، بابزئ، نيکنام زئ، شيران زئ، اتمل ملانړی، تيانړی او يو لړنور.

مخيانړی.. د سپينو ترينانو دغه ښنه لاندی خيلونه تشکيلوی. لکه عبدالله نړی، خدرانړی، ميرے زئ، عليانړی، اسپانړی، شيخان، ميلمانړی، داد زئ، باز دانړی، کته پال او يو شمير نور. (۷۶)

== ☆☆☆ ==

د ښادی سترګے ډِ وُوزی
پريږده دے ورپسے ژاړی (۷۷)

☆

نه به بيا له ښادی خانه
د ښکار شغل کرم ځو شانه (۷۸)

ښادی: ښادی د نړئ کلی اُوسيدونکے هم د بهرام ملګرے وه. (۷۹)

ښادی د بهرام خان ډير کلک ملګرے وو. چې په ډيرو جنګونو کښې ئې د خوشحال خان په خلاف د بهرام د پاره تورې وهلې دی. لکه د خيبر د جنګ نه پس چې بهرام خان د مهابت خان د وراره بنګالی

خان او څو یوسفزو ملکانو د اشنای په وسیله ځان صوبه دار مهابت خان ته اُورسؤو. او هغه ترې د پلار د نیونې یا د وژنې پروانه واخسته. نو هغه په دغه پروانه د عمل کولو د پاره سرائے پله را روان شو. نو دغه وخت خوشحال خان د قولنج په درد گرفتار وو. بې طاقته وو. اشرف خان ته ئې استازے واستو. چې د بهرام مخنیوے اوکړه. خو د بهرام سره سره د کلیم، ښادی او فیروز نه هم بې غوره کیږه مه. لکه چې لیکی "اشرف خان لره م سړے واستوه چه دا حال پیښ شۀ. ته څه فرمائے. آما ده راته په خپل دستخط وکولیښ چه زر درومه. فکر بر اصل د بهرام د کلیم د ښادی د فیروز وکړه." (۸۰)

"د یو بل جنگ په حقله کوم چې د توتکی په دره کښې شوے وو. دغه جنگ کښې هم ښادی د بهرام خان په پره ولاړ وو. د تاریخ مرصع د لیک له رویه.

"مغل منصوبه بازی اغازه کړه. بهرام وته ئے ووے چه ته پلار د توتکی نه پاڅوه یا اشرف خان رابو او ملک ورکو...... بهرام بد فرجام په ځان مزوکئ ښخے شوے. حکیم، ښادی د فیروز ځامن واړه په جد په دا شول چه که مونږ مرو که ژوو لښکر اوس کړے بویه. او که نه اشرف خان ته به ملک ورکا. مونږ به واړه قتل شو." (۸۱)

خوشحال وائی چې:

> "مونږ د توتکی په دره ورغلو. سواره پلی راته په کمر ولاړ وو. د غشیو شیبه راباند وکړه. یو بدبخت خو په قصد زۀ ویشتم. ژغ به ئے راباند وکړ. چه اے رافضی ولیو رافضی. ښادیګے د نړئ. یو بل بوډا خیل خیر آبادی سواره ولا وو." (۸۲)

دغه رنګ د سونیالی د غابنی په جنګ کښې هم ښادی د بهرام په ملا کلک ولاړ وو. دے جنګ کښې هم بهرام ماتې خوړلې وه. او لښکر ئې په تیښته تر سینده پورې وتې وو.

په دغه لړ کښې خوشحال لیکی:

"که حکم مے وکړے په سیند به په غره به د قتل د اولجے ځائے نه وه. دور اندیشی راته وردیده. واړه

لښکر م تول وساته۔ بدو ته م نه پرېښول۔ د سرائے په کوټ د قيامت ساعت وه۔ تمامه شپه عالم تر سينده پورے ووت۔ بيړئ هم ماته شوه۔ هجوم وه۔ څوک په کوټ کښے پاتو شول۔ بهرام بد فرجام د حکيم دښادی، ضياء الدين وغيره پورے تر سينده په حال تباه ناست وه۔ (۸۳)

==☆☆☆==

که صاحب وه که ترسم وه
خټک ډير د دوئ په خير شول (۸۴)

صاحب:

صاحب په قام موشک وو۔ د تاريخ مرصع د ليک نه جوتيږی چې د خپلې قبيلې مشر وو۔ او د لوئې نامې څښتن وو۔ د خټک تر مينځه چې پخپلو کښې کوم جنګونه شوی دی۔ صاحب په دغه جنګونو کښې کله کله ښکاره شوے دے۔ داسې بريښې چې دے په ابتداء کښې د ستر خوشحال ملګرے او ډليز وو۔ ولې وروسته بيا د بهرام خان خواله تلے دے۔ او د خوشحال بابا خلاف ئې په جنګونو کښې برخه اخستې ده۔ خوشحال بابا د صاحب دغه بې وفائی غندلې ده۔ او ورسره ئې دا هم ژړلې ده۔ چې د صاحب او ترسم نه علاوه نور ډير خټک هم د دوئ په څير اول زما پلويان وو۔ او وروسته د لالچ په سيلاب کښې لاهو شول۔ د بهرام خان خوا ئې اُونيوله۔

== ☆☆☆ ==

په سوات وریږی په سمه شین دے
تر غره به کوز شی لا نمازپښین دے
بته د تالی د عبدل لښکرے
خوشحاله زړه د له وارو شین دے (۸۵)

☆

د طالی ملکی تته آئینه ده
چه څهره پکښے لیده شی رنګا رنګه
طالے چرګه نر ښځے دے په دیدن کښے
لوئے چار خویل لکه د چرګ په هویو کړنګه (۸۶)

☆

د طالی که درته وایم یو کالے دے
دک ښانک دے د وګرے که یا طالے دے (۸۷)

طالے:

"طالی د یو ملک نوم دی." (۸۸)

"د تالے مطلب ملک طالے دے. دا هم د سوات د هغه وخت په مشهورو ملکانو کښے وه." (۸۹)

طالے، طالی یا تالے... د هغه نومونو څخه یو دے. کوم چې خوشحال بابا وران کړی دی. دا نوم زما په خیال طالع مند وو. خو ستر خوشحالؔ بابا ورته یا خو طنزاً تالے، طالے وئیلے دے. او یا ئې د شعری غوښتنو ترمخه د طالع مند نه طالے کړے دے.

لکه چې وړاندې اُولیکلے شول. ملک طالے د خپل وخت یو یاد مشر وو. چې د یوسفزو سره ئې تعلق لرلو. ددهٔ د ژوند په حقله نور معلومات لا تر لاسه شوی نه دی. د "سوات نامې جواب نامه" لیکوال ددهٔ په

بابله څه دا رنګ د خپلو خيالاتو اظهار کوی۔

مانکي خان ملک طالع که مصري خان ؤ
هر يو کس په خپل خپل ځائے مردِ ميدان ؤ
د مغلو دشمنی ته تول په ډله
سره تير وو په خپل سر او په کوډله (۹۰)

==☆☆☆==

په سوات وريږی په سمه شين دے
تر غره به کوز شی لا نمازپښتن دے
بټ د تالی د عبدل لښکرے
خوشحاله زړه دِ له واړو شين دے (۹۱)

☆

اوس په درست اولس کښے ښه ملک عبدل دے
که ئے زر کا خدائے څهره په مرګ بد رنګه (۹۲)

☆

چه عبدل عبدل بالۀ شی پکښے کټ دے
اوس بساند کوته د کلی کتوی ښټ دے (۹۳)

☆

ملکان رالره راغلل يوه ډله
ورسره ملک عبدل وه رېړه کله (۹۴)

☆

په تصنیف ورسره مل ملک عبدل شه
ته به وائیے له اوله یوه په سل شه (۹۵)

☆

خوار عبدل چه الف بے ئے نه دی لوستی
له میاں نوره په تعریف وی سره اختی (۹٦)

☆

یو عبدل دے بل مانکي چه مدعی دی
خدائے که وار راکړه دا دواړه کشتنی دی (۹۷)

ملک عبدال...... (اودل) د خوشحال خان په ژوندانه کی د سوات د یوسفزو یو خان دے (دغلته) خوشحال خان په ۱۰۸٦ هـ کال د سوات په سفر کی ورغلی و. (۹۸)

تاریخ مرصع د ملک عبدل ذکر څه دا رنگ کړے دے.

ملک عبدل، اخترے، طالے مالره راغله چه موږ هم دهمزه په سبب ترتا پورے مختوری یو. دلاسه مو لښکرے وغیره هیڅ ونه شه. اوس همزه مخ تور کړ، مغلی شه، څوے لنگر کوټ لره ورواستوه. اوس هر چه ته وائے هغه به وشی. (۹۹)

## عبدل (اودل خان):

"د عبدل خان خپل نوم عبدالله خان وو. په عبدل خان مشهور وو. مشهوره ده. چې د اولیاء کرامو او صوفیان د ډیرو خدمتونو او همنیشنی په سبب د مرتبې او کراماتو خاوند شوې وو. د سوات په د مغار کلی کښې اُوسیدو. په خپل وخت د سوات یوسفزو په لویو سردارانو کښې وو. خوشحال خان چې کله سوات ته

راغےـ نو اول د همزه خان او بیا نیغ د ملک عبدل خوا له د مغار ته لاړ شوـ د دواړو مـلاقات اول ځل په دمغار کښې شوې وو۔ ملک عبدل ته ئې د خپلې رائې اظهار اوکړو۔ خو هغه پرې د تیرو بدو او د یوسفزی قام د دشمنی په سبب زیات یقین نه لرلو۔ د ملک عبدل اولاد په سوات نیک پی خیلو عـلاقه کښې په اودل خیل مشهور دی۔ اوس هم پکښې ډیر ستر ستر خانان موجود دی۔ په تپه او دوتر تر اُوسه پورې په خپله توله عـلاقه کښې د هر چا نه زیات او طاقتور دی۔" (۱۰۰)

"ددے عبدالله خان متعلق هم یو ډیر دلچسپ روایت د اودل خیلو په مشرانو کښے مشهور دے۔ وائی چه د نیک پی خیلو علیگرامے کلی شاته په طوتکی نومے ځائے کښے د قوم د مشرانو جرګه غونډه شوے وه۔ وخت چه د مانخه راغے نو عبدالله خان د جرګے نه پاسیدو۔ او مانځه له لاړو او بیا لاړ چرته غائب شو۔ روستو ئے خلقو ډیر لټون وکړو خو هغه، هغه چه غائب شو بیا ئے هیڅ درک ونه لګیدو۔ آخر چه خلق ئے د موندو نه مایوس شول نو د جرګے په هغه ځائے ئے د عبدالله خان یو قبر جوړ کړو۔ دغه قبر اوس هم موجود دے۔ دغه مشران د عبدالله خان داسے ناساپی ورکیده د هغه بزرګی ګنړی۔ والله علم۔" (۱۰۱)

==☆☆☆==

ګران ساعت هغه وه چه مے ولیدهٔ عثمان
بیا راغے زینو د خیلخانے یو څو کسان (۱۰۲)

☆

چه اول ماتے ئے ګډه په سورو کړه
په سورو کښې چار د جتہ د عثمانی ده (۱۰۳)

☆

نه به بیا وراندې عثمان ځی
ورپسې به نور سپاهیان ځی (۱۰۴)

## عثمان:

عثمان یا عثمانے د خوشحال خان ختک یو جوخت او کلک ملګرے وو۔ چې د خوشحال خان د ګرفتارۍ په آوان هغه ئې په سرائے کښې ذکر کوی۔ چې زۀ ئې پنج سیری بیړۍ په پښو په سرائے وړویستم۔ نو دغه وخت ډیر سخت ساعت وو۔ چې ما خپل نزدے دوست عثمان اوزینو او د خیل خانې یو څو نور کسان اُولیده۔ چې زما لیدو له راغلی وو۔

دغه رنګ د ډوډې په جنګ کښې هم د عثمان ذکر کوی۔ چې یحیی خان او عثمان ورومبی کسان وو۔ چې د شیر محمد بنګش په سورو ئې ګذارونه اُوکړل۔ او د جنګ اغاز ئې اوکړو۔

......او عثمان د خوشحال خان مصاحب ؤ (۱۰۵)

خوشحال بابا د خپل دے دوست ستائینه یو ځائے داسې کوی۔ مُلا عثمان چه معتمد مردانه وۀ۔ له واړه کدے چونړ وۀ۔ زینو وغیره یاران راغله۔ واړو په دا اتفاق ووے چه جنګ زر بویه او که نه دا پاتو مهمندی راځخه درومی۔ حُکم م د جنګ وکړ۔ د مُلا عثمان سره م سوارۀ روان کړه۔ چه د بهرام په لښکر ورشو۔ (۱۰۶)

دغه رنګ د تاریخ مرصع مؤلف ئې هم ذکر کوی۔ لیکی:

"یو مـلا عثمان خدائے تعالیٰ ئے غریق د بحر رحمت کړه چه دے نمک حـلال قدیمی د دواړو خانانو وه۔ خپل کور خپل مال ئے هر څه تر شاوۀ راغلے مسلح په دروازه کښے د محل ولاړ وه۔ (۱۰۷)

دا د اشرف خان د ګرفتارۍ وخت وو۔ چې مُغلو هغه ګرفتار کړو۔ نو په دغه آوان افضل خان ختک ښکار له تلے وو۔ او مُلا عثمان د دوئ محل ته توپک په لاس ولاړ وو۔ چې هسې نه څوک د کور بې عزتی اوکړی۔

د مُلا عثمان تذکره یو بل ځاے کښې ستر خوشحال څه په دا ډول کوی۔ لیکی:

"عابد خان راځخه خورمو ته لاړ۔ موږئے په غور زندی کښے پریښوو شپه مو

کړه. یو عبدالرحمان او حکیم خان مُلا عثمان، رستم، خان د بنادی خان شمشیر ډنګرزے صالح محمد حسن خیل دا څو سواره راسره وو. کډے د درملکو تر موړه د پاسه وے مورږو لاچۍ ته په څیلمه وو." (۱۰۸)

== ☆☆☆ ==

څه عظمت څه مهموتے دے
چه په مرګ به ئے څوک وياړی (۱۰۹)

عظمت:

عظمت د بهرام خان مرستیال وو. او د خوشحال بابا خلاف به د بهرام خان په پره کښې جنګیدو. لکه تاریخ مرصع چې د "توتکی" د جنګ په آوان ددهٔ په حقله لیکی.

"عظمت او یو محموتی د حکیم خوے دوئے درے سواره لکه کړه. ما توره وکښلی وه. پرے راغلم تر ماتیږ شهٔ. اشرف خان ګزار د نیزے لکه وه هسے په عظمت وکړ. کوږشه ولے پرے نه ووت. عابد خان په نیزه وواهه د آسه پریوت. هسے توره ئے وکښه ګزار وته جوړ شهٔ. که بیا په عظمت راغلم. توره په لاس ولاړ دے. څوک ئے د ملا خطے نه وهی. ما توره ورواچوله. دوه تورے مے پرله پسے په سر سر وواهه. اشرف خان ووے چه د ساتلو دے.

په ما دده وئيل بد ولګيدل حکم م ورکړو چه وهئ ئې. دے هم سر څيرلے پرهاڑلے وه. کښيناست ما بيا توره ور واچوله. آخر آواز ئې دا وه چه وهه مائی باپ ئې. په دا مينځ کښې جليل خاص خيل پرے راکوز شه. رسائے وواهه کار ئې تمام شه." (۱۱۰)

== ☆☆☆ ==

عنايت سردار چه څه ملک ميرے وه
د ډوډے په جنګ شول مالګه د طعام (۱۱۱)

## عنايت سردار:

عنايت، په اصل بنګش وو. او د ملک ميرو څخه وو. دے د شير محمد خان بنګش پلوی وو. او د خپلې قبيلې مخوريز سړے او مشر وو. د ډوډې جنګ د شير محمد خان بنګش او د خټکو تر مينځه شوے وو. په دغه جنګ کښې خټکو ميدان وهلے وو. د جنګ په ابتداء کښې د خټکو لښکر درې کوټونه مسمار کړل. ډير بنګش ئې اُووژل. کوم چې پاتې شول. نو هغوئ د ډوډې په قلعه کښې ننوتل. اؤ پناه ئې اُوغوښته. پناه غوښتونکو عنايت سردار د قلعې نه رابهر کړو. چې د خټکو سره د سولے او امن جرګه اُوکړو. بل خوا د خټکو سواره په قلعه وراغلل. چې د قلعه نه پرې ډزې اُوشوې. دلته امن له راغلے عنايت سردار هم چا په ډزو مړ کړو. په دغه بره شعر کښې خوشحال بابا د نورو ملک ميرو سره د عنايت سردار دغې افسوسناک مرګ پله اشاره کړې ده.

==☆☆☆==

نه حمید شته نه کجے شته نه کاچو شته
څه له نورو سره سروهے له سنگه (۱۱۲)

☆

د کاچو نمسے نه خان دے نه ملک دے
کالکوجن دروغژن غشے د هلک دے (۱۱۳)

## کاچو خان:

"کاچو خان د ملک احمد خان بابا د وفات نه پس د یوسفزو سردار ټاکلے شوے وو. د کاچو خان بابا د پلار په نوم کښې د پوهانو ډیر اختلاف دے. څوک دده د پلار نامه مست یادوی. او څوک ئې الف خان بنائی. څوک وائی چې الف خان دده نیکه وو. په هر طور د کاچو خان شجره نسب څه دا رنگ جوړیږی.

کاچو خان (مورث اعلیٰ کاچوخیل) ولد مست ولد الف خان ولد ابراهیم ولد عبدالعزیز (مورث اعلیٰ عزی خیل) ولد علی (علی خیل) ولد حلیم (فرزند رانیزی زوجه اکو).

ددې پورته ذکر شوې شجرې په رڼا کښې مونږ وئیلې شو. چې کاچو خان په قام عزی خیل، علی خیل رانیزے، اکوزے، یوسفزے وو. داسې بریښې چې کاچو خان د ملک احمد بابا سره د افغانستان نه راغلے وو. د علم او پوهې خاوند وو. او ډیر عمر ئې بیاموندې وو. کاچو خان نه یوازے د یوسفزو سردار وو. بلکې د اتمان خیلو، محمدزو، او ترکلانو ټولو دده سرداری او خانی منله. او دغه وجه ده چې تر اُوسه دده سبری ته خان سبری، دده مخلې ته خان پلؤ او دده جمات ته خان جمات وئیلې شی. اوس هم دده اولاد په خان کور یا کاچو کور یادولې شی." (۱۱۴)

" تیسرا خاندان اله ڈھنڈ قوم رانی زئی میں سے علی خیل عزی خیل ہیں۔ جنکی خاندان کو کاچو کور کہتے ہیں۔اس خاندان کے خانوں کا اختیار پہلے بہت تھا۔اب اوپر کے علاقہ رانزئ چھ ہزار کا حکم ہے۔فی الحال صحبت خان اله ڈھنڈ والا باوجود نو عمری ایک مدبر اور ہوشیار خان ہے۔" (۱۱۵)

کاچو خان بابا یو لوئې زاهد، عابد، عالم او روحانی شخصیت وو. او د عبدالحلیم اثر افغانیؔ د لیکنې تر مخه ئې د شیخ محمد طاهر بندگی لاهوری نه په سلسله قادریه کښې لاس نیوه کړې وه. او هغه ماذون کړے هم وو. (۱۱۶)

د خوشحال بابا ددې بره یادونې نه دا خبره را ډاګې ته کیږی. چې خوشحال بابا سوات ته د ورتګ په وخت کاچو خان وفات شوے وو. او سرداری د هغه نمسی (الهداد) کوله. ځکه خو دغه سردار خوشحال بابا د کاچو نیکه په حواله یاد کړے دے.

د کاچو خان بابا مزار په اله ډهنډ ډهیری کښې دے.

== ☆☆☆ ==

نه حمید شته نه کجے شته نه کاچو شته

څه له نورو سره سر وهے له سنګه (۱۱۷)

## خان کجو / کجو خان :

"خان کجو یا کجو خان رانړیزے هم د پښتنو یو مشهور مشر او مؤرخ تیر شوے دے. ددهٔ د کورنئ به ډیر زیات قدر کیدو، دے د ۹۰۰هـ خواوشاه تېر شوے دے." (۱۱۸)

"کجو خان د رانړیزئ د مشهور خیل ازی خیلو سره تعلق لری. وئیلے شی چه ددغے کورنئ په دغه علاقه کښے ډیر لوئے نوم خور وو. کجو خان د شیخ ملی نه پس په پښتنو کښے ډیر یاد سړے وو." (۱۱۹)

د تاریخ مرصع مؤلف د خان کجو په حقله لیکی.

"او د بهزاد چه ځوئ د سدو وهٔ یو فرزند وشهٔ ورته ئے خان کجو وئیل. واړه یوسفزی مطیع او فرمانبردار ددهٔ وو. او وائی چه خواجه خضر پرے پیښ

شوے اوله شیر شاه بادشاه سره ئې دم د مخالفت وهلے وه۔" (۱۲۰)

"د پښتنو په هغه جنګ کښے خان کجو مشر وو۔ کوم چه د زاړه نوښار سره خوا کښے شیخ تپور سره شوے وو۔ تر کلانو، ګدون، محمد زو، او اتمان خیلو قبائیلو په شریکه د کجو خان مشری منلی وه۔ او دغه وجه وه چه د نوښار سره خوا کښے د جنګ د پاره هم ددغو قبیلو نه شاځلمی یو لک خوا و شا په ۹۵۷هـ کښے راغونډ کړل۔ د پښتنو دغه درونډ مشر د شاه منصور (صوابۍ) سره شپږ میله فاصله کښے په یوه اوچته غونډۍ ښخ دے۔ دے غونډۍ ته کجو غونډۍ وائی۔ وئیلے شی چه دده اولاد اوس کلا بټ‍ه کښے وسی۔ او د هغه ځائے خلق ورته ډیر په درنه سترګه ګوری۔ د خان کجو د دور د پښتنو قبائیلو په خپلو کښے جنګونو نه دا معلومیږی چه خان کجو هم د طبیعته لږ تریخ وو۔ او دغه وجه وه چه د دلازاکو غوریاخیلو او یوسفزو خپلو کښے سخته نالګی وه۔" (۱۲۱)

د خان کجو په حقله وئیلی شی۔ چې دهٔ د پښتنو یو تاریخ هم لیکلے دے۔ په لړ کښې میجر راورتی لیکی۔

> "په پښتو کښې یو بل تاریخ خان کجو رانړیزی لیکلے دے۔ دغه تاریخ په ۱۴۹۴ء کښې لیکلے شوے وو۔" (۱۲۲)

حبیبی صیب د مشهور مستشرق مارګن سترن په حواله ددغه تاریخی کتاب په حقله لیکی۔

> "چه راورتی د پښتو ډکشنری په مقدمه کښې کښلی دی۔ چه له ده څخه د خان کجو رانی زی یو پښتو تاریخ شته چه په هغه کښې د پښتنو تاریخی حوادث او وقائع لیکلی دی۔" (۱۲۳)
>
> "د خان مذکوره د وفات نه تر ډیرے زمانے پورے د سوات او سمے په یوسفزو څوک اهم شخصیت په نظر نهٔ راځی او دا بیا په سوات او سمه کښې طوائف الملوکی دور وو باچا کړدی وه۔ قبائل د اقتدار په جنګ کښې اخته وو۔" (۱۲۴)

==☆☆☆==

یو میاں خان وہ بل مانکی وہ بل سنگر وہ
یو سنگر څه خو په پوهه کښې بهتر وه (۱۲۵)

☆

یو عبدل دے بل مانکی چه مدعي دی
خدائے که وار راکړه دا دواړه کشتنی دی (۱۲۶)

## مانکی:

د یوسفزو په مشرانو کښې یادولے شی۔ دے یو بهادر او زړور انسان وو۔ د مغل سره ئې د سپی او د پیشو وه۔ په دے لړ کښې ئې د هیڅ قسمه قربانی نه دریغ نه کولو۔ ددهٔ اولاد په مانکی خیلو یادیږی۔ او اوس هم د سوات په بانډی او ننګولی نومې کلو کښې استوګن دی۔ (۱۲۷)

==☆☆☆==

مستجابؔ مهمند که چرګه د مغل دے
زهٔ خوشحال خټک خو باز یم څائے مے غر (۱۲۸)

☆

مستجاب غریب ئے ووژے په ظلم
د خوشحال منصب ئے واخست کوم ګناه دے (۱۲۹)

☆

هند ته ئے روان کړم بد رقه مے مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوری ارباب (۱۳۰)

## مستجاب خان:

دده شجره نسب څه په دا ډول ده.

"مستجاب خان زوے د آزاد خان زوے د محبت خان زوے د ملک محب زوے د خانو زوے د ماشک خان زوے د ګکهر (ککر خان)." (۱۳۱)

دوست محمد خان کامل صیب د "تاریخ مرصع" په حواله دده د دوه ترونو بوچه خان او بازید خان ذکر کوی." (۱۳۲)

مستجاب خان په ختټه غوریه خیل مومند وو. هغه د خپلې قبیلې سردار وو. یو پوهه، زیرک، مخوریز او مدبر انسان وو. په دې چې خوشحال خان کله گرفتار کړے شو. او هغه دهلی ته بیړی په پښو بوتلے شو. نو د نورو خانانو ملکانو نه علاوه مستجاب مومند دده د نګرانې دپاره اوټاکلے شو. او بیا په کوټله محسن خان کښې هم دده د نظر لاندې بندیوان اوساتلے شو. په دغه آوان د خوشحال خان په رنګ د لوئے قبیلې خاوند او سردار نګرانی کول څه اسان کار نۀ وو.

او نه دغه کار د هر چا د وس خبره وه. خو دغلته مونږ وینو چې مستجاب خان مومند په دغه ذمه وارۍ مامور کړے شوے دے. د څه نه چې د مستجاب خان مومند د مخورتیا اندازه په اسانه لګیدې شی. دغه رنګ د خیبر د جنګ په موقعه هم دغه مستجاب خان مومند دے. چې صوبه دار محمد آمین خان ئې د آفریدو او ورکزو سره د مصلحت د پاره لیږی. څه که هم دغه مصلحت ناکامه شو. ولې مونږ ته ترې د مستجاب خان مومند د شخصیت لوړتیا او اهمیت په وراندې راځی. چې د هغه په ځان کښې اورمرو داسې خوبۍ موجود وې. د کومو په بناء چې ددغې مهم او نازک کار د پاره صوبه دار هغه استوؤ. خو د افسوس وړ خبره دا ده. چې د خیبر د جنګ د ناکامی نه پس فدائی خان هغه بې ګناه اُووژلو. د مستجاب مومند د مرګ په حقله د معزو الله خان مومند زوئے نعیم الله څه په دا ډول لیکی.

"مُلا نور د ښار د څو کسانو نه یو کس وو. دۀ ورله غسل ورکړو. او هم په هغه جامو کښې ئې ښخ کړو. او د جنازې مونځ ئې پرې هم اوکړو. خو د قبائیلو یو کس ئې هم په جنازه حاضر نۀ شو. صرف تاج خان په دغه موقع حاضر وو. هغه هم په څه کار یا د مصلحت په غرض راغلے وو. د هغه د غسل او جنازې د پاره شیخ حبیب هم راغوښتې شوے وو. چې حاضر وو."

وړاندې لیکی. " د کوټله محسن خان د رنګونې د ورځې نه پس په دویمه ورځ ابراهیم خان چې په دغه جنګ کښې زخمی شوے وو. مړ شو. په اتمه ورځ د جمعې جهان خان مړ شو. او په دیارلسمه ورځ د ربیع الثانی چې د چار شنبې ورځ وه په کال ۱۰۸۳ هـ کښې مستجاب په حق اُورسید. (۱۳۳)

== ☆☆☆ ==

څه عظمت څه مهموتے دے
چه په مرګ به ئے څوک وياړی (۱۳۴)

مهموتے:

د محمود (محمودے) وران کړے شوے شکل دے. د دهٔ دپلار نوم حکيم وو. او عظمت ئې ورور نوميدو. مهموتے د بهرام خان کلک ملګرے وو. او د بهرام خان په پره کښې د خوشحال خان په خلاف جنګيدو. تاريخ مرصع ئې د "توتکی درې" په انښته کښې څه دا رنګ ذکر کوی.

"عظمت او يو محموتی د حکيم څوئے دوے دزے سواره لکه کړه. ما توره وکښلی وه. پرے راغلم تر ماتير شهٔ. اشرف خان ګزار د نيزے لکه وه هسے توره ئے وکښه. کوږ شه ولے پرے نه ووت. عابد خان په نيزه وواهه. د.اسه پريوت. هسے توره ئے وکښه. ګزار وته جوړ شهٔ. په هغه محموتی پسے، هغه ئے هم پريوست. عابد خان هم د آسا پريووت. هغه پرے راغے بيا چست پاڅيد. ورسره غاړه غړئ شه. په اوبو کښے ئے د هغه سر ومانده. دے هم پاس په ډنډ کښے پرے پريووت. که د ما نظر پرے وشه حيران شوم" (۱۳۵)

== ☆☆☆ ==

يو مياں خان وه، بل مانکی وه بل سنګر وهٔ
يو سنګر څه خو په پوهه کښے بهتر وهٔ (۱۳۶)

## مياں خان:

"مياں خان د سوات د يو سفزيو ملک و" (۱۳۷)

مياں خان له دغو دريو (مياں خان ، مانکی، سنګر) ملکانو څنې يو وو. چې د سوات د لنګر خټک کلی ته ئې خوشحال خان خټک ته د مياں نور سره د مناظرې کولو خبر راوړے وو. او ظاهراً ئې خپل خان

مینځ کړے څرګند وو. خوشحال خان وائی چې زۀ د لنګر خټک په کلی کښې د توت د ونې د سیورې لاندې په آرام مـلاست ووم. چې دا ملکان راغلل. زۀ ئې له خوبه راویښ کړم. راته په خندا ئې اُوویل چې خوشحال خانه زوروره پاڅه په درست سوات کښې دې غوغا ګډه کړې ده. او ته لګیا ئې خوب کوے. میاں نور درته د مناظرې دپاره د رود په غاړه ناست دے. موږ ستاسو تر مینځه د فساد د مخ نیوی د پاره راغلی یو. یا میاں نور ته جواب ورکړه. او یا د اخون درویزه کتاب مخزن اُومنه. ځکه د سوات د ټولو مـلایانو هم دغه خوښه ده. په دې کښې ستا خیر دے. ما ورته اووئیل چې ما د محمدﷺ دین اوپه هغه نازل شوے قرآن منلے دے. ددې نه عـلاوه بل کتاب چا منلے دے؟ مناظره مو اُوکړه. او ما برے بیامونده. (۱۳۸)

"میاں خان د سوات د یوسفزو یو لوئے خان وو. دے د خپل وخت یو بارعبه او مخوریز سړے وو. د خوشحال بابا سوات د راتګ په آوان دے د سوات په اهم او خاص کسانو کښې یادولے شی. اوس هم ددۀ په نوم "میاں خان" نومې کلے آباد دے. چې په ضلع مردان کښې راغلے دے. (۱۳۹)

== ☆☆☆ ==

درخو خود په آدم خان باند شیدا وه
تر دا مینځ د میروګی ژبه بـلا وه (۱۴۰)

## میروګے:

میرو قوال د آدم خان هغه میروګے اشنا ښکاری. چه په هره سخته کښے د هغه ملګرے وو. میرو د شاه جهان یا جهانګیر بادشاه په وخت کښے هم ژوندے وو. او دا خبره دے خیال ته تقویت رسوی. چه د آدم خان او درخانئ د رومان زمانه د اکبر بادشاه د حکومت په آخری دور کښے تیره شویده. (۱۴۱)

"میرو د آدم خان...... خوږ او غرضي دوست دے. آدم خان د میرو په ملګرتیا کښے د بسکئے د واده په غونډه کښے شریکیږي ...... او آدم خان د بسکئے په واده کښے په درخو میئنیږي. که میروګے نه وے. نو د آدم خان او دُرخانے مینه به دومره کمال ته نه وه رسیدلے." (۱۴۲)

نقل دے له میرو نه چه د آدم خان ډیر اشنا او خاص ملګرے وو." (۱۴۳)

ددې بره ذکر شوو بیانونو په رڼا کښې مونږ وڅیلې شو. چې میرو دآدم خان ډیر نزدے، اعتباری او کلک ملګرے و. ځکه خو د آدم خان درخانی په توله قیصه کښې میرو په آدم خان پسې لکه د سیورے ورپسے دے. چرته ئې هم یوازې نه پریږدی. او په هره سخته او مشکل کښې میرو د آدم خان سره د خپلې کلکی یاری ثبوت ورکوی. لکه یو ځل چې آدم خان د دُرخانی مـلاقات له د شپې ځی. نو دغه وار میرو خان د مرګ کومې ته سپاری او آدم خان ته وائی:

"ته صبر کوه. زه ورکوزیږم چه حال ئې دغولی د څوکیدارو زده کړم. ځکه چه که چرے ته ناخبره په اکثر ورشے، چرته ضرر درته پیښ نه شی. اوکه په ما څوک خبر شی او مرے کړی. هم هیڅ پرواه نه لرم. تحقیق ئے وکړ. قریب هیڅوک نه وو. آدم خان ته ئے اشارت وکړ. جوړ هغه هم په دے اندر پایه دروخوت." (۱۴۴)

دغه رنګ کله چې هم په دغه موقعه آدم خان د درخانی نه رخصتیږی. نو درخانی د آدم خان نه د میرو پحقله تپوس کوی چې دا څوک دے.

آدم خان اووے "چه دا زما یار دے. په هر کار کښے راسره مل دے. د هیڅ کار پرده مے ترې نشته ده." (۱۴۵)

بیا دُرخانی میرو ته څلور خبرې اوکړې.

"ږونبۍ دا چه ډیر فهم پر کوه. آدم خان به پس د نمر ختوبے خوده شی. نو ته وایه چه هسے طبیعت ئے خپه شوے دے. چه څوک پرے پوهـ نه شی.

دوهم دا چه یو لوړ دالان وله د ناستے دپاره جوړ کړئ چه دے پرګذران کوی ځکه چه زما له لوری باد پر لګیږی. دے به پائی اوکه نه مړ به شی.

دریم دا چه څوک مـلاقات ورسره کوی نو ورتر غاړه وځی دے نه. بلکه په تشو لاسونو د صبر کوی.

او که چاسره ترغاړه وځی نو زما خوشبو ئې به ئے له جامو نه لاړه شی. جوړ هلاک به شی. څلورم دا چه که چیرے زه او آدم خان مړه شو نو ته له دے ملک اووځه او که نه وی ړوند به شے"(۱۴۶)

== ☆☆☆ ==

پښتانهٔ واړه نادان د جهل کان دي
که دِ واورید د یوسف لا په بل شان دي (۱۴۷)

## یوسف:

"هم ددغه قرشبون د اولاد نه یوسفزی، محمد زی، خلیل، مهمند، داودزی او ککیانړی قبیلے پیدا شوے. اوس د یوسفزو شجره څه داسے ده. چه د سړبن ځوئ قرشبون، د قرشبون یو ځوی کند، د کند یو ځوی خشی او د خشی یو ځوی مندے وو. د مندی دوه ځامن وو. چه د یو نوم یوسف وو او د بل عمر. د یوسف اولاد د یوسفزی قبیلے شکل اختیار کړو او د عمر اولاد په مندنړ مشهور شول. خو په سترے کښ دا ټول بیا یوسفزی بلل شی." (۱۴۸)

د یوسف پنځه زامن وو. چې اکو، موسیٰ، عیسیٰ، ملی او اُوریا نومیدل. او د مندن د یوسف د لورنه څلور زامن وو. منو، رزړ، خضر او محمود عرف ماموـ د دوئ ټولو اولاد په یوسفزو یادیږی. البته پخپلو کښې د پیژندنې د پاره د یوسف او مندن په بیلا بیله نامو یادولې شی. (۱۴۹)

"پته دی پاتی نه وی. چې د عیسیٰ یو زوی دده تر مړینی وروسته هم زیږیدلی ؤ. چې اکا نومید. اولاد یی په اکازیو سره شهرت لری. د عیسیٰ د دری واړو زامنو اولاد ه د تورغره نه نیولی د مهابڼ ترغرونو پوری میشته دی. او اکازی د اباسین په ختیځو غاړه او مداخیل د اباسیند په لویدیځه غاړه آباد دی.

د یوسف د دوو زامنو اولاده موسیٰ اؤ مالی اولاده په بونیر کی آباد دی.همدا راز د یوسف د پینځو زامن په جمله کی اوریا له دی کبله په بادی سره مشهور ؤ. چې دی ډیر کبرجن انسان ؤ. اولاد ئې د بادی خیلو په نامه یادیږی. دیوسف د پینځم زوی نوم اکو ؤ. چې اولاده یی په کوز او بر سوات، دیر او پنجکوړی کی میشته دی." (۱۵۰)

# حواله جات


۱. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) ـ ۱۴۷ مخ
۲. تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ـ ۳۲۱ مخ
۳. همدغه کتاب ـ ۴۹٦ مخ
۴. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) ـ ۸۸۸ مخ
۵. تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ـ ۳۲۰ مخ
٦. همدغه کتاب ـ ۳۲۳ مخ
۷. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۸۴۷ مخ
۸. سوات نامه جواب نامه (از رحیم شاه رحیم) ـ ۱۰۲ مخ
۹. تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ـ ۳۲۴ مخ
۱۰. همدغه کتاب ـ ۲۷٦ مخ
۱۱. همدغه کتاب ـ ۳۲۴ مخ
۱۲. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) ـ ۳۵۳ مخ
۱۳. همدغه کتاب ـ ۴۷٦ مخ
۱۴. همدغه کتاب ـ ۵۲٦ مخ
۱۵. همدغه کتاب ـ ۵۲۷ مخ
۱٦. همدغه کتاب ـ ۷۲۱ مخ
۱۷. همدغه کتاب ـ ۸۲۳ مخ
۱۸. همدغه کتاب ـ ۹۲۲ مخ
۱۹. سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ـ ۵۳ مخ
۲۰. همدغه کتاب ـ ۵۷ مخ
۲۱. سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) ـ ۱۱ مخ
۲۲. ایمل خان ـ (از م. سیال) ـ د ۵ مخ نه تر ۸ مخ پورې لندیز
۲۳. سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) ـ ۱۱ مخ
۲۴. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) ـ ۱۷۴ مخ
۲۵. تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ـ ۳۱۳، ۵۰۱ مخونه لندیز

۲٦- دیوان خوشحال خان خټک (مرتبه حاجی پُردل خان خټک) دوئمه حصه - ۲۲۷ مخ
۲۷- تذکره (از خان روشن خان) - ۳۸۰، ۳۸۱ مخونه
۲۸- تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی (از خواجه نعمت الله هروی) - ۴۲۱ مخ
۲۹- سیال کاکړ: ترینو۔ ناشر: پښتو ادبی دُنیا کوته۔ مطبع: اسلامیه پریس کوته۔
سن اشاعت جنوری ۱۹۷۳ء - ۹ مخ
۳۰- رحمت خان حافظ: خلاصه الانصار۔ مترجم محمد نواز طائر۔ ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی۔مطبع: حمیدیه پریس پېښور۔ سن اشاعت: ۱۹۷۳ء - ۱۰۱ مخ
۳۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) - ۵۴٦ مخ
۳۲- مأثر الامراء (از صمصام الدوله شاهنواز خان) ج ۲ - ۴۰ نه تر ۵۲ مخونه۔
۳۳- خان منشی محمد مظفر حسین۔ نامه مظفری۔ ناشر: نه لری۔ مطبع: مجتبائی لکهنؤ۔
سن اشاعت: ۱۹۱۷ء۔ ۲۲۵ مخ
۳۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) - ۸۸۸ مخ
۳۵- همدغه کتاب - ۵۹۷ مخ
۳٦- مغلیه سلطنت کا عروج و زوال (از ار۔پی۔ ترپاتهی) - ۱۴۴ مخ
۳۷- جمید الله صاحبزاده۔ شیر شاه۔ ناشر: پښتو اکیډیمی کوئټه بلوچستان۔ مطبع: بولان مسلم پریس کوئیټه۔ سن اشاعت: ۱۹۷۷ء۔ ۱۳، ۱۴ مخونه
۳۸- همدغه کتاب - ۱۵ مخ
۳۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) - ۸۴۰ مخ
۴۰- همدغه کتاب - ۸۴۷ مخ
۴۱- همدغه کتاب - ۹۰۰ مخ
۴۲- سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) - ۳۰ مخ
۴۳- طائر، پروفیسر محمد نواز : ادب تراش۔ د پښتو اکیډیمی ټائپ شوی نسخه۔
۲۸، ۳۲، ۵٦، ٦۱ مخونه
۴۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) - ۸۴۸ مخ
۴۵- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۷۸ مخ
۴٦- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کاملؔ مومند) - ۵۲۷ مخ
۴۷- همدغه کتاب - ۵٦۹ مخ

۴۸۔ همدغه کتاب ۔ ۵۷۰ مخ
۴۹۔ همدغه کتاب ۔ ۹۲۳ مخ
۵۰۔ عبدالحمید: بادشاه نامه۔ به تصحیح مولوی کبیر الدین۔ ناشر: نه لري۔ مطبع: د کلکتې۔
سن اشاعت ۱۸٦۷ء۔ حصه اول ۔ج ۱ ۔ ۱۱۹ مخ
۵۱۔ عالمگیر نامه (از محمد کاظم) ۔ ۴۴۲ مخ
۵۲۔ مأثر الامراء (از صمصام الدوله شاهنواز خان) ج ۲ ۔ ٦۷٦ مخ
۵۳۔ سیال کاکړ پروفیسر: پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې۔ ناشر: بابر ستیشنرز، بک سیلرز کوټه۔
مطبع: پاکستان پرس کوټه۔ سن اشاعت: ۱۹۷٦ء ۔ وړومبی ټوک ۔ ۳۹٦ مخ
۵۴۔ فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۸۳ مخ
۵۵۔ خوشحال خټک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) ۱۰٦ مخ
۵٦۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۲۸٦ مخ
۵۷۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) د ۵۰۲، ۵۰۳ مخونو لندیز
۵۸۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۲۸٦ مخ
۵۹۔ همدغه کتاب ۔ ۳۵۳ مخ
٦۰۔ همدغه کتاب ۔ ۴۷٦ مخ
٦۱۔ همدغه کتاب ۔ ۵۲٦ مخ
٦۲۔ همدغه کتاب ۔ ۵۳ مخ
٦۳۔ همدغه کتاب ۔ ۵۷ مخ
٦۴۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک)۔ (سریزه)، ک ط مخ
٦۵۔ اپریدی، میاں خان: پُښتانه۔ د قبائیلو مستقل ریاست کابل۔ دولتی مطبعه کابل۔
سن اشاعت: ۱۹۷۱ء۔ دوئم ټوک ۔ ۷ مخ۔
٦٦۔ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۔ ۱۰۷ مخ
٦۷۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۵۰۳ مخ
٦۸۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۹۴۵ مخ
٦۹۔ همدغه کتاب ۔ ۹۳۷ مخ
۷۰۔ فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۔ ۸۳ مخ
۷۱۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۳۰۷ مخ

٧٢- خوشحال خان خټک (اردو) از دوست محمد خان کامل مومند) ٨٩ مخ
٧٣- دیوان خوشحال خان خټک (مرتبه حاجی پُردل خان خټک) دوئمه حصه- ٢٣٧ مخ
٧٤- خلاصه الانساب (از حافظ رحمت خان) - ١٠١ مخ
٧٥- تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی (از نعمت الله هروی) - ٤٢٣ مخ
٧٦- ترینو (از سیال کاکړ) ١٤، ١٥ مخونه
٧٧- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ٤٢٦ مخ
٧٨- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ٨٣ مخ
٧٩- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ٤٢٦ مخ (حاشیه)
٨٠- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ٣٠٢ مخ
٨١- همدغه کتاب - ٣٠٢ مخ
٨٢- همدغه کتاب - ٣٠٨ مخ
٨٣- همدغه کتاب - ٣١٤ مخ
٨٤- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ١٧٤ مخ
٨٥- همدغه کتاب - ٧٤١ مخ
٨٦- همدغه کتاب - ٨٤٧ مخ
٨٧- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ٦٧ مخ
٨٨- سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) ٣٠ مخ
٨٩- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ١١٧ مخ
٩٠- سوات نامه جواب نامه (از رحیم شاه رحیم) ١٠٢ مخ
٩١- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ٧٤١ مخ
٩٢- همدغه کتاب - ٨٤٧ مخ
٩٣- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ٦٧ مخ
٩٤- همدغه کتاب - ٧٦ مخ
٩٥- همدغه کتاب - ٨٨ مخ
٩٦- همدغه کتاب - ٨٨ مخ
٩٧- همدغه کتاب - ٩٠ مخ
٩٨- سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) - ٣٠ مخ

۹۹- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۳۲۷ مخ
۱۰۰- رحیم شاه رحیمؔ: ملک عبدل. ناچاپه مقاله ـ ۱ مخ
۱۰۱- رحیم شاه رحیمؔ: پښتو ګنه. (اعتراف نمبر) مقاله ۰د سوات ادیب تاج محمد خان زیب سر)
ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی. مطبع نه لری. د نومبر، دسمبر ۱۹۷۸ء ګنه. ۳۱۲ مخ
۱۰۲- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۹۳۷ مخ
۱۰۳- همدغه کتاب - ۸۵۸ مخ
۱۰۴- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ـ ۸۳ مخ
۱۰۵- خوشحال خان خټک (اُردو) از دوست محمد خان کاملؔ مومند. ۱۰۶ مخ
۱۰۶- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ـ ۳۰۷ مخ
۱۰۷- همدغه کتاب - ۴۹۳ مخ
۱۰۸- همدغه کتاب - ۵۰۵ مخ
۱۰۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۴۲٦ مخ
۱۱۰- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ـ ۳۰۸، ۳۰۹ مخونه
۱۱۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۵۵۸ مخ
۱۱۲- همدغه کتاب - ۸۴۸ مخ
۱۱۳- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ـ ٦۷ مخ
۱۱۴- کاچو خیل، محمد عتیق رومانی: د یوسفز سردار کاچو خان باباؒ. (ناچاپه مقاله)
۱۱۵- حیات افغانی. (از محمد حیات خان) ـ ۱۷۴ مخ
۱۱٦- روحانی ترون اور روحانی رابطه. (از عبدالحلیم اثر افغانیؒ) ـ ۵۰۷ مخ
۱۱۷- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۸۴۸ مخ
۱۱۸- د پښتو د نثر تاریخی او تنقیدی جائزه (از بی بی مریم) ـ ۵۵ مخ
۱۱۹- د پښتو د نثر تاریخ (از پروفیسر افضل رضا) ـ ۱۱۸ مخ
۱۲۰- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ـ ٦۱۰ مخ
۱۲۱- د پښتو د نثر تاریخ (از پروفیسر افضل رضا) ـ ۱۱۸، ۱۱۹ مخونه
۱۲۲- راورټی، میجر هانری جارج: اے ډکشنری آف دی پختو، پشتو ار دی افغان لینګویج.
ناشر: رائے ګلاب سنګهـ لاهور. مطبع: نه لری. سن اشاعت ۱۹۰۱ء. ۱۰ مخ

۱۲۳ـ حبیبی، عبدالحیٔ: د پښتو ادبیاتو تاریخ۔ ناشر: پښتو ټولنه کابل۔ مطبع: دولتی مطبعه کابل۔
سن اشاعت: دوهم ځل ۱۹٦۳ء۔ دوهم ټوک۔ ۲۴۳ مخ

۱۲۴ـ سواتی، سرن زیب، تاریخ ریاست سوات۔ ناشر: عظیم پبلشنگ هاؤس پشاور۔ مطبع: پبلک ارټ پریس
پشاور۔ سن اشاعت: ۱۹۸۴ء ـ ٦۰، ٦۱ مخونه

۱۲۵ـ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ـ ۷٦ مخ

۱۲٦ـ همدغه کتاب ـ ۹۰ مخ

۱۲۷ـ سوات نامه جواب نامه (از رحیم شاه رحیمؔ) ۱۰۲ مخ نثری خلاصه

۱۲۸ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۵۲٦ مخ

۱۲۹ـ همدغه کتاب ـ ۸۴۹ مخ

۱۳۰ـ همدغه کتاب ـ ۹۳٦ مخ

۱۳۱ـ سائل، خواجه محمد : د باړه مومند تاریخ۔ ناشر: خواجه محمد سائل۔ مطبع: نه لری۔
سن اشاعت: ۲۰۰۱ء ـ دوئم جلد ـ شجره د ٦۰ او ٦۱ مخ ترمینځه

۱۳۲ـ On a Foreign Approach to Khushal, Dost Muhammad Khan Kamil Mohmand, Page: 59

۱۳۳ـ نعیم الله۔ گلستان سعدی۔ قلمی نسخه۔ پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی د کتابتون نمبر ۵٦۷۔
د لیک کال ۱۲۴۳هـ

۱۳۴ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۴۲٦ مخ

۱۳۵ـ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ـ ۳۰۸ مخ

۱۳٦ـ سوات نامه (مرتبه همیش خلیلؔ) ـ ۷٦ مخ

۱۳۷ـ همدغه کتاب ـ ۴۸ مخ

۱۳۸ـ همدغه کتاب ـ د ۲٦۳ مخ نه تر ۲۷۲ د شعرونو نثری لنډیز

۱۳۹ـ سوات نامه جواب نامه (از رحیم شاه رحیمؔ)۔ د ۱۰۱ مخ د شعرونو لنډیز

۱۴۰ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومندؔ) ۲۸۵ مخ

۱۴۱ـ مثنوی د ادم درخانۍ۔ (از صدر خان خټک) ۲۹ مخ

۱۴۲- آدم درخانئ یوه څیړنه (از پروفیسر محمد نواز طائر) - ۱۲۲ مخ

۱۴۳- قصه د آدم خان او د درخانئ (از مولوی احمد) - ۱ مخ

۱۴۴- همدغه کتاب - ۳۲ مخ

۱۴۵- همدغه کتاب - ۳۸ مخ

۱۴۶- همدغه کتاب - ۳۸، ۳۹ مخونه

۱۴۷- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۵۹ مخ

۱۴۸- خان، محمد آصف: تاریخ ریاست سوات. ناشر: محمد آصف خان. مطبع: منظور عام پریس پېښور- سن اشاعت نه لری. ۳۵، ۳٦ مخونه

۱۴۹- خان، روشن خان: یوسفزئ قوم کي سرگزشت. ناشر: روشن خان اینډ کمپنی کراچی- مطبع: المخزن پرنټرز کراچی- سن اشاعت: ۱۹۸٦ء- ۳۹۵، ۳۹٦ مخونه-

۱۵۰- طالبی، عبدالطیف: پښتنی قبیلې. ناشر: د افغانستان جمهوریت د علومو اکاډیمی کابل- مطبع: د ښوونې او روزنې مطبوعه کابل. سن اشاعت: ۱۳۷۰هـ- ۲۹۵ مخ

اتم باب

## د خوشحال په کلام کښې مذکور

# شاعران او ادیبان

دا باب د هغه شاعرانو او ادیبانو په حقله خبرنه لري. د کومو شاعرانو، ادیبانو وینا چې خوشحال بابا د نقد په گز وهلې ده. په دغه شاعرانو ادیبانو کښې د پښتو ژبې د شاعرانو اولیکوالو نه علاوه د نورو څو گاونډیو ژبو وینا وال او لیکوال هم شامل دی.

ددغه شخصیاتو د یادونې نه مونږ ته د ستر خوشحال بابا د تنقیدي شعور اندازه په ښه توگه سره لگیدې شي.

معما د "آزری" ترجمه کړې

تصوف يې و عالم وته نومړې (۱)

## آذري:

آذري د فارسی ژبې يو قادر الکلام شاعر تير شوے دے۔ عبدالحیٔ حبيبی د آذری په حقله ليکی۔ د آذري ځينې اشعار معما غوندې دي۔ چې معنی يې ښکاره نه ده۔ اخوند درويز په مخزن کې دده يو معما غوندې بيت (اخستے دے)۔

در تتق جلباب عشق مست دوشه خفته اند
مست نگر دی بعين عين بلاگفته اند

داسې ترجمه کړی دی۔

"د شاه تر څادر لاندې دوه مست شاهان اوده دي۔ سکه مستی يې په عين مکره چې د زلفو کاته يې بې جلاده نه دي۔"

ددې بيت اصل او پښتو ترجمه مبهم دي۔ چې هر څوک به يو راز مطلب ځنې اخلي۔ خو درويزه د تصوف رنګ ورکړی دی۔ او خوشحال خان هم پر دغه باندې په دې الفاظو انتقاد کوي چې: دغه معما د تصوف په څادر کې نغښته شوې ده۔ اصل او ترجمه دواړه مبهم دی۔ (۲)

حمزه بن علی ملک طوسی د خراسان اُوسيدونکے وو۔ دے يو کامل مسلمان او ښۀ شاعر وو۔ د سلطان احمد شاه ولی بيهقی (۸۴۵ ـ ۸۳۸هـ) دربار ته ئې رسائی حاصله کړې وه۔ ولې دغلته دے دومره پاتے نۀ شو۔ او د مختصر قيام نه پس خپل وطن ته راستون شو۔ چرته چې دے د دوه اتيا کالو په عمر کښې په ۱۴۶۲ء کښې وفات شو۔ مزار ئې په اسفرايين کښې دے۔ (۳)

ددے ښاغلی نامه هميش خليل جلال الدين حمزه آذری ښودلے ده۔ اؤ محمد آصف صميم ئې نوم نور الدين حمزه آذری ليکلے دے۔ دغه رنګ نظامی بدايونی ئې د پلار نامه علی ملک طوسی يادوی۔ (۴) او محمد

آصف صمیم ئې عبدالمالک طوسی لیکی. (۵)

"د آزری اثار- سعی الصفاء (د حج لار ښود)، طغرای همایون، جواهر الاسرار، مهمن نامه، غرایب الدنیا و عجائب الاعـلاء، مرات، د شعر دیوان چې قصائد، غزلې، ترکیب بند، ترجیح بند، قطعې او څلوریزې پکې دی. دده زیاتره قصیدې د اهل بیتو په ستائینه کې دی. (۶)

هم دغه یاد شوے دیوان "ددهٔ د دیریشت زره اشعارو یو یادکار دے. (۷)

== ☆☆☆ ==

د میرزا دیوان مے ومانده په گوړی
مسخره مے ارزانی خویشکے زمند کړ (۸)

ارزانی خویشکی- د پښتو ورومبے صاحب دیوان شاعر دے. خوشحال بابا دے شعر کښې طنزاً یاد کړے دے- چې ما شعر وئیل شروع کړل. نو متقدمین شاعران لوستل او اوریدل خلقو پریښودل. د میرزا خان انصاری دیوان خلقو په گوړی او موندو. او د ارزانی خویشکی شاعری او فن اُولس ته زما د شاعری په وړاندې مسخره او ملنده ښکاره شوه.

## ارزانی خویشکی:

ارزانی د برهان زوی او د خیشکی د قبیلې د عزیز زی تپې ته منسوب سړی ؤ. او د پنجاب په قصور کې اُوسیده. ددهٔ د زوکړې یقیني تاریخ نه دی ښکاره. خو سړی دا اټکل کولای شی چې د لسمې هجري صدی په لومړی نیمایي کې به زوکړی وی او په غالب گمان د روښان پیر د زوکړې د زمانې شاوخوا دده زوکړه هم اټکل کیدای شي- زما د مطالعې له مخې وروستی تاریخ چې دده له کلیاتو لاس ته راځی. هغه د ۱۰۱۰هـ

ق کال دی۔ چې د همدې تاريخ پربنا مونږ دده ژوند تر دې وخته يقيني بللای شو۔ د مرګ تاريخ يې ماته نه دی ښکاری۔" (۹)

"د بايزيد دا خليفه د پښتو ژبې يو ديوان لرى۔ چه نن ورځے ددے نه اول ليکلے شوے ديوان د پښتو په ادب کښې نه شي موندلے۔

دے څه موده د بايزيد سره وو۔ خو بيا تر نه واپس وطن ته لاړ۔ اخوند درويزه وائی چه دے تر خفه شو او د حالنامے مؤلف وائی چه دے ئے هند ته ليږلے وو۔" (۱۰)

ارزانی يو فصيح شاعر، زيرک او تيز فهمه انسان وو۔ دۀ په افغانی، فارسی، هندی او عربی کښې داسې اشعار وئيلي دی۔ چې د بدعت او ګمراهی نه برجته دی۔ دغه شعرونه ئې په کتابی شکل کښې راغونډ کړی دی۔ دۀ يو بل کتاب د "چهارما" په نوم ترتيب کړے دے۔ دغه کتاب هم د هر رنګه ګمراهی نه پاک دے۔ کوم وخت چې پير تاريک قتلونه او ډاکې د پيشې په ډول اختيار کړل۔ نو ارزانی ترې لاره بيله کړه۔ او واپس هندوستان ته لاړو۔" (۱۱)

"ارزانی په پښتو ژبه نظم او نثر دواړه ليکل منظوم او منشور اثاريې را په لاس دی۔ او د ځينويې يوازی نومونه راپاتی دی۔

ارزانی د پښتو وړومبے ديوان لرونکے شاعر دے۔ چه تصوف ئے د يو فکر او مکتب په توګه څليړی۔ څيړونکو يې تاليفات داسې ښودلی دی۔

پښتو، پارسی، عربی او هندی ديوانونه۔ چهار رما، حکايت رسولﷺ، فقرنامه، مګويات، رساله نثر او مراة المحققين" (۱۲)

لږه موده وړاندې پښتو اکيډيمی پيښور د ارزانیؔ ديوان د ډاکټر مهجورؔ په تحقيق، حاشيه او سمونه چاپ کړے دے۔ دغه تحقيقی زياد د ډاکټر پرويز مهجورؔ يوه لويه کارنامه ده۔ د ډاکټر پرويز مهجور خويشکی د تحقيق مطابق مـلا ارزانی د روښانی تصوف لوې شارح او مبلغ وو۔ د پښتو وړومبے معلوم ديوان

لرونکے شاعر دے. د يوې اندازې مطابق په ۹۲۹هـ مطابق ۱۵۲۳ء کښې پيدا شوے وو. ارزانی زېرزے، خوېشکی، سړبنے پښتون وو. د پلار نوم ئې برهان وو او د پنجاب په قصور ضلع کښې اوسيدو.

ارزانی د پير روښان په صحبت کښې د څۀ موده پاتې کيدو، د تصوف د ټولو مقاماتو نه د تېرېدو او باطنی صفائی حاصلولو نه پس د خپل پير په وينا واپس هندوستان ته تللے وو او هلته ئې تر مرګه پورې عام اولس ته د معرفت او توحيد علم ښودلو او هم هلته په ۱۰۲۸هـ کښې وفات شو او د بهار صوبې په پټنه نومې ښار کښې ښخ کړے شو.

== ☆☆☆ ==

قصيده د "بوصيري" ترجمه کړې

عربي يې تر پښتو مضحک راوړې (۱۳)

"بوصير د مصر په بنی سويف کې يو ځای دی. شرف الدين ابو عبدالله محمد بن سعيد بن حماد (۶۰۸ - ۶۹۴ ق) عربي شاعر دغه ځای ته منسوب ؤ. چې د شعر ديوان يې چاپ شوی دی. ددۀ يوه ميميه قصيده البرده خورا مشهوره ده چې ګرده ۱۶۲ بيتونه کيږی...... د اخون درويزه په مخزن کې هم دوهم بيان ددې قصيدې پښتو ترجمه ده. ددې قصيدې ترجمه د پښتو په ليکلي ادب کې د غور او پرتلې اوکره کتنې وړ ده. چې لومړی انتقاد يې هم د خوشحال خان په دغو بيتونو کې دی. او پر لفظی او ادبی څنګ يې انتقاد کړی دی. نه د اصلی قصيدې پر موضوع او معنا." (۱۴)

## بوصيری:

"د سلوک او طريقت د ميدان دا شهسوار او د فصاحت او د بلاغت د آسمان دا ځلانده ستورې په کال ۶۰۸هـ د شوال په اوله نيټه د مصر په مشهور کلی "دلاص" کښې اوزيګيدو. نسلی سلسله (ئې) د بربر

مشهورې قبیلې منهاجه ته رسي۔ پوره نسب نامه ئې دا ده.

محمد بن سعید بن حماد بن حسن بن عبدالله بن منهاج بن بـلال۔

کُنیت ئې ابو عبدالله دے۔ د مقام ولادت په لحاظ سره دلاصی او د مقام سکونت له کبله ورته بوصیری وئیلې کیږی۔ د خپلو ظاهری او باطنی کمالاتو له وجې ورته د شرف الدین لقب ورکړې شو۔

امام بوصیریؒ چې کوم وخت د شعر و ادب په کوځه کښې قدم کیښونو د هغه زمانې د شاعرانو د روایت مطابق خپله شاعری ئې د ذهنی عیاشی په توګه استعمال کړه او د معاش د پاره ئې د دربار قصیده خوانی لکه د ذوق او د غالب شروع کړه۔ چونکه د دوئ شاعری د کمال په سرئ وه۔ نو په دې وجه ډیر زر ئې په دربار کښې تګ راتګ شروع کړو۔ او د وخت هر حکمران به ورته ډیر په درنهٔ سترګه کتل۔ د قصیدې بُردې شریفې نه عـلاوه د دوئ دیوان هم شته۔ چې د دیوان بوصیری په نامه یادیږی خوا صل سبب د شهرت ئې دا قصیده ده۔" (۱۵)

"ددۀ یوه میمیه قصیده البرده خورا مشهوره ده۔ چې ګرده ۱۶۲ بیته ده۔ او هغه وخت یې نظم کړه۔ چې ګوزن (فالج) وهلی ؤ۔ او حضرت محمدﷺ یې په خوب کې ولیده۔ چې مبارک لاس یې پر سر ورتیر کړه، نو رنځ یې ښه شو۔ ده دا قصیده د خدای (ج) د استازيؐ په ستائینه او د سیرت او د نفس دغندنې او دعا په باب ویل شوې ده۔" (۱۶)

لوئې پوهاند او لیکوال میاں تقویم الحق کاکا خیل د قصیده برده په حقله لیکی۔

> "دا قصیده د رسول الله ﷺ په صفت کښې ډیره مشهور قصیده ده۔ په تصوف پوهه خلق په دے کښې ډیرے خوبئ وینی۔ اوپه مختلفو طریقو ددے وظیفه کوی۔ د ے قصیده کښې مینه او سوز هم شته۔ وعظ نصیحت هم۔ او د رسول کریمﷺ سیرت پاک هم۔ د تصوف نه عـلاوه د سیرت پاک په سلسله کښې هم دا قصیده یو ښه متن دے۔" (۱۷)

د قصیده بُرده د لیکونکی امام شرف الدین بوصیری په باره کښې مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی لیکی۔

"امامؒ د شاعرانه نازک خیالئ سره سره د عرفان په باده باند هم مست دے۔ په دې وجه په اشعارو کښې ئې که یو خوا د ذوق د تسکین سامان شته نو بلخوا پکښې د شوق د وجدان تسلی هم۔ یو خوا که د هغوئ ملکی حالات خراب وو نو بلخوا اسلامی نړئ ته د نوی نوی انقلاباتو مخ وو۔ دا وخت په بغداد کښې د عباسی دور ختم شوې وو۔ منګولو او تاتاریانو لکه د ملخانو د سیل د مختلو اطرافو نه اسلامی دُنیا په ګیره کښې اخستې وه۔ دغې ګډو وډو او پریشان کوونکو حالاتو د امام په حساس طبیعت باند ډیر اثر او غورزولو نو د روح د طمانیت او د قلب د تسکین د پاره د هغه وخت یو مشهور صوفی ابو العباس احمد المرسی په استانه باند حاضر شو۔ بیا روستو ددې نه قبله اول بیت المقدس کښې لس کاله د عبادت او ریاضت نه پس په سر زمین حجاز ئې قدم کیښو۔ هلته نه بیا په در د شیخ باند حاضر شو۔ او د عمر باقیمانده حصه ئې هلته کښې تیره کړه۔ او ددې امام عالی مقام روح مبارک په کال ۶۹۴هـ یا ۶۹۵هـ یا ۶۹۶هـ کښې د تن د قید نه آزاد شو"۔ (۱۸)

==☆☆☆==

په دا هسے شان کتاب ئے مباهات دے

د جامی تر هفت اورنګ ورته ناویات دے (۱۹)

"هفت اورنګ یې د اوو کتابونو (سلسله الذهب، سلامان والعبال تحفه الابرار، سبحه الابرار، یوسف زلیخا، لیلی مجنون او خرد نامی) مجموعه ده۔ خوشحال بابا د اخوند درویزه دا ویاړ بیځایه ګڼي او غندی یې، چې خپل مخزن ورته د مولانا عبدالرحمٰن جامي تر هفت اورنګ هم ناویات (نایاب) او د ویاړ وړ ښکاري۔ (۲۰)

## جامیؒ (عبدالرحمٰن):

د دوئ نوم عبدالرحمٰن او لقب ئې نور الدين وو. نيکونه ئې د اصفهان نه راغلل. او د "جام" سره نزدې کلی فرجرد کښې اباد شول. هم دغلته عبدالرحمٰن په ۲۳ رمضان ۸۱۷هـ کښې سترګې اُوغړولې. او د جام په مناسبت سره ئې جامیؒ تخلص اختيار کړو. (۲۱)

"په وړوکوالی کښې د پلار سره عراق او سمرقند ته لاړ. دغه ورځو کښې ايران د اسلامی علومو او ادبياتو مرکز وو. په دغه علومو کښې ئې کمال حاصل کړو. او بيا سلوک و عرفان پله متوجه شو. او د سعد الدين محمد کاشغری او خواجه علی سمرقندی په حلقه کښې داخل شو. وروسته ئې په تصوف کښې يو ځانګړے مقام پيدا کړو. او د نقشبندی سلسلې په خليفه ګانو کښې شمار شو.

"د شفق د وينا تر مخه جامی د هغې صف شاعر دے. په کوم کښې چې انوریؒ، سعدیؒ، رومیؒ، حافظؒ، خيامؒ او فردوسیؒ شامل دے. د دوئ نه پس په ايران کښې ډير کم د اوچتې پائې شاعران پيدا شول." (۲۲)

"د مولانا جامی په حقله دا فيصله کول ډيره ګرانه ده. چې هغه لوئې صوفی وو يا لوئې شاعر وو...... ددهٔ يو کم سل تصانيف يادولې شی. چې زيات مشهور پکښې فاتحته الشباب، واسطه الحضر، خاتمه الوقت، سمنيته الاهراء، سلامان والعبال، فتوح الحرمين، سلسله الذهب، تحفته الاصرار، تفيسر فاتحه الکتاب، رساله تحليليه، رساله جوديه، رساله فی تحقيق، رساله طريق توجهيه، تشبيب صدا، رساله الواح، انشاء جامی، بهارستان او نغمات اُندلس دی.

"مولانا جامیؒ په ۱۸ محرم ۸۹۸هـ د جمعې په ورځ وفات شو. او په مرزا خيابان کښې د خپل پير خوا ته دفن کړے شو." (۲۳)

د مولانا جامی دوه مثنويانی يوسف زليخا او ليلیٰ مجنون په پښتو کښې عبدالقادر خان خټک او سکندر خان خټک پرله پسې په معياری انداز کښې موزونې کړې دی.

== ☆☆☆ ==

چه د شعر په سبب سره یادیږی
که حسن دے که خسرو دے که کمال (۲۴)

حسن:

ددۀ خپل نوم ابو الحسن وو. یمن الدین ئې لقب او امیر خسرو ددۀ تخلص وو. او هم په دغه تخلص ئې شهرت بیاموند. چې نن ئې هم خلق د امیر خسرو په نوم پیژنی. امیر خسرو د سیف الدین د تولو کشرے زوئے وو. دے د مومن پورې په پټیال کښې په کال ۱۲۵۱ء کښې اُوزیږیدو.

دے لا د اتۀ نهه کالو وو. چې پلار ئې حق اُورسید. اوس هغه د خپل نیکه عماد الملک خوا ته لاړ. هغه د شمس الدین التمش امیر او درباری وو. دغلته امیر خسرو ته د لویو لویو عالمانو، فاضلانو او شاعرانو په مجلسونو کښې د ناستې او فیض اخستلو موقعه په لاس وراغله. او په هغه وخت کښې رائج علوم ئې د پنځلس کالو په عمر کښې حاصل کړل. او د ترکی، فارسی، عربی او سنسکرت ژبې ئې زده کړے.

دے چې د شلو کالو شو. نو د نیکه سرسیورې ترې هم خدائے واخستو. دغه وخت د دهلی حکمران سلطان غیاث الدین بلبن وو. امیر خسرو د هغه د وزارۀ علاؤ الدین کتلو خان په ذریعه خان د ملتان د حاکم شهزاده محمد دربار ته اُورسوؤ. خو هغه هم ډیره موده ژوندے پاتے نه شو د شهزاده محمد د مرګ نه پس هغه دهلی ته لاړ او د مور سره دیره شو. دغه دوران کښې هغه د دهلی د مختلفو حکمرانانو په دربار کښې پاتې شو. (۲۵)

"خو ددۀ زیاته مینه له شعر و شاعری سره وه. ان چې د تحصیل او خطاطی پروخت یې هم شعرونه ویل، د قاموس المشاهیر د خاوند په قول د خسرو شاعری له (۹) کلنی نه پیل شوې ده. امیر خسرو د ژوند له ستومانیو او د دربارونو له خدمتونو سره سره ډیر علمی او ادبی اثار پریښی دی. چې شمیر یې یو کم سلو ته رسیږی. خو نوریې د زمانې سیلی له ځانه سره وری او یوازې د شلو اثارو نومونه یې راپاتې دی." (۲۶)

"امیر خسرو د ۷۲۵ هجری په روژه کې ۱۳۲۵ء ستمبر کې وفات او په شکر کنج په مقبره کې ښخ شوی دی." (۲۷)

که دولت وۀ که واصل وه که دا نور وو
په خبرو مے د هر یوه ریشخند کړ (۲۸)

☆

بل دولت فقیر درے پاوه
څه تر څو شیر شاهی تیر (۲۹)

خوشحال بابا په وړومبی شعر کښې په دولت لوانی سره د واصله زبردست طنز کوی۔ چې ما د شاعرئ په میدان کښې دواړه د اولس د خندا کړل۔ دویم شعر کښې دولت لوانړے د شاعرئ په فن کښې درے پاوه کنی۔ او ځان د هغه نه لړ شان زیات ښائی۔

## دولت لوانړے:

د دولت پوره نوم دولت الله دے۔ په قام لوانړے دے۔ لوانړی یا لوحانی د پښتنو یوه قبیله ده۔ دے د روښانی طریقے کلک ملګرے دے۔ هغه تهمتونه او الزامونه چه په روښانی طریقه لګیدل او کومه غلط فهمی چه د مذهب په معامله کښے د بایزید انصاری د مسلک پحقله پیدا کړے شوی وه۔ راتلونکیو روښانی عالمانو شاعرانو تر ډیره حده دغه غلط فهمی د خپل کلام په ذریعه لرے کړه۔ کله چه د دولت وخت راغے نو د هغه په کلام کښے هر څه واضحه شول چه روښانیان ګمراهان نه وو۔ کلک سُنی مذهبه وو۔ (۳۰)

پلار یې دادو نومیده چې د لوارڼیو پښتنو په حسن خیل ښاخ پورې یې نسبی ارتباط درلود۔ مور یې وردګه وه۔ په خلکو کې په شیخ دولت، شیخ دولت الله او فقیر دولت مشهور ؤ۔ (۳۱)

ستر څیړ نکار صدیق الله رشتین لیکی۔ چې

"د دولت پلار دادو د احداد په فوج کې لښکري او جګړن و۔" (۳۲)

د دولت لوانی د پیداوښت کال په یقینی توګه لا سم نه دے معلوم شوے۔ البته "عبدالحٔی جیبی او

ډاکټر راج ولی شاه ئې د زوکړې کال ۱۰۰۰هـ ښائی. (۳۳)

له دې څخه ښکاري چې دولت به په روه کې همدلې اوسیدلی وي. د رشید خان له تګ نه وروسته چې کوم روښانیان هند ته تللی دي (۱۰۲۸ یا ۱۰۲۹ هـ ق) دولت هم ښایې په همدې روښانیانو کې هندوستان ته تللی وی. دولت په هندوستان کې په رشید آباد کې اُوسیدلی دی. (۳۴)

"د دولت د مرګ کال نه دی ښکاره نو دا چې د هادیداد خان د مرګ یادونه یې کړې ده. نو څکه یې ژوند تر ۱۰۶۹هـ ق پورې یقیني دی. دا تاریخ د مخلص په حالنامه (۷۱۰ مخ) کی هم ضبط دی. چې د همدې تاریخ له امله د مخلص ژوند هم تر ۱۰۶۹ هـ ق پورې مورږ یقیني ګڼلی دی. خو د یادونې وړ ده چې د مخلص مرثیې ویلې دی. نو له دې مرثیو څخه سړی دا اټکل کولای شي چې دولت به تر دې نیټې وروسته نور هم ژوندی ؤ." (۳۵)

"دولت د روښاني لارې یو پیرو شاعر دی چې د شعریو دیوان یې په پښتو له څانه پاته کړی دی. خطي نسخې یې په هندوستان، بریتانیا، کابل او نورو ځایونو کې پیدا کیږی. دا دیوان په ۱۳۵۳هـ ش کال کې د کابل د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی." (۳۶)

== ☆☆☆ ==

که خبر په ډیر دانش په دانائی یم
په دا کار کښې هم پیرو د سنائی یم (۳۷)

## حکیم سنائی:

خپل نوم ئې محدود وو. ابو المجد ئې کنیت او سنائی ئې تخلص وو. د غزنین اُوسیدونکے وو. ابتداء کښې ئې درباری شاعری کوله. د بهرام شاه په مدحه کښې ئې ډیرې قصدې وئیلی دی. خو روسته ئې توبه کړه. (۳۸)

آدم حکیم سنائی غزنوی د پنځمې صدۍ هجری په مینځ ومیانه کښې پیدا شو. (۳۹)

په شروع کښې ئې په مختلفو دربارونو کښې شعرونه وئیل. او د ډیرو حُکمرانانو، امیرانو او وزیرانو په شان کښې ئې قصیدې وئیلي دی. خو بیا پرې د یو مجذوب خبرو دومره اثر اوکړو. چې هر څه ئې پریښودل او گوشه نشین شو." (۴۰)

"او په یدبیضا کښې دی چې حکیم سنائی سر تور سر او پښې ابله پښې حج ته لاړ. او چې واپس شو نو گوشه نشین شو. بیا به د غزنین په لارو کوڅو کښې پښې ابله گرځیدو راگرځیدو. د هغه عزیزانو چې به د هغه دا حالت لیدو نو بې اختیاره به ژړیدل. هغه خپل عزیزان پوهول چې تاسو زما په دې حالت مه ژاړئ. بلکې تاسو له خوشحالی پکار ده. یوه ورځ ورله خلقو پیزار راوړل. د خلقو له خاطره ئې په پښو کړل. ولې په دویمه ورځ ئې د پښو نه اُوویستې." (۴۱)

"ددهٔ د نوم سره شپږ مثنویانې یادولې شی. چې پکښې عشق نامه، عقل نامه، کنزالرموز او غریب نامه د یادونې وړ دی. ددې نه علاوه "حدیقه" او "سیر العباد" هم ددهٔ دوه صوفیانه تصانیف دی. دې دواړه کتابونو کښې د تصوف د مبادیات او د سلوک د مقاماتو تشریح او توضیع کړې شوې ده. (۴۲)

"په دغه زمانه کښې شیخ ابو یوسف همدانی د مشهور مشائخو نه وو. حکیم سنائی د هغوئ نه بیعت اوکړو. شیخ ابو یوسف همدانی د ابو علی فارمدی مرید وو. او ابو علی فارمدی د امام غزالی پیر وو. په دغه اړ د حکیم سنائی او امام غزالی د یوې پیرخانې سره تعلق لرلو." (۴۳)

"د حکیم سنائی د وفات په حقله پوهان یوه خوله نه دی. تاریخ فرشته د تاریخ گزیده په حواله لیکلی دی. چې دے د بهرام شاه په زمانه کښې وفات شوے دے. هم دے کتاب د ځنو پوهانو وینا رانقل کړې ده او وفات تاریخ ئې ۵۲۵هـ لیکلے دے. هم په دغه کال حکیم سنائی "حدیقه"مکمل کړے دے. دولت شاه دده د مرینې تاریخ ۵۷۶هـ یاد کړے دے. اوپه ریاض العارفین کښې ۵۴۶هـ ښودلے دے. (۴۴)

== ☆☆☆ ==

په ترکي کښې علیشیر ؤ
سهیلي دده په څېر ؤ (۴۵)

سهیلي- چې پوره نوم ئې شیخ امیر احمد سهیلي دے۔ د ایران په ادبي تاریخ کښې د لوئې نامې جامې خاوند شاعر تیر شوے دے۔ خوشحال بابا د علي شیر نوائي سره یاد کړے دے۔ څوک چې د ترکي او فارسي دواړو ژبو عالم او وینا وال وو۔ ددغه شعر نه دا خبره مخې ته راځي۔ چې سهیلي هم په دوه ژبو دسترس لرلو۔ ځکه چې خوشحالؒ دعویٰ لري۔ چې هغه لکه ددغه دواړو شاعرانو په رنګ په دوه ژبو لاس برے لري۔ او په پښتو او فارسي کښې شعر وائي۔

## سهیلي:

د سهیلي خراساني پوره نوم شیخ امیر احمد سهیلي وو۔ د هرات د بادشاه سلطان حسین مرزا د مهر واکمن وو۔ دۀ یو دیوان هم پرېښے دے۔ وفات ئې په ۱۵۰۱ء مطابق ۹۰۰هـ شوے دے۔ (۴۶)

دا نظام الدین شیخ امیر سهیلي هغه کس دے۔ چې نصر الله بن محمد بن الحمید ته ئې د کلیله دمنه د فارسي ترجمې د پاره وینا کړې وه۔ او هم د هغه د نوم له نسبته د کتاب نامه ئې هم "انوار سهیلي" کېښوه۔ ددے کتاب په اسلوب کښې د ډیر تکلف نه کار اخستلے شویدی۔ له دغه وجې دا کتاب په شرق کښې ډیر مقبول دے۔ ددے کتاب خطي نسخے عامې دي۔ او دا کتاب څو څو وارے چاپ شوے هم دے۔ (۴۷)

== ☆☆☆ ==

ترجمه د شاه ناصر یو څو اشکاله
و عالم ته جوړه کړې له مقاله (۴۸)

## شاه ناصر:

مراد حکیم او لیکوال او نقاد مبلغ ناصر خسرو بلخي (۳۹۴ ـ ۴۸۱ ق) دی. چې د فارسي مشهور شاعر ګڼل کیږي. دده فارسي سفرنامه هم مشهوره ده. د بدخشان په یمګان کې ښخ دی. دیوان یې څو واره چاپ شوی دی. او ډیرې خطي نسخې یې هم شته. اخوند درویزه په مخزن کې د ناصر خسروله یوې قصیدې څخه چې ګرده ۴٦ بیته ده. دوه بیتونه رانقلوی.

بالای نه سپهر دو گوهر مدور اند
کزنو را و دو عالم آدم منور اند؟
هستند نیستند نهانند و آشکار!
چون ذات ذوالجلال نه جم ونه جوهراند؟

په دې قصیده کې ناصر خسرو (جان. خرد) دوه آسماني عنصره ستائي، "جان و خرد رونده بر این چرخ اخضرند" او اخوند درویزه یې داسې ترجمه کوي چې اصل یې خو رافصیح او ترجمه یې ناوړه ده. نوځکه خوشحال هغه "وعالم ته جوړه کړې" ګڼي او انتقاد پر کوی. په نه سپهر باندې دوه ګوهره دی ځلیږي. سکه په نور د هغو دواړو، د آدم له دواړو کونه پرتاویږي. نه جم نه جوهر دی. او معنی یې لکه خدای هسې رغیږي. د ناصر خسرو ګرده قصیده په دیوان ناصر خسرو کې راغلې ده. چې هم په ادبی لحاظ هم په معنا او مفهوم کې خورا غوره ګڼله شي. (۴۹)

== ☆☆☆ ==

## په ترکي کې عليشير ژ
## سهيلي دده په څېر ژ (۵۰)

### عليشير:

عليشير- چې پوره نوم ئې مير علي شير نوائی دے. ستر شاعر وو. په ترکی او فارسی دواړو ژبو کښې ئې شاعری کړې ده. خوشحال بابا دعویٰ کوی. چې که علی شير په فارسی او ترکی کښې شاعری کوله. یا سهيلي ددهٔ په رنګ وو. نو زهٔ هم په پښتو او فارسی دواړو ژبو کښې شعر وئيلے شم. په پښتو کښې خو طاق يم. او ددې نه علاوه په فارسی کښې هم چاق يم. زهٔ نن ورځې په پښتو کښې داسې يم. لکه په ليمو کښې چې کسی وی.

"شايد چه (دا) امير علی شير وی. چه کال ۸۴۴هـ کښے زيږيدلے وه او وقتاً فوقتاً د امارت او وزارت نه پس په کال ۸۹۳هـ کښے د مالئے وزير شو. روستو بيا د استر اباد نائب الحکومت مقرر شو. خو ملازمت ئے پريښو. او هرات ته لاړ. وروستے ژوند ئے ګوشه نشينئ کښے تير کړو. په ۱۲ جمادی الثانی کال ۹۰۶هـ کښے وفات شه. شاعر او اديب وه. د علم سرپرست وه." (۵۱)

"د مير علی شير وړوکوالے د سلطان حُسين بالقيرا سره تير شوے وو. چا چې دے د وزارت تر عُهدې رسولے وو. دے د خپل وخت لوئے عالم وو. هم دا وجه وه چې ددهٔ په دور کښې علم و ادب ډيره وده کړې وه. مير علی شير ډير زيات مهربانه او سخي انسان وو. هغه د عالمانو سره د محبت، د پوهانو د قدردانی او شاعرانو د دارمدار له وجې دومره مشهور وو. چې پروفيسر براؤن هغه ته د مالينساس سلينيوس رومی سره تشبيهه ورکړې ده. علم دوسته به هر وخت دهغه نه لکه د پتنګانو راتاؤ وو. ددهٔ د جامیؒ سره په خصوصی توګه ډير زيات عقيدت وو. هغه اکثر کتابونه د مير علی شير په خواهش تصنيف کړی وو.

مير علی شير نوائی په فارسی او ترکی دواړو ژبو کښې شعرونه وئيلي دی. ددهٔ څلور ديوانونه او پنځه مثنوئ تصنيف کړی دی. ددهٔ پينځه واړه مثنوی د نظامی په تقليد کښې ليکلې دی. يوه مثنوی "لسان الطير" ئې

د عطارؒ په پیروی کښې هم لیکلې ده. میر علی به د ترکۍ په اشعارو کښې نوائی او په فارسی شعرونو کښې ئې فانیؔ تخلص یکارولو. هم دا وجه وه چې هغه د "ذواللسانین" په لقب مشهور وو.

میر علی شیر په ترکۍ او فارسی کښې ګڼ شمیر کتابونه تصنیف کړی وو. چې په تذکرو کښې ئې ددې لاندینو کتابونو په حقله یادونه شوې ده.

۱. د غزلو څلور دیوانونه

غرائب الصغر، نوادر الشهاب، بدائع الواسطه، فوائد اکبر

۲. خمسه

تحیته الابرار، فرهاد شرین، لیلیٰ مجنون، سد سکندری، سبعه سیاره

| | | |
|---|---|---|
| ۳. مثنوی لسان الطیر | ۴. تذکره مجالس النفائس | ۵. سراج المسلمین |
| ۶. اربعین منظوم | ۷. نظم الجواهر | ۸. محبوب القلوب |
| ۹. تاریخ انبیاء | ۱۰. تاریخ الملوک العجم | ۱۱. نسائم المستحبه |
| ۱۲. رساله عروضیه | ۱۳. خمته المتحیرین | ۱۴. محاکمات اللغتین |
| ۱۵. حالات پهلوان اسد | ۱۶. حالات سید حسن ارد شیر | ۱۷. مفردات درفن معما |
| ۱۸. قصه شیخ صنعان | ۱۹. مناجات نامه | ۲۰. منشات ترکی |
| ۲۱. دیوان فارسی | ۲۲. منشات فارسی | ۲۳. میزان الاوزان |

۲۴. مکارم اخلاق (۵۲)

== ☆☆☆ ==

که له هجوے له غندنے درته وایم
فردوسی مے په دا کار کښے نه دے سیال (۵۳)

## فردوسی:

دې شعر کښې د ایران د خاورې د نامتو شاعر فردوسی یادونه شوې ده. د فرهنګ عمید مؤلف د فردوسی په حقله لیکی:

"حکیم ابو القاسم حسن اسحٰق د ایران د خاورې سره تعلق لرلو. دے هم دغلته د طوس ښار سره نزدے په باز نومې کلی کښې په ۳۲۹ ق / ۹۴۰ م کال کښې اوزیږیدو. دهٔ پوره پینځه دیرېشت کاله د قصو اؤ داستانونو په نظم کولو کښې زیار کیباسلو. اؤ د شاهنامې په لیکلو ئې د فارسی ژبه ژوندی کړه.د هٔ ډیر ادبی فنپارې اؤ شهکارونه پریښی دی. او په ۴۱۱هـ / ۱۱۲۰ م په طوس کښې وفات شو. (۵۴)

" ددهٔ خپل نوم حسن بن اسحٰق بن شرف اؤ تخلص ئې فردوسی وو. د دولت شاه د بیان له رویه کله کله به ئې ابن شرف شاه هم د تخلص په توګه استعمالولو. د مجالس المومنین د مؤرخینو د لیکنو تر مخه ددهٔ د پلار نامه منصور بن فخر الدین احمد بن مولانا فرخ ده. ...... د فردوسی د پیدا کیدو سره سم ئې پلار خوب اولیدو. چې پیدا شوے ماشوم په کوټه اوختلو اؤ یوه چغه ئې اُووهله. ددهٔ په چغه د هر طرف نه د "لبیک" آوازونه راپورته شول. سحر ئې پلار د هغه وخت نومورِی عالم نجیب الدین نه د خپل خوب تعبیر اوپوښتلو. هغه ورته اُووې چې دا ماشوم به شاعر جوړیږی اؤ د شاعری آوازه به ئې په توله دُنیا خوریږی.

د فردوسي پـلار په کور پوره وو. ځکه نو دے د معاش له غمه بې غمه وو. اؤ هم دغه وجه وه چې د هغې وخت مروجه علوم ئې حاصل کړل. دے غزنی ته لاړ او هلته د ماهک سره ډیره شو. بیا هم د هغه په توسط د سلطان محمود غزنوی دربار ته اُورسید. او دغلته ئې د شاهنامې لويۀ کارنامه تر سره کړه. خو د محمود غزنوی په وعده خـلافی خفه شو. او ماژندان ته لاړ. هلته ئې "سپهبد" هم ډیر درناوې اُوکړو. ولې د بادشاه د خفګان له کبله ئې رخصت کړو. او دغه شان فردوسی بغداد ته اُورسید. په آخری عمر کښې محمود غزنوی هغه ته شپیته زره اشرفۍ رااولیږلې. ولې د تقدیر کارونه وو. چې ښار ته په یوه دروازه دغه اشرفۍ راننوتې. او په بله دروازه د فردوسی جنازه اُووتله." (۵۵)

==☆☆☆==

څوک پاوے څوک نیم پاوے دے
قلندرٓ په کښے نیم سیر (۵٦)

قلندرٓ. د پښتو ژبې يو داسې شاعر تیر شوے دے. چې د ژوند په حقله ئې څه معلومات نه دې تر لاسه شوي. دومره ضرور معلومه شوې ده. چې دا ښاغلے د خوشحالٓ همعصر شاعر وو. او خوشحالٓ چې د خپل دور د شاعرانو کومه درجه بندی کړې ده. نو دۀ ته ئې په شاعرۍ کښې د نیم سیرۍ درجه ورکړې ده. ددغې نه د قلندرٓ د فنی تول جوک اندازه په ډیره اسانه سره لګیدې شی.

## قلندر:

د خوشحال بابا د یادونې نه عـلاوه د هغه زامنو هم د قلندرٓ تذکره پخپلو شعرونو کښې کړې ده. لکه اشرف خان هجریٓ چې په یوه قصیده کښې وائی.

نن په دا دور که ښه شاعران غواړے
که دوه درے تنه ذِکر يو قلندر دی (۵۷)

دغه رنګ سکندر خان خټک ئې داسې يادوی۔

د سکندر د قلم خوند ئے که تر خُلے شی
قلندرؔ به خپل قلم په دکن مات کا (۵۸)

د خوشحال بابا د يادونې نه که مونږ د قلندرؔ د ادبی مقام نه خبريږو۔ نو د اشرف خان هجریؔ شعر ئې ژوند په يولسمه پيړۍ کښې ثابتوی۔ او د سکندرؔ خان خټک د شعر نه دا خبره جوتيږی چې د قلندرؔ استوګن ځائے "دکن" وو۔

دلته دا خبره د يادونې وړ ده۔ چې په پښتو شعری ادب کښې ددغې يادې شوې دورې د قلندرؔ نه علاوه يو بل قلندرؔ هم تير شوے دے۔ څوک چې د عبدالحميد بابا همعصر او شاګرد يادولے شی۔ او د شعرونو نه ئې د "ميرا" سره د بې کچه مينې اظهار کيږی۔ دغه وجه ده۔ چې زمونږ ځنې څيړنکارانو دغه دواړه کسان يو ګڼلی دی۔ لکه عبدالحليم اثر افغانی چې ليکی۔

"قلندر په قام يوسفزے وو۔ په دکن کښے اُوسيدو۔ او په ۱۰۹۷ کال د سوات رانړيزی په موضع تانړه کښے په حق رسيدلے دے۔" (۵۹)

خوبل ځائے کښې اثرؔ صيب څه دا رنګ ليکی۔

"قلندر خان قلندرؔ يوسفزے د تانې ملاکنډ ايجنسی د خانانو د کورنی يو مخور سړے وو۔ د هند په حيدر آباد (دکن) کښې اُوسيدو۔ د کال ۱۱۰۰هـ نزدې خپل وطن ته راغے او هم دلته وفات شو۔ دے په حيدر آباد (دکن) کښې د حضرت مير فيض الله قادری مريد وو۔ د خپل پير سره ئې ډيره زياته مينه درلوده۔ دغې مينې دومره شدت اختيار کړے وو۔ چې حضرت ميرا د قلندر د پاره د محبوب رنګ لرلو۔ هم دغه وجه وه چې قلندرؔ پخپلو پُرسوزه

شعرونو کښې د "میرا قلندر" تخلص پکار راویستے دے. (٦٠)

مونږ که د قاضی عبدالحلیم اثر دې بره لیکنو ته لږ ځیر شو. نو معلومه به شی. چې اثر صیب په ورومبی لیکنه کښې قلندرؔ په ۱۰۷۹هـ کښې او په دویمه لیکنه کښې ئې په ۱۱۰۰هـ کښې وژلے دے. دغه رنګ د اثر صیب د لیک نه دا خبره هم را ډاګې ته کیږی. چې د خوشحال معاصر قلندر او د عبدالحمید بابا همعصر او شاګرد قلندر بیل بیل کسان نه دی. بلکې دواړه سره یو دی. ولې داسې نه ده. دغه دواړه کسان د بیل بیل وخت سره تعلق لرونکی جُدا جدا کسان دی. بله دا چې د خوشحال د همعصر قلندرؔ د "میرا" سره هم څه تړون نشته.

عاقبت ئے واړه خاورے د لحد کړل

روښانی که ارزانی که قلندر وو

د هجریؔ له دې یادونو ښکاری چه قلندرؔ به د (۱۱۰۰-۱۱۰٦هـ) تر مینځ کلونو کښے مړ وی. (٦١)

دا قلندر په دکن کې اوسیده چې په دې اثر کې یې پر ژوند او کلام بحث کیږی. دا قلندر د هجری د دیوان د یوې خطی نسخې د صراحت له مخې مومند دی. (٦٢)

دے وړاندې لیکی چې "د قدیم قلندر دیوان تر اوسه نه دی کشف شوی. متفرقې غزلې یې لیدلې شوې دی او د دوهم قلندر یوسفزی دیوان شته چې په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړی دی. (٦٣)

== ☆☆☆ ==

چه د شعر په سبب سره یادیږی

که حسن دے که خسرو دے که کمال (٦٤)

کمال خجندی د فارسی ژبې نامتو شاعر تیر شوے دے. دے شعر کښې خوشحال بابا د حسن او خسرو سره سره کمال خنجدی هم یاد کړے دے. چې دغه دریواړه کسان په دُنیا کښې د شعر په سبب

یادیږي او هم د شاعرۍ په وجه ئې دومره زیات شهرت بیاموندے دے۔ یو بل ځائے کښې خوشحال بابا خجند داسې یاد کړے دے۔

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنیٰ مے د شیراز او د خجند کړ (٦٥)

## کمال الدین خجندی (شیخ)

کمال الدین مسعود خجندی د روسی ترکستان د مشهور ښار خجند عارف، شاعر او د خواجه حافظ شیرازی معاصر ؤ۔ کمال په خجند کې وزیږید او په ځوانی کې یې د بیت الله د حج قصد وکړ۔ او د حج تر ادا کولو وروسته تبریز ته لاړ۔ (٦٦)

دهٔ د سلطان اویس جلائر زمانه هم لیدلې وه۔ دے منګو خان بنیره چنګیز خان څلور کاله په زندان کښې واچوؤ۔ او په قپچارک کښې ئې اُوساتلو۔ کله چې تبریز ته پستنه راغے۔ نو سلطان اویس دهٔ د پاره یو کور جوړ کړو۔

دهٔ د کلام یوه خوبی دا ده۔ چې دهٔ چرته هم د چا بادشاه په مدحه کښې څه نهٔ دی لیکلی۔ او هم دغه وجه ده۔ چې دهٔ کلام غزلونو ته محدود شوے دے۔ دهٔ په کلام کښې د قصیدې یا مثنوی نوم نشان نشته۔

دے په ۱۳۹۰ء مطابق ۷۹۲هـ کښې په حق اُورسید۔ او په تبریز کښې ښخ کړے شو۔ دے یو قلمی دیوان هم لری۔ دغه دیوان د ایران د شاهی کتب خانې نه د شهروی آنې (د استریا دارالخلافه) شاهی کتاب خانې ته یوړې شوے دے۔ دغلته اُوس هم موجود دے۔ دغې دیوان کښې د اشعارو تشریح او وضاحت په تصویرونو سره کړے شوے دے۔ (٦٧)

== ☆☆☆ ==

د میرزآ دیوان مے ومانده په ګوډی
مسخره مے ارزانیٓ خویشکے زمند کړ (٦٨)

☆

له چانه په پښتو کښے ما میزان لیدلے نه دے
میرزآ په دا زبان که وئیل کړی دی تللی (٦٩)

☆

په خبره یو "مرزا" دی
په هر حال که څه اشنا دی (٧٠)

میرزا خان انصاری۔ د پښتو په لرغونو شاعرانو کښې د لوئے نوم خښتن وو۔ په وروموبی شعر کښې پرې خوشحال بابا طنز کړے دے۔ ولې نور دوه بیتونه ئې د میرزا خان انصاری د شاعرۍ په فن د لاس بری اعتراف کوی۔

## مرزا خان انصاری:

مرزا خان انصاری د نورالدین زوے او د بایزید انصاری نمسے وو۔ د مور بی بی نوم ئې زلیخا وو۔ ددهٔ د کور ودانې نامه نور خاتون وه۔ څوک چې د ملک قاسم بنګش حاجی خیل د وروموبی ښځې بی بی بصري نه پیدا شوې وه۔ ددې ښځې نه د مرزا خان انصاری درے زامن او دوه لونه وې۔ (٧١)

دولت لوانې د مرزا خان انصاری په حقله د خپلو خیالاتو اظهار داسې کړے دے۔

د مرزا د نور الدین صفت به څو کړم
میاں روښان د پوهې ښار دے ئې ور وه
د هادی په خُلهٔ چې پټ وو په ډیر کاله
د مرزا خُلهٔ د هغه علم مظهر وه

په دُنيا ئې محبت تکبر نۀ کړ
په ظاهر سپينه جامه کښې قلندر وه
د دکن په جنګ شهيد شه خوشنود اوسه
په تاريخ دده د زرځلوېښت ګذر وه (۷۲)

علي محمد مخلصؔ د مرزا خان انصاری د ځنو عادتونو، خويو او خوبو په لړ کښې څه دا رنګې معلومات راکوی۔

مونږ مرزا خان انصاری ته د هغه د شتمنی باوجود هم درويش وئيلو شو۔ په دې چې هغه د دُنيا سره مينه نۀ لرله۔ دغه رنګ کار کسب ئې هم نۀ خوښولو۔ هغه به ځان په ذکر و اذکار کښې مشغول ساتو۔ددې نه علاوه ئې د موسيقی او کتاب سره ډير زړه لګيدو۔ رباب به ئې غږولو۔ په دغه مد کښې ئې ډير مهارت لرلو۔ د عالمانو او فقيرانو خواخوږے وو۔ د روڼ تندی څښتن وو۔ د سيل سپاتې ډير شوقين وو۔ هم دغه وجه وه چې اکثر به په مرغزارونو ګرځيدو او د سيند په غاړه به ئې د سيل خوندونه اخستل۔ دۀ به د روغ ناروغه د حال تپوس کولو۔ د ناروغه د پاره به ئې طبيبان راويستل۔ دارو دُرمل به ئې ورله کول او لاس په تندی به ئې ورته کيښودو۔ دۀ به سپينې، ساده جامې آغوستلې۔ او ښکار له به هم کله نه کله تللو۔ (۷۳)

ډاکټر راج ولی شاه خټک ددۀ شعری حيثيت داسې په ګوته کوی۔ د روښنيه تحريک په غړو کښے مرزا خان انصاری په ځنوخبرو امتياز لری۔ يو خو په دے چه ددۀ نه وروستو راتلونکيو روښانی شاعرانو د شعر معيار د مرزا خان نه اخستے دے۔ بل دا چه وړومبے پښتون شاعر دے۔ چا چه پښتو غزل کښے د وجود فلسفه په کاميابئ سره ځائے کړه۔ بله دا چه دۀ د وحدت الوجود په تائيد کښے ئے نه يواځے دلائل راوړه او نورو نظرياتو سره ئے اختلاف اولرلو۔ بلکه د سلوک د لارے د يو مقام وحدت بيان ئے په وړومبی ځل په پښتو کښے په مرتب فلسفيانه انداز کښے ترکاميابئ اورسولو۔ (۷۴)

مرزا خان انصاری نه يوازې پخپله شاعری کړې ده۔ بلکې نور روښانی شاعران ئې هم روزلی دی۔ مشهور متشرق ډارمستېټر ليکی۔

"د بايزيد انصاری لمسے مرزا خاَن انصاری وو۔ چې شعر ئې ډير منلے دے۔ ددهٔ د شعر لوری عرفانی دی۔ له دې کبله ئې په را وروسته شاعرانو لويه اغيزه درلوده۔ (۷۵)

ذ پښتو عالي ادب کښې د ارزاني خويشکي نه پس تر اوسه د معلوماتو له مخه مرزا خان انصاري هغه شاعر دے۔ د چا کلام چې په مکمل ډول اُوس زمونږ تر لاسه شوے دے۔ ددهٔ شاعري د بايزيد روښان د عقائدو، تعليماتو او پښتونخوا کښې په اول ځل او هم په ډير زور او شور تصور کښې د وحدت الوجود د نظريې ترجمانی کوی۔ (۷٦)

په ۱۰۴۰هـ ق کال رشيد خان او ميرزا خاَن دکن ته ولاړل۔ چې د مغولي پاچا په ګټه دده له مخالفانو سره جنګ وکړی۔ ميرزا خپله هم په خپل ديوان کې ددې جنګونو په باب يو غزل لري۔ په دغه جنګونو کې مرزا خان له خپل زوی عبدالحکيم او ځينو نورو روښانيانو سره ووژل شو۔ (۷۷)

د حالنامې د روايت له مخه "په کال ۱۰۴۰هـ کښې ئې د دې دُنيا نه سفر اُوکړو۔ مزار ئې په شمس آباد کښې واقع ده۔ اکثر خلق ئې د جمعې په شپه زيارت ته راځی۔ (۷۸)

== ☆☆☆ ==

چه د شعر په سبب سره یادیږی
که حسن دے که خسرو دے که کمال (۷۹)

دې شعر کښې د خسرو نه مراد ناصر خسرو دے. چې د فارسی په ادبیاتو کښې د ښه شعر وئیلو په حواله یو جوت نوم لری.

## ناصر خسرو:

پیدائش ۳۹۴هـ په مطابق ۱۰۰۳ء

وفات ۴۸۱هـ په مطابق ۱۰۸۸ء

دے د سلجوقی دور یو نوموړے شاعر او حکیم وو. دهٔ د مذهبی عقائدو د خپرونې د پاره د شاعرۍ وسیله پکار راویسته. د ناصر خسرو کُنیت ابو معین او لقب ئې حجت وو. کوم چې دهٔ ته د فاطمی خلیفه مستنصر باللہ له اړخه ورکړے شوے وو. دغه لقب هغه اکثر پخپلو شعرونو کښې د تخلص په توګه استعمالوی.

ناصر خسرو سنجی د قبادیان په ښار کښې په ۳۹۴هـ مطابق د ۱۰۰۳ء اوزیږیدو. دهٔ د علم د حاصلولو سره ډیر زیات شوق لرلو. ځکه نو قرآن کریم ئې حفظ کړو او د احادیثو او فقې تعلیم ئې حاصل کړو. دغه رنګ دهٔ په ریاضۍ، طب، موسیقۍ، نجوم، فلسفه او علم کلام کښې هم کمال تر لاسه کړو. ناصر خسرو کښې د مختلفو مذهبونو د څیړنې ډیره جذبه موجوده وه. هم دا وجه وه چې هغه د زرتشت، مانیه، یهود و نصارىٰ او هندوانو د مذهبونو ژوره مطالعه درلوده.

ناصر خسرو د علمی زده کړې نه پس څه موده د غزنوی بادشاهانو محمود او مسعود په دربارونو کښې تیره کړه. بیا دهٔ د سلجوقیه دربار ملازمت اختیار کړو. دغلته دهٔ ته د "دبیرۍ" منصب ورکړے شو. بیا ئې د مال د محکمې په یوه اعلیٰ عُهده اونمانځلو. اخر د پینځه څلویښت کالو په عمر کښې ئې ملازمت ته په مخه اُووے. او په ۴۳۹هـ کښې حج ته روان شو. د مکې نه دمشق او بیا بیت المقدس ته اُورسید. ددغه ځائے نه مصر ته راغے. او په قاهره کښې استوګن شو. د سیل په دوران کښې دهٔ د ارمنستان، ایشیائے کوچک، طرابلس، شام،

فلسطین، جزیره العرب،قیروان او سوډان ملکونه اوکتل. څلور ځله ئې د حج سعادت حاصل کړو.

دۀ په دغه آوان خپله سفر نامه هم اُولیکله...... ددغې سفرنامې نه پته لګی. چې هغه په مصر کښې درے کاله پاتی شوے وو. دغلته دے د فاطمی خلیفه المستنصر د نظم و نسق، عدل و انصاف او شان و شوکت نه ډیر متاثر شوے وو. ددې نه علاوه په (ناصر خسرو د خلیفه اسماعیلی عقیدې) هم ډیر اثر اوکړو. ځکه نو هغه په دغه دوران کښې دغې نوی دین ته ورتر غاړه وتو. اُوس به دۀ ته د خلیفه په خدمت کښې د حاضریدو ډیرې موقعې په لاس ورتلې. خلیفه به هم د هغه ډیر عزت کولو. هم دغه وجه وه چې خلیفه ورته د "حجت" لقب ورکړو. او ایران ته ئې د اسماعیلی عقائدو د خورونې د پاره راولیږو. ناصر خسرو چې د مصر او حجاز نه را اُوجاروتو. نو په دغه سلسله کښې هغه چې به چرته هم تللو. نو د رنګ رنګ پریشانو سره به مخ کیدو." (۸۰)

سفرنامه، زادالمسافرین، وجه دین، روشنائی نامه، سعادت نامه، او دیوان ددۀ تصانیف دی.

"وئیلی شی چې د ناصر خسرو دیوان په دیریشت زره شعرونو ارتیا لرله. خو نن ورځې چې کوم دیوان په لاس راځی. هغې کښې یو لس زره شعرونه دی. دۀ بې شمیره قصیدې لیکلې دی. دغه قصیدې د چا په مدحه کښې نه دې وئیلې شوې. بلکې دغه قصیدو کښې د عقل و دانش او دینی مسائلو بحثونه دی. ددۀ د شعرونو د مطالعې نه دا خبره راڼاکې ته کیږی. چې ناصر خسرو یو صاحب نظر او آزاد طبعیته شاعر وو. ددۀ د افکار نه دده دیانت اور اخلاص ځاځی. په اشعارو کښې ئې د شرابو او جانان په ځائے روحانی او اخلاقی مطالب ځائې کړی دی. که څوک د "فرخی" قصیده اُولولی. نو دا ګمان کولے شی چې دا به د عنصری قصیده وی. خو د ناصر خسرو قصیده لوستو نه پس د چا دا ګمان بیخی نه شی راتلې. چې دا ګنی د ناصر خسرو نه علاوه د بل چا قصیده کیدې شی." (۸۱)

== ☆☆پ☆☆ ==

خمونړه پـه حساب دے
هيڅ مے نه دے واصل هير (۸۲)

واصل د بايزيد انصارى د مسلک يو کلک غړے او د پښتو ژبې يو نوميالے شاعر وو. څوک چې خوشحال بابا پخپله شاعرانه درجه بندۍ کښې د ډيرې ښې مرتبې خاوند گرځولے دے. او د هغه شاعرۍ له ئې د خپلې شاعرۍ هومره درجه ورکړې ده. د څه نه چې مونږ د واصل روښانې د شاعرانه عظمت اندازه ډيره په اسانه لگولې شو.

## واصل روښانے:

په روښانى شاعرانو کښې مياں واصل د خپل نوم او مخصوص کلام په سبب د ډير شهرت خاوند دے. ددۀ د کلام مجموعه په کتابى شکل کښې د چا لاس له نۀ ده راغلې. په "دبستان مذاهب" کښې ددۀ ذکر شوے دے. ولې تفصيلى حالات ئې ناپيد دى. واصل هم لکه د ارزانیؒ او دولت په شان د خپل مرشد بايزيد روښان په عقيدت او محبت کښې گرفتار وو. او د نظريه وحدت الوجود شديد قائل وه. (۸۳)

قاضى عبدالحليم اثرؔ د واصل په حقله ليکى.

اخوند قاسم متى زائے چې جهانگير بادشاه د وسطى هندوستان قلعه چنار کښې قيد کړے وو. او هم د قيد په حالت کښې په جيل کښې ۱۶۰۸ء کښې مړ شوے وو. مياں واصل ددۀ زوې وو چې د بايزيد انصارى د مسلک لوئې نمائنده شاعر وو. (۸۴)

د واصل د اشعارو بشپړ ديوان لا تر اوسه لاس ته نه دى راغلى خو د نورو روښانى شاعرانو د ديوانونو له مخې اټکل کيږى. چې ده به هم لوى ډيوان درلود، د واصل يوازى يوه بولله او پنځلس غزلې د مُلا اختر له بياض نه د اُستاد عبدالشکور رشاد په زيار تر لاسه شوې چې د واصل د څو شعرونو په نامه ددې سيمينار له پاره د پښتو تولنې له خوا خپرې هم شوې. (۸۵)

د واصل څو شعرونو په سريزه کښې عبدالشکور رشادؔ ليکى:

"واصل یو بل نامتو روښانی شاعر دی. چې په یوولسمه هجری پیړۍ کې یې ژوند کاوه او د حالنامې هغه نسخه چې د دبستان مذاهب مؤلف استفاده ترې کړی، له ده سره وه او اټکل کیږی چې میا واصل روښانی او د دبستان مذاهب د مؤلف لیدنه کتنه تر ۱۰۵۷ کال وروسته او تر ۱۰۶۳هـ ق کال مخکی شوی ده. (۸۶)

ډاکټر راج ولی شاه د واصل پحقله خپله رائې داسې څرګندوی.

واصل هم د روښانی مسلک کلک غړے دے. او ددے طریقت د سلسلے په آخری کسانو کښے دے. دے هم د خپل روښانی مکتب فکر د وحدت الوجود قائل دے. ژوند ئے د ۱۰۵۵ هجری کال او ۱۰۶۳ هجری کښے یقینی دے. په دے چه د دبستان مذاهب مؤلف د روښانیانو په حقله معلومات د واصل نه حاصل کړی دی. نو که د دبستان مذاهب تالیف د ۱۰۵۵هـ کال او ۱۰۶۲ هجری کال تر وخته لیکلے شوے وی. نو د واصل ژوند په دغه وختونو کښې ښکاره کوی. (۸۷)

دغه رنګ ستر څیړنکار محمد آصف صمیم د واصل روښانیؒ حالات داسې بیانوي.

واصل د روښاني غورځنګ شاعر دی. ژوندیې تر ۱۰۵۶ء ق پورې باوري دی. عارفانه شعرونه ترې پاتې دي. شعر یې په نریو تصوفي رموزو ګاڼلی دي. (۸۸)

==☆☆☆==

# حواله جات


۱- سوات نامه (مرتبه عبدالحیٔ حبیبی) ۔ ۴۵ مخ

۲- همدغه کتاب ۔ ۴۵ مخ

۳- مشاهیر مشرق (از نظامی بدایونی) ۔ ۱۴ مخ

۴- سوات نامه (مرتبه عبدالحیٔ حبیبیؔ) ۔ ۱۲۲ مخ

۵- صمیم، محمد آصف۔ گام پر گام د خوشحال سره ۔ ناشر: د افغانستان د کلتوری ودې ټولنه جرمنی۔ مطبع نه لری۔ سن اشاعت: ۲۰۰۰ء ۔ ۱۳۰ مخ

٦- همدغه کتاب ۔ ۱۳۰ مخ

۷- مشاهیر مشرق (نظامی بدایونی) ۔ ۱۴ مخ

۸- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) ۔ ۵۳۴ مخ

۹- په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه۔ (از زلمی هیواد مل) ۱۱۰مخ

۱۰- خیرالبیان (مقدمه از مولانا عبدالقدوس) ۔ ۸۲ مخ

۱۱- تذکرة الابرار والاشرار (از اخون درویزه پاپین خیل) ۔ ۱۴۹ مخ

۱۲- پښتو اریانا دائرة المعارف۔ ورومبے ټوک ۔ ۳۲۸ مخ

۱۳- سوات نامه (مرتبه عبدالحیٔ حبیبی) ۔ ۴۳ مخ

۱۴- همدغه کتاب ۔ ۴۳، ۴۴ مخونه

۱۵- البوصیری، امام شرف الدین محمد بن حسن: قصیده برده ۔ مترجم: سراج الاسلام سراج۔ ناشر: القاسم اکیډمی جامعه ابوهریره خالق آباد نوشهره۔ سن اشاعت: فروری ۲۰۰۴ء ۔ ۱۷، ۱۸ مخونه

۱٦- گام پر گام د خوشحال سره (از محمد آصف صمیم) ۔ ۱۳۷ مخ

۱۷- مخزن۔ (از اخون درویزه پاپین خیل) ۔ د مقدمې ۔ سز ۔ مخ

۱۸- قصیده برده (از امام شرف الدین محمد بن حسن البوصیری) ۔ ۲۰ ، ۲۱ مخونه

۱۹- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۷۵ مخ

۲۰- سوات نامه (مرتبه عبدالحیٔ حبیبی) ۳۴، ۴۵، ۴۷ مخونه

۲۱- آغا اشرف۔ مصلحین اسلام۔ ناشر: شهناز همایون المعارج۔ ۴۶٦، بی ٦۔ علامه اقبال ټاون لاهور۔ مطبع: ار۔ زیډ پیکجز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۹۰ء ۔ ۱۹ مخ

۲۲- تلمیحات اقبال (از سید عابد علی عابدؔ) ۔ ۱۰٦، ۱۰۷ مخونه

۲۳۔ مصلحین اسلام (از آغا اشرف) ۔ ۲۲ مخ

۲۴۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) ۔ ۵۳۹ مخ

۲۵۔ بلیغ الدین جاوید، ډاکټر: امیر خسرو۔ ناشر: جاوید انتخاب ادب ۱۰ ایبک روډ انارکلی لاهور۔ مطبع: شاه اینډ سنز پروسیس پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت نۀ لری۔ ۱۱ نه تر ۱۴ مخونه

۲۶۔ ګام پر ګام د خوشحال سره (از محمد آصف صمیمؔ) ۱۳۵، ۱۳۶ مخونه

۲۷۔ اریانا پښتو دائرة المعارف۔ ۴ ټوک ۔ ۱۵۵ مخ

۲۸۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) ۔ ۵۳۴ مخ

۲۹۔ همدغه کتاب ۔ ۸۶۲ مخ

۳۰۔ د پښتو ادبی تحریکونه (از ډاکټر راج ولی شاه خټک) ۔ ۱۲۲ مخ

۳۱۔ په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه (از زلمی هیواد مل) ۔ ۱۶۵ مخ

۳۲۔ رشتین، صدیق الله: روښان ستوری۔ ناشر: یونیورسټی بک ایجنسی پېښور۔ مطبع نه لری۔ سن اشاعت: ۱۹۸۷ء ۔ ۲۳ مخ

۳۳۔ پښتانه شعراء (از صدیق الله رشتین) وړومبې ټوک ۸۸ مخ، د پښتو ادبی تحریکونه (از ډاکټر راج ولی شاه خټک) ۔ ۱۲۷ مخ

۳۴۔ په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونۀ (از زلمی هیواد مل) ۱۶۶ مخ

۳۵۔ همدغه کتاب ۔ ۱۶۶ مخ

۳۶۔ همدغه کتاب ۔ ۱۶۸ مخ

۳۷۔ خټک، خوشحال خان: نام حق ۔ (مرتبه همیش خلیل) ناشر: همیش خلیل۔ مطبع: ارټ سنټر پرنټرز محله جنګی پېښور۔ سن اشاعت: نومبر ۱۹۹۶ء۔ ۲۷ مخ

۳۸۔ شعر العجم۔ (از مولانا شبلی نعمانی) حصه اول ۔ ۱۸۹ مخ

۳۹۔ اقبال کے محبوب صوفیاء (از اعجاز قدوسی) ۹۱ مخ

۴۰۔ خلیق احمد نظامی، ډاکټر: مشائخ چشت۔ ناشر: دارالمؤلفین اسلام آباد۔ مطبع او سن اشاعت نه لری۔ ۱۲۳ مخ

۴۱۔ شعر العجم۔ (از مولانا شبلی نعمانی) حصه اول ۔ ۱۹۱ مخ

۴۲۔ تصوف (تعریف، تاریخ، اصطلاحات) از ډاکټر روبینه ترین۔ ۵۰ مخ

۴۳۔ شعر العجم (از مولانا شبلی نعمانی) حصه اول ۔ ۱۹۱ مخ

۴۴۔ همدغه کتاب ۔ ۱۹۲ مخ

۴۵- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۲۱ مخ

۴٦- مشاهیر مشرق (نظامی بدایونی) - ۲۸۲ مخ

۴۷- خټک، خوشحال خان: اخلاق نامه. (مرتبه همیش خلیل) ناشر: پاکستان سټډی سنټر پېښور پوهنتون. پېښور. مطبع نه لري. سن اشاعت: ۱۹۸۱ء ۱۴، ۱۵ مخونه

۴۸- سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی). ۴۵ مخ

۴۹- همدغه کتاب - ۴۵، ۴٦ مخونه

۵۰- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۲۱ مخ

۵۱- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) .۷۹ مخ

۵۲- ادب نامه ایران (از مرزا مقبول بیگ بدخشانی) ۵۸٦، ۵۸۷ مخونه

۵۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۵۴۳ مخ

۵۴- حسن عمید. فرهنګ عمید. ناشر: دانشګاه ایران تهران. مطبع نه لري. سن اشاعت: ۱۳٦۲ م - ۱۱۳٦ مخ

۵۵- شعر العجم. (از مولانا شبلی نعمانی) ج ۱ - ۸۲ مخ نه تر ۹۷ مخ پورې لنډیز

۵٦- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۸٦۱ مخ

۵۷- هجری، اشرف خان: دیوان اشرف خان هجری: ناشر: پښتو اکیډمی پېښور یونیورسټی پېښور. مطبع نه لري. سن اشاعت: ۲۰۰۱ء - ۳۵۱ مخ

۵۸- خټک، سکندر خان: دیوان سکندر خان خټک. ناشر: اداره اشاعت سرحد پېښور. مطبع نه لري. سن اشاعت: ۱۹٦۲ء. ۴۷ مخ

۵۹- افغانی، قاضی عبدالحلیم اثر. اباسین مجله. ۱۵۹ مه ګڼه. ۳۴ مخ

٦۰- عبدالصمد میر: شاعر انسانیت. مقدمه از قاضی عبدالحلیم اثر افغانی. ناشر: مصطفیٰ کمال. مطبع: برقی پریس خیبر بازار پېښور. سن اشاعت: ۱۹۷۴ء ۲۹ مخ

٦۱- خوشحالنامه - (مرتبه سرفراز خان عقاب خټک) ۴۵، ۴٦ مخونه

٦۲- په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه (از زلمی هیواد مل) - ۲۱۹ مخ

٦۳- همدغه کتاب - ۲۱۹ مخ

٦۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۵۳۹ مخ

٦۵- همدغه کتاب - ۵۳۴ مخ

٦٦- اریانه پښتو دائرة المعارف - ۵ توک - ۴۸۰۵ مخ

٦۷- مشاهیر مشرق (از نظامی بدایونی) - ۴۱۹ مخ

۶۸- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۵۳۴ مخ

۶۹- همدغه کتاب - ۶۲۳ مخ

۷۰- اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۲۱ مخ

۷۱- بایزید انصاری- حالنامه (تالیف: علی محمد مخلص)- ناشر: پښتو ټولنه کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل- سن اشاعت: ۱۳۲۴هـ ش - ۳۹۷ ، ۴۵۳ ، ۶۴۴، ۶۶۲ مخونه

۷۲- لوانی ، دولت الله دولت: د دولت لوانی دیوان- ناشر: پښتو ټولنه کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل- سن اشاعت ۱۳۵۳هـ-ش- ۲۰ مخ

۷۳- حالنامه (از بایزید انصاری) ۶۴۰ مخ

۷۴- د پښتو ادبی تحریکونه (از ډاکټر راج ولی شاه خټک)- ۱۰۵، ۱۰۶ مخونه

۷۵- ډارمسټېټر، جميز: د پښتونخوا د شعر هاروبهار- د حبیب الله رفیع په زیار- ناشر: پښتو ټولنه کابل- سن اشاعت: ۱۳۵۶هـ ش - ۱۱ مخ

۷۶- همیش خلیل: ساهو ادب- ناشر: اداره علم و فن (رجسټرډ) پېښور- مطبع: جدون پرنټنګ پریس پېښور- سن اشاعت جنوری ۲۰۰۳ء - ۱۷ مخ

۷۷- په هندکې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه (از زلمی هیواد مل) ۱۳۴، ۱۳۵ مخونه

۷۸- حالنامه (از بایزید انصاری) - ۶۴۸ مخ

۷۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۵۳۹ مخ

۸۰- ادب نامه ایران (از مرزا مقبول بیګ بدخشانی)- ۲۵۱ ، ۲۵۲ مخونه

۸۱- همدغه کتاب - ۲۵۷ ، ۲۵۸ مخونه

۸۲- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد کامل مومند) - ۸۶۱ مخ

۸۳- بریکوټی، شیر افضل خان: د پښتو شعر و ادب تاریخ- ناشر: آفرین خان آف ابوها- مطبع: ملت پرنټرز لاهور- سن اشاعت: ۱۹۹۵ء- ۱۶۷ مخ

۸۴- همدغه کتاب - ۱۶۷ مخ

۸۵- رفیع، حبیب الله: د روښان یاد- مقاله (روښانی لیکنې) ناشر: پښتو اکیډیمی کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل- سن اشاعت: ۱۹۷۶ء ۱۹۲ ، ۱۹۳ مخونه

۸۶- رشاد، عبدالشکور: د واصل روښانی څو شعرونه- ناشر: پښتو ټولنه کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل- سن اشاعت: ۱۳۵۳هـ ش- (سریزه)

۸۷- د پښتو ادبی تحریکونه- (از ډاکټر راج ولی شاه خټک) ۱۲۸، ۱۳۱ مخونه

۸۸- ګام پر ګام د خوشحال سره (از محمد اصف صمیمؒ) ۱۵۳ مخ

نهم باب

# د خوشحال په کلام کښې د هغهٔ مذکور

# اولاد اؤ خپلوان

خوشحال بابا که پخپل کلام کښې د دُنیا جهان خلق یاد کړي دي.

اؤ د هغوئ ښه، بد ئې بیان کړی دی. نو ددې سره سره ئې د

خپل اولاد اؤ خپلو خپلوانو هم خبر اخستے دے. په

دغه حواله هغه د خپلې کورنۍ او خپل ټبر ګڼ شمېر

شخصیات په خپلو شعرونو کښې راوړی دی.

دې باب کښې د خوشحال بابا ذکر شوی د هغه اولاد اؤ خپلوان د هغه د شعرونو په

اساس څېړلی شوي دي. اؤ د هغوئ په حقله حقائق رابرڅېره کړې شوي دی.

هغه ملک د دوري خير دی

چې پکې مې ابو الخير دی (۱)

## ابو الخير:

ابوالخير د خان زوی دی او د زو کړې تاريخ يې نه دی ضبط شوی. تاريخ مرصع يې د خان په زامنو کې يوازې نوم راوړی دی. (۲)

تاريخ مرصع ليکی.

"بل عجب خان بل عبدالرحمٰن بل ابو الخير... دا فرزندان د خان عليين مکان سوريتی وو. (۳)

"يو ځل چې خوشحال خان د نيلاب په ګړی کښې د تشی له دره بيمار وو. ابو الخير ئې د خپلو زامنو سره تپوس له ورغلے وو." (۴)

خديجه فيروز الدين د ابوالخير ذکر داسې کوی.

"۲۲. عجب خان ۲۳. عبدالرحمٰن ۲۴. ابوالخير.... هم ددغې مور له نوسه زيږېدلی وو. خو دوئ کښې چا څه نوم اُونه ګټلو." (۵)

== ☆☆☆ ==

په واړه کښې آزاد دے

هم د روغې هم د جنګ (۶)

## آزاد (خان):

افضل خان خټک چې په تاريخ مرصع کښې د خوشحال بابا د زامنو کومه تذکره کړې ده. دغې کښې ئې د آزاد خان نامه په څرګنده ډول نه ده اخستې. مونږ چې د افضل خان ليکنې ته ځيرېږو. نو هغه په

پینځمه او شپږمه نومره کښې د یحییٰ خان او شهباز خان دوارو نامې په یو ځائے راوړې دی۔ دغه رنګ بیا ئې په یولسمه نومره کښې په دویم ځل د شهباز خان نامه یاده کړې ده۔ (۷)

هم دغه وجه ده۔ چې دوست محمد خان کاملؔ د تاریخ مرصع په نوټونو کښې لیکی۔

"یحییٰ خان د نظر د وړاندے ترتیب له رویه پینځم او شهباز خان شپږم دے۔ آزاد خان څوک دے؟ دلته د خوشحال بابا د اولاد په فهرست کښے ئے افضل خان په صراحت نوم نه دے اخستے۔ بیا شهباز خان په یوولسم نمبر بیان شوے دے نو ګوندے دغه تاریخ (۱۰۶۵ھ) په پینځم او شپږم نمبر د یحییٰ خان۔ او آزاد خان وی۔" (۸)

خو افضل خان خټک د تاریخ مرصع په یو ځائے کښې لیکی۔

"په دا میان کښے خان جنت مکان چه په بیجاپور کښے وه د وفات خبر ئے راغے۔ په سنه زرصل شپږ (۱۱۰٦) لکه تاریخ ئے آزاد د موره تره وئیلے دے۔ تاریخ

د هجرت ئے زر سل شپږ وو
اشرف خان چه وفات شه یاره
غم اندوه دده تاریخ دے
که حساب کړے ؤ ئے شماره (۹)

==☆☆☆==

اشرف خان دی راته کښلی
څه خو خوښ په خط ددهٔ یم (۱۰)

☆

اشرف خان په ناپوهیٔ په غم کښې ونښت
زه دده غمونو لا په زړه رنځور کړم (۱۱)

☆

خوئې مې اشرف خان دے چه خور شوے کور پر تول دے
زهٔ چه په بند لاړم خیلخانه مې شوه برهمٔ

---

اوس پنځه نمسی لرم افضل د اشرف خان دے
خدائے ئے برخوردار کړه په دهٔ ډیره لرم تمٔ (۱۲)

☆

چه په وارو کښې ارشد دے
نن یادیږی اشرف خان (۱۳)

☆

اشرف خان هم کار فرمائے دے
هم کارکن دے هم کار دان (۱۴)

☆

اشرف خان به یو پرهار په ځان وانخلی
نه دا نور ددهٔ د موره چه زوولی (۱۵)

☆

اشرف خان مے لائق ځوے دے
دریغه نه وے په خوئ پرنگ (۱٦)

☆

په دا هومره قباحت اشرف عاق نه شو
چه بهرام دا هسے عاق شو څه حکمت دے (۱۷)

☆

اشرف خان دِ په ځاے کښیناست
خدائے ئے تل لره کامیاب (۱۸)

☆

چه اشرف میر باز دِ هم غلوی خوشحاله
ورسره لا د یحییٰ غوندِ دهن (۱۹)

☆

ما وه پیغام کړے په اولس په اشرف خان
نه بویه د جنګ د خرخشے فکر سامان (۲۰)

☆

یو ځله هم نه خطا خطا کرت کرت
واړه مشرانو اشرفخان بهرام سعادت (۲۱)

☆

ومې کړ اشرف وته د تُورے اشارت
هيڅ عمل ئې نه وکړ څما په نصيحت

---

دريغه اشرف خانه دستياری هومره قوت
درست اولس په لاس کښې هيڅ در ؤنه شو جرأت
وراغلل مغل ته د اشرف وه قباحت
هم څما آفت وه هم هر چا لره آفت
وه ئې کښل بادشاه ته د جګرام مجرا عزت
بوت ئې و کابل ته اشرف خان په شرارت (۲۲)

☆

زۀ په هند کښې بند وُم اشرفخان وه په کابل
واړه زن بچه مې په سکری کښې داغيدل (۲۳)

دغه بيتونو کښې چرته خوشحال بابا د اشرف خان نه رضا ښکاری. او د هغه ستائينه ئې کړې ده. چرته د هغه نه ګيله مند دے. او غندلے ئې دے. دغه رنګ دا شعرونه د خوشحال بابا د قيدوبند او اشرف خان هجری د ګرفتاری په حقله هم د څه واقعاتو مخې ته راتلو تذکره لری.

## اشرف خان هجری:

اشرف خان هجری د خوشحال بابا مشر زوئے وو. په اولسم د رمضان کال ۱۰۴۴هـ کښې پيدا شوے وو. د خوشحال بابا د ګرفتارئ نه پس د خټل اولس حاکم شوے وو. ولے د خاندانی اړی ګړی په سبب ئې سرداری ډيره پاتې نه شوه. هر کله چه بهرام د مغلو طرف دار شو او د خوشحال خان په کورنئ کښې د مغلو د سياست له وجې اړے ګړے پيدا شو. نو په داسے حالاتو کښې د اشرف خان سرداری په خطره کښې شوه.

آخر په کال ۱۰۹۲ هـ کښې اشرف خان هجري په پېښور کښې گرفتار کړے شو۔ او د هندوستان په گواليار قلعه کښې بندي کړے شو۔ (۲۴)

"خوشحال بابا د جرگې د پاره بهرام خان زيارت کاکا صاحب ته را اُوبللو۔ او خپله د قبيلې سره دغې جرگې ته لاړ۔ افضل خان په سرور ميله کښې پاتې شو۔ چونکې دغه وخت افضل خان کم عمره او ناتجربه کار وو۔ او د بهرام خان په مغلو کښې اثر هم وو۔ ځکه نو په دغه جرگه کښې د خټکو خاني بهرام ته اُوسپارلې شوه۔ددې د پاره چې هغه به د خپل اثر رسوخ په ذريعه د اشرف خان د بند نه د خلاصي کوشش کوي او منصب به ورته راگرځوي۔ (۲۵)

"اشرف خان هجري د خپل پلار په شان خاني او سرداري کړې ده۔ او د هغه په رنگ شاعر او ليکوال دے۔ددۀ شمير د پښتو د سرپرې په شاعرانو کښې کيږي۔ د نيکه مرغه ددۀ ديوان د زمانې د تاړاقونو نه بچ شوے دے۔ د څو غزلونو مجموعه ئې خپره شوې ده۔ چې ددغې نه ددۀ د شاعرانه عظمت اندازه لگولې شي۔ کلام کښې ئې وطني، اخلاقي او عشقيه مضامين بياموندې شي۔ د اشرف خان هغه نظمونه کوم چې د مغلو د قيد و بند په دوران کښې ليکلې شوي دي۔ د سوز و گداز نه ډک دي۔ وطن ته واپس راتلل د هجري نصيب نۀ شوه۔ او د څوارلس کاله قيد نه پس (کوم چې هغه په گواليار او بيجاپور کښې تير کړے وو) د بيجاپور په بندي خانه کښې د ژوند له قيده آزاد شو۔ آزاد خان ددۀ د وفات تاريخ داسې ليکلے دے۔

د هجرت ئے زر سل شپږ وو
اشرف خان چه فوت شو ياره
غم "اندوه " د دۀ تاريخ دے
که حساب کړے و ئے شماره (۲٦)

د "غم اندوه" نه ۱۱۰٦ هـ راځي۔

د اشرف خان هجري درے زامن وو۔ چې افضل خان نامدار خان اور شمشير خان نوميدل۔ ددغه زامنو ذکر هغه پخپله څه په دا ډول کوي۔

ناصلاح که افضل کا زه به ئې ورمه
که په رګ د آزاد ګل ولی سردار دے
هغه یار که کشش کا چاره مې نشته
په ستم ئې شګفته یم چې نامدار دے
د شمشیر مخ مې لیدلے وه په سترګو
زېبنده د زیږو ګلو تر بهار وه (۲۷)

دده دیوان په ۱۹۵۸ء کال کی د پښتونستان ادیب همیش خلیل په واسطه په پیښور کی چاپ شوی دی۔ (۲۸)

د اشرف خان هجری د شاعری په ترڅ کښې همیش خلیل لیکی۔

" د علی محمد مخلص نه پس تر خپل وخته اشرف خان هجری د پښتو وروميے شاعر دے۔ چا چې خپله شاعری کښې د روایت خلاف د نوم په ځاے تخلص پکارولے دے۔ هجری یو مشکل پسند شاعر دے۔ او اکثر کوم الفاظ چې ده پخپله شاعری کښې راوړی دی۔ هغه په شاعرانه فن کښې د لفظی حسن او شان و شوکت ضرور ت نه پوره کوی۔ بیا هم د خپلې اخلاقیء اجتماعی وطنی او عشقیه شاعری په ترڅ کښې د قید و بند په دوران وئیلی شوې شاعری ئې د درد و غم او سوز و ګداز نه ډکه ده۔ (۲۹)

== ☆☆☆ ==

اوس پینځه نمسي لرم افضل د اشرف خان دے
خدائے ئے برخوردار کړه په دۀ ډیره لرم تم (۳۰)

☆

د بی بی اولاد همه ګیدړ میدړ دی
په افضل په معظم لګی نظر (۳۱)

☆

هغه ملک واړه بخمل دی
چې پکې دِ ما افضل دی (۳۲)

## افضل خان خټک:

افضل خان خټک د اشرف خان هجری زوی د خوشحال خان خټک لمسی ؤ. په فراقنامه کې یې له یادونې سرې وېلای شي چې افضل خان به په ۱۰۷۵هـ ق کال زوکړی وی. (۳۳)

د افضل خان خټک د زوکړې دغې یادوی شوې نیټې ته د پروفیسر افضل رضا دا رائې تقویت بخښي- په تاریخ مرصع کښې ئے خپله لیکلی دی. چه ۱۰۹۲هـ / ۱۶۸۱ء کښې مؤلف د کتاب د شپاړسو اولسو کالو وو- نو په دے حساب د افضل خان د پیداوښت کال ۱۰۷۵هـ / ۱۰۷۶هـ تاکلے شو- (۳۴)

بی بی مریم د افضل خان خټک د پیداوېښت د کال په حقله لیکي-

"خو د سکندر خان خټک د یو منظوم خط له مخه چه اشرف خان هجری ته ئے په کال ۱۰۹۳هـ کښے بیجاپور ته لیږلے وو- د افضل خان خټک د پیداوښت کال ۱۰۷۳هـ یا یو کال کم و زیات هم تاکلے کیدے شی-" (۳۵)

"افضل خان خټک د خپل نیکه سره په جنګونو کښے برخه اخستے وه- خوشحال ددغه نمسی نه د هغه د ذاتی اهلیت او صلاحیتونو په وجه ډیر زیات خوشحاله وو- هم دغه وجه وه چه په خپلو زامنو ئے نمسی ته ترجیح ورکړه او په خپل ژوند ئے د سردارئ دستار د هغه په سر کیښود- او تر اوږدے مودے پورے

د خېلې قبيلې مشر پاتې شو." (۳٦)

دغه مشرى مشهور مستشرق ميجر راورتي يو کم پنځوس کاله او پروفېسر افضل رضا ئې يو شپېته (٦١) کاله يادوي. (۳۷)

"د سرداري او مشرۍ له مصروفياتو سره سره ددهٔ خپله ژبه نه وه هيره. ده خپله هم کار کاوه او نور يې هم هڅول چې پښتو ته کار وکړي." (۳۸)

"د افضل خان په خپلو اثارو کې د زيات اهميت وړ کتاب دده تاريخ مرصع دی. چې له مختلفو اړخونو د مطالعې زمينې لري. تاريخ مرصع افضل خان د ۱۱۳۲-۱۱۳٦ هـ ق کلونو تر منځ بشپړ کړی دی. (۳۹)

"د تاريخ مرصع د ليکنې د ميتودد يو مهم خصوصيت دادی چې تاريخي پيښې په يوه قرينه کې بيانوي. د هرې واقعې پس منظر او د پېښېدو علتونه پلټي. په دې اساس دده په ليکنه کې که څه هم په ابتدايي بڼه د تاريخ فلسفه پرته ده. تر کومه ځايه چې ممکنه ده افضل خان عيني او ذهني فکتورونه راښيي. دده په ليکنه کې د خلکو نقش او د واقعاتو په مسيرکې د عامه ذهنيت اغيزه خاص اهميت لری." (۴۰)

د افضل خان خټک بل منثور کتاب د کليله ودمنه پښتو ترجمه ده. چې د ابو الفضل (۹۵۸ = ۱۰۱۱ هـ ق) له عيار دانش نه يې د علم خانه دانش په نامه پښتو ترجمه کړې ده. (۴۱)

له دغو دوو کتابونو تاريخ مرصع او علمخانه دانش پرته (چې نسبت يې افضل خان ته ثابت دی) ځينې نور منشور اثار هم شته چې افضل خان ته يې د نسبت دعوه کيږی په دغو دوو کتابونو کې يوه پښتو منثوره بازنامه او بل هم عرفاني تفسير دی. (۴۲)

د تاريخ مرصع له مطالعې سړی ته ښکاري چې افضل خان يو عالم او د نظر خاوند سياست مدار و، چې د خپل عصر له نور علمونو سره سم په سياسي، اداري او اخلاقي علومو پوهيده او په ټولنيزو مسايلو کې د پوره مطالعې خاوند ؤ. (۴۳)

د افضل خان خټک د مړينې د کال په لړ کښې پوهان مختلف سنونه په ګوته کوی. څوک ئې ۱۱۵۳هـ يا ۱۱٦۱هـ يادوی. او څوک ئې ۱۱۸۳ هـ يا ۱۱۸۹هـ کال د مړينې ښائی.

په زيارت کاکا صاحب کلي کښې د حضرت شيخ رحمکار صاحبؒ د مزار شريف د احاطې لاندې تر تقريباً پنځه ويشت ګامه لرې يو قبر دې. چه عام طور سره هم دا د افضل خان آرامګاه ګڼړل کيدې شي. (۴۴)

== ☆☆☆ ==

د وصال اُميد رمق دې لږ راپاتې
او که نه بيلتانه ووژلم اکبر (۴۵)

لکه څنګه چې وړاندې اُوليکې شوه. چې اکبر د خوشحال خان خټک د يو خوږ دوست نوم هم وو. خو په دې نامه د ستر خوشحال يو زوئے هم نوميدو. او دا قياس ته ډيره نزدې ده. چې په دې شعر کښې خوشحال بابا د خپل ماشوم مړ شوی زوی اکبر خان د جدائی له وجې بې کوره شوی وی. او دغه شعر ئې وئيلې وی. څکه چې خوشحال بابا د خپل زوی عبدالعزيز خان (باباجان) ذکر هم کړې دې. څوک چې دده په رنګ په طفوليت کښې مړ دې.

## اکبر (خان):

اکبر خان د خوشحال خان تر ټولو مشر زوی ؤ. تر اشرف خان د مخه زيږيدلی دی. د اُوو ورځو ؤ چې ومړ. (۴۶)

د تاريخ مرصع مؤلف د اکبر خان ذکر څه دا رنګ کوی.

"او فرزندان د خان عليين مکان چه په طفوليت مړۀ شوی دی دادی. اکبر خان د خان جنت نښان مشر وۀ د اُوو ورځو وۀ چه مړ شه." (۴۷)

د خوشحال ښه ډير زامن پئې خورک مړه شوی دی.

اکبر خان چې د اشرف خان نه مخکښې زيږيدلے وو. اُووه ورځې اُوپائيدو. (۴۸)

رحمت په اکوړی شه چه ئے ونیوه ځاے سرائے
چه بنه فهم ئے وکړے باور وکړه ځاے دے ځاے (۴۹)

☆

اکوړے، یحییٰ، شهباز واړه سرهٔ زر وو
په خپل دور واړه بنه تیر کړ خپل وار
اکوړے یحییٰ شهباز واړه مزری وو
زهٔ هم نه یم د ګیدړو په قطار (۵۰)

☆

بل نیکه ځما ملک اکو چه په خټک کښے
دهٔ راوړه دا بخره د لوئي مقدمٔ (۵۱)

☆

یحییٰ خان د اکوړی وه
چه په توره شو سلطان (۵۲)

☆

یو یحییٰ خان نه شو یو اکوړے نه شو
چنجو منجو دی پټ به ئے څه کړم (۵۳)

☆

اکوړے شهباز په دوئ پورے بدنام شول
د پدر په خوئ و بوئ نه دی راغلی (۵۴)

## اکوړی (ملک):

ملک اکوړی د درویش محمد (په چنجو مشهور) زوی ؤ. د کوهاټ ضلعی د تېری تحصیل په کربوغه کی اوسیده. ملک اکوړی د خپلی قبیلی سردار ؤ. او د خپلو خپلوانو نه یی د خپګان له امله له کورنۍ سره له هغه ځایه کډه وکړه. او د "سونیا" درې په خوړه نومې ځای اوسید. څه موده وروسته ورته د جلال الدین اکبر (۹۶۳ ـ ۱۰۹۴ ق) پام شو. دغه مهال د اټک پېښور لار ډېره نامحفوظه وه. ددغی لاری ساتنه د پاچا له خوا همده ته وسپارل شوه او ورسره ئې له نوښاره تر خیرآباده پوری ځمکی د همده په جاګیر کی ورکړی او د څارویو د محصول اختیار هم دده شو. ملک اکوړی د پاچا دغه ملازمت وما نه او د خپلی وفادارۍ عهدیی ورسره وکړ. او چی د یوه باقاعده سردار یا حاکم په توګه څرګند شو. نو د نوښار د ختیځ په اته میله کی د لنډی سویلی کناری ته د "سرای" د جوړیدو بنیاد کیښود.

ملک اکوړی د بولاقو لا لاسه ووژل شو. (۵۵)

"اکوړ خان په ۹۴۸هـ کښې پیدا شوے وو. په ۹۸۹هـ کښې ورته اکبر اعظم منصب ورکړے وو. او په کال ۹۹۸هـ کښې د پنځوس کاله په عمر کښې وژلے شوے وو. دغه شان هغه صرف نهه کاله منصبدار پاتے شوے وو. (۵٦)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه جنان دی
چې پکې د بابا جان دی (۵۷)

په تاریخ مرصع (ص ۲۵۹) او فراقنامه کې چې د خوشحال د زامنو کوم فهرست راغلی، د هغه ترتیب له مخې دغه نوم له عبدالعزیز خان سره سمون خوری. (۵۸)

## باباجان (عبدالعزيز خان):

د خوشحال بابا زوے دے۔ چې د بابا جان په نامه هم ياد کړے شوے دے۔ او په وړوکوالی کښې مړ شوے دے۔ تاريخ مرصع ئې د زوکړې او مړينې داسې ذکر کوی۔

تاريخ د عبدالعزيز خان او عبدالقادر خان چه عبدالعزيز خان په طفوليت کښے مړ دے۔ داد ے۔

عبدالعزيز خان که کنون جان و هوش ماست

درنيم شب به پنجم ذوالحجه زاد بس (۵۹)

ددغه بيت نه جوتيږی چې عبدالعزيز خان په کال ۱۰۶۳هـ / ۱۶۵۳ء د ذوالحجې په پينځمه زيږيدلے دے۔

== ☆☆☆ ==

هم شنقار دے هم شاهين شته

هم بنه باز لرم لک غاړی (۶۰)

☆

راته درست د دهلی ښهر وُه بوستان

چه په کښے وه باز باقی سعادت خان (۶۱)

☆

چه ئے ورځ و شپه په ما باندِ يوه کړه

دريغه دريغه جت و باز و صدر خانه (۶۲)

☆

هغه ملک سره تل راز دی
چې پکې د بابا باز دی (٦٣)

☆

حال به څه د باز د مور وي
په اُور سوې لکه سکور وي (٦٤)

## باز:

باز (شهباز خان) او بختناک دواړه د خوشحال خان زامن او له یوې مور دی. د دوی د ادبی فعالیت او اثارو په باب تر اُوسه چا څه نه دی ویلی. خان د باز په باب یو ځای ویلی دی.

چې ئې ورځ و شپه په ما باندې یوه کړه
دریغه دریغه باز وچت و صدر خانه (٦٥)

د تاریخ مرصع مؤلف د باز ذکر د بختناک سره یو ځا ے داسې کوی.

او شهباز خان او بخت ناک چه مورئے لور د صاحب خان ولد بوچه خان ولد ملک باره مهمندزئ د نوښهر وه. (٦٦)

د تاریخ مرصع د مخونو ۳۱۰ او ۳۲۲ د واقعاتو نه دا خبره راډاکې ته کیږی. چې باز (شهباز) د خپل پلار سره په دغه قبیلوی جنګونو کښې کلک ولاړ وو. ولې د پلار د مړینې نه پس ئې د افضل خان خټک سره تعلقات خړ ښکاری. څکه خو په کال ۱۱۲۵هـ کښې شهباز د افضل خان په زندان کښې لیدے شی. لکه چې لیکی.

"په سن زر سل پینځه ویشت میاشت د جمادی الاول عبدالقادر او شهباز د فرزندانو سره او عبدالله او محمد م واړه قید کړه. مفسدان دوئ وو. فسادله دوئ نه وه چه دوئ دلے په قید شول. فساد درهم برهم شه." (٦٧)

یحییٰ خان چه تاریخ ددهٔ او د شهباز خان د تولد په دا یوه مصرعه کښے راغلے دے۔ تاریخ

گلے باغ را زاد آزاد خان (٦٨)

ذوست محمد خان کامل صیب د گل باغ+زاد نه ۱۰٦۵هـ کال را اوکښے دے۔ خو ددغې مصرعې د نومونو په حقله ډاکټر راج ولی شاه خټه بله رائ لری۔ لیکي۔ دلته دا خبره د فکر وړ ده چه د خوشحال بابا د زامنو په فهرست کښے افضل خان په تاریخ مرصع کښے د آزاد خان نومے زوئے ذکر نه دے کړے۔ نو مونږ ددے نه دا نتیجه راویستلے شو چه آزاد باید د شهباز خان تخلص یا لقب وی۔ او هم شهباز خان دغه آزاد وی۔ (٦٩)

== ☆☆☆ ==

راته درست د دهلی ښهر وُه بوستان<br>
چه په کښے وه بآز، باقیؔ، سعادت خان (۷۰)

☆

ځویه سعادت باقیؔ میر باز پریشان احوال<br>
راغله په لاهور کښے راپسے دوی په دنبال (۷۱)

☆

واوریده دا حُکم سعادت باقیؔ میر باز<br>
راغله یکایک ئے حقیقت کړ را اغاز (۷۲)

☆

دوه ځله سرائے مات شو یو ځما په بندیدل<br>
بل د سعادت باقیؔ میر باز په رسیدل (۷۳)

د باقیؒ نامه د خوشحالؒ بابا په کلام کښې د خوشحال د ګرفتارۍ نه پس مخې ته راځي. داسې برېښي چې دے په خاندان کښې د پوهې خاوند او مخوریز سړے وو. ځکه چې د خوشحال د راخلاصولو په سلسله کښې چې کوم درے کسیز وفد دهلی ته تللے وو. یو پکښې دے هم وو. او خوشحال ئې په دغه حواله بیا بیا د مغوئ سره ذکر کړے دے.

## باقي:

باقي د آدم خان زوے او د خوشحال خان خټک تربور وو. د خوشحال خټک تره آدم له موره یو وو. مور ئې مهمندۍ وه. د باقي اُووه وروڼه نور هم وو. یو ورور ئې ساقي بیګ نومیدو. څوک چې د شهباز خان سره په هغه جنګ کښې وژلے شوے وه. کوم چې د خټکو او کمال زو اکاخیلو تر مینځه شوے وو. (۷۴)

(ترجمه) "باقي د میر باز خان او سعادت خان سره په هغه آوان دهلی کښې موجود وو. کوم وخت چې خوشحال خان خټک پنځ سیری بیړۍ په پښو د یو قیدی په حیث د اورنګزیب دربار ته اُورسید. دوئ چې د بادشاه دا مشروط فرمان واورید. چې د خوشحال خان غاړه به هله خلاصیږی. څو چې هغه خپل اهل و عیال یرغمال دهلی ته راؤلی. دوئ د بادشاه ددغې فیصلې نه خوشحال خان خبر کړو. او بیا د خوشحال خان په وینا د صفرې د میاشتې کال ۱۰۷۵هـ دوئ وطن ته راغلل. او د خوشحال خان اهل و عیال ئې د مخې سره محفوظ مقام ته اُورسول." (۷۵)

== ☆☆☆ ==

بخت ناک خان مے په کښے ومړ
مور ئے هم بوته قضا (۷۶)

☆

بخت ناک په دوه هفتے شو
تر فانی جهانه تیر (۷۷)

☆

بخت ناک هغه ځلمے دے
نشته بل ددۀ په رنګ (۷۸)

☆

هغه ملک واړه او تاک دی
چې پکې کښلی بختناک دی (۷۹)

## بخت ناک:

بخت ناک د خوشحال خان د زامنو څخه يو دے. دے د شهباز خان سکه ورور دے. مورنې نيکه ئې صاحب خان نوميدو. صاحب خان د بوچه خان ولد ملک باره زوئے وو. دۀ د مهمندزی قبيلې سره تعلق لرو. او په نوښار کښې استوګن وو.

بخت ناک د غواص د کال وبا (۱۰۹۷هـ) کښې تبې اُونيو. او په دوه هفتو کښې اُومړ. دغه وخت ددۀ عمر درويشت کاله وو. په دغه حساب که ۱۰۹۷ نه ۲۳ لرې کړې شی. نو ۱۰۷۴هـ به ترې جوړ شی. او مونږ وئيلې شو چې بخت ناک به د ۱۰۷۴هـ خواوشاه پيدا شوے وی.

شهباز خان او بخت ناک د يوې مور نه پيدا شوی وو. د بخت ناک په حقله خوشحال بابا وئيلے دی. چې بخت ناک هغه زلمے دے. چې مثال نه لری. په کال ۱۰۹۷هـ کښې وبا راغله. او دغه وخت بخت ناک بيخی ځوان وو. بيمار شو. او ددې فانی دُنيا نه ئې سترګې پټې کړې. (۸۰)

پنډ بد روز بکر حیران بهادر خان
هدایت ترین سوخته وو تر دا میان (۸۱)

## بدروز (فیروز خان):

په دے نظم کښے فیروز خان ته طنزاً بدروز ویلی شوے دی۔ (۸۲)

فیروز خان د ستر خوشحال د تره نامه ده۔ ددهٔ د مور نوم نیک زن وه۔ او په قام کهتړه وه۔ د فیروز خان پلار یوسف خان نومیدو۔ یوسف خان چې مړ شو۔ نو د فیروز خان مور د هغه تره یحیی خان په نکاح واخسته۔ (۸۳)

"د فیروز خان شپږ زامن وو۔ ددهٔ یوه ښځه غوره خیله وه۔ چې په خټه داودزی وه۔ ددغې ښځې نه ممریز خان اوهمت خان زیږیدلی وو۔ د فیروز خان دوه درې زامن له وینځې نه هم وو۔ دغه رنګ پینځه زامن ئې مره شوی وو۔ کله چې شهباز خان حق اُورسید نو دغه وخت فیروز خان په هندوستان کښې وو۔ چې دا خبر ئې واورید۔ نو په تلوار راستون شو۔

د خوشحال د نورو ترونو په رنګ فیروز خان هم دا نه خوښوله چې د هغوئ په موجودګۍ کښې دې خوشحال د ختکو سرداری اُوکړی۔ ځکه نو د خوشحال د ګرفتارولو په سازش کښې شریک شول۔ او صوبه دار امیر خان خوافی ته ئې د شمشیر خان ترین په ضامنۍ پنځوس زره روپۍ رشوت اُووایو۔ او دا رنګ فیروز خان سره د نورو ورونو په دغه سازش کښې تر ډیره بریالی شول۔

دغه شان فیروز خان په هغه سازش کښې هم برابر شریک وو۔ کوم چې بهادر خان او شیخ ضیاء الدین د اشرف خان نه د سرداری اخستو په ترڅ کښې جوړ کړے وو۔ ددغې سازش ترمخه دوئ د امیر خان خوافی وراره بنګالی خان مصلحتی کړو۔ امیر خان خوافی ته وراغلل۔ او سرداری ئې د اشرف خان نه واخسته۔ اوپه بهرام خان ئې اُوسپارله۔ (۸۴)

پند بدروز بکر حیران بهادر خان
هدایت ترین سو خته وو تر دا میان (۸۵)

## بهادر خان:

بهادر خان د یحییٰ خان زوے، د شهباز خان ورور او د خوشحال خان ختک تره وو۔ دهٔ خوشحال خان ختک ته د هغه د سردارئ او مشرئ په دوران کښې ډیر مشکلات پیدا کړی وو۔ څه که هم په ابتداء کښې ئې د خوشحال خان ختک د سردارئ مخالفت په ډاګه نه کوؤ۔ ولې سازشونه ئې ضرورکول۔ خو وروسته ئې د هغه خلاف په ډاګه ډیګلی لاس پښې وهل۔ او د هغه د مینځ نه د وړلو ئې ناکامه هڅې کولې۔

تاریخ مرصع د بهادر خان پیژندګلو څه دا رنګ کوی۔

"یحییٰ خان ته حق تعالیٰ یوولس فرزندان عنایت کړه۔

بهادر خان عالم خان له یوے موره وو۔ قذیفه نومیده۔

اسماعیل خیله وه۔" (۸۶)

دا د هجری ۱۰۵۰ کال وو۔ چې خوشحال خان ختک د خپل پلار شهباز خان د انتقام رانیولو د پاره په اکاخیلو حمله کوله۔ په دغه موقعه بهادر خان نارضا وو۔ چې ګنی په اکاخیلو دې لښکر اُوشی۔

بهادر خان راضی نه وه چه دا رنګ په دارونړه سواری هپی کړے نه ده۔ (۸۷)

دغه رنګ هند ته نزدې د بهاګو خان سره په یوه انښته کښې چې خوشحال خان خپلو لښکریانو ته د غلیم د کلی وهلو حُکم ورکوی۔ نو دغلته هم بهادر خان خاطر دُرونے ښکاری۔ لیکی:

"ولے د کلی په وهلو په مصلحت کښے بهادر خان خلل ګډ
کړ۔ بهادر خان بنه وه۔ ولے په وخت د هلے به ئے حرکت
وکړ۔ زړه ئے ډیر جنګ طلب نه وه۔ په خپل ذات هم نصرت
جنګ نه وه۔ (۸۸)

کال ۱۰۷۴هـ کښې چې خوشحال خان ختک مُغلی واکدارانو گرفتارولو نو په دغه سازش کښې ورسره د خوشحال خان ددے تره هم پوره پوره لاس وو. لکه تاریخ مرصع چې پخپله لیکی.

"ترونو د خان علیین مکان بهادر خان او فیروز خان مخالفت وکړ. امیر خان ئے په دا پله راووست چه د تا د صوبه داریٔ نقش به هونبره کښے نه نی څو چه خوشحال قید نکړے. ترونو ئے هم پنځوس زره روپیٔ د شمشیر خان په ضامنیٔ قبول کړے وے. ددهٔ د قید یرغ ئے سره کړے وه. (۸۹)

د خیبر د جنگ نه پس چې مهابت خان ته صوبه داری اُوسپارلې شوه. نو هغه د ختکو سرداری د خوشحال خان په انکار اشرف خان هجری ته ورکړه. ولې د مهابت خان د وراره بنگالی خان په واسطه بهادر خان او فیروز خان بهرام خان رامخې ته کړه. او دا شان ئې د سرداری په معامله کښې د دواړو ورونو تر مینځه کانی اُوتکول.

د تاریخ مرصع د بیان له رویه بهادر خان د بنګشو سره په یو جنگ کښې د شیر محمد خان بنګش ورور د جنگ په شروع کښې اوویشت. او مړ شو. او ددغې پیښې سره بنګشو میدان پرېښو او جنگ ئې اُوبئیلو. لیکی:

"بهادر خان چه سکه تره ئے وه او پـلار د مؤلف خان جنت نښان اشرف خان چه په هغه آوان ځلمے وه د لښکره سره غوریزی ټول نه ورستوه. د غورزیو په ټول د شیر خان وشهٔ. بهادر خان تره د شیر خان له اوله په ټوپک پرے ووت مړ شهٔ. شیر خان شکست بیاموند خان جنت نښان ډیر کوشش وکړ. اما بهادر خان عالم له تعاقب منع کړ."(۹۰)

== ☆☆☆ ==

په نيکنام پسے که زړه د رانړئ چوی
د بهاگو خاطر خوشحال شو په کامران (۹۱)

بهاگو:

دې بره شعر کښې خوشحال بابا د څلور شخصياتو نامې راوړې دی۔ دغه شخصيات چې دوه نارينه او دوه زنانه دی۔ ټول نامعلومه کسان دی۔ ولې دومره ضرور معلومه ده۔ چې دغه شخصيات د خوشحال بابا د کورنۍ سره تعلق لری۔ دا شعر چې د کوم نظم نه اخستې شوې دے۔ د هغې د نفس مضمون له رويه د کال ۱۰۸۸ھ په آوان سخته سوکړه وه۔ شپږ اُووه مياشتې باران نه وو۔ د وښو او اوبو ډير کمے وو۔ غله ډيره گرانه شوې وه۔ بيا الله تعالیٰ باران اُوکړه۔ ملک ښيرازه شو۔ ولې يو تکليف ده کار پکښې دا اُوشو۔ چې د خوشحال بابا د کورمې هلکان پکښې مړه شول لکه چې وائی:

ډير څمونړ د خيلخانے هلکان ومړل
داغ د زړه دے عبدالله د يحيیٰ خان (۹۲)

او دې شعر پسې بيا دغه پورته ذکر شوے شعر خوشحال باباؒ وئيلې دے۔ چې نيک نام پکښې مړ شو. او په هغه پسې د رانی زړه اُوچاود۔ خو د بهاگو زړه په کامران خوشحاله شو۔ غالباً چې هم په دغه آوان د بهاگو له نوسه کامران زيږيدلے دے۔ او دا رنگ د هغې خاطر پرې ښاد شوے دے۔

تر کومې پورې چې په دغه شعر کښې د بهاگو تعلق دے۔ نو په دغه لړ کښې دوست محمد خان کاملؔ ليکی۔ چې

"دا لفظ په هوتی نسخه کښے بهاگور (بختور) ليکلے دے۔ قندهار نسخه کښے بهاگو دے۔ ما بهاگو وليکلو۔ بهاگو نه هم د بهاگور مطلب را اُوزی۔" (۹۳)

زلمی محقق محمد زبير حسرت "بهاگو" سړے گڼلے دے۔ (۹۴) حالانکه بهاگو د زنانه نوم دے۔ ځکه چې ددغه شعر په وړومبی کړی کښې خوشحال بابا د نيکنام د نوم سره د رانړی نامه راوړې ده۔ که مونږ په

دویمه کړی کښې "بهاګو" نارینه نوم اُومنو. نو دغسې به شعر په فنی لحاظ بیخی پریوځی. څه چې د خوشحال بابا د شاعرئ د اعلیٰ معیار بیخی خلاف ده. زما خیال دے. چې "بهاګو" د بهاګ متی په څېر د یو هندوستانی نوم وران کړے شوے شکل دے. زۀ ګمان لرم چې دا د خوشحال بابا د کورنئ څوک هندوستانی زنانه ده.

== ☆☆☆ ==

عطارد دِ نور قلم له لاسه کیږدی
چه په دا خو بئ بهرام انشا املا کا (۹۵)

☆

له خوشحاله ئے بهرام غونډ پیدا کړ
دم واڅه نشی څوک څه وائي یزدان ته (۹٦)

☆

د خوشحالؔ عقل خطا نه وه نور څه وه
چه خانی ئے په بهرام کړله نامزدً (۹۷)

☆

د خوشحال په دُعا غوږو سترګے وکړه
که بهرام عابدّ دی دواړه کر و کور (۹۸)

☆

راشه ګوره د بهرام د نفاق چر
ګاه سنی ګاه رافضی ګهے کافر (۹۹)

☆

بهرام خان دے سعادت دے هم یحیىٰ دے

پهِ خصلت کښې سره یو تر بل بدتر (۱۰۰)

☆

تا هنر د سردارئ نه زده بهرامُ

سرداری دِ په خپل دور کړه بدنامُ (۱۰۱)

☆

دا هم ځاے د تعجب د حیرانئ دے

چه لښکرے په خوشحال کا بهرام خان (۱۰۲)

☆

هغه ښویه خو په کور بنه دے خوشحالهٔ

چه بهرام غونډِ یوازے د خپل کور وی (۱۰۳)

☆

ښوک بهرام غونډِ منحوس بدبخت بخیل شی

په شامت ئے خیل خانه شی تار په تار (۱۰۴)

☆

د بهرام لښکرے پروتے په تیرئ دی

اُمید دے چه خدائے ئے زر کا شرمسار (۱۰۵)

☆

په بهرام بانډِ چه وار راغے اوس گوره

چه ئے څه رنګه بدنامه کړه دا نامدار (۱۰۶)

☆

زما زړه له چا نه روغ نه دے بهرامَ
د هر چا سره مے زیست دے له ناکامَ (۱۰۷)

☆

نۀ دا یو عیب څما نه ډیر هنره
چه بهرام څما پسر زۀ ئے پدر یم (۱۰۸)

☆

خو یو بهرام دے په خوی ناځیز دے
لکه ناځیز دے هسے ناځیز اُوسَ (۱۰۹)

☆

څما توبه ده د بهرام له خیره
ددۀ له شره امان پناه غوارِم (۱۱۰)

☆

لکه عابدّ وکړه یا بد فرجام وکړه !
دا حال په هر چا دے که په خوشحال شته (۱۱۱)

☆

بهرام که څوے د خوشحال ختک وه
هُنر ئے نه وه څنے خبر واخله (۱۱۲)

☆

شوم بهرام مے د ځان غم شو
زۀ هم غم ددۀ د ځان شوم (۱۱۳)

☆

که خوشحال به په دُنیا لرے خو کاله!

سکه بهرام به تهٔ تیرنه کړے تر سرِ کال نه (۱۱۴)

☆

بهرام هم کار فرما دے

هم کارکن دے زړه پریشان (۱۱۵)

☆

بهرام هغه خنزیر دے

چه لائق دے د تفنگ (۱۱٦)

☆

مصطفیٰ وته وګوره

په بهرام وکړه نظر (۱۱۷)

☆

د بهرام له حاله څه وایم و چاته

حال د خپل خویه ښکاره دے و بابا ته (۱۱۸)

☆

په دا هومره قباحت اشرف عاق نه شو

چه بهرام دا هسے عاق شو څه حکمت دے (۱۱۹)

☆

که د چا له لاسه ومرم ګمان مه کړه

چه بهرام سدو به روغ کا د چا څلی (۱۲۰)

☆

بهرام غر د خیر آباد په حماقت دے

آب سیند د خیر آباد دے په دروغ (۱۲۱)

☆

و بهرام وته نظر کړه

هم وفا هم ئے حیا (۱۲۲)

☆

بهرام وته و گوره

درست بنده دے د خپل کام (۱۲۳)

☆

چه بهرام څنے پیدا شو

ماوے ---- مے دے کافر (۱۲۴)

☆

بهرام ښځه دے بدرنګه

رنګارنګ زیور پر پورے (۱۲۵)

☆

د بهرام په لښکر مه ځه

په ورتللو کښے درنګ نه کا (۱۲۶)

☆

یو ځله هم نه خطا خطا کړت کړت

واړو مشرانو اشرافخان بهرام سعادت

---

پاڅیده بهرام ته په دا مینځ کښې یو غیرت

درست اولس ئې تول کړ په نرئ راوخت (۱۲۷)

"بهرام د خوشال خان دریم زوی و." (۱۲۸)

"مور یی الک خیله ښځینی ختکه وه." (۱۲۹)

خوشحال بابا ئې د پیدائش قطعه په فارسی کښې داسې وئیلې ده.

در یاؤ الف ماه ربیع الاول

بهرام آمد بروئے رخشنده چوماه

تاریخش شد که بخت بابا آمد

زین جمله شود جیم هزار وپنجاه (۱۳۰)

په دې حساب د خوشحال بابا دا زوئے د ۱۰۵۳هـ په ربیع الاول د ۱۶۴۳ء مې جون پیدا شوے دے.

"بهرام د خوشال خان ناخلف زوی دی. چی د خان او د خان پرمسند د ناستو کسانو په وړاندی یی د مغولو په ننګه او لمسه سرکشی او تمرد کړی و. د تاریخ مرصع مؤلف (د بهرام وراره) یی د بدو اعمالو او ناوړه چارو ډیر بیانونه راوړی. خان هم په خپل کلیات کی تری سرټکولی دی." (۱۳۱)

ستر محقق دوست محمد خان کاملؔ د بهرام په حقله لیکی.

"دهٔ چې څومره نوم ګټلے دے. د هغې لویه وجه د خپل عظیم پلار نه غاړه غړول او د هغه خلاف د ناخلفی بنیوه اختیارول دی. خان علیین مکان ددے بد بخت د زوکړې ما ده "بخت بابا آمد"لیکلې وه. ولې د الله شان ته اُوګوره چې دے د پلار د پاره بدمرغه اُوګرځید. د خان علیین مکان د کلام نه څرګندیږی چې بهرام د لیکنې او املا د فن ډیر مهارت لرلو." (۱۳۲)

د زلمی هیواد مل د لیک تر مخه بهرام په ۱۱۲۴هـ کښې مړ شوے دے. (۱۳۳)

== ☆☆☆ ==

هر چې زوولی دی د توتیا له نفسه
د پدرکش په بوی دی همه واړه (۱۳۴)

## توتیا:

د خوشحال خان د یوې کور ودانې نامه ده. د خوشحال د خپلې وینا مطابق د توتیا سره هغه د اتلس کالو په عمر کښې واده کړے وو. د توتیا د پلار نیکه په حقله وائی چې هغوئ بد ذاته وو. شپونکی وو. کم عاقل په خویونو سپی او بد سرشته وو. دوئ سکه پلار وژلے او ورونه قتل کړی وو. پخپل کور کښې بې اتفاقه دی. همیشه شرونه کوی. دا د قسمت کړه وو. چې ما د توتیا سره واده اُوکړو. زما مشران زامن هم ددې له نوسه دی. دغه خاندانی اثر دے. چې ددې زامن اوس زما په وژلو پسې راپسې دي." (۱۳۵)

ددې نه علاوه د ځنو پوهانو خیال دے. چې توتیا د پښتو شاعری هم کوله. دغه پوهان خیال لری چې د خوشحال د قید و بند په دوران کښې توتیا هغه ته یو منظوم خط لیږلے وو. دغه خط د خوشحال خان په کلیاتو کښې د هغه د غزلونو د "م" په پټی کښې په مخ ۲۱۰ درج دے. ولې ځنې نور پوهان ددغه خیال سره اتفاق نه لری.

" دا د اشرف خان هجری مور او د خوشحال خان خټک بی بی وه. دا هم لکه د خپلې کورنۍ د نورو غړو په شان ښه عالمه او فاضله ښځه وه. نور اثار خو ئې نه دي معلوم خو پوهاند صدیق الله رښتین د مولوی نور محمد قندهاري د پښتو ګرایمر "تحفه الامیر" په حواله ددې یو غزل رانقل کړے دے. دا غزل دې د خوشحال خان د رتنمبور د بند په حالت د خپل حال سره مناسب اولیکه. او هغهٔ ته ئې اولیږو." (۱۳٦)

خوشحال بابا یو ځائې کښې وائی:

پوره زر اتیا کالونه د هجرت وو
چه د مور په خوا م وړ مشر کور (۱۳۷)

ددغه شعر له مخه د خوشحال بابا ددغې مشرې بی بی "توتیا" مرګ په کال ۱۰۸۰ هـ کښې واقع شوې دے.

چه اول ماتړے ئے ګډه په سورو کړه
په سورو کښې چار د جتۍ د عثماني وه (۱۳۸)

☆

چه ئے ورځ و شپه په ما باند یوه کړه
دریغه دریغه جتۍ و باز و صدر خانه (۱۳۹)

☆

هغه ملک د مښکو هتۍ دی
چې پکې د بابا جتۍ دی (۱۴۰)

☆

بهرام خان دے سعادت دے هم یحییٰ دے
په خصلت کښې سره یو تر بل بد تر (۱۴۱)

☆

حال د جتۍ د مور څه شان دی
زړه یې څو ځایه پریشان دی (۱۴۲)

**جتۍ:**

جتۍ د یحییٰ خان د مینې نوم وو. په فراق نامه کښې چې د سینګاؤ د پناه ګزینو په یاد کښې کومه مثنوی لیکلې شوې ده. هغې کښې د سعادت خان، بهرام او نظام نه پس د جتۍ نامه راغلې ده. ځکه نو مونږ وئیلو شو. چې د (خوشحال بابا) په زامنو کښې جتۍ څلورم دے. اوکه د اشرف خان نه ئې را اخلو. نو بیا جتۍ په پنځم نمبر راځی. (۱۴۳)

د یحییٰ خان د زوکړې په لړ کښې د تاریخ مرصع مؤلف لیکی.

يحيىٰ خان چه تاريخ ددۀ او د شهباز خان د تولد په دا يوه مصرعه کښې راغلې دے. تاريخ

ګلے باغ را زاد آزاد خان (۱۴۴)

ددغه ګلے په ځاے کامل مومند ګل باغ ليکلے دے. او د "ګل باغ را زاد"نه ۱۰۶۵هـ کال را اوځي. ولې زلمے محقق محمد زبېر حسرت د يحيىٰ خان د تاريخ پيدائش په ترڅ کښې ليکي.

خو د ګل باغ را آزاد خان نه د ابجد په حساب ۱۹۱۸ جوړېږي. چې صحيح نه برېښي. (۱۴۵)

محمد زبېر حسرتؔ په دغه ترڅ کښې زما د خيال مطابق تير خوړلے دے. هغه د تولې مصرعې (ګل باغ را آزاد خان) د ابجدو حساب لګولے دے. حالانکې د افضل خان خټک د ليکنې نه واضحه ده. چې د يحيىٰ خان او شهباز خان د تولد تاريخ په دغه مصرعه کښې راغلے دے. نه چې ددغه تولې مصرعې نه د هغوئ دتولد تاريخ را اُوځي.

د يحيىٰ خان ـ مور ـ ځينئ له تيړے د الک خيل وه. لور د الف ولد ملک سرور ولد ميرک وه. (۱۴۶)

== ☆☆☆ ==

ځوک مالو غونډِ جلو غونډِ پيدا شی
سراسر واړه نابود او ناپکار (۱۴۷)

☆

هغه ملک سراسر مال دی
چې پکې د ما جـلال دی (۱۴۸)

دې شعرونو کښې د جلو نه مراد جـلال خان دے. ځوک چې د خوشحال خان خټک زوئے وو. وړومبی شعر کښې ئې نابوده او ناپکاره ګڼلے دے. خو دويم شعر کښې ئې د جـلال خان ستائينه او تعريف کړے دے.

## جلال خان:

جلال خان د خوشحال خان خټک زوئے دے. ددۀ د مينې او ناز نوم "جلو"دے. افضل خان خټک ئې د خوشحال خټک په حواله د دوو نورو ورونو سره د زوکړې تاريخ داسې ښودلے دے.

"بل جلال خان او عادل خان او جعفر خان چه تاريخ ئے د ولادت دا دے. تاريخ:

مارا خدا چو عادل فرخنده فال داد
تاريخ او بخوان که بفرخنده فال زاد
او درجميد ثانی اندر دوپنج وبا
زاده است جعفر از پس عشرين ويک زياد
ازمولد خجستۀ جعفر چوکه گذشته
آمد جلال و باب فرخ بردلم کشاد (۱۴۹)

کامل مومند ددغې لوړې قطعې نه د جلال خان د زوکړې کال داسې اخذ کړے دے. چې که "بفرخنده فال زاد"(لکه چه اصل کښې دے) = ۱۰۶۴هـ خو که "به" د "فرخنده" نه بيل وليکل شي. نو ۱۰۶۹هـ به شي. (۱۵۰)

هم ددې قطعې په ترڅ کښې ډاکټر اقبال نسيم خټک صيب ليکي.

"ددې قطعې دويمه مصرعه که "بفرخنده فال زاد" او ليکې شي. نو عددی قيمت به ترې ۱۰۶۴هـ جوړ شي. اوکه "به فرخنده فال زاد" اولوستلې شي. نو قيمت به ئې ۱۰۶۹هـ جوړ شي. دا لفظ نه خو باد دے او نه ماه دے. بلکې دا تکے "با" دے. چې عددی قيمت ئې "۲۰" جوړيږي. د "باد"لفظ نه څه مطلب نه ولاړيږي. غالباً دا کاتب غلطی معلوميږي او يقيناً چې دا به "ماه"وی. (۱۵۱)

خالد خان نجو شاکر طاهر دا هم دی
مجاهد کامران همه شه برخوردار (۱۵۲)

☆

خالد خان په کاروبار کښې
کله ښه کله نادان (۱۵۳)

☆

یحییٰ خالد دا دواړه
بوالعجب لری فرهنګ (۱۵۴)

☆

هغه ملک واړه پسرلی دی
چې پکې دما خلی دی (۱۵۵)

☆

د خلو د مور څه حال دی
په څه څیز یې اشتغال دی (۱۵٦)

## خالد خان:

"خالد خان هم د خوشحال خان خټک دیو زوی نامه ده." (۱۵۷)

"خلو، خلی د خالد خان د ناز نومونه دي." (۱۵۸) تاریخ مرصع ئې د مو رپه حقله لیکی۔

"او خالد خان مورئے کهتره وه۔ لور د دولت خان ولد علی شاه ولد شهباز نون یال وه۔ چه خپل خان ئے مقدم د خپل اولس شماره." (۱۵۹)

"خالد خان او عابد خان د خوشحال خان د دویمې ښځې زامن و." (۱٦٠)

دغه رنګ افضل خان ئې دیو زوئے ذکر هم کوی.

"کوهی ته راغلم. کډو ته اسدالله خان، یحییٰ خان، میر سردار د عابد خان شهنواز د خالد، عبدالحق د صدر خان راغلی وو". (۱٦۱)

په کال ۱۱۰۵هـ کښې چې د تاریخ مرصع د مؤلف او بهرام خان ترمینځه کومې انښتې کیدلې. په دغه آوان چې د بهرام لښکرې په "یوت"دیره وې. او د مؤلف لښکرې پرې راغلې. نو بهرام خیر په تیښته کښې اُولیدو. د بهرام دتیښتې نه پس چې ددهٔ خلق په لاچی کښې ایسار شول. نو دغه وخت افضل خان ختک خپل تره خالد خان په لاچی کښې پریږدی. او خپله سرائے ته ځی. لیکی:

"صبا د لښکره سره پرے وروخوزیدو. تاب ئے رانه ور. کړپه ئے پخوا پریښوه په یوت ورغلو. دیره شوو. د بهرام خونے م وسوے. دوه درے شپے م هغه ځائے وکړے. مصلحت ئے وشه چه تانړه په لاچۍ کے پریښے بویه. او خود سرائے ته تللے بویه. ضرور شه نامدار خان خالد خان م د پنځوسو شپیتو سورو سره پریښودل. (۱٦۲)

== ☆☆☆ ==

که د وارو پښتنو راته تسلیم دے
زهٔ خو بیا د سباکۍ انا خښتک یم (۱٦۳)

☆

بولاق که هر څو ختک یادیږی
د سباکۍ د لوریه بد دی (۱٦۴)

دے شعر کښې خوشحال بابا د سباکي نامه راوړې ده۔ څوک چې د خټک قبیلې مشره نیا وه۔ دا د رنګه توره وه۔ اؤ د خټکو د مشر نیکه لقمان کور وداني وه۔ تاریخ مرصع ئې داسې ذکر کوی۔

## سباکی:

"هغه جل چه لقمان خپل ځان ته غوره کړه او نوم ئے ددے په سبب خټک بیاموند وائی چه نوم ئے سباکه وه۔ رنګ ئے تور وه۔، قوی هیکله هوښیاره وه۔ دوه فرزندان د لقمان ترے پیدا شول۔ یو تورمان بل بولاق۔ تورمان د پلار په رنګ وه او بولاق سیاه فام په رنګ د مور۔" (١٦٥)

"سباکه د لقمان عرف خټک (چه د خټکو نیکه دے) ښځه او د خټکو انا (نیا) وه۔ دا لفظونه ځما په خیال سباکه انئ دی۔ ځکه چه خټک نیا ته انئ وائی۔ (١٦٦)

==☆☆☆==

سرفراز د سعادت وۀ
ښۀ نمسے مے وه زیبا (١٦٧)

لکه څنګه چې د خوشحال بابا ددې شعر نه جوته ده۔ چې سرفراز د سعادت خان زوے وو۔ او د ستر خؤسحال نمسے وو۔ سرفراز د قرآن پاک حافظ وو۔ لوستے وو۔ او په خط کښې بې همتا وو۔ له بده مرغه د هغه خپل ښکاری سپے لیونے شو۔ په لاسو ئې اُچیچو۔ رنځور شو۔ او د وبا په کال ١٠٩٧هـ کښې د خپلو خپلوانو نه په ارمان ارمان د ګورکومی ته لاړ۔ (١٦٨)

== ☆☆☆ ==

بهرام خان دے سعادت دے هم یحییٰ دے
په خصلت کښې سره یو تر بل بدتر (۱٦۹)

☆

سرفراز د سعادت وه
بنه نمسے مے وه زیبا (۱۷۰)

☆

ماته درست د دهلیٰ ښهر وه بوستان
چه په کښې وه بآز، باقیؔ، سعادت خان (۱۷۱)

☆

صدو د نور څه نه دے
خو ئے غواړی په پالنګ (۱۷۲)

☆

ځویه سعادت باقی میر باز پریشان احوال
راغله په لاهور کښې راپسے دوئ په دنبال (۱۷۳)

☆

یو ځله هم نه خطا خطا کرت کرت
واړو مشرانو اشرفخان بهرام سعادت (۱۷۴)

☆

واوریدهٔ دا حُکم سعادتؔ باقیؔ میربآز
راغلهٔ یکایک ئے حقیقت کړ را آغاز (۱۷۵)

☆

دوه ځله سرائے مات شو یو ځما په بندیدل

بل د سعادتؔ باقیؔ میر باز په رسیدل (۱۷٦)

☆

هغه ملک نه دی بوستان دی

چې پکې سعادت خان دی (۱۷۷)

☆

که د چا له لاسه ومرم گمان مه کړه

چه بهرام سدو به روغ کا د چا ځلی (۱۷۸)

## سعادت خان:

"تر هجری وروسته د خان بل مشر زوی سعادت خان دی۔ چې په ۱۰۵۲ هـ ق د محرمې په ٦، ۱٦۴۲ء د اپریل په ۷ زوکړی دی او خان یې د زوکړې تاریخ په پارسی ژبه داسې ویلی دی:

درماه محرم که ششم بود ازماه

بنمود خدا روی سعادت ناگاه

تاریخ وی آمد زخرد غازی دل

یا رب که شود بعون حق دشمن کاه (۱۷۹)

کامل مومند د سعادت خان په حقله لیکی:

"چې سعادت خان د خان علیین مکان د قید په دوران کښې د میر باز او باقی په ملګرتیا کښې ډیر اهم کردار ادا کړے وو۔" (۱۸۰)

د سعادت خان د مینې او ناز د نامې "سدو"په لړ کښې د کامل صیب رائې ده۔ چې "دا نامه د اشرف خان نه پس راغله۔ نو غالب قیاس دادے چه سعادت خان تر مراد دے۔ (۱۸۱)

پروفیسر محمد نواز طائر سعادت خان د ادب په حواله د نورو ورونو سره څه په دا ډول یادوی۔

"د سعادت خان۔ بهرام خان، نظام خان او عابد خان په حقله د هغوئ د سخنورئ او سخن شناسئ تحریری شهادتونه د خان په بیاض او د اشرف خان هجری په دیوان کښے موجود دی۔" (۱۸۲)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه ثمر دی
چې پکې د ما سکندر دی (۱۸۳)

## سکندر خان:

سکندر خان د پښتو ادب پلار خوشحال خان خټک په کهاله کښې سترګې پرانستې دی۔ ده هم لکه د خپل فرهنګیالی پلار د پښتو ادب د ناوې په سر څنه کولو کښې ښه پوره خواری کړې ده۔

ولې له بده مرغه ادبی اثار ئې په بشپړه توګه زمونږه په لاسو کښې نشته۔ او څه چې موجود دی۔ په هغې کښې اُوس هم څه برخه لا ناچاپه پرته ده۔

سکندر خان کله زیږیدلے دے؟ په دې حقله د تاریخ مرصع پانې ګونګې دی۔ البته ددهٔ د دیوان او لیلیٰ مجنون د څو شعرونو د څیړنې نه مونږ ددهٔ د زیږیدنې نیټې ته رسیدے شو۔ لکه یو ځائے چې وائی۔

دما دوه ویشت کاله سن دی
زر او نوی سن د هجرت دی (۱۸۴)

دغه رنګ په لیلیٰ مجنون کښې څه دا رنګ وائی۔

ما خپل عمر د "واياد" کلو حساب کړ
چې تمام مې د ليلیٰ مجنون کتاب کړ
زر نوی کاله چې سن دی د هجرت
دا کتاب دی ما جوړ کړی په صحبت (۱۸۵)

د "واياد" نه ۲۲ کاله جوړيږی. او د ۱۰۹۰ نه چې ۲۲ لرې کړې شی. نو ۱۰۶۸هـ ترې را اُوځی. دا رنګ مونږ وئيلې شو چې سکندر خان خټک به د ۱۰۶۸هـ خواوشا پيدا شوے وی. د تاريخ مرصع مؤلف افضل خان خټک د سکندر خان يادونه په دغه ياد شوی کتاب کښې پينځه ځايه کړې ده. د سکندر خان په ديوان کښې هغه يوه مرثيه د خپلو زامنو انور او منور په مرګونو وئيلې ده. ددغې مرثې د وينا کال ۱۱۱۶هـ دے. په دغه بنياد مونږ وئيلو شو چې د سکندر خان ژوند تر ۱۱۱۶هـ پورې يقينی دی. ولې د ځنو پوهانو په خيال هغه د ۱۱۱۸هـ پورې ژوندے وو.

سکندر خان خټک د افضل خان او د بهرام په جګړو کښې د افضل خان کلک ملګرے پاتے شوے دے. اوپه خپل کلام کښے ئے د بهرام ډير بد رد وئيلی دی. (۱۸۶)

اشرف خان هجری د سکندر خان خټک د شعر ستائينه داسې کړې ده.

د سکندر شعر له سره مخی کړم
طبيعت ئے ډير تر درو منور دی
د اشعار ملک يې همه په ژبه خپل کړ
په سرير د نظم شاه بل سکندر دی (۱۸۷)

د سکندر خان په اثارو کښې دا لاندينی کتابونه شامل دی.

ليلیٰ مجنون، قصائد، ديوان سکندر خان خټک، يوسف او زليخا، شمايل نامه او ختم اخراب (۱۸۸)

خالد خان نجو شاکر طاهر دا هم دي
مجاهد کامران همه شه برخوردار (۱۸۹)

## شاکر خان:

شاکر خان د ستر خوشحال د وینزې زوے وو. ددهٔ په حقله تاریخ مرصع څه معلومات نه دې رانقل کړي. البته خوشحال خان ئې د خپلو بنهٔ زامنو په لړۍ کښې شمیرۍ. تاریخ مرصع کښې صرف یو ځل ددهٔ ذکر څه دا رنګ راغلے دے.

بل ابوالخیر، بل نجابت خان بل شاکر خان بل طاهر خان..... دا فرزندان د خان علیین مکان سوریتی وو. (۱۹۰)

خدیجه فیروز الدین ئې هم پخپله مقاله کښې مختصر شان ذکر داسې کړې دے.

شاکر خان. طاهر خان. فرحت خان. دا ټول د وینزې له نوسه زیږیدلی وو. خو په دغه ټولو کښې یو کس هم څه نامه نه ده ګټلي. (۱۹۱)

د شاکر خان د زوکړې د کال، د ژوند نور حالات او د مرینې د نیټې په ترڅ کښې څه کوتلی ثبوتونه او شواهد لا تر دې ګړۍ نه دې ترلاسه شوي.

== ☆☆☆ ==

چه د مور تر مرګ مے ومرهٔ وړاندې وروسته
یوه لور د شاه بانو وه پسے خور (۱۹۲)

## شاه بانو:

په تاریخ مرصع کښې د شاه بانو نومې څوک زنانه نه ده یاده شوی او نه ئې دوست محمد خان کامل

څه وضاحت کړے دے. چې شاه بانو څوک وه؟ اونه ئې د خوشحال بابا په نور کلام نه څه داخلي شهادت موندے شي. خو چې خوشحال بابا ئې نوم اخستے دے نو د دوئ د کورنۍ اهمه زنانه معلومیږي. (۱۹۳)

د ډاکټر اقبال نسیم خټک د وینا تر مخه دا خبره زیات امکان لري چې شاه بانو د خوشحال بابا یوه انړور وه.

== ☆☆☆ ==

د خوشحال ژوندون په خدائے دے
نه شهباز دے نه یحیا (۱۹۴)

☆

اکوړے، یحییٰ، شهباز واړه سره زر وو
په خپل دور واړه ښه تیر کړخپل وار

---

اکوړے یحییٰ، شهباز واړه مزری وو
زۀ هم نه یم د ګیدړو په قطار (۱۹۵)

☆

پلار مے شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وه
زړه ئے د مزری، په توره تیر وه تر رستمؔ (۱۹۶)

☆

زۀ خوشحالؔ د شهباز خان یم
چه تورزن یم کان په کان

شهباز خان د یحییٰ خان وه
چه بل نه وه هسے ځوان (۱۹۷)

☆

هغه کال پوره پنځوس وه
چه شهید شو شهباز خان (۱۹۸)

☆

اکوړے شهباز په دوئ پورے بدنام شول
د پدر په خوئ وبوئ نه دی راغلی (۱۹۹)

## شهباز خان:

شهباز خان د یحییٰ خان زوے او د ستر خوشحال خان خټک پلار وو۔ ددهٔ د پیدائش قطعه په تاریخ مرصع کښې څه په دا ډول درج ده۔

تاریخ شهباز خان یحییٰ آن خان بے بدل
درکار رزم ثانیٔ رستم زیاده بل
تاریخ مولودش زخردچون بجستمش
گفتار ز روئے صدق که شهباز خان اجل (۲۰۰)

دې قطعه کښې د "شهباز خان اجل" نه د ابجد په حساب سن ۱۰۰۰ را اُوځی۔ او هم دغه د شهباز خان د ولادت کال دے۔ دغه شان یوه قطعه پادری هیوز په پښتو کښې هم رانقل کړې ده۔

شهباز خان د یحییٰ خان ښکلے فرزند
وه په جنگ کښے د رستم هسے څرگند

چه تاریخ د زیرېدو ے دده وغوښت
عقل ووے چه شهباز اجل بلند (۲۰۱)

"د شهباز خان پلار یحییٰ خان د سرداری په منصب ډېره موده پاتې نه شو. هغه لاځوان وو. چې په جنگ کښې مړ شو. او شهباز خان چې یو تجربه کار سالار وو. هغه د خپل پلار انتقام د بولاقو او یوسفزو نه واخست. دغه رنگ شهباز خان اکوزی هم په خراج ورکولو مجبور کړل او د مندڼ پوره قبیله ئې هم رام کړه.

شهباز خان د خپلې بهادرۍ او زړورتیا په لړ کښې دومره نامه لرله. چې سدوزو د خپلو مخالفینو اتمانزو خلاف د مرستې د پاره شهباز خان ته درخواست اوکړو. شهباز خان دغه درخواست اُومنو. ځکه چې هغه به همیشه د کمزورو ملگرتیا کوله د یو لوئې لښکر سره لاړ او په مرغز کښې ئې خیمې اُولگولې. ددې زمری نامه د گاونډ په قبیلو کښې د ویرې علامت گرځیدلے وو. کله چې هغوئ ته ددهٔ د راتگ خبر اُورسید. نو اتمانزو او مندڼو تیښته اختیار کړه. ددې مرستې نتیجه دا رااُووته چې شهباز خان د سدوزو زړونه اُوگټل. شهباز خان هغوئ ته نصیحت اُوکړو. او بهاکو خان ئې د هغوئ سردار اُوټاکلو. ولې بهاکو خان دغه احسان ډېر زر هیر کړو. او د بدرۍ ولې په غاړه د میشته بولاقو کلے ئې تباه کړو.

شهباز خان د بهاکو خان ددغې بدل اخستو د پاره د یو وړوکی لښکر سره لاړ. د جهانگیری په مقام جنگ اُوشو. چې پکښې درې سوه اتیا خټکو سر کیښود. او شهباز خان هم په راستیندو کښې خیر اُوگڼو. لږه موده پس ئې د بهاکو خان په کلی مانیری حمله اوکړه او د ډېر مال غنیمت سره بریالے راواپس شو. (۲۰۲)

په ۱۰۵۰ هـ کې چې له (۴۱ـ۱۶۴۰ء) کال سره سمون خوری اکاخیل چې د مندړ قبیلې د کمال زی د بناخ څخه دی د مالیې په ورکولو کې یې بې پروایې وکړه، چې د هغه له کبله شهباز خان لږ شمیر پوځ په ملگرتیا د یوسفزیو سیمو ته لاړ او د اکاخیلو پرکلی یې یرغل وکړ. په دغه ترڅ کې دده دوه زامن خوشحال او جمیل بیگ او یو وراره د ادم خان زوی ساقی بیگ هم له ده سره ملگری و. دوی د اکاخیلو ډېر ځاروی تر لاسه کړل او راستا نه شول. خو د شهباز خان او د هغه د لښکرو تر راتلو وروسته اکاخیل هم سره راټول شول او یو لښکر یې ترتیب کړ او د خټکو په تعقیب پسې راووتل تر لږ وخت وروسته د بلړ نالی ته ورسیدل. او د دواړو

تر مينځ جګړه ونښته. په جګړه کې د يوسفزيو پرخوا تله درنه وه. تر جګړې وروسته د شهباز خان حالت ډېر خطرناک و او پر اس باندې يې د سپرېدو توان نه درلود. هغه په خپل سر باندې د تېپ نه سربېره دوه درې نور ټپونه هم درلودل لکه چې د غشو يوه تذکره يې ورته جوړه کړه او دى يې پرې له پاسه واچاوه او راپورته يې کړ. شهباز خان له ټپي کېدو نه برسېره فلج شوى هم و لکه چې تر جګړې پينځه ورځې وروسته يې د شوال په مياشت کې د پنجشنبې په ورځ د پنځوسو کلونو په عمر له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې." (۲۰۳)

زبير حسرت "د شهباز خان د تاريخ وفات په حقله ليکي.

"۴ شوال پنجشنبه ۱۰۵۰هـ ق/۱۷ جنوري ۱۶۴۱ء په دغه کال د خوشحال بابا پلار شهباز خان (چې د يوسفزو سره په جنګ کښې زخمي شوے وو او پينځه ورځې پس) وفات شوے وو او خوشحال بابا ئې د وفات تاريخي قطعه فارسي کښې هم وئيلې ده او پښتو کښې ئې پرې هم يو شعر ليکلے دے." (۲۰۴)

== ☆☆☆ ==

صدر خان لاچيرے جنګ ليدلے نۀ وه
په دا جنګ ئے نيزه سره کړه په خصام (۲۰۵)

☆

جدائي د صدر خان لکه سُور اُور وه
که د دواړو فرزندانو غم چُور چُور کړم (۲۰۶)

☆

که خدائے ئے راته پرېږدي
ذوالفقار دے صدر خان (۲۰۷)

☆

چه ئې ورځ او شپه په ما بانړ یوه کړه
دریغه دریغه جتړ و باز و صدر خانه (۲۰۸)

☆

ملوخان د واده چار زما په زړه کړه
زۀ په کور د صدر مور ئې راواده کړه (۲۰۹)

☆

څه که مور د صدر څه کا
جداېي شوه خدای خپل کړه کا (۲۱۰)

## صدر خان خټک:

صدر خان خټک چې څان ئې پخپلو شعرونو کښې د صدر خوشحال په نامه هم یاد کړے دے. د ستر خوشحال زوے د شهباز خان نمسے او د یحییٰ خان کړوسے دے. دده مور د ملک ملو خان ولد ملک اسماعیل خان یوسفزئ لور او دملک حمزه خان خور وه. (۲۱۱)

صدر خان خټک په ۶۵-۱۰۶۴هـ ق یا ۱۰۷۰هـ ق کښې زیږیدلے دے. (۲۱۲)

په تاریخ مرصع کښې د صدر خان نوم شته خو د زیږیدو تاریخ یې لکه دده د ځینو نورو ورونو غوندې نه دے ښودل شوی. په آدم خان درخانی کې چې په ۱۱۱۸هـ ق کال یې کښلی او تاریخی ماده ئې ده.

سن یبغا بلبل د لاو

۱۰۱۳+۶۴+۴۱ = ۱۱۱۸هـ ق

خپل عمر (حم) بولی چې (۴۸) کیږی. او ددې شمیر له مخې دده د زیږیدو کال ۱۰۷۰هـ ق راوځی او دا په ۱۰۹۱هـ ق کال کی د خوشحال خان له دې بیت سره صدر خان خام هلک بولی سر خوری.

== ☆☆☆ ==

صدر خان لاچيرى جنګ ليدلے نه ؤ
په دا جنګ ئے نيزه سره کړه په خصام (۲۱۳)

په دې توګه مونږ کولے شو چې ۱۰٦۵هـ ق د صدر د زيږيدو نيټه وګڼو. په همدغه کال کښې د خوشحال خان خټک په مشهور جنګيالى او فرهنګيالى کورنى کښې په سرائے اکوړې کښې صدر خان وزږيد. (۲۱۴)

د بياض له بيانونو نه دا خبره را ډاګې ته کيږى. چې خوشحال بابا د صدر خان ستائينه کړې ده. او دهغه د تور زنى يادونه ئې کړې ده. صدر خان که څه هم د لږ وخت د پاره د پلار نه بيل شوے هم دے. ولې چې بيرته راغلے دے. نو تر آخر وخته پورې ئې د خپل پلار خوا نه ده پريښې. ددې برعکس د تاريخ مرصع مؤلف افضل خان صدر خان ډير زيات غندلے دے. او ددغې غندنې لويه وجه د افضل خان سره د هغه اختلافات او د بهرام سره کلک او جوخت تعلقات وو.

د پلار تر مړينې وروسته بيا هم د بهرام مل ؤ تر ۱۱۲۴هـ کال وروسته په تاريخ مرصع کې د صدر خان ياد نشته او ۱۱۳۰هـ وروسته دده د زامنو عبدالحق، نجابت او بدر الدين نومونه راځى او داسې ترې ښکارى چې دا وخت صدر خان وفات شوى وى. (۲۱۵)

صدر خان د پښتو يو باذوقه او مئين او د لوړے قريحى خاوند اديب دے. يو خوږ ديوان لرى چه متاسفانه ډير ناياب دے. (۲۱٦)

ددې نه علاوه صدر خان د آدم درخو په رومان يو کتاب ليکلے دے.او د خسرو شرين قصه ئې هم د فارسى نه پښتو کښې ژباړلې ده. (۲۱۷)

دغه رنګ دلے شهى، معجزات او د شير على جنګنامه، هم د صدر خان پرېښودى اثار دى.

== ☆☆☆ ==

راشه ګوره خلقه نصيب په څو خوری .. !
تورے نور څوانان وهی منصب صدو خوری (۲۱۸)

صدو:

د صدو په حقله دوست محمد کامل ليکی۔ چې "صدو د خوشحال بابا د يو څوے مخفف نوم دے۔ غالباً سعادت خان، صدر خان نه دے۔ څکه چه يو بل نظم کښے سدو يا صدو او صدر دواړه مذکور دی۔ نو صدو او صدر دوه کسان دی۔ (۲۱۹)

دلته دا خبره تحقيق طلب ضرور ده۔ چې که د صدو نه مراد سعادت خان وی.نو هغه خو منصبدار نه دے پاتے شوے۔ او چې منصب ورته نه دې ورکړې شوې۔ نو منصب خوړ نه ئې څه معنىٰ لری۔ څکه نو د صدو نه سعادت خان مراد اخستل سم نه ښکاری۔

== ☆☆☆ ==

تا طاهر د کم عقلئ په جرګو مړ کړ
او فارغ شوے د طاهر له انتقام (۲۲۰)

☆

زۀ په وير د معظمؒ په غم کښے ډوب وم
خبر نه وم چه طاهرؒ به تيروبير شی
لکه ږيره د طاهرؒ نوے په زنے
د هر هر ويښته ئے غم راباند ډير شی
خدايه هسے غم بل ماته پيدا مۀ کړے
چه په ده مے طاهر خان له دله هير شی

طاهر وړ پشباب کښې دا تاریخ دے
چه به کال ددۀ د مرګ تر رابرسیر شی (۲۲۱)

☆

په حضور دیدن ئے وینی
طاهر خان خٔنے بیلیړی (۲۲۲)

☆

خالدؔ خان نجوؔ شاګرؔ طاهرؔ داهم دی
مجاهدؔ کامرانؔ همه شه برخوردار (۲۲۳)

☆

مزکے! طاهرؔ مے درلره درغے
بدرنګ ئے مه کړه د خدائے د پار (۲۲۴)

## طاهر خان:

طاهر خان د خوشحال خان بابا زوے وه. چه د مهمندیو ختکو له لاسه مړ وه. طاهر خان په ۱۰۹۸هـ کښې قتل شوے وه. (۲۲۵)

د تاریخ مرصع مؤلف د طاهر خان دمړيني دغه واقعه داسې بيان کړې ده.

"عابد خان هم چه د سرائے دا شطرنج د مخالفت واورید له شکر درے ئے وسرائے ته راواچاوه چه د ما روتئ پکښے ګرمه شی. بهرام ئے ولید نور په نظام پور کښے د خان تر خٔنګه کښیناستید. د خپلے بد خوئی چه جبلی وه اسپے اسونه به ئے د مهمندیو په غلو کښے خوشی پریښول. زور زیاتے به ئے کړه. هغوئ بهرام ته په فریاد راغلل. بهرام حکم وکړ چه که بیا درغلل اسونه ئے ژوبل کړئ. که دے درغے دے هم ژوبل کړئ.

ظلم بد څیز د ے آخر اثر ښکاره کا۔ اسونه ئے دده په کښت کښے ژوبل کړه۔ یوه جمع د هلکانو د څویو نمسیو چه د خان په خدمت کښے وو۔ هغه ئے سره معرکه کړه۔ چه د ماتیتوان ژوبل شوه ننګ م وکانړئ۔ هغه هلکان دده په څُله شول۔ څوے ئے ورسره کړل ورغلل د مهمندیو په درمندونو ئے اُور ولګاوه۔ هغه پسے راووتل۔ ددهٔ څوے ترے وتښتید۔ طاهر خان په غشی مړ شه۔ خان خبر شه۔ ډیر تاسف ئے وکړ دا غزل ئے په مرثیه د طاهر خان ووے۔" (۲۲۶)

دوست محمد خان کامل هم دغې مرثې ته په حاشیه کښې لیکی۔

"دا بدله خان د خپل ځوانیمرګ څوے طاهر خان په وفات لیکلے ده۔ چه په ۱۰۹۸هـ کښے په یوه ناڅاپه هنګامه کښے په غشی ولګید او مړ شو۔ طاهر ومړ پشباب کښے د ابجد په حساب ۱۰۹۸هـ جوړیږی۔" (۲۲۷)

== ☆☆☆ ==

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هغه | ملک | واړه | شکر | دی | |
| چې | پکې | دما | ظفر | دی | (۲۲۸) |

## ظفر خان:

ظفر خان هم د ستر خوشحال بابا د هغه زامنو څخه یو زوئے دے۔ کومو چې څه نامه نهٔ ده کټلې۔ د ظفر خان د پیدائش په ترځ کښې تاریخ مرصع لیکی۔

بل ظفر خان چه تاریخ ئے د تولد داد ے۔ تاریخ

در شهر صفر اول شب سیزد هم

زاده ظفر م نیست ودرین، هیچ گمان

جستم زخرد مرورا تار تخش

گفتا کہ گلی ریاض تار تخش دان (۲۲۹)

"د ظفر خان د زیږیدنې ماده "گل ریاض" ده. چې د صفرې دیارلسمې هجری کال ۱۰۶۱. مطابق ۱۶۵۱ء فروری ترې جوړیږی." (۲۳۰)

د ظفر خان د ژوند نور حالات په تیارو کښې دی. البته د تاریخ مرصع نه څرګندیږی. چې زامن ئې درلوده. لکه چې لیکی.

"زۀ چه په ګرهئ د نیلاب ورغلم. درد م په تشی کښې په سبب د ریګ مثانے وشه. ډیر آزار راباند تیر شه. ظفر خان له فرزندانو سره، ګوهر خان له فرزندانو سره، نجابت خان د خویو سره ..... را روان شه راغے. شریک د رنځ شه. ښه خدمت ئے وکړ. (۲۳۱)

یو بل ځائے کښې د ظفر خان د یو زوے قلندر نوم داسې ښائی.

"بارے ملک باز د میاں خان په اخلاص کښے درست وه، قلندر د ظفر خان، ملک هیبت خان کهتړ م امازیو ته واستول چه میری د کپوری ځوی ته چه د بونیر له لښکره پاتو دے ورشی". (۲۳۲)

== ☆☆☆ ==

عابد خان زما شنقار دے
په غوټه وهی دوه ښارې (۲۳۳)

☆

عابد خان په دا محنت را سره مل دے
چه ګانډهٔ شی پرِ ښما د زړه پرهار (۲۳۴)

☆

چه په مخ ئے فتحه دروِمی عابد خان دے
په هر ځاے د خپل بابا کا تازه نام (۲۳۵)

☆

لکه عابد وکړه یا بدفرجام وکړه
دا حال په هر چا دے که په خوشحال شته (۲۳۶)

☆

عابدؔ بے بند دے هم بے پیوند دے
مور پلار ئے نشته پیدا له شخوند دے (۲۳۷)

☆

اوس نور غم راسره نشته
خو په غم د عابد خان شوم (۲۳۸)

☆

دا د کانړی کاک ښما د عابد خان دے
د مغل پلاؤ د نورو فرزندانو (۲۳۹)

☆

چه په توره ئې شير خان پريوست له اسه
په ميدان د عابد خان پهلواني وه

---

عابد خان چه په مردئ راغے له جنگه
وخپل پلار وته ئې ښه ارمغاني وه (۲۴۰)

☆

هغه ملک گل ريحان دی
چې پکې مې عابد خان دی (۲۴۱)

☆

د خوشحالؔ په دُعا غوړو سترګے وکړه
که بهرام عابد دی دواړه کړو کور (۲۴۲)

## عابد خان:

عابد خان خټک د ستر خوشحال يو زيرک او تورزن زوے وو۔ چې د خپل پلار په شان ئې توره او قلم غبرګ چلولی دی۔ او دا رنګ ئې د ژوند په مختلفو ډګرونو کښې د خپلې قبيلې په بيلا بيلو هڅو کښې خپل ژوندے کردار لوبولے دے۔

عابد خان خټک په ۱۰۵۸ھ (۱٦۱۷م) کال زيږيدلے دے۔ ددهٔ د تولد تاريخ خوشحال خان خټک داسې وئيلې دے۔

در يائے صفر بسال سعيد
از قحط و وبا چون خلق رهيد

تاریخ تولد عابد این شد

عابد خانے ولی رسید (۲۴۳)

د ابجد په حساب د *عابد خانے ولی رسید* نه ۱۰۵۸هـ ق جوړیږی. کوم چې د عابدؔ خان خټک د زیږیدنې کال ښودلے شوے دے. عابد خان د مغلو خلاف د خوشحال خان خټک او خپلو وروڼو سره څنګ په څنګ جنګیدلے دے. ولې کله کله داسې موقعه هم راغلې ده. چې هغه له اُصولی سنګر نه بیل شوے دے. او د بهرام خوا ئې نیولې ده. چې د تاریخ مرصع پاڼې ئې په واز کومې ګواهی ورکوی. هم دغه وجه ده. چې خوشحال خان خټک پخپلو شعرونو کښې کله د عابد خان په صفتونو نه مړیږی. او کله کله ئې د هغه د غندلو د پاره تکی نه خوښیږی.

"عابد خان خټک د پښتنو په تاریخ کښې یوه پیژندویه څېره ده. خو د پښتو په ادبی دُنیا کښې لا تر اوسه پورې د یو وینا وال په توګه لا نه دې متعارف شوے.

په هر طور د خوشحال خان خټک د کلیات دیوې قلمی نسخې نه د عابد خان د شاعری بیلګه په لاس راغلې ده. په دغه قلمی نسخه کښې د عابد خان خټک وئیلې شعرونه خوندې کړې شوې دی. چې پکښې دوه قصیدې او یو غزل شامل دے. د درد و غم نه ډک دغه شعرونه عابد خان خټک د خپل زوئے شاهد خان (۱۰۹۰هـ - ۱۱۰۸هـ) په مړینه وئیلې دی. د عابد خان خټک د کلام دغه نمونه ښائی. چې هغه د خپل پلار او وروڼو غوندې ښشېړه دیوان لرلو. (۲۴۴)

== ☆☆☆ ==

ښه ځوے د بابا دل دے
تل د ژوی په جهان (۲۴۵)

☆

همګی ځوانان ځما د زړه ارمان دی
په کښې بیله د عبدل تانده ځوانی ده
د غلیم سره په اس غاړه غړی شو
د عبدل د مړنتوب بخره کانی ده (۲۴۶)

د بابا دل او عبدل نه مراد، عبدالقادر خان خټک دے۔ دغه دواړه د ښاغلی د مینې او ناز نومونه دی۔ چې خپل پلار ستر خوشحال بابا پخپل کلام کښې هم په دغه نومونو یاد کړے دے۔ وړومبی شعر دعائیه دے۔ او په دوئم، دریم شعر کښې د ګنبت د جنګ بیان دے۔ چې عبدالقادر خان خټک پکښې ډیره بهادری او ځوانمردی ښودلې ده۔ او هغه پکښې ژوبل شوے هم وو۔

## عبدالقادر خان خټک:

"عبدالقادر خان خټک د پښتو ژبې د نومیالی شاعر خوشحال خان خټک زوئے وو۔ دے په ۱۰٦۳هـ (۱٦۵۳ء) کښې زیږیدلے وو۔ دده د نوم "عبدالقادر خان" نه د ابجدو په حساب دده د پیداوښت کال را ووزی۔ دده د کلام نه دا ثابتیږی چه دهٔ ددغے وخت د تولو مروجه علومو زده کړه کړے وه۔ په شاعرئ کښے خو برخیره ده۔ چه لکه د نورو ورونړو به دهٔ د خپل پلار نه استفاده کړے وی۔ دے د یوے اوچتے پائے شاعر او ادیب خو وو۔ خو د قلم سره سره لکه د پلار د تورے خاوند هم وو۔ او په ډیرو موقعو کښے ئے خپل پلار سره اُوږه په اُوږه د دښمن مقابله کړے وه۔ د ګنبت په جنګ کښے خو ژوبل شوے هم وو۔ خو د پلار د وفات نه پس داسے ښکاری چه دهٔ خپله توره تیکی ته واچوله او تر آخری وخته ئے بیا د تیکی نه راو نه ویسته۔ ځکه چه دے طبعاً یو صوفی منش غندے سړے وو۔ او په ګُټ کښے د ناستی، زهد او ریاضت ژوند ئے خوښ وو۔ او

همدغه وجه وه چه په ۱۱۲۴ هـ کښې په نوښار کښې گوشه نشين شۀ." (۲۴۷)

"هغه د پښتو ژبې د اولې درجې په اديبانو کښې د يو ځانګړی مقام مالک دے. هغه د يو قادر الکلام شاعر نه علاوه يو ډير ښه نثر نګار هم وو. او د شپيته کتابونو د نظم او نثر مؤلف وو." (۲۴۸)

راورټی چې د خپل ګرائمر په مقدمه کښې دده د کومو پنځه کتابونو ذکر کړے دے. هغه څه په دا ډول دی.

۱. ديوان عبدالقادر خان خټک ۲. مثنوی آدم خان درخانی

۳. مثنوی يوسف زليخا ۴. ګلدسته ۵. معمات (۲۴۹)

"د عبدالقادر خان په کلام کښې د عشقيه، اخلاقی او صوفيانه مضامينو نه علاوه د قدرتی مناظرو عکاسی هم بيامونډې شی. دغه رنګ د جدت، حسن بيان، نوی خيالاتو، تشبيهاتو او سوز و ګداز سره سره شوخی هم دده د کلام په خوبيانو کښې شامل ده." (۲۵۰)

"عبدالقادر خان يو ښه عالم فاضل سړے وو. اؤ په عربئ او فارسئ ژبو او علومو کښې ئے دومره قابليت لارۀ. چه د هغه دوستانو به هم ترے استفاده کوله. ويلے شی چه دے د لاهور د شيخ سعدی مريد بلکه د هغه خليفه هم وو. او هم په دے وجه به ئے دۀ ته خليفه صاحب هم وے. لنډه دا چه عبدالقادر خان د خپل وخت يو لوئے عالم، فاضل شاعر او اديب وو. او ورسره يو نيک، پرهيزګاره، ګوشه نشين او صوفی طبع سړے وو. (۲۵۱)

"دده د ژوند کم نه کم آخری ورځو کښې د غم او اندوه وريځے راخورے شوے وے. دا هم وئيلے شی چه دده خپل ورارۀ افضل خان خټک سره څه زړه بداوے راغلے وو. او ددے وجه دا ښودلے شی چه دۀ د هغه مشری نه منله. کيدے شی چه دده ددغے غم او فکر وجه هم دغه وی. د دوئ د مخالفت په سلسله کښې دے پورے ويلے شوی دی. چه عبدلقادر خان په آخره کښې د افضل خان د لاسه يا دده په ايما ووژلے شۀ. (۲۵۲)

== ☆☆☆ ==

ډیر زمونږ د خیل خانے هلکان ومړل
داغ د زړه دی عبدالله د یحییٰ خان (۲۵۳)

## عبدالله:

عبدالله د یحییٰ خان زوے او د ستر خوشحال نمسے دے. ددۀ ذکر افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې دوه ځله کړے دے. (۲۵۴)

ددغه واقعاتو نه جوتیږی چې عبدالله د افضل خان خټک مرستیال او پلوی وو. د خوشحال بابا د وینا ترمخه په کال ۱۰۸۸هـ کښې چې شپږ اُووه میاشتې سخته سوکړه اُوچلیده. او غر په سمه چرته باران اُونه شو. نو هر خوا د گیاه او غلې گرانی پیدا شوه. بیا چې پشکال مات شو. نو هره ورځ ښه په درز کښې باران اُورید. او هم په دغه دوران کښې زمونږ د خیل خانې ډیر هلکان د مرگ غیږ ته لاړل. چې یو پکښې د یحییٰ خان زوئے عبدالله هم وو. (۲۵۵)

خو د تاریخ مرصع دغه یادونه د ۱۱۳۴هـ د واقعاتو سره اړه لری. ښکارې داسې چې د یحییٰ خان د دوه زامنو دغه یوه نامه ده. وروميے په ۱۰۸۸هـ کښې مړ دے. او دويم د افضل خان سره په دغه قبیلوی جنگونو کښې تر ۱۱۳۴هـ پورې شریک وو.

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واره خیرگاه دی
چې پکې عتیق الله دی (۲۵۶)

## عتیق الله:

دا هم د ستر خوشحال خان زوے دے. چې بابا ئې پخپله یادونه کړې ده. ولې د تاریخ مرصع مؤلف ئې

دخوشحال بابا د زامنو په فهرست ذکر نه دے کړے. زلمے هیواد مل ئې د دوست محمد خان کاملؔ په حواله داسې راښائی.

"مرحوم استاد دوست محمد خان کامل په حاشیه کې کښلي دی چې دغه درې نومونه: نجم الله، عتیق الله او نجیب الله به ښائی د خان په هغو زامنو کې د ځینو نومونه وي. چې افضل خان نه دي راوړي." (۲۵۷)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه عجب دی
چې پکې دما عجب دی (۲۵۸)

## عجب خان:

عجب خان هم د خان زوی دی. د زوکړې نیته یې نه ده څرګنده. له لوی خان سره د تیرا په سفر کې ملګری ؤ. (۲۵۹)

د تیراه ددغې سفر په حقله تاریخ مرصع لیکی.

"ما کوچ وکړ. جلال خان، سکندر خان، ګوهر خان عجب خان راسره وو. او د دوئ میندے، تیراه وته روان شوم. د افریدویو کدے هم روانے وے. چه زهٔ وراغلم ډیر خوښ شول." (۲۶۰)

"بل عجب خان بل عبدالرحمٰن خان بل ابوالخیر. دا فرزندان د خان علیین مکان سوریتی وو." (۲۶۱)

"د عجب خان د دوو زامنو نومونه همت خان او محمد شرف د تاریخ مرصع مؤلف ذکر کړی دی." (۲۶۲)

د ځنو شواهدو په رڼا کښې مونږ وئیلې شو. چې عجب خان نوم هم د خوشحال بابا د هغه زامنو په

فهرست کښې شامل دے۔ کومو چې خپله ژبه په شعر وئیلو لونده کړې وه۔ اشرف خان هجری د عجب خان په سخن شناسی داسې قائل دے۔ وائی:

صدر خان، عجب، گوهر شناس دی
رحمٰن لا په دا هنر د تورو غر دی (۲٦۳)

ولې له بده مرغه د عجب خان کلام له د نومورکی په تیارو کښې دے۔ البته دغه یو بیت ئې تاریخ مرصع خوندی کړے دے۔ لیکی:

"عجب خان چه د خان له فرزندانو وه۔ ډیر صاحب طبع وه تربیت کرده د خان علیین مکان وه۔ رانژدے شۀ راته ئے ووئیل چه د بهرام د اخراج م یو تاریخ وئیلے دے۔ راته ئے ووے۔ تاریخ:

چه ئے په پچو پسے گمراه نشوے
شکر وکاره د دجال وخت دے (۲٦۴)

د افضل خان د لیکنې نه داسې بریښی۔ چې عجب خان د پلار د عمر په اخری برخه کښې د بهرام خان د ویرې له وجې د پلار خوا پریښې وه۔ لکه چې لیکی۔

"په سن زر اُوه نوی زۀ هم خان له څو ترے وبللم۔ بهرام چه په دا خبر شۀ ملا حظه ئے وشوه۔ لښکر ئے وکړ په توتکی راغے۔ کادی او بادی چه دُم جنبانی کړے وه۔ بهرام ورته په مرګ خیر وه۔ ویوهیدل چه که له دے سفره راوجار ووت۔ موږ به مړه کا۔ فرصت ئے غنیمت وشماره۔ یو څو نادانان د قبیلے نور هم ورسره مله کړل۔ لکه یحییٰ خان صدر خان، عجب خان گریز ئے وکړ۔ تر سینده پورے وتل۔ دوئ په میاں عیسیٰ کښے کښینول په گمان ددے چه الله داد خان نه به فرمان واخلو پورے ملک به بهرام خوری راپورے به موږ خورو۔ (۲٦۵)

وراندې لیکی۔

"زۀ چه یوسفزو ته لاړم یحییٰ خان، عجب خان، صدر خان چه قار او باز شیطانی کړے وه له بهرامه ئے بد راه کړے له ځانه سره ئے یوسفزیو ته بیولی وو۔ دا دواړه شرمنده ورسره دوئ ئے هم رالره راوستل۔ ما نظر د دوئ هغو بدیو ته ونه کړ۔ دلاسا م کړه۔ (۲۶۶)

== ☆☆☆ ==

خالد خان، نجو شاکر ظاهر دا هم دی
مجاهد کامران همه شه برخوردار (۲۶۷)

## کامران خان:

" کامران خان د خوشحال خان خټک یو منونکے زوئے وو۔ کامران خان اوښا دمان خان بل پیرخان دا فرزندان د خان علیین مکان سوریتی وو۔" (۲۶۸)

"خالد خان، نجو، شاکر، ظاهر مجاهد او کامران هم زما ښۀ زامن دی۔" (۲۶۹)

== ☆☆☆ ==

رنځ ئے په غاړے په غرونو کیږده
ګوهر، ګوهر دی خدائے ئے راپریږده (۲۷۰)

☆

هغه ملک واړه سره زر دی
چې پکی دِما ګوهر دی (۲۷۱)

## ګوهر خان خټک:

د پښتو ادبیاتو سترپوهان او څېړنکار محترم عبدالحئ حبیبیؒ د ګوهر خان خټک په حقله لیکی۔

"دے د خوشحال خان له زامنو څخه دے۔ چې د خپل پلار سره له کوچنیوالی څخه تر ځوانی پورې په اکثرو سفرونو او جنګی واقعو کښې ملګرے وو۔" (۲۷۲)

د افغانستان یو بل نامتو محقق محترم صدیق الله رشتین ګوهر خان خټک څه دا رنګې معرفی کوی۔ لیکی

"ګوهر خان د خوشحال خان زوے دے۔ وائی چې د شعر دیوان ئې هم درلود او یو ښه ادیب وه۔ مګر شعر ئې نه دے لیدل شوے، یو کتاب ئې په پښتو ترجمه کړے دے۔ چې قلب السیر نومیږی۔" (۲۷۳)

"ددۀ د زیږیدنې په حقله تاریخ مرصع لیکی چې "بل ګوهر خان۔ نصرت خان چه تاریخ ئے د تولد دا دے۔

به شیر زادن نصرت خان
عین و غین است از جمل نیک بدان (۲۷۴)

د عین او غین نه د ابجد په حساب ۱۰۷۰ کال جوړیږی۔ خو دلته دا خبره د فکر وړ ده۔ چې په ذکر شوی شعر کښې د نصرت خان نوم خو شته۔ ولې د ګوهر خان نامه نشته۔ په هر طور په دغه ترځ کښې د تاریخ مرصع د مؤلف د خبرې منلو نه علاوه بله لار په نظر نه راځی۔ د ګوهر خان د مرګ په حقله هم کوټلی

معلومات لا تر لاسه شوی نه دی. د افضل خان د لیکنې له رویه ګوهر خان د خوشحال خان سره د تیراه د سفر په دوران کښې ملګرے وو. لکه چې لیکی.

"بابا دل، ملا عثمان راغله. رد و بدل سره وشه. دوئ م رخصت کړل. ما کوچ وکړ. جلال خان، سکندر خان، ګوهر خان عجب خان راسره وو. او د دوئ میندے، تیراه وته روان شوم." (۲۷۵)

ګوهر خان د خپل پلار د مرګ تاریخ په یوه فارسی مثنوی کښې داسې وئیلے دے.

"دا تاریخ د خان علیین مکان د فوت ګوهر خان وئیلے دے........

چون ز تاریخ فوت خان خبرم

شد زما رفت زین جهان پدرم (۲۷۶)

"تر خوشحال خان وروسته چې په قبیلوی رقابتونو کی افضل خان د اشرف خان زوی او د ګوهر خان وراره بریالی او د ختکو خان شو. نو ګوهر خان هم د خپل وراره سره ملګری و. خو د سیاست چاری ئې هغه ته پریښې وې. وخت ئې په علمی او ادبی چارو تیرا وه. دده دیوان ما ندی لیدلی خو یو غونډ او ضخیم منثور کتاب ئې د قلب السیر په نامه ۴۰۰ پانی ما د پیښور په موزیم کی کتلی دی." (۲۷۷)

"د ګوهر خان د وفات نیټه نه ده معلومه. خو د قلب السیر له سریزې او دده له وینا وو څخه ښکاری چې په ۱۱۲۰هـ ق کال کښې سپین ږیرے او د کورنی مشر وه." (۲۷۸)

زلمے محقق پروفیسر زبیر حسرتؔ د ګوهر خان د مړینې په حقله خپله رائ داسې څرګندوی.

"په تاریخ مرصع کښې د ګوهر خان تذکره او موجودګی کهـ څهـ هم تر ۱۱۲٦هـ ق پورې ده او د پیدائش ۱۰۷۰هـ ق ذکر ئې د خوشحال بابا د وئیلی تاریخ ماده لرونکی بیت پهـ بنا کړے دے. خو د ګوهر خان ختک د وفات څهـ خبرئې د خپل عادت او د لیک د اسلوب لهـ رویه مونږ له نهـ دے راکړے. لکه چې څوک هم (اکثر) د تاریخ مرصع د حالاتو او واقعاتو ۱۱۳٦هـ ق پورې وفات شوی دی. هغه ئې بیان کړی دی. اولهـ دې مونږ پهـ دې نتیجه رسو. چې د ۱۱۲٦هـ ق نه لس کاله وروستو تر ۱۱۳٦هـ ق هم ګوهر خان ختک یقینی ژوندے وهـ او کهـ مړ وے نو یقیناً چې افضل خان به ئې د فوت نه خبر کړی وو. کهـ فرض کړه

گوهر خان خټک لهـ۱۱۳۶هـ ق نه يو کال پس هم وفات موندے وی. نو د ۱۰۷۰هـ ق نه تر ۱۱۳۷ هـ ق پورې ئې ووهـ شپيتهـ کلونه عمر جوړيږي. او کهـ د ۱۱۴۰هـ ق خواوشا وفات شوے وی. نو عمر ئې اوياؤ کلونو ته رسی او دا لهـ قياسه څهـ بعيده خبره هم نهـ ده. او دا هم کيدے شی. چې د ۱۱۴۰هـ ق نه هم اوړيدلے وی. خو يقين سره هيڅ نهـ شو وئيلے ځکه چې پهـ لاس څهـ داخلی سند نهـ لرو. چې گوهر خان خټک کله او چرته وفات شوے دے. او مزار ئې چرته دے. " (۲۷۹)

== ☆☆☆ ==

څوک مالو غوند جلو غوند پيدا شی
سراسر واړه نابود او ناپکار (۲۸۰)

☆

مالو جلو دا دواړه
ژک ژوندی په مزکه ړنګ (۲۸۱)

☆

هغه ملک کله بيدال دی
چې پکې دما جـلال دی (۲۸۲)

"کمال او جـلال خان دواړه د خان زامن دي. د ناز نومونه يې مالو او جلو دی." (۲۸۳)

## کمال خان:

کمال خان د ستر خوشحال بابا زوے دے. چې د وينځې له نوسه زيږيدلے دے. ددهٔ د مينې نوم "مالو" دے. خوشحال بابا ددهٔ د زوکړې قطعه داسې وئيلې ده.

عمر م به چهل رسید چون زاد کمال
در ماه حمل کاف و جیم ابجد
تاریخ ولاد تش چو جستم زحروف
فے الحال از غین و سین و با سرزد (۲۸۴)

د "غین و سین ویا"نه ۱۰۶۲هـ کال را اُوځی په دې حساب کمال خان د ۱۰۶۲هـ ق کال په جمادي الاول د (حمل ۲۵) او د ۱۶۵۲ء کال د اپریل په ۱۳ زوکړی دی. (۲۸۵)

د تاریخ مرصع د بیان نه معلومیږی. چې امان الله، حسن خان، او صالح محمد د کمال خان زامن وو. (۲۸۶)

== ☆☆☆ ==

که یو ځو کاهه ژوندے وم په دُنیا کښے
خود به واورم د مدو د بابا حال (۲۸۷)

مدو:

زما خیال دے. چې څنګه خوشحال بابا خپلو ځنو زامنو ته یانورو څو کسانو ته د هغوئ نومونه وران کړی دی. او خپلو شعرونو کښې ئې په دغه ورانو شوؤ نامو یاد کړي دی. دا نوم "مدو" دمکرم خان وران شوے نوم دے. مکرم خان د بهرام خان زوئے او خوشحال بابا نمسے وو. په دغه شعر کښې چې د یوې اُوږدې قصیدې نه اخستے شوے دے. خوشحال بابا پکښې د مدو بابا ته اشاره کړې ده. چې مراد ترینه بهرام خان دے. ځکه نو که "مدو" مونږ د مکرم خان وران شوے شکل اُوګڼو نو بې ځایه به نه وی.

== ☆☆☆ ==

د نطفې اثر مې لاړ په کښې ضائع شو
واړه پېئ د مرجانۍ لرې تاثیر (۲۸۸)

## مرجانۍ:

لکه څنګه چې ددغه شعر نه ښکاره ده۔ چې مرجانۍ د خوشحال بابا د يوې کور وداني نامه ده۔ او ددې بي بي په پېټو چې کوم اولاد را لوټې شوے دے۔ هغوئ خوشحال بابا ته ډير مشکلات پيدا کړی وو۔ چې پکښې د اشرف خان نامه په سر کښې راځي۔ د مرجانۍ په حقله عبدالشکور رشاد ليکي۔

"مرجانۍ د الف خان لور، د ملک سرور نمسی او دميرک کړوسی وه۔ سينی ختکه او په سيينو کښې الک خيله وه۔ واده ئې په ۱۰۴۰ هـ ق کال کښې شوی دی او په ۱۰۸۰ هـ ق کال مړه ده۔ (۲۸۹)

== ☆☆☆ ==

څه خوښی ددۀ وه، چه بيا زر پسے اندوه وه
چا وې چه په رنځ کښے معظم په خوب اُوده شه

---

ما د معظم په ليدو مينه ماته نۀ کړه
څه د قضا رنځ وه په هفته کښے څه وه څه شه
ښۀ تاريخ ئے راغے بے بدل معظم
خوشحال ددۀ نيکه دے د نيکه ئے داغ په زړه شه (۲۹۰)

☆

زۀ په وير د معظمؔ په غم كښې ډوب وم
خبر نه وم چه طاهر به تيروبير شي (۲۹۱)

☆

داغ مے په زړه باند د معظم دے
دا داغ چه راغے نور مے پر هير دى (۲۹۲)

**معظم:**

معظم د بهرام خان زوے او ستر خوشحال نمسے وو. ددۀ تره عبدالقادر خان ددۀ د وفات كال څه دا رنګې شعر كړے دے.

درويشت كاله ددۀ عمر اته نوى
د هجرت حساب په حكم د كتاب (۲۹۳)

ددغه شعر نه دوه خبرې راڅرګندېږي. يو دا چې معظم په يو زر اته نوى هجرى (۱۰۹۸هـ) كښې وفات شوے دے. او بله دا چې په دغه آوان د هغه عمر ۲۳ كاله وو. څكه نو كه موږ د ۱۰۹۸هـ نه ۲۳ كاله لرې كړو. نو ۱۰۷۵هـ به پاتې شي. او دغه د معظم د زوكړې كال رامعلوموى.

"معظم د بهرام څوئے او د خوشحال نمسے وو. خوشحال بابا ددۀ په وفات مرثيه ليكلے ده. دے په ۱۰۹۸هـ كښې وفات شوے دے. (۲۹۴)

تاريخ مرصع د معظم د مرينې ذكر داسې كوى.

"بهرام خپل خويونه واخست. معظم څوئے ئے بهرام ته په ګونډئ ودروه. بهرام د دوئ په فكر شه. څوئے ئے په قضائے الٰهى فوت شه." (۲۹۵)

== ☆☆☆ ==

ملو خان د واده چار زما په زړه کړه
زه په کور د صدر مور ئے راواده کړه (۲۹۶)

## ملو خان:

ملو خان د اسماعیل خان زوی د سوات بایزی او دخان خسر ؤ. (۲۹۷)

د صدر خان د مور د واده پر وخت د اخوند درویزه له پلوی یوسفزیو سره د خوشحال خان مخالفت دومره زور اخیستی و. چې خپل واده ته یې هم سوات ته د خپل ورنګ امکان نه کوت. او ورتګ یې ګران ؤ.

زه نوکر وم یوسفزی روګردان وو
ځکه ورغله تر سواته زما ګران وو (۲۹۸)

== ☆☆☆ ==

که کم عقل که کانا ئیے که هوښار ئیے که دانا ئیے!
د میر باز غونډ ورزغله د خوشحال غونډ تر تښت (۲۹۹)

☆

چه اشرف، میر باز ږ هم غلوی خوشحاله
ورسره لا د یحییٰ غونډ دهن (۳۰۰)

☆

ځویه سعادت، باقی میرباز پریشان احوال
راغله په لاهور کښے راپسے دوئ په دنبال (۳۰۱)

☆

واوریده دا حُکم سعادت باقی میرباز
راغله یکایک ئے حقیقت کړ را اغاز (۳۰۲)

☆

دوه ځله سرائے مات شو یو ځما په بندیدل
بل د سعادت باقی میر باز په رسیدل (۳۰۳)

## میرباز:

میر باز د خان خوشحال خان میرنی ورور دی۔ چې مور یې مهمند زی،او د نوښار د ملک باز لور وه۔ (۳۰۴) د شهباز خان ځلور ځامن لوي شول۔ یو خان علیین مکان۔ بل شیخ جمیل بیگ چه سکه ورور د خان علیین مکان وه۔ مور د دوئ ځلوزئ وه۔ بل شمشیر چه مور ئے امیره وه۔ بل میر باز چه مور ئے مهمندزئ د نوښهر، لور د ملک باز وه۔ (۳۰۵)

یو م سکه ورور دے چه د حق لار ئے نیولی
دوه ورونړه م نور دی یو په نم دویم بے نمه (۳۰۶)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه واړه واه دی
چې پکې مې نجم الله دی (۳۰۷)

## نجم الله:

دوست محمد خان کاملؔ دا نوم هم د دوو نورو نومونو سره د خوشحال خان خټک په زامنو کښې یاد کړے دے۔ لیکی:

" ددې نه علاوه څو نارینه نومونه ئې هم بیان کړی دی. کوم چې په هغه فهرست کښې نشته. څه کښې چې افضل خان د خان د اولاد تفصیل درج کړے دے. شائد چې دا هم د هغوی زامنو نه د څنو نامې دی. د چا نومونه چې افضل خان نه دې ذکر کړی. دغه نومونه نجم الله، عتیق الله او نجیب الله دی." (۳۰۸)

== ☆☆☆ ==

خالدؔ خان نجوؔ شاکرؔ طاهرؔ داهم دی

مجاهدؔ کامران همه شه برخوردار (۳۰۹)

## نجو (نجابت خان):

نجابت خان، شاد مان خان، پیر خان، دا ټول د خوشحال خان له وینزونه زیږیدلی زامن دی. (۳۱۰)
نجابت خان چې د ناز نامه ئې نجو ده. د تاریخ مرصع د لیکنو نه څرګندیږی. چې د افضل خان خټک د سرداری په ابتداء کښې د هغه کلک ملګرے وو. او د بهرام خان خلاف ئې د هغه د پاره هڅې کولې. ولې د ۱۱۳۰هـ کال نه پس واقعات داسې ښائی. چې نجابت خان د افضل خان خټک خوا پریښې ده. او د هغه سره د مرستې په ځاے ئې هغه ته بلا مشکلات پیدا کړي دی. (۳۱۱)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه دلخواه دی

چې پکې نجیب الله دی (۳۱۲)

## نجیب الله:

نجیب الله د خوشحال بابا هغه زوے دے۔ چې خوشحال بابا په یوه اُوږده مثنوی‌کښې د ټولو زامنو په آخر کښې یاد کړے دے۔ ولې د نجم الله او عتیق الله په رنګ نجیب الله هم افضل خان خټک د بابا د زامنو په لړی‌کښې نه دے راویستے۔ کامل مومند ئې داسې ذکر کوی۔

"څه نومونه په دغه مثنوی کښې داسې هم بیان شوی دی۔ چې ددغو مردانه نومونو په حقله نه شو وئیلې چې دا د چا نومونه دی۔ ځکه چې د افضل خان په بیان شوی فهرست کښې دغه نامې نشته۔ کیدې شی چې دا د خوشحال خان د هغو زامنو نومونه وی۔ کوم چې افضل خان نه دي بیان کړی۔ دغه نومونه نجم الله عتیق الله او نجیب الله دی۔ (۳۱۳)

== ☆☆☆ ==

هغه ملک واړه راحت دی

چې پکې دما نصرت دی (۳۱۴)

## نصرت خان:

نصرت خان هم د خان زوی دی، د زوکړی تاریخ یې په پارسي دا دی۔

به شیر زادن نصرت خان

عین و غین است از جمل نیک بدان

په دې اساس دی په ۱۰۷۰هـ ق کال زوکړی دی.میاشت یې اسد ده. تاریخ مرصع یې ځای په ځائې په ځینو پېښو کې یادونه هم کړیده. د ادبی فعالیت څرک یې تر اوسه نه دی ایستل شوی. (۳۱۵)

تاریخ مرصع کښې د نصرت خان د یو زوی ذکر راغلے دے. چې اسد نومیدو. (۳۱٦). او یو ځل چې په خوشحال خان د مثانې درد راغلے وو. دے د پلار سره ګرې نیلاب ته د نیکه تپوس له تلے وو. (۳۱۷)

نصرت خان د پلار سره تر اخر وخته کلک ولاړ وو. عن تر دې چې د خوشحال خان د عُمر په اخری برخه کښې بهرام خان خپل زوئے مکرم خان په خوشحال خان پسې د ګرفتارولو دپاره زنځرونه په لاس اُولیږلو. نو دغه وخت هم نصرت خان د پلار د ژغورنې د پاره چمتو ولاړ وو. تاریخ مرصع لیکی.

"نصرت خان ورسره وؤ. نور تویک واخستل. دغره اړخی ته شول. ژغ ئے پرے وکړ چه هر څوک چه مردان یاستئ تورے ته رائشی." (۳۱۸)

== ☆☆☆ ==

څه داغونه ږدے په زړه باند فلک
چه نظام د له ما بیل کړے خوا ئے بک (۳۱۹)

☆

اسمٰعیل غوند به دے راته تسلیم وه
که په حلق مے د نظام کښیښوه ګز لک

---

د نظام د غشی یو برابر نه دے
که خوشحالؔ په زړه خوړلی ډیر ناوک (۳۲۰)

☆

نظام وریښمین رومال دے
پورے غوټه موتے بنگ (۳۲۱)

☆

سترګو تاسو په شماره څاڅکی راتوئے کړه
د نظام د اشنائی درد خو دا وه (۳۲۲)

☆

هغه ملک واړه ګلفام دی
چې پکې دِ ما نظام دی (۳۲۳)

## نظام خان:

نظام خان د خان زوی د ۱۰۶۰هـ ق د محرم پر څلورمه زیږیدلی دی. خان یې د زوکړې تاریخ په پارسی دا سی ویلی دی:

جیم الف ازمه محرم بود
که بیآ مد نظام سن به وجود
سال تاریخش از خرد جستم
گفت بامن نظام کل وجود (۳۲۴)

نظام خان د ۲٦ کالو په عمر د ۱۰۸٦هـ ق کال په جمادي الاول (د ۱٦۷۵ جولای اګست) کې مړ شوی دی. خان یې په رثا کې یوه ۱۸ بیتیزه قصیده لری. (۳۲۵)

د نظام خان د مرګ په آوان خوشحال خان په برمول یا د یوسفزو په بله سیمه کښې د مغلو سره لاس په ګریوان وو. څکه چې هغه وائی چې د اورنګ په تفرقه چې غوغا وه. هم دغه وخت نظام خان له ژونده مرور شو. په یوه دویمه مرثیه کښې خوشحال خان د نظام په مرګ بې کچه افسوس کړے دے. چې هغه لس میاشتې په کټ ناروغه پروت وو. او پلار ئې د کو رنه بهر وو. (۳۲٦)

اکوړے یحییٰ شهباز واړه سره زر وو
په خپل دور واړو ښه تیر کړ خپل وار
اکوړے یحییٰ شهباز واړه مزری وو
زۀ هم نه یم د ګیدړو په قطار (۳۲۷)

☆

څو به نیکه ستایم یحییٰ خان جنت ئے ځاے شه
روغ لکه یوسفؑ وه درست تر سره تر قدمؑ (۳۲۸)

☆

شهباز خان د یحییٰ خان وه
چه بل نه وه هسے ځوان
یحییٰ خان د اکوړی وه
چه په توره شو سلطان (۳۲۹)

☆

یو یحییٰ خان نه شو یو اکوړے نه شو
چنجو منجو دی پټ به ئے څه لرم (۳۳۰)

## یحییٰ خان:

دٰ ملک اکوړی د وفات نه پس د خټکو قبیلې د هغه مشر زوئے یحییٰ خان خپل سردار اوټاکلو. هغه ډیر زر د خپل پلار او ورور انتقام له دښمنانو څخه واخستو. انو خیل، باقی ترې او تورمان خټکو ورسره هم د خټ تنګ اُوکړو. په بولاقو خټکو ئې یرغل اوکړو. ډیر ئې قتل کړل. او ډیر ئې بندیان کړل. دغه رنګ په ګڼ

شمیر کښې ئې له ملکه شړونې کړل. چې د یوسفزو په سیمه کښې ئې استوګنه اختیار کړه.

د یحییٰ خان یولس زامن وو. ۱. شهباز خان چې د زوکړې ماده ئې "شهباز خان اجل" نه ۱۰۰۰هـ را اوځی. ۲. بهادر خان ۳. عالم خان دا درې واړه د یوې مور نه وو چې قذیفه نومیده. ۴. آدم خان ۵. فیروز خان ددې دواړو میاندې بیلې بیلې وې د فیروز خان مور د یوسف خان کونډه وه. څوک چې یحییٰ خان د هغه د مرګ نه پس په نکاح کړې وه. ۶. شریف خان او ۷. جلال خان سکه ورونه وو. د دوئ مور د نازو بولاق لور وه. نازو بولاق د ملک اکوړی قاتل وو. ۸. محمد خان او ۹. شادی خان دا دواړه غبر ګونی له یوې مور نه زیږیدلی وو. ۱۰. عبدالله او حکیم خان دوئ هم خپل ورونه وو. ددې نه علاوه د یحییٰ خان اته زامن نور هم وو. خو دغه هلکان په وړواکوالي کښې مړه شوی وو. (۳۳۱)

یحییٰ خان د سرداری په ګدی تر ډیره وخته پاتې نهٔ شو. بلکې په ځوانی کښې په یوه انښته کښې مړ شو. (۳۳۲)

"یحيٰ خان په کال ۹۶۹هـ کښې پیدا شوے وو. د پلار (اکوړ خان) د مرګ نه پس په کال ۹۹۸هـ کښې منصبدار جوړ شوے دے. اوپه کال ۱۰۱۹هـ کښې د شادی خان بولاق د لاسه سره د مشر زوئے یوسف خان قتل شوے دے. په دے حساب هغه یوویشت کاله منصبدار پاتے شوے دے." (۳۳۳)

# حواله جات


۱۔ فراق نامہ۔ (مرتبہ زلمی هیواد مل) ۔۸۰ مخ

۲۔ همدغه کتاب ۔ ۱۲۲ مخ

۳۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۲۶۰ مخ

۴۔ همدغه کتاب ۔ ۳۹۶ مخ

۵۔ خدیجه فیروز الدین، ډاکټر: خوشحال خان خټک (حیات وفن) مترجم: ډاکټر ایم اقبال نسیمؔ خټک۔
ناشر: اکادمی ادبیات پاکستان اسلام آباد۔ مطبع: پوسټ آفس فاؤنډیشن پریس اسلام آباد۔
سن اشاعت: ۲۰۰۴ء ۔ ۳۲۷ مخ

۶۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۸۵۱ مخ

۷۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۲۵۸، ۲۵۹ مخونه

۸۔ همدغه کتاب ۔ ۱۱۷۹ مخ

۹۔ همدغه کتاب ۔ ۴۸۷ مخ

۱۰۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۱۸۰ مخ

۱۱۔ همدغه کتاب ۔ ۵۶۲ مخ

۱۲۔ همدغه کتاب ۔ ۵۶۹ مخ

۱۳۔ همدغه کتاب ۔ ۵۸۵ مخ

۱۴۔ همدغه کتاب ۔ ۸۲۹ مخ

۱۵۔ همدغه کتاب ۔ ۸۴۴ مخ

۱۶۔ همدغه کتاب ۔ ۸۵۱ مخ

۱۷۔ همدغه کتاب ۔ ۸۶۲ مخ

۱۸۔ همدغه کتاب ۔ ۸۶۵ مخ

۱۹۔ همدغه کتاب ۔ ۸۸۱ مخ

۲۰۔ همدغه کتاب ۔ ۹۳۷ مخ

۲۱۔ همدغه کتاب ۔ ۹۳۹ مخ

۲۲۔ همدغه کتاب ۔ ۹۳۹ مخ

۲۳۔ همدغه کتاب ۔ ۹۴۱ مخ

۲۴- د پښتو ادبي تحریکونه (از ډاکتر راج ولی شاه خټک)- ۲۰۹ مخ
۲۵- خوشحال خان خټک (اُردو) از دوست محمد خان کامل مومند)- ۲۰۴ مخ
۲۶- همدغه کتاب - ۲۳۰ مخ
۲۷- دیوان اشرف خان هجری (از اشرف خان هجریؔ) - ۲۴۵ مخ
۲۸- عارف عثمان، دکتور: خوشحال خان خټک او ددهٔ ادبی مکتب: ناشر: د افغانستان د علومو اکاډمی کابل- مطبع: دولتی مطبعه کابل- سن اشاعت: ۱۳۶۱هـ ۱۲۷ مخ
۲۹- ساهو ادب (از همیش خلیل) - ۴۹، ۵۰ مخونه
۳۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵٦۹ مخ
۳۱- همدغه کتاب - ۹٦۰ مخ
۳۲- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۳۳- د پښتو د نثر اته سوه کاله- (از زلمی هیوادمل) - ۳۰۸ مخ
۳۴- د پښتو د نثر تاریخ (از پروفیسر افضل رضا) - ۲۵۵ مخ
۳۵- د پښتو د نثر تاریخی او تنقیدی جائزه (بی بی مریم) - ۲۲۳ مخ
۳٦- همدغه کتاب - ۲۲۳ ، ۲۲۴ مخونه
۳۷- گلشن روه (از میجر هانری جارج راورټی) - ۲۳ مخ
۳۸- د پښتو د نثر اته سوه کاله (از زلمی هیواد مل) ۳۰۸ مخ
۳۹- همدغه کتاب - ۳۱۲ مخ
۴۰- روهی، محمد صدیق: د تاریخ مرصع د لیکنې موضوع، هدف او میتود- تاریخ مرصع د څیړنو په بهیرکې- (د زلمی هیواد مل په زیار)- ناشر: کابل پوهنتون کابل- سن اشاعت: ۱۳٦۵هـ ش- ۷۴ مخ
۴۱- د پښتو د نثر اته سوه کاله (از زلمی هیواد مل)- ۳۱٦، ۳۱۷ مخونه-
۴۲- همدغه کتاب - ۳۲۰، ۳۲۱ مخونه
۴۳- جلال الدین صدیقی، دوکتور: روشن تاریخ نویسی "تاریخ مرصع" - د زلمی هیواد مل په زیار- ناشر: کابل پوهنتون کابل- مطبع: د پوهنتون مطبعه کابل- سن اشاعت: ۱۳٦۵ هـ ش - ۱۰۳ مخ
۴۴- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۵۱ مخ
۴۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۲ مخ
۴٦- گلشن روه (میجر هانری جارج راورټی) - ۸۲ مخ
۴۷- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲٦۰ مخ

۴۸- خوشحال خان ختک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۳۹۹ مخ
۴۹- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۱۲ مخ
۵۰- همدغه کتاب - ۵۱۹ مخ
۵۱- همدغه کتاب - ۵٦۸ مخ
۵۲- همدغه کتاب - ۵۸۱ مخ
۵۳- همدغه کتاب - ٦۸۸ مخ
۵۴- همدغه کتاب - ۸۴۵ مخ
۵۵- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۵۹، ٦۰ مخونه
۵٦- ختک، ډاکټر اقبال نسیمؔ: نابغه روزګار (خوشحال خان ختک) زیر طبع.
۵۷- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۵۸- همدغه کتاب - ۱۲۰ مخ
۵۹- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹ مخ
٦۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۲۷ مخ
٦۱- همدغه کتاب - ۵۷۹ مخ
٦۲- همدغه کتاب - ۸۴۳ مخ
٦۳- فراق نامه ( مرتبه زلمی هیوادمل) - ۸۰ مخ
٦۴- همدغه کتاب - ۷۹ مخ
٦۵- همدغه کتاب - ۱۲۰ مخ
٦٦- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹ مخ
٦۷- همدغه کتاب - ۴۰۸ مخ
٦۸- همدغه کتاب - ۲۵۸ مخ
٦۹- د پښتو ادبی تحریکونه (از ډاکټر راج ولی شاه ختک) - ۲۲٦ مخ
۷۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۷۹ مخ
۷۱- همدغه کتاب - ۹۳۸ مخ
۷۲- همدغه کتاب - ۹۴۰ مخ
۷۳- همدغه کتاب - ۹۴۱ مخ
۷۴- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۷، ۲٦۰ مخونو لندیز

۷۵- خوشحال خان خټک (اُردو) از دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۴ مخ
۷۶- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۰۶ مخ
۷۷- همدغه کتاب - ۸۳۴ مخ
۷۸- همدغه کتاب - ۸۵۱ مخ
۷۹- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۸۰- خوشحال خان خټک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۳۶۳ مخ
۸۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۱۶ مخ
۸۲- همدغه کتاب - ص مخ
۸۳- تاریخ مرصع - (از افضل خان خټک) - ۲۵۷ مخ
۸۴- همدغه کتاب - د ۲۲۲، ۲۳۱، ۲۳۴، ۲۵۸، ۲۵۹، ۲۶۲ مخونو لتدیز
۸۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۱۶ مخ
۸۶- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۵۷ مخ
۸۷- همدغه کتاب - ۲۷۱ مخ
۸۸- همدغه کتاب - ۲۸۳ مخ
۸۹- همدغه کتاب - ۲۷۵ مخ
۹۰- همدغه کتاب - ۲۹۰ مخ
۹۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۴۳ مخ
۹۲- همدغه کتاب - ۸۴۲ مخ
۹۳- همدغه کتاب - ۸۴۳ مخ (حاشیه)
۹۴- حسرتؔ، محمد زبیر: د خوشحال بابا تاریخ گوئي- ناشر: د ادبی دوستانو مرکه مردان- سن اشاعت: ۱۹۹۹ء- ۱۶۳ مخ
۹۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۵ مخ
۹۶- همدغه کتاب - ۴۷ مخ
۹۷- همدغه کتاب - ۵۸ مخ
۹۸- همدغه کتاب - ۸۹ مخ
۹۹- همدغه کتاب - ۹۱ مخ
۱۰۰- همدغه کتاب - ۹۲ مخ

١٠١- همدغه كتاب - ١٨٣ مخ
١٠٢- همدغه كتاب - ٢٢٦ مخ
١٠٣- همدغه كتاب - ٣٧٢ مخ
١٠٤- همدغه كتاب - ٥١٧ مخ
١٠٥- همدغه كتاب - ٥١٨ مخ
١٠٦- همدغه كتاب - ٥١٩ مخ
١٠٧- همدغه كتاب - ٥٦٠ مخ
١٠٨- همدغه كتاب - ٥٧١ مخ
١٠٩- همدغه كتاب - ٦٧٧ مخ
١١٠- همدغه كتاب - ٦٨٩ مخ
١١١- همدغه كتاب - ٧١٤ مخ
١١٢- همدغه كتاب - ٧٢٦ مخ
١١٣- همدغه كتاب - ٧٢٤ مخ
١١٤- همدغه كتاب - ٨٢٧ مخ
١١٥- همدغه كتاب - ٨٣٠ مخ
١١٦- همدغه كتاب - ٨٥١ مخ
١١٧- همدغه كتاب - ٨٥٣ مخ
١١٨- همدغه كتاب - ٨٥٦ مخ
١١٩- همدغه كتاب - ٨٦٢ مخ
١٢٠- همدغه كتاب - ٨٧١ مخ
١٢١- همدغه كتاب - ٨٨١ مخ
١٢٢- همدغه كتاب - ٨٩٣ مخ
١٢٣- همدغه كتاب - ٨٩٤ مخ
١٢٤- همدغه كتاب - ٩٠١ مخ
١٢٥- همدغه كتاب - ٩٠٦ مخ
١٢٦- همدغه كتاب - ٩١٦ مخ
١٢٧- همدغه كتاب - ٩٣٩ مخ

۱۲۸- د خوشحال په باب د خارجي پوهانو ليکنو ته ژوره کتنه (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۸ مخ

۱۲۹- گلشن روه. (از میجر هانری جارج راورتی) - ۱۲۵ مخ

۱۳۰- تاریخ مرصع. (از افضل خان ختک) - ۲۵۸ مخ

۱۳۱- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۳۴، ۳۵مخونه

۱۳۲- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۱ مخ

۱۳۳- زلمی، هیواد مل: فرهنگ زبان و ادبیات پشتو. ناشر: د ښوونې او روزنې کابل. مطبع: دولتی مطبعه کابل. سن اشاعت: ۱۳۵٦ ق. وروميې جلد - ۸۱ مخ

۱۳۴- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۷۱۰ مخ

۱۳۵- همدغه کتاب - د ۵۸۲ ، ۵۸۳ مخونو د شعرونو نثر

۱۳٦- رشتين، صديق الله: ننگيالى پښتون. ناشر: پښتو ټولنه کابل. مطبع: دولتى مطبعه کابل. سن اشاعت: ۱۴۴۵هـ ش - ۲۵۵ مخ

۱۳۷- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۰۰ مخ

۱۳۸- همدغه کتاب - ۸۵۸ مخ

۱۳۹- همدغه کتاب - ۸۴۳ مخ

۱۴۰- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ

۱۴۱- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۲ مخ

۱۴۲- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۷۹ مخ

۱۴۳- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۱ مخ

۱۴۴- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۸ مخ

۱۴۵- د خوشحال بابا تاریخ گوئی (از محمد زبیر حسرت) ۸۵ مخ

۱۴٦- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۲۵۹ مخ

۱۴۷- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۷ مخ

۱۴۸- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ

۱۴۹- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹، ۲٦۰ مخونه

۱۵۰- همدغه کتاب - ۱۱۸۰ مخ

۱۵۱- خوشحال خان ختک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۳٦٦ مخ

۱۵۲- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۸ مخ

۱۵۳- همدغه کتاب - ۸۳۰ مخ
۱۵۴- همدغه کتاب - ۸۵۱ مخ
۱۵۵- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۱۵۶- همدعه کتاب - ۷۹ مخ
۱۵۷- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۰۵ مخ
۱۵۸- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۱۲۰ مخ
۱۵۹- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹ مخ.
۱۶۰- خوشحال خان ختک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۳۵۷ مخ
۱۶۱- همدغه کتاب - ۴۳۶ مخ
۱۶۲- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۴۸۶ مخ
۱۶۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۶۶ مخ
۱۶۴- همدغه کتاب - ۷۴۳ مخ
۱۶۵- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۶ مخ
۱۶۶- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۶۶ مخ
۱۶۷- همدغه کتاب - ۵۰۶ مخ
۱۶۸- همدغه کتاب - د ۵۰۶، ۵۰۷ مخونو د شعرونو نثری لنډیز
۱۶۹- همدغه کتاب - ۹۲ مخ
۱۷۰- همدغه کتاب - ۵۰۶ مخ
۱۷۱- همدغه کتاب - ۵۷۹ مخ
۱۷۲- همدغه کتاب - ۸۵۱ مخ
۱۷۳- همدغه کتاب - ۹۳۸ مخ
۱۷۴- همدغه کتاب - ۹۳۹ مخ
۱۷۵- همدغه کتاب - ۹۴۰ مخ
۱۷۶- همدغه کتاب - ۹۴۱ مخ
۱۷۷- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ
۱۷۸- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۷۱ مخ
۱۷۹- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۱۱۷ مخ

۱۸۰- خوشحال خان خټک (اُردو) از دوست محمد خان کامل - ۲۳۱ مخ
۱۸۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۳۰ مخ
۱۸۲- روهی ادب (ازپروفیسر محمد نواز طائر) - ۳۰۱ مخ
۱۸۳- فراق نامه (از زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۱۸۴- خټک، سکندر خان: دیوان سکندر خان خټک. ناشر: اداره اشاعت سرحد پېښور. مطبع: سرحد الیکترک پریس پېښور. سن اشاعت: ۱۹۵۳ء. ۲۷۵ مخ
۱۸۵- خټک، سکندر خان. لیلیٰ مجنون د سکندر خان، سریزه او تصحیح: دوست شینواری. د افغانستان د علومو اکاډیمی. سن اشاعت: ۱۳۵۸هـ. ۴۳ مخ
۱۸۶- د پښتو ادبی تحریکونه (از ډاکټر راج ولی شاه خټک) - ۲۵۵ مخ
۱۸۷- دیوان اشرف خان هجری. (از اشرف خان هجری) - ۳۵۱ مخ
۱۸۸- ادبی ستوری (از حبیب الله رفیع) دوئم ټوک - ۳۳۰، ۳۳۱ مخونه
۱۸۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۷ مخ
۱۹۰- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۶۰ مخ
۱۹۱- خوشحال خان خټک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین. ۳۶۷ مخ
۱۹۲- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۰۰ مخ
۱۹۳- د خوشحال بابا تاریخ گوئی (از محمد زبیر حسرتؔ) ۱۲۴ مخ
۱۹۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۰۸ مخ
۱۹۵- همدغه کتاب - ۵۱۹ مخ
۱۹۶- همدغه کتاب - ۵۶۷ مخ
۱۹۷- همدغه کتاب - ۵۸۱ مخ
۱۹۸- همدغه کتاب - ۵۸۲ مخ
۱۹۹- همدغه کتاب - ۸۴۵ مخ
۲۰۰- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۵۷ مخ
۲۰۱- تی. پی هیوز پادری: کلید افغانی. (د پښتو د نظم او نثر انتخاب) ناشر: منشی گلاب سنگهـ ایند سنز لاهور. مطبع: نه لری. سن اشاعت: ۱۸٦۳ء ۲۲۷ مخ
۲۰۲- خوشحال خان خټک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۷۱، ۷۲ مـخونه

۲۰۳۔ مومند دوست محمد خان کاملؔ: خوشحال خان خټک۔ مترجم: محقق عبداللطیف طالبی۔
ناشر: دانش خپرندویه ټولنه پېښور۔ مطبع نه لری۔ سن اشاعت: ۲۰۰۶ء ۔ ۸۶ مخ نه تر ۸۹ مخ پورې۔
۲۰۴۔ د خوشحال بابا تاریخ گوئی (از محمد زبیر حسرتؔ) ۔ ۵۴ مخ
۲۰۵۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۵۷ مخ
۲۰۶۔ همدغه کتاب ۔ ۵۶۲ مخ
۲۰۷۔ همدغه کتاب ۔ ۸۳۰ مخ
۲۰۸۔ همدغه کتاب ۔ ۸۴۳ مخ
۲۰۹۔ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۔ ۴۷ مخ
۲۱۰۔ فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل)۔ ۷۹ مخ
۲۱۱۔ خوشحال خان خټک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۲۳۳ مخ
۲۱۲۔ کلید افغانی (از پادری هیوز) ۔ ۷۴ مخ
۲۱۳۔ ادبی ستوری (از حبیب الله رفیع) ۔ ۳۱۴، ۳۱۵ مخونه
۲۱۴۔ زرین انځور۔ د صدر خوشحال ژوند او اثار۔ ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی۔
مطبع: ملت پرنټرز لاهور۔ سن اشاعت: ۱۹۹۶ء ۔ ۳۴ مخ
۲۱۵۔ ادبی ستوری۔ (از حبیب الله رفیع) دوئم ټوک۔ د ۳۱۵، ۳۱۶ مخونو لندیز
۲۱۶۔ پښتانه شعراء (از عبدالحئ حبیبی) لمړے ټوک۔ ۱۸۶ مخ
۲۱۷۔ خوشحال خان خټک (اُردو) (از دوست محمد خان کاملؔ مومند) ۔ ۲۳۳ مخ
۲۱۸۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۴۱۱ مخ
۲۱۹۔ همدغه کتاب ۔ ۴۱۱ مخ (حاشیه)
۲۲۰۔ همدغه کتاب ۔ ۱۸۳ مخ
۲۲۱۔ همدغه کتاب ۔ ۴۰۶ مخ
۲۲۲۔ همدغه کتاب ۔ ۴۵۸ مخ
۲۲۳۔ همدغه کتاب ۔ ۵۱۸ مخ
۲۲۴۔ همدغه کتاب ۔ ۶۶۵ مخ
۲۲۵۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۲۱۵۰ مخ
۲۲۶۔ همدغه کتاب ۔ ۵۰۶ مخ
۲۲۷۔ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۴۰۶ مخ
۲۲۸۔ فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۔ ۸۰ مخ
۲۲۹۔ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۲۵۹ مخ

۲۳۰- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مهمند) - ۲۳۳ مخ
۲۳۱- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۳۹٦ مخ
۲۳۲- همدغه کتاب - ۴٦۲ مخ
۲۳۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۲٦ مخ
۲۳۴- همدغه کتاب - ۵۱۸ مخ
۲۳۵- همدغه کتاب - ۵۵۵ مخ
۲۳٦- همدغه کتاب - ۷۱۴ مخ
۲۳۷- همدغه کتاب - ۷۳۴ مخ
۲۳۸- همدغه کتاب - ۸۲۵ مخ
۲۳۹- همدغه کتاب - ۸۴۴ مخ
۲۴۰- همدغه کتاب - ۸۵۸ مخ
۲۴۱- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۰ مخ
۲۴۲- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۹ مخ
۲۴۳- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹ مخ
۲۴۴- ادبی ستوری. (از حبیب الله رفیع) دوئم ټوک. د ۲۹ مخ نه تر ۳۲ مخه لنډیز
۲۴۵- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۳۰ مخ
۲۴٦- همدغه کتاب - ۸۵۸ مخ
۲۴۷- ختک، عبدالقار خان: ګلدسته. ناشر: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی. مطبع: شاهین پریس پېښور. سن اشاعت: اکتوبر ۱۹٦۱ء - ۵۰ مخ
۲۴۸- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۲ مخ
۲۴۹- راورټي. هانري جارج. اے ګرائمر آف دی افغان لینګویج. د کلکتې چاپ. سن اشاعت: ۱۸۵۵ء - ۲۷۰ مخ
۲۵۰- خوشحال خان ختک (اُردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۳ مخ
۲۵۱- ګلدسته (از عبدالقادر خان ختک) ۵۳ مخ
۲۵۲- همدغه کتاب - ۵۱ مخ
۲۵۳- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۴۲ مخ
۲۵۴- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۳٦۱، ۳٦۲ مخونه
۲۵۵- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۴۲ مخ
۲۵٦- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ
۲۵۷- همدغه کتاب - ۱۲۲ مخ

۲۵۸- همدغه کتاب - ۸۱ مخ
۲۵۹- همدغه کتاب - ۱۸۷ مخ
۲۶۰- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۳۲۲، ۳۲۳ مخونه
۲۶۱- همدغه کتاب - ۲۶۰ مخ
۲۶۲- همدغه کتاب - ۳۹۶ مخ
۲۶۳- دیوان اشرف خان هجری. (از اشرف خان هجریؒ) - ۲۴۷ مخ
۲۶۴- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۴۸۵ مخ
۲۶۵- همدغه کتاب - ۵۰۷، ۵۰۸ مخونه
۲۶۶- همدغه کتاب - ۵۱۰ مخ
۲۶۷- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۸ مخ
۲۶۸- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۶۰ مخ
۲۶۹- خوشحال خان خټک (حیات و فن) از خدیجه فیروز الدین - ۳۶۹ مخ
۲۷۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۷۱۷ مخ
۲۷۱- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ
۲۷۲- حبیبی، عبدالحئ: د پښتو ادب په تاریخ کښې قصیده. ناشر: د افغانستان د علومو اکیډیمی د ژبو او ادبیاتو انستیتیوټ کابل. مطبع: دولتی مطبعه کابل. سن اشاعت: ۱۳۵۷هـ ش. ۱۱۶ مخ
۲۷۳- رشتین، صدیق الله: د پښتو ادب تاریخ. ناشر: پښتو ټولنه کابل. مطبع: دولتی مطبعه کابل. سن اشاعت: ۱۳۲۵هـ ش. ۵۲ مخ
۲۷۴- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) - ۲۵۹ مخ
۲۷۵- همدغه کتاب - ۳۲۲، ۳۲۳ مخونه
۲۷۶- همدغه کتاب - ۴۸۱، ۴۸۲ مخونه
۲۷۷- د پښتو ادب په تاریخ کښې قصیده (از عبدالحئ حبیبیؒ) - ۱۱۶ مخ
۲۷۸- همدغه کتاب - ۱۲۱ مخ
۲۷۹- خټک، ګوهر خان: د قلب السیر شاعری. تحقیق و ترتیب: محمد زبیر حسرتؔ. ناشر: مرکه پبلیکیشنز مردان. سن اشاعت: ۲۰۰۲ء - ۱۸ مخ
۲۸۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۷ مخ
۲۸۱- همدغه کتاب - ۸۵۱ مخ
۲۸۲- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ
۲۸۳- همدغه کتاب - ۱۲۱ مخ

۲۸۴- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۹ مخ
۲۸۵- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۱۲۱ مخ
۲۸٦- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۳۹٦ مخ
۲۸۷- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۴٦ مخ
۲۸۸- همدغه کتاب - ۵۳۲ مخ
۲۸۹- گلشن روه (از هانری جارج راورتی) - ۸۲ مخ
۲۹۰- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲٦۴ مخ
۲۹۱- همدغه کتاب - ۴۰٦ مخ
۲۹۲- همدغه کتاب - ۷٦۸ مخ
۲۹۳- ختک، عبدالقادر: حدیقه ختک. ناشر: یونیورستی بک ایجنسی پېښور. مطبع: منظور عام پریس پېښور. سن اشاعت: ۱۹٦۹ء - ۲۵۲ مخ
۲۹۴- ختک، یار محمد مغموم: د خوشحال فرهنګ. ناشر: یار محمد مغموم ختک. مطبع: چاپ ځائے پېښور. سن اشاعت: ۱۹۸۵ء. ۲۸۳ مخ
۲۹۵- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۵۰٦ مخ
۲۹٦- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۴۷ مخ
۲۹۷- سوات نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) - ۴۴ مخ
۲۹۸- ختک، خوشحال خان: د خوشحال ختک کلیات. ناشر: د افغانستان د علومو اکاډمی کابل افغانستان. مطبع: آریانا مطبعه کابل. لومړی ټوک. د سریزی ۴ مخ
۲۹۹- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۱ مخ
۳۰۰- همدغه کتاب - ۸۸۱ مخ
۳۰۱- همدغه کتاب - ۹۳۸ مخ
۳۰۲- همدغه کتاب - ۹۴۰ مخ
۳۰۳- همدغه کتاب - ۹۴۱ مخ
۳۰۴- فراق نامه (مرتبه عبدالحئ حبیبی) - ۳۴ مخ
۳۰۵- تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۲۵۸ مخ
۳۰٦- ارمغان خوشحال (مرتبه سید رسول رسؔا) - ٦٦ مخ
۳۰۷- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۱ مخ
۳۰۸- خوشحال خان ختک (اُردو) از دوست محمد خان کامل مومند. ۲۳۵ مخ
۳۰۹- کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۸ مخ

۳۱۰.  خوشحال خان ختک (أردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۴ مخ
۳۱۱.  تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - د ۳٦۵ مخ نه تر ۴۱۵ مخونه لندیز
۳۱۲.  فراق نامه (مرتبه زلمي هیواد مل) ۸۱ مخ
۳۱۳.  خوشحال خان ختک (أردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۳۵ مخ
۳۱۴.  فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۸۱ مخ
۳۱۵.  همدغه کتاب - ۱۲۲ مخ
۳۱٦.  تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) - ۴۲۹ مخ
۳۱۷.  همدغه کتاب - ۳۹٦مخ
۳۱۸.  همدغه کتاب - ۵۰۸ مخ
۳۱۹.  کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۳۵ مخ
۳۲۰.  همدغه کتاب - ۵۳٦ مخ
۳۲۱.  همدغه کتاب - ۸۵۱ مخ
۳۲۲.  همدغه کتاب - ۵۴٦ مخ
۳۲۳.  فراق نامه (مرتبه زلمیٰ هیواد مل) - ۸۰ مخ
۳۲۴.  همدغه کتاب - ۳٦ مخ
۳۲۵.  ختک، خوشحال خان: د خوشحال مرغلری. (مرتبه عبدالحئ حبیبی) د قندهار چاپ.
سن اشاعت: ۱۳۱۷هـ ش. ٦۰۲، ٦۰۳ مخونه
۳۲٦.  خوشحال خان ختک (أردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۱۸۰ ، ۱۸۱ مخونه
۳۲۷.  کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۱۹ مخ
۳۲۸.  همدغه کتاب - ۵٦۷ مخ
۳۲۹.  همدغه کتاب - ۵۸۱ مخ
۳۳۰.  همدغه کتاب - ٦۸۸ مخ
۳۳۱.  خوشحال خان ختک (أردو) (دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۱ مخ
۳۳۲.  خوشحال خان ختک (حیات و فن) (از خدیجه فیروز الدین) - ۷۰ مخ
۳۳۳.  نابغه روزگار (خوشحال خان ختک) از ډاکتر اقبال نسیمؔ ختک- زیر طبع

لسم باب

# د خوشحال په کلام کښې مذکور

# متفرق اوْ تحقیق طلب شخصیات

څنګه چې ددې باب د نامې نه جوته ده۔ چې دې باب کښې په دوه ډوله شخصیاتو تحقیق کړے شوے دے۔ ورومبي هغه شخصیات کوم چې د تېرو نهه بابونو د شخصیاتو نه علاوه د ژوند د نورو اړخونو سره تعلق لري۔ او دویم هغه شخصیات د کومو په حقله چې کوټلې معلومات زما تر لاسو نه دي راغلي۔ دغه رنګ شخصیات لاتحقیق طلب دي۔ شائد چې په راتلونکو وختونو کښې ددغه شخصیاتو په بابله هغه حقائق مینځ ته راشي۔ کوم چې د وخت تاړاکونو هغه ځائې ته رسولي دي۔ څه ته چې حالاً زمونږ لاسونه اُونه رسیدل۔

په هر طور دې باب کښې هغه متفرق شخصیات څېړل شوي دي۔ کوم چې خوشحال بابا پخپله شاعرۍ کښې په یوه نه یوه حواله ذکر کړي دي۔

بت پرست د یوه بت یم نه د وارو
که بتان مے د آزر دی بنائسته (۱)

آذر:

تاریخ او توریت کښې د حضرت ابراهیمؑ د پلارنامه تارح راغلې ده. او قرآن مجید کښې آذر، دې سلسله کښې علماء او مفسرینو دوه لارې خپلې کړې دی. یوه دا چې د دوارو نامو تر مینځه مطابقت پیدا شی او اختلاف ختم شی. او دوئمه دا چې د تحقیق نه پس فیصله شوې خبره اُوشی. چې د یو دوارو کښې کومه نامه صحیح او کومه غلطه ده یا دواړه صحیح دی خو دواړه نامې د جُدا جُدا هستیو دی. اصلی خبره داده چې"آدار" کالدی ژبه کښې لوئے پجاری ته وائی او عربی کښې هم دې ته آذر وئیلے شو. چونکې "تارح" بت تراش او له ټولو لوئے پجاری وو. ځکه هم د "آذر" په نامه مشهور شو. حالانکې دا نوم نه بلکې لقب دے. او هر کله چې لقب د نوم ځائے واخستو نو قرآن مجید هم په دې نامه یعنی "آذر" یاد کړو. (۲)

پښتو آریانا د "آذر" په حقله لیکی:

"آذر بن تاحور بن حاروغ بن رعو بن قانع بن غایو بن شالع بن ارفخشد بن سام بن نوح. بت پرست او بت توړونکے وو او بې له دې چې د حضرت ابراهیم علیه السلام دعوت ومنی مړ شو." (۳)

د آذر د پیداوښت د دور په حقله مؤرخین یوه خوله نه دی. د کنو مؤرخینو د خیال تر مخه هغه په ۲۲۳۵ ق م کښې پیدا شوے وو. او په ۲۰۲۵ ق م کښې وفات شوے دے. عمر ئې دوه سوه لس (۲۱۰) کاله وو.

"آذر په اُور کښې پیدا شوے وو. دا ښار د بصرې او سماوې په مینځ کښې د فرات په غاړه پروت دے. دا ښار تر پیړو پیړو د نوم ورکی په تیارو کښې وو. ددې پیړی په شروع کښې یو ځل بیا راپیدا شو. آذر بت پرست هم وو. بت ساز هم وو او بت فروش هم وو. دې نه علاوه د کالدیه د بادشاه نمرود په فوځ کښې ئې یوه مهمه عُهده هم لرله. د یو بل روایت تر مخه دے یو مذهبی رهنما وو. هر کله چې حضرت ابراهیمؑ د بتانو

خلاف وینا شروع کړه. نو دهٔ په حضرت ابراهیمؑ دهرکې اوکړې. او یوه ورځ هغه ټول بتان مات کړل. بادشاه د آذر په ښودنه ابراهیمؑ له د ژوندی سیزلو سزا اوټاکله.

په عهد تورات کښې دی چې"

"آذر یو شتمند سوداګر وو. او د "ماه خدائے "منونکے وو. هر کله چې په "اُور"کښې ددے خدائے ټول مندرونه بند کړے شول. او خلقو نورو خدایانو ته سجدې شروع کړې. نو دے "حران" ته لاړ. دغه وخت په حران کښې خلقو د سپوږمۍ عبادت کولو."

دغه رنګ قوت حموی لیکی. چې آذر د "اُور" نه اُووتو. او د دمشق سره نزدې یو کلی "بیت لهیا"ته لاړو. ولې صحیح روایت دادے چې هغه هم دغلته په حران کښې پاتے شو. او وفات شو. (۴)

== ☆☆☆ ==

نهٔ سلیمان وه نهٔ ئې تخت وه

نهٔ آصف د برخیا (۵)

"آصف بن برخیا د سلیمان علیه السلام د وزیر نوم دے" (۶)

د اسرائیلو په تاریخ کې څوتنه په دې نامه تیر شوی دی. چې ډیر مشهور یې (آصف بن برخیا) دی. چې په اسلامی تاریخونو کې د حضرت سلیمان علیه السلام وزیر او دده د مملکت مدبر ښودل شوی دی. دهٔ د خپل ښه تدبر او د مملکت د حکیمانه ارادې له امله د ضرب المثل حکم پیدا کړی دی. د یهودو د تاریخ له مخه دی د حضرت داودؑ له ملګرو څخه و. چې د موسیقی په پیژندلو او نغمو په ویلو کې یې شهرت درلود او د موسیقی د مقامونو په ترتیب او د هغو د ویلو او نغمی ډولونه به یې خلکو ته ښودل. (۷)

نامتو څیړنکار سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل د آصف بن برخیا په باره کښې خپله څیړنه داسې وړاندې کوی.

"د تورات د شهادت نه دا هم معلومه شوه چه آصف هم په دغه وخت کښے د موسیقئ د یو ماهر په حیثیت د "صندوق عهد" په خدمت د داؤدؑ د لوری نه مقرر وو. او ددے لیکوالو دا وینا هیڅ بنیاد نه لری. چه آصف بن برخیا د پلار د مرګ نه پس د سلیمانؑ په عهد کښے د هغه وزیر اعظم شو. د سلیمانؑ په عهد کښے تورات د آصف د ذکر نه بالکل خالی دے. ددے وجه یا خو داده چه ددهٔ په وخت کښے به آصف مړ وی. او یا به هم په هغه زوړ خدمت مامور وی. د تورات نه دا هم (نه) معلومیږی. چه د آصف اولاد لرِ وو. نو څه دده اولاد هم "افغانا" په اولاد کښے ورګډ شو. (۸)

== ☆☆☆ ==

د فرقان په هدايت فاروق پوهيږی
نه بوجهل بولهب ته هدايت کا (۹)

☆

په اعجاز د محمد خلقو اقرار کړ
د بوجهل تل نارے وے د تکذيب (۱۰)

☆

پند د محمدﷺ د ابوجهل پکار نۀ شه !
څوک به ئے صيقل کا چه ئے خدائے ائينے زنګ کړ (۱۱)

☆

دواړه ترونه مے نا اهل
ابوجهل، بولهب شول (۱۲)

☆

محمدؐ ته ابوجهل نصيحت کا !
راشه ګوره څوک رنځور شۀ څوک طبيب شۀ (۱۳)

☆

محمدﷺ د ابوجهل خوئ نور نه کړه
نه خصلت د بولهب بيامونډ تغير (۱۴)

☆

راشه که ګورے اهل نا اهل
يو ابوبکرؓ وه بل ابوجهل
په ابوبکرؓ محمدؐ نمر وه
په ابوجهل تر سهاسهل (۱۵)

## ابوجهل:

"دده خپل نوم ابو الحکم عمر بن هشام بن المغیره وو. د ابوجهل لغوی معنیٰ د جهالت پلار ده. دے د نبی کریمﷺ بدترین دښمن وو. ددهٔ زوئے حضرت عکرمهؓ ایمان راوړے وو. خو دے د ایمان د دولت نه محروم پاتے شو. په دویمه هجری د بدر په غزا کښې اُووژلے شو." (۱٦)

"حضرت معوذؓ او معاذؓ دواړو ورونړو دا لوظ کړے وو. چې کله هم دوئ ابوجهل اُولیدو نو یا خو به هغه وژنی او یا به پخپله دوئ مرګ له غاړې ورکوی. څکه نو دوئ د جنګ بدر په موقعه د ابوجهل په تکل کښې وو. ولې پیژندو ئې نه. د ډیر لټون نه پس ئې د حضرت عبدالرحمنؓ بن عوف نه تپوس اُوکړو. چې ابوجهل کوم دي. هغهؓ ورته د لاس په اشاره اُوښودو. او دوئ دواړه د سترګو په رپ کښې لکه د باز پرې ورغوته شول. څو چې ابوجهل خبریدو نو دوئ ورله قصه تمامه کړې وه." (۱۷)

"یو ځل نبی کریمؐ کعبه کښې مونځ ادا کولو. هر کله چې سجدې له لاړ. نو ابوجهل د حضورﷺ د شهید کولو په اراده یو لوئے کمر په لاس غلے غلے وراغلو. خو چې کمر ئې پورته کړو. نو لاس ئې په رپار شول. کمر ترې اُوغورځید. رنګ ئې تک زیړ شو. او په شنه منده ئې ځان خپلو ملګرو ته اُورسوؤ. او دا اقرار ئې اُوکړو چې کله زهٔ د نبی کریمؐ د ویشتلو په اراده هغوئ ته ورنزدے شوم. نو ما د عجیبه ځاندرې یو اوښ اُولیدو. چې وازه خولهٔ په ما راغوته شو. او ډیره نزدې وه چې زهٔ ئې خوړلے ووم. ما تر تن ورځې داسې اوښ نه وولیدلے. (۱۸)

"حضرت ابوهریرهؓ وائی، ابوجهل (د مکې کفارو ته) اُووې. آیا محمدﷺ ستاسو په وړاندې مخ په خاورو ککړوی. (یعنی مونځ او سجده کوی) ورته اُووئیلې شول... او ... هغه اُووې. په لات او عُزیٰ مې دې قسم وی. که زهٔ هغه په داسې کولو اُووینم. نو ګردن به ئې مېده کړم. نو هغه (دې ارادې سره) نبیﷺ له راغے. دغه وخت حضورﷺ مونځ کولو. هغه دحضورﷺ په ګردن قدم ایښودلو دپاره راوړاندې شو. څنګه چې هغه قدم ورمخکښې کړو. نو په پوندو ورروسته شو. او خپل دواړو لاسونو سره ئې ځان بچ کولو. هغه نه تپوس اوشو. څه دی. هغه اُووے ما اُولیدل چې زما او د محمدﷺ مینځ کښې د اور یو خندق، خوفناکه منظر

او وزرې (فرښتې) دی۔ چې د حضورﷺ حفاظت کوی۔ نبی کریمﷺ اوفرمائیل که ابوجهل ماته رانزدے شوے وے نو فرښتو به بسمې بسمې کړے وو۔ (۱۹)

== ☆☆☆ ==

چې دده په وخت خراب ؤ
ابو مسلمه کذاب ؤ (۲۰)

## ابو مسیلمه کذاب:

"د نبوت دعویدار، دده پوره نوم مسیلمه بن حبیب وو۔ او د یمن د مشهورې قبیلې بنو حنیفه سردار وو۔ دهٔ د خوږ نبیﷺ په ژوند باندې ئې د پیغمبرۍ دعویٰ کړې وه۔ وئیل به ئې چې زهٔ حضورﷺ د ځان سره په نبوت کښې شریک کړے یم۔ د حضورﷺ د وفات نه پس دهٔ ځلویښت زره لښکر راجمع کړو۔ چې حضرت ابوبکرؓ خلیفه شو۔ نو هغوئ د حضرت عکرمهؓ بن ابوجهل او شرجیل بن حسنه په مشرۍ کښې دده خلاف د جنګیدو د پاره اسلامی لښکر اولیږلو۔ خو اسلامی لښکر ماتې اُوخوړ۔ او ددې سره د مسیلمه بن کذاب حوصله او همت نور هم زیات شو۔" (۲۱)

"بیا حضرت خالد بن ولید د مسیلمه بن کذاب خلاف فیصله کُن جنګ اُوکړو۔ چې ورته د "یمامې "جنګ وئیلے شی۔ دے جنګ کښې د دواړو غاړو نه په زرګونو کسان مړه شول۔ مسیلمه قتل شو۔ او دا رنګ دا فتنه غوځه شوه۔"

مسیلمه د نبوت د دعوې نه وړاندې هم د کذاب یمامه په لقب مشهور وو۔ کله چې هغه د نبوت دعویٰ اُوکړه۔ نو دغه وخت د مسیلمه عمر د سلو کالو نه اوړیدلے وو۔ دهٔ د د وحی د کلام په نوم یو کتاب هم جوړ کړے وو۔ چې "فاروق اول" او "فاروق ثانی" نوم ئې ورته ورکړے وو۔ دده منونکي په فسق فجور کښې اخته وو۔ او په

فحش لیکنې کښې ئې ډیره ترقی کړې وه. مسیلمه د شراب او زنا په حقله آزادی ورکړې وه. په دغه سلسله کښې هیڅ قسمه پابندی نه وه. دهٔ د خپلو پیروکارو د پاره درے مونځونه یعنی د ماسپخین، مازیگر او ماښام مونځونه مقرر کړی وو. دغه شان د ورځې د روژې په ځائے ئې ورته د شپې د روژو نیولو حکم ورکړے وو.

د مسیلمه سره سجاح بنت حارث تمیمه د نبوت په دعویٰ کښې برابر شریکه وه. دې هم د حضورﷺ د وصال په آوان د نبوت دعویٰ کړې وه. بیا ئې د مسیلمه سره ملاقات اُوکړو. او دواړو په شریکه د نبوت سلسله جوړه کړه. روسته ئې د مسیلمه سره واده اُوکړو. خو کله چې مسیلمه قتل کړے شو. نو دې توبه اُوویسته او اسلام ئې قبول کړو." (۲۲)

== ☆☆☆ ==

په دا ښهر کښې اکبر دے
د خوشحال یار شفیق (۲۳)

☆

یو اکبر په غم شریک وه
هغه هم په خپل عشرت دے (۲۴)

## اکبر:

د خوشحال خان ددغه شعرونو نه دا خبره جوتیږی. چې اکبر د خوشحال خان خټک یو ډیر نزدے او گران دوست وو. هم دغه وجه ده. چې خوشحال خان ئې د خپل قید و بند په آوان شفیق او مهربانه دوست یادوی.

دوست محمد خان کامل ئې هم د خوشحال خان د یو خوا خوږي دوست په څیر یادونه کړې ده. هغه لیکی.

اکبر د خوشحال یو خوږ دوست هم وو. (۲۵)

اللهداد چه بند په بند ګوتې په تار ږدی
د خوږ زړه دمه مې شي څه خو تابه شم (٢٦)

الهداد:

د خوشحال بابا ددغې شعر نه داسې معلومیږی. چې الهداد څوک سازنده دے. چې د قیدوبند په دوران کښې ئې خوشحال بابا د رباب په ترنګ زړه دمه کوی. ددې شعر ټول غزل د خوشحال بابا د حبسیاتو مضامین لری. چې پکښې د اورنګزیب د بی انصافی غندنه شوې ده. د زمانې نه پکښې سر ټکولے شوے دے. د فراق غمونه پکښې ژړلې شوی دی. د خپلې بې قدری تذکرې پکښې شوې دی. د خپلو خپلوانو زیاتی ته پکښې ګوته نیولې شوې ده. او دغې روح چیچونکو څیزونو چې خوشحال تنګ کړے دے. نو د قید و بند په دوران کښې هغه ته صرف او صرف د اللهداد د ساز تارونه سکون بخښې.

دا خبره پخپل ځائې سمه ده. چې په رنتهمبور کښې باذوقه قیدیان ضرور وو. چې هغوئ به د خوشحال بابا سره نیغ په نیغه کپونه لګول. او د هغه د خوشحالولو د پاره به ئې داستانونه بیانول. اؤ په نرد او شطرنج به ئې مشغولولو. ولې په دغه ټولو کښې چې خوشحال بابا د چا نامه یادوی نو هغه الهداد دے.

== ☆☆☆ ==

نۀ سلیمان وه نۀ ئې تخت وۀ
نه آصف د برخیا (٢٧)

برخیا:

برخیا د حضرت سلیمانؑ د وزیر آصف د پلار نوم دے. (٢٨)

نامتو مؤرخ سردار شیر محمد خان ګنداپور د برخیا او ارمیا ذکر داسې کوی. د ملک طالوت د شهادت نه پس

چې هر کله حضرت داودؑ د بنی اسرائیلو مستقل بادشاه جوړ شو. او د نبوت او خلافت په ذمه وارو اُونمانځلے شو. نو هغهؑ د ملک طالوت د وصیت مطابق د هغه د دواړو کور ودانو په ډیره پاملرنه پالنه اُوکړه تردې چې الله تعالیٰ په یوه ورځ دواړو ښځو له یو یو زوئے ورکړو. حضرت داودؑ د یو نوم برخیا او د دویم نوم ارمیا کیښود. او د دواړو شاهزادګانو په زیږیدو ئې ډیرې خوشحالۍ اُوکړې. او د خپلو زامنو سره سره ئې د دوئ دواړو ښۀ پالنه اُوکړه. تر دې چې دواړه په ښۀ بد پوهـ شول. نو د تعلیم د پاره ئې ورله یو اُستاد مقرر کړو. دغې اُستاد دوئ دواړه د اخلاقي تعلیم سره سره په ظاهری او باطنی علومو هم بهر مند کړل. بیا ئې دوئ ته جنګی فنون هم اُوښودل. او چې ښۀ د ستړ د ټینګولو شول. نو د بنی اسرائیلو د ټولو سردارانو مشران ئې اُوټاکل. او په ملکی او مالی اُومورو کښې ئې حصه دار کړل. کوم کار چې به ورته سپارلې کیدو. هر ځائے به ئې د ګټې بیرغونه نهالول. عن تر دې چې په هغه جنګونو کښې کوم چې د بنیامین اولاد د حضرت داودؑ سره د خپل پلار د سلطنت اخستو په لړ کښې کړي وو. دوئ دواړه د حضرت داودؑ مرستیال وو. او دا شان د حضرت داودؑ پالنې له ئې په بنیامنی رسم ترجیح ورکړې وه. هم دغه وجه وه. چې حضرت داودؑ دوئ ته په ملکی چارو کښې ذمه واری اُوسپارلې او برخیا ئې وزیر اعظم او ارمیا ئې د فوځ سر لښکر اُوټاکلو. حضرت داودؑ به دوئ ته د خپلو زامنو په څیر کتل. او ټول امراء او سرداران به دوئ ته لاس په نامه ولاړ وو. (۲۹)

خو میاں بهادر شاه ظفر کاکا خیل ددې بره ذکر شوو معلوماتو سره اتفاق نۀ لری. هغه لیکی:

> "برخیا. دا نامه په تورات کښے برکیا ده. دا سړے د بن یامینی قبیلے نه بلکه د لاوی قبیلے یو فرد دے. په بنی اسرائیلو کښے د لاوی قبیلے حیثیت د مذهبی پیشوایانو وو. د مذهبی قربانو ادا کول او صندوق عهد په حقله ټول مذهبی فرائض په ځائے راوړل. ددے قبیلے په ذمه ئے خپل خپل کارونه اولګول. چنانچه په دغه لړ کښے برخیا (برکیا) او د هغه ځوی آصف په ذمه هم مخصوص فرائض وو. د برخیا (برکیا) په باب کښے د تورات د شهادت نه دا معلومه شوه چه هغه د "لاوی"قبیلے یو فرد او د خیلے کورنئ

مشر وو. او د داودؑ په عهد کښې پوخ زوړ سړے وو. او دا نۀ چه ددے لیکوالو د وینا مطابق د ساول د نطفې نه د هغه پس مرگی ځوی او د داودؑ په نگرانئ او تربیت کښې لوئے شوے او بیا هغه خپل وزیر مقرر کړے وو. که چرے واقعات داسے وے بلکه څه رنگ چه دے لیکوالو لیکلی دی نو یقیناً به د داودؑ په حالاتو کښې توراتِ ددے د ذکر نه خالی نۀ وو." (۳۰)

== ☆☆☆ ==

څه نشان ئے مونده نشی
د برمک نه د یحییٰ (۳۱)

## برمک:

برامکه آل برمک د ایران یو نامتو خاندان وو. چې وګړی ئې د عباسی سلطنت د وړومبی دورې کاتبان او وزیران پاتې شوی دی. ددې خاندان مورث اعلیٰ برمک وو. څوک چې د نو بهار د اتش کدې منجور وو. ددهٔ زوئے خالد برمکی د خپل وخت یو لوئے عالم، فاضل، دانا، مدبر او بهادر سړے وو. عباسی پاځون ته دده په برکت ډیره فائده رسیدلې وه.

په وړومبی صدی هجری کښې مونږ ته د نوبهار د آتش کدې او ددې د سترو عبادت گزارو په حقله ډیر کم معلومات په لاس راځی. د معلومو شواهدو تر مخه په نوبهار د امیر معاویهؓ په زمانه کښې حمله کړې شوې وه. خو په ۱۰۷هـ کښې چې د خلیفه هشام زمانه وه یو ځل بیا برمک د خپلو کوششونو په نتیجه کښې دغه آتش کده ودانه کړه. د څنو په خیال برمک په دغه دور کښې اسلام قبول کړو. اولاد ئې د خراسان نه عراق ته لاړ او په بصره کښې ئې استوګنه اختیار کړه. خالد او د هغه وړونو سلیمان او الحسن هم دغلته ایمان راوړو. (۳۲)

د فرقان په هدایت فاروق پوهیږی
نه بو جهل بولهب ته هدایت کا (۳۳)

☆

دواړه ترونه مے نا اهل
ابوجهل، بولهب شول (۳۴)

☆

په یوه نسب کښے نیک و بد پیدا شی
محمدﷺ او بو لهب دواړه مکی دی (۳۵)

☆

چه نصیب د بولهب وه نور څه نه شو
محمدﷺ که نصیحت کړ یا تدبیر (۳٦)

## ابولهب:

ابولهب د قریش خاندان یو ډیر دولت مند او معزز سړے وو۔ دے د قریشو سردار وو۔ ددهٔ اصلی نوم عبدالعزیٰ وو۔ او د حضورﷺ خپل تره وو۔ خو د اسلام سخت دښمن وو۔ چرته چې به هم حضورﷺ د دین اسلام دعوت ورکولو۔ دهٔ به هلته ځان رسوؤ۔ او خلقو ته به ئې وئیل چې دے دروغ وائی۔

قرآن دهٔ ته د ابولهب (د اُور پلار یعنی جهنمی) خطاب ورکړے دے۔ ددهٔ ښځه جمیل بنت حرب بن اُمیه ددهٔ نه زیاته د اسلام دښمنه وه۔ په "سوره لهب"کښې د ښځې خاوند دواړو ذکر راغلے دے۔ چې دوئ دواړه جهنمیان دی۔

جنګ بدر کښې چې مسلمانانو فتح حاصله کړه۔ او کفارو ماتې اوخوړه۔ نو دهٔ ته ډیر زیات خفګان اُورسید۔ اویوه هفته پس مړ شؤ۔ (۳۷)

ونيوه جيونړ پنړى په كور كښے په خپل چم
رائے ووست دهلى ته ددۀ سر ئے كړ قلم (۳۸)

جيون پنى نه مراد ملک جيون دے۔

"ملک جيون په خته پښتون وو۔ دے د خاورې خاوند وو۔ او د خپلې سيمې د پښتنو يو مخوريز مشر وو۔ په "ډاډر"كښې ئې استوګنه لرله۔ "ډاډر" د بولان نه نهه ميله په فاصله باندې پروت دے۔

ملک جيون د شاهجهان په زمانه كښې بغاوت اُوكړو۔ خو شاهى فوځ ورله ماتې وركړو۔ او ګرفتار ئې دهلى ته راويست۔ شاهجهان د ملک جيون د مرګ د پاره حكم وركړو۔ چې د هاتى په پښو كښې دې اوچقولے شى۔ په دغه آوان چې دراشكوه ښه په جوبن كښې وو۔ او د پلار زړه ته ډير نزدے وو۔ د يو معزز امير په وينا ئې د خپل پلار شاهجهان نه د "ملک جيون" د سر امان اوغوښتو۔ او دا شان بادشاه ملک جيون اُوبخښو۔

ملک جيون چې د زنځيرونو نه آزاد كړے شو۔ نو د ولى عهد داراشكوه په پښو پريوت د هغه شكريه ئې ادا كړه۔ او په چغو چغو ئې اُوژړل۔" (۳۹)

هم دا ملک جيون وو۔ چې كله شاهجهان بيمار شو۔ او د اقتدار د تر لاسه كولو د پاره د اورنګزيب او دارا تر مينځه جنګ اُونښتو۔ په اول كښې خو دارا ته كاميابى حاصله شوه۔ ولې وروسته د اورنګزيب فوځونو په سامو ګړهـ كښې د هغه فوځونو له شكست وركړو۔ هم دغه وخت دارا د پناه اخستو د پاره ايران ته د قندهار لار اُونيوه۔ خو په لاره كښې ملک جيون هغه د خپلو دريو زامنو سره اُونيوۀ او دهلى ته ئې را اوليږو۔" (۴۰)

"ملک جيون ته ددغې لوئې كار په بدله كښې د "بخت يار خان" خطاب وركړې شو۔ او هغه دويمې ورځې له دهلى ته راُورسيد۔ كله چې هغه د ښار په سړكونو تيريدو۔ نو لارۆى، لډر، كوچر د داراشكوه ملګرى او د ښار نور ډير خلق راجمع شوى وو۔ چې "بخت يار خان" او د هغه ملګرو ته ئې كنځلې كولې۔ په هغوئ ئې ګندګې اچوله او كانى ئې پرې ورول۔ دغه دوران كښې د هغه اكثر ملګرى زخمى شول۔ او څو ملګرى ئې مړه هم شول۔ د "بخت يار خان"ملګرو په هغه ډالونه څپر كړى وو۔ او په ډيره ګرانه ئې ددغې غضبناكه ګڼې نه اُوويستو۔ او د بادشاه دربار ته ئې اُورسوۀ۔

وئیلی شی چې په دغه ورځ دومره لویه هنگامه جوړه شوه. چې که د ښار کوتوال په وخت نه وې رارسیدلې او حالات ئې نه وې قابو کړې. نو ډیر فساد به ترې خور شوے وو. او ملک جیون به سره د خپلو تولو ملگرو د ژوند نه لاس وینځلي وو." (۴۱)

"ددې دردناک واقعاتو نه پس جیون خان دربار ته رااوغوښتې شو. او د ډیرو انعاماتو سره رخصت کړے شو. خو دې سرې ته د خپلو کړو بدله ډیره زر ور اُورسیده. او هغه داسې چې کله دے د دهلی نه رخصت کړے شو. نو په واپسی کښې چې ددهٔ علاقې ته لږه شان فاصله پاتې وه. څو کسان ورته په ځنگل کښې ناست وو. او دے ئې قتل کړو." (۴۲)

== ☆☆☆ ==

د حاتم په مسند ناست هغه ځلنے دے
چه دُنیا ئے په هر چا باندې سبیل (۴۳)

☆

د حاتم د سخاوت خبرے مه کړه
لا په دا کښې هم دطمعے نښانی ده (۴۴)

☆

که حاتم شی یا رستم شی خوله ئے گوره
چه ئے لافے د خولے وکړے نو رانډت دے (۴۵)

☆

که حاتم غونډې کرم کړے د مهرانو
د یوے دمړئ په چا مه ږده منت (۴۶)

☆

پلار مې شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وه
زره ئې د مزري په توره تير وه تر رستمٌ (۴۷)

☆

د حاتم غوندې مې خيل و حشم نشته
په عطا که له حاتمه برابر يم (۴۸)

## حاتم طائي:

حاتم بن عبدالله بن سعد بن حشرج طائی لا ووړکې وو. چې پلار ئې مړ شو. دې خپلې مور اوپاللو. څوک چې ډيره سخی، ارت متې او مالداره ښځه وه. د مور د سخاوت او فياضی دا خوئې حاتم طائی ته په ميراث کښې اُورسيد.

وئيلې شی چې هغه په سخاوت کښې د جنون تر حده رسيدلې وو. په ماشوموالی کښې به ډوډی په لاس له کوره را اُوت. او تر هغې به ئې ډوډی نه خوړه تر څو پورې چې به ئې څوک د ځان سره ملګرې کړې نه وو. که د ډوډی د پاره به څوک ملګرې په لاس ورنه راغې. نو ډوډی به ئې هم هلته پرېښوده. او خپله به هم نهر کور ته واپس لاړو. نيکه ئې ددۀ دا عادت نه خوښولو. ځکه نو هغه ئې د اُوښانو د ساتنې او سنبالښت د پاره صحرا ته اوليږلو څه موده پس عبيد بن الابرص، بشر بن حازم او نابغه زبيانی د ملاقات د پاره د نعمان خوا له روان وو. لاره کښې ئې د حاتم طائی سره ليدل اُوشول. او هغه نه ئې ميلمستيا اوغوښته. دۀ هغوئ له سرى سر يو يو اوښ حلال کړو. خو چې کله حاتم طائی هغوئ اوپيژندل. نو دغه ټول اوښان چې تقريباً درې سوه په شمير وو هغه ټول ئې په دوئ تقسيم کړل. (۴۹)

"حاتم وروميې واده د نوار سره کړې وو. او دويم واده ئې د يمن د بادشاه د ښائسته لور ماريه بنت عفزر سره کړې وو. ددې دواړو ښځو نه د هغه درې بچی وو. چې عبدالله، عدی او سفانه نوميدل. عدی او

سفانه اسلام قبول کړے وو. (۵۰)

جاتم طائی د عربی ژبې لوړ شاعر وو..... شائد هم ځکه خو ابن الاعربی وئیلې دی. چې دده سخاوت دده د شاعرئ په رنګ دے. مطلب دا چې کلام ئې بحر زخار دے. اود سخاوت په موضوع پریوانه خزانې پخپل لړمون کښې لری. چې د فیاضۍ او سخا ترغیب په ډیر ښکلی انداز کښې کوی. (۵۱)

"حاتم طائی د خپل عادت مطابق د خدائے په مخلوق خپل مال په خلاص مټ خرڅ کولو. عن تر دې چې په ۶۰۵ء کښې ئې سترګې پټې کړې." (۵۲)

== ☆☆☆ ==

نه به بیا حتا ځی وراندې
چې نارې سورې به کاندې (۵۳)

حتا:

"حتا د خان کوم دوست دی." (۵۴)

حتا هم د خوشحال بابا د نزدې مصاحبینو نه یو دے. د خوشحال بابا ددغه شعر نه بریښی. چې حتا به عموماً د سورو نه مخکښې زغابنتو. نعرې به ئې وهلې. او په سورو کښې به ئې د مستی جذبات رالړځول.

ولې دلته دا خبره د یادونې وړ ده. چې د حتا هم دومره قدرې رول دے. هغه صرف دسورو په وراندې د ګرمی پیدا کولو د پاره نعرې وهلې دی او بس. ګنی څنګه چې خوشحال زینو عثمان او دا دین یاد کړي دی. هغسې ئې دے دوباره نه دے ذکر کړے.

د پروفیسر ډاکټر نسیم صیب خیال دے. چې د ښکار په وخت د ښکاریانو نه وراندې وراندې یو کس ځی. نعرې وهی. او پخپل شور د ښکار مرغی پاڅوی چې ښکاریان ئې نخښه کړی. ځکه نو دلته د "حتا" ذکر د ښکار تر شغل پورې محدود دے.

نۀ دُنیا وه نه عالم ؤ
نه حواؑ وه نه آدم ؤ (۵۵)

## حواؑ:

د حضرت آدم علیه السلام بی بی. څوک چې د حضرت آدمؑ د پُښتئ نه په داسې حال کښې پیدا شوه. چې هغهؑ اُوده وو. ولې د پیدا کیدو په دغه عمل کښې حضرت آدمؑ ته هیڅ تکلیف اونه رسید. د عالمانو خیال دے. چې الله تعالیٰ حوا د حضرت آدمؑ نه په دې طریقه ځکه پیدا کړه. چې دا رنګ به د ښځې خاوند ژوند د یو بل سره ډیر په خوند رنګ تیر شي.

د حوا نامه ځکه حوا کیښولې شوه. چې هغه د یوې ژوندۍ هستۍ نه اوزیږیدۀ. د حضرت ابن عباسؓ د خیال مطابق هغې ته حوا په دې وجه وائی چې هغه د هر چا مور ده. الله تعالیٰ حضرت آدمؑ او حوا ته حُکم اُوکړو چې دواړه په جنت کښې اُوسئ. ولې د یوې خاص ونې د نزدې کیدو نه ئې منع کړل. خو ابلیس هغوئ دهوکه کړل. او دواړه ئې ددغې ونې میوې خوړلو ته رانده کړل. او دا شان ددغې میوې د خوراک په نتیجه کښې هغوئ ته محسوس شوه. چې الله تعالیٰ د هغوئ نه جنتی لباس واخستو. دغه رنګ هغوئ خپل ځانونه د جنتي ونو په پانړو پټ کړل. او بیا خدائے پاک هغوئ دواړه زمکې ته راکوز کړل. د ابن سعد د روایت مطابق حضرت آدمؑ د هندوستان په زمکه راکوز کړے شو. او حضرت حوا د جدې په خاوره راکوزه کړې شوه. وروسته د دواړو ملاقات په مزدلفه کښې اُوشو. مکې ته لاړل حج ئې ادا کړو. او نور ډیر دینی رسمونه ئې تر سره کړل. دغلته حضرت آدمؑ په زمکه کښې پښه ښخه کړه. او یوه چینه ترې تانده شوه.

تول انسانان د دوئ دواړو له اولاده دی. د حضرت حوا او آدمؑ د دوو زامنو هابیل او قابیل قصه د قرآن مجید په سورة المائده کښې موجود ده. د حضرت آدمؑ د وفات نه دوه سوه کاله پس حضرت حوا هم وفات شوه. او د حضرت آدمؑ په څنګ کښې خاورو ته اُوسپارلې شوه. (۵۶)

== ☆☆☆ ==

چه بانی د احتساب ؤ
عمر رض زویه د خطاب ؤ (۵۷)

## خطاب:

"خطاب د مسلمانانو د دریم خلیفه او جلیل القدر صحابی حضرت عمر فاروق رض پلار وو. دے یو عام سړے وو. نه ئې په قریشو کښې څه مخورتیا لرله. او نه ورسره د مشرئ څه عهده وه. طبیعت ئې ډیر سخت، ترخ او غصه ناک وو. دهٔ به پخپل زوی حضرت عمر رض خپل اُوښان څرول. حضرت عمر رض به ددهٔ په حقله فرمائیل. چې به ما کار کولو. نو پلار به په کار کولو ښه سترے کولم. خو کله چې به ما د کار کولو نه غاړه غړوله. نو ډیر زیات به ئې وهلم." (۵۸)

== ☆☆☆ ==

بل میر خان د خلیل خان څویه تلاش کا
بل د نیکو نیت لیدهٔ شی د کوتوال (۵۹)

## خلیل خان:

د اصالت خان میر بخشی کشر ورور وو. ددهٔ ښځه د سیف خان لور او آصف خان عین الدوله نمسی وه. چې حمیده بانو بیګم نومیده. د جهانګیر بادشاه په دور کښې چې مهابت خان غلبه اُوموندہ. نو دے ئې د آصف خان سره ګرفتار کړو.

دشاه جهان د جلوس په دریم کال دے د "خان"په خطاب اونمانځلے شو. او بیا ورته د "میر توزک" عهده ورکړې شوه. دغه شان په شپږم کال د جلوس د "میراتش"په عهده اُوټاکلے شو. او په نهم کال د شاه جهانی جلوس ئې دوه زریز منصب بیاموندو او قر اول بیګی مقرر کړے شو. په اتلسم کال د جلوس د درې

زریز ذات او دوه زریز سورو په منصب سرفراز کړے شو. او د قوربیگی عهده ورته ورکړې شوه.

د شاه جهان د جلوس په دوه ویشتم کال دۀ ته د میر بخشی ذمه واری اوسپارلې شوه. دوه کاله پس ئې په منصب کښې د زرو سورو اضافه اوکړې اُوشوه. او د مکرمت خان د مړینې په وجه د شاه جهان آباد په صوبه دارئ روان کړے شو. په شپږویشتم کال د جلوس دۀ ته د پینځه زریز ذات او څلور زریز سورو منصب ورکړے شو. او د علی مردان خان سره د کابل په بندوبست مقرر کړے شو. په یو کم دیریشتم کال د جلوس د سری نگر یو زمیدار مغرور شو. او خلیل خان ددۀ د برابرولو د پاره د اته زره فوځ سره اوټاکلے شو.

د اورنگزیب په دور حکومت کښې دے پخپله عُهده اوساتلے شو. او د شپږ زریز ذات او شپږ زریز سورو په دوه اسپز درې اسپز منصب سرفراز کړے شو. او په ۱۰۶۹هـ کښې د پنجاب په صوبه دارئ اونمانځلے شو.

د عالمگیر د جلوس په څلورم کال په لاهورکښې ناروغه شو. ناروغتیا ئې اُوږده شوه. دارالخلافې ته راغے. خو د کمزورئ له وجې دربار ته حاضر نه شو. د بادشاه په حُکم ورله تقرب خان او نورو شاهی حاکمانو علاجونه اُوکړل. خو په خوراک کښې د بدفالئ له کبله چې د هغه په اندامونه کښې کومه کمزوری پیدا شوې وه. ناعلاجه ثابت شوه او د رجب په دویمه کال ۱۰۷۲هـ کښې وفات شو." (۶۰)

== ☆☆☆ ==

د اګرے په کوټ کښې بند شاه جهان دے
د دآرا به هغه کوم فانی جناب کښم (٦١)

☆

بیا په اګره راغے په دارا ئے کړ تورتم !
بند ئے شاهجهان کړ تر ئے بیل کړ درست حشم

---

بیا دارا جنګ وکړ په اجمیر کښے بیش و کم
مخ په مغرب و تښ دارا شا برهم درهم

---

بیا سلیمان شکوه د درا څویه مکرم
راوؤست راجپوتانو ګرفتار شو په الم (٦٢)

☆

چیرے دارا شاه چیرے ددهٔ جاه و مخزن
چیرے د دهلئ زمزمه زغرے جوشن (٦٣)

دارا شکوه د شاه جهان د ټولو نه مشر زوئے وو. چې خوشحال بابا د هغه سره د تخت نشینی په لړ کښې پیښ شوې واقعات تلمیحاً بیان کړي دی.

**دارا شکوه:** (۲۰ مارچ ۱٦۱۵ء - ۳۰ اګست ۱٦۵۹ء)

د شاهجهان او ممتاز محل د څوندی زوے ، چې په ۱٦۳۳ء کښې ئې د ولی عهدی اعلان اُوکړے شو. د "حصار" واکمن شو. او د فیروزې جاګیر ورته اُوسپارلے شو. کوم چې د ولی عهد ملکیتی علاقه ګڼلې شوه. دې نه پس په کال۱٦۴۵ء کښې د آله آباد صوبیدار اوټاکلے شو. دغه رنګ په ۱٦۴۷ء کښې د پنجاب، په ۱٦۴۹ء کښې د ګجرات او په ۱٦۵۲ء کښې پرله پسې د ملتان او بهار صوبیدار پاتے شو. د صوبو حکومتونه ددهٔ نائبانو چلول. او خپله ئې د دربار سره اړیکې ساتلې.

دۀ ته چې په ۱٦۴۸ء کښې د "دریش زریز ذات" او "لس زریز سورو" کوم منصب ورکړے شوے وو. نو دا هغه لوئے منصب وو. کوم چې شاهجهان ته د تخت نشینۍ نه وړاندې ورکړے شوے وو.

په ۱٦۴۹ء کښې چې قندهار ایرانیانو قبضه کړو. نو داراشکوه د قندهار د اخستلو د پاره دوه ځله کوششونه اُوکړل. خو دواړه ناکامه شول. په ۱٦۵۳ء کښې ئې بیا د قندهار محاصره اُوکړه. خو دا ځل بیا د شکست سره مخ شو. او دغې ناکامو د داراشکوه فوځی او سیاسی حیثیت ته ډیر نقصان اُورسولو.

په ۱٦۵۷ء کښې داراشکوه ته د "شپیته زریز" او "څلویښت زریز" اعلیٰ منصب عطا کړے شو. هم دغه زمانه وه. چې شاهجهان بیمار شو. او د شهزادګانو تر مینځه د تخت نشینۍ د پاره جنګ اونښتو. په ۲۹ مئی ۱٦۵۸ء کښې د ساموګړهـ په مقام د اګرې نه اته میله لرې د "دارا" او اورنګزیب تر مینځه یو فیصله کن جنګ اُوشو. او هم دغے جنګ د "دارا" د پاره د تخت و تاج نه د محرومۍ پیغام راوړو. په ۲۳ مارچ ۱٦۵۹ء کښې د دیورائی په مقام د اجمیر سره نزدې "دارا" د شاه عباس دوم نه په آخری ځل ایران ته د ورتللو اجازت واخستو. هغه ورته نۀ یوازې ایران ته داخلیدو اجازت ورکړو. بلکې د خپلو والیانو په نوم ئې یو فرمان هم جاری کړو. چې دا شهزاده د چاچا عـلاقې ته رارسی. نو ډیر تود هرکلے ئې کوئ. هم ددغے فرمان او اجازت له مخه "دارا" ایران ته د تللو په غرض قندهار ته مخه اُوکړه. لاره کښې د ملک جیون سره په ډهاډر کښې میلمه شو. (دا ځائے د کویټې نه ۸۵ میله او سبّی نه په ۱۷ میله فاصله پروت دے) ملک جیون د حکومت د وفادارۍ ثبوت ورکړو. او په دغه آوان ئې "دارا" ګرفتار کړو. دهلی ته ئې اولیږو. هلته په "دارا" د الحاد او بې دینۍ په الزام کښې مقدمه اُوچلیده. او د علماء د فتوې په نتیجه کښې هغه قتل کړے شو. د همایون د مقبرې په احاطه کښې پرې خاورې واړولې شوې. او دغلته ښخ شو.

دا لاندې کتابونه د داراشکوه یادګارونه دی.

۱. سفینه الاولیاء ۲. سکینته الاولیا ۳. رساله حق نما

۴. حسنات العارفین (دې کښې د مختلف سلسلو د ولیانو اقوال درج دی)

۵. مکالمه بابا لال و دارا شکوه ٦. مجمع البحرین ۷. سیر اکبر (٦۴)

== ☆☆☆ ==

د مهدی او د عیسیٰ د وړاندې څه دی
هم دجال هم د دجال واړه سپاه (٦٥)

☆

په دوران ئې درست جهان سره ګډ وډ شو
ته به وائې زمانه شوه د دجال (٦٦)

☆

دغه یو خو کالعدم دے په معنی کښې
دغه یو د دجال خر دے یا دجال (٦٧)

☆

د یزید د شمر نه نه د حجاج دی
دور دور د دجال دے په دا مینځ کښې (٦٨)

☆

چه داهسې احول چشمه بدخصال ئې
د یزید د در دربان یا د دجال ئې (٦٩)

## دجال:

دځ ته مسیح الدجال او کذاب هم وئیلې شی. د محدثینو په قول ددځ رنګ به سُور بخن او وجود به ئې بې ډوله وی. یوه سترګه به لری. په تندی به ئې کافر لیکلې شوې وی.

په خر به سور وی. د خراسان یا اصفهان له ډېې نه به راځی. ددځ ملګری به بې دینه او منافقان وی. د نورو په قوّل ددځ په ملګرتیا کښې به یهودیان او ښځې وی. دجال به په خلقو خوراک، اُبه او اُور تقسیموی. د دجال د راتګ نه وړاندې زمانه به ډیره سخته وی. او د خلقو مذهبی او اخلاقی حالت به ډیر غورځیدلې وی.

دجال به ټوله دُنیا قبضه کړی. خو په مکه او مدینه به قابض نه شی. هغه به څلویښت ورځې یا څلویښت کاله حُکمرانی کوی. او بیا به حضرت عیسیٰ یا امام مهدی په شام یا فلسطین کښې هغه مړ کوی. (۷۰)

"دجال د کذاب او دروغجن مسیح لقب دی. چې په آخره زمانه کی به پیدا کیږی. دده د نامه په باب ډیری خبری شوی دی. ځینی وائی دجال پړی ځکه ایښودی شوی دی. چې دروغ به یی په ټوله عالم کی عمومیت پیدا کاندی او یا دا چې ټوله نړی به ونیسی. ده ته د طلاوو او سرو زرو نسبت هم شوی دی. وایی چې دی تر ځمکه لاندی ټولی خزانی په سترګو وینی او یا په دی معنا دی چې دی به ټول هغه خلک چې دده خبره ونه منی په توره وژنی. دجال نحوشیو ته هم وائی چې دی او دده مفکوره به د نړی مخ چټل کاندی. د محیط خاوند (مؤلف) وایی چی دجال سریانی لفظ دی، او معنا یی کذاب او دروغجن ده. دا خبره هم معموله ده چی په آخره زمانه کی به دجالان یعنی دروغجن زیاتیږی. د یوحنا په انجیل کی پینځه ځایه د دجال نوم یاد شوی دی. او ویل شوی دی. چی هغه د مسیح دښمن دی. د انجیل په لومړی رسالی په دویم اصحاح، اتلسم عدد کی یی لیکلی دی.

"ای اولاده! هغه وروستی ګړی ده." او په د دویشتم عدد کی یی لیکلی دی. "کذاب څوک دی؟ پرته له هغه چا چی یسوع مسیح نه ګڼی". په څلورم اصحاح کی په درهم عدد کی وایی. "هغه روح پریسوع اعتراف نه لری. هغه د خداوند روح نه دی. او همدغه د مسیح ضد روح چی په اخره زمانه کی به پیدا کیږی دجال دی."

ځینی نور (مسیحان) په دی عقیده دي چې د مسیح ضد یا دجال هغه څوک دی چی خطاکار او یا هغه څوک چی وروایی. زۀ مسیح یم." (۷۱)

"په قرآن کریم کښې د دجال یادونه نه ده شوی. مګر په احادیثو او روایاتو کښے ئے لږ ډیر تفصیل شته. چه رنګ به ئے سوربخن او جسم به ئے بدشیکونه او بدرنګه وی. په تندی به ئے په سرو تورو (حروفو) کافر لیکل شوے وی. په خره به سور وی. دغه زمانه به ډیره سخته وی. خلق به له مذهبی او اخلاقی پلوه ډیر لویدلی او پریوتی وی." (۷۲)

ته هغه رستم ئے چه شاهان دِ طلبگار دی
چا درته تلقین کړ چه خدمت د پیرزال کړه (۷۳)

☆

که حاتم شی یا رستم شی خوله ئے گوره
چه ئے لاڼے د خولے وکړے نو رانډت دے (۷۴)

☆

که قدم دِ د وفا په لاره تینگ کړ
د خوشحال په پوهه دا دهٔ رستمی (۷۵)

☆

که رستم د زمانے شی گمان مه کړه
زمانه به د پرینړدی پخپل زور کښیے (۷۶)

☆

د رستم د مړنتوب خبرے هیڅ شوے
ذوالفقار چه ئے یاد شوے په قصص دے (۷۷)

☆

د رستم د مړنتوب خبرے آورم
ولے څوک به یے لبنکره صفدر نشی (۷۸)

☆

پلار مے شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وه
زړه ئے د مزری په توره تیره وه تر رستم (۷۹)

☆

د دُښمن په تملق غلطي مه کړه
د رستم غوند هم مړه دی په مکرون (۸۰)

☆

چه خپله ژبه ئے پخپل فرمان کړه
هم ئے رستم کنړه هم لا لقمان دے (۸۱)

## رستم:

رستم د ایران یو ډیر مشهور پهلوان وو۔ په فارسی ادبیاتو کښې د زړورتیا او بهادرۍ په حواله د رستم نامه ډیر زیاته اخستې شی۔ او بیا په تیره تیره فردوسی خو ددهٔ ذکر په کراتونو کړے دے۔ شاهنامه د رستم د بهادرۍ د کارنامو نه ډکه ډوکه پرته ده۔ چې ورته رستم داستان هم وئیلې شی۔ رستم ته ۔ رستم زابلی هم وائی۔ په دې چې هغه د زابلستان حاکم وو۔ او پـلار ئې هم "زال" نومیدو۔ (۸۲)

"رستم د ایرانی نامتو افسانوی قهرمان، د سیستان د حاکم سام نمسے او د زال زوئے وو۔ ددهٔ د مور نامه رودابه وه۔ څوک چې د کابل د بادشاه مهراب لور وه۔ د رستم د زور او د شجاعت کارنامې د ایران او توران د جنګونو سره تعلق لری۔ دهٔ افراسیاب له چې د توران بادشاه وو شکست ورکړو۔ او کیقباد ئې د هغه په تخت کیښنوو۔ بیا چې کیکاؤس له د یو سپید ماتې ورکړو نو د هغه د مرستې د پاره رااُووت۔ او په لاره کښې ئې اُووه ماریزې سر کړې۔ چې ورته "هفت خوان رستم" وئیلې شی۔ ددهٔ د آس نامه رخش وه۔ هم په دغه سور وو۔ چې ارژنګ دیو او دیوسپید ئې قتل کړل۔ او کیکاؤس له ئې کته اوکړه۔ دغه رنګ د افراسیاب سره په انښته کښې ئې خپل بهادر زوئے سهراب پخپل لاس قتل کړو۔ په آخری عمر کښې ئې د ګشتاسپ زوی اسفندیار له شکست ورکړو او مړ ئې کړو۔ لږه موده پس د رستم ورور د رستم د وژلو د پاره یو کوهے اُوکنستو۔ او هم دغې کوهی ته په غورځیدو رستم ددې دُنیا نه لاړ۔ (۸۳)

== ☆☆☆ ==

چه په مکر د وینبته د پاسه درومی
شل په دواړو پښو یو زال دے په دا مینځ کښے (۸۴)

## زال:

زال د نامتو سیستانی پهلوان (رستم) د پلار نوم دی۔ چې د سام زوی ؤ۔ ویل کیږی چې د زال وینبته د زوکړی پر وخت ټول سپین وو۔ له همدی امله د (زال زر) په نامه یاد شوی دی۔ فردوسی ئې په شهنامه کې د رستم د پلار توګه ډیره یادونه کړی ده۔ (۸۵)

== ☆☆☆ ==

بیا سلیمان شکوه د دارا خویه مکرم
راوؤست راجپوتانو گرفتار شو په الم (۸۶)

خوشحال بابا په دې بیت کښې د شهزاده سلیمان شکوه د گرفتارئ خبره کوی۔ چې هغه راجپوتانو د اورنګزیب په حکم اُونیوؤ۔

سلیمان شکوه د لوئې مغلی بادشاه شاجهان نمسے او داراشکوه مشر زوے وو۔ ددهٔ مور نادره بانو د پرویز لور او د اکبر نمسئ وه۔ سلیمان شکوه هم ددغې بی بی له نوسه په کال ۱۶۳۲ء کښې اوزیږیدو۔ د سلیمان شکوه تعلیم او تربیت د شاهی روایاتو تر مخه په ډیره ښه طریقه سره اُوشو۔ شاهجهان ته دا نمسے بې کچه گران وو۔ اؤ هغه ورسره ډیره مینه لرله۔ هم دا وجه وه چې کله په ۱۶۵۸ء کښې داراشکوه دے د خپل تره شاه شجاع د مقابلې د پاره لیږلو۔ نو نیکه ورله پینځه ویشت زره فوځ، د حرم د پاره دوه سوه ښځې د سرو زرو سامانونه، کرسئ، پلیټونه، قیمتی کپړې او نور ډیر د شان و شوکت اسبابونه ورکړل۔ چې دغسې دهٔ ته میدان کارزار کښې هم د سهولتونو کمے محسوس نه شی۔ ولې قدرت د هغه په قسمت کښې سخته او تکلیف لیکلے وو۔

د اقتدار د تر لاسه کولو جنګ اورنګزیب اوګټو. او بیا ئې په داراشکوه او سلیمان شکوه پسې راواخسته. داراشکوه ئې اُونیوو. او د مخې نه ئې پناه کړو. خو سلیمان شکوه هغه له په آسانه په لاس نه ورتلو. د سلیمان شکوه د ګرفتارولو په غرض هغه مختلفې هڅې کولې. بل طرفته سلیمان شکوه هم په تکړو وو. هغه هم د سر بچ کولو د پاره پناه ځائې کتلو. په زغل وو. ولې د سامان زیاتوالی او د حرم ګڼ شمیر ښځو د هغه سفر ګران کړے وو. ولې آخر یو وخت داسې راغے چې د هغه نه خپل ملګری اُوشوکیدل. او د هغه سره په حرم کښې د څو ښځو نه علاوه صرف پنځلس ملګری پاتی شول. په دغه آوان هغه د سری نګر د مهاراجه پرتهوی سنګهـ نه پناه اوغوښته. او هغه دۀ په ډیر درناوی او عزت سره هر کلے اُووی. نه یوازې دا بلکې سلیمان شکوه له ئې خپله لور هم ورکړه. اورنګزیب په مهاراجه ډیرې دړکې اُوکړې. ولې هغه ئې پروانه اُونه کړه. څکه نو اورنګزیب په کال ۱۶۵۹ء کښې راجه راجرروپ له لوئې فوځ ورکړو. او هغه د سلیمان شکوه د ګرفتارولو په غرض په مهاراجه پرتهوی سنګهـ دوه حملې اوکړې. ولې مهاراجه دغه حملې ناکامه کړې.

بیا مغلی حکومت د مهاراجه پرتهوی سنګهـ وزیراعظم په اعتماد کښې واخستو. او هغه سره ئې وعده اُوکړه. چې که هغه سلیمان شکوه ګرفتار کړو یا ئې مړ کړو. نو د مهاراجه پرتهوی سنګهـ حکومت به هغه ته اُوسپاری. او دا شان هغه سلیمان شکوه په زهر د وژلو منصوبه جوړه کړه. ولې سلیمان شکوه ترې خبر شو. او بیا مهاراجه پرتهوی سنګهـ د خپل وزیر اعظم سر د توري په یو ګذار د تنې نه جدا کړو. خو وروسته د مهاراجه زوے د مغلو حکومت د سازش په لومه کښې اُونښت. او هغه د سلیمان شکوه په ورکولو راضی شو. سلیمان شکوه لداخ پله د تښتیدو کوشش اُوکړو. ولې فوځیانو هغه په ۲۷ دسمبر ۱۶۵۹ء کښې ګرفتار کړو. او دهلی ته ئې راویست. اورنګزیب هغه د ګوالیار په قلعه کښې بندی کړو. او د کوکنارو په اُبو ئې اموخته اُوساتو. دغه شان دے بدقسمته شهزاده د یو کال نه زیاته موده د ژوند سره په زنځیرونو کښې مقابله اوکړه. او آخر په مئی ۱۶۶۲ء کښې د شاه جهان دا نازولے نمسے په ډیر بد حالت کښې مړ شو او د ګوالیار په غرونو کښې ښخ کړے شو. (۸۷)

== ☆☆☆ ==

يو مياں خان وه بل مانكى وه بل سنګر وه
يو سنګر څه خو په پوهه کښے بهتر وه (۸۸)

## سنګر:

سنګر د سوات د ملکانو څخه يو ملک وو. ددهٔ په حقله نور معلومات په لاس رانغلل. بې له دينه چې کله خوشحال بابا په سوات کښې د اخون درويزه بابا په کتاب مخزن تکونه اُوکړل. او مياں نور محمد په دغه تکونو بد اُومنل. نو د سوات څو ملکان د لنګر خټک کلی ته لاړل. چرته چې خوشحال بابا د توت د سيورې لاندې فراغت کولو او مـلاست وو. په دغه ملکانو کښې يو ملک سنګر وو. دوئ خوشحال بابا ته اُووئيل چې زورور سړے ئې په درست سوات کښې دې غوغا ګډه کړې ده. او ته بې غمه بې پرواه خوبونه کوے. خوشحال بابا په دغه لوړ شعر کښې د سنګر ملک په حقله وائی. چې دا نور ملکان په څه نه پوهيدل. البته سنګر ملک پکښې څه نه څه پوهه لرله.

== ☆☆☆ ==

مخ د تور د سيد شمس شی دواړه لوريه
چه هر ګوره بے بدل دے په تيټال (۸۹)

☆

خائے په حويلیٔ کښے تر خپل ځنګ راکړ کوتوال
جوړ شو ضامنی ته سيد شمس د جـلال (۹۰)

## سيد شمس:

سيد شمس د بهادر خان داودزی المعروف په جـلال خان بخطاب دلير خان زوے وو. سيد شمس

هم لکه د خپل پلار د اورنگزیب عالمګیر په دربار کښې د ډېر اثر خاوند وو. کله چې د خوشحال بابا د خلاصئ خبره جوړیده. نو سید شمس د خوشحال بابا د ضامنۍ د پاره خان وړاندې کړو. خو وروسته هغه د خپلې وعدې نه مخ واوړؤ. او د ضامنۍ نه لاس په سر شو. اګر چې بیا د سید میر د عرضداشت په راتلو د خوشحال بابا د خلاصی خبره ختمه کړې شوه. خو وړاندې ددغې نه سید شمس خپله ضامنی اختسې وه. ځکه خوشحال بابا هغه ته ښېرې کړې دی. چې د هغه مخ دې د دواړه لوریه تور شی.

== ☆☆☆ ==

زۀ ئے کړم له ښاره په شتاب شتاب روان
راغلم نرم نرم په رباط د شاه بیګ خان (۹۱)

## شاه بیګ خان ارغون:

دده خطاب "خان دوران" دے. د پلار نوم ئې ابراهیم بیګ چریک دے. دے په ابتداء کښې د مرزا محمد حکیم ملازم وو. او په پیښورئې د حکومت کرسی سنبال کړې وه. د مرزا محمد حکیم د مرګ نه پس چې د اکبر په حکم راجا مان سنګهـ کابل ته لاړ. او د مرزا محمد حکیم اهل و عیال ئې بوتلل. نو دے ورسره هم د بادشاه حضور ته لاړ." (۹۲)

"د سوات او باجوړ د یوسفزی قبائیلو د زور کیښنولو په سلسله کښې دۀ ډېر نوم پیدا کړو. هم په دغه سوب ورته د "خوشاب" جاګیر ورکړے شو. دۀ د خان خانان په ملګرتیا کښې د تتې په فتح کولو کښې هم د قدر وړ خدمات تر سره کړل. او په دوه زریز ذات او پنځسویز سورو منصب اونمانځلے " (۹۳)

"د اکبری جلوس په یو کم ځلویښتم کال دے د قندهار په حکومت اوټاکلے شو. او د کاکړ قبیله ئې تک سترے کړه. دغې قبیلې به د یوې مودې نه په دغه سیمه ډاکې کولې. او خلق به ئې آزارولو. درې کاله

پس دۀ ته د درې زریز ذات او د پنځسویز سورو منصب ورکړے شو۔ د جهانګیر د جلوس په وړومبی کال چې د هرات حاکم حسین خان شاملو د قندهار محاصره اُوکړه۔ نو دۀ به هر ورځ په ډیر همت او مردانګۍ سره میدان جنګ ته خپل سړی لیږل.... دغه محاصره چونکې حسین خان شاملو د ایرانی بادشاه عباس صفوی نه بې اجازې کړې وه۔ ځکه نو بادشاه هغه معتوب کړو۔ او دا شان حسین خان شاملو نامراده وجاروت۔ شاه بیګ د بادشاهی حکم مطابق په ۱۰۱٦هـ کښې د قندهار نه کابل ته اُورسید۔ او د جهانګیر په خدمت کښې حاضر شو۔ دغلته دۀ ته پنځریز منصب، د خان دوران خطاب، د کابل صوبه داری او د کابل بندوبست اوسپارلے شو۔ او د حسن ابدال نه لاړ په دغه ذمه وارو کښې مصروف شو۔ ډیره موده ئې دغه خدمات ترسره کړل۔ ولې د پیرۍ له وجې چې په وجود کمزورے شو۔ د سورلی او منډې نه پریوتو۔ نو بادشاه را اوغوښتو۔ او د ټټې صوبه داری ئې پرې اُوسپارله۔ خو د جهانګیری جلوس په څوارلسم کال ئې استعفٰی ورکړه۔ بادشاه د ده د خدماتو په صله کښې ده ته د خوشاب جاګیر ورکړو۔ چې آمدنی ئې پنځه کم اتیا زره روپۍ جوړیده۔" (۹۴)

شاه بیګ خان د اکبر بادشاه د ناسکه ورور میرزا محمد حکیم نوکر وو۔ میرزا محمد حکیم د کابل صوبه دار وو۔ په دغه آوان میرزا محمد حکیم په پیښور کښې شاه بیګ خان له خپل لورې (نائب) ټاکلے وو۔ کله چې میرزا حکیم مړ شو۔ نو دے په کور کیښناست۔ (۹۵)

شاه بیګ هغه کس دے۔ چې د ملک اکوړی له لاسه ئې ورور د جوګیانو هندوستانو سره وژلے شوے وو۔ دغه لړ کښې تاریخ مرصع لیکی۔

> "نقل دے چه د شاه بیګ خان کور، ورور ئے له لاسه مړ شه۔ په هغه آوان د اولس زور نه وه۔ دے ئے تنګ کړ۔ چه داهسے زورور سړے د تاله لاسه مړ شۀ۔ ته ور درومه له موړه ووزۀ۔ دے روان شه په پیښور کښے چاچو و شاه بیګ خان کور ته ورغے۔ ووته ئے ووے چه دا تقصیر دما د لاسه شوے دے۔ اوس زۀ کفن او چاړه درلره راغلم۔ شاه بیګ خان سرو پائے او څه نقد هم ورکړه۔ رخصت ئے کړ۔ وئے وئیل چه دا هسے دستګیر به زۀ مړولے کړم۔ (۹٦)

توزک جهانگیری د شاه بیګ خان په حقله څه دا رنګ معلومات لري.

شاه بیګ خان په ابتدا کښې د میرزا حکیم نوکر وو. بیا د اکبر د نوکرانو په قطارکښې تر پنځزریز منصبه پورې اُورسید. او د قندهار د صوبه دارۍ په عهده اوټاکلے شو. دغه رنګ کله چې جهانګیر په تخت کیښناست. نو دے ئې د کابل والي کړو. بیا په ۱۰۶۶ هـ کښې دهٔ ته د تتې مشرۍ اُوسپارلې شوه. او هلته ئې د صوبه دارۍ چوکۍ سنبال کړه. څه موده پس چې دهٔ د آصف خان یو سفارش اُونه منلو. نو جهانګیر ددهٔ نه دغه منصب او جاګیر واخستل. صرف د ژوند تیرولو په غرض ئې ورته د بهیره خوشاب جاګیر پریښودو. رخصت ئې کړو. او شاه بیګ خان دغلته دیره شو. د خلوت ژوند ئې تیرولو. او هم دغه ځاے مړ شو. (۹۷)

د خوشحال بابا ددغه ذوالقافیتین له سیاق نه داسې معلومیږي چې د شاه بیګ خان رباط د پیښور او نوښار تر مینځه چرته پراؤ په هغه وختونو کښې موجود وو. اوس هم د ترناب سره نزدے یوکلے د شاه بیګ خان په نوم واقع دے.

== ☆☆☆ ==

هسے چارے کا ستا ځویه!
چه اتش شاهي بیګ هیر شول (۹۸)

☆

که ئے خویښ کړے یا ئے خپل کړے
شاهي بیګ غونډِ بلا دی (۹۹)

☆

شاهي بیګ، مرزا دارو یو څو سوارهٔ وو
نه وو نور د څوترے نمک حرام (۱۰۰)

☆

شاهي بيګ ساغرے په تن ملک ميرے دے
تر شيرا اول دده کړی کار تمام (۱۰۱)

## شاهي بيګ:

شاهي بيګ ساغرے خټک وو. ساغرى د بولاقو ريښه ده. شاهي بيګ د کال ۱۰۸۴هـ د نيمايي په آخر کښې خوشحال خان ته د يمار خطونه را اُوليږل. چې په کوهاټ حمله اُوکړه. او دا شان زما مرسته اُوکړه. هم ددې غرض د پاره خوشحال بابا يوه جرګه را اُوبلله. دغې جرګې کښې په کوهاټ د حملې کولو، فيصله اُوشوه. جرګې په شاهي بيګ پسې جواب اُوليږلو. چې ته راځه او مونږ د حملې د پاره ځان تيار وو. خو شاهي بيګ د خپلې خبرې نه په شا شو. او رانغلو. تاريخ مرصع دغه واقعه داسې ذکر کوی.

"شاهي بيګ چه التجا راته کړے وه. پے درپے به ئے خطونه راستول چه د ما سيله وکړه. کوهاټ اووهه. دريا خان وته م کښل وکړل. تاتار خان ورور ئے رستوه. ملکان د اکاخيلو ورسره راغلۀ. په راجګړ کښے م مهمانی ورکړه. جرګه سره په اتفاق وشوه. د کوهاټ د وهلو عزيمت وشه. لښکر تيار شه. ګنديالی لره ورغلو. لا موږه کور وو. چه لعل بيګ، سعيد خان، خواص توغے وغيره ملکان په ننواتے راغله چه ننګ به د پښتو نولئ کړو. دا مغل چه راکښے ناست دی. لرے به ئے کړو. پښتانه يو. مه مو ورانوئ. په ګنديالی چه ورغلو شاهي بيګ لره مو سواره واستول. چه د تا مدعی راغلی دی. ته هم راشته. هر چه د تا رضا هغه به کړو. يوه شپه تيره شوه رانغے. بله شپه مو وکړه. نور سواره مو هم واستول. هغه نامرد قصباتی بازاری په سپين ميدان تکنړے شه. نه راتۀ خطئے راواستوه. چه تاسے لعل بيګ، سعيد خان وغيره چه راغلی دی وورے ئے ووژنيو هله لښکر کوهاټ لره راوليو. هله به ورسره مل شم. د کوهاټ کوټ به ونيسم. حاجی عبدالله به هم تر تيغه تير کړو.

داشان تر ...... ئے ډیر څه کبنلے وه۔ اکثر ملک میری په کوهات کښے د ما مدعیان دی۔ استخوان مو سره مات شوے دے۔ ماپه څو داهسے کار کاوه چه مالره راغلی۔ بیا م وژلے۔ بخت د لعل بیگ وغیره په دا خبره د شاهی بیگ وما غصه راغله بے دماغ شوم۔ جرگه م د افریدیو سره وکړه۔ هغه کښل م ورته ولوستل، ددئ هم بد ومنل۔ اختیار د ما وه هر چه ماوے دوئ هم هغه کول۔ لعل بیگ، سعید خان وغیره سره په دلاسه رخصت کړل۔هغه خط د شاهی بیگ هم دوئ ته ورکړے شه، ممنون شول۔ وے وئیل چه دا احسان چه تا په موږ وکړ که مردان یو تر پیړیو به مے هیر نکړو۔" (۱۰۲)

ددغه پورته ذکر شوو معلوماتو نه پرته د شاهی بیگ د ژوند په حقله نور معلومات په گوتو رانغلل۔

== ☆☆☆ ==

د شجاع په شور و شر کښے
خپل وطن وته روان شوم (۱۰۳)

☆

بیا راغے په بیار ته په شجاع ئے وروست غم
جنگ وه په کجوه کښے چه شجاع شه منهزم
لاړ شو شاه شجاع ته مشر خوئے شو ددۀ دم
بیا ئے ځنے بیل کړ په ډیر مکر په ډیر دم (۱۰۴)

☆

بیا په شاه شجاع پسے دلیر وه معظم
وه ئے یوست له بنگه کوره چرته څکوی دم (۱۰۵)

دا واقعاتی شعرونه دی. چې خوشحال بابا پکښې د شاه جهان د زوی شاه شجاع نامه راوړلې ده.

## شاه شجاع:

دا د هجری ۱۰۲۵ کال وو. چې د جمادی الاول په څوارلسمه د یک شنبې په ورځ د شهزاده خرم په کهاله کښې د آصف خان د لور نه یو ماشوم اوزیږیدو. ددغې ماشوم نامه خپل نیکه "شاه شجاع" کیښوده." (۱۰۶)

"شاه شجاع د شاهجهان دویم زوئے وو. دے د خپل مشر ورور داراشکوه نه دوه کاله کشر وو. شجاع ډیر زړور، پوهه او ساهو انسان وو. ولې خواهشات پرې ډیر د پاسه وو. هغه به خپل زیات وخت په حرم کښې د بزم په محفلونو او شرابو خرابولو. هم دغه وجه وه. چې د رقص و سرور محفلونو او ډیرې شراب خورۍ د هغه صلاحیتونه مفلوج کړی وو." (۱۰۷)

"شجاع د یو څلویښت کالو په عمر کښې د بنګال والی وو. ذهین او خوش طبع سړے وو. سره ددې چې د جرګړ سړے وو. خو په جذباتو ئې قابو نۀ وو. ذهانت ئې په ډیره شراب نوشۍ لاهو کړے وو. شیعه توب ئې خوښ وو. څکه ترې سُنی امیران بدظنه وو." (۱۰۸)

"داراشکوه په کال ۱۶۵۷ء کښې د خپل پلار شاهجهان د بیمارۍ خبر دومره پټ اُوساتو. چې شجاع او مراد ته د هغه مرګ یقینی ښکاره شو. څکه دواړو ورونو په بنګال او ګجرات کښې خپل خپل حکومتونه قائم کړل او د خپلو نامو سکې ئې هم جاری کړې.

شجاع د خپل بادشاهت د اعلان نه پس یو زبردست فوځ راجمع کړو. او دهلی پله راروان شو. هغه د بهار ضلعې تباه و برباد کړے او په څلریشتمه جنورۍ ۱۶۵۸ء کښې بنارس ته را اورسید.

دارا د شجاع مقابلې ته خپل زوئے سلیمان شکوه او راجه جے سنګهـ کچهواهه د یو لوئې لښکر سره اُولیږو. دغې لښکر د بنارس خوا ته په بهادر ګړهـ کښې شجاع ته ماتې ورکړو. او شجاع بنګال پله اُوتښتید. ارکان ته لاړ. وئیلې شی د ارکان والی دے سره د خپل تبر اُووژلو." (۱۰۹)

==☆☆☆==

د يزيد د شمر نه نه د حجاج دی
دور دور د دجال دے په دا مینځ کښے (۱۱۰)

## شمر بن ذی الجوشن:

شمر د ذی الجوشن زوے وو. د ذی الجوشن اصل نوم شر جیل وو. شر جیل زوے د قرط الصابی الکلابی ابو السابغته وو.

شمر. د حضرت امام حسینؓ د قاتلانو په ډله کښې د سر پرې کس وو. دے ډیر مالدار سړے وو. او د هوازن قبیلې په رئیسانو کښې شمیرلے کیدو. دې نه علاوه ددهٔ د زړورتیا او بهادرۍ خبرې به په خلقو کښې کیدې. د صفین په جنګ کښې دے د حضرت علیؓ ډلیز وو. وروسته ئې په کوفه کښې استوګنه اختیار کړه. او د احادیثو د روایت کولو وظیفه ئې تر سره کوله. دے تر هغه وخته په کوفه کښې اُوسیدو. کوم وخت چې د حضرت امام حُسینؓ د شهادت پیښه مخې ته راغله. او دے د هغه قاتلانو نه یو اُوګرځید. چاچې د حضرت امام حُسینؓ په وینو خپل لاسونه سرهٔ کړل. دغه رنګ بیا چې عبدالله ابن زیاد د حضرت امام حسینؓ سر مبارک شام ته استولو. نو شمر ئې هم د نورو څو کسانو سره په دغه کار مامور کړو. او شمر د حضرت امام حسینؓ سر مبارک شام ته یوړو. څه موده پس کوفې ته راستون شو. په کوفه کښې چې یوه ورځ دهٔ دُعا غوښتله. نو دغه دُعا ابو اسحاق سبیعی واوریده. دهٔ وئیل. اے الله بې شکه چې تا ته معلومه ده. زهٔ شریف یم. او ماته مغفرت اوکړے. ابو اسحاق سبیعی ورته اُووئیل. چې تا خو د پیغمبرؐ نمسے شهید کړے دے. تا به څرنګې الله اُوبخښی؟ دهٔ اُووئیل چې دغه د مشرانو حکم وو. نو مونږ به کومه لار اختیاروله. انکار مو ترې نهٔ شو کولے. او که انکار مو ترې کولو. نو مونږ به د فارسیانو نه هم بدتر وې. څه زمانه پس چې مختار ثقفی د حضرت امام حسینؓ د قاتلانو لټون کولو. نو شمر د کوفې نه اُوتښتیدو. دهٔ پسې څو کسان ورپسې کړل. چې یو پکښې د مختار ثقفی یو غلام هم وو. ددغې غلام نوم "زربی" وو. ډیر متور اور بهادر ځوان وو. ولې شمر دغه غلام اُووژلو. او کلتانې ته لاړ. دغلته د مختار ثقفی کسانو دے را لاندې کړو. ددغه کسانو مشری ابو

عمره عبدالرحمٰن ابن ابی الکنود کوله. شمر په یوازې ځان ددغه ډلې مقابله اُوکړه. اول د نیزو جنګ وو. وروسته تورې له تیکو اُووتې. جنګ اُوشو. اوآخر شمر ئې قتل کړو." (۱۱۱)

== ☆☆☆ ==

شیخ احمد دی هیڅ خلل د ایمان نه کا
دا خبرے ډیرے خړے یو دریاب کښم (۱۱۱۲)

## شیخ احمد:

دا شخصیت تحقیق طلب دے. دغه بیت چونکې خوشحال بابا د قید و بند په آوان وئیلې دے. او دغه نوم هم پوره نوم نه دے. بلکې نیمګړے نوم دے. ځکه نو صحی معلومات ئې نه کیږی. چې دا بناغلے څوک دے. او د خوشحال بابا سره ئې څه اړیکې لرلې.

شیخ ستار ماشه ټوپک عبدالرحیم وه
د ټوپک کنده خدایار جامکے کامران
د ټوپک کندۀ هرګز نه وی بے سیخه
حق نا حق ئے په کښے جوړ کړ جهانخان
د تسمو په ځائے ګویا دا نور عالم وه
اسفندیار غونډ یو .څو ګیدی پاجیان
مرد کے دارو همه خواجه صادق وه
بندوقچی صاحب صوبه وه په خپل ځان (۱۱۳)

په دې شعرونو کښې- شیخ ستار، خدایار، جامکے، کامران، جهانخان، اسفندیار او خواجه صادق بدخشی- دا ټول هغه کسان دی چې د امیر خان خوافی او مرزا عبدالرحیم سره د خوشحال خان خټک د نیولو په سازش کښې په څه نه څه شکل کښې شریک وو- د خدایار خلیل او خواجه صادق بدخشی په حقله خو تاریخ مرصع په ۲۷۵ مخ په دغه سازش کښې د ککړتیا خبره لیکلی ده- ولې دا نور کسان ئې نه دې ذکر کړې- خو د خوشحال بابا ددغه فرضی ټوپک نه دا خبره ثابتیږی چې دا پورته ذکر شوی ټول کسان د خوشحال بابا د گرفتارۍ په عمل کښې لاس لرونکی وو- چونکې دا یاد شوی ټول کسان مقامی خلق دی- او په تاریخی کتابونو کښې ئې تفصیلات نشته- ځکه نو هم دغه هومره معلومات لرو- چې دا ټول کسان د خوشحال بابا د نیولو سازشیان وو-

== ☆☆☆ ==

یو صحبت دے که څوک دے چه مے کتلے
له هغه صحبته هیڅ نه شمه وئیلے (۱۱۴)

صحبت:

د صحبت د ژوند په حقله څه معلومات په گوتو رانغلل- د خوشحال بابا ددغه شعر نه جوتیږی- چې صحبت هم د سوات د ملکانو نه یو ملک وو- او په خپله علاقه یاد او مخور سړے وو- چې د میاں نور سره د خوشحال بابا په خلاف ولاړ وو- ځکه خو ستر خوشحال بابا د هغه په حق کښې د څه نه وئیلو وینا کړې ده-

== ☆☆☆ ==

عالم خان صاحب اولاد جمال الدین دے
په ساغری په بنګی خیل کښې د اکرام (۱۱۵)

## عالم خان:

عالم خان په خټه بنګی خیل وو. بنګی خیل د ساغرو خټکو یوه څانګه ده. ددغه شعر نه څرګندیږی چې عالم خان پخپله قبیله کښې د نامې جامې خاوند وو. او خلقو به ورته په درنه سترګه کتل. د عالم خان په بابله مزید معلومات تر ګوتو رانغلل. ځکه نو دا شخصیت هم نور تحقیق ته اړتیا لری.

== ☆☆☆ ==

پیغامبر مے محمدﷺ د عبدالله دے
مینه دار ئے په اصحاب په څهار یار یم (۱۱۶)

## حضرت عبدالله:

حضرت عبدالله زمونږ د خوږ نبیﷺ پلار محترم وو. مور ئې فاطمه نومیده. څوک چې د عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن یقظه بن مره لور وه. حضرت عبدالله د عبدالمطلب په ټولو زامنو کښې ښکلے، سپین سپیځلے او نازولے وو. دۀ ته به ئې "ذبیح" وئیلو. د "ذبیح" وئیلو وجه دا وه. چې هر کله چې د عبدالمطلب د زامنو شمیر لسو ته اُورسید او هغوئ د مت د ټینګولو جوګه شول. نو عبدالمطلب خپل زامن د منلی منښتې نه اګاه کړل. ټولو زامنو ئې خبره واوریده. او د هغه فیصله ئې په رون تندی اُومنله. عبدالمطلب د خپلې منښتې پوره کولو د پاره د ټولو زامنو نامې د قسمت په غشو اُولیکلے. او د هبل منجور ته ئې ورکړې. هغه دغه غشی تاؤ راتاؤ کړل. او چې خسئے ئې اُوویست. نو د حضرت عبدالله په نوم را اُوخوت. عبدالمطلب هغه د ذبحه کولو د پاره چاړه په لاس خانه کعبې ته بوتلو. ولې ځنې خلق تر مینځه شول. چې

پکښې د قريشو بنو مخزوم او د حضرت عبدالله ورور ابو طالب شامل وو. عبدالمطلب ئې د داسې کولو نه منع کړو. بيا عبدالمطلب اُووئيل چې اوس زهٔ نو د خپلې منښتې سره څه اُوکړم. هغوئ ورته مشوره ورکړه. چې د عربو د نامتو پوهې زنانه "عرافې" نه ددې مسلې د حل پوښتنه اوکړه. د عبدالمطلب په تپوس "عرافې"اووئيل چې د عبدالله او لس اوښانو تر مينځه خسنړ اُوکړه. که بيا هم د عبدالله په نوم خسنړ رااوخوت. نو لس اُوښان نور زيات کړه. او دغه شان لس لس اوښان د هر وار خسنړ نه پس زياتوه. تر دې پورې چه الله راضی شی. او چې د څومره اوښانو په نوم خسنړ راوخوت. نو هغه ذبحه کړئ. عبدالمطلب هم دغسې اُوکړل. د لسو اوښانو سره ئې د عبدالله خسنړ واچوؤ. خسنړ د عبدالله په نوم را اُوخوت. بيا ئې لس اُوښان سيوا کړل. او خسنړ ئې اوکړو. ولې خسنړ بيا د عبدالله په نوم رابرڅيره شو. دغه شان هغه هر وار لاس لس اوښان زياتول او د عبدالله د نوم سره به ئې خسنړ کول. عن تر دې چې د اوښانو شمير سلو ته اُورسيد. نو خسنړ د اُوښانو په نوم را اُوخوت. عبدالمطلب د حضرت عبدالله په بدل کښې دغه اوښان حلال کړل. او هم هلته ئې پريښودل. هيڅ قسمه ځناور او انسان ته څه منعيت نه وو. هر چا ددغه اُوښانو نه فائده واخسته. ددې واقعې نه وراندې په قريش او عربو کښې د خون بها مقدار لس اُوښان وو. خو دې نه پس ئې د خون بها د اُوښانو تعداد سل کړو. او اسلام هم دغه تعداد په ځائے اوساتلو. د خوږ نبیﷺ ارشاد مبارک دے. چې زهٔ د دوو ذبيح له اولاده يم. يعنی يو د حضرت اسماعيل عليه السلام او دويم د خپل پلار حضرت عبدالله. (۱۱۷)

"عبدالمطلب د خپل زوئے حضرت عبدالله د پاره حضرت آمنه بی بی اُوغوښته. څوک چې د وهب بن عبدمناف بن زهره بن کلاب لور وه. او د نسب او رتبې له رويه دقريشو په افضل ترين زنانه ؤ کښې شميرلې کيده. پلار ئې د بنو زهره سردار وو. واده ئې په مکه کښې اُوشو. د دوئ د واده لا ډير وخت نه وو شوے. چې حضرت عبدالله، خپل پلار عبدالمطلب مدينه ته د کجهورو راوړو د پاره اُوليږلو. او هغه هلته وفات شو. د ځنو پوهانو خيال دے. چې هغه د تجارت په غرض شام ته تلے وو. د قريشو ديوې قافلې سره په واپسی کښې بيمار شو. او په مدينه کښې ترې روح لاړ. دغلته دے د "نابغه جعدی" په کور کښې ښخ

کړے شو. دغه وخت د حضرت عبدالله عمر پينځه ويشت کاله وو. د اکثرو مؤرخينو د رائې مطابق په دغه آوان زمونږ خوږ نبیؐ لا دُنيا ته تشريف نه وو راوړے. دغه رنګ د بعضې عالمانو وينا ده. چې د خوږ نبیﷺ د پيدا کيدو نه دوه مياشتې وړاندې هغه په حق اُورسيد. (۱۱۸)

کله چې د حضرت عبدالله د مرګ خبر حضرت آمنه بی بی ته اُورسيد. نو هغې د درد نه ډکه يوه پُر سوزه مرثيه اُووئيله. کومه چې څه په دا ډول ده.

عفا جانب البطحاء من ابن هاشم
وجاورلحدا خارجا فی الغماغم
دعته المنايا دعوه فاجابها
وما ترکت فی الناس مثل ابن هاشم
عشيه راحوا يحملون سر يره
تعاوره اصحابه فی التزاحم
فان تک غالته المنايا وريبها
فقد کان معطاء کثير الراحم (۱۱۹)

ترجمه: د بطحا غيږه د هاشم د زوی نه خالي شوه. هغه د ځومره شورونو په مينځ کښې په لوئے خوب اُوده شو. مرګ هغه ته يو آواز اوکړو. او هغه پرې لبيک اُووې. څومره د افسوس وړ خبره ده. چې مرګی د ابن هاشم په رنګ انسان هم پرېښنبودو. اُف! څومره درديدلے ماښام وو. چې خلقو د هغه جنازه په اُوږو وړله. څه اُوشو. که مرګ يا د مرګ حوادثو د هغه وجود له مينځه يوړو. ولې د هغه د کردار نښې خو نشې ورانولې. هغه ډير زيرک او زړه سواندے انسان وو."

"د عبدالله په ميراث کښې د هغه نه پينځه اوښان، د بيزو يو کندک يوه حبشی وينځه (چې برکت نوميده او اُم ايمن ئې کنيت وو) پاتې شول، هم دغې وينځې زمونږ خوږ نبیؐ په غيږ کښې کرځولے وو. (۱۲۰)

== ☆☆☆ ==

هندوستان به ګوره څه شي ستاله فعله
خدائے د ورک کړه رافضي علي مردان (۱۲۱)

## علي مردان خان:

علي مردان خان يو ترک جرنيل او پوهه انجينئر وو. چه د ايران شاه عباس صفوی د قندهار صوبيدار تاکلے وو. خو په شاه جهانی دور کښې ئې د اسماعيل سره زړه بداوے راغے. او د شاه جهان خوا ئې اُونيوله. په هندوستان کښې دے د بې شماره ودانو له وجې پيژندے شي. په دغه ودانو کښې د چنيوټ د شاه برهان مقبره تر اوسه موجود ده. د سودهرې سره خوا کښې ئې د خپل زوئے ابراهيم په نوم "ابراهيم اباد"جوړ کړے وو. چې اوس ويجاړ شوے دے. د کابل باغ اوچهته بازار دغه شان د پيښور مسقف بازار هم دده يادګارونه دي. کشمير کښې ئې يوه شانداره حويلی جوړه کړې ده. د پرګنه لوئے باغ جوړول، ددغې باغ نه پخه چار ديواری تاوهل او ورته د اوبو د پاره غر سورے کول د علي مردان خان د انجينری کارنامې دی. وئيلې شي چې د ناشپاتی د شکل تاتاری ګنبدونه هم ددهٔ د کړاؤ نتيجه ده. ددهٔ مقبره په لاهور کښې د ريلوې ورکشاپ په احاطه کښې ده. (۱۲۲)

"د شاه جهان د عهد مشهور منصبدار وه. چه د بادشاه ايران ملازم وه. د زير غور زمانے نه وړاندے ئے د شاه جهان فوځونو ته قندهار حواله کړے وو. د بادشاه ايران ملازمت ئے پريښے وه. او شاه جهان څخه نوکر شوے وه." (۱۲۳)

== ☆☆☆ ==

د قابیل زوال هم زنا وه
زنا هر کله ناروا وه (۱۲۴)

## قابیل:

"قابیل د حضرت آدمؑ او بی بی حوا مشر زوے وو. دهٔ الله تعالیٰ ته د خپل فصل او میوؤ قربانی وراندې کړه. ولې دغه قربانی قبوله نهٔ شوه. هم په دغه آوان هابیل خپله قربانی د خربو خربو کدو بیزو په شکل کښې الله تعالیٰ ته وراندې کړه. او الله تعالیٰ هغه قبوله کړه. بیا قابیل د خپل ورور هابیل په مرګ غلے شو. او هغه ئې قتل کړو. دغه واقعه قرآن پاک داسې بیان کړې ده.

"د آدمؑ د دوارو زامنو حال هم دوئ ته ټیک ټیک بیان کړه. چې هغوئ دوارو یوه منبنته وراندې کړه. په دغه کښې د یو منبنته قبول شوه او د دویم منبنته قبول نه شوه. نو هغه اووئیل چې زهٔ به تا اُووژنم. دویم ورته اُووئیل چې الله تعالیٰ د متقیانو عمل قبولوی. که ته په ما باندې د قتل د پاره لاس پورته کوے. نو زهٔ به هیڅ کله هم ستا لاس اُونه نیسم ځکه چې زهٔ د الله تعالیٰ نه ویریږم. .......... پس د هغه نفس دے د خپل ورور د قتلولو د پاره تیار کړو. او هغه ئې قتل کړو. دغه شان هغه د زیان کارانو نه اوګرځید. بیا الله تعالیٰ یو کارغه راولیږو. چې زمکه ئې کنستله. د پاره ددې چې هغه ته دا اوښائی چې خپل ورور ځنګه ښخ کړی. هغه اووئیل. هئ افسوس زهٔ دومره وغورځیدم چې ددې کارغه په شان د خپل ورور مړے مې ښخ نه کړے شو. بیا هغه ډیر زیات پښیمانه او شرمنده شو." (۱۲۵)

== ☆☆☆ ==

موسیٰ څخه هیڅ نه وو ورسره یوه عصا وه
قارون څخه دُنیا وه خود ئے ولیده افات (۱۲۶)

☆

حق باطل سره بیلیږی رابرسیر کړه
مزکے څو به د قارون خزانے نغرِ (۱۲۷)

☆

که د عمر بقا نشته واړه هیڅ دی
که گنجو نه د قارون په کور کښے تل کړِ (۱۲۸)

☆

قارون لاړ تخت الثریٰ لره لا درومی
موسیٰؑ پاس په علیین کښیښ قدم (۱۲۹)

☆

علم تابیائی په پورته، جهل تابیائی په کښته
یا عیسیٰؑ لره وردرومه یا قارون ته ځان سپاره (۱۳۰)

☆

په شداد ئے فساد کړے
په قارون ئے وکړ لا (۱۳۱)

☆

که گنجونه د قارون درته انبار شی
په هر لور ئے غورځوه په سخاوت (۱۳۲)

☆

د سلیمانؑ غونډې ئې پاسه په سر کیښېږده
نه قارون غونډې ئې پړده په زړه دننه (۱۳۳)

☆

که توانګر شې د قارون په نام باله شې
بې شعور کم بخت باله شې ناتونګر (۱۳۴)

☆

که واړه جهان په لاسو راوړې
د قارون تر خزانو د ګنج بسیار شې
دا کل واړه مې تر دا پورې هیڅ نه دی
چه له لاسه دِ ناحق سړې آزار شې (۱۳۵)

☆

د قارون چې ادب نه ؤ
هغه هونبره مال یې خه ؤ (۱۳۶)

## قارون:

"قارون یا قارح د حضرت موسیؑ د تره زوې وو." (۱۳۷)

"د مفسرینو د وینا تر مخه قارون د فرعون د مصاحبو نه وو. دا خبره د نړیوال تاریخ نه ثابته شوې ده. چې د ظالم حکمرانانو دا دستور پاتې شوې دے. چې هغوئ په عوامو د ظلم کولو او د هغوئ د وینو څښلو د پاره هم د هغوئ نه څنې منافقین کسان د ځان سره کړی. او دا رنګ ئې د خپلو مقاصدو د پاره پکار وی. قارون هم دغسې یو کس وو. چې فرعون د خپل کار ویستلو په غرض د بنی اسرائیلو نه غوره کړے وو. قارون د موقعې نه او خپلې عُهدې نه فائده پورته کړې وه. او بنهٔ بې حسابه دولت ئې جمع کړے وو. هغه ته پخپل دولت بې

کچه ناز وو- خو کله چې فرعون غرق شو- نو ددۀ د دولت ګټنې لارې بندې شوې- دغه رنګ په شان و شوکت کښې ئې هم کمے راغے- اګر چې په ښکاره هغه د حضرت موسیٰؑ منونکے وو- خو په زړه کښې ئې د حضرت موسیٰؑ سره ډیر بغض او حسد لرلو- هغه به په دې هم سوزیدو- چې د هغه د تره زامن حضرت موسیٰؑ او حضرت هارونؑ خو دي پیغمبران او د قوم سرداران وی- او هغه دي خپله څه خاص عُهده نه لری-" (۱۳۸)

"قارون د موسیٰؑ د قوم نه وو- بیا ئې په هغوئ شرارت کول پیل کړل- او مونږ هغه ته دومره خزانې ورکړې وې- چې د هغو کنجیانې یو شمیر کسانو ته (چې ډیر طاقتور به وو) اوچتول ګران وو-" (۱۳۹)

"کله چې ورته خپل قوم اُووئیل چې لوئیې مه کوه- څکه چې الله لوئیی کوونکی نه خوښوی- او کوم مال چې الله درکړے دے- په هغې سره د اخرت (خیر) اُغواړه- او په دُنیا کښې خپله برخه مه هیروه- څنګه چې الله ستا سره ښیګړه کړې ده- (دغسې ته هم د خلقو سره) ښیګړه اُوکړه- اوپه ملک فساد غوښتونکے مه ګرځه- څکه چې الله تعالیٰ فساد کوونکی په دوستی نه نیسي-" (۱۴۰)

"هغه اُووئیل دا هر څه ما ته زما د پوهې (په زور) لاس ته راغلی دی-" (۱۴۱)

"بیا مونږ قارون او د هغه کور په زمکه کښې ننویستل- نو د الله نه سیوا د هغه کوم یو ټولګی هم مرسته اُونه کړې شوه- او نه هغه بدله واخستې شوه-" (۱۴۲)

== ☆☆☆ ==

محمدؐ د علم ښهر دے ئے ور وه
تر قنبر ئے شه خوشحال خټک فداک (۱۴۳)

☆

که صفت یې د قنبر کړم
مګر ساز ګوښی دفتر کړم (۱۴۴)

☆

چې قنبر په دفتر ستایم
سکه ددهٔ صفت څو وایم (۱۴۵)

دې پورته شعرونو کښې زمونږ د خوږ نبیؐ او حضرت علیؓ د ذکر نه علاوه د قنبر تذکره هم کړې شوې ده.

"د حضرت علیؓ دوه غلامان وو. د یو نوم قنبر وو. څوک چې ډیر زیات شهرت لری. دویم یحیی نومیدو. امام او زاعی ددهٔ نه روایت کړے دے. دې ډیر پوهه او عالم سړے وو." (۱۴۶)

## قنبر:

د قنبر خپل نوم فتاح وو. دے د حبشې د مشهور بادشاه استکبوس ورارهٔ وو. دوئ د حضرت علیؓ سره په یو جنګ کښې مخامخ شول. او ماتې ئې اُوخوړه. فتاح د حضرت علیؓ په خدمت کښې حاضر شو. او ایمان ئې راوړو. دے د حضرت علیؓ د اخلاقو نه دومره متاثره شو. چې هغوئ ته ئې خپل ځان په غلامی کښې د قبولولو خواست اُوکړو.

حضرت علیؓ هغه پخپله غلامی کښې په دے شرط قبول کړو. چې تر عمره عمره به د هغوئ نه نهٔ جدا کیږی. قنبر دغه شرط اُومنلو. او د غلامی شرف ئې حاصل کړو. حضرت علیؓ د هغه نوم د "فتاح" په ځائې قنبر کیښود." (۱۴۷)

مرزا باقر علی دهلوی لیکی چې:

"د خیبر د جنګ په آوان قنبر حضرت علیؓ د یوې اُوسی په رانیولو پسې اُوزغلۀ. هغه دغه اُوسی ښکار نهٔ کړې شوه. ولې په واپسی کښې د ډیرو مشکلاتو سره مخ شو. خو حضرت علیؓ ئې مدد اُوکړو. غشام خیبری ئې قتل کړو. او مدینې ته ئې په اُوښانو ډیر زیات مال راوړو. دا واقعه دا خبره ثابتوی چې هغه صحابی وو." (۱۴۸)

خو د لغات کشوری مؤلف آیة الله قاضی نور الله شو شتری شهید قنبر د تابعینو نه گڼي." (۱۴۹)

"قنبر ډیر پوهه او زیرک انسان وو. دے د ځانگړی سیرت او صورت څښتن وو. د لوئي علم، حلم، شجاعت، بهادرۍ، فصاحت و بلاغت، جود و سخا، صبر، مستقل مزاجی او د کلکو ارادو میړه وو. هغه په ایمانداری کښې بې مثله وو. پرهیزگاره او متقی وو. دغه صفات خو په هر انسان کښې کیدې شی. او په هره زمانه کښې ددغه صفاتو انسانان بیاموندې شی. ولې ددغې صفاتو عملی کولو قنبر روحانیت ته نزدې کړې وو. او د مادیت نه ئې لرې باسلے وو." (۱۵۰)

"قنبر ته دا درناوې هم حاصل دے. چې په جنگ صفین کښې د بیرغ محافظ وو. او داسې ښکاری چې هغه د دښمنانو خلاف جنگیدلے هم وو." (۱۵۱)

قنبر د حضرت امام حسینؓ زمانه لیدلې وه. هغه د حضرت امام حسین د شهادت نه پس لس کاله وروسته هم د تاریخ په پانو کښې ښکاری. او بیا د امام زین العابدین په دور کښې د حجاج بن یوسف د لاسه شهید شو. د کربلا په آوان هغه په قید کښې وو. د مرگ واقعه ئې ابو اسحاق برهان الدین وطواط داسې رانقل کوی.

"حجاج بن یوسف ثقفی یوه ورځ اُووئیل. زړه مې غواړی چې د حضرت علیؓ ملگرے په گوتو راشی. زۀ ئې قتل کړم. او د الله تعالیٰ رضا حاصله کړم. چا ورته اُووې چې د قنبر نه زیات د حضرت علیؓ دوست څوک کیدې شی. په دغه وینا هغه قنبر د قید نه را اوغوښتو. او ورته ئې اُووئیل.

حجاج - ته قنبر ئې؟

قنبر - اؤ. زۀ قنبر یم.

حجاج - د علیؓ غلام ئې ؟

قنبر - او

حجاج - د علیؓ دین پریږده.

قنبر - ماته د علیؓ د دین نه بهتر دین اُوښایه.

حجاج - زهٔ به تا قتل کړم.

قنبر - زهٔ د مرګ نه نهٔ ویرېږم.

حجاج - اُواوایه. څنګه قتلیدل غواړے.

قنبر - چې څنګه ستا خوښه وی.

حجاج بیا بیا د قنبر نه غوښتنه اُوکړه. چې هغه ځانله څرنګې مرګ خوښوی. قنبر ورته آخر اُووئیل. چې ماته خپل آقا فرمائیلی وو. چې ته به نه مرے بلکې برناحقه به ذبحه کولې شې. او بیا حجاج هغه ذبحه کړو." (۱۵۲)

د قنبر د قبر په حقله سید آغا مهدی لکهنوی لیکی.

"بغداد کښې یوه پوره علاقه د قنبر د نوم سره منسوب ده. دا علاقه د یهود نصاریٰ محلې په مینځ و میانه کښې پرته ده. جناب قنبرؓ په دغه علاقه کښې مدفون دے." (۱۵۳)

== ☆☆☆ ==

دري نور وو يو کنعان ؤ

د ثانی آدم په ځان (۱۵۴)

## کنعان:

"کنعان د حضرت نوحؑ زوے وو. دے کافر وو. او په بدعملو سر وو. په دین او مذهب د خپل پلار حضرت نوحؑ سخت مخالف وو. او هم دغه وجه وه. چې په طوفان نوحؑ کښې د نورو هلاکیدونکو سره هلاک شو." (۱۵۵)

الله تعالیٰ د حضرت نوح علیه السلام سره لوظ کړے وو. چې د هغه خاندان ته به نجات ورکوی.
هم دغه وجه وه. چې د طوفان نوحؑ په آوان حضرت نوح علیه السلام د کنعان د نجات د پاره هم دُعا اُوغوښته: دغه خبره د الله تعالیٰ خوښه نه شوه. اصل کښې حضرت نوح علیه السلام د وحی د "اهلک" په تکی تیروتے وو. الله تعالیٰ پرې دا حقیقت ښکاره کړو. چې د نجات په حقله کړی لوظ تعلق د نسل او خاندان سره نه دے. بلکې په یو الله د ایمان سره اړه لری. له دغې امله د حضرت نوح علیه السلام د کنعان د نجات د پاره غوښتې دُعا قبوله نهٔ شوه.

حضرت نوح علیه السلام تر اخر وخته پورې کوشش اوکړو. چې کنعان ایمان راوړی. او خلاصے بیامومی. ولې دغه بدبخته به په جواب کښې وئیل چې.

زهٔ به چرته په غر کښې پناه واخلم. او دا شان به د ډبیدو نه بچ شم.

کله چې حضرت نوح علیه السلام د هغه دا جواب واورید. نو ورته ئې اوفرمائیل.

"نن څوک د عذاب نه بچ کیدونکے نشته. صرف هغه به بچ کیږی. په چا چې د الله تعالیٰ رحم اُوشی.

هم دغه وخت د دواړو تر مینځه یو موج راغے. او هغه (کنعان) هم د غرقیدونکو نه یو اوګرځید.

د حضرت نوح علیه السلام په زوے د ازلی بدبختئ مهر ثبت شوے وو. دغه بدبختی د هغه نه د پلار بزرګی او پیغمبری هم لرې نه کړې شوه. او د خپل کفر په تیلو کښې اُوسوزید. حقیقت دا دے چې خراب صحبت د زهرو نه هم زیات اثر لری. او ثمره ئې د ذلت، تباهی او زیان نه علاوه نور هیڅ هم نه وی.(۱۵۶)

== ☆☆☆ ==

بل میر خان د خلیل خان ځویه تلاش کا
بل د نیکو نیت لیدۀ شی د کوتوال (۱۵۷)

## کوتوال:

"ددۀ خپل نوم ابدال بیګ وو. او د شاه جهانی دورې امیر وو. شاه جهان د خپل عهد په آخری ورځو کښې دے د کوتوال خان په خطاب اونمانځو. او د کوتوالی منصب ئې ورته ورکړو." (۱۵۸)

وروسته دے اورنګزیب عالمګیر هم پخپل وخت کښې د کوتوالی په عُهده اُوساتو. د خوشحال خان سره د ابدال بیګ تعلق ضرور وو. لکه څنګه چې ددغه شعر نه هم جوته ده. چې د قید و بند په دوران کښې د کوتوال نیت هغه ته د ښو لیدې شی.

== ☆☆☆ ==

د لنګر خټک په کلی کښې زۀ ناست وم
فراغت د توت تر سیوری لاندِ ملاست وم (۱۵۹)

## لنګر خټک:

په دې شعر کښې خوشحال بابا د لنګر خټک ذکر د یو کلی په حواله کړے دے. چرته چې خوشحال بابا سوات ته د راتګ په آوان قیام کړے وو. سوات کښې اوس هم لنګر کلے شته. ولې دغه معلومات چاته نشته. چې لنګر خټک څوک وو. د ژوند زمانه ئې کومه وه، د چرته نه راغلے وو. او سوات ته د راتګ اسباب ئې څه وو.

== ☆☆☆ ==

بیا ئې مراد بخش د شاه جهان سره کړ سم
یوړ ئې تر ملتانه په دارا پسې پرچم (۱٦۰)

## مراد بخش:

د لوئې مغلی بادشاه شاهجهان زوے وو. ددهٔ د زوکړې په حقله ملا محمد صالح کمبوه لیکی.

"په دغه ورځو کښې چې د شاهجهان نولسم جلوس وو. د ذی الحجے پینځه ویشتمه کال ۱۰۳۳ هـ وه. د نمر ختو نه لږ وړاندې د ممتاز محل له نوسه د روهتاس په قلعه کښې یو شهزاده اوزیږید چې نوم ئې پرې مراد بخش کیښود." (۱٦۱)

"مراد بخش د شاه جهان د ټولو نه کشرے زوے وو. دے ډیر زړور، سخی او مستقل مزاج انسان وو. خو ددې نه علاوه مراد بخش بې کچه عیاش هم وو. دغه شان هغه ډیر زیات ساده او ضدی هم وو. له دې کبله هغه د عوامو خوا خوږی نه وه تر لاسه کړې. د هغه د ملکی چارو سره هم دومره زړه نه لګیدو. ځکه نو په داسې حالاتو کښې هغه په تخت قبضه نه شوه کولې. کله چې اورنګزیب پلار نظر بند کړو. او په "دارا" پسې روان شو. نو دغه وخت مراد بخش د تخت د حاصلولو یو ناکامه هڅه اُوکړه. چونکې اورنګزیب د حالاتو نه خبر وو. ځکه نو هغه مراد بخش د ګوالیار په قلعه کښې نظر بند کړو. او هلته ئې په کال ۱٦٦۱ء کښې د دیوان علی نقی د قتل په الزام پانسی کړو." (۱٦۲)

==☆☆☆==

درسته شپه څوکئ د محب خیلو په خپل ځان
بل وه مصری خان داودزئے یو ټول احدیان (۱٦۳)

## مصری خان داودزے:

مصری خان داودزے څوک وو. او د مغلو په اقتدار کښې ئې څومره اثر یا کومه عهده په صوبائی یا مرکزی سطحه لرله. په دغه حقله ما څه معلومات اُونه کړې شول. البته د خوشحال بابا ددغه شعر نه دا

خبره رامخې ته کېږي. چې د خوشحالٓ بابا د گرفتارۍ په آوان چې کله هغه هند ته بوتللے شو. نو د مستجابْ مومند په نگرانۍ کښې ئې پرې د شپې د محب خيلو څوکۍ مقرر کړې وه. په څوکۍ کښې يو کس مصری خان داودزے هم وو. چې د نورو سپاهيانو (احديانو) سره ئې د خوشحال څوکيداري کوله. خوشحال بابا هم په دغه ضمن کښې د مصری خان داودزی نامه راوړې ده. چونکې احديان د مرکزی فوځ سپايان دی. او د مصری خان داودزی ذکر هم ددغې سپايانو سره راغلے دے. ځکه نو مونږ وئيلو شو. چې مصری خان داودزے ددغه احديانو سره د مرکز نه راغلے څوک مخوريز شخصيت ضرور دے.

== ☆☆☆ ==

مصريخان مندړ د غاړے ماهی اخلی
سک لاهو غوندړ ځان ژغوری له نهنگه
مصری خان مندړ پټ شخوند کوی په ورۀ کښے
لکه پيغله جل په حيض کښے روژه ړنگه (۱۶۴)

## مصری خان مندړ:

دا شخصيت هم تحقيق طلب دے. خوشحال خان بابا ئې د يوسفزو د ملکانو په قطار کښې نوم اخستے دے. او د مصری خان مندړ د شخصيت يو اړخ ئې په ډيره ښکلې طريقه رامخې ته کړے دے. چې مصری خان مندړ په سيورې سيورې ځان ساتی. رامخې ته کيږی نه، او لکه د سک لاهو د سين د غاړې مهيان رانيسي. او د سين مينځ ته د نهنگ له ويرې نه ورځی. دغه رنگ په دويم شعر کښې ورته د هغې پېغلې سره مثالِ ورکوی. چې هغه په حيض کښې وي. او پټ په پټه روژه خوري. داسې بريښې چې مصری خان مندړ د خوشحال بابا خلاف پټ پټه سازشونه کول. او په ښکاره د هغه مخې ته نۀ راتلو.

== ☆☆☆ ==

شپړم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښے تار په تار (۱٦۵)

## مکرم خان:

"مکرم خان میر محمد اسحق، شمشیر خان میر محمد یعقوب د شیخ میر زامن او د سید امیر خان خوافی د وریرونه وو." (۱٦٦)

"د دوآبے مغل مکرم خان، شمشیر خان دواړه ورونړه د شیخ میر ځویه ډیر لښکر ورسره د کرپے په لار ننوت. په خافش ورسره ایمل خان دریا خان جنګ وکړ. تحویل د جوزا وه زور آور جنګ وشه مغل مات شول. شمشیر خان د دریا خان د لاسه په خافش کښے پریوت. مکرم خان ویشتلے دوه پرهاره خوړلی زاروان سراسیمه حال د باجوړ عربانو باجوړ لره روان کړ." (۱٦۷)

نامتو مستشرق اولف کیرو لیکی.

"مکرم خان د مُغلی حکومت قوماندان وو" (۱٦۸)

په کال ۱۰۷۰هـ کښې ځنو آفریدو او اورک زو په تیراه کښې ګربړ او بدآمنی پیدا کړه. دغه وخت مهابت خان مرزا لهراسپ چې د مهابت خان زمانه بیګ زوے وو. د کابل صوبه داری کوله. دے د شاد جهانی دور په آخری وختونو کښې په دغه منصب ټاکلے شوے وو. هغه خپل نائب میر یعقوب له د لښکر مشری ورکړه. او تیراه ته ئې ددغه باغیانو د غلې کولو د پاره اُولیږو. میر یعقوب چې د خوشحال خان سره ډیر نزدې دوستانه تعلقات وو. هغه خوشحال خان ته هم تیراه ته د تللو د پاره اُووئیل. او دا شان خوشحال خان هم د شاهی فوځ سره لاړ. بادشاهی فوځ د باغیانو خـلاف کامیابی حاصله کړه. خوشحال خان چې په رجب ۱۰۷۰هـ کښې د تیرا نه د کوهاټ په لاره واپس شو. نو دغلته ورله د شیر محمد بنګش مور بی بی دور دعوت اُوکړو. بی بی دور د شیر محمد خان بنګش په عدم موجودګی د خپلې قبیلې سرداری کوله." (۱٦۹)

د عالمګیری جلوس په شلم کال مکرم خان د عبدالرحیم په ځائے د ګرز بردارو داروغه اوټاکلے شو.

درې کاله پس ئې د بدهنور د فساد کوونکو سره اُویلل. او یو هاتهی ورته عنایت کړے شو. ددې نه پس په ځه وجه د شاهی عتاب ښکار شو. ولې د عالمګیری جلوس په شپږویشتم کال ورته بیا نوکری ورکړې شوه. او د لاهور د حکومت ذمه واری ورته اوسپارلې شوه. ددې نه پس د ملتان صوبه دار شو. او یو ځل بیا د لاهور په صوبیداری اونمانځلے شو. د عالمګیری جلوس په یو څلویښتم کال دے یو ځل بیا معزول کړے شو. دهٔ هم د ملازمت نه استعفٰی ورکړه. او په دارالخلافه کښې یو ګټ اُونیولو." (۱۷۰)

== ☆☆☆ ==

سید میر او میر بابا دواړه حاضر دی
که ددے خبرے غواړے استدلال (۱۷۱)

## میر بابا:

د اورنګزیب عالمګیر یو نامتو امیر وو. څوک چې د خوشحال بابا د قید و بند په آوان د بنارس صوبه دار وو. او د خوشحال بابا د وینا ترمخه ډیر وړسترګې سړے وو. چې کور ئې د مهرانونو نه ډک وو. خو د سوالګرے د لاسه به ئې هم معمولی شان څیزونه تروړل.

== ☆☆☆ ==

چه په کور کښې ئے کیږی‌دی په چائے نه خوری
خدایه مال ئے وما راکړه چه معنت دے (۱۷۲)

## معن بن زائده الشیبانی: (۱۵۱هـ - ۷۶۸ م)

معن بن زائده د عربو په تاریخ کښې د مال او دولت په لحاظ یو ډیر مشهور سړے تیر شوے دے. دهٔ

د اُموی خاندان سره تعلق لرلو. او ددغې خاندان یو مخوریز مشر اولاربنود وو. څومره چې ورته الله تعالیٰ ډیر مال ورکړے وو. هومره ئې ورته د سخاوت توفیق هم ورکړے وو. ددې نه علاوه ډیر زړور او فصیح بیانه هم وو. ددې صفاتو له کبله به منصور عباسی دهٔ ته ډیره په درنه سترګه کتل. او دے ئې د سجستان ګورنر مقرر کړے وو. (۱۷۳)

== ☆☆☆ ==

بل میر خان د خلیل خان څویه تلاش کا

بل د نیکو نیت لیدهٔ شی د کوتوال (۱۷۴)

(میر خان) میر میران د خلیل الله خان زوئے او د اصالت خان وراره وهٔ، چه لږه موده وړاندے ورته د میر کان په ځائے د امیر خان خطاب ورکړے شوے وهٔ. سرکاری مؤرخ مستعد خان ئې په دغو الفاظو ذکر کوی. د ګل په ورځ په څلیریشتم محرم د شاه عالم بهادر په سفارش امیر خان د اعظم خان کوکه په ځائے د کابل صوبه دار مقرر شو. دغه د جلوس د شلم کال رمضان ۸۸-۱۰۸۷هـ واقعه ده. (۱۷۵)

امیر خان لکه چه په مخ به ولیدل شی په ۱۱۰۹هـ کښے وفات شوے وهٔ. (۱۷۶)

== ☆☆☆ ==

ستا د مخ په دور څه جهانګیر شاه یم

راته کښینه کرشمے د نور محل کړه (۱۷۷)

## نور محل:

نور محل د نور جهان وړومبے خطاب وو. د نور جهان خپل نوم مهر النساء وو. دې د ایران د یو معزز

خاندان سره تعلق لرلو. د پلار نوم ئې مرزا غیاث بیگ وو. څوک چې د ایران نه د تنگ دستی او بې وسې له وجې راغلے وو. دغه وخت چې دهٔ ایران پریښودو. او د قسمت ازمائی په توگه ئې هندوستان پله کوچ اُوکرو. نو په کده کښې ورسره د خپلې ښځې نه عـلاوه یوه لور او دوه زامن هم وو. دغې سفر کښې د قندهار سره نزدې په کال ۱۵۷۷هـ کښې د غیاث بیگ یوه بله لور اوزیږیده. چې نوم ئې پرې نورجهان کیښود.

"علی قلی بیگ د شهنشاه جهانگیر زړه ته دومره پریوتو. چې هغه له ئې د شیرافگن خطاب ورکړو. او په اُوچته عهده ئې اُونمانځلو.

دغه رنگ د بنگال صوبې جاگیر ئې هم ورته ورکړو.... خو کله چې د علی قلی بیگ د لاسه قطب الدین کو که قتل شو. او وروسې علی قلی بیگ هم خپل انجام ته اُورسید. نو د شهنشاه جهانگیر په حکم د مرزا غیاث بیگ لور (نور جهان) د بنگال صوبې نه شاهی دربار ته رااُلیږلې شوه. د شهنشاه جهانگیر په زړه کښې ورته گوندے وو. په دې چې شیرافگن، قطب الدین کوکه وژلے وو. ځکه نو ددغه مانی په وجه ئې نورجهان د خپلې میرې مور رقیه سلطانه بیگم ته حواله کړه. څه موده د هغې سره وه. او دغلته د نور جهان اُوده بخت رابیدار شو. د جشن نوروز په موقعه یوه ورځ د شهنشاه جهانگیر نظر په هغې اولگید. او د مخې سره ئې د شهنشاه نه زړه یوړو. هغه ئې شاهی حرم ته راویسته. اول ئې هغې ته د "نور محل" خطاب ورکړو.

او بیا ئې "نورجهان" په خطاب اُونمانځله. دغه شان د هغې ټولو خپلو خپلوانو له ئې اُوچتې اُوچتې عُهدې ورکړې. اعتماد الدوله مرزا غیاث بیگ چې د نور جهان پلار وو. هغه ئې د "وکالت کل" په منصب اوټاکلو. د هغې ورور ابوالحسن له ئې اعتقاد خان د خطاب سره سره "خان سامان" عُهده هم ورکړه. کومې دائی برکت رائی چې نورجهان له پیئ ورکړې وو. هغې له ئې هم د "حاجی کوکه" د خطاب برخه اوکړه. (۱۷۸)

نور جهان د شهنشاه په زړه کښې دومره کور کړے وو. چې د خطبې نه عـلاوه د سلطنت ټول کارونه به د هغې په حکم ترسره کیدل. هغه به لږ ساعت له ښکاره کیده او ټول امیران او وزیران به هغې ته د ادابو وړاندې کولو د پاره حاضریدل. د هغې احکامات به ئې اوریدل. سکه هم د هغې د نامې چلیده. او په فرمانونو

به دا الفاظ ليکلي شول. "حکم علية العاليه نورجهان بيگم بادشاه".

په ټولاره شهنشاه جهانګير د ملکي چارو نه ځان را اونغښتو. او د حکومت واګې ئې نور جهان ته اُوسپارلې. هغه به وئيل چې سلطنت ما نورجهان ته حواله کړې دے. ماله د يو سير شرابو او سير غوښې نه علاوه هيڅ هم نه دي پکار." (۱۷۹)

"نور جهان له قدرت سين سېلاؤ زړه ورکړې وو. هغې چې به کوم کار کولو په هغې به ئې د خپلې فياضۍ مهرونه وهل. د هغې په زړه کښې د خيرات، رحم او ورکړې بې کچه زيات جذبات وو. هغه د غريبانو، مظلومانو، کونډو او يتيمانو د امداد د پاره ډير شهرت لرى.د کومو پيغلو ودونه چې به د پيسو تکو له وجې پاتې وو. د هغوئ د ودونو تابيا به ئې پخپله خرچه کوله.

هغه يوه ماهره شهسواره وه. او د خونخورو ځناورو په ښکار کښې هم ډيره تکړه وه. هغې د لوړ همت اندازه د هغې حملې نه په اسانه لګيدې شى. کله چې هغې د خپل خاوند شهنشاه جهانګير د آزادولو د پاره په مهابت خان حمله اوکړه. ولې دغه ټول صفات ددې يوې خوبۍ په وړاندې هيڅ هم نه دى. چې هغه د خپل خاوند يوه وفاداره ښځه وه. په هغه مينه وه. او خپل ځان ئې د هغه د خدمت د پاره وقف کړې وو." (۱۸۰)

"نور جهان چې د عملى ژوند نه ډډه اختيار کړه. نو هغې د ژوند اخرى اتلس کاله ډير په خاموشۍ او غم کښې تير کړل. هغې په دغه زمانه کښې هم خپل وقار او عزت په ځاى اوساتلو. او پخپل قسمت ئې صبر راوړو. د تکليف په دغه شپو ورځو کښې د هغې د تنهائى ملګرې صرف د هغې ايکى يوه لور وه. چې هغه هم کونډه وه او د بدمرغى ښکار وه. آخر نور جهان په ۱٦۴۵ء کښې وفات شوه. او د خپل خاوند د مقبرې سره نزدې ښخه کړې شوه." (۱۸۱)

== ☆☆☆ ==

په اولاد کښې ئې هاشم ؤ
د میلمه په کار قائم ؤ
پیغمبرؑ بنی هاشم دے
په انام ئې فخر هم دے (۱۸۲)

## هاشم:

هاشم د عبد مناف زوئے او د حضرت عبدالمطلب پلار وو. هم دده په نوم دده اولاد هاشمیان یا دولې شی. دے یو مخوریز سردار وو. په یوه زمانه کښې چې د عبدالدار د خاندان سره د حاجیانو د خدمت او مغوئ ته د اُبو او خوراک کار حواله وو. دهٔ ترې دغه ذمه واری په بیرته واخسته. او په ډیره احسنه طریقه ئې دغه کار تر سره کړو. دهٔ د قیصر روم سره هم ډیر ښه تعلقات لرل. او کوم قریش چې به روم ته د تجارت په غرض تلل. هم دده د تعلق په وجه به ترې قیصر روم ټیکس نه آخستو. هم دغه شان د حبشې والا سره هم تجارتی معاملات بې ټیکسه شرل کیدل. ددې نه علاوه د عربو قبائیلو سره ئې دا لوظنامه کړې وه. چې مغوئ به د قریشو تجارتی قافلو ته څه نقصان نه رسوی. دے د عبدالمطلب د زیږیدنې نه وړاندې د دُنیا نه لاړ وو. (۱۸۳)

==☆☆☆==

## حواله جات

۱. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۳۱٦ مخ
۲. قصص القرآن (از محمد حفظ الرحمٰن سیوهاروی) جلد ۱ - ۱۳۲ ، ۱۳۵ مخونه
۳. اریانه پښتو دائرة المعارف - لومړی ټوک - ۱۹۳ مخ
۴. برق، ډاکټر غلام جیلانی: معجم القران - ناشر: شیخ نیاز احمدلاهور. مطبع: علمی پرنټنګ پریس لاهور. سن اشاعت نه لری. ۲۴ مخ نه تر ۲٦ مخ پورې
۵. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۴۹۹.مخ
٦. د خوشحال فرهنګ (از یار محمد مغموم) جلد ۱- ۲۱۷ مخ
۷. اریانا پښتو دائرة المعارف- لومړی ټوک - ۳۲۸ مخ
۸. پښتانه د تاریخ په رڼا کښې (از سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل) - ۳۰، ۳۱ مخونه
۹. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۷ مخ
۱۰. همدغه کتاب - ۳۲ مخ
۱۱. همدغه کتاب - ۱۲۱ مخ
۱۲. همدغه کتاب - ۱٦۵ مخ
۱۳. همدغه کتاب - ۲۷۰ مخ
۱۴. همدغه کتاب - ۵۳۰ مخ
۱۵. همدغه کتاب - ٦۸۱ مخ
۱٦. نظامی بدایونی- قاموس المشاهیر- ناشر: نظامی بدایونی- مطبع: نظامی پریس بدایون- سن اشاعت: ۱۹۲۴ء جلد ۱ - ۴۲ مخ
۱۷. محمد شفیع، مفتی: سیرت خاتم الانبیاء- ناشر: فضل سنز لمیټډ کراچی- مطبع نه لری- سن اشاعت: ۱۹۷۹ء- ۸۹ مخ
۱۸. همدغه کتاب- ۴۸ ، ۴۹ مخونه
۱۹. محمد بن عبدالله: مشکواة شریف- مترجم: فقیر محمد عباس قادریه- ناشر: تاج کتب خانه پېښور- مطبع او سن اشاعت نه لری. ۳۲۲، ۳۲۳ مخونه
۲۰. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ۱۳ مخ
۲۱. فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا- ۹۲۷ مخ

۲۲. اسلامی انسائیکلو پیڈیا (از سید قاسم محمود) جلد ۲ ۔ ۱۴۸۴ مخ

۲۳. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۱۵۷ مخ

۲۴. همدغه کتاب ۔ ۶۲۰ مخ

۲۵. همدغه کتاب ۔ ۸۲ مخ

۲۶. همدغه کتاب ۔ ۲۰۷ مخ

۲۷. همدغه کتاب ۔ ۴۹۹ مخ

۲۸. د خوشحال فرهنګ (از یار محمد مغمومؔ) جلد ۱ ۔ ۲۲۳ مخ

۲۹. تاریخ پشتون (از سردار شیر محمد خان ګنداپور) ۔ ۱۵۱ مخ

۳۰. پښتانه د تاریخ په رڼا کښې (از سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل) ۔ ۲۹ ، ۳۰ مخونه

۳۱. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۰۰ مخ

۳۲. اسلامی انسائیکلوپیډیا (از سید قاسم محمود) جلد ۱، ۳۶۷ مخ

۳۳. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۲۷ مخ

۳۴. همدغه کتاب ۔ ۱۶۵ مخ

۳۵. همدغه کتاب ۔ ۳۳۰ مخ

۳۶. همدغه کتاب ۔ ۵۲۹ مخ

۳۷. Encyclopedia of Islam, By E.J. Brill, Vol: 1 Page: 97, 98

۳۸. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۹۴۴ مخ

۳۹. Moin-ud-Din, Dara Shiko the magnificient prince, caravan Book House Kutchery Road, Lahore. Caravan Pritning Press Lahore, 1969. Page: 79

۴۰. فیروز سنز انسائیکلو پیډیا ۔ ۴۶۲ مخ

۴۱. نظام الملک هاشم خان خافي خان۔ منتخب اللباب (تاریخ مغلیه دور حکومت) مترجم: محمود احمد فاروقی۔ ناشر: نفیس اکیډمی کراچی۔ مطبع: ایجوکیشنل پریس کراچی۔ سن اشاعت: جون ۱۹۶۳ء حصه سوم ۔ ۹۳ ، ۹۴ مخونه

۴۲. برنیر، ډاکټر: شاهجهان کے ایام اسیری اور عهد اورنګزیب۔ مترجم: خلیفه سید محمد حسن۔ ناشر: نفیس اکیډمی کراچی۔ مطبع: انټرنیشنل پریس کراچی۔ سن اشاعت۔ ۱۹۶۰ء ۔ ۱۷۴ مخ

۴۳. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۱۷۳ مخ

۴۴. همدغه کتاب ۔ ۲۶۳ مخ

۴۵. همدغه کتاب - ۴۰۱ مخ

۴٦. همدغه کتاب - ۵۱۲ مخ

۴۷. همدغه کتاب - ۵٦۷ مخ

۴۸. همدغه کتاب - ۵۷۱ مخ

۴۹. تاریخ ادب عربی. (از استاد احمد حسن زیات) - ۱۴۱ مخ

۵۰. همدغه کتاب - ۱۴۳ مخ

۵۱. همدغه کتاب - ۱۴۴ مخ

۵۲. همدغه کتاب - ۱۴۳ مخ

۵۳. فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) - ۸۳ مخ

۵۴. همدغه کتاب - ۱۲٦ مخ

۵۵. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) - ۹ مخ

۵٦. اسلامی انسائیکلو پیډیا (از سید قاسم محمود) جلد ۲ - ۸۹۳ مخ

۵۷. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) - ۱۲ مخ

۵۸. علی الطنطاوی، ناجی الطنطاوی. اخبار عمر. ناشر: دارلفکر دمشق. طبع اول. ۱۳۱٦هـ - ۱۲ مخ

۵۹. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۵۰ مخ

٦۰. مأثر الامراء (از صمصام الدوله شاهنواز خان) - جلد ۲ - ۷٦٦، ۷۷۱ مخونه

٦۱. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۰۵ مخ

٦۲. همدغه کتاب - ۹۴۴ مخ

٦۳. همدغه کتاب - ۹۴٦ مخ

٦۴. اسلامی انسائیکلو پیډیا (از سید قاسم محمود) - جلد ۲ - ۹۳۷ مخ

٦۵. کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۸٦ مخ

٦٦. همدغه کتاب - ۵۴۴ مخ

٦۷. همدغه کتاب - ۵۴۷ مخ

٦۸. همدغه کتاب - ٦۲۹ مخ

٦۹. سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۸۰ مخ

۷۰. فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیډیا - ۴٦۹ مخ

۷۱. اریانا پښتو دائرة المعارف - ٦ توک - ۲ مخ

۷۲- صمیم، محمد آصف: د رحمان بابا د دیوان نومښود. ناشر: رحمان ادبی جرگه پېښور.
مطبع: جدون پریس پېښور. سن اشاعت: ۱۹۸٦ء - ۱۲٦ مخ
۷۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۳۰۰ مخ
۷۴- همدغه کتاب - ۴۰۱ مخ
۷۵- همدغه کتاب - ۴۱۱ مخ
۷٦- همدغه کتاب - ۴۱۴ مخ
۷۷- همدغه کتاب - ۴۲۸ مخ
۷۸- همدغه کتاب - ۴۵۵ مخ
۷۹- همدغه کتاب - ۵٦۷ مخ
۸۰- همدغه کتاب - ۵۹۲ مخ
۸۱- همدغه کتاب - ۷۴۴ مخ
۸۲- A History of Persia, By Sir Percy Syker, Vol: I , Pages: 136, 137
۸۳- فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیدیا. ۵۱۸ مخ
۸۴- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ٦۲۹ مخ
۸۵- اریانا پښتو دائرة المعارف. شپږم ټوک - ۵۱۸۱ مخ
۸٦- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۹۴۴ مخ
۸۷- Dara Shiko the Magnificent prince, by Moin-ud-Din. Pages: 97 to 99.
۸۸- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) - ۷٦ مخ
۸۹- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۵۱ مخ
۹۰- همدغه کتاب - ۹۳۸ مخ
۹۱- همدغه کتاب - ۹۳۷ مخ
۹۲- ابوالفضل: اکبر نامه به تصحیح اغا احمد علی و مولوی عبدالرحیم، کلکته. سن اشاعت: ۱۸۷۷ء جلد ۳ - ۴٦۹ مخ
۹۳- بهکری، شیخ فرید: ذخیرة الخوانین. مرتبه: ډاکټر معین الحق، طباعت: کراچی،
سن اشاعت: ۱۹٦۱ء - جلد ۱ - ۳۴، ۳۵ مخونه
۹۴- مأثر الامراء (از صمصام الدوله شاهنواز خان) - جلد ۲ - ٦۴۳، ٦۴۴ مخونه
۹۵- همدغه کتاب - ٦٦۳، ٦٦۴ مخونه
۹٦- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۲٦۵ مخ

۹۷- توزک جهانگیری (از نور الدین جهانگیر) ۔ جلد ۱ ۔ ۱٦۸ ، ۱٦۹ مخونه
۹۸- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۱۷۴ مخ
۹۹- همدغه کتاب ۔ ۴۵۳ مخ
۱۰۰- همدغه کتاب ۔ ۵۵۸ مخ
۱۰۱- همدغه کتاب ۔ ۵۵۹ مخ
۱۰۲- تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ۔ ۳۱٦، ۳۱۷ مخونه
۱۰۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۸۲۳ مخ
۱۰۴- همدغه کتاب ۔ ۹۴۴ مخ
۱۰۵- همدغه کتاب ۔ ۹۴۵ مخ
۱۰٦- معتمد خان میرزا محمد: اقبال نامۀ جهانگیری. مترجم: محمد زکریا مائل.
ناشر: نفیس اکیډمی کراچی. مطبع: انټرنیشنل پریس کراچی. سن اشاعت: ۱۹٦۳ء ۔ ۹٦ مخ
۱۰۷- تاریخ پاک و هند. (عهد سلاطین سے زمانه حال تک) از ایم. اے قدوس. ۲۲۰ مخ
۱۰۸- تاریخ اسلام. از شوکت واسطی. ۲٦۲ مخ
۱۰۹- اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از هدایت الله خان چوهدری) ۱۳۳، ۱۳٦ مخونه
۱۱۰- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ٦۲۹ مخ
۱۱۱- الاعلام. (از زرکلی خیرالدین) جلد ۳ ۔ ۱۷۵، ۱۷٦ مخونه
۱۱۲- فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ۔ ۴۱مخ
۱۱۳- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۲۱٦ مخ
۱۱۴- سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۸۸ مخ
۱۱۵- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۵۹ مخ
۱۱٦- همدغه کتاب ۔ ۵۷۵ مخ
۱۱۷- ابن هشام، (از ابو محمد عبدالمالک بن هشام بن ایوب الحمیری) جلد ۱ ۔ ۱۵۱ مخ نه تر ۱۵۵ مخونو لندیز
۱۱۸- غزالی، محمد: فقه السیره. دارالحیاء التراث العربی. طباعت: ۱۹۷٦ء ۔ ۴۵ مخ
۱۱۹- محمد بن سعد ابو عبدالله: طبقات ابن سعد، دارالمعارف مصر. مطبع نه لری.
سن اشاعت: ۱۹۴۹ء ۔ جلد ۱ ۔ ٦۲ مخ
۱۲۰- مبارکپوری، مولانا صفی الرحمٰن: الرحیق المختوم. ناشر: دارالفتح للطباعة الوانشر والتوزیع.
الامارات العربیة. مطبع: اورینټ پروسیس لاهور. سن اشاعت نه لری. ۱۰۰ مخ
۱۲۱- کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۔ ۵۷۸ مخ

١٢٢. فیروز سنز انسائیکلو پیډیا ـ ٧٠٥ مخ

١٢٣. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ٥٧٨ مخ (حاشیه)

١٢٤. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ـ ۴۵ مخ

١٢٥. قران کریم مع اُردو ترجمه و تفسیر. مترجم و مفسر: مولانا جوناګړهی. شاه فهد قرآنکریم پرنټنګ کمپلیکس الریاض. ٢٩٧ ، ٢٩٨ مخونه

١٢٦. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۴۵ مخ

١٢٧. همدغه کتاب ـ ٧٠ مخ

١٢٨. همدغه کتاب ـ ١١٥ مخ

١٢٩. همدغه کتاب ـ ١٨٩ مخ

١٣٠. همدغه کتاب ـ ٣١٥ مخ

١٣١. همدغه کتاب ـ ٥٠١ مخ

١٣٢. همدغه کتاب ـ ٥١٢ مخ

١٣٣. همدغه کتاب ـ ٦٠١ مخ

١٣۴. همدغه کتاب ـ ٨٢٠ مخ

١٣٥. همدغه کتاب ـ ٨٩٥ مخ

١٣٦. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ـ ۴٨ مخ

١٣٧. توریت. ګنتی باب ١٦ ـ ایت ١

١٣٨. احمد محمد جمیل. انبیائے قرآن ـ ناشر: شیخ غلام علی اینډ سنز لاهور. مطبع: علمی پرنټنګ پریس لاهور. سن اشاعت نه لری. جلد ٢ ـ ٢٥٣ ، ٢٥۴ مخونه

١٣٩. قرآن ـ سورة قصص ـ ٧٦ آیت

١۴٠. قرآن ـ سورة قصص ـ ٧٦،٧٧ آیتونه

١۴١. قرآن ـ سورة قصص ـ ٧٨ آیت.

١۴٢. قرآن ـ سورة قصص ـ ٨١ آیت.

١۴٣. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ١٦٠ مخ

١۴۴. اخلاق نامه (مرتبه حبیب الله رفیع) ـ ١٧ مخ

١۴٥. همدغه کتاب ـ ١٨ مخ

١۴٦. زیب ملیح آبادی: سیرت حضرت علیؓ. ناشر: اے، ایچ قریشی. مطبع: منظور پرنټنګ پریس لاهور.

سن اشاعت: ۱۹۸۲ء ـ ٦٦٨ مخ

۱۴۷ـ لکهنوی، زبدة العلماء سید اغا مهدی. سوانح جناب قنبرؓ. ناشر: رحمت الله بک ایجنسی کهارادر کراچی ـ ۷۴۰۰۰ـ مطبع او سن اشاعت: نه لری. ۲۴ مخ

۱۴۸ـ دهلوی، مولوی باقر علی: فضائل مرتضوی. ناشر: مولوی باقر علی دهلوی. مطبع: ممتاز المطابع دهلی. سن اشاعت نه لری. ۲۵٦ مخ

۱۴۹ـ سوانح جناب قنبرؓ (از سید اغا مهدی) ـ ۲۵ مخ

۱۵۰ـ همدغه کتاب ـ ۳۰ مخ

۱۵۱ـ همدغه کتاب ـ ۴٦ مخ

۱۵۲ـ برهان الدین وطواط ابو اسحاق: غررالخصائص (عربی). ناشر: مکتبه الاداب القاهره مصر. مطبع: نه لری. سن اشاعت: ۱۳۸۲هـ ـ ۲۵۳ مخ

۱۵۳ـ سوانح جناب قنبرؓ (از سید اغا مهدی) ۵۴ مخ.

۱۵۴ـ فراق نامه (مرتبه زلمی هیواد مل) ـ ۱۲۳ مخ

۱۵۵ـ حافظ ابن کثیر الدمشقی: البدیه والنهایه. ناشر: المکتبه التجاریه مصطفی احمد الباز الریاض. ظبع دوئم ۱۴۱۸هـ جلد ۱ ـ ۱۷۵، ۱۷٦ مخونه

۱۵٦ـ خزانه تلمیحات (از محمود نیازی). ۸۹، ۹۰ مخونه

۱۵۷ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۵۵۰ مخ

۱۵۸ـ شاهجهان نامه (از ملا محمدصالح کمبوه) ـ ۵۳۲ مخ

۱۵۹ـ سوات نامه (مرتبه همیش خلیل) ۷٦ مخ

۱٦۰ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۹۴۴ مخ

۱٦۱ـ شاه جهان نامه (از ملا محمد صالح کمبوه) ـ ۷۷ مخ

۱٦۲ـ اسلامی تاریخ پاکستان و هند (از هدایت الله خان چوهدری) ـ ۱۳۵، ۱۳٦ مخونه

۱٦۳ـ کلیات خوشحال خان خټک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ـ ۹۳۷ مخ

۱٦۴ـ همدغه کتاب ـ ۸۴۷ مخ

۱٦۵ـ همدغه کتاب ـ ۵۲۷ مخ

۱٦٦ـ تاریخ مرصع (از افضل خان خټک) ـ ۱۲۱۹ مخ

۱٦۷ـ همدغه کتاب ـ ۲۸۰ مخ

۱٦٨. Olaf Caroe, The Peoms of Khushal Khan Khattak, Pushto Academy University of Peshawar, Jadoon Press Peshawar, 1963 Page: 84

۱٦۹. خوشحال خان ختک (اردو) (از دوست محمد خان کامل مومند) - ۸۱، ۸۲ مخونه

۱۷۰. مأثر الامراء - (از صمصام الدوله شاهنواز خان) جلد ۳ - ۵۷۵ تا ۵۷۷ مخونه.

۱۷۱. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۴۹ مخ

۱۷۲. همدغه کتاب - ۴۰۱ مخ

۱۷۳. لوليس عجيل. المنجد فی الاعلام. ناشر: ادارة التحرير و الاشراف العام بطوس حرفوش. مطبع: المطبعة الكاثو ليكية البروت - ۱۹۸۲ء - جلد ۲ - ٦۷۵ مخ

۱۷۴. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۵۵۰ مخ

۱۷۵. تاریخ مرصع (از افضل خان ختک) ۱۲۴۸ مخ

۱۷٦. همدغه کتاب - ۱۲۵۱ مخ

۱۷۷. کلیات خوشحال خان ختک (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) - ۲۸۷ مخ

۱۷۸. اسلامی تاریخ پاکستان و هند (عهد سلاطین و دور مغلیه) (از هدایت الله خان چوهدری) - ۱۰۵، ۱۰٦ مخونه

۱۷۹. تزک جهانگیری (از نور الدین جهانگیر) - ۳٦، ۳۷ مخونه

۱۸۰. مغلیه سلطنت کا عروج و زوال (از ار. پی. ترپاتهی) - ۲۸۵ مخ

۱۸۱. همدغه کتاب - ۲۸۷ مخ

۱۸۲. ارمغان خوشحال (مرتبه سید رسول رسا) - ۹۱۴ مخ

۱۸۳. فیروز سنز اُردو انسائیکلو پیدیا. ۱۰۳۸ مخ

# خلاصه

# خلاصه

د خوشحال بابا شاعري هم لکه د هغوئ د ګڼ اړخېزه شخصيت بـلا رنګونه لري. دغه رنګونه که د فن په لحاظ پاخه دي. او د مطالبو له رويه ژور دي. نو د موضوعاتو له مخه ګڼ شمېره هم دي. او بيا په تېره تېره کوم موضوعات چې خوشحال بابا د خپل فکر په سُور کړي رباب ټنګولي دي. نو ددغه موضوعاتو ځانګړتيا هم دا ده. چې د ستر خوشحال نه وړاندې بل يو شاعر هم داسې نه دې تېر شوے چې هغه دغه راز ګڼ شمېره موضوعات ئې پخپلو شعرونو کښې رانغښتي دي. او دا نه يوازے د خوشحال بابا انفراديت دے. چې هغوئ په وړومبی ځل د پښتو شعري ادب موضوعاتي پنګه په هر لحاظ درنهٔ او فراخه کړه بلکې ددغه ګڼ شمېره موضوعاتو د بيان پوره پوره حق ئې هم ادا کړو.

په دغه رنګ موضوعاتو کښې يوه موضوع د شخصياتو هم ده. دا موضوع چې پخپل ځان کښې څومره تنوع لري. خوشحال بابا هم هغه هومره پخپل کـلام کښې د دې موضوع د ځايولو هڅې کړي‌دي. دغه کاميابې هڅې د خوشحال بابا په کـلام کښې په شعوري او لا شعوري دواړو ډولونو بياموندې شي.

د شخصياتو د ذکر په ترڅ کښې د خوشحال بابا دغه ارادي اؤ غېر ارادي کوششونه په هر اړخېزه توګه د پاملرنې وړ دي. ځکه چې د دغه شخصياتو د تذکرې نه مونږ ته د ستر خوشحال د پوهې اؤ عمليت اندازه تر ډېره حده لګېدې شي. په دې چې خوشحال بابا پخپل شعر کښې د ژوند د مختلفو ټپو اؤ طبقو سره اړه لرونکي شخصيات ذکر کړي دي. چې پکښې د مذهبي، تاريخي، سياسي، ادبي،روماني او سماجي شخصياتو نه پرته د هغه د قبيلې اؤ ټبر داري‌کسان هم شامل دي. د دغه ګردو کسانو د ژوند، حالاتو واقعاتو اؤ کارنامو د څېړنې اؤ پلټنې نه پس بنده په دې نيتجه رسي. چې خوشحال بابا په دغه لړ کښې څومره مذهبي، تاريخي، سياسي ، ادبي اؤ عمراني مطالعه لرله. اؤ ترکومه حده پورې چې خوشحال بابا پخپل کـلام کښې د خپلې خبرې د پخلي د پاره پاخه پاخه دلائل راوړي دي. اؤ خپلې اکثرې دعوې ئې پرې صحي ثابتې کړې دي. هغه سل په سله د اتفاق جوګه دي. ولې په ځنو ځايونو کښې د بعضې شخصياتو په

حقله د خوشحال بابا وینا یا خو د تېروتنې په زمره کښې راځي. اؤ یا ئې مونږ د اختلاف وړ بللے شو. چې ددې مقالې په مختلفو ځایونو کښې پرې د موقعې د مناسبت سره بحث شوے دے. په هر حال خوشحال بابا چې پخپل شعری کلام کښې د کومو شخصیاتو ذکر کړے دے هغه ماد څېړنې د پاره په لسو بابونو ویشلی دی.

## وړومبے باب:

خوشحال بابا پخپل کلام کښې يو شمېر انبیاءؑ اؤ پیغمبرانؑ یاد کړی دی. څوک چې وخت په وخت الله تعالٰی د مختلفو قومونو د اصلاح اؤ لاربښودنې دپاره دې دنیا ته رالیږلی وو. دې باب کښې هم د دغه پیغمبرانو اؤ نبیانو د ژوند، حالاتو اؤ خدائی پیغام په حقله د خوشحال بابا د شعر په حواله څېړنه شوې ده. او هغه حقیقتونه رامخې ته کړې شوي دی. د کومو په بناء چې خوشحال بابا د دغه نازولو او برګزیده هستو یادونه کړې ده.

## دوئم باب:

دې باب کښې د خوشحال بابا د هغه شعرونو پلټنه اؤ څېړنه کړې شوې ده. کوم چې خوشحال بابا د خوږ نبیؐ د اصحابانوؓ اؤ اهل بېتو په حقله وئیلي دی. په دغه ترځ کښې د مذکورینو اصحابانوؓ او اهل بېتو په ژوند اؤ قربانو د بحث سره سره هغه واقعات اؤ مشکلات هم څېرلي شوی ده. کوم چې د هغوئ سره په مختلفو او قاتو کښې مخې ته راغلي وو.

## دریم باب:.

دا باب د خوشحال بابا په کلام کښې د مذکور اولیاء کرامو، بزرګانو او صوفیانو د تحقیق د پاره مختص شوے دے. دې باب کښې هم ددغه سپین سپېڅلو نیکانو په ژوند د تحقیقی رڼا اچولو سره سره د هغوئ په کشف و کرامات اؤ دینی خدماتو هم ژوره څېړنه شوی ده. اؤ هغه اسباب هم د بحث لاندې راویستې شوی دی. د کومو په اساس چې یاد کړې شوې شخصیات په معاشره کښې قدرولې شوی دی.

## څلورم باب:

خوشحال باب پخپل کلام کښې ګڼ شمېر بادشاهان اؤ اميران هم ياد کړی دي. دې باب کښې د دغه ټولو بادشاهانو اؤ امېرانو په حقله د خوشحال بابا نظر په تحقيقی بڼه سنجولے شوے دے. اؤ خوشحال بابا چې د ياد کړې شوو بادشاهانو اؤ اميرانو د ژوند اؤ کارنامو په حقله کومې تبصروتنې کړې دی. هغه هم د تاريخی شواهدو په رڼا کښې څېړلې شوې دی.

## پنځم باب:

دا باب چې د خوشحال بابا په شاعرئ کښې د مذکور فلسفيانو اؤ د پوهې د خاوندانو د پاره ټاکلے شوے دے. ځکه نو په دې باب کښې هم په دغه حواله په هغه فلسفيانو او د پوهې په خاوندانو تحقيقی کار شوے دے. کوم چې خوشحال بابا د خپلو کارونو اؤ زيارونو په اساس پخپل کلام کښې ذکر کړی دی.

## شپږم باب:

خوشحال بابا پخپل کلام کښې د څنو رومانئ شخصياتو تذکره هم کړی دی. دې باب کښې د دغه عاشقانو اؤ د هغوئ د تاريخی معاشقو څېړنه شوی ده. چې پکښې د هغوئ د حالاتو اؤ واقعاتو نه علاوه هغه وختونه اؤ ځايونه هم د تحقيق په ګزوهلے شوی دی. په کومو کښې چې دغه شخصياتو ژوند تېر کړے دے.

## اووم باب:

د خوشحال بابا په کلام کښې د پښتنو مشاهېرو ، ننګيالو او قهرمانانو ذکر هم په پريوانه توګه بيامومندے شی. دې باب کښې دغه پښتانه ننګيالی او قهرمانان د خوشحال بابا د شعر په رڼا کښې راداګې ته کړې شوی دی. اؤ د هغوئ د ژوند اؤ مړانی په کارنامو بڼه موړ تحقيقی بحث کړے شوے دے.

## اتم باب:

خوشحال بابا پخپل کلام کښې يو شمېر شاعران اؤ اديبان هم ياد کړی دی. چې د پښتو نه علاوه

پکښې د نورو ژبو شاعران اؤ اديبان هم شامل دی. په دغه لړ کښې خوشحال بابا يوه ادبی تله په لاس کښې نيولې ده. اؤ د هر شاعر، اديب د ادبی وزن معلومولو کوشش ئې کړے دے. ځکه نو په دې باب کښې د ياد کړې شوو شاعرانو، اديبانو په حقله د معلوماتو راؤړلو نه سربېره د خوشحال بابا خيالات اؤ نظريات هم د تحقيق په زرکانی وهلے شوی دی.

## نهم باب:

خوشحال بابا د اولاد اؤ خپلوانو يو اوږد بهير لرلو. چې پکښې هر رنګه شخصيات شامل وو. که په دغه کسانو کښې د اوچتې پائې شاعران، اديبان، مفسرين، مؤرخين اؤ سيرت نګاران وو. نو ددې نه علاوه پکښې د خوشحال دښمنان، د لستونی ماران او سازشيان هم وو. په دې باب کښې ددغه ټولو کسانو د مخونو او کارونو نه پردې پورته کړې شوی دی. اؤ د هر يو په ژوند په بيلا بيله توګه تحقيقی کارکړے شوے دے. اؤ هغه عوامل سنجولے شوی دی. د کومو په بناء چې خوشحال بابا دغه شخصيات ياد کړی دی.

## لسم باب:

دا ددې مقالې آخر باب دے. چې پکښې په دوه ډوله شخصياتو بحث کړے شوے دے. يو متفرق شخصيات اؤ دويم تحقيق طلب شخصيات . متفرق شخصياتو کښې هغه کسان د څېړنې لاندې راوستې شوی دی. کوم چې د تېرو ذکر شوو نهو بابونو نه علاوه شخصيات دی. اؤ په دغه يادو شوو بابونو کښې د يو باب د مذکررينو سره هم تعلق نه لری. ځکه نو ددغه رنګه شخصياتو څېړنه په دې باب کښې کړې شوې ده.

دوئم هغه مذکور شخصيات په دې باب کښې راوړې شوی دی. کوم چې د نوم ورکی تيارو کښې پټ دی. اؤ ما د ډېر کوشش او لټون باوجود هم څه معلومات ددغه شخصياتو په حقله پيدا نه کړے شول. ځکه نو دغه رقم شخصيات چې شمير ئې ډېر کم دے. ما د تحقيق طلب شخصياتو په څېر په دې باب کښې خوندی کړل.

# کتابیات


۱۔ آیاز، مقصود: شخصیات کا انسائیکلو پیڈیا، شعاع ادب لاہور۔ مطبع: نۂ لری۔ سن اشاعت: ۱۹۸۷ء

۲۔ ابراھیم، ابواسحٰق: قصص الانبیاء، ناشر: حبیب یغمانی۔ تہران۔ سن اشاعت: ۱۳۴۰ھ۔ش۔

۳۔ ابوالکلام آزاد۔ محی الدین احمد: ترجمان القرآن۔ ناشر: شیخ غلام علی اینڈ سنز لاہور۔ مطبع: غلام علی پرنٹرز لاہور۔ سن اشاعت نہ لری۔ جلد ۲ ۔

۴۔ ابن بطوطہ، ابو عبداللہ: عجائب الاسفار، مترجم: مولوی محمد حُسین لاہور۔ ناشر او مطبع: نہ لری۔ سن اشاعت: ۱۸۹۸ء ۔ جلد ۲

۵۔ ابن کثیر: البدایہ والنہایہ۔ المکتبہ التجاریہ مصطفٰی احمد الباز الریاض۔ طبع دوم، ۱۴۱۸ھ جلد ۳۔

۶۔ ابن کثیر: تفسیر ابن کثیر، مترجم: مولانا محمد جونا گڑھی۔ ناشر: حدیقہ اکیڈمی لاہور۔ مطبع: نہ لری۔ سن اشاعت: ۱۹۹۹ء ۔ جلد ۲

۷۔ ابن کثیر: تفسیر ابن کثیر، مترجم: مولانا محمد جونا گڑھی۔ ناشر: حدیقہ اکیڈمی لاہور۔ مطبع: نہ لری۔ سن اشاعت: ۱۹۹۹ء ۔ جلد ۴

۸۔ ابن ہشام، محمد عبدالمالک: سیرت ابن ہشام، مترجم: مولوی قطب الدین احمد، جامعہ عثمانیہ حیدر آباد دکن۔ مطبع: نہ لری۔ سن اشاعت: ۱۹۴۹ء ۔ جلد ۱۔

۹۔ ابوالفضل: آئین اکبری، مترجم: بلاخمن (انگریزی) ، کلکتہ، سن اشاعت: ۱۸۷۳ء۔

۱۰۔ ابوالقاسم، علی حافظ: تاریخ ابن عساکر، مطبع السعادۃ مصر۔ سن اشاعت: ۱۳۵۸ھ ۔ جلد ۳۔

۱۱۔ ابو عبدالرحمٰن، احمد بن شعیب: صحیح نسائی، مترجم: علامہ وحید الزمان، اسلامی اکادمی اُردو بازار لاہور، زاھد بشیر پرنٹرز لاہور۔ سن اشاعت: ۱۴۰۸ھ ۔ جلد ۱۔

۱۲۔ ابو عمر، منہاج الدین: طبقات ناصری۔ مترجم: میجر ھانری جارج راورتی، لندن، سن اشاعت: ۱۸۸۱ء

۱۳۔ ابو عیسیٰ، محمد بن سورہ بن شداد: شمائل ترمذی، مترجم: مولانا ذکریا، مکتبہ رحمانیہ ۱۸ اُردو بازار لاہور۔ زاھد بشیر پرنٹرز لاہور۔ سن اشاعت: نۂ لری۔ جلد ۲۔

